سره دحوالواو تخریجه

مکمله او مدلله

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل

پنځم جلد



تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل


0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوى يوسفيه

مشهوره په

ستاسو جديد مسائل او دهغې حل



مكمل او مدلل

سره دحوالو او تخريجه

دپنځم جلد اجمالي فهرست

تاليف

حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوى رحمه الله

مفتي اعظم پاكستان

تقريضونه

شيخ الحديث حضرت مولانا

سيد شير علي شاه مدني رحمه الله

سابق شيخ الحديث دار العلوم حقانيه اكوړه خټک

شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ادريس صاحب مدظله

شيخ الحديث دار العلوم نعمانيه الماززئي

جديد مكتبه رشيديه

جاده ميوند سر چوک ماركيټ مرحوم حاجي حسين ګل كابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د كتاب نوم : ستاسو جديد مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوى رحمه الله

ترجمه كونكي : دار الترجمه عبدالغني ماركيټ پشاور

جلد : پنځم

صفحات : ۵۷۶

تاريخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زيار : مولانا سيد محمد پرواني

جديد مكتبه رشيديه
جاده ميوند سر چوک مارکيت مرحوم حاجي حسين گل كابل
0782690850 | 0775681606

د كتاب تر لاسه كولو ځايونه

- پشاور
- اکوړه خټک
- کوټه
- پروان
- کندوز
- غزني
- جلال آباد
- قندهار
- بغلان
- لوګر
- خوست

فهرست

مضمون	صفحه

❖ د زکات د اداکولو طریقه ❖

مضمون	صفحه

صفحه	مضمون

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ د پیداوار عشر ❖

مضمون	صفحه
د پیداوار عشر څومره وي	١٩٦
د پیداوار د عشر نه وروسته د هغه په روپیو باندې د زکات مسئله	١٩٧
د غلې او میوې په پیداوار باندې د عُشر ادائیګي	١٩٧
د عشر اداکولو نه وروسته تر خرڅېدو پورې په غلې نه عشر شته او نه زکات	١٩٨
د کروندې په ځمکه باندې عشر	١٩٨
ټریکټر او داسې نور... چلولو سره د زراعت عشر شلمه برخه دی	١٩٩
د ګټې قابل د میوې باغ خرڅول جائز دي	١٩٩
او ددې عشر به د مالک په ذمه وي	١٩٩
د عشر روپۍ د رفاه عامه له پاره نه دي، بلکې د فقیرانو له پاره دي	١٩٩
قرض دار ته د قرض پیسې په عشر او زکات کې پرېښودل	٢٠٠
که چیرته حکومت کم عشر اخیستی وي، نو پاتې سره څه وکړو	٢٠٠
د عشر د ادائیګي په باره کې متفرق مسائل	٢٠٠

❖ د زکات متفرق مسائل ❖

مضمون	صفحه
زکات ورکونکی چې په کوم ملک کې وي د هماغه ملک د کرنسي اعتبار وي	٢٠٢
امریکا کې اوسېدونکي کومې کرنسي سره زکات ادا کړي	٢٠٢
د زکات په کېښودل شویو پیسو کې لوټ ماتول، د ضرورت له پاره اخیستل	٢٠٣
د زکات له پاره ویستل شوې روپۍ یا د سود استعمال	٢٠٣
د سود په روپیو باندې زکات	٢٠٣

❖ صدقه فطر (سرسایه) ❖

مضمون	صفحه
د صدقه فطر مسئلې	٢٠۴
محتاجې دتره ښځې ته صدقه فطر (سرسایه) ورکول	٢٠٥
د اختر نه وروسته فطرانه (سرسایه) ادا کول	٢٠٦
صدقه فطر غیرمسلم ته ورکول جائز دي	٢٠٦
د مسئلې تصحیح او تحقیق	٢٠٦

❖ نذر او صدقه ❖

مضمون	صفحه
د صدقې تعریف او قسمونه	٢٠٨
خیرات، صدقه او نذر کې فرق	٢٠٨
په صدقه او نذر کې فرق	٢٠٩
د نذر او منښتې تعریف	٢٠٩

❖ نفلي صدقې ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ حج بدل ❖

مضمون	صفحه

❖ له محرم نه پرته حج ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ حلق ❖

❖ طواف زيارت او طواف وداع ❖

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

❖ د قرباني ورځې ❖

مضمون	صفحه

❖ د قرباني غوښه ❖

مضمون	صفحه

❖ د قرباني د څرمنو استعمال ❖

❖ د غیرمسلم د ذبیحې حکم ❖

❖ د قرباني متفرقې مسئلې ❖

مضمون	صفحه

❖ سپی ساتل ❖

بسم الله الرحمن الرحيم

❖ د روژې سره متعلق باقي مسئلې ❖

آیا د غیرمسلم روژه نیول جائزدي؟

سوال: په ابوظهبي کې چې زه چې په کوم کیمپ کې اوسیږم زموږ سره هندوان هم اوسیږي، یو هندو زموږ دوست دی تیررمضان کې هغه هم زموږ سره یوه روژه ونیوله،اوزموږ سره یې روژه ماته کړهز او هغه په اسلام کې دلچسپي اخلي،هغه دخاندان والوله ویرې اسلام قبول کړی نه دی،ایادهغه دغه شان زموږ سره روژه نیول او روژه ماتی کول جایزدي؟

جواب: دروژې دصحیح کیدوله پاره اسلام شرط دی[1].دغیرمسلم روژه دهغه دنه مسلمانیدو په وجه قابل قبول نه ده.لیکن داسې امکان شته چې هغه مسلمان شي؛ نوبیاستاسوسره ورته د روژه ماتي اجازت شته.هغه ته داسلام ترغیب ورکوئ.

د رمضان المبارک په هروخت کې بیل بیل عبادتونه کوئ

سوال: دجمعة الوداع په ورځ موږ کوم عبادتونه وکړوچې دډیرثواب والاوي؟

جواب: دجمعة الوداع په ورځ خاص عبادت شریعت مقررکړی نه دی. درمضان المبارک هره ورځ اوهره شپه یودبل نه زیاته اعلی ده،خصوصاً دجمعې ورځ اودجمعې شپه،اوپه خصوصیت سره د رمضان المبارک داخري عشرې شپې اوددې طاق شپې. په دې کې تلاوت، ذکر، نوافل. استغفار، درودشریف،چې څومره هم ممکن وي کثرت سره کول یې پکاردي،خصوصاً په کثرت سره داکلمات ویل پکاردي: لااله الاالله،نستغفرالله نسئلک الجنة ونعوذبک من النار.

تلویزون باندې شبینه موجب لعنت دی

سوال: په رمضان المبارک کې غلط سلط اوډیرپه تیزرفتاری سره او دغلطیونه ډکه شبینه وکړل شوه. او ورسره ورسره ډیرپه فخرسره دا اعلان هم کیده چې په پوره پاکستان کې دقرآن عظیم د تلاوت آوازونه اوریدل کیږي.آیا داشبینه دالله تعالی قهرته دعوت نه ورکوي؟ ایاجوماتونه په فلم خانو کې بدل نه شو؟ تاسویقین وکړئ چې کله دشبینې فلم په تلویزون

---

[1] شرط وجوبه الاسلام والعقل والبلوغ.......الخ.(عالمگیري/١/١٩٥/ کتاب الصوم/في تعریفه......الخ)

باندې پيش کيده ؛نو هغه وخت کې دلمونځ گزاروتوله توجودفلم جوړولوطرف ته وه.الله تعالی دې په موږ باندې رحم وکړی.دومره مصيبتونه،پريشانی.اوافتونه نازليږي،خو موږ دگناه کارونه ثواب گڼو اوکوويې،په جومات کې دومره رڼاشوه چې باربار دهغې دبلبونوفلم په نظر راغی. ځو ځوځله حافظ په خبرداري باندې هم ونه دريده اوهماغه شان غلط روان و په دې مبارکه اومتبرکه مياشت کې په کومه کې چې دنفلوثواب هم دفرضوبرابری داسې شپه لاهم شته چې دهغې عبادت دزرومياشتونه زيات دی، دومره ثواب ورکړل شو،خو په دې امت کې داپه نظرراځي چې ديولسومياشتوگناهونه بلکې ددې نه زيات په دې مياشت کې کوي.ځکه چې په رمضان المبارک کې ثواب دوچنده دی،اوکه څوک دگناه والاکاروکړي؛ نودهغې گناه هم دوچنده کيږي.په دې خبرو باندې خيال کولوسره مې کله کله په زړه کې داخيال راشي اوزه دالله تعالی نه ډيره زياته معافي غواړم چې داسې خبره مې په زړه کې رانه شي،خوهرځل مې دزړۀ نه وځيږي چې په تلويزون باندې داسې داسې خبرې شروع شوې دي چې مخکې نه وې اواوس داثواب گڼل کيږي، ددې نه بهتره ده چې رمضان شريف هډو رانه شی.يوځل بيادالله تعالی نه دمعافي خواست گاريم چې داسې خبره مې وکړه.آيا داسې سوچ کول بددي؟

جواب: نن سباډيرې شبينې په ډيرقباحتونوکې ملوثې دي.ددې تفصيل دې دحکيم الامت په کتاب,,اصلاح الرسوم.،کې وکتل شی.اودشبينې کومه نقشه چې تاسورانبکلې ده نودا خو سراسر رياکاري ده اوبياپه تلويزون باندې نمائش کول داخوموجب لعنت دی.الله تعالی دې مسلمانانوته عقل اوايمان ورنصيب کړي.

❖ د زکات مسائل ❖

زکات، د دولت تقسيمولو انقلابي نظام

سوال: زکات کې دعوامو څه فائدې دي؟ داهم ديوقسم ټيکس (ماصول) دی. کوم چې په رفاه عامه باندې خرچ کول پکاردي، په دې موضوع باندې په تفصيل سره رڼا واچوئ.

جواب: زه ستاسومجمل سوال په پنځوعنوانانو باندې تقسيموم. دزکات فرضيت، دزکات فائدې،زکات ټيکس (ماصول) نه دی. بلکې عبادت دی،د زکات ضروري مسائل اودزکات مصارف.

د زکات فرضيت

زکات داسلام اهم ترين رکن دی، په قرآن کريم کې ددې بار بار تاکيد شوی دی اود حضورﷺ په ارشادکې هم ددې اهميت اوافاديت اوددې په نه اداکولو باندې وبال ډيرزيات ښکاره شوی دی.

په قرآن کريم کې دي:,,وَٱلَّذِينَ يَكْنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ

فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾،، (التوبه:۳۴، ۳۵)

ترجمه: کوم خلک چې دسرو او سپینوزرو خزانې جمع کوي اودالله تعالی په لارکې يې نه خرچ کوي ، نواې نبي کريم ﷺ هغوی ته ددردناک عذاب زيری ورکړه او په کومه ورځ چې دسرو او سپينوزرو خزانې دجهنم په اور باندې ګرمې شي اود دوی به په مخونواوملاګانو او ترخونو باندې وداغل شي (اودوی ته به وويل شي چې) داستامال و چې تاسودځان له پاره جمع کړی و، نودخپل جمع شوي مال سزا وڅکئ.

په حديث شريف کې ارشاددی چې: داسلام بنياد په پنځو شيانوباندې دی:

۱ ددې خبرې شهادت ورکول چې دالله تعالی نه پرته بل څوک معبودنشته اودا چې محمد ﷺ دهغه بنده او رسول دی. ۲: لمونځ قائمول ۳: زکات ورکول ۴: دبيت الله شريف حج کول.

۵: درمضان المبارک روژې نيول.

،،قال عبدالله: قال رسول الله ﷺ: بنی الاسلام علی خمس، شهادة ان لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله، واقام الصلوة وايتاءالزکوٰة وحج البيت وصوم رمضان.،،(راوه البخاری ومسلم واللفظ له ج:۱ ص:۳۲)

په يوبل حديث کې دي چې: چادخپل مال زکات اداکړ هغه ددې مال نه شرلرې کړ،، ،،من ادی زکوٰة ماله فقد ذهب عنه شره.،، (کنزالعمال حديث:۱۵۷۷۸، مجمع الزوائد:۳ ص:۶۳، وقال الهيثمی رواه الطبرانی فی الاوسط واسناده حسن وان کان فی بعض رجاله کلام)

په يوبل حديث کې دي چې: کله چې تادخپل مال زکات اداکړ، نوچې په تاباندې کومه ذمه واري وه ته دهغه نه خلاص شولې.

،،عن ابی هريرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علی وسلم قال:اذا اديت زکوٰة مالک فقدقضيت ماعليک.،،(ترمذی ج:۱ ص:۷۸، ابن ماجه ص:۱۲۸ مطبوعه نورمحمد کارخانه کراچی)

په يوبل حديث کې دي چې: خپل ځانونه دزکات په ذريعه محفوظ کړئ اودخپلوتاروغيو صدقې سره علاج کوئ اودخپلومصيبتونوپه دعاګانواوزړاي سره مقابله کوئ.[1] (ابوداود)

په يوحديث کې دي چې: کوم کس چې دخپل مال زکات نه اداکوي دقيامت په ورځ به دهغه مال دګنجي مارپه شکل کې راشي اودهغه دست نه به تاوشي اودهغه دمرئ (ستوني) طوق به جوړشي.

---

[1] عن الحسن قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم :حصنوا اموالکم بالزکوٰة و داووا مرضاکم بالصدقة واستقبلوا امواج البلاء بالدعاء والتضرع (مراسيل ابی داؤد ص:۸،طبع ايچ ايم سعيد)۔

،،عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: مامن احد لایؤدّی زکوٰة ماله الامثل له یوم القیامة شجاعاً اقرع حتی یطوق عنقه.(سنن نسائی،ج:۱ ص:۳۳۳، وسنن ابن ماجه ص:۱۲۸ واللفظ له)

ددې مضمون نورهم احاديث دي په کوموکې چې په زکات نه ورکولوباندې دقيامت په ورځ د سختو سزاګانو وعيدونه اورول شوي دي.

د زکات فائدې

الله تعالی چې څومره احکام دخپلوبندګانوله پاره مقرر کړي دي په هغو کې بې شميره حکمتونه دي، دکوموچې انساني عقل احاطه نه شي کولی، الله تعالی دزکات په فريضه عائد کولو کې بې شميره حکمتونه اينښي دي اوربښتونې خبره داده چې دانظام دومره پاکيزه او مقدس اواعلی اوارفع ده چې انساني عقل ددې اوچتوالی پورې رسيدونه قاصره دی، دلته ديو څوعام فهمه فوائدوطرف ته اشاره کول غواړم:

۱: نن سبا په ټوله دنياکې دسوشلزم خبرې کيږي، په کومو چې دغريبانود فلاح اوبهبودنعره لګول کيږي اوهغوی داميرانوخلاف غلول کيږي، دې تحريک سره دغريبانانوترکومه حدپورې ښيګړه کيږي دايومستقله موضوع ده مګردلته دا ويل غواړم چې داميراو غريب داجنګ ددې وجې نه شروع شو، چې الله تعالی ددولتمندې طبقې په ذمه دغريبانانوکوم حقونه مقررکړي وو هغوی دهغو نه مخ وګرځاوو، که دپوره ملک ددولت څلويښتمه برخه په ضرورتمندو کې تقسيم شي اودا کار يو وختي شی نه شي، بلکې ديومسلسل عمل شکل اختيارکړي او امير طبقه پرته دترغيب اواکراه هيمشه دا فريضه اداکوي اوددې قسمه رقم (پيسې) منصفانه تقسيم هم دغه شان مسلسل روان وي، نوڅه موده وروسته به تاسو وګورئ چې غريبانوته به داميرانونه هيڅ ګيله نه وي اود امير اوغريب دکوم جنګ له وجې نه چې ددنيانه جهنم جوړشوی دی هغه ددې نظام له وجې دراحت اوسکون جنت جوړشي.

زه يوازې دپاکستان ملت اسلاميه نه، بلکې دټولې دنيا انسانانواومعاشروته وايم چې هغوی دې داسلام نظام زکات نافذ کړي اوددې دبرکاتومشاهده دې وکړي اود سرمايه دار ملکونو څومره دولت چې دکميونزم په مقابله باندې خرچ کيږي هغه دې هم په مد (مال) کې شامل کړي.

۲: دمال اودولت مثال په انساني معيشت کې هم هغه شان دی لکه چې د وينې په بدن کې دی، که دوينې په دوران کې فتور راشي، نوانساني ژوند ته خطره پيداشي اوځينې وخت دزړه دوره راتلوسره د انسان ناګهانه مرګ واقع شي، صحيح همدغه شان که ددولت ګردش منصفانه نه وي، نودمعاشرې ژوندبه په خطره کې وي اوهروخت دحرکت قلب د بنديدو ويره ورسره وي الله تعالی ددولت دمنصفانه تقسيم اوعادلانه ګردش له پاره چې کوم تدبيرونه ارشاد فرمايلي دي په هغو کې يود صدقات اوزکات نظام دی اوترڅوپورې چې دانظام په صحيح طريقې سره نافذ نه وي اومعاشره دانظام په پوره طورسره هضم نه کړي، نونه ددولت

د منصفانه ګردش تصور کېدای شي او نه معاشره د اختلال او زوال نه محفوظه پاتې کېدای شي.
۳ پوره معاشره یو بدن تصور کړل شي او د معاشرې افراد د دې اندامونه تصور کړل شي، تاسو ته معلومه ده چې په څه حادثې یا صدمې سره په یو اندام کې وینه راجمعه شي، نو منجمده شي، نو هغه سخاشي او دانه ترې جوړه شي او لکه د دانې د پیپ (زوو) په شان را وبهیږي. همدغه شان کله چې د معاشرې په اندامونو کې د ضرورت نه زیاته وینه راجمع شي. نو هغه هم په سخا کېدو شي او بیا کله د عیش وعشرت او فضول خرچې په شکل کې را ووځي او کله د عدالتونو او وکیلانو په چکر کې ضائع شي، کله په ناروغانو او هسپتالونو کې ولګیږي او کله په اوچتو اوچتو بلډنګونو او محلونو جوړولو کې بربادشي (او د دې بربادۍ احساس بنده ته هلته وشي، کله چې دهغه د ګرفتاري وارنټ جاري شي او هغه به له یو ې پوزې او دووغوږونو سره له دې دنیانه لاړ شي)

قدرت د زکات او صدقاتو په ذریعه د دې دانو علاج تجویز کړی دی کوم چې د دولت د انجماد له وجې د معاشرې په بدن کې را ووځي.
۴ د خپلې انساني نوع سره همدردي د انسانیت عمده ترین وصف دی. د کوم انسان زړه چې د خپل ځان په شان د انسانانو په بې چارګۍ، غریبۍ، لوږې او تنګ لاسي باندې نه خوږیږي. هغه انسان نه دی ځناور دی او په داسې موقعه باندې شیطان او نفس په انساني همدردي کې خپل کردار ادا کولو نه منع کول کوي. له دې وجې ډیر کم انسانان د دې حوصله کوي، الله تعالی د خپلو کمزورو بندګانو د مدد له پاره په امیرانو خلکو داذمه واري لګولې ده چې د دې اللهي فریضې په وړاندې هغوی د نادان دوست په مشوره باندې عمل ونه کړي.
۵ چېرته چې مال د انساني معیشت بنیاد دی. هلته د انساني اخلاقو بنه کولو کې او ورانولو کې هم ډیر دخل لري، ځینې وخت د مال نه شتون انسان په غیر انساني حرکاتو باندې اماده کوي او د معاشرې ناانصافي چې ویني، نو د معاشرې امن او سکون بربادولو پسې ولګیږي.
ځینې وخت هغه غلا، ډاکې (لار شکونه)، ستېه او جواري (قماربازي) په شان قبیح حرکتونه شروع کړي او کله کله د غریبي له لاسه چې ډیر زیات تنګ شي، نو د خپل ژوند د ختمولو فیصله وکړي او کله د خپلې خیټې جهنم ډکولو له پاره خپل عزت او عصمت لیلام (نیلام) کړي او کله کله د خپلې غریبۍ لرې کولو له پاره د خپل دین او ایمان سوداهم کوي، د همدې له وجې په یو حدیث کې فرمایل شوي دي: **،،کاد الفقر ان یکون کفراً،،** (رواه البیهقی فی شعب الایمان، مشکوة ص۴۲۹، وعزاه فی الدرالمنثور ج:٦ ص:٤٢٠، ابن ابی شیبة والبیهقی فی شعب الایمان وذکره الجامع الصغیر، معزیاالی ابی نُعیم فی الحلیة، وقال السخاوی طرقه کلها ضعیف کمافی المقاصد الحسنة وفیض القدیرشرح جامع الصغیر ج:٤ ص:٥٤٢، وقال العزیزی (ج:٤ص:٢) هوحدیث ضعیف وفی تذکرة الموضوعات للشیخ محمدطاهرالفتنی(١٧٤) ضعیف ولکن صح من قول ابی سعید)

يعنې فقر بنده قريب قريب كفرته رسوي او فقر كې دخپل منعم حقيقي ناشكري كول. خويوه عامه خبره ده.

دا ټول غيرانساني حركات په معاشره كې دفقر له وجې نه پيداكيږي اوكله كله ډير زيات كورونه بربادكړي، ددې علاج پيدا كول د معاشرې اجتماعي ذمه واري ده اود صدقاتو او زكات په ذريعه دكائناتو پالونكي ددې بديو منع كول فرمايلي دي.

٦ ددې په خلاف ځينې اخلاقي خرابي هغه دي چې دمال اودولت د زيادت له وجې پيدا كيږي داميرانوډبچيو (ځامنو) ذهنونوكې چې كومې خرابيانې راځي اوكوم ډول غيرانساني حركات چې دهغوى نه صادريږي. دهغو دبيانولوحاجت نشته. دصدقاتواو زكات په ذريعه الله تعالى دمال او دولت نه پيداكيدونكې اخلاقي بديو منع كول فرمايلي دي، چې دې خلكوسره دغريبانو د ضرورياتو هم احساس وي اود غريبانو حالت ددوى له پاره عبرت هم وي

٧ دزكات اوصدقاتوپه نظام كې يوحكمت دادى چې دې سره هغه مصائب اوافتونه لرې كيږي چې په انسانانوباندې نازليږي.ددې له وجې په ډيرو احاديثوكې دابيان شوي دي چې د صدقې سره بلاګانې لرې كيږي اود انسان ځان اومال د افتونو نه محفوظ كيږي[1]

عام خلك ليدل شوي دي چې كله يوكس ناروغ شي. نوهغوى دصدقې چيلى ذبح كړي. هغوى مسكينان داګڼي چې كېداى شي دچيلي سر قربانولوسره به دمريض سربچ شي. داخلك دصدقې په مفهوم باندې پوه نه دي. بلكې دخپل پاك مال څه برخه دالله تعالى له پاره چا ارمن(حاجتمند) ته حواله كول دي، صدقې سره ددې علاج كول پكاردي تاسوچې څومره همت اواستطاعت لرئ، نوبازاركې دهغه قيمت معلوم كړئ اوچامحتاج ته يې وركړئ. ياچيلى واخلئ اوصدقه يې كړئ، غرض داچې دچيلى ذبح كولوكې د درد د بلا څه دخل نشته. بلكې بلاخوصدقې سره لرې كيږي. له دې وجې بوازې په سختنه ناورغي كې نه. بلكې په هرافت اومصيبت كې صدقه كول پكاردي. بلكې دافتونو او مصيبتونونازليدونه مخكې دهغو مخ نيوى پكاردى، زموږ شتمنه طبقه چې په څومره دولت كې لوبې كوي دبدقسمتۍ نه هغوى په مصيبتونو او افتونو كې هم هغومره ګيريږي

٨ دزكات اوصدقاتويوه فائده داهم ده چې دې سره په مال او دولت كې بركت پيداكيږي او

---

[1] عن انس بن مالک رضى الله عنه :قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:ان الصدقة لتطفى غضب الرب وتدفع ميتة السوء_رواه الترمذى، الترغيب والترهيب ج:٢ص١٢ ،الترغيب في الصدقة رقم الحديث:(٢١) وروى عن نافع بن خديج رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الصدقة تسد سبعين بابًا من السوء(رواه الطبرانى فى الكبير)وعن انس بن مالك رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم باكروا بالصدقة، فان البلاء لايتخطى الصدقة رواه البيهقى(الترغيب والترهيب ج٢،ص١٩، رقم الحديث:٣٧،طبع داراحياء التراث العربى)

زکات او صدقاتو کې بخل کول د اسماني برکتونو دروازې بندول دي، په حديث کې دي چې: الله تعالی په هغه باندې قحط او خشک سالي مسلط کوي او د اسمانونو نه بارانونه بندشي [١] (طبراني،حاکم)

په يو بل حديث کې دي چې د څلور شيانو نتيجه د څلورو شيانو په شکل کې وي:

١ کله چې يو قوم عهد شکني کوي، نو په هغوی باندې د ښمنان مسلط شي.

٢ کله چې هغه د ماانزل الله خلاف فيصلې کوي، نو قتل او خونريزي او مرګ عام شي.

٣ کله چې يو قوم زکات منع کړي، نو د هغوی نه باران منع شي.

۴ کله چې يو قوم په ناپ تول کې کمی کوي، نو د ځمکې پيداوار کم شي او په قوم باندې قحط مسلط شي. [٢] (طبرانی)

خلاصه داده چې د الله تعالی تجويز شوی د زکات او صدقاتو نظام انقلابي نظام دی، چې د هغه سره معاشرې ته د راحت او سکون ژوند نصيب کېدای شي او د دې نه د انحراف نتيجه د معاشرې په افرادو کې بې چيني (ناارامي) او بې اطميناني په شکل کې ښکاره کيږي.

٩: د ټول امورخو هغه وو د کومو تعلق چې د نياوي ژوند سره دی، خو يو مومن چې په رښتيا په الله تعالی او د هغه په رسول ﷺ باندې ايمان لري د د نياوي ژوند د هغه د نظرپای نه دی، بلکې د هغه د ژوند تمام کوششونه د اخرت د ژوند له پاره دي، هغه د دې فاني کور په محنت سره خپل د اخرت کور ښائسته کول غواړي او په دې لږ شان ژوند کې د اخرت د دائمي ژوند د راحت او سکون په تلاش کې دی، د عامو انسانانو نظريوازې د دنياپورې محدود دی او هغوی چې څه کوي يوازې د دې دنيا د فلاح او بهبود له پاره يې کوي، کومه منصوبه چې جوړوي يوازې د دې ژوند نقشې او خاکې مخې ته ږدي، الله تعالی ايمان والو ته د زکات او صدقاتو په ذريعه د اخرت په بينک کې خپل دولت منتقل کول و چل ښودلی دی، د زکات او صدقاتو په شکل کې چې کوم دولت ورکړل شي هغه مخامخ د اخرت په بينک کې جمع کيږي او دا به د بنده په هغه ورځ په کار راځي کله چې هغه خالي لاس هرڅه د دلته پريږدي او رخصت شي.

---

[١] وعن بريدة رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما منع قوم الزکوٰة الّا ابتلاهم الله بالسنين رواه الطبرانی فی الأوسط ورجاله ثقات(مجمع الزوائد ج٣ ص:١٥٣،کتاب الزکوٰة باب فرض الزکاة طبع بيروت)_

[٢] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :خمس بخمس !قيل يارسول الله ! وما خمس بخمس؟ قال:مانقض قوم العهد الّا سلط عليهم عدوهم،وما حکموا بغير ما انزل الله الّا فشافيهم (الفقر، ولاظهرت فيهم الفاحشة الّا فشافيهم) الموت،ولا منعوا الزکاة الّا حبس عنهم المطر،ولا طففوا المکيال الّا حبس عنهم النبات واخذوا بالسنين اخرجه الطبرانی فی الکبير (مجمع الزوائد ج:٣ص:١٥٣،کتاب الزکاة،باب فرض الزکاة،طبع دار الکتب العلمية)_

,,هرڅه به درنه پاتې شي چې لاړشې د دنيانه،،

له دې وجې هغه خلک ډيرزيات خوش قسمته دي چې خپل دولت د دې ځای نه هغې دنياته منتقل کولو کې وړاندې والی کوي

١٠ انسان چې دنياته راشي، نو ډيرتعلقات دهغه سره وابسته وي د مور و پلارخپلوي، دورونو خويندو خپلوي، دخپلوخپلوانو خپلوي، اهل عيال سره خپلوي اوداسې نور...

خودمومن يوه خپلوي دخپل خالق،محسن اوحقيقي محبوب سره هم ده اودا خپلوي دټولوخپلويو نه مضبوطه اودوامداره هم ده. نورې خپلوي ماتيدای هم شي او جوړيدای هم شي، خودا خپلوي هيڅ وخت کې نه ماتيدای شي اونه د دې پريښودل ممکن دي. داپه دنيا کې هم قائمه ده. دځنکدن په وخت کې به هم وي، دقبرپه تياره کورکې به هم وي، په ميدان حشرکې هم، په جنت کې هم، څنګه چې دژوندون بدليږي داخپلوي به نوره هم مضبوطيږي اود دې دضرورت احساس به هم په نوروخپلويو باندې غالبيږي. د دې خپلوۍ په لاره کې دټولونه زيات انساني خواهشات رکاوټ (مانع) دي او د دې خواهشاتو د پوره کولو دټولونه لويه ذريعه مال ده اودبنده کومه خپلوي چې د دې سره ده هغه د دې سره دزيات نه زيات مضبوطول غواړي، د دې له وجې نه کومه صدقه چې فقير اومسکين ته ورکړل شي هغه په اصل کې هغه ته نه ورکول کيږي، بلکې دخپلې مالي قرباني يوه وړه شان نذرانه ده. چې دبنده له طرف نه دمحبوب حقيقي په درباركې وړاندې کيږي، په حديث کې راځي چې کله بنده صدقه کوي، نوالله تعالی هغه په خپل دوست رضاسره قبلوي اوبيا دهغه پالنه کوي اود قيامت په ورځ به دوري (سپېلني) د دانې نه غر جوړ شي اوبنده ته واپس کړل شي[1] افسوس دی چې موږ دالله تعالی په دربار کې ددومره معمولي شان قرباني وړاندې کولونه هم ځان وساتو اود الله تعالی بې پايانه عنايتونه ځانونه محرومه کړو

زکات ټيکس (ماصول) نه دی

په پورتنيو لکيروکې داحقيقت ښکاره شو چې زکات ټيکس (ماصول) نه دی، بلکې يواعلی ترين عبادت دی، دځينوخلکوپه ذهن کې دزکات ډيرخراب تصوردی، هغوی دادحکومت ټيکس (ماصول) ګڼي، څنګه چې دټولو حکومتونو له طرف نه ډول ډول ټيکسونه (ماصول) مقررروي، حالانکې زکات دچاحکومت له طرف نه عائد شوی ټيکس (ماصول) نه دی، نه درسول اللهﷺ له طرف نه داسلامي حکومت د ضروریاتو له پاره عائد شوی دی،

[1] عن ابي هريرة رضى الله عنه قال قال: رسول اللهﷺ: من تصدّق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الّا الطيب فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربّيها لصاحبها كما يربّي احدكم فلوّه حتى تكون مثل الجبل_متفق عليه(مشكوٰة ص:١٦٧،باب فضل الصدقة،كتاب الزكاة طبع قديمي)۔

بلکې په حديث کې په ښکاره ډول ارشاد دی چې زکات به د مسلمانانو دشتمنې طبقې نه واخيستل شي او غريبانو ته به واپس شي.[۱]

دغه راز داګڼل هم غلط دي چې زکات ورکونکي په فقيرانواومسکينانوباندې احسان کوي، هيڅ کله نه؛ بلکې په خپله دفقيرانو اومسکينانوپه شتمنو باندې احسان دی چې ددوی په ذريعې سره ددې خلکو رقمونه (پيسې) دالله تعالى په بينک کې جمع کيږي. که تاسوپه يوبينک کې پيسې جمع کولوله پاره پيسې ورکوئ، نوايا تاسو په هغوی باندې احسان کوئ؟ که دا احسان نه دی، نوغريبانوته زکات ورکول هم احسان نه دی.

په تيرشويوامتونوکې چې به کوم مال دالله تعالى په دربار کې دندرانې په ډول سره وړاندې کيدو، دهغه استعمالول دهيچا له پاره جائزنه و، بلکې هغې ته به سوځېدونکې قرباني ويل کېده. هغه به په قرباني ګاه کې کېښودل کيده، که له اسمان نه به اور راغی او هغه به يې وسوځوله، نودا دقرباني قبلېدوعلامه وه[۲] اوکه هغه شی به هماغه شان پروت و، نودهغه دمردود کېدو علامه وه الله تعالى په دې امت مرحومه باندې داخاص عنايت کړی دی چې اميرانوته حکم ورکړل شوی دی چې کوم شيان دالله تعالى په دربار کې وړاندې کول غواړی هغه ددې دهغه فلاني فلاني بنده (فقيرانو او مسکينانو) ته حواله کړي اوددې عظيم الشان رحمت په ذريعه يو طرف ته يې دفقيرانودضرورت انتظام وفرمايل اوبل طرف ته يې دا امت مرحومه دذلت او رسوايې نه بچ کړ. اوس خدای پاک ته معلومه ده چې څوک پاک مال صدقه کوي؟ اوڅوک ناپاکه مال؟ څوک داسې دي چې يوازې دالله تعالى درضا له پاره ورکړه کوي اوڅوک دنوم ناموس او ريا له پاره؟ غرض داچې زکات ټيکس (ماصول) نه دی. بلکې دالله تعالى په دربارکې نذرانه ده، همدا وجه ده چې الله تعالى ورته په قرآن پاک کې قرض حسنه فرمايلي دي:

,,څوک دي چې الله تعالى ته قرض حسنه ورکړي، هغه دادهغوی له پاره څو چنده زياتوي ،، (البقره)[۳]

دلته صدقاتو ته (قرض حسنه) سره ددې له وجې نه تعبير شوی دی چې څنګه قرض واجب الادا دی، همدغه شان صدقه کونکي ته مطمئن کېدل پکاردي چې دهغوی داصدقه به دزرګونو

---

[۱] عن ابن عباس رضى الله عنه ان رسول الله ﷺ بعث معاذًا الى اليمن فقال..........فاعلمهم ان الله قد فرض عليهم صدقة توخذ من اغنيائهم فترد الى فقرائهم .....الخ_متفق عليه(مشكوٰة ص:۱۵۵، كتاب الزكاة)

[۲] واتل عليهم نبا ابنى ادم بالحق اذ قربا قربانًا فتقبل من احدهما ولم يتقبل من الاخر(المائدة:۲۷)و فى التفسير المظهرى: والقربان اسم مايتقرب بها الى الله تعالىٰ من ذبيحة او غيرها.......و كانت القربان اذا قبلت نزلت نار من السماء بيضاء فاكلته واذا لم تقبل لم تنزل النار واكله الطيور والسباع (تفسيرمظهرى ج:۳ص:۷۹طبع دهلى)

[۳] قال تعالىٰ: ''مَن ذَا الَّذِى يُقرِضُ اللّٰهَ قَرضاً حَسَناً فَيُضَاعِفَه لَه اَضعَافاً كَثِيرَة (البقرة:۲۴۵)_

برکتونو او سعادتونو سره هغوی ته واپس کړل شي. دا مطلب نه دی چې الله تعالی دچا محتاج دی. همدا وجه ده چې صدقه دفقیرلاس ته د تلو نه مخکې دالله تعالی دربار ته رسیږي او فقیر ګویا ورکونکي نه نه وصولوي، بلکې دا دهغه له طرفه ورکړه کیږي چې دټولو مالک دی.

زکات حکومت ولې وصول کړي

پاتې شو دا سوال چې زکات ټیکس (ماصول) نه دی. بلکې خالص عبادت دی. نو حکومت ته ددې انتظام ولې حواله شوی؟ ددې سوال جواب دیوې مستقلې مقالې موضوع ده. خو دلته په مختصرډول سره دومره پوهیدل پکاردي چې اسلام ټولې معاشرې ته یو والی ګرځوي او ددې نظم ونسق اسلامي حکومت ته حواله کوي، له دې وجې هغه فقیران او مسکینان چې داسلامي معاشرې یوه برخه ده دهغوی دضروریاتو تکیمل هم داسلامي معاشرې قوت مقتدره ته حواله کوي او ددې کفالت له پاره هغه د صدقاتو او زکات نظام رائج کړی دی، دفقیرانو او مسکینانو دکفالت دټولونه لویه ذمه واري په حکومت باندې راځي، له دې وجې نه ددې مدد له پاره د مخصوص رقم (پیسې) بندوبست کول هم دحکومت ذمه واري ده، همدا وجه ده چې کوم خلک دحکومت له طرف نه دصدقاتو په وصولولو باندې او انتظام باندې مقرروي په حدیث کې هغوی ته (دغازي في سبیل الله) سره تشبیه ورکړې ده.[1] (ابوداود،ترمذی)

که یو طرف ته دهغوی دخدماتو تعریف شوی دی، نو بل طرف ته یې هغوی ته دخپلې نازکې ذمه واري احساس هم ورکړی دی، یعنې که هغوی دا فریضه جهاد في سبیل الله ګڼلو سره پوره کوي، نو بیا خوبه دخپلې ذمه واري نه سبکدوش وي او که هغوی ددې مال نه دیوې پیسې خیانت هم وکړ. نو هغوی ته ښه پوهیدل پکاردي چې هغوی په خدایي مال کې دخیانت مرتکب کیږي چې دهغوی له پاره ددوزخ د اور سامان دی، په یو حدیث کې ارشاددی چې: کوم کس چې مونږ په یو کار باندې مقرر کړ او دهغه له پاره مویوه وظیفه مقرره کړله او ددې نه وروسته که هغه ددې مال نه څه واخلي، نو هغه به په غنیمت کې خیانت کولو واله وي.(ابوداود)

د زکات مسائل

سوال: زکات په هرصاحب نصاب مسلمان باندې فرض دی، ددې په مسائلو باندې دعلماء کرامو نه ځان ښه پوهول پکاردي، زه دلته څو مسائل درج کوم څو عوام دې په صرف په خپل فهم باندې اعتبار نه کوي بلکې داهل علم نه دې ښه تحقیق کوي.

---

[1] عن رافع بن خدیج رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: العامل علی الصدقة بالحق کالغازی فی سبیل الله حتی یرجع الی بیته _ رواه ابوداؤد والترمذی (مشکوٰة ص:۱۵۷) عن عبد الله بن بریدة عن ابیه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: من استعملنا علیٰ عمل فرزقناه رزقاً فما اخذ ذالك فهو غلول (سنن ابی داؤد ج:۲ ص:۵۲)_

۱.....که د يو کس په ملکيت کې دوه پنځوس نيمې تولې، (۶۱۲،۵۳ ګرام) چاندي (سپين زر) يا اووه نيم تولې (۸۷،۵ ګرام) سره زر وی يا د دومره ماليت نغدې روپۍ ورسره وي، يا د همدومره ماليت مال تجارت ورسره وي، نو په هغه باندې زکات فرض دی.[۱]

۲.....که يو کس سره څه چاندي (سپين زر) وي، څه سره زر وي ياڅه روپۍ ياد تجارت مال وي او د هغو د مجموعې ماليت د دوه پنځوس نيمو تولو چاندي (سپين زر) برابروي، نو په هغه باندې به زکات فرض وي.[۲]

۳ دکارخانو او فيکټريو وغيره په ماشينونو باندې زکات نشته، خو په دې کې چې کوم مال تياريږي په هغو کې زکات شته، همدغه شان کوم خام مال چې په کارخانه کې موجودوي په هغه باندې هم زکات شته.[۳]

۴...د سرو زرو، سپينو زرو په هرڅيز باندې زکات شته، لکه د سرو زرو او چاندي (سپين زر) کالي، د سرو زرو او چاندي (سپين زر) لوښي، تردې پورې چې سوچه تيله، ټهپا، اصلي زرې، د سرو سپينو زرو بټن که څه هم په جامو باندې لګيدلې وي، په دې ټولو باندې زکات فرض دی.[۴]

۵.....د کارخانو او فيکټريو په حصو (ونډو) باندې زکات فرض دی، بلکې د هغه حصص مقدار بقدر نصاب وي يا نور قابل زکات څيزونه چې ورسره يوځای کړل شي او نصاب ترې جوړشي خو په مشينري او فرنيچر او داسې نورو د استعمال په څيزونو باندې زکات نشته. له دې وجې د هر حصه دار په حصه کې چې څومره قيمت راځي هغې دې او باسي او په باقي به زکات اداکول وي.[۵]

۶.....سره زر، چاندي (سپين زر)، مال تجارت، او د کمپنۍ حصې (برخې) چې کوم قيمت د زکات په کال د پوره کيدو په ورځ وی د هغې مطابق به زکات اداکيږی.[۶]

۷.....د کال په شروع او پای کې د نصاب پوره کيدل شرط دې، په مينځ کال کې رقم (پيسې) کم شپ نو د هغه اعتبار نشته.[۷]

---

[۱] نصاب الذهب عشرون مثقال والفضة مئتا درهم..الخ (درمختار مع الشامي، باب زكاة المال ج:۲ ص ۲۹۵)

[۲] وقيمة العروض للتجارة تضم الى الثمنين لأن الكل للتجارة وضعا وجعلا ويضم الذهب الى الفضة و عكسه بجامع الثمنية قيمة...الخ (درمختار مع الشامي ج:۲ ص:۳۰۳، وايضاً فى الهندية ج:۱ ص ۱۷۹، كتاب الزكاة)

[۳] فليس فى دور السكنى......وكذا كتب العلم ان كان من اهله وآلات المحترفين (هندية ج:۱ ص:۱۷۲)

[۴] قال القدورى: و فى تبر الذهب والفضة وحليهما واوانيهما الزكاة ......الخ (هداية ج:۱ ص:۱۷۵، كذا فى الهندية ج:۱ ص:۱۷۸، كتاب الزكاة)۔

[۵] ايضاً تيره شوى حاشيه (نصاب الذهب عشرون مثقالاً...الخ) ملاحظه كړئ۔

[۶] وتعتبر القيمة عند حولان الحول...الخ (عالمگيرى ج:۱ ص: ۱۷۹، كتاب الزكاة، الفصل الثانى فى العروض)

[۷] واذا كان النصاب كاملاً فى طرفى الحول فنقصانه فيما بين ذالك لايسقط الزكاة كذا فى الهداية (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۷۵، كتاب الزكاة، الباب الاوّل)۔

مثلاً یوکس دکال شروع کیدوپه وخت کې ددریوزرو روپیومالک و،درې میاشتې وروسته هغه سره پنځلس سوه روپۍ پاتې شوې،شپږ میاشتې وروسته ورسره څلورزره شوې،اودکال په ختمیدوباندې د څلور نیمو زرو مالک و،نودکال دپوره کیدوپه وخت کې په هغه باندې به د څلور نیمو زرو روپیو زکات واجب وي په مینځ کال کې د پیسو دکمېدو زیاتېدو اعتبارنشته.

(یا دونه: نن سبا دوه پنځوس نیمې تولې چاندي (سپین زر) قیمت ۲۷۵۰۰ روپۍ دی)

۸...... پراویډنټ فنډباندې دوصولونه وروسته زکات فرض دی.دوصولي نه مخکې په کلونوباندې زکات فرض نه دی.[۱]

۹...... صاحب نصاب که پیشګي زکات اداکړي، نوهم جائزدی،خو دکال په دوران کې که مال زیات شو،نودکال په ختیمدوباندې به زیات رقم (پیسې)اداکوي.[۲]

❖ د زکات متعلق باقي مسئلې ❖

دزکات مصارف

۱...... زکات یوازې دغریبانواومسکینانوحق دی[۳].حکومت داپه عام رفاهي کارونوکې نه شي خرچ کولی.[۴]

۲...... هیڅ یوکس ته دهغه دکاریاخدمت په معاوضه کې دزکات پیسې نه شي ورکول کیدای[۵] ،خو دزکات په وصولولوباندې چې کومه عمله دحکومت له لوري نه مقرره ده دهغوی تنخواه ددې نه اداکول صحیح دي.[۶]

---

[۱] ومنها كون النصاب نامياً حقيقة.........أو تقديرا بان يتمكن من الاستمناء كون المال فى يده أو فى يد نائبة.........الخ (هندية ج:۱ ص:۱۷۴،كتاب الزكاة،الباب الاوّل)۔

[۲] ويجوزتعجيل الزكاة بعدملک النصاب فلايجوزقبله كذا في الخلاصة (عالمگیری ج:۱ص۱۷۶،كتاب الزكاة)

[۳] الباب السابع فى المصارف منها الفقير ....و منها المسكين.......الخ (هندية ج:۱ ص:۱۸۷)۔

[٤] ولايجوز أن يبنى بالزكاة ....القناطر والسقايات واصلاح الطرقات وكرى الأنهار.......الخ (هندية ج:۱ ص :۱۸۸،الباب السابع فى المصارف)۔

[۵] اما تفسيرها (اى الزكاة) فهى تمليک المال من فقير مسلم غير هاشمي ولا مولاة بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه الله تعاليٰ هذا فى الشرع كذا فى التبيين (هندية ج:۱ص: ۱۷۰) أيضاً: ولو نوى الزكاة بما يدفع المعلم الى الخليفة ولم يستاجره ان كان خليفة بحاله لو لم يدفعه يعلم الصبيان أيضاً أجزأه والّا فلا (هندية ج:۱ ص: ۱۹۰)

[٦] ومنها العامل وهو من نصه الامام الاستيفاء الصدقات والعشور كذا فى الكافى (هندية ج:۱ ص :۱۸۸)۔

۳ حکومت به یوازې په اموال ظاهره باندې زکات وصولوي.د اموال باطنه زکات هرکس په خپله خوښه باندې اداکولی شي؟[۱]
(کارخانواومیلونوکې تیاریدونکی مال،اوپه بینک کې جمع شوې سرمایه، اموال ظاهره دي،اوکوم سره زراوچاندي (سپین زر) چې په کورکې پراته وي هغو ته اموال باطنه ویل کیږي)
۴ چا محتاج ته دومره پیسې ورکول په څومره باندې چې زکات فرض وي مکروه دي،خو زکات به اداشي.[۲]

د زکات اداکولو فضائل اود نه اداکولو وبال

سوال: په زکات ورکولو باندې څه زیرې دی اونه ورکولوباندې څه وعید دی؟

جواب: زکات ورکولوسره مال پاک شي اوداﷲ تعالی رضاورسره حاصلیږي اونه ورکولوسره مال ناپاکه پاتې شي،اواﷲ تعالې ترې خفه کیږي[۳].په قرآن کریم اوحدیث شریف کې په زکات نه ورکولو باندې ډیرزیات وبال بیان شوی دی.داسې مال به دمارپه شکل کې مالدارخوري او ورته وایي به چې زه ستاهماغه مال یم کوم چې تاجمع کاو.اوداﷲ تعالی په لاره کې دې نه خرچ کولو.

په قرآن کریم اواحادیث شریفه کې دزکات اوصدقاتو ډیر زیات فضائل بیان شوي دي اوپه زکات نه ورکولوباندې سخت وعیدونه راغلي دي.ددې تفصیل دې دحضرت شیخ سیدي ومرشدي مولانا محمد زکریا کاندهلوي مهاجرمدني نوراﷲ مرقده په کتاب ,,فضائل صدقات،، کې وکتل شي.دلته داختصارپه خیال سره یویو آیت.اوحدیث په فضائل کې،اویو آیت اوحدیث په وعیدباندې نقل کوم.

د زکات اوصدقې فضیلت:

,,مثل الذین ینفقون اموالهم فی سبیل الله کمثل حبة انبتت سبع سنابل فی کل سنبلة مائة

---

[۱] قوله الظاهرة والباطنة فان مال الزکاة نوعان ظاهر.وهو المواشی وما یمر به التاجر علی العاشر وباطن :وهو الذهب والفضة،واموال التجارة فی مواضعها بحر..........اما الباطنها التی فی بیته لو اخبرها العاشر فلا یاخذ منها........الخ(شامي،قبیل مطلب ما ورد فی ذم العشار ج:۲ ص ۳۱۰)۔

۲] و یکره ان یدفع الی رجل مائتی درهم فصاعداً وان دفعه جاز کذا فی الهدایة (عالمگیری ج۱ ص:۱۸۸)۔

۳]ان الزکاة تطهر نفس المودی عن انجاس الذنوب وتزکی اخلاقه بتخلق الجود والکرم وترک الشح والضن اذ الانفس مجبولة علی الضن بالمال فتتعود السماحة وترتاض لاداء الامانات وایصال الحقوق الی مستحقیها وقد تضمن ذالک کله خذمن اموالهم صدقة تطهرهم وتزکیهم بها (بدائع الصنائع ج:۲ ص:۳،کتاب الزکاة ولاتجب علی الانبیاء لان الزکاة طهرة لمن عساه ان یتدنس والانبیاء مبرؤن منه ....لان مقتضی جعل عدم الزکاة خصوصیاتهم انه لا فرق بین زکاة المال والبدن (ردالمحتار ج:۲ ص ۲۵۶ کتاب الزکاة)۔

حبة والله يضعف لمن يشاء والله واسع عليم. الذين ينفقون اموالهم فى سبيل الله ثم لايتبعون ماانفقوا مناًولااذى لهم اجرهم عندربهم ولاخوف عليهم ولاهم يحزلون..،(البقره:۲۶۱،۲۶۲)

ترجمه: کوم خلک چې دالله تعالى په لاره کې خپل مالونه خرچ کوي، دهغوى دخرچ شوي مال مثال داسې دى لکه ديوې دانې حالت چې دهغې نه (فرض کړئ) اوو بنبلي (وږي) راوځي او په هر وږي کې سل دانې وي اودا زيات والى چې الله تعالى چاته وغواړي ورکوي يې .اوالله تعالى ډېروسعت والا اوخبرداردى، کوم خلک چې خپل مال دالله تعالى په لارکې خرچ کوي چې دخرچ کولونه وروسته (په هغه)باندې احسان کوي اونه خپل عمل سره هغه ته ازاررسوي.دې خلکوته به ددوى دعملونوثواب ورکول کيږي دهغوى دپروردګاردطرف نه اونه به په هغوى څه خطره وي اونه به دوى غمجن وي.(ترجمه حضرت تهانوى رحمه الله)

حديث: عن ابي هريرة رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب،ولايقبل الله الاالطيب،فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربيهالصاحبها كمايربي احدكم فلوّه حتى تكون مثل الجبل.متفق عليه..،(مشكوة،ص:۱۶۷ باب فضل الصدقه)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې:حضور صلى الله عليه وسلم وفريايل چې: کوم کس دکجورې ددانې برابرپاکه ګټه صدقه کړي،اوالله تعالى يوازې پاک قبلوي،نوالله تعالى يې په خپل لاس کې واخلي او قبول يې کړي،اودهغې دمالک له پاره دهغې پالنه کوي، څنګه چې په تاسوکې يوکس دخپلې اسپې دبچي پالنه کوي تردې پورې چې هغه (دکجورې ديوې دانې صدقه دقيامت په ورځ)به دغر برابرشي..،

زکات نه اداکولوباندې وعيد

،،وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ﴿٣٥﴾،، (التوبه:۳۴،۳۵)

ترجمه: کوم خلک چې دسرو او سپينوزرو خزانې جمع کوي اودالله تعالى په لارکې يې نه خرچ کوي ، نوای نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغوى ته ددردناک عذاب زيرى ورکړه او په کومه ورځ چې دسرو او سپينوزرو خزانې دجهنم په اور باندې ګرمې شي اود دوى به په مخونواوملاګانو او ترخونو باندې وداغل شي (اودوى ته به وويل شي چې) داستامال و چې تاسودځان له پاره جمع کړى و، نودخپل جمع شوي مال سزا وڅکئ.

حديث: عن ابن مسعود رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: مامن رجل لايودى زكوٰة ماله الاجعله الله يوم القيامة فى عنقه شجاعاً ثم قرأ علينا مصداقه من كتاب الله ولا يحسبن الذين يبخلون بمااتهم الله من فضله .الاية(سورة۳، آل عمران۱۸۰) (رواه الترمذى والنسائى وابن ماجه، مشكوة،ص:۱۵۷ كتاب الزكوة)

ترجمه: حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم نه دا ارشاد نقل کړی دی چې: کوم کس د خپل مال زکات نه اداکوي، د قيامت په ورځ به د هغه مال د ګنجي مار په شکل کې د هغه په مرۍ (ستوني) کې واچول شي. بيا حضور صلی الله علیه وسلم د دې مضمون آيت موږ ته واورولو، دا يت ترجمه داده: او هېڅ کله خيال مه کوئ داسې خلک چې په داسې شي کې بخل کوي چې الله تعالى هغوی ته په خپل فضل سره ورکړی وي چې دا خبره به د هغوی له پاره ښه وي، بلکې دا خبره د هغوی له پاره ډېره بده ده، دې خلکو ته به د قيامت په ورځ طوق واچول شي د کوم چې هغوی بخل کړی و. (ال عمران ۱۸۰:، ترجمه: حضرت تهانوی رحمه الله)

د زکات د فرضيت نه منکر سره څه معامله وکړای شي؟

سوال: زما يو دوست محمدصديق دی، چې د هغه سره زما د زکات باره کې خبره وشوه، ما هغه ته وويل چې زکات د اسلام په پنځه ارکانو کې يو رکن دی او په هر مسلمان باندې فرض دی، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د زکات نه ورکوونکو په خلاف د جهاد حکم ورکړی و او په کوم مال کې چې زکات ورنکړل شي هغه حرامېږي، داسې لکه څرنګه چې په هر مسلمان باندې شراب او خنزير حرام دی، هغه (دوست) وايي چې يوازې حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه حکم ورکړی و، پاتې درې خلفاء راشدين رضي الله عنهم، له هغوی نه وروسته بنوامیه، له هغوی نه وروسته بنوعباسيه، له هغوی نه وروسته عثمانيه خلفاوو کې چاهم حکم نه دی ورکړی، يعنې د جهاد حکم يې نه دی ورکړی، او څوک چې زکات نه اداکوي نه هغه مرتد دی او نه په بل څه قسمه سزا کې راځي، هغه ځان ډېر پوه (تعليم يافته) ګڼي.

جواب: زکات د اسلام قطعي فريضه اود اسلام اهم ترين رکن دی، د حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په زمانه کې چې کومو خلکو د زکات نه انکار کړی وو، هغه يې په خلاف جهاد وکړ، د وروسته خلفاء راشدينو په زمانه کې هيچا د زکات نه انکار نه دی کړی. له دې وجې هغوی ته د داسې خلکو په خلاف د جهاد کولو ضرورت پيښ نه شو، نو له دې وجې ستا د دوست استدلال غلط دی.

په قرآن کريم کې دي: اوکوم خلک چې د سرو او سپينو زرو خزانه جمع کوي او هغه د الله په لار کې نه خرچ کوي (يعنې زکات نه اداکوي) هغوی ته د دردناك عذاب زيری ورکړه، په کومه ورځ چې به دغه سره زر او سپين زر د دوزخ په اور کې ګرمېږي، بيا به هغې سره د هغوی تندي،

دهغوی اړخونه او دهغوی شاګانې داغلی شي او هغوی ته به وویل شي چې داهغه خزانه ده کومه چې به تاسو دخپل ځان له پاره جمع کوله، نو نن ددې خزانې جمع کولو مزه وڅکئ، . (التوبة: ۳۴، ۳۵) [۱]

څوک چې د زکات فرضیت مني، خودغفلت او بخل له وجې زکات نه اداکوي، هغه مرتد نه دی، خو فاسق او بدکاردی او دده سزا به په قبر او حشر کې هغه وي کومه چې د قرآن کریم په پورته آیتونو کې ذکرشوې ده اوڅوک چې زکات ضروري نه ګڼي، یعنې دا فرض نه ګڼي، هغه بې شکه مرتد دی،[۲] چې ترڅو پورې توبه ونه باسي، دهغه سره به هغه معامله کیږي کومه چې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د زکات د منکرینو سره کړې وه.[۳]

دزکات له ویرې نه غیرمسلم لیکل

سوال: یوصاحب یوې کونډې ښځې ته مشوره ورکړې وه چې که هغه خپل ځان غیرمسلمه ولیکي، نوزکات به ترې نه کټ کیږي، ایاداسې کولوسره به په ایمان باندې اثرنه پریوځي؟

جواب: دیوکس خپل ځان غیرمسلم لیکل کفردی[۴] اودزکات نه ځان بچ کولوله پاره داسې

---

[۱] ..﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ ۖ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنتُمْ تَكْنِزُونَ ۝﴾، (التوبه: ۳۵،۳۴).

[۲] واما صفتها فهى فريضة محكمة يكفر جاحدها و يقتل مانعها هٰكذا فى محيط السرخسى و تجب على الفور عند تمام الحول حتى يأثم بتأخير من غير عذر و فى رواية الرازى على التراخى حتى يأثم عند الموت والاوّل اصح كذا فى التهذيب(عالمگیری ج:۱ ص:۱۷۰،کتاب الزکاة)

[۳] فالدليل على فرضيتها الكتاب والسنة والاجماع والمعقول......الخ (بدائع ج:۲ ص :۲) وعن ابن عمر رضى الله عنهماقال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :بنى الاسلام على خمس شهادة ان لااله الّا الله وان محمداً عبده ورسوله واقام الصلوٰة،وايتاء الزكاة والحج وصوم رمضان متفق عليه (مشكوٰة ص:۱۲) عن ابى هريرة رضى الله عنه قال:لما توفى رسول الله صلى الله عليه وسلم واستخلف ابوبكر بعده وكفرمن كفر من العرب قال عمر بن الخطاب لابى بكر:كيف تقاتل الناس وقد قال رسول الله :امرت ان اقاتل الناس حتى يقولوا لااله الّا الله فمن قال لا اله الّا الله عصم منى ماله ونفسه الّا بحقه وحسابه على الله فقال ابو بكر : لأقاتلنّ من فرّق بين الصلوٰة و الزكاة فان الزكاة حق المال والله لو منعونى عناقًا كانوا يؤدونها الى رسول الله صلى الله عليه وسلم لقاتلتهم عليٰ منعها،قال عمر: والله ما هو الاّ رأيت ان الله شرح صدر ابى بكر للقتال فعرفت انه الحق متفق عليه (مشكوٰه ص ۱۵۷ كتاب الزكاة الفصل الثالث)

[۴] مسلم قال :انا ملحد،يكفر، ولو قال :ما علمت انه كفر لا يعذر بهذا(عالمگیری ج:۲ ص ۲۷۹) ايضاً الاقرار بالكتابة كالاقرار باللسان (شرح المجلة ص: ۹۰۰،الكتاب كالخطاب،ايضاً ص:۴۹،المادة ۶۹)_

کول دوه چنده کفردی اوچاته د کفرمشوره ورکول هم کفردی.[۱] کوم کس چې کونډې ته دځان دغیرمسلم لیکلومشوره ورکړه. هغه ته خپل ایمان اوخپله نکاح تازه کول پکاردي اوکه کونډې دهغه په مشوره باندې عمل کړی وي، نوهغې ته هم له سرنه دایمان تجدیدکول پکاردي.[۲]

دې سره حکومت ته هم په خپل نظام زکات باندې نظرثاني (بیا غور) کول پکاردي چې دخلکو د مرتد کیدوسبب جوړیږي اوددې اسان صورت دادی چې حکومت دمسلمانانودمال نه ځومره مقدارد (زکات) په نوم سره وصولوي. یعنی دوه نیم فیصده. همدغه مال دې د غیرمسلم دمال نه او د رفاهي ټیکس (ماصول) په نامې سره نه وصولوي. په دې صورت کې به چاته هم د زکات نه تښتیدو لاره نه پیداکیږي اوپه غیرمسلم باندې رفاهي ټیکس (ماصول) لګول څه ظلم زیاتی نه دی. ځکه چې د حکومت درفاهي کارونونه په استفاده کولوکې غیرمسلمه هم برابر شریک دي اودا فنډ دغیر مسلمه معذورانو. مدداواعانت او خبرګیري باندې خرچ کیږي.

د ښځوله پاره دسرواوسپینوزرواستعمالول جائزدي

سوال: تیرو ورځوکې مې یوې ماهنامه کی چې دهغې نوم (حکایت) و یومضمون ولوست.کوم چې پروفیسررفیع الله شهاب لیکلی و. هغه مضمون کی پروفیسرصاحب دابوداود دیو څو احادیثو حوالې سره دسروزرودکالیواستعمال ښځې باندې هم حرام ګرځولي دي. د احادیثو حوالې ستاسو خدمت کی وړاندې کوم:

۱: حضرت اسماء رضی الله عنها بنت یزیدروایت کړی دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې کومې ښځې په خپلې غاړې کې دسرو زرو غاړکۍ واچوله، نودقیامت په ورځ به هغې ته هغه شان داور غړکۍ واچول شي اوکومه ښځه چې په خپلوغوږونوکې دسرو والۍ (لبنتی) واچوي، دقیامت په ورځ به دهغې په شان اوردهغوی په غوږونوکې واچول شي.

۲: دحضرت حذیفه رضی الله عنه دخورنه روایت دی چې حضور ﷺ وفرمایل چې اې ښځو! تاسو د سپینو زرو ګڼه ولې نه اچوئ، ځکه چې تاسو کې کومه ښځه دسروزرو ګڼه اچوي اوهغه خلکوته ښيي، نود قیامت په ورځ به دهغې ګڼې په ذریعه باندې هغې ته عذاب ورکول کیږي.(سنن ابوداؤدجلدنمبر۲ صفحه نمبر ۴۱۰ مصری ایدیشن)

۱] اذا لقن الرجل رجلاً کلمة الکفر فانه یصیر کافراً وان کان وجه اللعب،وکذا اذا أمر رجل امرأة االغیر ان ترتد و تبین من زوجها یصیر هو کافراً (عالمگیری ج:۲ ص ۲۷۶،۲۷۵،الباب التاسع فی احکام المرتدین)۔

۲] ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح ....وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح (درمختار ج:۴ ص:۲۴۶،باب المرتد،عالمگیری ج:۲ ص:۲۸۳،کتاب السیر)۔

مولاناصاحب دپورته بیان شویو حدیثونونه، خود پروفیسر صاحب تحقیق صحیح ثابت شو اوزموږ دعالمانوفیصله له دې نه بالکل خلاف ده، دصحیحو احادیثونه فیصله کولوسره دمسئلې وضاحت وکړئ

جواب: ابوداؤدج۲ ص ۲۲۵ (مطبوعه ایچ ایم سعید کراچی) په حاشیه کې دي: **هذاالحدیث ومابعده وکل ماشاکله منسوخ، وثبت اباحته، للنساء بالاحادیث الصریحة الصحیحة وعلیه انعقدالاجماع، قال الشیخ ابن حجر: النهی عن خاتم الذهب اوالتختم به مختص بالرجال دون النساء، فقد انعقد الاجماع علی اباحته للنساء، والله تعالی اعلم وعلمه احکم واتم.**

ترجمه داحدیث اوددې نه وروسته حدیثونه اوددې موضوع نوراحادیث منسوخ دي اود ښځو له پاره دسروزرواستعمالول دصحیحو احادیثو نه ثابت دي اودې باندې دامت اجماع شوې ده. شیخ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې: دسروزروګوته اودهغې اغوستل یوازې دسړیوله پاره منع دی. د ښځو له پاره نه، همدې باندې اجماع شوې ده،چې دسرو زرو استعمال دښځوله پاره جائزدی

د ابوداؤدپه شرح بذل المجهود (ج ۵ ص ۸۷ مطبوعه کتب خانه یحیوی سهارنپور) کې دي:

قال ابن رسلان هذاالحدیث الذی وردفیه الوعیدعلی تحلی النسابالذهب یحتمل وجوهاً من التاویل: احدهاانه منسوخ کماتقدم من ابن عبدالبر، والثانی انه فی حق من تزینت به وتبرجت واظهرته والثالث ان هذافی حق من(لا) یؤدی زکوٰته دون من اداها، الرابع انه انمامنع منه فی حدیث الا سورة والفتخات، لماراٰی من غلظه فانه من مظنة الفخروالخیلاء.

ترجمه: ابن رسلان رحمه الله وايي داحدیث کوم کې ښځوته دسروزروپه ګېڼه باندې وعیدراغلی دی، هغو کې دیوځوتاویلونواحتمال دی: یوداچې دامنسوخ شوی دی،څنګه چې دامام ابن عبدالبرپه حواله باندې تیرشوي دي،دويم داچې وعید دهغې ښځوپه حق کې دی کومې چې دخپل ښائست عام نمائش کوي،دريم داچې دادهغې ښځې په حق کې دی کومه چې ددې زکات نه ورکوي، دهغوی باره کې نه کومې چې زکات ورکوي، څلورم داچې یوحدیث کې دکرو اوپازیبونو منع راغلې ده،ځکه چې حضور ﷺ ته معلومه وه چې داغټ غټ او پیړ پیړکالي دکبراوفخرذریعه کیدای شي

ددې دواړوحوالونه معلومه شوه چې دښځوله پاره دسرو زرو دګېڼې دمنع حدیث یاخو منسوخ شوی دی اویا مؤول دی، او دا هم معلومه شوه چې دښځوله پاره دسروزروداستعمال اجازت د صحیحو احادیثونه ثابت دي،اودا چې دې باندې دامت اجماع ده،او د اجازت دوه حدیثونه لیکم:

لومړی: عن علي رضي الله عنه ان لنبی الله ﷺ أخذ حریرا فجعله فی یمینه وأخذ ذهبا فجعله فی شماله قال ان هذین حرام علی ذکور أمتی وفی روایة ابن ماجة حل لأناثهم.(ابوداؤد ج۲ ص ۲۲۵ نسائی ج ۲ ص ۲۸۴ ابن ماجه ص ۲۵۷)

ترجمه: حضرت علي رضي الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ په ښي لاس کې وريښم اوګس (چپ) لاس کې سره زر واخستل، بيايې وفرمايل چې دا دواړه شيان زمادامت په سړيوباندې حرام دي،اودابن ماجه روايت دی چې زمادامت ښځوله پاره حلال دي.

دويم: عن أبي موسی الأشعری رضي الله عنه أن رسول الله ﷺ قال حرم لباس الحریر والذهب علی ذکور أمتی وأحل أناثهم.(ترمذی ص ۲۰۵. نسائی ۲۸۴ ج۲)

وقال الترمذی، وفی الباب عن عمر، وعلی، وعقبه بن عامر، وأم هانی، وانس،وحذیفة، وعبدالله بن عمرو، وعمران بن حصین، وعبدالله بن الزبیر وجابر،وابی ریحانة،وابن عمر،والبراء، هذا حدیث حسن صحیح.

ترجمه: دحضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: وريښميني جامې اوسره زر زما دامت په سړيوباندې حرام دي اودهغوی دښځوله پاره حلال دي، امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې داحديث صحيح حسن دی اودې باب کې ددې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم احاديث نقل شوي دي: حضرت عمر،حضرت علي، حضرت عقبه بن عامر،حضرت ام هاني،حضرت انس. حضرت عبدالله بن زبير،حضرت جابر،حضرت ابوريحانه،حضرت ابن عمر، اوحضرت براء رضی الله عنهم.

❖ زکات په چا باندې فرض دی؟ ❖

بالغ باندې زکات

سوال: زکات دځومره عمرپه خلکوباندې فرض دی؟

جواب: زکات په بالغ باندې واجب دی[1]،اودبلوغ خاصې نښې مشهورې دي،که هلک يا انجيلۍ د پنځلسوکالوشي،خودبلوغ څه نښه ښکاره نه شي، نودپنځلسوکالوعمرپوره

[1] وشرط فتراضها عقل و بلوغ (قوله عقل و بلوغ)فلا تجب علیٰ مجنون و صبی لانها عبادة محضة و لیسا مخاطبین بها ....الخ (درمختار مع الشامی ج:۲ ص ۲۵۸ کتاب الزکاة)۔

کیدو باندې به هغوی بالغ ګڼل کیږي.[1]

د نابالغ ماشوم په مال باندې زکات

سوال: حکومت د بینک له اکاونټونونه دزکات وصولولو حکم ورکړی دی، نودا وفرمایئ چې دوړوماشومانودپه نامه دهغوی دمستقبل له پاره چې کوم رقم (پیسې) په بینک کې جمع کیږي، یاپه مختلفوتقریباتوکې هغوی ته ورکول کیږي اوهغه هم په بینک کې جمع کیږي، نوپه هغو باندې زکات شته او که نه؟

جواب: دنابالغه ماشوم په مال باندې زکات نشته، حکومت که دنابالغه ماشوم دمال نه زکات کټ کوي (وصولوي) نودا صحیح نه ده.[2]

د نابالغه په ملکیت باندې زکات نشته

سوال: زه دخپلې لورله پاره څه پیسې جمع کوم، چې دهغې ملکیت ګڼل کیږي، خوهغه تراوسه پورې نابالغه ده، زکات اداکول په ما باندې فرض دي اوکه نه؟

جواب: کوم رقم (پیسې) چې دنابالغې ماشومې ملکیت وي، په هغې باندې دهغې تر بالغیدو پورې زکات نه شته ،دبالغیدونه وروسته چې کله کال تیرشي، نوهلته به په هغې باندې زکات فرض شي.[3]

که سره زرې د نابالغه ماشومانو په نامه کړل نو زکات به په چا باندې وي؟

سوال: زمادرې لونه دي، عمرونه یې ۱۲کاله، ۱۰کاله او۸کاله دي، مادهغوی ذودونوله پاره شل تولې سره زراخیستې دي، ددې نه پرته نورشیان هم دي مثلاً: لوښي، جامې اوداسې نور... هم په مزه مزه راجمع کوم ایاپه دې شیانوکې به هم زکات واجب وي؟ دماشومانوپه نامه څه پیسې جمع نه دي.

جواب: که تادسرو زرومالکانې خپلې لونه جوړې کړې وي، نودهغوی دځوانیدوپورې په

۱] و بلوغ الغلام بالاحتلام وبالاحبال و الانزال و الأصل هو الانزال ....فان لم يوجد فيهما شئ فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى.......الخ (درمختار مع الشامي ج:۶ ص ۱۵۳، كتاب الحجر)

۲] و منها العقل والبلوغ فليس الزكاة على صبي و مجنون ....الخ (هندية ۱:ص ۱۷۲ كتاب الزكاة،الباب الاول) وايضاً فى الدر المختار مع رد المحتار ج:۲ ص ۲۵۸ كتاب الزكاة۔

۳] ايضاً۔

هغوی باندې زکات فرض نه دی.[1] له خوانيدو وروسته چې څوک په هغوی کې د نصاب خاونده وي. نوپه هغې باندې به زکات فرض وي[2] او که ماشومانې د مالکانې نه وي جوړې کړې. ملکيت هم ستادی .نوپه دې سروزروباندې زکات فرض دی.لوښي. کپړې اوداسې نور داستعمال کوم شيان چې تادهغوی له پاره کيښودي دي په هغو کې زکات نشته.[3]

يتيم نابالغه ماشوم باندې زکات

سوال: ماشومان عمر او زينب چې بالغ نه دي. اوس د زيد د مرګ نه وروسته دهغوی ولي مثلاً بکر ته شريعت دا اجازه ورکوي چې د زينب اوعمر له مال نه زکات اداکړي. ياڅه بل څه صدقه وغيره جائزده اوکه نه؟

جواب: دنابالغه ماشوم په مال باندې زکات واجب نه دی[4]،خوصدقه فطرديتيم نابالغه له طرف نه اداکول هم ضروري دي، کله چې هغه نابالغه صاحب نصاب وي[5].له دې نه پرته نوره څه صدقه ورکول ديتيم دمال نه جائزنه دي.

د يتيم په مال باندې زکات نشته

سوال: ايا د يتيمانو په مال باندې هم زکات فرض دی؟ زما والد صاحب د وفات نه مخکې زموږه د دريو خويندو د واده له پاره څه پيسې زموږ په نوم باندې ايښې وې. د نن سبا د ګراني له وجې هغه پيسې ډيرې کمې وې. موږه غريبان خلک يو، موږ ته د ژوند ضروريات هم پوره ميسر نه دي. بيا هم د الله تعالی شکر دی چې په عزت سره ژوند تيروو، د قرآن او سنتو په رڼا کې ايا په هغه پيسو باندې زکات فرض دی؟

جواب: کوم ماشومان چې نابالغه دي دهغوی په ذمه زکات نشته او کوم چې بالغ شوي دي، په هغو باندې زکات فرض دی.[6]

---

[1] و منها العقل والبلوغ فليس الزكاة على صبي و مجنون ...الخ (هندية ١:ص ١٧٢) و في الفتاوى الشامية (ج:٢ ص :٢٥٨) كتاب الزكاة:(قوله عقل و بلوغ)فلا تجب علىٰ مجنون و صبي لانها عبادة محضة و ليسا مخاطبين بها)۔

[2] و سببه أى سبب آفتراضها ملك نصاب حولي...الخ (درمختار مع الشامي ج:٢ ص ٢٥٩،كتاب الزكاة)

[3] ولا في ثياب البدن وأثاث المنزل ودور السكنى ونحوها ....اذا لم تنو للتجارة (الدر المختار ج:٢ ص ٢٦٤) قوله ونحوها أى كثياب البدن الغير المحتاج اليها(رد المحتار ج:٢ ص ٢٦٥)۔

[4] ايضا تيره شوی حاشيه (ومنها العقل والبلوغ...الخ) اوګورئ!)۔

[5] حتى تجب على الصبي والمجنون اذا كان مال ويخرجها الولى من مالهماالخ(شامى،باب صدقة الفطر ج:٢ ص٣٥٩)

[6] و منها العقل والبلوغ فليس الزكاة على صبي و مجنون ....الخ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

لیوني باندې زکات نه شته

سوال: په لیوني کس باندې لمونځ فرض نه دی، که لیونی د ډیر مال دولت خاوندوي، نوایا دهغه له مال نه زکات کټ کول (اخیستل) جائز دي؟

جواب: دلیوني په مال باندې زکات نشته.[1]

دګینې (زیوراتو) زکات

سوال: هرکله چې سړي پیسې ګټي، نودښځې دګینې زکات به خاوند ورکوي او که ښځه به یې دخپل جیب نه ورکړي؟ اوکه خاوندزکات ادانه کړي او ښځه یې غوښتنه هم کوي اودښځې سره روپۍ هم نه وي اوزکات ورنکړل شي، نوګناهګاربه څوک وي؟

جواب: ګېڼه(زیورات) که دښځې ملکیت وي، نوزکات دهغې په ذمه واجب دی اوپه زکات نه ورکولوباندې به هم هغه ګناهګاره وي، دخاوندپه ذمه ددې اداکول لازم نه دي[2] ښځه خودې یاخپل جیب نه ادا کړي، یادې دګینې یوه برخه په زکات کې ورکړي.[3]

ښځه باندې دګینې (زیوراتو) زکات

سوال: تاسوپه خپل کالم کې یوصاحب ته دهغوی دښځې په ګینې باندې دزکات ادا کول دهغه دښځې ذمه واري ښودلې ده، عرض دادی چې ښځه خوپه خاوندباندې انحصارکوي،

...بقیه د تیرمخ]... (هندية ۱:ص ۱۷۲) و فی الفتاوی الشامية (ج:۲ ص :۲۵۸) كتاب الزكاة:(قوله عقل و بلوغ) فلا تجب على مجنون و صبى لانها عبادة محضة و ليسا مخاطبين بها)۔

[1] و منها العقل والبلوغ فليس الزكاة على صبى و مجنون ...الخ (هندية ۱:ص ۱۷۲) و فی الفتاوی الشامية (ج:۲ ص :۲۵۸) كتاب الزكاة:(قوله عقل و بلوغ)فلا تجب علىٰ مجنون و صبى لانها عبادة محضة و ليسا مخاطبين بها)۔

[2] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :ما من صاحب ذهب ولا فضة لايودى منها حقها الّا اذا كان يوم القيامة صفحت له صفائح من نار فاحمى عليها فى نار جهنم فيكويٰ بها جنبه وجبينه وظهره....الخ (صحيح مسلم ج:۱ ص:۳۱۸،كتاب الزكاة،باب اثم مانع زكاة) أيضاً:لم يختلفوا أن الحلى اذا كان فى ملک الرجل تجب فيه الزكاة فكذا لک اذا كان فى المرأة كالدراهم والدنانير وايضاً لايختلف حكم الرجل والمرأة فيما يلزمها من الزكاة فوجب ان لايختلف فى الحلي(احكام القران للجصاص ج:۳ ص۱۰۸،۱۰۷،باب الزكاة الحلى،طبع سهيل اكيدمي)۔

[3] و لوكان له ابريق فضة، وزنه مائتان و قيمته لصيانه ثلث مائة ان ادى من العين يؤدى ربع عشره،وهو خمسة قيمتها سبعة و نصف،وان ادى خمسة قيمتها خمسة جاز ولو ادى من خلاف جنسه يعتبر القيمة اجماعاً (فتاويٰ عالمگيرى ج:۱ ص ۱۷۹،كتاب الزكاة، الفصل الاول فى زكاة الذهب والفضة طبع رشيديه)۔

دهغې تړوله ذمه واري په خاوندباندې وي، دښځې کفالت سړی کوي، نو ايا په دې ګينه باندې کومه چې ښځې ته په جهيزيا په تحفه کې ملاوشوي وي دهغې دزکات ذمه واري په خاوند باندې نه ده؟ اوکه نه ده، نوبيا ښځې ته څه کول پکاردي چې ښځه زکات اداکړي؟

جواب: زکات چې په کومه ګينه باندې فرض وي هغه که دښځې ملکيت وي، نوښکاره ده چې زکات په مالک باندې فرض کيږي اودزکات د اداکولوذمه واري هم په مالک باندې وي، خاوندکه دهغې په وينا باندې زکات اداکړي، نوادا به شي،که نه په ښځې باندې لازم ده چې هغه په زکات کې دهغې ګينې نه به څه برخه په زکات کې ورکوي.[۱]

د ښځې زکات د خاوند په ذمه نه دی

سوال: دکم امدن لرونکي کس ښځه دواده په موقعه باندې لس تولې سره زرد ګينې په په شکل کې راوړي، ايا په خاوندباندې ضروري ده چې په هرحال کې دې زکات اداکړي؟

جواب: دا ګينه دبيګم صاحبې ملکيت دی، له دې وجې دګينې زکات دبيګم صاحبې په ذمه دی، دغريب خاوندپه ذمه نه دی، ښځې ته پکاردي چې ددې ګينې بقدر واجب برخه په زکات کې ورکړي او خپل زکات دخاوندپه ذمه نه کړي.[۲]

د ښځې د ګينې (زيوراتو) د زکات مطالبه به له چا نه کيږي

سوال: که دخاوندپه ذاتي ملکيت کې څه داسې ګينه نه وي چې په هغې باندې زکات واجبيږي خو چې کله دهغۀ ښځه راواده شي اود هغه کورته راشي. نودومره ګينه ځان سره راوړي چې په هغې باندې زکات واجب الادا وي اوښځې ته دخاونددې حالت معلوم هم وي چې قرضداردی اودده تنخواه هم په هرحال دومره نه ده چې هغه ترې ورکړل شي، نو ايا په خاوندباندې پرته دښځې له طرف نه زکات اوقرباني واجبيږي اوالله تعالی به دخاوندګريوان نيسي؟ اوايا ښځه صاحبه به داسې ويلوسره بري الذمه شي چې خاوند دهغې مالک دی دهغه نه دې سوال جواب وکړل شي؟

جواب: دښځې ملکيت دی له دې وجې دقرباني اوزکات مطالبه به هم دهغې نه کيږي اوکه هغه يې نه اداکوي، نوګناهګاره به هم هغه وي دخاوندنه به ددې مطالبه نه کيږي.[۳]

۱] ايضاً۔

۲] تيرى شوى حاشيه (قال رسول الله صلى الله عليه وسلم مامن صاحب ذهب....الخ او وروستى حاشيه (ولو كان له ابريق فضة...الخ) اوګورئ)۔

۳] ايضاً۔

ايا د خاوند له طرف د ورکړل شوې ګڼې زکات د ښځې په ذمه نه شته

سوال: زما د خاوند د وفات تقريبا څلور کاله تيرشوي دي،زه د خپل خسر په کور کې اوسيږم. زما دوه زامن دي يو هلک او يو اينجلي. اوس د دې پوښتنه کوم چې واده باندې د خسرګنی له طرف نه تقريبا شپږ تولې سره زر ماته واچول شو او وروسته ما پخپله هم څه سره زر جوړ کړل. تقريبا درې تولې. نو داسې اته نهه تولې ماسره موجود دي. اوس مسئله داده چې زه په سکول کې نوکري کوم. زما تنخوا زر روپۍ ده. پنځه سوه روپۍ ماته خسر راکوي اوس د خوراک نه پرته د خپلو بچيو ټوله ذمه داري په دې پيسو سره پوره کوم. په دې کې د سکول فيس. کپړې وغيره ناروغي. غرض يوازې د خوراک نه پرته ټوله ذمه داري زما ده. اوس ماته دا ووايه چې ايا ما باندې زکات فرض دی؟ هسې خو ما کله هم دګڼې زکات نه دی ويستلی. خوهرڅه چې جوړيږي زه غريبانو ته يې ورکوم.

جواب: دهغې ګڼې په باره کې دا پوښتنه کوم چې هغه ستاسو ملکيت ده اوکه د مرحوم خاوند ملکيت و؟ عام طور باندې په کور کې چې کومه ګڼه وي هغه د خاوند په ملکيت کې ګڼل کيږي، که چيرته دا ستا د خاوند ملکيت و، نود مرحوم له وفات نه وروسته په هغې کې اتمه برخه ستاسو ده. [١] شپږمه د مرحوم د مور اود پلار. [٢] او پاتې د هلک او اينجلی. (د ټولو کالو به ٧٢برخې شي، ٩ د کونډې، ١٢، ١٢ د مور او پلار، ٢٢ د هلک،١٣د اينجلی) ستا په ذمه باندې دخپلې برخې زکات واجب دی، (چې کله دهغې ګڼې نه پرته نورې پيسې هم تاسره وي)[٣] ماشومان چې ترڅو پورې نابالغه وي، دهغوی په ذمه باندې زکات نشته [٤] او که چيرته دا ټول په ټوله ګڼه ستا په ملکيت کې وي، نودهغې زکات ستا په ذمه باندې دی. بلکې د تيرشويو کلنو هم. د زکات په نيت سره کومې روپۍ ورکړل شي په هغو سره زکات ادا کيږي. پرته د زکات د نيت نه صدقه کولو سره زکات نه ادا کيږي. [٥]

د ګڼې زکات به په چا باندې وي

سوال: ما يو څو مياشتې وړاندې دخپل زوی د واده حق مهر ليکلو سره ما اينجلی کوروالا

---

[١] قال تعالىٰ: ''فان كان لكم ولد فلهنّ الثمن'' النساء ١٢)

[٢] قال تعالىٰ: '' ولابويه لكل واحد منها السدس مما ترک ان كان له ولد''(النساء : ١١)

[٣] واما شروط وجوبها منه كون المال نصاباً فلا تجب فى اقل منه (عالمگيرى ج:١ ص ١٧٢، كتاب الزكاة)

[٤] فليس الزكاة على صبى ومجنون (عالمگيرى ج:١ ص ١٧٢ كتاب الزكاة الباب الاول)

[٥] واما شرط ادائها فنية مقارنة للأداء ....فاذا نوى ان يودى الزكاة ولم يعزل شيئاً ....ولم تحضره النية لم يجز عن الزكاة (عالمگيرى ج:١ ص ١٧٠ كتاب الزكاة الباب الاول طبع رشيديه)

وو ته وویل چې حق مهر به شرعي وي. خوعین موقع باندې د اینجلۍ کور والاوو وویل چې سره زر د اینجلۍ په نوم باندې ولیکئ. ما انکار وکړ. خوزما زوی وویل چې ویې لیکه. موږه کوم سره زر واپس اخلو. ما اجازه ورکړه. اوس صورت حال دادی چې اینجلۍ د سرو زرو مالکه جوړېدوسره صاحبِ نصاب شوې ده. حالانکې هغه د دینداره کورنۍ نه ده. چیرته ملازمت نه کوي اونه دهغې څه جایداد شته.اوس د زکات ادائیگي به څوک کوي؟ او څنگه به یې کوي؟

جواب: اینجلۍ صاحب نصاب ده. نو د اینجلۍ د مال زکات هم د اینجلۍ په ذمه دی.[1] که هغه خپلې گینې خرڅولوسره زکات ورکوي اوکه د خپل خاوند نه اخیستلو سره زکات اداکوي.[2] والله اعلم!

د خاوند اود ښځې د زکات حساب بېل بېل دی

سوال: په واده کې چې جینکو ته کومه گینه ورکول کیږي هغه د هغوی ملکیت وي. خوهغوی زکات دخپل خاوند د پیسو نه ادا کوي. نو ایا په دې ص[illegible]ت کې که چیرته د خاوندانو سره هم څه پیسې وي. خود نصاب نه هغه کمې وي. نو [illegible] هغه پیسې د ښځو د گینو په مالیت کې شاملولو سره زکات ورکول کیږي اوکه د دواړو حساب به بېل بېل وي؟

جواب: د دواړو به بېل بېل حساب وي.[3]

خاوند د ښځې د گینې (زیوراتو) زکات ورکولی شي

سوال: مادواده په وخت کې خپلې ښځې ته په حق المهرکې ۱۳ تولې گینه ورکړې وه ایا دا جائزدې او۳ تولې گینه هغې له ځان سره دپلاردکورنه راوړې وه، ټول سره زر ۱۲تولې شول،

---

[1] و اما شروط وجوبها......الخ منها العقل والبلوغ و منها كون المال نصابًا فلاتجب فى اقل منه.......الخ (عالمگیری ج:۱ ص :۱۷۳) أيضاً:لم يختلفوا أن الحلى اذا كان فى ملك الرجل تجب فيه الزكاة فكذا لك اذا كان فى ملك المرأة كالدرهم والدنانير وايضاً لايختلف حكم الرجل والمرأة فيما يلزمها من الزكاة فوجب ان لايختلفا فى الحلي(احكام القران للجصاص ج:۳ ص۱۰۸،۱۰۷،باب الزكاة الحلى،طبع سهيل اكيدمى)

[2] و لوكان له ابريق فضة، وزنه مائتان و قيمته لصيانه ثلث مائة ان ادى من العين يؤدى ربع عشره،وهو خمسة قيمتها سبعة و نصف،وان ادى خمسة قيمتها خمسة جاز ولو ادى من خلاف جنسه يعتبر القيمة اجماعا (فتاويٰ عالمگيرى ج:۱ ص ۱۷۹،كتاب الزكاة، الباب الثالث، ايضاً: ردالمحتار ج۲ ص۲۷۵، كتاب الزكاة)

[3] و لوكان له ابريق فضة، وزنه مائتان و قيمته لصيانه ثلث مائة ان ادى من العين يؤدى ربع عشره،وهو خمسة قيمتها سبعة و نصف،وان ادى خمسة قيمتها خمسة جاز ولو ادى من خلاف جنسه يعتبر القيمة اجماعا (فتاويٰ عالمگيرى ج:۱ ص ۱۷۹،كتاب الزكاة، الباب الثالث، ايضاً: ردالمحتار ج۲ ص۲۷۵، كتاب الزكاة)

اوس که زمانځه په ۱۲ تولو باندې زکات نه شي ورکولی، نو ایا دهغې دازکات زه دخپل خرچ نه ورکولی شم؟ او یاده دې وي دا خبره چې حق المهرهم ما اداکړی و.

جواب: سره زر دښځې ملکیت دي، له دې وجې دهغو زکات، خوهم دهغې په ذمه دی[۱]،خوکه ته دهغې په وینا باندې دهغې له طرف نه زکات اداکړې، نوادا به شي[۲]

دګینې (زیوراتو) زکات به په چا باندې وي

سوال: ماسره اته تولې سره زردي چې تیرکال راته په واده کې راکړل شوي و اوهغه زمادښځې ملکیت دي ددې سره سره په ماباندې قرضه هم ده، په دې صورت کې ددې ګینې زکات به په ماباندې وي یازماپه ښځه باندې؟ ۲: په ګینه باندې زکات هرکله چې دامدني په ذریعه کې وي. نودقرض رقم (پیسې) ترې وویستل شي اوزکات هم ترې ورکړل شي. یا یوازې دګینې په رقم (پیسو) باندې دې ورکړل شي؟

جواب: هرکله چې ګینه ستادښځې ملکیت ده، نوزکات هم دهغې په ذمه دی[۳] ۲:ګینه ستا دښځې ده اوقرض ستاپه ذمه دی، له دې وجې قرض ورکولوپه وخت کې به ترې قرض نه ویستل کیږي. بلکې دپوره ګینه زکات به اداکوي.خو که ستادښځې په ذمه قرض وي، نوقرض به ترې ویستل ګیږي[۴]

دمرحوم خاوند زکات په ښځه باندې فرض نه دی

سوال: که دچا خاوندوفات شوی وي اودښځې خاوندپه خپل ژوندباندې کله هم زکات نه وي اداکړی،خو خیرات برابرورکوي. نوایااوس دهغه په ښځه باندې فرض دي چې هغه دتیرو شویو ورځو زکات ورکړي؟

جواب: دمرحوم خاوندزکات دښځې په ذمه فرض نه دی، دهغې دمرحوم خاوندپه ذمه دی.

۱] ایضاً۔

۲] وشرط صحة ادائها نية مقارنة له: اى للأداء،ولو كانت المقارنة حكماً (درمختار) واما المقارنة للدفع الى الوكيل فهي من الحكمية (ردالمحتار ج:۲ ص.۲۶۸،كتاب الزكاة مطلب فى زكاة ثمن المبيع وفاء)۔

۳] ایضاً د تیری صفحی حاشیه (واما شروط وجوبها....الخ) اوګورئ)۔

٤] وان كان ماله اكثر من دينه،زكى الفاضل اذا بلغ نصابًا لفراغه عن الحاجة الاصلية،والمراد به دين له مطالب من جهة العباد (هداية مع فتح القدير ج:۱ ص۴۸۶ كتاب الزكاة طبع دار صادر) وفى الدر المختار (ج:۲ ص:۲۶۳) كتاب الزكاة :فلا زكاة على مكاتب..........و مديون للعبد بقدر دينه فيزكى الزائد ان بلغ نصابًا(قوله ومديون للعبد) الاولىٰ : ومديون بدين يطالبه به العبد يشمل دين الزكاة والخراج لانه لله تعالى مع أنه يمنع لأن له مطالباً من جهة العباد)۔

هماغه به ګناه ګاروي[۱] او دهغه له طرف نه به يې وارث اداکوي.[۲]

سوال: اوايا خپل زکات به هم ترمرګه پورې ورکوي هرکله چې دهغې دامدني څه ذريعه نشته؟

جواب: که دهغې په خپل ملکيت کې دوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زر) وي. نوپه هغې باندې زکات فرض دی[۳] يعني دهغې دخپلې برخې ماليت دومره وي (که دمرحوم يتيمان بچي وي، نودهغوی په مال باندې زکات نشته.[۴]

دګينې (زيوراتو) زکات اوپه هغې باندې د وراثت حق

سوال: دګينې زکات به څوک ورکوي؟ زمابنځه چې په جهيزکې يې دځان سره دلسوتولو سرو زرو ګينه راوړې وه، چې تراوسه پورې يې هغه استعمالوي، زمادواده پنځه کاله شوي دي کله چې زما کورته راغلې ده. نويوه پيسه زکات يې هم نه دی ورکړی اوګينه ضروري استعمالوي. خوزه دهغې حقدارنه يم اونه په هغې باندې خپل حق ګڼم، له مرګ نه وروسته هغې داحق خپل زوی ته ورکړی دی، چې هغه داځنګه وغواړي استعمال دې کړي. زمادزوی عمر دې وخت کې څلورکاله دی، تاسو ماته په تفصيل سره ووايئ چې ددې ګينې زکات چاته اداکول پکاردي؟

جواب: ددې ګينې زکات ستادبنځې په ذمه دی. هغې ته ووايه چې که هغې سره پيسې نه وي. نوګينه دې خرڅه کړي اودپنځوکالوزکات دې اداکړي[۵] اوله مرګ نه وروسته دزوی حقدار جوړولو شرط هم شرعا غلط دی.[۶]

---

[۱] واذا لم يؤذ الى اخر عمره يتضيق عليه الوجوب، حتى لو لم يؤد حتى مات يأثم. (ردالمحتار/ج۲/ص۲۷۱)_

[۲] فى الدرالمختار: ولا تؤخذ من تركته بغيرِ وصية لفقد شرطها وهو النية وان اوصى بها اعتبر من الثلث الا ان يجيز الورثة. وفى الشرح: اى اذا اوصى بها وزادت على الثلث يؤخذ الزائد الا ان يجيز الورثة. (الدرالمختار/مع الرد المحتار/ج۲/ص۲۹۴)_

[۳] و اما شروط وجوبها ......الخ منها العقل والبلوغ و منها كون المال نصابًا فلاتجب فى اقل منه.......الخ (عالمگيرى ج:۱ ص :۱۷۳) أيضاً: لم يختلفوا أن الحلى اذا كان فى ملك الرجل تجب فيه الزكاة فكذا لک اذا كان فى ملك المرأة كالدراهم والدنانير وايضاً لايختلف حكم الرجل والمرأة فيما يلزمها من الزكاة فوجب ان لايختلفا فى الحلي(احكام القران للجصاص ج:۳ ص۱۰۸،۱۰۷.باب الزكاة الحلى.طبع سهيل اكيډمي)_

[۴] (ځکه عقل وبلوغ) فلا تجب على مجنون وصبى لانهما عبادة محضة. (شامي/ج۲/ص۲۵۸ کتاب الزکاة)

[۵] تيره شوی حاشيه (و اما شروط وجوبها ......الخ) او (و لوكان له ابريق فضة....الخ) وګورئ!)_

[۶] عن ابى امامة رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبته عام حجة الوداع: ان الله قد اعطى كل ذى حق حقه فلا وصية لوارث: رواه ابوداؤد. (مشكوٰة/ص۲۶۵)وعن انس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (مشكوٰة/ج۱/ص۲۶۶/باب الوصايا)_

دهغې دمرګ په وخت کې چې څومره وارثان وي برخه به په دې کې دتولووي.[۱]

د لورله پاره ګینه باندې زکات

سوال: دزکات په باره کې زه زياته محتاط يم، له دې وجې فرض په باقاعدګي سره اداکوم، نو مشره! ما خلکونه زباني اوريدلي دي چې: مورکه خپله ګينه دلورله پاره کيږدي يادانيت وکړي چې زه به داسره زرخپلې لورته په جهيزکې ورکوم، نوپه هغې باندې زکات نه واجبيږي اوکله چې داکالي ياسره زرلور ته ملاوشي، نوچې هغه داپه استعمال کې راولي، نوزکات دې ورکوي؟ تاسو دا وضاحت وکړئ چې دلورله پاره کالي جوړکړل شي، نوپه هغې به زکات اداکول وي اوکه نه؟

جواب: که اينجلۍ يې دګينې مالکه جوړه کړله، نوترڅوپورې چې هغه نابالغه ده په هغې باندې زکات نشته[۲] دبالغيدونه وروسته به داينجلۍ په ذمه زکات واجب وي، هرکله چې يوازې داګينه يادې سره څه نغدې دنصاب مقدارته ورسيږي، يوازې دا نيت کولوسره چې دابه اينجلۍ ته په جهيزکې ورکول کيږي دزکات نه مستثنی ګرځيدای نه شي، ترڅوپورې چې اينجلۍ ددې مالکه جوړه نه شي اوداينجلۍ مالکه جوړولونه وروسته ددې ګينې په خپله باندې استعمالول به جائزنه وي.[۳]

د تيروشويوکلونود ګينې زکات

سوال: زما د واده نهه کاله شوي دي زمابنځې سره اوسه پورې تقريبا اتياتولې ګينه ده اوموږ تراوسه پورې په دې زکات اداکړی نه دی، ځکه چې زما امدني دومره نه ده چې څه ترې بچت شي اوزکات ادا کړای شم. زمادوه لوڼه هم دي، هغه سره زر کوم چې زمابنځې ته په جهيزکې ورکړل شوي وو. نوکه اوس زه دهغې زکات اداکول غواړم، نوځنګه يې اداکړم؟په ماباندې که

۱] تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة.......ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة، فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله. (السراجى فى الميراث/ص۳،۲)_

۲]واما شرط وجوبها.....ومنها العقل والبلوغ فليس الزكوٰة على صبى ومجنون.......الخ. (هندية/ ج۱/ ص۱۷۲/ كتاب الزكاة). ايضاً: وشرط آفتراضها عقل وبلوغ واسلام. (قوله عقل وبلوغ) فلا تجب على مجنون وصبى لانها عادة محض وليسا مخاطبين بها. (ردالمحتار على الدرالمختار/ج۲/ص۲۵۸/كتاب الزكاة مطلب فى احكام المعتوه)_

۳] كتاب الزكاة(هي) لغة الطهارة والنماء، وشرعاً تمليک) خرج الاباحة، فلواطعم يتيماً ناوياً الزكاة لا يجزيه الا اذا دفع اليه المطعوم....... (جزء مال) خرج المنفعة....... (عينه الشارع) وهو ربع عشر نصاب حولي.......(من مسلم فقير) ولو معتوها غير هاشمى ولا مولاه مع قطع المنفعة عن المملک من كل وجه. (درمختار مع تنوير الابصار/ ج۲/ص۲۵۶تا ۲۵۸/كتاب الزكاة/طبع ايچ ايم سعيد/كراچى)_

زما په ښځه باندې زکات ورکول ضروري دي . هرکله چې زما دومره امدني نه ده.

جواب: ددې اتیاوو تولو زکات ستاپه ذمه نه دی. بلکې ستاد ښځې په ذمه دی اوکه دزکات د ادا کولو پیسې ورسره نه وي، نوهغومره دګینې برخه دې ورکړل شي[1] په هرحال دنهوکالوزکات ستادښځې په ذمه دی. دهرکال حساب دې وکړي اوځومره رقم (پیسې) چې جوړیږي هغه دې ادا شي.[2]

په نصاب کې دا نفرادي ملکیت اعتباردی

سوال: په یو کورکې درې ورونه یوځای اوسیږي، په یوځای خوراک کوي. خوګټه یې بیله بیله وي. دهریوښځې سره دوه نیمې تولې سره زر وي اوچې ټول رایوځای شي، نو تقریبا اته نیمې تولې سره زرترې جوړیږي. نوایاهغوی ته ددې ګېڼې زکات اداکول پکاردي؟

جواب: که دهغوی سره څه نورمال نه وي چې په هغه باندې زکات فرض وي اوهغه دنصاب حدپورې رسیږي. نوپه هغوی باندې زکات فرض نه دی، ځکه چې دزکات نصاب کې دانفرادي ملکیت اعتباردی او دلته چاسره هم انفرادي ملکیت دنصاب په کچه نشته.[3]

د کورنۍ اجتماعي زکات

سوال: دیوې کورنۍ څو کسان ټول په روزګاردي، دهغوی په خپل ملکیت کې دومره مال نشته چې په هغه باندې زکات واجب شي، خوکه دټولومال راجمع شي، نودنصاب مطابق قابل زکات شي. نوپه دې سلسله کې څه حکم دی؟ زکات کوم حساب سره وویستل شي؟

جواب: دهرکس جداجداصاحب نصاب کیدل شرط دي، که نه زکات نه فرض کیږي.[4]

ددې له پاره چې تاسوکوم صورت لیکلی دی په هغه باندې زکات نشته،خو که عرفا ټول ملکیت دکورنۍ دمشرګڼل کیږي، داد فرد واحد ملکیت شو اودنصاب په کچه هم دی. نوپه دې باندې به زکات فرض وي،داپه دې صورت کې چې دکورنۍ مشرواقعي مالک ګڼل کیږي.

---

[1] تیره شوی حاشیه (و اما شروط وجوبها ......الخ) او (و لوکان له ابریق فضة.....الخ) وګورئ!)۔

[2] امداد الفتاوي/ج۲/ص۳۴/کتاب الزکاة والصدقات/طبع مکتبه دارالعلوم کراچي)۔

[3] الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملک نصاباً ملکاً تاماً وحال علیه الحول. (هدایة/ ج۱/ ص۱۸۵) وسببه ای سبب آفتراضها ملک نصاب حولي......تام.........الخ. (الدرالمختار مع الرد/ج۲/ ص۲۵۹). ومنها الملک التام وهو ماجتمع فیه الملک والید وأما اذا وجد الملک دون الید کالصداق قبل القبض او وجد الید دون الملک کملک المکاتب والمدیون لاتجب فیه الزکوٰة کذا فی السراج الوهاج. (عالمګیري/ج۱/ص۱۷۲/کتاب الزکوٰة)۔

[4] ایضاً)۔

مشترک کورکې په زکات کله واجب وي

سوال: زموږ په کورکې داطریقه ده چې ټول ورونه تنخواه راوړي اومورته یې ورکوي، چې دکورخرچې چلوي. هرکله چې څه کالي او زیاتې پیسې زموږسره دي. نوایازکات ورکول زموږپه ذمه دي یادمور؟

جواب: که هغه سره زر اوسپماشوې پیسې دومره وي چې په هغوی باندې تقسیم کړل شي اوټول ورونه دنصاب خاوندان کېدای شي، نوزکات واجب دی که نه، نه دی واجب.[1]

مشترک خاندان کې دښځې، لور، انګورانوزکات به څنګه ورکول کیږي

سوال: زه دکورمشریم. زمادواړه زامن په روزګارباندې دي. اوزما د انګورانو سره ۱۲،۱۲ تولې ګېڼه ده اودښځې سره مې ۵ تولې ګېڼه اوپیغلې لور سره دواده له پاره درې تولې ګېڼه ده، کومه چې مو دیوکال راهیسې اخیستي ده، دویم داچې نن سباپه مشترکه کورنۍ کې هم ګېڼه دهرې متعلقه ښځې ذاتي ملکیت شمارېږي اودیوې ښځې ګېڼه دویمه ښځه په مستقل ډول نه شي اخیستی، ان تردې پورې چې خوابښې دخپلې اینګورګېڼه خپلې لورته نه شي ورکولی، ایاپه داسې صورت کې ماته دټولې ګېڼې دمالیت مطابق زکات ورکول پکاردي یافردا فردا حساب سره.

جواب: دزکات په واجبېدوکې دهرکس انفرادي ملکیت معتبر دی،[2] اوس ستا انګورانو سره چې کومه ګېڼه ده. دامعلومول پکار دي چې دهغې مالک څوک دی؟ ستادانګورانودګېڼې ملکیت که دهغوی وي، نو زکات په هغوی باندې واجب دی اوکه دهلکانوملکیت وي، نوزکات دهغوی په ذمه واجب دی اوکه څه ګېڼه د انګورانو ملکیت وي مثلاً: کومه ګېڼه چې هغوی ته دپلارله طرف نه ورکړل شوې ده اوڅه د هلکانوله طرف نه، نوکه دهریوملکیت نصاب ته رسیږي، نوزکات پرې واجب دی،که نه، نه دی واجب. همدغه شان ستاښځې سره چې کومه ګېڼه ده اوددې نه پرته دهغې په ملکیت کې نورې روپۍ نشته، نودهغې په ذمه زکات نشته اوکه هغه ګېڼه ستاملکیت وي. نود نورو مالونو زکات سره سره ددې ګېڼې زکات به هم ستاپه ذمه وي، تاچې دلورله پاره کومه ګېڼه اېښې ده. دهغې په باره کې به داکتل کیږي، چې تادهغې ګېڼې لورمالکه کړې ده اوکه نه؟ که دلورملکیت نه وي، نودهغې زکات ستاپه ذمه دی اوکه دلورملکیت وي، نوکه دهغې سره نغدې پیسې نه وي. نوپه هغې باندې

---

[1] تیره شوی حاشیه (الزکوٰة واجبة علی الحرالعاقل البالغ...الخ) وګورئ!)_

[2] الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملک نصاباً ملکاً تاماً وحال علیه الحول. (هدایة/ ج۱/ ص۱۸۵) وسببه ای سبب آفتراضها ملک نصاب حولي...تام..الخ.(الدرالمختار/ج۲/ص۲۵۹/کتاب الزکاة)

زکات نشته او که څه روپۍ هم دهغې سره وي، نو زکات دهغې په ذمه واجب دی.[۱]

د شريک (ګډ) کاروبار زکات به څنګه ادا کيږي

سوال: زمايو وروردی، هغه ته دهغه ورور دشپږو زرو روپو دلوبو دشيانو دوکان خلاص کړی دی، اوس به ددې زکات څوک اداکوي، هرکله چې په کاروبارکې شراکت شو، يعني پيسې د يو وروردي اوچلوې يې بل وروراوګټه برابره ده. هغه کس چاچې دادکان پرانستی دی دځمکې يو برخه ددکان له پاره په لس زره روپۍ اخيستې ده، اوس دهغه دزکات څه شکل دی؟

جواب: اول په دې پوه شه چې کله چاته دکاروبارله پاره پيسې ورکړل شي، نوپه ګټه کې برخه مقرره شي، نوپه شرعي اصطلاح کې دې ته (مضاربت) وايي اوموږ ورته دلته عام طورسره شراکت وايو هرکله چې تاهم دغه لفظ استعمال کړی دی، په دې کاروبارکې يواصل رقم (پيسې) وي اوبل دهغه منافع. داصل رقم (پيسو) زکات دهغه په اصلي مالک باندی دی اودهغه په ذمه دمنافع دبرخې زکات هم واجب دی کومه چې به هغه ته ورکول کيږي[۲] اوڅوک چې په ګټه باندې کارکوي که دهغه دنفعې مقدارنصاب پورې رسيږي اوپه هغه باندې کال تيرشي، نودخپلې برخې زکات به په هغه باندې وي کومه ځمکه چې تا دکان له پاره اخيستې ده په هغې باندې زکات نشته[۳] دلوبو شيان که دمجسمويه شکل کې وي، نوددې کاروبارصحيح نه دی.[۴]

د قرض (پور) زکات دچا په ذمه دی

سوال: لس مياشتې وړاندې زيدبکرته ۲۰،۰۰۰ (شل زره) روپۍ قرض حسنه ورکړې، او د

۱] وتضم قيمة العروض الى الثمنين والذهب الى الفضة قيمة كذا فى الكنز. (عالمګيري/ج۱/ص۱۷۹)۔

۲]من كان له نصاب فاستفاد فى اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الى ماله وزكاه.......الخ. (عالمګيري/ ج۱/ ص۱۷۵/كتاب الزكاة/الباب الاول) ايضاً: واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة: قوى ومتوسط وضعيف، فتجب زكاتها اذا تم نصاباً وحال الحول لكن لا فوراً بل عند قبض اربعين درهما من الدين القوى كقرض وبدل مال تجارة فكلما قبض اربعين درهما يلزمه درهم........الخ. (الدرالمختار مع الرد/ج۲/ص۳۰۵/باب زكاة المال)۔

۳]وليس فى دورالسكني.......وسلاح الاستعمال زكوٰة لانها مشغولة بالحاجة الاصلية وليست بنامية ايضاً وعلى هٰكذا كتب العلم لاهلها والات المحترفين لما قلنا.......الخ. (هداية/ ج۱/ ص۱۸۶/كتاب الزكاة) وفارغ عن حاجته الاصلية.......تحقيقاً....... او تقديراً كالعين فان المديون محتاج الى قضائه..... كالات الحرفة واثاث المنزل.......الخ. (شامي/ج۲/ص۲۶۲/مطلب فى زكاة ثمن المبيع وفاء)۔

٤] وظاهر كلام النووى فى شرح مسلم الاجماع على تحريم تصوير الحيوان وقال: وسواء صنعه لما يمتهن او لغيره فصنعته حرام بكل حال لأن فيه مضاهاة لخلق الله تعاليٰ. (شامي/ج۱/ص۶۴۷/مطلب اذا تردد الحكم بين.......الخ)۔

پور پرېکولو وخت معلوم نه دی، بکرلس زره روپۍ په کوراخیستلوباندې اولس زره په کاروبارکې ولګولې، پیسې دمنافعو سره اوس زیاتې شوې دي اودیارلس زره ته رسیدلې دي، ایاپه دې صورت کې زکات واجب شو؟ او که شوی دی، نوپه څه صورت کې؟

جواب: اصول دادي چې کوم رقم (پیسې) چاته قرض ورکړل شي، دهغو زکات دورکونکي په ذمه وي دقرض اخیستونکي په ذمه نه وي، زید چې کومې شل زره روپۍ بکرته ورکړې دي، دهغو زکات دزیدپه ذمه دی.[۱]

دبکرسره چې کومه سرمایه ده که هغه په کاروبارکې لګیدلې ده یاد سرو سپینو زرو په شکل کې دهغه سره موجودوي، ددې ټولې سرمایې نه دې شل زره روپۍ وویستل شي کومې چې دهغه په ذمه قرض دي[۲] پاتې سرمایه که ددوه پنځوس نیمې تولې چاندي (سپین زر) برابر وي، نود هغه په ذمه ددې زکات واجب دی.[۳]

سوال: که څه پیسې چاته قرض ورکړل شوي وي، نودهغه رقم (پیسو) به زکات ورکول واجب وي؟

جواب: هو! په دې رقم (پیسو) باندې هرکال زکات واجب دی،خو تاسوته اختیاردی چې هرکال کله دنورمال زکات ورکوئ دهغه سره دقرض ورکړل شویو پیسو هم زکات ورکوئ اودا اختیارهم درسره دی چې کله قرض وصول شي، نودټولوکلونو زکات چې په دې قرض باندې واجب شوی و، په یوځای اداکړئ.[۴]

سوال: زماوالدینودکورجوړولوله پاره شل زره روپۍ قرض اخیستې وې، چې اوسه پورې واپس شوي نه دي، اګرچې هغه پیسې مونږ سره جمع نه دي، بلکې دکورپه جوړولوغیره باندې خرچ شوي دي، نوایا په مونږ باندې ددې زکات ورکول فرض کیږي؟ ځکه چې په دې سلسله کې مونږ ته داخبره معلومه شوې ده چې دکوم کس پیسې وي، دزکات ورکولوذمه وار به هغوی وي، په دې سلسله کې مونږ دهغه کس نه هم معلومات وکړل دچاچې داپیسې دي هغه

۱] ولو كان الدين على مقر.......فوصل الى ملكه لزم زكوٰة مامضٰي. (الدرالمختار/ج۲/ص۲۶۶، ۲۶۷/ كتاب الزكاة).ايضاً: واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة: قوي، ومتوسط، وضعيف، فتجب زكاتها اذا تم نصاباً وحال الحول لكن لا فوراً بل عند قبض اربعين درهماً من الدين القوى كقرض، وبدل مال تجارة، فكلما قبض اربعين درهماً يلزمه درهم. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ج۲/ص۳۰۵/فتاويٰ هندية/ج۱/ص۱۷۵/كتاب الزكاة)۔

۲]ومن كان عليه دين يحيط بماله فلا زكوٰة عليه.......وان كان ماله اكثر من دينه زكى الفاضل اذا بلغ نصاباً. (هداية/كتاب الزكوٰة/ج۱/ص۱۸۶)۔

۳] الزكوٰة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذا بلغت قيمتها نصابا من الورق والذهب كذا فى الهداية. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث)۔

٤] ولو كان الدين على مقر......فوصل الى ملكه لزم زكوٰة ما مضٰي. (الدرالمختار/ج۲/ص۲۶۶، ۲۶۷)

په صفا ډول سره د زکات ورکولو نه انکار وکړ او وېې ويل چې زکات تاسو په خپله اداکړئ، ځکه چې دا پيسې ستاسو په کار راغلې دي.

جواب: د قرض رقم (پيسې) زکات په قرض ورکونکي باندې وي[۱] د قرض اخيستونکي په ذمه نه وي.[۲] له دې وجې ددې رقم (پيسو) زکات ستاسو په ذمه نه دی. قرض ورکونکي ته پکار دي چې ددې زکات اداکړي.

د تجارت له پاره د ورکړل شويو پيسو زکات د چا په ذمه دی

سوال: کوم حده پورې چې زما علم دی، شرعي لحاظ سره که چيرته د يو سړی قابل زکات پيسې کال يا د کال نه زيات د يو بل سړي سره وي او ددې مودې نه وروسته هغه ته هغه پيسې واپس کيږي. نو ددې ټولې مودې زکات به په هغه سړي باندې واجب الاداء وي چې د هغه پيسو مالک شي. يو دکاندار چې پخپله د روژې او لمونځ پابند او رمضان المبارک کې اعتکاف کې کيني. مانه يې پنځوس زره روپۍ پخپل تجارت کې د منقسمه منافعو په شرائطو باندې واخيستلې.خو يو څو مياشتې منافع ادا کولو نه وروسته من جمله پيسې له ګټې سره ايسارې کړې دي، د ايسارولو د يونيم کال نه زيات وخت شوی دی او دا سړی په دواړو کې مختلف دروغ او حيلې جوړولو سره څه ادا کولو له پاره تيار نه دی. سوال دادی چې داسې پيسې چې بلا معاوضه د بل چا په قبضه کې وي او په هغه سرد هغه سړی که ټول تجارتي فوائد حاصلوي. په هغه ټولو پيسو کې د زکات ادا کول به د چا په ذمه باندې وي؟ دلته دا خبره کومه چې ترڅو پورې ګټه ملاويدله. ما دهغه زکات پخپله ادا کولو.

جواب: دهغو پيسو زکات. خو ستا په ذمه باندې واجب دی. ځکه چې هغه پيسې ستا په ملکيت کې دي او هغه سړي سره امانت دي، زکات د مالک په ذمه باندې واجب وي. د امين په ذمه نه.خو تاته دا اختيار دی چې دهغو پيسو زکات کال په کال ادا کوه او يا کله چې هغه پيسې وصول شي، نود تيرشويو ټولو کلونو زکات (په يوځای) ادا کړه. [۳]

۱] د تيرمخ حاشيه (ولو كان الدين على مقر.......الخ) وګورئ!)_

۲] لواستقرض الفا فكفل عنه عشرة ولكل الف فى بيته وحال الحول فلا زكوٰة على واحد منهم لشغله بدين الكفالة.......الخ. (البحر الرائق/ج۲/ص۲۲۰/كتاب الزكاة)_

۳] ولو كان الدين على مقر.......فوصل الى ملكه لزم زكوٰة ما مضٰى. (الدرالمختار/ج۲/ص۲۶۶، ۲۶۷) و ايضاً: واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة: قوي. ومتوسط. وضعيف. فتجب زكاتها اذا تم نصاباً وحال الحول لكن لا فوراً بل عند قبض اربعين درهماً من الدين القوى كقرض، وبدل مال تجارة، فكلما قبض اربعين درهماً يلزمه درهم. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ج۲/ص۳۰۵/فتاويٰ هندية/ج۱/ص۱۷۵/كتاب الزكاة)_

د مشترک (ګډ) کاروبار زکات

سوال: دوو کسانو مشترک کاروبار په دې شرط باندې وکړ. چې د کوم یو سړي په کاروبار کې پیسې وي. د ګټې په پیسو کې به دهغه دوه برخې وي او بل سړی چې یوازې په کاروبار کې محنت کوي هغه ته به د ګټې د پیسو نه یو برخه ورکول کیږي. څو کاله وروسته بیا تړون وشو چې دمال خاوند (رب المال) شریک ته وویل چې زه اوس په کاروبار کې پوره ډیوټي نه شم کولی . له دې وجې نه پیسې به زما وي. کاروبار به ته ځانته کوي. د ګټې پیسې به زما اوستا ترمنځ نیمایي وي. پوښتنه داده چې موږه د دکان کرایه. د بجلي وغیره بیل ټول د مشترک کاروبار نه ښه په خوشالي سره ادا کوو. حالانکې مالک د پیسو د شروع نه دهغه کاروباري پیسو چې دهغو نه هغه ګټه کوي. زکات هم د مشترکې کاتې نه ورکوي. سره له دې نه چې په معاهده کې دا خبره نه وه. کوم سړی چې کاروبار کوي هغه ته اعتراض دی چې ته زکات د خپل ځانه ورکوه. دکان نه ورکول وي، نو پخپل نوم باندې هغه پیسې ولیکه، مګر مالک وایي په دې علاقه دا رواج دی چې هم د مشترک کاروبار نه به زکات ادا کیږي.

جواب: دواړو ته دخپلې خپلې برخې زکات ادا کول پکار دي، د پیسوخاوند ته د مشترک کاتې (یعنې مشترکه ګټې او کاروبار) نه زکات ادا کول صحیح نه دي. [1]

شپږ میاشتې پورورې او شپږ میاشتې څښتن سره پاتې کیدونکو پیسو باندې زکات

سوال: ما سره څه پیسې دي، چې هغه ماچا ته په قرض ورکړي دي. د زکات مسئله په یو کال ساتلو باندې ده. اوس که چیرته شپږ میاشتې ماسره هغه پیسې وي او شپږ میاشتې قرض دار سره. دهغو زکات څنګه ادا کړم؟

جواب: کومې پیسې چې چاته قرض ورکړل شوي وي، دهغو زکات د قرض ورکونکي په ذمه دی، له دې وجې دهغو پیسو زکات ادا کړه. [2]

څلور کاله وروسته د پور په هغو پیسو باندې چې ماته رسیدلي دي څومره زکات دی

سوال: څلور کاله وړاندې موږ یو کس ته څه پیسې پور ورکړې وې، اوس هغه پیسې موږ

---

[1] ولیس لکل واحدمن الشریکین ان یؤدی ذکوٰة مال الاخرة الا یاذنه(الجوهرة النیرة/ص۲۹۲/۲۸۲/کتاب الزکاة)

[2] وتجب الزکوٰة فی الدین مع عدم القبض(بدائع/ج۲/ص۹/کتاب الزکاة/ ایضاً حاشیة ردالمختار/ج۲/ص۲۶۷)

نه رسېدلي دي. غرض دادی چې کله پوره پيسې مور ته ورسيږي، نو په هغو کې به مور زکات ادا کوو؟ که چيرته يې په مور اداکول ضروري وي، نو څومره ادا کړو؟

جواب: په هغو پيسو باندې د څلورو کلونو زکات ورکول واجب دي. [۱]

پور نه پرې کونکي ته په ورکړل شوي قرض باندې زکات

سوال: زمانه پنځه کاله مخکې دوستانو يا خپلوانو څه پيسې قرض اخيستي وې، د کومو د واپسي نېټه چې نه وه ټاکل شوې او نه يې څه تحريرليکل شوی و، ما په دې کلونو کې څو ځله د پيسو د واپسي غوښتنه وکړه، خو جواب به داسې راکول کېده، چې څه درکړو، په داسې کېدو کېدو کې پنځه کاله تيرشول، خو پيسو واپس کېدو څه پوخ اميد په نظرنه راځي او کېدای شي نور وخت هم پکې ولګيږي، نااميده کېدو نه وروسته ماهم د واپسي غوښتنه پرېښې ده، مهرباني وکړئ او په دې موخبر کړئ چې د دې پيسو چې د پنځو کلونو راهيسې ماسره نه دي، زکات ورکول واجب دي او که نه؟

جواب: کوم رقم (پيسې) چې چاته قرض ورکړل شوي وي، په هغو باندې زکات لازم دی، البته قرض ورکونکي ته دا اختيارشته چې په خپله خوښه يې هرکال ورکوي او يا د وصول کېدونه وروسته دې د ټولو کلونو زکات په يوځای اداکړي[۲]، خو که پوروړی د قرض نه منکرشي او قرض ورکونکي سره ګواه هم نه وي، نو د وصوليدو نه مخکې په هغه باندې زکات نشته او د وصولېدو نه وروسته پرې هم د تيرو شويو کلونو زکات نشته.[۳]

سوال: زما يو دوست له نن نه پنځه کاله مخکې يونيم لك روپۍ د کاروبار له پاره له مانه اخيستې وې. هغه ټولې پيسې ولګولې، پنځه کاله وروسته هغه ماته پنځلس زره روپۍ واپس کړلې. ايا په دې پنځلس زره روپو باندې زکات واجب دی؟ ايا د پنځو کلونو زکات پرې کول به واجب وي يا يوازې د دې کال؟ او باقي کومې پيسې چې هغه نه دي اداکړي، د هغو زکات اداکول هم پکار دي؟

جواب: په دې پنځلس زره روپو باندې د تيرو پنځو کلونو زکات واجب دی، همدغه شان چې کومې پيسې تاته د خپل دوست نه ملاويږي په هغو باندې د تيرو کلونو زکات اداکوئ.[۴]

---

[۱] ولو کان الدين علی مقر......فوصل الی ملکه لزم زکوٰة ما مضي. (تنوير الابصار/ج۲/ص۲۶۶، ۲۶۷)

[۲] ايضاً.)_

[۳] والدين المجحود اذا لم يکن عليه بينة ثم صارت له بينة بعد سنين بان اقر عندالناس لاتجب عليه الزکوٰة هٰکذ فی التبيين. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکاة/الباب الاول)_

[٤] ايضاً تيره شوی حاشيه (ولو کان الدين علی مقر...الخ) وګورئ!)_

دامانت پیسو باندې زکات

سوال: ماسره دچاامانت دی، په هغه باندې زکات ورکول په ماباندې فرض دی یا دارقم (پیسې) چې دچا دي هغه دې زکات ورکړي؟ دویمه خبره داده چې مانه چاقرض غوښتی و او هغه په خپل وخت باندې واپس نه کړي اوامیدهم کم وي، نوپه هغو پیسو باندې زکات فرض دی اوکه نه؟

جواب: دکوم کس امانت چې تاسره دی ستاپه ذمه دهغه زکات نه دی، بلکې دهغه زکات دامانت کېښودنکي په ذمه لازم دی. که هغه تاته دزکات ورکولواختیاردرکړی وي، نوتاسوهم ددې پیسو زکات اداکولی شئ، دچاپه ذمه چې ستاقرض دی که هغه یې مني چې زه به قرض درکوم. نوستاپه ذمه دهغه زکات ورکول لازم دي، که هرکال یې اداکوې یاچې کله وصول شي، نو دټولو تیرو شویو کلونو زکات اداکړئ.[1]

که دامانت پیسونه حکومت زکات واخلي

سوال: دنورو ښارونو خلک دخپل تجارت اوامانت په طورچاسره پیسې جمع کړي، نودحفاظت په خیال سره هغه کس داپیسې په بینک په خپل نوم باندې جمع کړي او وخت په وخت دهغو خلکو د وینامطابق پیسې ترې راوباسي هم، نوایاحکومت ددې پیسونه دزکات اخیستلو حقداردی اوکه نه؟

جواب: دکوم کس چې امانت دی دهغه په ذمه به زکات فرض وي[2]، خوحکومت ستا د اکاونټ نه په زور سره پیسې اخیستي، له دې وجې امانت کېښودنکي ته پکاردي چې تاته دزکات د اداکولو اختیار درکړي، داختیاردرکولونه وروسته دهغو دپیسوچې کوم زکات اخیستل کیږي هغه به دهغه له طرف نه وي[3] اوته (دزکات کوم رقم (پیسې) چې کټ شوي دي) هغه به ترې وباسې اوپاتې پیسې به هغوی ته واپس کړې.[4]

د(پیشکي) زرضمانت زکات

سوال: کومې پیسې چې موږ سره امانت پرتې وي، دهغو زکات به څوک اداکوي؟ موږ به یې

۱] ایضاً تیره شوی حاشیه (ولو کان الدین علی مقر...الخ) وګوری!)۔

۲]وسببه أی سبب افتراضها ملک نصاب حولي.......تام.......الخ. (الدرالمختار مع الرد/ج۲/ص۲۵۹)۔

۳]اذا وکل رجلاً بدفع زکوٰة ماله ونوی المالک عند الدفع الی الوکیل فدفع الوکیل بلا نیة فانه یجزئه لان المعتبرنیة الامر لانه المؤدی حقیقة. (البحرالرائق/ج۲/ص۲۲۶/کتاب الزکاة)۔

٤] ولو أدی زکوٰة غیره بغیر امره فبلغه فاجاز لم یجز لانها وجدت نفاذاً علی المتصدق لانها ملکه ولم یصر نائباً عن غیره فنفذت علیه ولو تصدق عنه بأمره جازویرجع بما دفع..الخ(البحرالرائق/ج۲/ص۲۲۷/کتاب الزکاة)

اداکوو یا اصلي مالک؟ دکورپه کرایه باندې چې کومې پیسې دپیشګي په ډول له کرایه دار څخه اخیستل کیږي هغه قابل واپسي دي اوځوکلو پورې مالک سره امانت پرتې وي، د هغو زکات به څوک اداکوي

جواب: کوم کس چې د پیسو مالک وي زکات دهغه په ذمه دی. د امانت پیسو زکات په امین باندې نه دی. بلکې دامانت کیښودونکي په ذمه دی، اودزرضمانت مالک کرایه داردی.ددې زکات هم دهغه په ذمه دی.[۱]

زرګرته په کیښودل شویو پیسو باندې زکات راځي

سوال: د تیرشوي رمضان المبارک نه یوه ورځ مخکې مادخپل زوی دواده له پاره د سرو زرو سیټ جوړولو له پاره ورکړ. چې په هغې کې پنځه نیمې تولې سره زر ما دخپلو بنګړو ورکړه. خود سرو زرو سیټ تراوسه پورې زرګر سره دی، حالانکې د پیسو د کیښودلو څلور میاشتې شوي دي. زکات به په دې صورت کې ورکول کیږي اوکه نه؟

جواب: څومره پیسې چې د زکات جوړیږي په هغو ټولو باندې زکات واجب دی. والله اعلم![۲]

ایا یوکال تیریدو نه وروسته د ضمانت په پیسو باندې زکات شته

سوال: کرایه دار (پیشګي) ضمانت په دې شرط باندې جمع کړي دي چې د کور خالي کولو په وخت کې به پیسې واپس کول وي، ایا ضمانت باندې یوکال تیریدو نه وروسته مالک به دهغه زکات ورکوي؟

جواب: پیشګي باندې زکات واجب دی. خو هغه د کرایه دار په ذمه دی،[۳] د کور مالک سره هغه امانت دی. زکات دهغه په ذمه باندې نه دی.

---

[۱] ایضاً تیره شوی حاشیه (وسببه أی سبب افتراضها ملک نصاب...الخ) وګوری!ـ

[۲] تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم وفی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال. (عالمګیري/ ج۱/ ص۱۷۸/ کتاب الزکاة/باب فی زکوٰة الذهب والفضة والعروض/طبع رشیدیه/کوئته).

[۳] وسببه أی سبب افتراضها ملک نصاب حولي.......تام.......الخ. (الدرالمختار مع الرد/ج۲/ص۲۵۹)ـ

❖ د زکات نصاب اوشرطونه ❖

زکات په کوموشیانوباندې فرض دی

سوال: زکات په کوم شي باندې فرض دی؟

جواب: زکات په په لاندې ذکرشویو شیانوباندې فرض دی:

۱ سره زر چې اوو نیم تولې یا له دې نه زیات وي.

۲ چاندي (سپین زر) کله چې دوه پنځوس نیمې تولې یا له دې نه زیات وي.[۱]

۳ روپۍ، پیسې اود تجارت مال، هرکله چې مالیت یې ددوه پنځوس نیمو تلوچاندي (سپین زر) دمالیت برابروي.[۲]

(**یا دونه**)...... که چاسره لږ شان سره زر وي، څه چاندي (سپین زر) وي، څه نغدې روپۍ وي، څه دتجارت مال وي او ټول مالیت یې ددوه پنځوس نیمو تولو چاندي (سپین زر) برابروي، نوپه هغه باندې زکات فرض دی، همدغه شان که څه سره زروي، څه نغدې روپۍ وي اوڅه چاندي (سپین زر) اوڅه دتجارت مال وي، نوبیابه هم هغه رایوځای کړل شي او وبه کتل شي چې ددوه پنځوس نیمو تولو چاندي (سپین زر) مالیت ترې جوړیږي اوکه نه؟ که جوړیږي، نوزکات پرې واجب دی، که نه، نه دی واجب، غرض داچې سره زر، سپین زر، نغدې روپۍ اودتجارت مال کې دهردوو شیانومالیت چې کله د چاندي (سپین زر) دنصاب برابروي، نوپه هغه باندې زکات فرض دی.[۳]

۴...... له دې نه پرته په څارویو باندې هم زکات فرض دی[۴] اوګډه بیزه (پسه چیلۍ)، غوا، میښه او اوښ باندې بیل بیل نصاب دی، په دې کې تفصیل زیات دی له دې وجې نه یې نه لیکم، کوم کسانوسره چې داسې څاروي وي هغوی دې د عالمانونه معلومات وکړي.

۱] الفصل الاول فی زکوٰة الذهب ولفضة: تجب فی کل ماتی درهم خمسة دراهم وفی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال مضروباً کان اولم یکن. (فتاويٰ عالمگيري/ج۱/ص۱۷۸/ کتاب الزکاة/الباب الثالث)۔

۲] الزکوٰة واجبة فی عروض التجارة کائنة ما کانت اذا بلغت قیمتها نصاباً من الورق والذهب کذا فی الهداية. (عالمگیري/ج۱/ ص۱۷۹/کتاب الزکاة، الباب الثاني،الفصل الثاني)۔

۳]وتضم قیمة العروض الی الثمنین والذهب الی الفضة قیمة کذا فی الکنز حتی لو ملک ماة درهم وخمسة دنانیر قیمتها ماة درهم تجب الزکوٰة عنده خلافاً لهما(الفتاويٰ العالمگیریه/کتاب الزکاة/الباب الثالث فی زکوٰة الذهب والفضة والعروض/ج۱/ص۱۷۹/وهٰکذا فی ردالمحتا/ج۲/ص۳۰۳/والبحر/باب زکوٰة المال/ ج۲/ص۴۰۰)۔

٤]الباب الثانی فی صدقة السوائم، وفیه خمسة فصول، الفصل الاول فی المقدمة: تجب الزکوٰة فی ذکورها واناثها ومختلطهما والسائمة هی التی تسام فی البراري......الخ.(الفتاوی الهندیة/کتاب الزکوٰة/ج۱/ص۱۷۶)۔

۵: ...... دعشري ځمکې په پیداوارباندې هم زکات فرض دی. کوم ته چې (عشر) وایي[۱]، ددې تفصیلات مخکې وګورئ.

د نصاب واحد شرط څه دی

سوال: عام طورسره دزکات له پاره دنصاب کوم شرط چې په اوریدل کیږي، هغه دوه پنځوس نیمې تولې چاندي (سپین زر) دی یا اوونیمې تولې سره زر، یاددې مالیت، مسئله داده چې یوکس دهغه سره نه چاندي (سپین زر) شته اونه سره زر، بلکې پنځه زره نغدې روپۍ ورسره دي. هغه ته په کوم نصاب باندې عمل کول پکاردي؟په سروزرویاپه چاندي (سپین زر)؟ اوکه دمالیت حساب ولګوي. نودڅه شي مطابق؟ که د چاندي (سپین زر) په شرط باندې عمل کوي، نوهغه صاحب نصاب جوړیږي، خوکه دسروزروپه شرط باندې عمل کوي، نوزکات پرې نه واجبیږي. لهذاهغه به دزکات داداکولوذمه دار نه ګرځول کیږي؟ وضاحت وکړئ چې داسې کس ته کومه لاره اختیارول پکاردي؟

نن سبادنصاب دوه معیاره ولې چلیږي؟ هرکله چې د حضورﷺ په زمانه کې یونصاب و، یعنې دوه سوه درهم (چاندي (سپین زر)) مالیت به دشلودینارو(سروزرو)دمالیت برابر و، نن ددې په مالیتونو کې دځمکې اسمان فرق دی، لهذاپه کوم شرط باندې عمل کول لازم دي، دنصاب واحدشرط څه دی؟

جواب: ستاسودسوال په اړه څوخبروباندې پوهیدل ضروري دي:

اول ...... په کوم مال باندې څومره مقدارواجب الادا دی؟په کوم مال کې څومره نصاب باندې زکات واجبیږي؟ داخبره یوازې عقل او قیاس سره نه شي معلومیدای، بلکې ددې له پاره موږ ته دحضورﷺ د ارشاداتوطرف ته رجوع کول لازمي دي، حضورﷺچې په کوم مال باندې کوم نصاب ټاکلی دی، دهغه قائم ساتل ضروري دي اوپه دې کې دتحول اوبدلو ګنجائش نشته، صحیح همدغه شان ده څنګه چې دلمانځه په رکعتونوکې ردبدل نه شي کیدای.[۲]

دویم...... حضورﷺد چاندي (سپین زر) نصاب دوه سوه درهم (یعنې دوه پنځوس نیمې تولې یعنې تقریباً ۶۱۲،۳۵ ګرام) اودسروزرونصاب شل مثقاله (اووه نیمې تولې سره زریعنې

۱] (وقوله تعالي) ومما اخرجنا لكم من الارض: عموم فى ايجابه الحق فى قليل ماتخرجه الارض وكثيره فى سائر اصناف الخارجة منها ويحتج به لأبى حنيفة رحمه الله فى ايجابه العشر........مما تقصد الارض بزراعتها. (احكام القران للجصاص /باب المكاسبة/ج۱/ص۴۵۸/ طبع سهيل اكيدمى لاهور. وايضاً فى اللباب فى شرح الكتاب/ ج۱/ص۱۴۶/كتاب الزكوٰة/باب زكاة الزروع والثمار)۔

۲] فى شرح المنار ان مقادير الزكاة ثبت بالتواتر كنقل القران واعداد الركعات....... الخ. (البحرالرائق /باب زكوٰة المال/ج۲/ص۲۴۳/طبع دارالمعرفة/بيروت)۔

تقریبا ۵. ۸۷ ګرام) مقرر کړې دي [۱]، اوس دسروزرو او چاندي (سپین زر) په هغه تناسب چې دحضور ﷺ په زمانه کې و قائم وي اوکه نه وي دسروزرو او چاندي (سپین زر) په نصابونو کې دتبدیلي مونږ ته هیڅ حق نشته، څنګه چې دسهار په لمونځ کې د دوو رکعتو په ځای څلور رکعته اومابنام په لمانځه کې د دریو په ځای دڅلورو رکعتو د کولو هیڅ اختیار نشته.

دریم چاسره چې نغدې روپۍ پیسې وي یا د تجارت مال وي، نو ښکاره ده چې ددې له پاره په سرو زرو یا چاندي (سپین زر) کې دیو نصاب جوړول به معیار وي، پاتې شوه داچې د چاندي (سپین زر) نصاب معیار جوړ شي یا دسرو زرو نصاب ؟ ددې له پاره دامت فقهاوو چې په حقیقت کې د امت حکیمان دي دا فیصله کړې ده چې په دې دواړو کې دکوم یو سره چې هم نصاب پوره شي هماغه دې معیار جوړ شي مثلاً د چاندي (سپین زر) قیمت سره نصاب پوره کیږي، خو د سرو زرو نصاب سره نه پوره کیږي (او همدغه ستاسو دسوال بنیادي نکته ده) نو د چاندي (سپین زر) قیمت سره دې حساب ولګول شي او ددې دوه وجې دي: یوه داچې زکات د فقیرانو د نفع له پاره دی او په دې کې د فقیرانو نفع زیاته ده، دویم داچې په دې کې احتیاط هم زیات دی، هرکله چې دیو نقد (د چاندي (سپین زر)) سره نصاب پوره کیږي او دویم نقد (سروزرو) سره نه پوره کیږي، نو د احتیاط غوښتنه په دا وي چې کوم نقد سره نصاب پوره کیږي، هماغه دې معتبر شي.[۲]

د زکات د نصاب حد (اندازه)

سوال: نن سبا د ډیرو ښځو په ملکیت کې دوه یا درې، څلور یا پنځه یا شپږ تولې سره زر وي. د اونیمو تولو نه کم او ورسره د هغوی په ملکیت کې څه سپین زر یا څه مال تجارت یا څه نغدې روپۍ هم خامخا وي، سپین زر یا مال تجارت ډیر نه وي، خو نغدې روپۍ. خو

[۱] (قوله یجب فی مأتی درهم، وعشرون مثقالاً ربع العشر وهو خمسة دراهم فی المأتین ونصف مثقال فی العشرین. ......لحدیث مسلم: لیس فیما دون خمس اوراق من الورق صدقة والأوقیة اربعون درهماً کما رواه الدار قطنی ولحدیث علی وغیره فی الذهب.......الخ. (البحرالرائق/باب زکوٰة المال/ج۲/ص۲۴۲/طبع دارالمعرفة/بیروت)۔

[۲] وفی عروض تجارة قیمة نصاب.......من ذهب او ورق ای فضة مضروبة.......مقوما باحدهما ان استویا فلو احدهما اروج تعین التقویم به ولو بلغ بأحدهما نصاباً دون الاخر تعین مایبلغ به ولو بلغ بأحدهما نصاباً وخمساً بالاخر اقل قومها بالانفع للفقیر. (درمختار/ج۲/ص۲۹۹/کتاب الزکاة). وفی اللباب فی شرح الکتاب/ ج۱/ ص۱۴۵/الزکوٰة واجبة فی عروض التجارة کآئنة ما کانت....اذا بلغت قیمتها نصاباً من الورق او الذهب یقومها صاحبها بما هو انفع للفقراء/والمساکین منهما ای النصابین/احتیاطاً لحق الفقراء/حتی لو وجبت الزکاة ان قومت باحدهما دون الاخر قومت بماتجب فیه دون الاخر. (اللباب/باب زکوٰة العروض /ج۱/ص۱۴۵/طبع قدیمي)۔

يقينا وي. يو ښځه هم داسې نشته. چې دهغې په ملکيت کې دوه يا درې سوه روپۍ يا ددې نه کمې پيسې موجودې نه وي. يقينا موجودې وي او داسې ډيرې ښځې دا خيال کوي چې زموږ په ملکيت کې د اوو نيموتولو سرو زرو نه کم دي. له دې وجې نه په موږ باندې زکات فرض نه دی او هغوی د خپلې يوې تولې، دوو يا څلورو يا پنځو يا شپږو تولو زکات نه وباسي. حالانکې ماته د يو معتبر عالم دين نه معلومه شوې ده اوما «معارف القرآن» کې د سورت توبې په تفسير کې هم ددې مسئلې ذکر لوستلی دی؟

جواب: د چا په ملکيت کې چې سره زر د اونيموتولو نه کم وي او هغه سره څه سپين زر، نغدې روپۍ يا مال تجارت هم وي او سرو زرو سره ملاويدلوسره دهغه ټول قيمت د دوو پنځوس نيمو تولو برابر وي. په هغه باندې زکات فرض دی. داسې ښځوته زکات ادا کول پکار دي. [1]

زکات کله واجب شو

سوال: ماسره ټول کال څه پيسې وې. کومې چې ماخرچ کولې هم، دشوال دمياشتې نه تررجب پورې ماسره لس زره روپۍ پاتې شوې او په رجب کې د (۳۵) زره روپيوامدني وشوه. اوس راته دا ووايئ چې په رمضان المبارک کې په ما دلسوزرو روپوزکات ويستل دي يا (۳۵) زره به هم دې کې شامليږي. هرکله چې په ۳۵ زره باندې درمضان پورې يوازې درې مياشتې تيرې شوې دي؟

جواب: کوم کس چې يوځل دنصاب مالک شي، نوکله چې په هغه نصاب باندې کال تيرشي، نودټول کال په دوران کې حاصليدونکې سرمايې باندې زکات واجبيږي، هررقم (پيسې) باندې جدا جدا کال تيريدل شرط نه دي. له دې وجې په رمضان کې به په ټاباندې د هغوټولو پيسو زکات واجب وي چې دغه وخت کې تاسره وي. [2]

---

[1] ولو ضم احدا لنصابين الى الاخر حتى يؤدى كله من الذهب او من الفضة لا بأس به لكن يجب ان يكون التقويم بما هو انفع للفقراء قدراً ورواجاً. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث فى زكاة الذهب والفضة والعروض/طبع رشيديه). الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت....... اذا بلغت قيمتها نصاباً من الورق او الذهب يقومها صاحبها بما هو انفع للفقراء والمساكين منهما اى النصابين احتياطاً لحق الفقراء، حتى لو وجبت الزكوٰة ان قومت باحدهما دون الاخر قومت بما تجب فيه دون الاخر. (اللباب فى شرح الكتاب/ ج۱ / ص۱۴۵/باب زكاة العروض/طبع قديمي).

[2] ومن كان له نصاب فاستفاد فى اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الى ماله وزكاه سواء كان المستفاد من نمائه اولا وبأى وجه استفاد ضمه سواء كان بميراث اوهبة....الخ. (فتاويٰ عالمگيري/ج۱/ص۱۷۵/كتاب الزكاة/الباب الاول)

سوال: که چاسره (۲۸) زره روپۍ او (۲) تولې سره زروي، نوپه دې سروزرو به هم زکات واجب وي اوکه يوازې دروپيو زکات به واجب وي؟

جواب: په دې صورت کې په سروزروهم زکات واجب دی. دکال دپوره کېدو له ورځې نه چې کوم قيمت د سرو زرو وي دې حساب سره د (۲) تولومالیت هم دی په دې رقم (پيسې) کې شامل شي او زکات دې ورکړل شي.[۱]

د نقد اوتجارت د مال له پاره د چاندي (سپينوزرو) نصاب معيار دی

سوال: نصاب اوونيمې تولې سره زر اودوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زر) دي، په دې سلسله کې پوهيدل غواړم چې دنغدو اودتجارت دمال حساب په کوم معيارسره وشي چاندي (سپينو زرو) سره يا سرو زرو سره؟

جواب: د چاندي (سپين زر) دنصاب اعتباردې وکړل شي.[۲]

(**يا دونه**):......اوونيمې تولې سره زر د ۸۷٫۴۷۹ ګرام مساوي دي اودوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زر) د ۶۱۲٫۳۵ ګرام برابرده.

سوال: نن سبا دکم نه کم څومره رقم (پيسو) په ملکيت باندې زکات واجبيږي؟

جواب: ددوه پنځوس نيمو تولو چاندي (سپين زر) څومره قيمت چې په بازارکې وي دهغه په ماليت باندې، دچاندي (سپين زر) نرخ بدليږي، ددې له وجې نه ددې ماليت ليکل فضول دي، په کومه ورځ چې زکات واجب شي، دهغې ورځې دقيمت اعتباردی.[۳]

که له نصاب نه کم يوازې سره زروي، نوزکات واجب نه دی

سوال: که يوې ښځې سره اوونيمې تولې سره زراو دوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زر) وي، نوپه هغې زکات واجب دی، ددې په کم باندې واجب نه دی، که يوښځې سره ۵٫۲ تولې سره زر وي ،چاندي (سپين زر) اونغدې ورسره هيڅ نه وي اوزکات نه ورکوي، نوداصحيح ده اوکه نه؟

جواب: که يوازې سره زر وي، ددې سره چاندي (سپين زر) يانغدې روپۍ يابل قابل زکات شی نه وي، نوداوونيمې تولې (۷۸٫۵ ګرام) نه کم سرو زرو باندې زکات نشته.[۴]

۱] تيره شوی حاشيه (ولوضم احد النصابين....الخ) وګورئ!۔

۲] تيره شوی حاشيه (ولوضم احد النصابين....الخ) وګورئ! وايضاً: وتضم قيمة العروض الى الثمنين والذهب الى الفضة قيمة كذا فى الكنز(عالمګيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكوٰة/الباب الثالث فى زكاة الذهب والفضة)

۳] تعتبرالقيمة يوم الوجوب اجماعا..الخ.(عالمګيري/ج۱/ص۱۸۰/كتاب الزكاة/الباب الثالث/فى زكاة العروض)

٤] باب زكوٰة الذهب: ليس فيما دون عشرين مثقالاً من الذهب صدقة لانعدام النصاب فاذا كانت عشرين مثقالاً شرعياً......وحال عليها الحول ففيها ربع العشر. (اللباب للميداني/ج۱/ص۱۴۴/باب زكاة الذهب)

داوو نیمو تولو نه کموسرو زرو سره چې نغدې روپۍ پیداشي ، نو زکات پرې واجب دی

سوال: زما ځلورلونه پیغلې دي، دهرې یوې سره د۴ تولونه زیات یاکم سره زرديِ، مادهمیشه له پاره هر یوې ته ورکړي دي اودهرې یوې سره څلورسوه ریاله شپږ سوه ریاله اوزرریاله جمعه وي ، ایاپه دې ټولوباندې زکات، قرباني اوصدقه فطر(سرسایه)بیل بیل واجبیږي اوکه نه؟

جواب: تاسوچې کوم صورت لیکلی دی په دې کې ستاپه ټولو لوڼو باندې بیل بیل زکات، قرباني، صدقه فطر(سرسایه)لازم دي، ځکه چې سره زر، اګرچې دنصاب نه کم دي، خودنغدو سره چې د سرو زرو قیمت یوځای شي، نود دوه پنځوس نیمو تولو (۶۱۲٫۳۵ګرام) چاندي (سپین زرو) قیمت ترې جوړیږي.[1]

ګینه او پیسې یوځای کېدوسره که چیرته نهه زره روپۍ شي، نو زکات او قرباني واجب ده

سوال: موږ غریبان خلک یو، زما سره د یوې نیمې تولې سیټ دی او شپږ روپۍ یوځای کولو سره تقریبا د نهو زرو سره زر ماسره موجود دي، زما زوی دی، دهغه خرڅې زما والدین برداشت کوي، یوازې د سکول فیس دهغه د پلار په ذمه دی، زه په سکول کې نوکري کوم، (۵۰۰) روپۍ زما تنخوا ده، چې ټوله ختمیږي، زما ستاسونه پوښتنه داده چې ماباندې زکات فرض دی اوکه نه؟ ځکه چې څه موده مخکې ما ستاسو په کالم کې لوستلي و چې (که چیرته سړي سره دومره پیسې وي چې د دوو پنځوس نیمو تولو چاندي د مالیت برابر وي، نو هغه باندې زکات فرض دی، اودرې زره روپۍ دهغه مالیت برابرې دي)، ما سره د نهو زرو سره زر دي، له دې وجې نه ما په دې کال کې د دریو زرو حساب کولو سره زکات ویستلی و ، اوس ددې له وجې نه هم ویریږم چې که چیرته په ما باندې زکات فرض نه وي، نو الله تعالی به وایي چې زکات درباندې فرض نه دی او زما طرف نه ازاده يې، نو دهغه فائده

---

[1] وتضم قيمة العروض الى الثمنين والذهب الى الفضة قيمة....... وفى المحيط لو كان له مائة درهم وعشرة دنانير قيمتها اقل من مائة تجب الزكاة عندهما....... فان حاصله اعتبارالقيمة من جهة كل من النقدين لا من جهة احدهما عينا فانه ان لم يتم النصاب باعتبار قيمة الذهب بالفضة يتم باعتبار قيمة الفضة بالذهب.......الخ. (البحرالرائق/ج۲/ص۲۴۷/باب زكاة المال) ايضاً تيره شوى حاشيه (تعتبر القيمة يوم الوجوب..الخ) وګورئ!)

ولې نه اوچتوي؟ که چيرته زکات فرض دی. نو ايا قرباني هم فرض ده؟ ځکه چې د قرباني هم دا حکم دی، خو کېدای شي زما حالات ددې خبرې اجازه ورنه کړي. د سرو زرو نه پرته نوري پيسې ماسره نشته

جواب: دا د نهو زرو سره زر که چيرته ستا ملکيت وي. نو په تاباندې زکات (پوره د نهو زرو) فرض دي او قرباني هم.[۱]

که چيرته چاسره لږ سره زر او لږ چاندي (سپين زر) وي، نو ايا دی صاحب نصاب دی

سوال: که چيرته چاسره نه خو پوره مقدار د سپينو زرو وي اونه د سرو زرو، بلکې لږ غوندې سپين زر او څلور پنځه تولې سره زر وي، نو ايا داسې سړی صاحب نصاب دی؟

جواب: دواړه يوځای کولو سره که چيرته د سپينو زرو نصاب جوړ شي، نو زکات واجب دی.[۲]

که څوک سره زر خرڅ کړي او کاروبار شروع کړي، نو په هغه باندې به هم زکات وي

سوال: که چيرته زه سره زر خرڅولو سره (دغه پيسې) په خپل کاروبار کې ولګوم چې په هغه سره ماته ډيره فائده وي. ايا داسې کولو سره به زه زکات ورکوم؟ کاروبار کې پيسې څې راځي، په يو ځای نه وي. کله دلته کله بل چيرته، ايا داسې کولی شم؟

جواب: مال تجارت باندې زکات شته، الله تعالی تاته نفع درکړي، نو زکات نه ولې ويريږې...؟[۳]

---

[۱] ولو ضم احد النصابين الى الاخر حتى يؤدى كله من الذهب او من الفضة لا بأس به لكن يجب ان يكون التقويم بما هو انفع للفقراء. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث). ان احدا لنقدين يضم الى الاخر وان العروض للتجارة تضم الى النقدين للجنسية باعتبارقيمتها(البحرالرائق/ج۲/ص۲۲۲/كتاب الزكاة/باب زكاة المال).

[۲] وتضم قيمة العروض الى الثمنين والذهب الى الفضة قيمة. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث). ولو ضم احدالنصابين الى الاخر حتى يؤدى كله من الذهب او من الفضة لا بأس به لكن يجب ان يكون التقويم بما هو انفع للفقراء. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/البحرالرائق/ج۲/ص۲۲۲/كتاب الزكاة)، ويضم الذهب الى الفضة للمجانسة من حيث الثمنية. (هداية/ج۱/ص۱۹۶/كتاب الزكاة/باب زكاة المال).

[۳] الزكوٰة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذا بلغت قيمتها نصاباً من الورق والذهب. (فتاوي عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث فى زكاة الذهب والفضة والعروض).

په کومو پیسو باندې زکات دی

سوال: فرض کړه ما د یو لاک روپیو نه کاروبار شروع کړی و اود کال په ختمېدو باندې زما کاروبار پورته تللو سره پنځو لاکو پورې ورسید، نو ایا کاروبار مې چې د کومو پیسو نه شروع کړی و په هغو باندې به زکات وي. یا په اخر کې چې څومره موجودې دي؟

جواب: د کال نه وروسته چې کله د زکات ادا کولو وخت راشي. نو څومره پیسې یا مالیت چې تاسره موجود دی، دهغو ټولو زکات ادا کړه. [۱]

که چاسره د اوو نیمو تولو نه کم سره زر او څه پیسې وي، نو زکات واجب دی

سوال: له دې نه مې مخکې هم پوښتنه کړې وه چې نن سبا د ډېرو ښځو په ملکیت کې دوه یا درې یا څلور یا پنځه یا شپږ تولې سره زر وي. د اوونیمو تولو نه کم او ورسره دهغوی په ملکیت کې څه مال تجارت یا څه نغدې روپۍ هم وي، یو ښځه هم داسې پیدا کیدل مشکل دي، چې دهغې په ملکیت کې دوه یا درې یا د زرو نه کمې پیسې موجودې نه وي. یقینا موجودې وي او د ډېرو ښځو دا خیال دی چې زمونږه په ملکیت کې سره زر د اوونیمو تولو نه کم دي. نوځکه په مونږ باندې زکات فرض نه دی او هغوی د خپلو یوې یادوو یا دریو یا څلورو یا پنځو یا شپږو تولو سرو زرو زکات نه ورکوي. حالانکې ماته د یو معتبرعالم نه معلومه شوې ده چې مذکوره صورت کې له شک پرته زکات فرض دی. مهرباني وکړئ تاسو په دې مسئلې باندې په تفصیل سره رڼا واچوئ.ددې له پاره چې ستاسو د جواب په ذریعه بې شمیره ښځې د زکات نه ادا کولو له ګناه نه بچ شي، ځکه چې دهغه ځای عذاب ډېرسخت دی. الله تعالی دې تاسو ته ددې جزا درکړي. آمین!

جواب: تاسو ته چا مسئله صحیح ښودلې ده، چاسره چې د اوونیمو تولو نه کم سره زر وي. خو هغه سره څه نغدې روپۍ، سپین زر یادتجارت مال وي، که هغه څومره په کم مقدار کې ولې نه وي، خوهغه مال د سرو زرو د قیمت سره یوځای کېدو نه وروسته د دوه پنځوس نیموتولو سپینو زرو مالیت جوړېږي. نو هغه باندې زکات فرض دی، چاچې ادا کړی نه وي، هغه دې د تیرشویو کلنو حساب کولو سره هغه زکات هم ادا کړي. [۲]

---

[۱] ومن كان له نصاب فاستفاد فى اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الى ماله وزكاته.(عالمگيري/ج۱/ص۱۷۵)

[۲] ولو ضم احد النصابين الى الاخر حتى يؤدى كله من الذهب او من الفضة لا بأس به لكن يجب ان يكون التقويم بما هو انفع للفقراء. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث). ان احدا لنقدين يضم الى الاخر وان العروض للتجارة تضم الى النقدين للجنسية باعتبارقيمتها(البحرالرائق/ج۲/ص۲۲۲/كتاب الزكاة/ باب زكاة المال).

د زکات نه د بچ کېدو له پاره د سرو زرو خرڅولو سره ټي وي، پالنګ او داسې نور سامان اخیستل

سوال: ماسره نهه تولې سره زر دي، چې په هغو باندې زکات هم واجبیږي، هغه زه ورکوم، زه غواړم سره زر خرڅولو سره د کور ډیکوریشن وکړم، مثلاً: ټي وي، پالنګ اوداسې نور... په دې شیانو باندې زکات نه وي، ایا داسې کول جائز دي؟

جواب: د ټي وي اخیستل ناجائز دي، [۱] دپاتې شیانو اخیستل جائز دي او په دې باندې به زکات هم نه وي. [۲] اخو له ضرورت پرته د سرو زرو په بدل کې دا شیان اخیستل د تاوان سودا ده.

پوره مال تجارت باندې زکات دی که کم خرڅیږي یا زیات

سوال: زه د اور مړه کولو الات اخلم او خرڅوم یې، ددې کاروبار کوم، زموږه مالي کال د رمضان نه شروع او په شعبان باندې ختمیږي، د کال په ختمېدو باندې مو حساب ولګولو، نود ټول سامان مالیت دوه کروړه جوړ شو. څه ډېر مال ماسره داسې دی چې ما خرڅولو او هم هغه مال مې بیا اخیستلو، ډېر مالونه داسې دي چې ټول کال خرڅ نه شو، دا معلومول غواړم چې موږ له کوم مال نه زکات ورکړو؟

۱: هغه چې دهغو ټول کال خرڅول اخیستل کېدل.

۲: هغه چې ټول کال پروت و او خرڅ نه شو.

۳: دهغه ټول کال د مال، چې دهغه حساب کولو نه وروسته دوه کروړه مالیت جوړ شو.

۴: زکات به د مال داخیستلو په قیمت باندې ادا کیږي، یا دخرڅلاو په قیمت باندې؟

جواب: زکات خو په پوره مال تجارت باندې فرض دی، که هغه خرڅیږي او که نه خرڅیږي، کم خرڅیږي او که زیات خرڅیږي اود زکات په حساب کولو کې نه داخستلو د قیمت اعتبار دی، نه د دخرڅولو د قیمت، بلکې چې په کومه ورځ باندې زکات ادا کوئ، دهغې ورځې د بازار د قیمت اعتبار دی، یعنې دهغه مال نن ورځ په بازار کې څه قیمت دی؟ دهغه مطابق به زکات ادا کیږي، والله اعلم [۳]

---

[۱] وقدمنا ثمة معزياً للنهر ان ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً. (الدرالمختار مع الرد/ج۶/ص۳۹۱).

[۲] فليس في دور السكنى وثياب البدن واثاث المنازل.......زكوٰة. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۲/كتاب الزكاة).

[۳] الزكوٰة واجبة في عروض التجارة كائنة ما كانت اذا بلغت قيمتها نصاباً من الورق والذهب. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۹/كتاب الزكاة/الباب الثالث في زكاة الذهب والفضة والعروض) لان الواجب الاصلي عندهما هو ربع عشرالعين وانما له ولاية النقل الى القيمة يوم الأداء فتعتبر قيمتها يوم الأداء (بدائع/ج۲/ص۲۲/كتاب الزكاة)

په میاشت کې زر روپۍ خرچ کونکي باندې زکات

سوال: زما والد صاحب ماته هره میاشت زر روپۍ د کور په کاته کې راکوي، کله نه چې ما دکان ته تګ شروع کړ، نو هغه دا پیسې مقررې کړې، د جیب خرچه ورته وایئ یا د کار مزدوري، ایا ما باندې زکات واجب دی؟

جواب: که چیرته تاسو د نصاب خاوند یئ، نو زکات واجب دی، که نه، نو واجب نه دی. [۱]

ایاله نصاب نه په زیات مال کې، د نصاب پنځمې برخې پورې معاف دی

سوال: ماسره یوازې د سرو زرو درې ګینې دي، دیوې وزن (۷۸) تولې، ددویمې (۲) تولې اوددریمې یوه توله او (۵) ماشې، ټول ۸۱ تولې او ۵ ماشې زیورات دي، زه غواړم چې یوازې دڅلوېښتمې په حساب سره ددوو تولوزکات ورکړم اوهغه داسې چې دوه تولې ګینه خپلې غریبې ترور ته ورکړم، ایاداسې کېدای شي؟ څه خلک وایي چې په (۱۷) ماشې باندې زکات معاف دی، ځکه چې دنصاب دپنځمې برخې نه کم دی، خو یو صاحب فرمايي چې په موجوده دورکې دزکات شرح دوه نیم فیصده شوې ده، دڅلوېښتمې اصطلاح منسوخ شوله، اوس به زه ددوه نیم فیصده په حصاب سره ټول نهه سوه اووه اویاماشې دوه نیم فیصده یعنی ۲۴،۴۲۵ ماشه ورکول وي، نه یوازې د ۲۴ ماشې یعنې ددوتولو؟ شک مې لرې کړئ؟

جواب: دوه نیم فیصده اوڅلوېښتمه برخه، خویوه خبره ده، اصطلاحات بدلیږي رابدلیږي، منسوخ شوی نه دی، په اصل کې په مسئله کې دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله اود صاحبینو (امام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله) اختلاف دی، چې دنصاب نه څه رقم (پیسې) زیاتې وي، نوپه زیات باندې زکات نشته، دحضرت امام صاحب په نزدچې دنصاب نه زیات پنځمه برخه شي، نوپه هغه باندې زکات شته، دنصاب او پنځمې برخې په مینځ کې په مالیت باندې نشته، دغه شان په پنځمې برخې نه پنځمې برخې پورې باندې زکات نشته، کله چې نوره پنځمه برخې شي، نوبیاپرې زکات لازمیږي.

صاحبین فرمايي چې دنصاب نه زیات څومره مالیت هم وي که کم وي اوکه زیات، په هغو باندې زکات شته، دحضرت امام صاحب دقول مطابق ستاپه ذمه یوازې د (۸۰) تولو زکات دی اوزیات مقدارکوم چې ۱۷ ماشې دي هغه دنصاب دپنځمې برخې نه کم دی په هغه باندې زکات نشته،خو دصاحبینوپه نزد داوولسوماشونه زیاتې باندې هم هغه حساب سره زکات واجب دی. [۲]

---

[۱] واما شروط وجوبها........الخ (منها كون المال نصاباً) فلا تجب فی اقل منه. (عالمګیري/ج۱/ص۱۷۲).

[۲] قوله ثم فی كل خمس بحسابه...... افاد المصنف انه لا شيء فيما نقص عن الخمس فالعفو من الفضة بعد النصاب تسعة وثلاثون فاذا ملک نصاباً وتسعة وسبعين درهما فعليه ستة...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

عواموله پاره زيات په باريکي کې تلل مشکل دي، دهغوی له پاره صحيح خبره داده چې دټول ماليت څلويښتمه برخه (يادوه نيم فيصده) دې اداکوي، لهذاته خپلې ترورته دوه تولې ورکړه، داد اتيا تولې زکات شولواويوه توله او۵ ماشې چې زياتې دي دهغه قيمت ولګوه اودهغه څلويښتمه برخه اداکړه.

سوال: زه دبزرګانونه اورم اوپه کتابونوکې لولم چې زکات په سرو زرو او چاندي (سپين زر) باندې دی، که چاسره روپۍ يانوټ وي، نوپه هغو باندې هم د سرو زرو، چاندي (سپين زر) حساب وکړئ، اوس بيا وګورئ چې دوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زر)، يااووتولوسروزروبرابرشواوکه نه ؟که شوې وي، نو دنصاب خاوند شوې اوڅلويښتمه برخه دزکات ورکړه، يعنې په (۴۰)يې تقسيم کړه او پاتې چې څه پاتې شي، نوکه هغه دنصاب دپنځمې برخې نه کم وي، نوهغه پرېږده په هغه باندې زکات معاف دی، ماسره مثلاً د(۱۲۰)تولې د چاندي (سپين زر) زيورات دي او(۴۵۰)روپۍ مې په بينک کې دي په کوموچې يوکال تيرشوی دی، اوس د ۴۵۰روپوما نهه تولې چاندي (سپين زر) د(۵۰) په شرح سره واخيستل. ګوياماسره ټوله (۱۲۹)تولې چاندي (سپين زر) يا ټولې (۲۴۵۰) نغدې روپۍ دي، که يوازې داچاندي (سپين زر) وګڼم او څلويښتمه برخه اداکړم، نويوازې درې تولې چاندي (سپين زر) يعنې (۱۵۰)روپۍ زکات واجب دی، (۹)تولې زياتوالی چې دنصاب دپنځمې برخې نه کم دی، دې باندې زکات واجب نه دی اوکه په دويمه طريقه يعنې (۲۴۵۰) روپۍ باندې ددوه نيم فيصده په حساب سره وباسم، نو۱۲۱روپۍ او ۲۵پيسې زکات راځي او ووايئ چې کوم يورقم (پيسې) ۱۵۰روپۍ، يا ۱۲۱روپۍ او۲۵پيسې صحيح دي؟

جواب: کوم سره زر يا چاندي (سپين زر) چې دنصاب نه زيات وي، مګردنصاب دپنځمې برخې نه کم وي په هغه باندې دزکات دواجب کېدو يا نه واجب کېدوکې اختلاف دی، داحتياط خبره داده چې داهم واجب وګڼي اوزکات پرې اداکړل شي، ددې له وجې نه ستاسوذکر شوي مثال کې ۱۲۱ روپۍ او۲۵پيسې اداکول پکاردي.[۱]

د نصاب نه په زياتوسروزروباندې زکات

سوال: که يوکس سره دنصاب نه زيات سره زر وي، نوپه دې صورت کې ايازکات په پوره مقدار باندې فرض دی يادنصاب نه په زيات مقدارباندې هم؟

...بقيه د تيرمخ]... والباقي عفو وهٰكذا ما بين الخمس الى الخمس عفو في الذهب وهٰذا عند ابي حنيفة وقالا يجب فيما زاد بحسابه من غير عفو......الخ. (البحرالرائق/باب زكوٰة المال/ج۲/ص۲۴۳/طبع دارالمعرفة/بيروت)۔

۱] تيره شوی حاشيه (قوله ثم في كل خمس بحسابه.......الخ) وګورئ!)۔

جواب: په پوره مقدارباندې[1] ځینې خلک زکات ته په انکم ټیکس (ماصول) باندې قیاس کوي اودا ګڼي چې دنصاب په کم مقدارباندې زکات نشته، ددې له وجې نه کله چې دنصاب نه زیات شي، نویوازې په زیات باندې زکات دی اودنصاب مقدارپه عدم زکات کې داخل دی، مګر دا خیال صحیح نه دی، هرڅومره چاندي (سپین زر)، سره زر یا روپۍ پیسې وي په دې ټولوباندې زکات لازم دی هرکله چې نصاب ته ورسیږي.

نوټ باندې زکات

سوال: په موجوده زمانه کې په ټولوملکونوکې دسکې په ځای کاغذي نوټ رائج دی، چې دهغه حیثیت داقرارنامې یاوعدې په شان دی، ایاکاغذي نوټ په سکه کې شماریدای شي؟که په سکه کې شماریدای نه شي، نوپه دې باندې زکات هم واجب نه دی، ځکه چې الله تعالی دوخت په مروجې سکې باندې زکات لازم کړی دی.

جواب: نوټ یاخوپه خپله سکه ده یادمالیت رسیددی، له دې وجې زکات په نوټونوباندې په هرحال کې لازم دی،خو نوټ سره زکات اداکولوکې لږ شان اختلاف په نظر راځي، ډیرو بزرګانو په نظر داپه خپله سکه نه ده، بلکې رسیددی، له دې وجې نه دې سره زکات نه ادا کیږي اود ځینواهل علم مطابق په اوس زمانه کې دې ته دسکې حیثیت حاصل دی، دې سره زکات اداکیږي، په اولني قول کې احتیاط زیات دی اوپه دویم قول کې سهولت زیات دی.[2]

زکات په زیاتي روپیوباندې وي په تنخواه باندې نه وي

سوال: فوځي (سپاهي) ته تنخواه ورکول کیږي، ددې سره سره د کورکرایه، د ټرانسپورټ کرایه، او داسې نور...هم ورکول کیږي(۱۳۰۰)پورې نغدې روپۍ اخلي، ایاپه دې رقم باندې زکات شته؟هرکله چې روپۍ په یوځای هغه ته راځي، خودیرپه مشکله ګزاره پرې کیږي.

جواب: زکات په زیات شوي رقم باندې دی، هرکله چې زیاتي رقم دوه پنځوس نیمې تولې چاندي (سپین زر) (۲۱۲،۳۵)ګرام مالیت پورې ورسیږي، کله چې څه زیا تیږي نه، نوپه دې باندې به څه زکات وي.

---

[1] تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم وفی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال...... وکذا فی حق الوجوب یعتبر ان یبلغ وزنها نصاباً ولایعتبر فیه القیمة بالاجماع.......الخ. (عالمګیري/ج۱/ص۱۷۸، ۱۷۹/الباب الثالث)۔

[2] د موجوده دور اکثرمفتیان په دې خبره متفق دي چه اوس دانوټ د قرض دستاویز (د مال درسید) حیثیت نه لري. بلکې په دې باندې د مروجه سیکو احکام جاري کیږي، تفصیل دپاره اوګوری:(فقهی مقالات/ج۱/ص۳۰/طبع میمن اسلامک پبلشرز/قاموس الفقه/ج۳/ص۵۷ تا ۶۶)

زکات په میاشتنی تنخواه باندې نه دی، بلکې په زیاتې مال کال تیریدو باندې دی

سوال: دخپلې تنخواه څومره فیصده رقم زکات کې ورکول پکاردي؟ زماتوله تنخواه پنځه سوه روپۍ ده؟

جواب: که زیاتي مال دنصاب برابرشي اوپه هغه باندې کال هم تیرشي، نودوه نیم فیصده زکات پرې واجب دی، که نه، نه دی واجب.[۱]

د تنخوا روپۍ چې ترڅوپورې وصول نه شي، زکات پرې نه شته

سوال: زه په یوه کمپنۍ کې کارکوم، په دې کمپنۍ باندې زماڅه رقم دتنخواه په مدکې واجب دی، دموجوده ښکاره صورتحال مطابق دهغه دملاویدوڅه خاص امیدنشته، خوکه دالله تعالی په فضل اوکرم سره دارقم ملاوشي، نوزما دا اراده ده چې په دې باندې دخپل ذاتي ضرورت له پاره یو کور یا ځمکه واخلم. (ماسره خپل ذاتي کور نه شته) ایاماته په دې باندې زکات اداکول پکاردي؟واضحه دې وي چې زماپه کمپنۍ باندې داروپۍ دیوکال نه واجب الادا دي.

جواب: دتنخوا روپۍ چې ترڅوپورې وصول شوی نه وي، په هغو باندې زکات نه شته[۲] د تنخواه رقم ملاویدونه وروسته په هغو باندې چې کال تیرشي، نوهلته به پرې زکات واجبیږي[۳] اوکه ته دمخکې نه صاحب نصاب یې، نوچې کله کال پوره شي، نودهغه سره به دتنخواه په وصول شوي رقم باندې هم زکات واجب الادا شي.[۴]

زکات کوم حساب سره اداکړو

سوال: داراته وفرمایئ چې زکات په جمع شوي رقم باندې اداکیږي مثلاً: یوه میاشت یوکس سره دوه زره روپۍ دي، دریمه یا څلورمه میاشت کې هغه پنځلس سوه پاتې شي اوکله چې کال

۱] تیره شوی حاشیه (تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم.......الخ) وګورئ!)_

۲] کتاب الزکوٰة....... واما شروط وجوبها....... ومنها الملک التام وهو ما اجتمع فیه الملک والید واما اذا وجد الملک دون الید کالصداق قبل القبض....... لاتجب فیه الزکوٰة. (فتاویٰ عالمگیري/ ج۱/ ص۱۷۲)_

۳] الزکوٰة.......هی واجبة والمراد بالوجوب الفرض.......علی الحر المسلم البالغ العاقل اذا ملک نصاباً فارغاً عن دین له مطالب وعن حاجته الاصلیة نامیاً ولو تقدیراً ملکاً تاماً وحال علیه الحول. (اللباب فی شرح الکتاب للمیداني/کتاب الزکوٰة/ج۱/ص۱۳۶). وفی الهندیة: ومنها حولان الحول علی المال العبرة فی الزکوٰة للحول القمری کذا فی القنیة. (فتاویٰ هندیة/ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکوٰة/الباب الاول فی تفسیرها وصفتها)_

٤] ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله وزکاه.......الخ. (عالمگیري/ ج۱/ص۱۷۵/وایضاً: فی الجوهرة النیرة/باب زکوٰة الخیل/ج۱/ص۱۲۳)_

مکمل شي. نو هغه پیسې ورسره دوه زره پنځه سوه وي، نو په دې باندې په کوم حساب سره زکات اداکول پکار دي؟ په تفصیل سره خبره وکړئ.

جواب: اول په دې اصولو باندې پوه شئ چې کوم کس لږ لږ پیسې جمع کوي ترڅوپورې چې دهغه جمعه شوې روپۍ ددوه پنځوس نیم تولو چاندي (سپین زر) مالیت پورې ونه رسیږي په هغه باندې زکات واجب نه دی اوکله چې جمعه شوې پیسې دومره مالیت پورې ورسیږي (اونوموړی دقرض نه فارغ وي) نوپه هغه تاریخ باندې هغه ته صاحب نصاب ویل کیږي، اوس دکال نه وروسته هم په دې قمري تاریخ باندې په هغه باندې زکات واجبیږي، دغه رخت کې چې هغه سره څومره جمعه شوی رقم وي په دې شرط چې دنصاب برابروي په هغه باندې به زکات اداکیږي[۱] دکال په دوران کې که پیسې کمېدې یا زیاتیدې، نودهغه اعتبارنشته، دکال په اوله کې او اخره کې دنصاب پوره کېدل شرط دي.[۲]

کاروبارکې لګول شویو روپیو باندې زکات واجب دی

سوال: زه په خپله په یوه کمپنۍ کې نوکري کوم، ددې سره سره مې څه پیسې دشراکت په کاروبار کې لګولي دي، چې هغه سره امدني (ګټه) کیږي، چې ورسره زموږ خرچې چلیږي اوڅه بچت زیات نه زیات لس دولس زره روپۍ سالانه هم پاتې کیږي، ایاپه کاروبارکې لګول شوي رقم باندې زکات ورکول واجب دي، هرکله چې موږ په زیات شوي رقم باندې دپوره کال زکات ورکوو؟

جواب: په کاروبارکې لګول شوي رقم باندې هم زکات شته.[۳]

راس المال اوګټې باندې زکات

سوال: زید پنځه زره روپۍ په جائزکاروبارکې لګولي دي، دکال تیریدونه وروسته به زید د څومره رقم زکات ورکوي؟ په اصل رقم باندې به زکات ورکوي، یادهغه مال په ټوله ګټه باندې چې په ټول کال کې یې ګټلې وي؟

جواب: دکال تیریدونه وروسته راس المال سره چې دګټې څومره روپۍ جوړیږي، هغوټولو باندې زکات واجب دی.[۴]

۱] د تیری شوی صفحی حاشیه (الزکوٰۃ.....هی واجبة والمراد...الخ) اوګوری!)۔

۲] واذاکان النصاب کاملاً فی طرفی الحول فنقصانه فیما بین ذٰلک لا یسقط الزکوٰۃ کذا فی الهدایة. (عالمګیري /ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکاۃ/الباب الاول)۔

۳] الزکوٰۃ واجبة فی عروض التجارة کائنة ما کانت ازا بلغت قیمتها نصاباً من الورق والذهب کذا فی الهدایه. (عالمګیري/ج۱/ص۱۷۹/الباب الثالث فی زکاة العروض)۔

۴] ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

خرڅېدونکي مال او ګټې دواړو باندې زکات واجب دی

سوال: زه تقریبا ددریوکلونو را هیسې دکان کوم، ددکان دشروع کولووخت خوزیات وشو. خو اول دماشومانوسامان او داسې نور... څیزونه و، زماسوال دادی چې ماکله هم زکات نه دی ورکړی، تاسوماته ووایئ چې زه څنګه زکات ورکړم؟ ددکان په پوره مال باندې زکات دی؟ یاددې په کلنۍ ګټې باندې؟ددې نه مخکې مازکات نه دی ورکړی دهغه څه وکړم؟ځکه چې مادوالدصاحب دحج فارم هم ډک کړی دی اوپه هغه کې مې هم څه روپۍ ورکړې دي.

جواب: ستاپه دکان کې چې څومره دخرڅلاو وړسامان دی، دهغو حساب ولګوه اوګټه هم ورسره یوځای کړه اوپه کال تیریدوباندې پرې زکات ورکړه اوددې سره سره چې په کورکې کوم قابل زکات شیان وي دهغوزکات هم ددې سره اداکړه[۱] دتیروشویوکلنو زکات هم ستاپه ذمه واجب الادادی، دهغو هم حساب وکړه اوادا یې کړه[۲]، دکال په دوارن کې چې څومره روپۍ دکورپه ضرورتونو کې خرچ کیږي په هغو باندې زکات نه شته.[۳]

کاروبارکې دقرضې بیلولو نه وروسته زکات ورکړه

سوال: صورت حال دادی چې زه دسپیرپارټس (دموټرو د پرزو) کاروبارکوم، زه دکراچۍ نه مال راوړم اومخکې وړو وړوکلیو ته سپلایي(رسد) کوم، له چانه چې مال اخلم دهغه په ما باندې تقریبا (۳۰۰۰۰) روپۍ قرض دی اوپه نورو باندې زماقرضه تقریبا (۱۸۰۰۰)روپۍ ده او ما سره تقریبا د(۸۰۰۰۰)روپیومال موجود دی، سوال دادی چې زه څنګه زکات اداکړم؟ یوځای کې مالوستلي دي چې دټولو روپیو نه چې قرض وویستل شي اوڅه باقي پاتې شي په هغو باندې زکات ورکول پکاروي، خوهغه روپۍ چې زما په نوروباندې قرض وي دهغه له پاره

...بقیه د تیرمخ]... وزکاه سواء کان المستفاد من نمائه او لا وبأی وجه استفاد ضمه سواء کان بمیراث او هبة او غیرذلک. (الجوهرة النیرة/ ج۱/ ص۱۲۳/ کتاب الزکاة/وایضاً فی الفتاوی الهندیة/ ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکاة/الباب الاول فی تفسیرها)

۱] تیره شوی حاشیه (الزکوٰة واجبة فی عروض التجارة....الخ) او وړیسی حاشیه (ومن کان له نصاب فاستفاد...الخ) اوګورئ!۔

۲]وسبب لزوم ادائها توجه الخطاب یعنی قوله تعالی أتواالزکوٰة. ای الخطاب المتوجه الی المکلفین بالأمر بالأداء. (شامي/ج۲/ص۲۶۷). ایضاً: وشرطه ای شرط آفتراض ادائها حولان الحول وهو فی ملکه وثمنیة المال کالدراهم والدنانیر لتعینهما للتجارة بأصل الخلقة فتلزم الزکوٰة کیفما امسکهما...... الخ. (الدرالمختار/ ج۲/ ص۲۶۷/ وایضاً فتاوي دارالعلوم دیوبند/ج۶/ص۴۴/طبع دیوبند)۔

۳] وشرط فراغه عن الحاجة الأصلیة، لان المال المشغول بها کالمعدوم وفسرها فی شرح المجمع لابن الملک بما یدفع الهلاک عن الانسان.....کالنفقة ودورالسکنی......الخ. (البحرالرائق/کتاب الزکوٰة/ ج۲/ص۲۲۲)۔

څه حکم دی؟ او هغه رقم چې ما قرض کړی دی؟

جواب: څومره مالیت چې تاسره دی، که دنغدو په صورت کې وي یا د تجارت د مال په شکل کې او یا هغه قرضې چې ستا د خلکو په ذمه دي هغه دې ټول جمعه شي، د دې مجموعي رقم نه دې هغه قرضې لرې کړل شي چې ستا په ذمه دي، له دې نه وروسته چې څومره رقم پاتې شي د هغو زکات ورکړه[1] په مسئوله صورت کې ستا په ذمه د (۲۸۰۰۰) روپیو زکات واجب دی.

د خرڅېدو وړ مال د قیمت نه دې قرض لرې شي او زکات دې ورکړل شي

سوال: زید د قرض په پیسو باندې یو دکان خلاص کړ، د کال پوره کېدو باندې حساب لګولو نه وروسته د (۹۵۰۰۰) روپو مال موجود دی، هر کله چې په شروع کې د (۱۰۰۰۰۰) روپیو مال اچولی و او هغه قرض چې په دکان باندې دی (۲۰۰۰) روپۍ پاتې دی او نغدې (۲۰۰۰) روپۍ پرتې دي، نو ایا په نوموړي باندې زکات واجب دی او که نه؟ او که واجب وي، نو څومره؟

جواب: د څومره مالیت د خرڅلاو وړ سامان چې دی، د هغه د قیمت نه دې قرض لرې شي او له پاتې رقم سره دې (۲۰۰۰) روپۍ جمعه شي او د هغو دې زکات ادا کړل شي.[2]

د صنعت په هر قابل فروخت مال باندې هم زکات شته

سوال: د صنعت په سلسله کې کوم سامان د زکات نه مستثنی دی او په کوم باندې زکات واجب دی؟

جواب: د صنعت کار و بار کې دوه قسمه مال وي، یو خام مال، چې د شیانو په جوړولو کې په کار راځي او دویم تیار شوی مال، دې دواړه قسمه مالونو باندې زکات شته، خو مشینري (ماشینونه) او هغه نور شیان چې د کومو په ذریعه د مال تیارېږي په هغو کې زکات نه شته.[3]

---

[1] ومن كان عليه دين يحيط بماله فلا زكوٰة عليه....... وان كان ماله اكثر من دينه زكى الفاضل اذا بلغ نصاباً بالفراغ عن الحاجة والمراد به دين له مطالب من جهة العباد. (الهداية مع شرح البناية/ج۴/ ص۱۷،۱۶/ كتاب الزكاة/طبع مكتبه حقانيه/ وهٰذا فى فتح القدير/ج۱/ص۴۸۶/كتاب الزكاة/طبع دار صادر/بيروت)۔

[2] ومديون العبد بقدر دينه، فيزكى الزائد ان بلغ نصاباً........الخ. (قوله ومديونا لعبد) الاولي: ومديون بدين يطالبه به العبد. (ردالمحتار مع الدرالمختار/كتاب الزكوٰة/ج۲/ص۲۶۳). نيز تيره شوى حاشيه (ومن كان عليه دين يحيط بماله...الخ) اوګورئ!۔

[3] الزكوٰة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذا بلغت قيمتها نصاباً من الورق والذهب كذا فى الهداية. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۵/كتاب الزكاة). وكذلك (لازكوٰة فى) الات المحترفين الا ما بقى اثر عينه كالعصفر لدبغ الجلد ففيه الزكوٰة. (الدرالمختار/ج۲/ص۲۶۵)، وايضاً: ومنها فراغ المال عن حاجته الأصلية فليس فى دور السكني.......وسلاح الاستعمال زكوٰة....... وكذا....... الات المحترفين، وهٰذافى الالات التى ينتفع بنفسها ولا يبقى الرها فى المعمول. (الفتاوى العالمگيرية/ ج۱/ص۱۷۲/طبع رشيديه/ وايضاً فى البحر/ج۲/ ص۲۲۲/ ردالمحتار/ج۲/ص۲۶۵)۔

د کال په دوران کې چې هر څومره مال راځي، خو زکات د کال په اخر کې په موجود مال باندې دی

سوال: دزکات له پاره په رقم یامال باندې پوره کال تیریدل ضروري دي، هرکله چې په مال تجارت کې دګټې سره څومره زیادت کیږي په هغو ټولوباندې دپوره کال وخت نه تیریږي، مثلاً یوکس سره دجنوري (۸۴) پورې ټوله سرمایه شل زره روپۍ وي، چې درې میاشتې وروسته نږدې دویشت زره روپۍ شوې، شپږ میاشتې وروسته پنځویشت زره روپۍ شوې، نهه میاشتې تیریدوباندې ۲۸۰۰۰ روپۍ شولې اوددولسمې میاشتې په ختمېدوباندې ۳۰۰۰۰ روپۍ شوې، اوس زکات په کوم رقم باندې واجب دی؟

هرکله چې هغه کس همیشه دخپل زکات اونورې امدني حساب دشمسي کال په اخر کې کوي؟

جواب: دلته دوه مسئلې دي، یوه داچې زکات کې دقمري کال اعتبار دی، دشمسي کال اعتبارنه دی[1]، اوس یاخوحساب دقمري کال په حساب سره کول پکاردي اوکه دشمسي کال په حساب سره حساب کول لازمي وي، نود لسو ورځو مزیدزکات ورکول پکاردي.

دویمه مسئله داده چې دقمري کال په ختمېدوباندې دهغه سره چې څومره مال وي په هغو ټولوباندې زکات واجبیږي، مثلاً: دچادزکات کال داول محرم نه شروع کیږي اودراتلونکي کال په اول محرم چې دهغه سره څومره مال وي دهغه دې زکات اداکړي، که څه هم په هغه کې څه برخه دوه میاشتې وړاندې ملاوشوي وي یادوه ورځې مخکې: غرض داچې دټول کال په دوان کې چې څومره مال راځي په هغه باندې دټول کال دتیریدوحساب نه لګول کیږي، بلکې کله چې په اصل نصاب باندې کال پوره شي، نوچې دکال په اخرکې څومره سرمایه وي په هغه ټوله سرمایه باندې زکات واجب شي، که څه هم دهغه په څه برخه باندې کال پوره شوی نه وي.[2]

کله چې د نصاب برابر مال باندې کال تیرشي نوزکات پرې واجبیږي

سوال: عمریوداسې کاروبارکوي چې هغه ته روزانه دسلوروپوبچت کیږي، هغه داسل روپۍ په بینک کې ږدي، مثلاً: عمردلسم رجب نه روپۍ جمعه کول شروع کړې و او په دویم کال په لسم رجب باندې چې کله هغه حساب وکړ، نوتقریباً (۳۶۰۰۰) روپۍ وې، اوس په دې پیسو کې درمضان اوشوال پیسې هم شاملې دي، په کوموچې تراوسه پورې لاکال نه دی تیرشوی، اوس

---

[1] العبرة فی الزکوٰة للحول القمری کذا فی القنیة. (فتاویٰ عالمگیري/ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکاة)_

[2] ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله وزکاه سواء کان المستفاد من نمائه اولا، وبأی وجه استفاد، ضمه سوائً کان بمیراث اوهبة اوغیر ذلک. (الجوهرة النیرة/ج۱/ ص۱۲۳/ کتاب الزکاة/وایضاً الفتاوی الهندیة/ج۱/ص۱۷۵/کتاب الزکاة/الباب الاول فی تفسیرها وصفتها)_

سوال دادی چې عمربه د (۳۲۰۰۰) روپیو باندې په یوځای زکات ورکوي یادلسم رجب نه به دوه نیمې روپۍ روزانه باسي؟ ځکه چې د هغه روزانه بچت سل روپۍ دي، ایاپه یوځای زکات ورکولوسره به دراتلونکي رجب پورې دزکات مستثنی شي او دغه شان د هغه زکات به اداشي، هرکله چې دزکات په مال باندې کال تیریدل شرط دي؟

جواب: کله چې په نصاب باندې کال پوره شي، نودکال نه وروسته چې هرځومره روپۍ وي په هغو باندې زکات واجب دی، که څه روپۍ په مینځ کې حاصلې شوې وي اودپوره کال دزکات حساب په یوځای کیږي، دبیلوبیلو ورځوحساب نه کیږي[۱] مثلاً: تاسوچې کوم صورت لیکلی دی چې یوکس په لسم رجب باندې سل روپۍ روزانه جمعه کول شروع کړل او اینده کال ته لسم رجب باندې د هغه سره (۳۲۰۰۰)روپۍ شوې، دده کال به هغه وخت شروع کیږي کله چې هغه سره دومره پیسې جمعه شي چې ددوه پنځوس نیمې تولې(۶۱۲،۳۵ ګرام) چاندي (سپین زر) مالیت برابرشي. په کوم تاریخ باندې چې دومره مالیت جمعه شي د هغه نه وروسته بل کال په همدغه تاریخ په جمعه شوي رقم باندې به زکات د هغه په ذمه واجب شي.

زکات داټکل له مخې ورکول صحیح نه دي

سوال: ددکان زکات داټکل له مخې ورکول جائزدي اوکه نه؟یعنې که ټوکر وي، نوهغه دې پوره ناپ کړل شي یا داټکل له مخې دې ناپ کړل شي؟

جواب: زکات پوره حساب کولونه وروسته ورکول پکاردي، که اندازه کمه وه، نودزکات فرض به یې په ذمه پاتې شي اوکه په پوره طورسره حساب لګول ممکن نه وي، نوزیاته اندازه لګول پکاردي.[۲]

یو خاص مقصد له پاره د نصاب په اندازه مال باندې زکات

سوال: که مادنصاب دمقدار برابر رقم دخاص مقصدله پاره یعنې دخور وغیره دواده له پاره اینبې وي، نوپه هغه باندې هم زکات واجب دی؟

۱]وشرط کمال النصاب......فی طرفی الحول فی الابتداء للانعقاد وفی الانتهاء للوجوب. (الدرالمختار/ ج۲/ ص۳۰۲/کتاب الزکاة/ وایضاً فی الحاشیة الطحطاوی علی الدرالمختار/ج۱/ص۴۰۹/ طبع رشیدیه). ایضاً: ومنها حولان الحول علی المال، العبرة فی الزکاة للحول القمري، کذا فی القنیة. (عالمګیري/ج۱/ص۱۷۵)۔

۲] المال الذی تجب فیه الزکوٰة ان ادی زکوٰته من خلاف جنسه ادی قدر قیمة الواجب اجماعاً. (عالمګیري/ ج۱/ص۱۸۰/کتاب الزکاة/ وایضاً فتاویٰ دارالعلوم دیوبند/ج۶/ص۴۴/طبع دیوبند). ایضا: انه یتحری فی مقدار المؤدی کما لوشک فی عدد الرکعات فما غلب علی ظنه انه اداه سقط عنه وادی الباقي......الخ. (شامي/ج۲/ص۳۹۵)۔

جواب: هو، واجب دی [۱]

که چا سره پنځه زره روپۍ او د نصاب نه کم سره زر وي، نو د زکات حکم

سوال: زکات په چا باندې فرض دی؟ که یو کس سره پنځه زره روپۍ او د نصاب نه کم سره زر وي، نو ایا په دې باندې به زکات واجب وي؟ او که وي، نو څومره؟

جواب: پنځه زره روپۍ او سره زرچې دواړه یوځای شي، نو ددوه پنځوس نیمې تولې (۳۵ء ۶۱۲) ګرام چاندي (سپین زر) نه د مالیت نه ډیرې زیاتي دي، له دې وجې نه په دې کس باندې زکات فرض دی[۲] ده ته پکار دي چې د سرو زرو د نن ورځې قیمت معلوم کړي او ورسره پنځه زره روپۍ جمعه کړي او ددوه نیم فیصده په حساب سره زکات ادا کړي.[۳]

د ګینې زکات د خرڅلاو په قیمت باندې

سوال: واجب زکات د سرو زرو په قیمت باندې څنګه ولګول شي؟ ایا د بازار په موجود د خرڅېدو قیمت باندې (په کوم چې زرګران خرڅوي) یا هغه قیمت ولګول شي چې که موږ خرڅول وغواړو، نو راته ملاوشي (کوم چې زرګر ادا کړي)

جواب: په کوم قیمت باندې چې ګینه خرڅیدای شي په هغومره قیمت باندې زکات واجب دی.[۴]

۱] (وشرط وجوبها العقل والبلوغ والاسلام والحرية)....... وملک نصاب حولی فارغ عن الدين وحوائجه الاصلية نام ولو تقديراً لانه عليه السلام قدرالسبب به وقد جعله المصنف شرط للوجوب مع قولهم ان سببها ملک مال معد مرصد للنماء والزيادة فاضل عن الحاجة الاصلية كذا فى المحيط. (البحرالرائق/ ج۲ /۲۱۸/كتاب الزكاة/وكذا فى الهندية/ج۱/ص۱۷۲/كتاب الزكاة/ تبيين الحقائق/ج۲/ص۱۸/كتاب الزكاة)۔

۲] وتضم قيمة العروض الى الذهب والفضة وكذا يضم بعضها الى بعض وان اختلفت اجناسها وكذلک الذهب الى الفضة بالقيمة حتى يتم النصاب عند ابى حنيفة كما اذا كان معه مائة درهم وخمسة مثاقيل قيمتها مائة درهم فعليه الزكوٰة عندابى حنيفة..الخ.(الجوهرة النيرة/ج۱/ص۱۲۸/كتاب الزكاة/كذافى الشامي/ج۲/ص۳۰۴/باب زكاة المال)

۳] وجاز دفع القيمة فى زكوٰة....... وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء، وفى السوائم يوم الأداء اجماعاً وهو الاصح، ويقوم فى البلد الذى المال فيه (قوله وهو الاصح).......وفى المحيط يعتبر يوم الاداء بالاجماع وهو الاصح، فهو تصحيح للقول الثانى الموافق لقولهما، وعليه فاعتباريوم الأداء يكون متفقا عليه عنده وعندهما.(درمختارمع ردالمحتار/كتاب الزكوٰة/ج۲/ص۲۸۶/باب زكاة الغنم)

٤] المال الذى تجب فيه الزكوٰة ان ادى زكوٰ ته من خلاف جنسه ادى قدر قيمة الواجب اجماعاً. عالمگيري/ ج۱/ ص۱۸۰/كتاب الزكاة/الباب الثالث فى زكاة الذهب والفضة)۔

د ګېنې د زکات شرح

سوال: ۱ د ښځو په ګېنې باندې د زکات شرح څه ده؟

۲ د ګېنې قیمت د بازار په موجود په نرخ باندې ولګول شي یا په کوم قیمت چې اخیستل شوي دي؟

۳ که د اوو تولو نه زیات د سرو زرو زیورات وي، نو په پوره ګېنه باندې به زکات وي یا اوو تولو به ددې کمیږي.

جواب: د سرو زرو او چاندي (سپین زر) قیمت دې ولګول شي او ددوه نیم فیصده په حساب سره دې زکات ورکړل شي، قیمت دې دزکات د واجب کېدو په ورځ په بازار کې معلوم کړل شي[۱]، په پوره ګېنه باندې به زکات وي داوو تولو نه په کم باندې نه.[۲]

استعمالېدونکې ګېنې باندې زکات

سوال: هغه ګېنه چې عموماً ښځې په استعمال کې وي ایا په هغې باندې زکات شته او که نه؟ ځکه د استعمال والا شیانو باندې زکات نه شته، زما یو خپلوان په جده کې اوسیږي د هغه بیان دی چې د جدې عرب خلک د ګېنې زکات نه ورکوي او وایي چې دا د روزمره استعمال شی دی.

جواب: د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد په داسې ګېنه باندې هم زکات شته کوم چې په استعمال کې وي، د عربو په مسلک کې به نه وي.[۳]

ګېنه او اشرفۍ باندې زکات واجب دی

سوال: ما سره د سرو زرو او چاندي (سپین زرو) ګېنه ده کومه چې زیر استعمال ده او څه سره زر او چاندي (سپین زر) په خپل اصلي حالت یعني د اشرفیو په صورت کې دي او ایا زکات د دواړو قسمه په سرو زرو چاندي (سپین زر) باندې دی یا یوازې د اشرفۍ په شکل کې په سرو زرو چاندي (سپین زر) باندې؟ د ځینو خلکو خیال دی چې په زیر استعمال ګېنې باندې زکات نه شته؟ اصل صورت حال نه مې خبر کړئ؟

---

[۱] وان ادى القيمة تعتبر قيمتها يوم الوجوب....الخ.(عالمگيري/ج۱/ص۱۸۰/ الباب الثالث فى زكاة الذهب)

[۲] تجب فى كل ماتى درهم خمسة دراهم وفى كل عشرين مثقال ذهب نصف مثقال مضروبا كان اولم يكن مصوغا اوغير مصوغا حلياً كان للرجال او للنسآء تبراً كان او سكة كذا فى الخلاصة، عالمگيرى ج۱ ص۱۷۸ كتاب الزكوٰة، الباب الثالث/كذا فى الدرالمختار/ج۲۹۸/۲/باب زكاة المال)۔

[۳] وفى تبرالذهب والفضة وحليها والانية منهما زكوٰة التبر التى اخرجت من المعدن وهو غيرالمضروب قوله و حليها وقال الشافعى كل حلى معد للباس المباح لاتجب فيه الزكوٰة.(الجوهرة النيرة/ج۱/ص۱۲۶/كتاب الزكاة)

جواب: په ستعمالېدونکې ګېنې باندې هم زکات شته، لهذا په صورت مسئوله کې په دواړو باندې زکات واجب دی یعنې په ګېنه هم او په اشرفیو هم.[۱]

دګېنې په غمي باندې زکات نه شته،

خو کوټه (ادنی) سرو زرو کې شمارېږي

سوال: ایا زکات به په خالص سرو زرو باندې لګوو. یا په ګېنه کې چې کوم غمي وغیره شامل وي دهغه غمي وزن هم ورسره شاملولو سره زکات ورکول لازم دي؟ همدغه شان د کوټه سرو زرو (ادنی) څه مسئله ده؟

جواب: په سرو زرو کې چې کوم غمي وغیره لګول کېږي په هغو باندې زکات نه شته[۲]، ځکه چې هغه ځانته کېدای شي، خو څوک چې پکې کوټه (ادنی) هغه به د سرو زرو په وزن کې شمارېږي[۳]

ددې کوټه سروزرو چې په بازارکې څه قیمت وي دهغه په حساب سره دې زکات ورکړل شي.[۴]

د سرو زرو زکات

سوال: زکات چې د مال دځلویښتمې برخې په صورت کې اداکېږي، راتلونکی کال که په مال کې اضافه ونه شوه، نو ایا ادا شوي مال باندې کم ورکول کېږي؟ مثلاً: په اوونیم تولې سرو زرو باندې زکات واجب دی، دموجوده قیمت په حساب سره دوه نیم فیصده اداکړم، فرض کړئ چې د سرو زرو مالیت ۱۵۰۰۰ دی، اوددوه نیم فیصده په حساب سره ۳۲۵ روپۍ جوړېږي. اوس آینده کال هرکله چاماسره زر داوونیم تولو نه زیات نه شول، نو آیا په دې سرو زرو باندې به زکات وي، کوم چې ما د(۳۲۵) روپیو په صورت کې تیرکال اداکړی

۱] تیره شوی حاشیه (وفی تبرالذهب والفضة وحلیها والانیة....الخ) اوګورئ!)۔

۲]لا زکوٰة فی اللالی والجواهر وان ساوت الفا اتفاقاً الا ان تکون للتجارة والاصل ان ماعداالحجرین والسوائم انما یزکی بنیة التجارة... الخ. (الدرالمختار/ج۲/ص۲۷۳/کتاب الزکاة/وایضاً فی الهندیة/ ج۱/ ص۱۸۰/ کتاب الزکاة)

۳] الدراهم اذا کانت مغشوشة فان کان الغالب هوالفضة فهی کالدراهم الخالصة وان غلب الغش فلیس کالفضة کالستوقة فینظر ان کانت رائجة او نوی التجارة اعتبرت قیمتها فان بلغت نصاباً من ادنی الدراهم التی تجب فیها الزکوٰة وهی التی غلبت فضتها وجبت فیها الزکوٰة. (فتاویٰ عالمګیري/ج۱/ص۱۷۹/کتاب الزکوٰة/الباب الثالث فی زکاة الذهب والفضة)۔

٤] ایضاً، نیز تیره شوی حاشیه (وان ادی القیمة تعتر قیمتها...الخ) او ورپسی حاشیه(تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم...الخ) اوګورئ!)۔

دی (ځکه چې د مال ځلوېښتمه برخه وتلې ده) بیادې کال کې هم داوونیم تولو زکات ورکړم؟ زما ترور کونډه ده، د هغې سره داوونیمو تولو نه زیات سره زر دي، ایا په هغې باندې زکات واجب دی؟ هغه د زکات روپۍ اخستلی شي؟ ایا د هغې یتیمې لور (نابالغه) ته د زکات روپۍ ورکول صحیح دي؟

جواب: د کال پوره کیدونه پس چې سړی سره څومره مالیت وي په هغه زکات لازم راځي[۱] ستاسو په لیکل شوي صورت کې تا داوونیم تولې سرو زرو (۳۲۵) روپۍ زکات دا کال اداکړی دی، خو د سرو زرو دامقدار خوتاسره محفوظ دی او د کال پوره کیدوپورې به محفوظ وي له دې وجې آینده کال به هم ددې په پوره مالیت باندې زکات لازم وي،[۲] خو که د سرو زرو څه برخه په زکات کې اداکړل شي او پاتې سره زر د نصاب د مقدار برابر نه وي، نو په دې صورت کې به دا کتل کیږي چې ددې سرو زرو نه پرته تاسره څه داسې شی خو نه شته په کوم چې زکات فرض دی، مثلاً نغدې روپۍ، د تجارت مال، د کمپنۍ برخې او داسې نور... که د سرو زرو نه پرته بل څه داسې شی موجود وي په کوم چې زکات راځي او هغه د سرو زرو سره یوځای شي، نصاب ته رسیږي نو زکات فرض کیږي[۳] ستا ترور سره که اوونیم تولې سره زر موجود دي نو په هغې باندې زکات فرض دی، هغې ته زکات ورکول جائز نه دي[۴]، یتیمه نابالغه انجیلۍ که د نصاب مالکه نه وي، نو هغې ته زکات ورکولی شئ.[۵]

د سرو زرو د زکات کال په کال شرح

سوال: فرض کړه ما سره د نصاب سره زر (۸) تولې دي، ما داتو تولو زکات اداکړ، اینده کال پورې ما په دې کې هیڅ اضافه ونکړله او د تیر کال زکات چې ترې وویستل شي، نو اوس دا سره زر کم دي، یعنې موجوده خو اته تولې ده، خو ما داتو تولو ځلوېښتمه برخه اداکړې ده، نو چې دې

۱] الزكوٰة واجبة على الحر المسلم البالغ العاقل اذا ملك نصاباً فارغاً عن دين له مطالب وعن حاجته الأصلية نامياً ولو تقديراً ملكاً تاماً وحال عليه الحول..... الخ.(اللباب فى شرح الكتاب/كتاب الزكوٰة/ ج١/ ص١٣٦)۔

۲]وشرطه اى شرط آفتراض ادائها حولان الحول وهو فى ملكه وثمنية المال كالدراهم والدنانير لتعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما امسكهما.........الخ (الدرالمختار/ج٢/ص٢٦٧/كتاب الزكاة)۔

۳](قوله عكسه) وهو ضم الفضة الى الذهب، وكذا يصح العكس فى قوله وقيمة العرض تضم الى الثمنين. (الدرالمختار/ج٢/ص٣٠٣/باب زكاة المال)۔

٤]ولا (يصرف) الى غنى يملك قدر نصاب فارغ عن حاجة الاصلية.......الخ (الدرالمختار/ج٢/ص٣٤٧)۔

۵] ولا يجوز دفعها الى ولد الغنى الصغير كذا فى التبيين. (عالمگيري/ج١/ص١٨٩). ولا الى طفله.... ....الخ. اى الغنى فيصرف الى البالغ ولو ذكرا صحيحاً قهستاني، فافاد ان المراد بالطفل غير البالغ ذكراً كان او انثى فى عيال ابيه اولا على الاصح لما انه يعد غنيا بغناه نهر. (شامي/ج٢/ص٣٥٠/باب المصرف)

داڅلويښتمه برخه ترې اوويستل شي، نوبيابه نصاب جوړيږي ياهرکال به په اتوتولوباندې زکات ورکول وي؟ وضاحت وکړئ؟

جواب: تيرکال تاسره اته تولې سره زر و، تادهغو زکات دخپل طرف نه په پيسوکې اداکړو اوسره زردرسره هماغه شان اته تولې محفوظ پاتې شول، نواينده کال به هم په دې باندې زکات واجب وي[۱] اوکه تا سره زر په زکات کې ورکړي وي اود سرو زرو مقداردااوونيم تولې نه کم شوی وي اوتاسره نوره څه داسې مال نه وي په کوم چې زکات راځي، نوبه دې صورت کې پرې زکات نه واجبيږي.[۲]

په ګينه باندې د تيروشويوکلونوزکات

سوال: ماسره لس تولې ګينه ده، چې ماته په جهيزکې ملاوشوې وه، اوس موږ سره دومره پيسې نه شته چې موږ ددې زکات اداکړو، زموږ دواده هم تقريبا شل کاله شوي دي په دې دوران کې موږ هيڅ يوکال زکات اداکړی نه دی، اوس زه غواړم چې داسره زر دخپلوزامنوپه نوم پنځه پنځه تولې تقسيم کړم، نوايادغه شان په پنځوتولوباندې به زکات ورکول واجب وي په دې باره کې په تفصيل سره ځواب راکړئ چې داجائزدي اوکه نه؟

جواب: دتيريوشويوڅومره کلونو زکات چې تا نه دی ورکړی هغه سره زر خرڅ کړه اواداېې کړه[۳]. اينده که ته خپلو زامنوته يې هبه کوې، نوبه هغو باندې به زکات نه وي، ستا زامن که دنصاب خاوندان شول، نوزکات به په هغوی باندې وي، که نه، نه به وي،[۴] خوزامنوته دهبه کولونه وروسته به ستادې ګينې سره هيڅ تعلق نه وي.

پنځه پنځه تولې سره زر چې د ماشومانوپه نومونوشي اوهغوی

۱] تيره شوی حاشيه (الزكوٰة واجبة على الحر المسلم البالغ.....الخ) اوګورئ!)_

۲] ومديون للعبد بقدر دينه فيزكى الزائد ان بلغ نصاباً (قوله مديون للعبد) الاولى ومديون بدين يطالبه به العبد يشمل دين دين الزكوٰة والخراج لانه لله تعالى مع انه يمنع لان له مطالباً من جهة العباد. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ج۱/ص۲۶۳)_

۳]وسبب لزوم ادائها توجه الخطاب يعنى قوله تعالى أتواالزكوٰة. اى الخطاب المتوجه الى المكلفين بالأمر بالأداى. (شامي۸ ج۲/ص۲۶۷/كتاب الزكاة). ايضاً: وشرطه اى شرط آفتراض ادائها حولان الحول وهو فى ملكه وثمنية المال كالدراهم والدنانير لتعينهما للتجارة باصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما امسكهما.....الخ (الدر المختار/ج۲/ ص۲۶۷/كتاب الزكاة/طبع ايچ ايم سعيد/وايضاً فتاوىٰ دارالعلوم ديوبند/ج۶/ص۴۴/طبع ديوبند)

٤]ايضاً، نيز الزكوٰة واجبة على الحر المسلم البالغ العاقل اذا ملك نصاباً فارغاً عن دين له مطالب وعن حاجته الأصلية نامياً ولو تقديراً ملكاً تاماً وحال عليه الحول..الخ.(اللباب فى شرح الكتاب/كتاب الزكوٰة/ج۱/ص۱۳۶)

سره سپین زر او پیسې هم نه وي نو په هیڅ هم زکات نه شته

سوال: که یو کس دخپلو لونو په نومونو جدا جدا پنځه، پنځه تولې ګینه کیږدي چې دهغوی د واده په کار راشي، نوشرعا داځنګه ده؟ ایا په مجموعه باندې به زکات واجبیږي یاجداجدا کېدو په صورت کې پرې نه واجبیږي؟

جواب: ګینه دجینکو په نوم شوې ده له دې له وجې هغوی ددې مالکانې جوړې شوې، ځکه ددې کس په ذمه ددې زکات نه شته اوهرې ماشومې ملکیت دنصاب دحدنه کم دی له دې وجې نه دهغوی په ذمه هم زکات نه شته[1] خوکومه انجیلۍ چې بالغه وي اودهغې سره ددې ګینې نه پرته څه نغدې پیسې هم وي، که څه هم دهغو مقدارکم وي اوپه هغو باندې کال تیرشي. نوپه هغې انجیلۍ باندې به زکات لازم وي، ځکه چې کله د سرو زرو او سپینو زرو سره څه نغدې پیسې یوځای شي اودمجموعې قیمت ددوه پنځوس نیم تولې چاندي (سپین زر) برابرشي. نوزکات پرې فرض کیږي[2] اوکومه انجیلۍ چې نابالغه وي دهغې په ملکیت باندې زکات نه شته، ترڅوپورې چې بالغه شوې نه وي.[3]

مخکېنی زکات که معلوم نه وي، نو د اټکل له مخې یې اداکول جائزدي

سوال: که زکات واجب وي اودکم علمي له وجې نه وي ادا شوی دزکات دنه اداکیدو وخت خومعلوم وي، هرکله چې دزکات پوره حساب کول ګران وي ، ځکه چې دهغه وخت د سرو زرو قیمت معلومول ناممکن نه وي. خوګران وي. نوبیازکات څنګه اداکېدای شي؟اوکه دامو ده د ۱۹۷۰نه وي نوبیا؟

جواب: په دې صورت کې تخمین په اندازې سره لګېدای شي چې تقریبا دومره رقم واجب الاداکیږي احتیاطا داندازې نه لږ شان زیات ورکړئ.

---

[1] باب زكوٰة الفضة: ليس فيما دون مائتى درهم صدقة لعدم بلوغ النصاب فان كانت ماتى درهم شرعي ... وحال عليها الحول ففيها ربع العشر خمسة دراهم. (اللباب فى شرح الكتاب/ج۱/ص۱۴۳/كتاب الزكوٰة)

[2] وتضم قيمة العروض الى الذهب والفضة وكذا يضم بعضها الى بعض وان اختلفت اجناسها وكذلك الذهب الى الفضة بالقيمة حتى يتم النصاب عند ابى حنيفة........الخ. (الجوهرة النيرة/ج۱/ص۱۲۸/كتاب الزكاة/ كذا فى الشامي/ج۲/ص۳۰۴/باب زكاة المال) وجاز دفع القيمة فى زكوٰة....... وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداىٔ، وفى السوائم...الخ)۔

[3] وشرط آفتراضها عقل وبلوغ (درمختار) (قوله وبلوغ) فلا تجب على مجنون وصبى لانها عبادة محضة وليسا مخاطبين بها. (فتاويٰ شامي/ج۲/ص۲۵۸/كتاب الزكاة)۔

ایا د خسرګنۍ او پلارګنۍ له طرف نه راکړل شویو دواړو ګینو باندې به زکات وي

سوال: ماسره لس تولې سره زر دي، په هغو کې تقریبا پنځه تولې زما مور وپلار ماته راکړي دي. اوپاتې د خسرګنۍ دي، مور تول یوځای اوسیږو، خسرګنۍ چې کومې پنځه تولې راکړې وي، دا معلومه نه ده چې هغه زما په ملکیت کې دي یا یوازې د استعمال له پاره یې راکړي دي؟ مهرباني وکړئ ماته ووایئ چې دهغو سرو زرو به ماباندې زکات ادا کول وي او که نه؟

جواب: دا خو ډیره اسانه خبره ده، دخسرګنۍ نه دې پوښتنه وشي چې دا سره زر هغوی تاته په ملکیت کې درکړي دي یا یوازې د اچولو له پاره تاته درکړل شوي دي، پرته ددې نه که چیرته پنځه تولې سره زر تاسره وي او هغې سره څه نغدې روپۍ هم درسره وي. نو په هغو باندې هم زکات واجبیږي. خو که چیرته یوازې سره زر وي او هغې سره نغدې روپۍ نه وي، نو پنځه تولو سره زرو باندې زکات نه واجبیږي. [۱]

نابالغ باندې زکات نه شته، چې کله بالغ شي زکات به ورکوي

سوال: ماسره د لسو ګرامو شپږ د سرو زرو بنګړي او څه د ۲۵۰۰روپیو غوږ والی دي د پنځو کلونو نه هرکله چې زما عمر دولس کاله و زما په ملکیت کې دي، په هغه دوران کې دوه یا درې زره څو ځلې جمع کیدو باندې کال پوره کیدو نه مخکې خرچ شوي اوس ماسره د یومیاشتې نه ۲۵۰۰روپۍ موجودې دي، چې په هغو کې دوه دریو میاشتو کې دننه اضافه کولوسره د څلورو زرو چین (هار) جوړول غواړم، پوښتنه داده چې ماته به د پنځو کلونو څومره زکات ادا کول وي؟ اود څلورو زرو د مالیت د اضافې نه وروسته هرکال به څومره زکات ادا کیږي؟ که چیرته سړی د ماشوموالي نه د نصاب مالک وي، نو څومره عمر رسیدلو باندې به زکات فرض کیږي؟ زما پالنه زما والدصاحب کوي.

جواب: د نابالغه ماشوم په مال باندې زکات نه شته، د نهو کلنو نه وروسته انجیلۍ اود دولسو کلونو نه وروسته هلک بالغ کیدلی شي، په دې شرط چې د بالغیدو علامات ښکاره شي او که چیرته څه نښه ښکاره نه وي، نو پنځلس کاله پوره کېدو نه وروسته هلک او انجیلۍ دواړه شرعا بالغ ګڼل کیږي، که چیرته تاسو د پنځلسو کلونو نه مخکې ځوان شوی یې (مثلا: حیض شروع شوی وی) نود ځوانېدو د وخت نه کال پوره کېدو باندې زکات فرض

---

[۱] واما شروط وجوبها منها کون المال نصاباً فلا تجب فی اقل منه ومنها الملک التام وهو ماجتمع فیه الملک والید. (عالمګیري/ج۱/۱۷۳/کتاب الزکاة/ الباب الاول فی تفسیرها وصفتها/ طبع رشیدیه/کوئټه).

شو .که نه پنځلسو کلونو نه وروسته به په هرحال کې زکات فرض وي، ځوانیدو نه وروسته چې څومره کلونه تیر شوي دي دهغومره کلونو زکات ستا په ذمه فرض دی. [1]

که چیرته(۱۳)تولې سره زر په دریو زامنو برابر تقسیم کړم، نوایا زکات به وي

سوال: ماسره تقریبا ۱۲ . ۱۳تولې سره زر دي، چې دګینې په شکل کې دي او زما معاشي حالات ددې قابل نه دي چې زه زکات ادا کړای شم، خو ددې باوجود زه په ډیرې پابندي سره زکات هره میاشت ورکوم. دخپل جیب خرچې نه، ځکه چې زه قرآن شریف په ترجمې سره هم وایم او په هغه کې د لمونځ او زکات ځای په ځای ذکر دی. له دې وجې نه ما باندې یوه ویره وي چې خیر دی هرڅه وي. زه به زکات ورکوم، زما خاوند د زکات پیسې نه ورکوي، بلکې کله چې ماته څه ډیرې لږ پیسې د جیب خرچ له پاره راکوي، زه په هغو کې زکات ادا کوم، اوس ما دا خیال کړی و چې څه ګینه خرڅولوسره څه د کور د ضرورت شیان واخلم. خو ماسره مسئله داده چې زما درې لورګانې دي، چې پیغلې دي، ټولو ماته دا مشوره راکړې ده چې زه دا ګینه درې برخې کولوسره یا یو یو سیټ د خپلو لوڼو په نوم کړم، په دې صورت کې خو زه د زکات نه بچ کیدلی شم، ځکه چې ماته دګینې اچولو دومره شوق هم نه شته . زه یوازې غوږ والی او دوه سپک بنګړي اچومه، ددې نه پرته هیڅ نه استعمالوم، جناب عالي ! اوس تاسو دا ووائې چې زه که چیرته ګینه دخپلو لوڼو په نوم کړم یا یې هغوی ته ورکړم او بیا زکات نه ورکوم، نو زه خو به ګنهګاریږم نه؟

جواب: د سرو زرو نصاب اوو نیمې تولې دی. [2] ددې له وجې نه د اوونیمو تولو نه په کم باندې زکات نه شته ، په دې شرط چې هغه سره څه نورې نغدې روپۍ یا نور مال چې په هغو باندې زکات راځي، موجود نه وي، که چیرته سره زر د اوونیمو تولو نه کم وي،خو هغه سره

---

[1] بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال والجارية بالاحتلام والحيض والحبل، فان لم يوجد فيهما شيء فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى. (درمختار/ ج۲/ ص۱۵۳). وشرط افتراضها عقل وبلوغ (قوله وبلوغ) فلاتجب على مجنون وصبي لانها عبادة محضة وليسا مخاطبين بها. (ردالمحتار مع الدرالمختار /ج۲/ ص۲۵۸)، وشرطه اى شرط كيفما امسكهما......الخ. (الدرالمختار/ ج۲/ ص۲۶۷/وايضاً فتاويٰ دارالعلوم ديوبند/ج۶/ص۴۴).

[2] باب زكوٰة الذهب ليس فيما دون عشرين مثقالاً من الذهب صدقة لانعدام النصاب، فاذا كانت عشرين مثقالاً شرعياً.....وحال عليها الحول ففيها ربع العشر وهو نصف مثقال. (اللباب/ج۱/ص۱۴۴)، تجب في كل مائتي درهم خمسة دراهم وفي كل عشرين مثقال ذهب نصف مثقال. (عالمگيري/ج۱/ص۱۷۸، الباب الثالث في زكاة الذهب).

څه سپین زر هم وي، یا څه روپۍ هم ورسره وي او سرو زرو سره یوځای کېدو سره دهغه تولو قیمت د دوو پنځوس نیمو تولو چاندي برابر جوړیږي، نوبیا هم زکات واجب دی،[۱] او که چیرته سرو زرو سره نورې نغدې روپۍ نه وي، یا سره زر دومره کم وي چې د تولو مجموعي قیمت د دوو پنځوس نیمو تولو چاندي برابر نه جوړیږي، نو هغو باندې زکات نشته، لهذا که چیرته تاسو دا سره زر په لوڼو باندې تقسیم کړئ او هغوی سره نورې پیسې نه وي نو هغوی باندې به زکات نه وي.

که چیرته یې د ګینې زکات نه وي ورکړی او پیسې هم نه وي نو څه وکړي؟

سوال: د نن نه لس کاله وړاندې چې کله زما واده وشو، نو زما خاوند لا تعلیم حاصلولو، د اتو کالو راهیسې زما خسر صاحب زموږه ټول اخراجات پخپله ذمه باندې اخستي دي، اوس د الله په فضل سره زما څلور زامن دي، زما دوالدینو او خسرګنۍ د طرف نه یوځای کولو سره تقریباً لس تولې سره زر ملاو شو، لومړی ددې مسئلې پوښتنه کوم چې (ایا په هغه حالاتو کې په ماباندې زکات فرض و؟) چې ذاتي طور باندې ماسره یو روپۍ هم نه وه؟
دویمه مسئله داده چې اوس زما خاوند په بهرملک کې دی او هغه ماته یوازې دومره خرچه رالیږي چې په هغې سره زما د بچیو د تعلیم ضروري اخراجات پوره کیږي، زه پخپل ځان باندې څه خاص خرچې نه کوم، ډیرې ګزارې سره ما په دوو کالو کې څه پیسې جمع کړي دي اوس ماته دهغه جمع کړل شویو پیسو نه زکات ورکول کیږي؟ اوکه دخپل خاوند نه د زکات د پاره جدا پیسې واخلم؟ اود تیرشویو لسو کالو زکات په ماباندې باقي دی یا یوازې د دې دوو کالو؟

جواب: ستاد پلارګنۍ اوخسرګنۍ له طرف نه درکړل شوې ګینه که چیرته ستا په ملکیت کې وي، نو په تا باندې زکات هم دهغه وخت نه فرض دی،[۲] او د تیر شویو لسو کالو زکات

---

[۱] ويضم قيمة العروض التى للتجارة الى الذهب والفضة للمجانسة من حيث الثمنية لان القيمة من جنس الدراهم والدنانير وكذلك يضم الذهب الى الفضة لجامع الثمنية بالقيمة حتى يتم النصاب عند ابى حنيفة........الخ. (اللباب فى شرح الكتاب/ج۱/ص۱۴۵/كتاب الزكاة/باب زكاة العروض).

[۲] و فى كل عشرين مثقال ذهب نصف مثقال كان للرجال او للنساء(عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۹، كتاب الزكاة) و مواده تمليك جزء من ماله و هو ربع عشر او ما يقوم مقامه (بحر الرائق ج:۲ ص : ۲۱۶، كتاب الزكاة) ايضا : لم يختلفوا ان الحلى اذا كان فى ملك الرجل تجب فيه الزكاة فكذا اذا كان فى ملك المراة كالدراهم والدنانير، و ايضا لا يختلف حكم الرجل والمراة فيما يلزمها من الزكاة فوجب ان لايختلفا فى الحلى (احكام القران للجصاص ج : ۳ ص : ۱۵۸، باب زكاة الحلى، طبع قديمى)

په ب ...ې واجب الادا دی. که چیرته تاسره پیسې نه وي، نو د ګینې څلويښتمه برخه تاته هر کال ادا کول پکار و: په هرحال اوس د لسو کلونو د زکات حساب کولو سره زکات ادا کړه!

ايا جدا جدا ګينې باندې به زکات وي يا په يوځای

سوال: زما او زما د مور تولو ګينو يوځای کولو سره تقريباً نهه تولې سره زر جوړيږي، پوښتنه داده چې په هغې باندې زکات شته اوکه نه؟ ځکه چې مور ته خلکو وويل چې د واده نه مخکې انجيلی د موروپلار په ذمه داري کې وي، له دې وجې نه به زکات هم دمور و لور ګينې يوځای کولو سره ورکول کيږي، سره له دې چې خپله ګينه هم زه پخپله استعمالوم او جدا جدا زما اوزما د مور د ګينې ماليت دومره نه جوړيږي چې هغه باندې زکات واجب وي؟

جواب: که چيرته ددواړو جدا جدا ګينه داوونيمو تولو نه کمه وي، نو په دواړو کې چا باندې هم زکات فرض نه دی. خو که چيرته د ګينې سره سره ددواړو سره يا يوې سره څه پيسې همې او د ګينې قيمت د پيسو يوځای کولو سره د دوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو برابر وي نو په هغې باندې به زکات فرض وي. [1]

د زکات د کال شمارلو اصول

سوال: زکات ترکومه وخته پورې اداکيږي؟ يعنې داختردلمانځه نه مخکې ياوروسته هم اداکيدای شي؟

جواب: په کوم تاريخ باندې چې چاسره دنصاب په مقدارمال راشي دهغه تاريخ نه دمياشتې په حساب سره کال پوره کيدوباندې چې څومره روپۍ دهغه ملکيت وي دهغو زکات واجب دی، په زکات کې داخترنه مخکې يا وروسته سوال نه شته.[2]

د زکات د اداکولو وخت

سوال: زکات ايا يوازې په رمضان کې ويستل پکاردي؟ اوکه مورچا ضرورت مند ته دزکات پيسې دشعبان په مياشت کې ورکول وغواړو، نوايا نه شوې ورکولی؟ داځکه پوښتنه کوم چې څه کسان چاته چې زه دارقم ورکوم هغوی وايي چې په رمضان کې تقريباً هرشی ګران شي

---

[1] شرط وجوبها... الخ منها كون المال نصابا فلا تجب في اقل منه (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكاة)، نصاب الذهب عشرون مثقالا وا لفضة مائتا درهم (حاشية رد المحتار ج : ۲ ص : ۲۹۵، كتاب الزكاة) و قيمة العرض للتجارة تضم الى الثمنين (حاشيه ردالمحتار ج : ۲ ص : ۳۰۳، كتاب الزكاة)

[2] و شرط كمال النصاب .... في طرفي الحول في الابتداء للانعقاد وفي الانتهاء للوجوب_ (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۰۲، ايضا حاشية الطحطاوى على الدرالمختار ج : ۱ ص : ۴۰۹)_ العبرة في الزكاة للحول القمرى كذا في القنية_ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۵، كتاب الزكاة، الباب الاول)_

له دې وجې نه که د رمضان نه مخکې راکړل شي نود ماشومانو له پاره پرې شی په آساني سره اخستل کیدای شي

جواب: دزکات له پاره کومه میاشت مقرره نه ده،له دې وجې په شعبان یابله میاشت کې زکات ورکولی شئ،اودزکات چې کومه میاشت مقرر وي له هغې نه مخکې زکات ورکول هم صحیح دي[۱]

سوال: کاروباري کس زکات څنګه اوباسي؟فرض کړئ چې په رمضان (۱۴۰۰ه) کې موږ سره یولك روپۍ وې (۲۵۰۰)روپۍ زکات موورکړ،اوس رمضان المبارک (۱۴۰۱ه)راتلونکی دی، موږ سره یولك شل زره روپۍ دي، په یوکال کې شل زره ګټه شوې ده، اود کال په آخره کې شل زره روپۍ خالص ګټه شوې ده،اوس زکات په څومره رقم باندې اوباسو؟اوریدلې مودي چې په رقم باندې کال پوره کیدل پکاردي؟

جواب: دکال په ختیمدوباندې چې څومره روپۍ وي، دهغو دې زکات اداکړل شي. که څه هم،څه اندازه روپۍ څوورځې وړاندې حاصلې شوې وي[۲]،دعواموخیال دی چې دزکات کال هم درمضان المبارک نه شروع کیږي اوځینې درجب میاشت دزکات میاشت ګڼي،حالانکې داخیال بالکل غلط دی.

شرعی مسئله داده چې دکال په هرتاریخ باندې څوک دنصاب خاوندشي،دکال په تیریدو باندې به په هماغه تاریخ باندې په هغه زکات واجبیږي،که څه هم دمحرم میاشت وي یابله، دې کس باندې دکال پوره کیدونه وروسته زکات ورکول لازم دي اودکال په دوران کې چې کوم مال حاصل شوی وي دکال دپوره کیدونه وروسته چې کله داصلي نصاب زکات فرض شي په دغه وخت دکال په دوران کې حاصلیدونکي مال باندې هم زکات فرض کیږي.

سوال: د زکات داداکولوله پاره دکال دیوتاریخ معلومول ضروري دي اوکه دهغې میاشتې دیو تاریخ نه حساب کول پکاردي؟

جواب: اصلي حکم دادی چې دکوم تاریخ نه تاسو دنصاب خاوند شوئ، کال تیریدونه وروسته په هماغه تاریخ باندې به په تا زکات فرض شي، بیاهم د زکات پیشګي اداکول هم

---

[۱] ویجوز تعجیل الزکوٰة بعد ملک النصاب ولا یجوز قبله کذا فی الخلاصه_ (عالمګیری ج : ۱ص:۱۷۶)

[۲] ومن کان له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول من جنسه ضمه الیٰ ماله و زکاه سواءً کان المستفاد من نمائه اولا و بای وجه استفاد ضمه سواء کان بمیراث أو هبة أو غیر ذالک _ (الجوهرة النیرة ج : ۱ ص : ۱۲۳، الفتاوی العالمګیریة ج : ۱ ص : ۱۷۵، کتاب الزکاة، الباب الأول فی تفسیرها وصفتها) _

جائزدي[۱]،اوپه دې کې د تاخيرهم ګنجائش شته،[۲] له دې وجې نه دې تاريخ مقرر کړل شي، که لږ شان مخکې وروسته شي، نوهم څه حرج په کې نه شته.

سوال: زکات عيسوی (ميلادي) کال باندې ياهجري کال باندې ويستل پکاردي؟

جواب: په زکات دقمري کال اعتباردی،شمسي کال نه دی معتبر[۳]، حکومت که شمسي مقرر کړی وي، نوداغلط دی.

د کال پوره کيدو نه مخکې زکات اداکول صحيح دي

سوال: جناب مورږ زکات په شعبان يارمضان کې اداکوو،شرعي نقطه نظرسره معلومول غواړو چې دمجبوري له وجې نه زکات مخکې هم اداکيدای شي؟

جواب: کله چې بنده دنصاب مالک شي، نوزکات دهغه په ذمه واجب شي اودکال په تيريدوباندې يې اداکول لازم شي،که دکال دپوره کيدونه مخکې زکات اداکړي يادآينده کلونوپه يوځای زکات ورکړی نوهم جائزدی.[۴]

دتېر زکات نه ورکولو له وجې د نوي کال حساب

سوال: د تيرکال زکاة چې فرض و دځه وجې نه ادانه کړل شو، دويم کال شروع شو،نودنوي کال حساب څنګه وکړل شي؟

جواب: په کوم تاريخ باندې چې لومړی کال ختم شو،په هغه ورځ چې څومره ماليت و،په هغه باندې دتيرکال زکات فرض دی،دراتلونکې ورځې نه دې دويم کال شروع وګڼل شي.[۵]

د کال په مينځ کې په آمدني باندې زکات

سوال: مالس زره روپۍ په تجارت کې ولګولې،اويوکال وروسته په ستمبرکې مې دزکات

۱] ويجوز تعجيل الزكوٰة بعد ملك النصاب ولا يجوز قبله كذا فى الخلاصه۔ (عالمگيرى ج : ۱ص : ۱۷۶)

۲] وتجب على الفور عنه تمام الحول حتى يأثم بتأخيره من غيرعذر و فى رواية على التراخى حتى يأثم عند الموت۔ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۰، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها وصفتها)۔

۳] العبرة فى الزكاة للحول القمرى كذا فى القنية (عالمگيرى ج۱ ص۱۷۵،الباب الاول فى تفسيرها وصفتها)

۴] و لوعجل ذونصاب زكوٰته لسنين أو لنصب صح لوجود السبب۔ (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۹۳، كتاب الزكاة)۔ و فى الهندى : وكما يجوز التعجيل بعد ملك نصاب واحد عن نصاب واحد يجوز عن نصب كثيرة كذا فى فتاويٰ قاضى خان۔ (فتاويٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۶، كتاب الزكاة)۔

۵] الزكوٰة واجبة .... اذ ا ملك نصابا فارغا عن د ين .... ملكا تاما و حال عليه الحول ۔ (اللباب فى شرح الكتاب ج : ۱ ص : ۱۳۶)، و أيضا : فان استفاد بعد حولان الحول فانه لا يضم و يستأنف له حول اخر بالاتفاق هكذ ا فى شر ح الطحطاوى(عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۵، كتاب الزكاة، الباب الأول)

روپۍ وويستلې، زکات ورکولو نه وروسته په نومبر کې مايوپلاټ (ځمکه) خرڅه کړله اونورې پيسې مې په تجارت کې ولګولې، اوس په مجموعي رقم (۲۵۰۰۰) باندې آينده کال په کومه مياشت کې زکات ادا کړم؟ يا دجداجدا روپيو په جداجدا مياشتو کې زکات اوباسم؟

جواب: زکات دانګريزي مياشتو په حساب سره نه ويستل کيږي، بلکې دقمري مياشتو په حساب سره ويستل کيږي، کله چې په اولني مال باندې کال پوره شي نو پوره رقم چې په مينځ کال کې حاصل شوی وي، دهغه زکات هم لازميږي، دهريوله پاره جداجدا حساب نه کيږی، له دې وجې نه چې کله ستاسو دکال دپوره کيدوتاريخ راشي نوته په پنځويشت زره اوپه هغو باندې چې څومره ګټه حاصله شوې وي په ټولو باندې زکات اداکړه.[1]

د تيرو شويو کلونو د زکات ورکولو مسئله

سوال: زما مسئله داده چې زه هرکال په منظم ډول زکات اداکوم، دا کال هم زما نيت بالکل صفاوچې زکات به اداکوم، چونکې دزکات اداکولو له پاره لومړی شرط دادی چې دزکات په مياشت کې دې په هرحال کې حساب کتاب اوکړل شي، خودزکات په اخري ورځو کې په ماباندې يو پوليس کيس راغی چې دهغه له وجې نه دزکات په مياشت کې ماحساب کتاب ونه کړای شو. اوس تاسو نه دا پوښتنه کوم چې اوس هرکله چې دزکات مياشت ختمه شوې ده اوس په دې ورځوکې حساب کولوسره زکات اداکولی شم اوکه نه؟ زکات به قابل قبول شي اوکه نه؟ زه غواړم چې په هرحال کې زکات اداکول پکاردي، يادې نه پرته څه بله طريقه کار که دقرآن اوسنت په رڼاکې وي هغه شان وکړل شي؟

جواب: کله چې هم موقعه پيداکړې نوحساب وکړه اوزکات اداکړه! اود زکات څه مياشت مقرره نه ده، بلکې دقمری کال په کومه مياشت کې چې په کوم تاريخ باندې سړی دنصاب خاوند شوی وي آينده کال به هم دهغې ورځې نه شروع شي اودتيرشوي کال زکات به دهغه په ذمه لازم وي[2] ځينې خلک درمضان مياشت اوځينې رجب دزکات مياشت ګڼي، داخبره غلطه ده.

---

[1] و منها (أی من شرائط وجوب الزكوٰة) حولان الحول على المال، العبرة فى الزكوٰة للحول القمرى .... و من كان له نصاب فاستفاد فى أثناء الحول مالا من جنسه ضمه الىٰ ماله و زكاه سواء كان المستفاد من نمائه أو لا و بأى وجه استفاد ضمه۔ (الفتاوىٰ الهندية ج : ۱ ص : ۱۷۵، كتاب الزكاة، الباب الأول، طبع رشيديه)۔

[2] تيره شوی حاشيه (و منها (أی من شرائط وجوب الزكوٰة) حولان الحول....الخ) وګورئ)۔

د مال نه په ويستل شوي زکات بانديکه کال تيرشي، نو ايا په هغه باندي به هم زکات راځي

سوال: ځا د خپل مال زکات وويستلو، خو ځاحقدارته يې حواله نه کړ او يو کال پورې پروت و، نو ايا په دې رقم باندې به هم زکات واجب وي؟ يعنې په زکات باندې زکات ويستل کيږي؟

جواب: په زکات باندې زکات نه شته،[۱] دا روپۍ په زکات کې اداکړئ، له دې نه وروسته چې کوم مال پاتې شي، د هغه زکات ورکړئ.

په کوم پلاټ (ځمکه) باندې زکات واجب دی او په کوم نه

سوال: که خالي پلاټ (ځمکه) پرته وي او هغه زيراستعمال نه وي، نو په هغې باندې زکات واجبيږي او که نه؟

جواب: که د پلاټ (ځمکې) د اخيستلو په وخت کې يې دا نيت و چې په مناسب وخت کې به دا خرڅه کړي، نو د دې په قيمت باندې زکات واجب دی[۲] او که د ذاتي استعمال په نيت سره يې اخيستې وه، نو زکات واجب نه دی.[۳]

په اخيستل شوي پلاټ (ځمکه) باندې زکات کله واجبيږي

سوال: که يو پلاټ (ځمکه) اخيستل شوي وي او د دې له پاره څه اراده نه وي چې ايا په دې کې به اوسيږو او که به نه اوسيږو، نو په دې سلسله کې د زکات څه حکم دی؟

جواب: پلاټ که د دې نيت سره اخيستل شوی و چې دا به خرڅوو، نو بيا خو د تجارت مال دی او په دې باندې به زکات واجب دی[۴] او که د ذاتي ضرورت له پاره اخيستل شوی و، نو په دې باندې زکات نه شته[۵] او که د اخيستلو په وخت کې يې د خرڅولو نيت نه و کړی، خو وروسته

۱] و شرط صحة ادا ئها .... أو مقارنة بعزل ما وجب كله أو بعضه و لا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالأداء للفقراء_ (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۷۰، كتاب الزكاة)_ دغه شان اوګورئ : كفاية المفتي ج : ۴ ص : ۲۵۸)_

۲] و ما اشتراه لها أى للتجارة كان لها لمقارنة النية بعقد التجارة ..... الخ_ لأن الشرط فى التجارة مقارنتها لعقد ها و هو كسب المال بالمال بعقد شراء .... الخ_ (شامى ج : ۲ ص : ۲۷۲، كتاب الزكاة)_

۳] ومنها (أى من شرائط وجوب الزكوٰة) فراغ المال عن حاجة الأصلية فليس فى دور السكنىٰ .... زكوٰة_ (فتاوىٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها و صفتها)_

۴] دغه شان اوګورئ تيره شوې حاشيه (و ما اشتراه لها أى للتجارة كان لها...الخ)_

۵] دغه شان اوګورئ تيره شوې حاشيه (ومنها (أى من شرائط وجوب الزكوٰة) فراغ المال...الخ)_

یې دخرڅولو اراده شوه، نوترڅو پورې چې خرڅ شوی نه وي په دې باندې زکات نه شته.[۱]

داستوګنې کور له پاره ځمکه باندې زکات

سوال: ماسره یو پلاټ (۱۵۰) ګزه دی، چې څوکاله مخکې ماته مور و پلار اخیستی و، هغه وخت کې پلاټ په (۳۵۰۰۰) روپۍ و، خوتراوسه پورې یې دخرڅلاوقیمت د(۴۰۰۰۰) نه زیات نه دی، (هرکله چې دخرڅولو یې څه اراده نه شته، بلکې دکوروجوړولو اراده ده) ایاپه دې پلاټ باندې زکات واجب دی؟دکوم وخت نه اوکوم حساب سره؟

جواب: کوم پلاټ چې درهایشي کور له پاره اخیستل شوي وي په هغه باندې زکات نه شته.[۲]

تجارتي پلاټ باندې زکات

سوال: که دکورونودپلاټونودپېر اوپلور(خرید وفروخت) کاروباروکړل شي، نوایا دابه دمال تجارت په شان ګڼل کیږي؟یعني ددې په ټول مالیت باندې زکات فرض دی یایوازې په ګټه باندې؟که پلاټ څوکاله وروسته خرڅ شوی وي، نوهرکال به زکات ورکول واجب وي یایوازې یوځل دپلاټ خرڅولونه وروسته؟

جواب: که پلاټونو کې د خرید و فروخت کاروباروکړل شي اود خرڅولو په نیت سره پلاټ واخیستل شي، نودپلاټونوحیثیت به د تجارت دمال په شان وي، ددې په مالیت باندې به هرکال زکات واجبیږي.[۳]

سوال: دکاروباري مقصدله پاره اودخپل رهایشي ضرورت نه پرته چې کومه ځمکه اوکورونه واخیستل شي اوزیات قیمت باندې خرڅ شي، په دې سلسله کې دزکات څه احکامات دي؟

جواب: کومه ځمکه، کور یاپلاټ چې دخرڅلاو په نیت سره اخیستل شوي وي، په هغه باندې هرکال زکات واجب دی، هرکال څومره چې ددې قیمت وي دهغې څلویښتمه برخه ترې اوباسئ.[۴]

۱] لا یبقی للتجارة ما أی عبد مثلا اشتراه لها فنوی بعد ذٰلک خدمته ثم ما نواه للخدمة لا یصیرللتجارة وان نواه لها ما لم یبعد بجنس ما فیه الزکوٰة ــ (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۷۲، کتاب الزکاة)ــ

۲] تیره شوی حاشیه (و ما اشتراه لها أی للتجارة کان لها لمقارنة النیة...الخ اوګورئ)ــ

۳] باب زکوٰة العروض و هو ما سوالنقد ین .... الزکوٰة واجبة فی عروض التجارة کائنة ما کانت أی کائنة أی شيء یعنی من جنس ما تجب فیه الزکوٰة کالسوا ئم أو غیرها کالثیاب اذ ا بلغت قیمتا نصابا من الورق أو الذ هب یقومها صاحب بما هو انفع للفقراء والمساکین منهما أی النصابین احتیاطا لحق الفقراءــ (اللباب فی شرح الکتاب، باب زکوٰة العروض ج : ۱ ص : ۱۴۵)ــ

۴] و ما اشتراه لها أی للتجارة کان لها المقارنة النیة لعقد التجارة ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

تجارت له پاره په کور یا پلاټ با ندې د مارکیټ قیمت با ندې زکات دی

سوال: کوم کور یا پلاټ چې په خپلو پیسو سره په دې سوچ اخیستل شوی وي چې بیا به کور وکه اوسیدول و، نو په خپله به په کې اوسیږو، که نه خرڅ به یې کړو، د دې پلاټونو او کور تعداد که زیات وي ایا زکات پرې واجبیږي؟ او زکات به د اخیستلو په قیمت وي او که د مارکیټ په قیمت باندې؟

جواب: کومه ځمکه یا پلاټ چې واخیستل شي د اخیستلو په وخت کې درې قسمه نیت وي، کله خو دا نیت وي چې وروسته به یې خرڅ کړو، په دې صورت کې هر کال په دې باندې زکات فرض کیږي[۱] او هر کال چې په مارکیټ کې د دې کوم قیمت وي د هغه اعتبار به وي مثلاً: یو پلاټ تا په پنځوس زره باندې واخیسته کال وروسته د هغه قیمت اویا زره شو، نو زکات به په اوویازره باندې ورکول وي.

اولس کاله وروسته د دې قیمت پنځه لکه شو، نو اوس زکات به د پنځولکو ورکول وي، غرض دا چې هر کال څومره د مارکیټ قیمت وي د هغه په حساب سره به زکات ورکول واجب وي.[۲]

او کله دا نیت وي چې د لته به په خپله کور جوړه وو او اوسیږو به، که د ې نیت سره یې پلاټ واخیسته، نو په دې باندې زکات نه شته.[۳]

هم د غه شان که د اخیستلو په وخت کې یې نه د خرڅولو نیت کړی وي او نه په خپله د اوسیدلو، نو په دې صورت کې هم زکات نه شته.[۴]

د کاروبار په نیت سره اخیستل شویو پلاټونو با ندې زکات شته

سوال: زما د ځمکو اخیستلو خرڅولو کاروبار دی، ما چې کوم پلاټ اخیستی بیا مې همداسې پریښي دي، ایا په هغو باندې به زکات ورکول واجب وي؟ بله دا چې کوم پلاټ چې ما بچیو له پاره اخیستلو سره پریښې دي، ایا په هغه باندې هم زکات شته؟ او زکات به د

...بقيه د تیرمخ]...فتجب الزكوٰة لاقتران النية بالعمل (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۷۲، ۲۷۳)، وكذٰ لک فى الاشباه والنظائر ج : ۱ ص : ۳۰ القاعدة الأولىٰ : ...... قالوا و تشترط نية التجارة فى العروض و لا بد أن تكون مقارنة للتجارة ..... الخ_ (طبع اد ارة القران قديم)_

[۱] تیره شوی حاشیه (و ما اشتراه لها أى للتجارة كان لها المقارنة...الخ) اوګورئ!_

[۲] وجاز دفع القيمة فى الزكوٰة .... و تعتبر القيمة يوم الوجوب و قالا يوم الاداء .... و يقوم فى البلد الذى المال فيه.....وفى المحيط يعتبريوم الأداء بالأجماع و هو الأصح (الفتاوىٰ الشاميه ج : ۲ ص ۲۸۶)

[۳] و منها فراغ المال عن حاجته الاصلية فليس فى دور السكنىٰ ....زكوٰة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲)

[٤] (كما) اشترى خادما للخد مة و هو ينوى أنه لو أصاب ر بحا يبيعه فحال عليه الحول لا زكوٰة فيه_ (فتاوىٰ قاضى خان علىٰ هامش الهند ية ج:۱ ص:۲۵۰، أيضا الدرالمختار ج:۲ ص: ۲۷۲، كتاب الزكوٰة)

اخیستلو په قیمت باندې وي یا نن چې د ځمکې کوم قیمت دی په هغه باندې؟

جواب: کوم پلاټ چې د خرڅولو په نیت باندې وي، په هغه باندې زکات دی او چې په کومه ورځ زکات ادا کول وي، دهغې ورځې د قیمت اعتبار به وي،[۱] او کوم پلاټ چې د بچیوله پاره وي، که چېرته دهغه خرڅولو نیت نه وي، نو په هغه باندې زکات نه شته. [۲]

که چېرته یې د اوسیدو له پاره اخیستل شوې ځمکه خرڅه کړه، نو ایا په هغه باندې زکات واجب دی

سوال: ما داوسیدوله پاره دوه کاله مخکې ځمکه اخیستې وه، چې په هغې کې به کور جوړلو سره اوسیږم، له دې نه پرته زما بل کور اوځمکه نه شته ، زه په اول رمضان باندې زکات ورکوم. دهغې ځمکې سودا ما د اول رمضان نه مخکې وکړه او بیانه مې واخیستله او پاتې پیسې د یوې میاشتې په وعدې باندې ملاو شوې، د ځمکې د خرڅولو نه ۲۲ورځې وروسته ما د اوسیدو له پاره د جوړ شوي کور د اخیستلو سودا وکړه، چې دهغو پیسو نه چې د ځمکې د خرڅولو نه حاصلې شوې وې، په زیاتو پیسو باندې وشو اودهغه بیانه مې د کور مالک ته ورکړه، په دې شرط باندې چې د ځمکې د خرڅولو قیمت ملاو شي، زه به هغه تاته سبا درکوم او پاتې د شپږو میاشتو په نیته باندې فیصله وشوه، اوس د مسئلې پوښتنه داده چې کومې پیسې ما په بیانه کې دخپل پلاټ د خرڅولو واخیستلې، هغو باندې یا ټولو پیسو باندې چې د پلاټ په خرڅولو سره ملاو شوې، په هغه باندې زکات ورکول واجب دي او که معاف دي؟

جواب: هغه ځمکه دې خرڅه کړه،نو په هغه ټوله ځمکه باندې زکات واجب دی. والله اعلم[۳]

د اوسیدلو له پاره اخیستل شوي پلاټ باندې زکات شته

سوال: موږ یو څو کاله مخکې یو پلاټ د اوسیدو په غرض اخستی و، د پیسو د کمې له وجې نه موږ په هغه باندې کور جوړ نه کړ ، اوس موږ هغه پلاټ خرڅولوسره یو وړوکی کور اخیستل غواړو. دهغه پلاټ ښې روپۍ ملاویږي، ستاسو نه پوښتنه داده چې هغه

---

[۱] الزكوٰة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذا بلغت قيمتها نصابا من الورق والذهب (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۸)، و أيضا : وجاز دفع القيمة فى الزكوٰة .... و تعتبر القيمة يوم الوجوب و قالا يوم الأداء .... و فى المحيط يعتبر يوم الأداء بالأجماع و هو الأصح (الدرالمختار مع الرد المحتار ج : ۲ ص : ۲۸۶، كتاب الزكاة)

[۲] فليس فى دور السكنىٰ و ثياب البدن و أثاث المنازل زكوٰة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، الباب الأول)

[۳] ومن كان له نصاب فاستفاد فى أثناء الحول مالا من جنسه ضمه الىٰ ماله و زكاه(عالمگيرى ج:۱ص:۱۷۵)

کورباندې به هم زکات ورکول وي او که نه؟ حالانکې پلاټ خرخولو سره چې کوم کور اخلو هغه هم داوسېدو په غرض سره اخلو.

جواب: دا پلاټ که چیرته تاسو د اوسیدلو له پاره یعنې د کور جوړلو له پاره اخیستی و، نو ترڅو پورې چې تاسو هغه خرڅ کړی نه وي هغه وخته پورې په هغه باندې زکات نه شته ،خو خرڅولو نه وروسته په هغه باندې زکات راځي، په دې شرط چې ستا د زکات کال دکوم وخت نه شروع کیږي هغه وخت یې خرڅ کړئ، یعنې د زکات په پیسو کې دا هم شامل شي.[۱]

کوم کور چې په کرایه ورکړل شوی وي د هغه په کرایه باندې زکات شته

سوال: زما سره دوه کورونه دي، په یو کور کې خپله اوسیږم او دویم مې په کرایه ورکړی دی، نو
ایا زکات به د کور په مالیت باندې وي یا په کرایه باندې؟الله تعالی دې تاسو ته اجرعظیم درکړي.

جواب: په دې صورت کې زکات د کور په مالیت باندې واجب نه دی،خو ددې کرایه چې کله نصاب ته ورسیږي، نوزکات به پرې واجب شي.[۲]

ایا د کور په کرایه باندې زکات شته

سوال: زید خپل ذاتي کور د میاشتې په زر روپۍ په کرایه باندې ورکړ او پخپله د پنځوسوو د کرایه په کور کې اوسیږي، نو ایا د پنځو سوو په میاشتني بچت باندې به زکات واجب وي؟

---

[۱] فليس فى دور السكنىٰ و ثياب البدن و أثاث المنازل و دواب الركوب .... زكوٰة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲)، در مختار ج : ۲ ص : ۲۶۵) ومن كان له نصاب.فاستفاد فى أثناء الحول مالا من جنسه ضمه الىٰ ماله و زكاه (فتاوىٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۵، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها و صفتها)

[۲] اذا اجر داره أو عبده بمائتى درهم لا تجب الزكوٰة ما لم يحل الحول بعد القبض فى قول أبى حنيفة فأن كانت الدار والعبد للتجارة و قبض أربعين درهما بعد الحول كان عليه درهم بحكم الحول الماضى قبل القبض لأن اجرة دار التجارة و عبد التجارة بمنزلة ثمن مال التجارة فى الصحيح من الرواية۔ (قاضى خان علىٰ هامش الهندية ج : ۱ ص : ۲۵۳)، و أيضا : فلا زكوٰة علىٰ مكاتب .... و لا فى ثياب البدن المحتاج اليها لدفع الحر و البرد، و أثاث المنزل و دور السكنىٰ و نحوها و كذٰ لک الكتب وان لم تكن لأهلها اذالم تنو للتجارة .... الخ۔ (الد ر المختار ج : ۲ ص : ۲۶۴، كتاب الزكاة)۔

جواب: که چیرته هغه د نصاب خاوند وي، نو کال تیریدو باندې هغه بچت باندې به هم زکات وي. په دې شرط چې ټول کال پر تې وي، خرچ شوې نه وي. [۱]

د کاروبار په نیت سره اخستل شوي دکان باندې زکات

سوال: ما یو دکان د کاروبار په نیت سره په پګړۍ ورکولو باندې اخیستی و، ټول کال تیر شو، خو کاروبار مې ونه کړ، نو ایا چې د څومره پیسو دکان دی دهغه زکات به واجب وي؟

جواب: په هغه باندې زکات نه شته. والله اعلم ![۲]

قرض کې اخیستل شوی کور په کرایه باندې ورکړي، نو ایا دهغه په امدني باندې به زکات وي

سوال: قرض اخیستلوسره کورمې په کرایه باندې ورکړ، د کرایه دار پیسې ماهانه ملاویږي.

دهغه نه د قرض قسط ادا کوي ، پوښتنه داده چې ایا هغه سړي باندې د کرایه د امدني زکات واجب دی؟ حالانکې د کرایه ټوله امدني د قرض په ادائیګي کې خرچ کیږي.

جواب: په هغه سړي زکات نه شته ، خوکه چیرته د زکات د مالیت سامان له هغه سره وي، نو هغه باندې به زکات وي. [۳]

کرایه باندې ورکړل شویو له یو نه زیاتو کورونو باندې زکات

سوال: له یو نه زیات داوسیدو والا کورونو باندې به د زکات نصاب وي اوکه نه؟ چې په کرایه باندې ورکړل شوي وي.

جواب: کوم کور چې د خرڅولو له پاره نه وي، په هغه باندې زکات نه شته، خودهغو نه حاصلېدوکې امدني باندې به زکات وي. [۴]

---

[۱] (و أما شروط وجوبها) منها كون المال نصابا فلا تجب فى أقل منه .... و منها حولان الحول على المال (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۵، ۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها و صفتها)

[۲] ليس فى الدور السكنىٰ و ثياب البدن و أثاث المنزل و دواب الركوب .... ز كوٰة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۳، كتاب الزكاة، الباب الأول)

[۳] من شروط وجوبها الخ منها الفراغ عن الدين .... كل دين له مطالب من جهة العباد يمنع وجوب الزكاة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها)

[۴] فليس فى دور السكنىٰ و أثاث المنزل..... زكوٰة (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الأول)

رهایشي کور او د کاروبار په دکان باندې زکات

سوال: ماسره د رهایش له پاره یو کور او د کاروبار له پاره یو دکان دی. دا دواړه زما د والد صاحب په نوم باندې دي. چې وفات شوی دی. زما څلور خویندې دي او مورمې هم ژوندۍ ده. چې په دې دواړو کې برخه دار دي. په هغه باندې زکات راځي او که نه؟ حالانکې په دکان کې چې کاروبار کوم هغه پیسې او مال هم یورنګې قرض کې اچوم. موږ ځینې خلک کشت اچوو لومړی کشت هم زما را وځي. بیا د هغه سامان نه روزانه کشت هم ادا کوم. پرته ددې نه زه اویا زره قرض دار هم یم. ددې نه پرته زما ښځې سره اته یا لس تولې سره زر دي. ما هغې ته هم ویلي دي چې تاسو زکات ادا کوئ. هغه وایي په دې کې نیم زما د لور دي. په داسې حال کې تاسو ووایئ چې په ما باندې زکات فرض دی او که نه؟ که چیرته دی، نو هغه څنګه ادا کړم؟ هرکله چې ماسره جمع پیسې نه شته . ایا په کشتونو کې یې ورکولی شم؟

جواب: رهایشي کور او د ذاتي کاروبار په دکان باندې زکات نه شته .[1]

خو په هغه کې که موجود مال دومره وي چې قرض ورکولو سره که چیرته ستا په برخه کې دومره مال راځي چې ته د نصاب خاوند جوړیږې، نو تا باندې زکات شته . که نه وي، نو بیا نه شته.[2] همدغه شان د ښځې په ګینه باندې زکات شته. ښکاره خبره ده چې هغه به یې پخپله اداکوئ. خو که چیرته ښځې دې نیمه ګینه دلور په نوم کړې وي او اوس یې استعمالوي هم نه او دواړو ته د اوو نیمو تولو نه کم رسیږي، نو په دواړو باندې زکات نه شته .[3]

په کرایه ورکړل شوي کور باندې زکات

سوال: زما په کراچۍ کې یو دی، هغه کور زما په نوم دی، که چیرته زه هغه خرخ کړم، نو دهغه قیمت به هغه وخت پنځه ویشت لاک یا ددې نه زیات وي، دیرشو لاکو پورې هم کیدلای شي. هغه ما په کرایه باندې ورکړی دی، په کرایه باندې یې نهه میاشتې شوي دي، دهغه کرایه پنځه نیم زره روپۍ ده، زه دا معلومول غواړم چې دهغه دکرایې په حساب سره په ماباندې زکات ورکول واجب دي او که د کور د قیمت په لحاظ سره؟ او بله داچې څومره

---

[1] فلیس فی دور السکنیٰ و ثیاب البدن و أثاث المنزل.....زکوٰۃ (عالمگیری ج:۱ ص:۱۷۳، کتاب الزکاۃ)

[2] ومن کان علیه د ین یحیط بماله فلا زکوٰۃ علیه .... وان کان ماله أکثر من د ینه زکی الفاضل اذ ا بلغ نصابا بالفراغ عن الحاجة والمراد به د ین له مطالب من جهة العباد (الهد ا یة مع شرح البنایة ج : ۴ ص : ۱۶، طبع حقانیة، کتاب الزکاۃ، و کذا فی الفتح ج : ۱ ص : ۴۸۶، کتاب الزکاۃ)

[3] و أما شروط وجوبها ..... الخ منها کون المال نصابا فلا تجب فی أقل منه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۳) و فی کل عشر ین مثقال ذهب نصف مثقال (عالمگیری ج:۱ ص:۱۷۸، کتاب الزکاۃ، الباب الثالث فی زکاۃ الذ هب)

زکات په ټول کال کې ورکول پکار دي؟ د یادونې وړ ده چې زما درې لورانې دي، د کور کرایه هغه دریو وارو لورانو ته ځي. دهغه کور زکات ماته ورکول پکار دي. یا مې لورانو ته، ځکه چې کور زما په نوم باندی دی؟

جواب: د کال پوره کېدونه وروسته څلويښتمه برخه زکات ادا کول واجب دي، یعنې څومره چې په کال کې تاته ګټه در رسیږي، دهغې څلويښتمه برخه په زکات کې ورکوه اود کور کرایه تاسو ادا کولو سره لورانو ته خپله خپله برخه ورکوه. د کور زکات په هرحال ستاسو په ذمه دی.[۱]

د کور د اخیستلو له پاره خرچ کیدونکو روپیو باندې زکات

سوال: یومیاشت مخکې مو دکورسوداکړې ده، خو مورږ ترې دوه میاشتې وخت اخیستی و، چې په رمضان کې ختمیږي، بیانه مومخکې ورکړې ده،اوس دزکات ادائیګې څنګه وکړو ، ځکه چې روپۍ خواوس زمورږ نه دی، دکوردمالک دي، اوس زمورږ خویوازې کوردی، ایا په دې روپیو باندې زکات ورکړو کومې چې مالک ته پکاردي چې زکات یې ورکړي؟

جواب: که دزکات داداکولونه مخکې مود کور قیمت ورکړی و، نوپه دې باندې زکات نه شته[۲]اوکه کال ختم شوی وي اوتراوسه پورې مو د کور پیسې اداکړې نه وي، بلکې وروسته به یې په ټاکلي وخت اداکوئ، نوپه دې باندې به زکات نه ساقطیږي په دې باندې زکات واجب دی.[۳]

د حج له پاره کیښودل شویو روپیو باندې زکات

سوال: یوکس سره دخپلې ګټې څه پیسې وې، هغه دحج کولوپه اراده درخواست ورکړ او روپۍ یې جمع کړې، خو په قرعه اندازي کې دهغه نوم راونه ووت اودحکومت له طرف نه هغه ته پیسې واپس شوې، هغه کس بیاینده کال دحج اراده لري اوددرخواست کولواراده یې ده، تاسوراته ووایئ چې دحج کولوله پاره کومې روپۍ کیښودل شوې دي په هغو باندې زکات

۱]وتجب على الفور عند تمام الحول (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰، کتاب الزکاة، الباب الأول) و مراده تملیک جزء من ماله و هو ربع العشر أو ما یقوم مقامه (بحر الرائق ج : ۲ ص : ۲۱۶)

۲]و أما شرط وجوبها فمنها .... کون المال نصابا فلا تجب فی أ قل منه، هٰکذ ا فی العینی شرح الکنز (فتاوىٰ عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۲)_ و اذ ا کان النصاب کاملا فی طرفی الحول فنقصانه فیما بین ذٰلک لا یسقط الزکاة لأنه یشق اعتبار الکمال فی أثنائه أی یشق .... لأنه قد یزید و قد ینقص .... و أما لابد منه أی من کمال النصاب فی ابتد ا ئه فی ابتداء الحول للانعقاد أی لانعقاد السبب و تحقق الغنا_ (البنایة فی شرح الهدایه ج : ۴ ص : ۱۰۶، کتاب الزکاة)_

۳] وسببه أی سبب آفتراضها ملک نصاب حولی نسبة للحول لحولانه علیه(الدرالمختار ج:۲ ص : ۲۵۹)_

اداکول ضروري دي يادداسې روپيو نه به زکات نه ويستل کيږي يادنورو روپيو په شان ددې زکات ورکول هم واجب دي؟

جواب: په دې روپيو باندې هم زکات واجب دی.[1]

د چندې زکات

سوال: موږ دبرادرې خلکو ديومشترکه مقصدله پاره (يعنې خدای مه کړه که چيرته هم په دې خلکو کې څوک مړشي، نودمړي دهغه وارثانو ته حواله کولوله پاره چې کوم اخراجات وغيره کيږي) له پاره چنده راجمع کوو اودغه چنده دچازياته وي اودچاکمه، لهذاحل طلب مسئله داده چې که په دې چنده باندې يوکال تيرشي اومجموعي روپۍ دزکات نصاب پورې ورسيږي، نوايازکات به پرې واجب وي اوکه نه؟اوکه زکات پرې واجب وي، نوددې داداکولوطريقه به څه وي؟

جواب: کومې روپۍ چې دڅه کارخيرله پاره په چنده کې ورکړل شي، دهغو حيثيت دوقف د مال په شان شي اودچنده ورکونکي دملکيت نه ووځي،له دې وجې نه په دې باندې زکات نه شته.[2]

دکينې نه پرته چې کوم شيان استعماليږي په هغو باندې زکات نه شته

سوال: يوکس سره څه مېښې دي،څه کشتۍ دي(چې په هغو کې هغه دماپانو ښکار کوي، او يوجال دی. دجال قيمت شپته اويازره روپۍ دی،اودټولوشيانومالیت تقريباً (۴) لکه جوړيږي. په دې باندې به زکات ورکول واجب وي اوکه نه؟

جواب: دا شيان داستعمال له پاره دي، په دې باندې زکات نه شته[3]،خو په ګينه باندې زکات شته که څه هم داستعمال له پاره وي.[4]

۱] دا پورته حواله اوګورئ!_

۲] وسببه أی سبب آفتراضها ملک نصاب حولی تام .... الخ (در مختار) (قوله ملک نصاب). لا زکوٰة فی سوائم الوقف والخیل المسبلة لعدم الملک _ (در مختار مع رد المحتار ج : ۲ ص : ۲۵۹، کتاب الزکاة)_

۳](ولیس فی دور السکنیٰ و ثیاب البدن و أثاث المنزل و دواب الرکوب و عبید الخدمة و سلاح الاستعمال زکوٰة لأنها مشغولة بالحاجة الأصلیة و لیست بنامیة أیضا)_ الحاجة الأصلیة ما یدفع الهلاک عن الأنسان تحقیقا أو تقدیرا .... (و الات المحترفین لما قلنا) اشارة الی ما قلنا من قوله لأنها مشغولة بالحاجة الأصلیة و لیست بنامیة، و الات المحترفین مثل قدر الطباخین والصباغین .... و ظروف الأمتعة_ (البنایة فی شرح الهدایة ج : ۴ ص : ۱۹، کتاب الزکاة)_

۴] واللازم .... فی مضروب کل منهما و معموله و لو تبرا أو حلیا مطلقا مباح الأستعمال أو لا و لو للتجمل و النفقة لأنهما خلقا أثمانا فیزکیهما کیف کانا .... الخ _ (قوله أو حلیا) ما تتحلی به المرأة من ذهب أو فضة ... الخ (رد المحتار مع الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۹۸، کتاب الزکاة، باب زکاة المال)_

د کېنې نه پرته د استعمال په شیانو باندې زکات نه شته

سوال: زکات په کوموخلکو باندې واجب دی؟ آیا دارام اواسائش شیانو (مثلاً: ریډیو، ټي وي (تلویزون)، فریج (یخچال)، واشنګ مشین (د جامووینځلو مشین)، موټرسائیکل اوداسې نورو باندې زکات ورکول پکاردي؟

جواب: دکېنې نه پرته داستعمال په نورو شیانوباندې زکات نه شته.[۱]

د لائبریري (کتابتون) په کتابونو باندې زکات نه شته

سوال: څه فرمایي علماء احناف دهغه کتابتون په باره کې چې د سړي د پاره دارالمطالعه وي. او غالباً په هغه کې د شلو زرو روپیو کتابونه موجود وي. ایا په هغو کې زکات ورکول لازمي دي؟ په جواب مو خبرکړئ ډیره مهرباني به مو وي.

جواب: د مطالعې په کتابونو باندې زکات نه شته. [۲]

د زکات ادا کولو د ورځې قیمت معتبر دی

سوال: د قانون مطابق حصو (ونډو) باندې د زکات د پاره د مالیت تعین د حصو په اصلي مالیت باندې کېږي. مثلاً: دیوې کمپنۍ حصې د لسو روپو دمالیت دي او څاسره سل حصې دي، نو دهغو مالیت به زر روپۍ وي، همدغه شان به زکات دزرو روپیو ادا کېږي. سره له دې چې په مارکیټ کې کمۍ زیاتۍ راځي، کله د لسو روپو حصې د څلویښتو روپیو، او کله د لسو روپو نه هم کمېږي. ایا لومړی صورت صحیح دی یا د دویم صورت مطابق د مالیت تعین کولو سره زکات ادا کړل شي؟

جواب: د زکات ادا کولو په ورځ د حصو چې کوم قیمت په بازار کې وي، دهغه مطابق دې زکات ادا کړل شي. [۳]

۱] دغه شان اوګورئ تیره شوی حاشیه (ولیس فی دور السکنیٰ و ثیاب البدن...الخ)۔

[۲] (اما شروط الوجوب) منها فراغ المال عن حاجة الأصلية .... و کذا کتب العلم ان کان من أهله (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۲) (و علیٰ هٰذ ا کتب العلم لأهلها ای علیٰ ما ذ کرنا من عدم وجوب الزکوٰة حکم کتب العلم لأهلها (البنایة فی شرح الهدایه، کتاب الزکوٰة ج : ۴ ص : ۱۹، و کذ ا فی رد المحتار ج : ۲ ص : ۲۶۵، کتاب الزکاة)

[۳] لأن الواجب الأصلی عند هما هو ربع عشر العین و انما له ولایة النقل الی القیمة یوم الأداء فیعتبر قیمتها یوم الاداء (بدائع ج: ۲ ص: ۲۲، وکذ ا فی رد المحتار مع الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۸۶، باب زکاة الغنم)

د شپږو لکو موټر د میاشتې په درې زره روپۍ قسط با ندې خرڅونکې با ندې څومره زکات راځي؟

سوال: څه فرمايي ددين عالمان ددې مسئلې په باره کې چې يوسړی د شپږو لکو موټر خرڅوي، اود قيمت وصولي درې زره هرمياشت د قسط په صورت کې کوي، نو په کال کې تقريباً شپږديرشت زره روپۍ وصوليږي. . احتمال د شپږديرشت زرو روپيو نه کم راجح دی، په نسبت د زياتو . نو په دې صورت کې زکات څنګه ادا کيږي؟ ايا د شپږو لکو ياد شپږ ديرش زرو ياد شپږ ديرش زرو نه کم څومره چې په کال کې وصول شي. يو خبره دا هم ده چې کله کله دا شپږ لاک ضائع کيږي هم، يعنې عموماً ملاويږي،خو د ضائع کيدو احتمال هم څه نا څه شته، د قرآن او حديثو په رڼا کې د مسئلې وضاحت وکړئ!

جواب: چونکې هغه سړي د شپږو لکو موټرخرڅ کړی دی، نو ګويا دهغه شپږ لکه روپۍ د اخستونکي په ذمه دي. په هغو کې شپږديرش زره خو هغه هرکال وصولوي، او پاتې پيسې د اخستونکي په ذمه باندې دي، اود شريعت اصول دادي چې يوڅوک بل ته په قرض پيسې ورکړي . د يو کال له پاره يا دڅو کلونو له پاره، نودهغو پيسو زکات د قرض ورکونکي په ذمه دی. والله اعلم ![1]

د لسو لکو په قسطونو با ندې خرڅ شوي موټر با ندې به څومره زکات وي؟

سوال: ما يو موټر په اته نيمو کلونو کې دننه د قسطونو د ادائيګي د معاهدې لاندې په لس لکه روپۍ باندې خرڅ کړ. په دې شرط باندې چې هغهٔ خلک به ماته په يو کال کې يوازې يو لک شل زره روپۍ راکوي. پوښتنه د اده چې ايا زه زکات هرکال د لس لکو روپيو ادا کړم اوکه د يو لک شل زره روپيو ؟

---

[1]]واعلم ان الد يون عند الامام ثلاثة : قوی، و متوسط، و ضعيف، فتجب زكوٰ تها اذا تم نصابا و حال الحول لكن لا فورا بل عند قبض أربعين درهما من الد ين القوی كقرض و بدل مال تجارة فكلما قبض أربعين درهما يلزمه درهم و عند قبض مأتين منه لغيرها أی من بدلِ مال لغيرتجارة و هو المتوسط كثمن سائمة و عبيد خدمة و نحوهما................ و يعتبر ما مضى من الحول قبل القبض فی الأصح (قوله و يعتبر ما مضى من الحول) أی فی الد ين المتوسط لان الخلاف فيه ... الخ (در مختار مع رد المحتار ج : ۲ ص : ۳۰۵، مطلب فی وجوب الزكاة فی د ين المرصد، و أيضا خلاصة الفتاويٰ، الفصل السادس فی الد يون ج : ۱ ص : ۲۳۸)

جواب: هرکله چې تاسو په لس لکه باندې موټر خرڅ کړ، نو هغه پیسې داخستونکي په ذمه باندې قرض شوې، اود قرض په پیسو باندې هرکال زکات لازم دی، له دې وجې تاسو هرکال زکات ادا کوئ؛ [۱]

داستعمال په موټر او موټرسایکل باندې زکات نه شته

سوال: داسې موټر او موټرسایکل چې زموږ يې استعماله وو، په هغه باندې به هم زکات ورکول واجب وي؟ که واجب وي، نو قيمت به کوم يو شمیرل کیږي؟

جواب: د استعمال په شيانو باندې زکات نه شته. [۲]

داستعمال په لوښو باندې زکات

سوال: داسې لوښي مثلاً: دیګ او داسې نور چې په کال کې يو يا دوه ځله استعمالیږي ددې زکات به هم داخیستلو په قیمت باندې وي (دتانبې) یاپه هغه قيمت باندې کوم چې دکانداریې د زړو لوښو داخستلو په بدل کې اداکوي؟

جواب: داسې لوښي چې داستعمال له پاره کیښودل شوي وي، که څه هم هغه کم استعمالیږي ،په هغو باندې زکات نه شته.[۳]

دوایانو باندې زکات

سوال: دکان کې پرتو دوایانو (درملو) باندې زکات لازم دی او که یوازې ددې په آمدني باندې؟

---

[۱] واعلم ان الد يون عند الامام ثلاثة : قوى، و متوسط، و ضعيف، فتجب زكوٰتها اذاتم نصابا و حال الحول لكن لا فورا بل عند قبض أربعين درهما من الد ين القوى كقرض و بدل مال تجارة فكلما قبض أربعين درهما يلزمه درهم و عند قبض مأتين منه لغيرها أى من بدل مال لغيرتجارة و هو المتوسط كثمن سائمة و عبيد خدمة و نحوهما............... و يعتبر ما مضى من الحول قبل القبض فى الاصح (قوله و يعتبر ما مضى من الحول الخ) أى فى الد ين المتوسط لان الخلاف فيه أما القوى فلا خلاف فيه لما فى المحيط من أنه تجب الزكوٰة فيه بحول الأصل (رد المحتار مع الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۰۵، مطلب فى وجوب الزكوٰة فى د ين المرصد. ا يضا خلاصة الفتاويٰ، كتاب الزكاة، الفصل الساد س فى الد يون ج : ۱ ص : ۲۳۸، طبع رشيدية)

[۲] من شرائط وجوبها .... الخ فراغ المال عن حاجة الأصلية فليس فى دور السكنيٰ .... و دواب الركوب .... زكوٰة (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الاول فى تفسيرها و صفتها) (وليس فى دور السكنيٰ و ثياب البدن و أثاث المنــزل و دواب الركوب و عبيد الخدمة و سلاح الاستعمال زكوٰة لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية و ليست بنامية أيضا) الحاجة الأصلية ما يد فع الهلاک عن الانسان تحقيقا أو تقد يرا .... الخ (البناية فى شر ح الهد اية ج : ۴ ص : ۱۹)

[۳] پورتنئ حاشيه (من شرائط وجوبها .... الخ) اوګورئ!-

جواب: د دوایانو په قیمت باندې زکات لازم دی.[۱]

د واجب الوصول رقم زکات

سوال: زه یو داسې کارکوم چې په کافي خلکو باندې مې د کارپیسې باقي پاتې کیږي اووصولي راته پنځه شپږ میاشتې وروسته کیږي، د څه خلکونه د وصولي امید هم ډیرکم وي، نو آیا په داسې واجب الوصول رقم باندې زکات ورکول پکاردي یا چې کله وصول شي نو د هغه نه وروسته؟

جواب: کاریګر ته چې کله د کارکولونه وروسته د خدمت بدله ملاوشي، نو هلته د هغې مالک کیږي، نو که ته د نصاب خاوند یې اوستا په زکات باندې کال پوره شوی وي چې څومره روپۍ وصول شي د هغو زکات اداکړه، او کوم چې آینده کال وصول شي د هغو زکات دې هم آینده کال ورکړل شي.[۲]

حصو (ونډو) باندې زکات

سوال: ماسره دیوې کمپنۍ اوو سوه حصې (ونډې) دي، چې دیوې حصې اصلي قیمت لس روپۍ دی، او دهرې یوې حصې موجوده قیمت (۳۰) روپۍ دی، زکات به په کوم قیمت باندې واجب وي؟

جواب: د حصو (ونډو) په هغه قیمت باندې چې د زکات د واجبیدو په ورځ وي.[۳]

سوال: د جمعې په ګڼه کې په مې په حصو د زکات باره کې مسئله ولوستله، خو سوال دادی چې ټولې محدود کمپنۍ د عشر او زکات آرډیننس (فرمان) (۱۹۸۰ع) د لاندې د کمپنیو په اثاثاتو باندې زکات کټ کوي (وصول کوي) او دا رقم د آرډیننس د دفعه (ماده) ۷ مطابق قائم شوي سنټرل زکات فنډ ته منتقل کیږي، او بل دا چې ادا شوی زکات د حصه دارانو د حصو په تناسب

۱] و شرطه ای شرط آفتراض أدائها حولان الحول و هو فی ملکه و ثمنیة المال .... أو نیة التجارة فی العروض اما صر یحا و لا بعد من مقارنتها لعقد التجارة کما سیجیء ــ (الدرالمختار علی هامش الطحطاوی ج: ۱ ص: ۳۹۱)ــ

۲] واعلم ان الد یون عند الامام ثلاثة : قوی، و متوسط، و ضعیف، فتجب زکوٰ تها .... عن قبض مائتین مع حولان الحول بعد ای بعد القبض من د ین ضعیف و هو بدل غیرمال کمهر ود یة و بدل کتابة و خلع الا اذ ا کان عنده ما یضم الی الد ین الضعیف ــ و فی الشامیة : (قوله الا ا ذا کان الخ) استثناء من اشتراط حولان الحول بعد القبض .... والحاصل أنه اذا قبض منه شیئا و عنده نصاب یضم المقبوض الی النصاب و یزکیه بحوله و لا یشترط له حول بعد القبض ــ (رد المحتار مع الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۰۵، ۳۰۶، مطلب فی وجوب الزکاة فی د ین المرصد)ــ

۳] وان ادی القیمة تعتبرقیمتها یوم الوجوب..الخ (عالمگیری ج:۱ ص: ۱۸۰، کتاب الزکاة، الباب الثالث)

په حساب سره دهغوی دحاصل شوي ګټې نه کټ کيږي (وصوليږي) معلومول مې داغوښتل چې يوځل داجتماعي کاروبارنه زکات ورکولونه وروسته په دويم ځل حصه داران ته به په هغه حصو باندې زکات ورکول واجب وي ؟

جواب: که دحصه دارانودحصو نه زکات وصول شوی وي، نو هغوی ته په انفرادي طورسره دخپلوحصونه دزکات ورکولوضرورت نه شته، خوپه دې کې خبرې کيدای شي چې حکومت په کوم انداز سره زکات کټ کوي (وصولوي) هغه صحيح ده اوکه نه؟اودې سره به زکات اداشي اوکه نه؟ ډير علماء کرام دحکومت دا کارصحيح ګڼي اودزکات د اداکيدوفتوا ورکوي،هرکله چې د ډيرو عالمانو رايه ددې خلاف ده، اودحکومت له لوري وصول شوی زکات اداشوی نه مني،ددې حضراتو په نزد ددې ټولو رقمونوزکات مالکانوته په خپله اداکول پکاردي،کوم چې حکومت وضع کړي دي.[۱]

اخستل شوي تخم يا سرې باندې زکات نه شته

سوال: د ځمکې له پاره په کوموپيسوباندې چې تخم اوسره واخستل شي اوپرته وي اياپه دې باندې زکات اداکول پکاردي؟

جواب: کومه سره اوتخم چې اخستل شوي اوکيښودل شوي دي،په هغوباندې زکات نه شته.[۲]

پراويډنټ فنډ باندې زکات

سوال: زه په يومقامي بينک کې نوکر يم،چيرته چې زمادفنډمبلغ (۲۹۰۰۰) روپۍ جمع شوی دی،اوله دې نه ما(۲۷۰۰۰)روپۍ بطورقرض اخستې دي،اياپه دې کې به زکات ورکول وي؟اوکه ورکول وي نوکله اوڅومره؟

جواب: پراويډنټ فنډباندې زکات هلته واجبيږي کله چې وصول شي، ترڅوپورې چې هغه دحکومت په کاته (خزانه) کې جمع وي، په هغه باندې زکات واجب نه دی[۳]،په دې مسئله کې

۱] تفصيل دپاره اوګوري احسن الفتاوىٰ ج : ۴ ص : ۳۰۳، طبع ايچ ايم سعيد، و خير الفتاوىٰ ج : ۳ کتاب الزكاة، و جواهرالفتاوىٰ)ـ

۲] و منها فراغ المال عن حاجة الأصلية فليس فى دور السكنىٰ .... زكوٰة وكذ ا طعام اهله ...... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكاة، الباب الاول فى تفسيرها و صفتها و شرا ئطها)ـ

۳]الد يون علىٰ ثلا ثة مراتب : قوى .... و وسط كبدل مال لم يكن للتجارة و غلة مال لم يكن للتجارة و انما يخاطب باداء زكوٰته عند قبض مأتين منها، وضعيف كبدل ما ليس بما هو و هو المهر .... و انما يخاطب باد اء زكوٰة اذ ا قبض مأتين وحال عليها الحول بعد القبض وهٰذ ا قول ابى حنيفة ـ (خلاصة الفتاوىٰ، الفصل السادس فى الد يون ج : ۱ ص : ۲۳۸ طبع رشيد ية كوئته، و أيضا فى الشامية ج : ۲ ص : ۳۰۵، ۳۰۶ مطلب فى وجوب الزكوٰة فى د ين المرصد)ـ

دحضرت مفتي محمدشفيع صاحب (رحمه الله) رساله دمطالعې وړ ده.[۱]

کمپنۍ کې د نصاب برابر جمع شويو روپيو باندې زکات واجب دی

سوال: ماپيسې يوې کمپنۍ ته ورکړې دي چې دګټې اوتاوان په بنياد باندې هره مياشت ګټه راکوي چې هغې سره زموږ دکوراخراجات په مشکله پوره کيږي، زماآمدني کله هم دومره نه کيږي چې دډير ضروري اخراجاتونه وروسته څه جمع کړای شم. ځکه چې بچې مې ګڼ دي، اوس پوښتنه داده چې زکات څنګه اداشي؟که مياشتنۍ آمدني نه يې ادا کوو نو د لوږې سره مخ کيږو. اوکه اصل مال راوباسونوآمدني نوره هم کميږي، اولاس خومې له مخکې نه هم تنګ دی،بيابه دقرض اخيستلوضرورت راپيښيږي، دکوم نه چې زه ځان هميشه ساتم،اوقرض کله هم نه اخلم. رهنمايي مې وکړئ!

جواب: کومې روپۍ چې تاپه کمپنۍ کې جمع کړې دي، که هغه دنصاب (دوه پنځوس نيم تولې چاندي (سپين زرو)) برابروي،نوزکات ستاپه ذمه دی.[۲] تاسو ته اختيار دی چې دزکات داداکولو کوم صورت اختيار وئ.

تجارتي کمپنيوکې ګيرشويو روپيو باندې دزکات حکم

سوال: له علماء کرامو نه اورو چې په قرضې باندې زکات فرض دی، ګزارش دادی چې که ديو مسلمان په چاباندې لس زره ياکم اوزياته قرضه وي، نود زکات په وصوليدوباندې د ادا کېدوحکم شته ، خوسوال دادی چې که ديومسلمان ټوله جمواري قرضه وي اودهغه ملاويدل هم ګران وي، لکه څنګه چې په کراچۍ کې (کوآپريټيواسکينډل) ددې ژوندی مثال دی،هلته چې دکوموخلکو پيسې راګير شوي دي، دهغوی نه دملاويدو اميدشته اونه هغوی نااميده کيدای شي صبر کوي، لهذا که يومسلمان ته دخپلې قرضې روپۍ د څلويښتو کالو پورې ملاو نه شي، نو څلويښت کاله دهغه له پاره څه حکم دی؟ځکه چې دغه شان ددوه نيم فيصده په حساب سره د زکات په مدکې په خلکوباندې چې څومره قرض وي هغه خوبه ټول د زکات په مد اداشي،اوس که څلويښت کاله وروسته هم رقم نه ملاويږي، نوايا په څلويښت کاله کې مذکوره رقم کوم چې د زکات په مدکې ختم شوی دی منهاوکنړل شي اوکه د (۴۰) کالوپه ځای

۱] اوګوري جواهرالفقه ج : ۱ ص : ۳۸۵، د حضرت مولانا مفتي محمد شفيع صاحب رحمه الله، طبع درالعلوم کراچی "پراويډنٹ فنڈپرزکوٰة اور سود کا مسئله" حضرت مفتی محمد شفيع صاحب رحمه الله (۱۱۷) ۔

۲]و شرطه أی شرط آفتراض أدائها حولان الحول و هو فی ملکه و ثمنية المال کالدراهم والد نا نير لتعينهما للتجارة بأصل الخلقة فتلزم الزکوٰة کيفما أمسکهما و لو للنفقة_ (قوله و شرطه) .... وما هنا شرط فی نفس المال المزکی (قوله و هو فی ملکه) أی التام فخرج الضمار_ (الدرالمختار مع حاشية الطحطاوی کتاب الزکوٰة ج : ۱ ص : ۳۹۳ طبع رشيد ية)_

(۵۴) کاله وروسته دا رقم ملاو شي، نو څه به کول وي؟ لږ په تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: په دې تجارتي کمپنیو کې د خلکو چې کومې پیسې راګیر شوي دي، د هغو د زکات څه حکم دی؟ په دې باندې دپوهیدونه مخکې په دې باندې غور کول پکار دي چې په شرعي نقطه نظر سره د دې پیسو څه حکم دی؟

دا خبره خو هرخاص او عام ته معلومه ده چې کومو کسانو په دې کمپنیو کې خپله جمواري جمع کړې وه، دا پیسې یې هغه کمپنیو ته دقرض په طور سره نه وې ورکړې، بلکې دا یې په کاروبار کې د شراکت او په ګټه کې په حصه داري باندې ورکړې وې، دغه کمپنیو دا رقمونه په کاروبار کې ولګول او د دې کاروبار نه حاصلیدونکې د ګټې په روپیو کې یې مالکان هم شریک کړل.

په دې کې د ځینو کمپنیو په باره کې دې خلکو ته معلومه وه چې هغوی د شریعت د اصولو مطابق په دې پیسو باندې مضاربت کوي او د شریعت مطابق دې برخه لرونکو کې د ګټې برخې تقسیموي، هغوی ځینو اعتماد وړ عالمانو باندې د شرعي اصولو مطابق د مضاربت د کار کولو نقشه تیاره کړله او د هغه اصول او ضوابط یې مقرر کړل او بیا هغوی د هغې نقشې مطابق کار شروع کړ او دې حضراتو به ډیر زیات په سختي سره د دې خبرې خیال ساتلو چې په کاروبار کې هم او په ګټې تقسیمولو کې هم هیڅ یو خبره د شریعت خلاف و نه شي.

غرض دا چې: دا سې کمپنۍ چې د برخه لرونکو په روپیو باندې د شریعت د اصولو مطابق مضاربت کوي او کومې پیسې چې هغوی ته ورکړل شوي وي هغه قرض نه وي، بلکې د هغوی په لاس کې امانت وي او دا خلک د برخه لرونکو له لوري د کاروبار کولو وکیلان وو او د دوی په ګټه کې شریک وو، فقهاء کرام فرمایي:

,,مضارب، د کار د شروع کولو نه مخکې د راس المال د روپیو امین وي، د کار د شروع کولو نه وروسته هغه د دوی له طرف نه وکیل جوړ شي او ګټه حاصلیدو نه وروسته هغه د دوی سره په ګټه کې شریک شي؛[1]

دا کمپنۍ د خپلې مرتب شوې نقشې مطابق کاروبار کوي او په برخه لرونکو کې یې بالالتزام د ګټې روپۍ تقسیمولې، چې ناڅاپه حکومت د دوی په ټول کاروبار ملکیت باندې قبضه وکړله او هغوی یې د کاروبار کولو نه منع کړل او د هغې ورځې نه واخله ترننه پورې دا تمام املاک او اثاثې د حکومت په قبضه او تحویل کې دي، د دې کمپنیو مالکانو حکومت ته ډیر زیات اپیلونه (وړاندیزونه) وکړل چې حکومت دې موږ ته په خپله نګراني کې د کاروبار کولو اجازه راکړي او زموږ نه دې دیوې یوې پیسې حساب واخلي یا کم نه کم موږ ته دې د خپلو اثاثو

۱] ثم المد فوع الی المضارب أمانة فی ید ه لأنه قبضه بأمر مالکه لا علیٰ وجه البدل و الوثیقة و هو وکیل فیه لأنه یتصرف فیه بأمر مالکه اذ ا ربح فهو شریک فیه لتملکه جزء من المال (هدایة ج : ۳ ص : ۲۵۷، کتاب البیو ع، باب المضاربة)۔

او املاکو د خرڅولو اجازه راکړي چې موږ متاثرينوته دهغوی پيسې دواپس کولوقابل شو.خوهيڅ‌چاېې خبرې ته غوږ کې نه ښود. دلته داسوال کيږي چې ايادبرخه لرونکو له لوري دحکومت په وړاندې ددې کمپنيودبدعنواني څه شکايت مخې ته راغلی و؟ اوهغوی حکومت ته دمداخلت کولوڅه درخواست کړی و؟ياحکومت اسکينډل جوړکړ اوپه دې کمپنيوباندې يې جبري قبضه وکړله، ترڅوپورې چې دبرخه لرونکو تعلق دی دهغوی له لوري څه داسې قسمه شکايت مخې ته نه دی راغلی اونه داچې هغوی حکومت ته دمداخلت څه درخواست ورکړی و. بلکې ددې برعکس په دې کمپنيوباندې دعوامو اعتماد ورځ په ورځ زياتېده او خلکو د سرکاري (حکومتي) ادارو او بينکونونه روپۍ راويستل اوپه دې ذاتي کمپنيوادارو کې يې خپل رقمونه جمع کول. بلکې ځينوخوخپلې ګينې او کورونه خرځ کړي وواوپه دې اداروکې يې خپلې پيسې جمع کړې وې اوددې اداروداعوامي مقبوليت ددې اداروله پاره ډيرزيات نقصاني ثابت شو. «اے روشنی طبع توبرمن بلاشدی»

دحکومت ، معاشياتي ماهرينو، اوسرکاري (حکومتي) اونيمه سرکاري ادارو مشرانو سره په يوځای داويره مل شوې وه چې که ددې شخصي ادارو همدغه شان اعتبارزياتيده اوپه دوی باندې دعواموداعتمادهم دغه خالت و، نودحکومت مالياتي ادارې اوسرکاري (حکومتي) اونيمه سرکاري بينک(چې ددې کمپنيوله وجې نه دژونداو مرګ په کشمکش کې پراته وو)به مفلوج شي او دحکومت سودي نظام باندې به دخلکواعتمادبالکل ختم شي، ددې سرکاري (حکومتي) ادارو ددرد له پاره حکومت دا علاج تجويزکړ، چې شپه په شپه يې په نجي اداروباندې قبضه وکړله اوله ځانه يې قيصې جوړې کړلې، ددې ادارو چلونکوباندې يې دبې ګناهي دجرم الزامات ولګول اوهغوی يې دمجرمانو په کتار کې ودرول، دکوم سره چې حکومت ته دوه فائدې حاصلې شولې، يوداچې دحکومت کومې ادارې دځنکدن په حالت کې وې، ددې نجي اداروپه مرۍ کيناستلوسره دغه مرګ ته نژدې سرکاري(حکومتي) اداروته اکسيجن ورکړل شو اوهغوی يې دمرګ نه بچ کړلې، دويمه داچې نجي اداروته دهغوی دګستاخي داسې سزا ورکړل شوه چې اينده دنوروله پاره عبرت وي اوهيڅ يوکس دحکومت دسودي نظام له جال نه د وتلو او شريعت محمدي ﷺ مطابق دازادانه کاروبارجرات هم ونه کړل شي، حکومت ددې خپل اقدام په ذريعه ددې نجي کمپنيوچې کوم حالت کړو دهغه دليدونه وروسته انسان خوپريږده، که بالفرض يوه معصومه فرښته هم داسمان نه نازله شي او عواموسره وعده وکړي چې هغه ددوی پيسې په پوره امانت داري په کاروبارکې لګوي اود شريعت خداوندي مطابق به کاروبارکوي اوښه په پوره ديانت سره حاصل شوی امدن به په برخه لرونکو باندې تقسيموي، نوبيابه هم عوام حوصله اوجرات ونکړای شي، چې خپلې اثاثي معصومې فرښتې ته حواله کړي، ځکه چې دحکومت دجبري قبضې توره به هميشه ددوی په سرونوباندې راځوړنده وي، ددې په مقابله کې به هغوی دحکومت په سودي اداروکې

خپلو روپیو جمع کولو ته ترجیح ورکوي او دهغوی نه سودي کټه اخیستل او دخپل دین او ایمان قتل به بهترګڼي، دشیخ سعدي رحمه الله ارشاد دی چې ،،سگهارا کشاده و سنگهارا بسته،، څومره ښه تعمیل دی؟!

په دې کمپنیو باندې دقبضې کولو نه وروسته حکومت عواموته دڅوکالو پورې د دروغو خوبونه ښودل، خوهغه ترننه پوره نه شول، په دې غصب کړل شویو ادارو کې چې کومې نغدې اثاثې موجودې وې اوریدلي مودي چې په حکومت وخت کې اثر لرونکو کسانو دهغه نه خپله برخه وصول کړې ده، پاتې سامان دې پروت وي، بربادیږي او غریبان، بوډاګان، پنشنیان، کونډې او یتیمان اونادار ه خلک دې چیغې وهي، دحکومت او دهغوی دنوکرانو پرې څه.....؟ دبني اسرائیلو دمظلومانو اوازونه دفرعون اوچتو دنګو محلونو پورې کله رسیدلی شي؟

دریاکواپنی موج طغیانیون سے کام :: کشتی کسی کی پار ہویادرمیان رہے

غرض داچې دعوامودا پیسې دظالم حکومت په لاسوکې راګیر شوې دي اوهغه ددې کمپنیو سره امانت وي اوحکومت داکمپنې په تحویل کې واخیستلې اودعوامو په امانتونوبې قبضه وکړله اوداسې مال کوم چې دوخت حکومت په زبردستي سره په خپله قبضه کې اخیستې وي د حضراتو فقهاوو په اصطلاح دې ته ،،مال ضمار،،وایي،[۱] اودمال ضمارد زکات حکم[۲] دادی چې ترڅوپورې هغه مال په دویم ځل وصول نه شي، نوپه هغه باندې دتیروشویو کلونونه زکات واجب نه دی اوکله چې وصول شي، نوکه مالک مخکې دنصاب خاوند وي، نوچې کله په دې نصاب باندې کال پوره شي، نوهغه وخت کې به په دې مال باندې یوازې دهغه کال زکات واجب وي اوکه ددې وصول شوي مال دملاویدونه مخکې مالک د نصاب خاوند نه و، نوچې کله په مال باندې پوره کال تیرشي، نوهلته به په دې باندې زکات واجب شي.[۳]

بیاهم که چاته ددې روپیو دوصولېدو غالب ګمان وي، نوهغه ته د تیرو شویو کلونو زکات هم اداکول پکار دي.

مادامسئله دخپلې پوهې مطابق لیکلې ده،که په دې کې څه غلطي شوې وي، نواهل علم ته درخواست دی چې ددې تصحیح وکړي.

۱] و هوکل ما بقی فی ملکه و لکن زال عن یده زوالا لا یرجيٰ عوده فی الغالب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۴، کتاب الزکاة)۔

۲]یشترط أن یتمکن من الاستمناء بکون المال فی ید ہ أو ید نائبه فان لم یتمکن من الاستمناء فلا زکوٰة علیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۴، کتاب الزکاة، الباب الاول فی تفسیرها وصفتها، ومنها کون النصاب نامیا)۔

۳] الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ اذ ا ملک نصابا ملکا تاما و حال علیه الحول (ج : ۱ ص : ۱۸۵، کتاب الزکاة هدا یة لقوله صلی الله علیه وسلم لا زکوٰة فی مال حتی یحول علیه الحول رواه ابن ماجه عن عائشة (هد ایة، کتاب الزکوٰة ج : ۱ ص : ۱۸۵)۔

بینک چې کوم زکات کټ کوي (وصولوي) د انکم ټیکس (ماصول) سره د هغه هیڅ تعلق نه شته

سوال: دیوکس سره په کورکې لس زره روپۍ دي اوپه بینک یې هم لس زره روپۍ دي، دبینک د پیسوحکومت زکات کټ کوي اوهغه کس انکم ټیکس (ماصول) هم اداکوي. نوایا په بینک کې چې کومې روپۍ جمع دي دهغو به دویم ځل زکات ورکوي. هرکله چې حکومت ته انکم ټیکس (ماصول) هم ورکوي یایوازې هغه روپۍ چې دهغه په کورکې پرتې دي دهغو زکات اداکول واجب دي؟

جواب: بینک چې کوم زکات کټ کوي دځینو علماوو په نزدزکات ادا شي [1] اوحکومت ته انکم ټیکس (ماصول) ورکوي هغومره مقدارپرېږده اوپه باقي پاندې دې زکات ادا شي. [2]

قرضداري ته ورکړل شویو روپیوباندې زکات واجب دی اوپه زکات کې دقیمتي جامو ورکول

سوال: زماسوال دادی چې مادکوردخرچ نه پنځه زره روپۍ ساتلي دي اوپه هغوکې شپږ سوه روپۍ خومې قرض ورکړي دي، دوه کاله شوي دي اوهغه تراوسه پورې نه دي واپس کړي اونه دهغه دواپسي څه اراده شته، پاتې روپۍ هم یوضرورت مند وغوښتلې، نوماهغه ته ورکړې، دهغو هم یوکال شوی دی هغه هم واپس کړي نه دي، نو پوښتنه داده چې ایاپه دې روپیو باندې به زکات ورکول واجب وي اوکه نه ؟ جواب ضرور راکړئ! کومې جامې چې مادخپل ځان له پاره جوړې کړې دي، هغه جامې په زکات کې ورکولی شواوکه نه؟

جواب: کومې روپۍ دې چې چاته قرض ورکړي دي دهغو زکات هرکال اداکول ضروري دي، که د دواپسي نه یې مخکې هرکال ورکوې یاد روپیو ملاویدونه وروسته دټولوکلونوزکات په یوځای اداکوې [3]، دجامو قیمت لګولونه وروسته هغه په زکات کې ورکولی شئ [4] خو داسې

۱] و أما أخذ ا ظلمة زماننا من الصدقات و العشر و الخراج و الجبايات والمصادرات فالاصح أنه يسقط جميع ذلک عن ارباب الاموال اذ ا نووا عندالدفع التصدق عليهم كذ ا فى التتارخانية فى الفصل الثامن من الزكاة (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰، الباب السابع فى المصارف)_

۲] و ان كان ماله اكثر من د ينه زكى الفاضل اذ ا بلغ نصابا...الخ (هداية ج: ۱ص:۱۸۶، كتاب الزكاة)

۳] الد يون علىٰ ثلا ثة مراتب : قوى كالقرض و بدل مال التجارة وفيهما الزكوٰة و انما يخاطب بالأد اء اذ ا قبض أربعين منها ... الخ (خلاصة الفتاويٰ،ج : ۱ ص : ۲۳۸، و أيضا فى الد رالمختار ج : ۲ ص : ۳۰۵، مطلب فى وجوب الزكوٰة فى د ين المرصد)_

٤] المال الذى تجب فيه الزكاة ان ادى زكوٰته من خلاف جنسه ادى قدرقيمة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

نه وي چې هغه جامې دنه استعمال له وجې ستا خوښې نه وي اوتاسوسوچ کوئ چې په زکات کې به يې ورکړو.[۱]

د ټيکسي په ذريعه کرايه ګټلو باندې زکات شته په ټيکسي باندې نه شته

سوال: يوکس سره يولك روپۍ دي هغه يوه ټيکسي اخلي اوکال وروسته څلوېښت زره روپۍ ګټه يې وشوه، اوس زکات دڅومره روپيو ورکړي؟

جواب: که موټر يې دخرڅولوپه نيت سره نه وي اخيستی ، بلکې د مزدروي له پاره يې اخيستی وي، نو کال وروسته دې يوازې دڅلويښتو زرو روپوزکات ورکړي، موټر دمزدوري ذريعه ده په هغه باندې زکات نه شته[۲] اوکه دې کس سره دموټر دګټې نه پرته نورې روپۍ یاګينه نه وي، نودزکات کال به يې په هغه ورځ شروع کيږي په کومه ورځ چې دموټر ګټه ددوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زرو) ماليت ته رسيدلې وه.[۳]

سوال: يوټيکسي موږ په (۴۸۰۰۰)باندې اخيستې وه. مالکانوته موږ د قسطونوپه ذريعه پيسې ورکړې دي، بياداټيکسي موږ په (۵۵۰۰۰) باندې خرڅه کړه، چې موږ لس زره روپۍ نغدې واخيستلې اويونيم زرروپۍ قسط موږ دهغه نه اخلو، تقريبا (۳۲)زره روپۍ موږ ته وصول شوي دي او(۱۳)زره باقي دي، دغه اولنۍ ټيکسي موچې خرڅه کړه، نوهمدغه شان بله ټيکسي موپه (۹۸۵۰۰) باندې په قرض واخيستله، درې زره روپۍ قسط دمياشتې ورکوو، يونيم زرداولني ټيکسي اويونيم زردخپلې ګټې نه په قسط کې ورکوو، ددې ټيکسی د(۷۰) زره روپيوحساب يعنې زکات موږ څنګه اداکړو؟ اوداچې په څومره پيسوبه موږ باندې زکات ورکول واجب وي؟

....بقيه د تيرمخ]... الواجب اجماعا_ (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۰، کتاب الزکاة، الباب الثالث فی زکاة الذهب، الفصل الثانی فی العروض)_

۱] " لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون و ما تنفقوا من شيء فان الله به عليم " (ال عمران : ۹۱)_

۲]و أصل هذا أنه ليس علی التاجر زكوٰة فی مسكنه وخد مه ومركبه و كسوته .... أو متاع لم ينو به التجارة .... الخ _ (خلاصة الفتاویٰ ، الفصل الخامس فی زكوٰة المال ج : ۱ ص : ۲۳۷) (وليس فی دور السكنیٰ و ثياب البدن و أثاث المنزل و دواب الركوب و عبيد الخدمة و سلاح الاستعمال زكوٰة لأنها مشغولة بالحاجة الأصلية و الحاجة الأصلية ما يد فع الهلاک عن الأنسان تحقيقا أو تقد يرا .... الخ (البناية فی شرح الهداية ج : ۴ ص : ۱۹كتاب الزكاة)_

۳] وتعتبرالقيمة عند حولان الحول بعد أن تكون قيمتها فی ابتداء الحول مائتی درهم من الدراهم الغالب عليها الفضة(فتاویٰ عالمگيری كتاب الزكاة، ج:۱ص:۱۷۹،الباب الثالث فی زكاة الذهب،الفصل الثانی فی العروض)

جواب: د دې موټرونه چې کومه ګټه حاصله شي او د نصاب اندازې ته ورسیږي، نو د کال تیریدو نه وروسته پرې زکات راځي[1]، یوازې په موټرو باندې زکات فرض نه دی، ځکه چې داد ګټې الات دي، په دې باندې زکات نه راځي[2]، خو داخیال ساتئ چې ځینې خلک په دې نیت سره ګاډي اخلي چې که چیرته ښه قیمت یې کاو، نو خرڅ به یې کړو او دادهغوی باقاعده کاروبار دی، داسې ګاډي په حقیقت کې د تجارت مال دی او د دې په قیمت باندې زکات واجب دی.[3]

❖ د زکات د اداکولو طریقه ❖

په یوځای چاته د نصاب په اندازه زکات ورکول

سوال: زه ستاسونه دیوې مسئلې پوښتنه کوم او هغه داده چې زه زکات یو کس ته ورکوم او دهغه مالیت تقریباپه زرګونو وي او زه داسې له دې وجې نه کوم چې دچاحقدار پرې کارپوره شي، نوایا داسې زکات وکول روا دي؟

جواب: زکات ورسره اداکیږي، خوچاته په یوځای دومره زکات ورکول چې هغه د نصاب خاوند شي مکروه دي.[4]

یو سړي ته څومره زکات ورکول کیږي

سوال: یو سړي ته زیات نه زیات څومره زکات ورکول کیدای شي؟ د دوه پنځوس نیمو تولو چاندي او د اوونیمو تولو سرو زرو په قیمت کې زیات فرق دی، د چاندي په حساب سره د (۵۵۰۰) روپۍ نصاب دی، او د سرو زرو په حساب سره د (۴۰۰۰۰) روپیو نصاب جوړیږي، په دې زمانه کې د (۵،۵۰۰) روپیو څه حیثیت دی، یو غریب سړی د اولاد خاوند ته څنګه پیسې ورکړي؟ ځکه چې که چیرته یوه دوه درې زره په یو ځای ورکړي، نو په مشکله به یوه

---

[1] لا بد من ملک مقدارالنصاب لأنه صلی الله علیه وسلم قدر السبب به و لا بد من الحول لأنه لا بد من مدة یتحقق فیها النماء و قدرهاالشارع بالحول لقوله صلی الله علیه وسلم لا زکوٰة فی مال حتی یحال علیه الحول (الهدایة مع شرحه البنایة ج : ۴ ص : ۸)۔

[2] تیره شوی حاشیه (و أصل هذا أنه لیس علی التاجر زکوٰة فی مسکنه...الخ) اوګورئ!)۔

[3] و ما اشتراه لها أی للتجارة کان لها لمقارنة النیة لعقد التجارة .... الخ لأن الشرط فی التجارة مقارنتها لعقدها وهو کسب المال بالمال بعقد شراء ... الخ (شامی ج : ۲ ص : ۲۷۲، کتاب الزکاة)۔

[4] و کره اعطاء فقیرنصابا أو أکثر الا ا ذا کان المد فوع الیه مد یونا أو کان صاحب عیال .. الخ (الدرالمختار، باب المصرف ج : ۲ ص : ۳۵۳) و یکره ان ید فع الی رجل مائتی درهم فصاعد ا و ان د فعه جاز (فتاویٰ عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸)۔

دوه میاشتې ګزاره وکړي او که چیرته زیاتې ورکړي، نو هغه به دنصاب خاوند شي. بله داچې د غواګانو یاد میښنو نصاب (۳۰) تاکل شوی دی. ایا یو دنصاب خاوند سړي سره (۵ یا ۷) میښې وي. نو هغه به زکات ورکوي؟ څنګه چې د سرو زرو. سپینو زرو او نغدې روپیو د ټولو قیمت یوځای کولوسره سړی دنصاب خاوند جوړیږي. دغه شان یو ځای کې هم ددې ذکر نه شته چې د سرو زرو او سپینو زرو سره دغواګانو یا میښنو قیمت یوځای کولوسره دې نصاب پوره کړل شي.

جواب: د سرو زرو او سپینو زرو په قیمت کې د فرق له وجې داسې کیدلی شي چې د سرو زرو نصاب جوړ نه شي اود چاندي نصاب جوړ شي. په هرحال که چیرته د چاندي نصاب جوړ شي. نو سړی به دنصاب خاوند وي او زکات به پرې واجب وي. که چیرته د هغه نه کم وي، نوهغه ته دزکات اخیستل جائز دي. غواګانې او میښې زموږ سره دومره نه وي چې په هغو باندې زکات واجب شي.[1]

د مستحق په اجازې د هغه له طرفه د حج په پیسو کې زکات جمع کول

سوال: که چیرته د یو سړي له طرف نه دهغه په اجازت سره په بینک کې د حج فارم سره دهغه په نوم باندې پیسې جمع کړل شي او زموږ نیت د زکات ورکولو وي، نو آیا دا طریقه مناسب ده؟ آیا په دې طریقه زکات ادا کیږي او که نه؟

جواب: که چیرته هغه مستحق وي او تاسو دهغه په نوم باندې د پیسو جمع کولو په وخت کې هغه مالک جوړ کړی وي، نو زکات به ادا شي که نه، نه.[2]

د زکات په پیسو چا باندې حج کول

سوال: د زکات په پیسو یو داسې سړي باندې چې هغه د زکات مستحق هم وي، حج کول جائز دي؟ ما چیرته لوستلي دي چې دا افضل ده. ځکه چې داسې کولو سره زکات هم ادا کیږي او چا باندې د حج کولو ثواب هم ملاویږي.

---

[1] و تضم قيمة العروض الى الثمنين والذ هب الى الفضة قيمة (فتاوىٰ عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۹) الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت أى كائنة أى شيء .... اذ ا بلغت قيمتها نصابا من الورق أو الذ هب يقومها صاحبها بما هو انفع للفقراء.والمساكين منهما أى النصابين احتياطا لحق الفقراء، حتى لو وجبت الزكاة ان قومت بأحد هما دون الاخر ان قومت بما تجب فيه دون الاخر ...... الخ (اللباب فى شرح الكتاب ج : ۱ ص : ۱۴۵، كتاب الزكاة، طبع قد يمى)

[2] أما تفسيرها فهى تمليک المال من فقير مسلم غيرهاشمى و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالىٰ هذا فى التبيين (فتاوىٰ عالمگیری ج:۱ ص:۱۷۰،كتاب الزكاة، الباب الاول فى تفسيرها وصفتها)

جواب: که چیرته هغه مستحق وي، نو هغه ته زکات ورکول جائز دي،خو دومره پیسې یو ځای ورکول چې هغه دنصاب خاوند جوړ شي مکروه دي.[۱]

د مال دخاوند له حکم پرته زکات ادا کول

سوال: یو دمال خاوند د خپل زکات د پیسو له پاره څوک وکیل جوړ نه کړ او بل څوک دمال دخاوند له اجازې پرته زکات ادا کړي، نو ادا کیږي اوکه نه؟

جواب: که چیرته دویم سړی، دمال دخاوند په حکم یا اجازې سره دهغه له لوري زکات ادا کړي، نو زکات ادا کیږي، که نه، نه اداکیږي.[۲]

زکات کله ادا کړل شي

سوال: زکات د دین اهم رکن او فرض دی، د ادا کولو طریقه یې څه ده؟ اودا په څومره موده کې ورکول پکار دي؟

جواب: د کال ختمېدو نه وروسته زکات فرض کیږي، په اول فرصت کې یې ادا کول ضروري دي. او کال ختمیدو نه مخکې یې که چیرته څوک وقفه په وقفه ورکوي اود کال په پای کې حساب وکړي نو بیا هم سهي ده.[۳]

په مختلفو وختونو کې د زکات په نیت سره ورکړل شویو پیسو وېستلو سره پاتې زکات ادا کړه

سوال: ما په مختلفو وختونو کې لږ لږ پیسې د زکات په نیت سره ورکړې دي، مثلاً: کله دوه سوه روپۍ، کله څلور سوه روپۍ او کله سل روپۍ، د روژې په میاشت کې د حساب له نګاه نه زما په ذمه باندې دوه زره او پنځه سوه (۲۵۰۰) زکات و، ما د مخکې نه ادا شویو پیسو وېستلو سره پاتې پیسې د زکات په طور باندې ادا کړې، پوښتنه دا ده چې ایا دا طریقه صحیح ده؟

جواب: څومره پیسې چې وقفه په وقفه باندې ادا کړل شوي دي، هغه جدا کولو سره څومره چې باقي دي هغومره زکات ادا کړه![۴]

---

[۱]ویکره ان یدفع الی رجل مائتی درهم فصاعدا وان دفعه جاز(فتاویٰ عالمگیری ج:۱ ص:۱۸۸ الباب السابع)

[۲]ولیس لکل واحدمن الشر یکین ان یؤدی زکوٰة مال الاخر الا باذ نه (الجوهرالنیرة، کتاب الوکالة ص : ۲۹۲)

[۳] وتجب علی الفور عند تمام الحول .... و أما شرط أدائها فنية مقارنة للأداء أو لعزل ما وجب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰، کتاب الزکاة، الباب الأول فی تفسیرها وصفتها)

[۴]و أما شرط أدائها فنية مقارنة للأداء أو لعزل ما وجب(عالمگیری ج:۱ ص:۱۷۰ کتاب الزکاة، الباب الأول)

په غلطي سره يې زيات زكات وركړ، نو د راروان كال په زكات يې شميرلی شي؟

سوال: كه چيرته څوك څه زكات په غلطي سره وركړي، يعنې د دوه نيم فيصده په ځای يې پنځه فيصده ادا كړي، نو آيا هغه سړی راروان كال د نوي زكات د پيسو نه هغه زيات زكات كټ كمولی شي؟

جواب: هو! كمولی يې شي. [1]

له ويلو پرته زكات وركول

سوال: په معاشره كې ډيركسان داسې دی چې زكات اخيستل شرم ګڼي،كه څه هم دانظريه غلطه ده،خو داسې كسانوته له دوينا پرته دزكات په مدكې ياپه بله څه طريقه زكات وركول كېدای شي؟مثلاً :دهغوی دبچيوله پاره پرې جامې جوړې كړل شي يادهغوی دبچيوپه تعليم كې پرې مرسته وكړل شي، په داسې صورت كې چې زكات وركونكې ته نورې روپۍ وركول ممكن نه وي؟

جواب: دزكات وركولوپه وخت كې داويل ضروری نه دي چې دازكات دی،هديه ياتحفې په عنوان سره دې وركړل شي اوداداكولوپه وخت كې دې دزكات نيت وكړل شي، نوزكات به اداشي. [2]

سوال: كه ديو دوست يارشته دارسره مونږ دزكات په پيسو مرسته وكړو اود احساس كيدو له وجې نه ورته اونه وايو، نوزكات اداكيږي؟

جواب: مستحق ته داويل ضروری نه دي چې دازكات دی، كه هرعنوان سره زكات وركړل شي اونيت دزكات وكړل شي، نوزكات به ورسره ادا كيږي. [3]

د زكات د ادا كولو صورت

سوال: كه دزكات پيسې مونږ سره په كوركې پرتې وي،دكورنه بهر كه څوك ضرورت مند ملاوشي اومونږ ورته دخپل جيب دپيسونه څه وركړواوچې كورته راشو، نوهمغومره پيسې دزكات دپيسونه واخلو نو زكات به وشي؟

---

[1] وكما يجوز التعجيل بعدملك نصاب واحدمن نصاب واحد يجوزعن نصب كثيرة (عالمگيری ج:۱ص: ۱۷۶)

[2] و شرط صحة ادا نها نية مقارنة للأد اء ... الخ و فی شرحه : قوله نية أشار الی أ نه لا اعتبار للتسمية فلوسماها هبة أو قرضا تجز يه فی الأصح (شامی ج : ۲ ص : ۲۶۸، كتاب الزكاة)_

[3] ايضا)_

جواب: هو! ادا کيږي.[1]

د مال د ښښتن له حکم پرته وکيل زکات نه شي اداکولی

سوال: يو د مال خاوند دخپل زکات دپيسو څوک وکيل نه دی جوړکړی اوبل څوک د مال دخاوند له اجازې پرته زکات اداکړي نوادا به شي اوکه نه؟

جواب: که دويم کس د مال دخاوند په حکم يااجازت سره دهغه له لوري زکات اداکړي، نو زکات به ادا شي، که نه، نه اداکيږي.[2]

د زکات تشهير

سوال: په جنګ اخبار کې يوتصويرخپور شوی دی چې دزکات دکميټۍ چيرمين (مشر) په کونډو ماشينونه تقسيموي.ايا شريعت ددې اجازه ورکوي،چې داسې دې دزکات تشهير وکړل شي؟

جواب: فوټو(عکس) چاپ کول خونن سبادنمائش اورياکاري ترټولو غوره مشغله ده. په کونډو باندې دګنډلو ماشينونه تقسيم شول هغوی که دزکات مستحق وي ، نوزکات اداشو،که نه، نه دی اداشوی،[3]دزکات تشهيرېه دې نيت سره صحيح دی چې زکات ورکونکيوته ترغيب ورکړل شي اودرياکارۍ اوځان ښودنې په غرض دزکات تشهيرجائزنه دی،[4]بلکې دې سره ثواب هم باطليږي.

لږلږ زکات ورکول

سوال: که يوه ښځه دخپلو ټولو روپيو يا سرو زرو چې دهغې سره دي، هغو باندې دکال زکات نه باسي، بلکې هره مياشت څه نا څه چاضرورت مندته ورکوي،کله نغدې پيسې،کله غله

۱] و شرط صحة أدائها نية مقارنة له (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۶۸ كتاب الزكوة)۔

۲] و شرط صحة أدائها نية مقارنة له .... أو نوى عند الدفع للوكيل ثم دفع الوكيل بلا نية .... الخ (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۶۸) رجل أدى زكوٰة غيره عن مال ذٰ لک الغير فأجازه المالک فان كان المال قائما فى يد الفقيرجاز والا فلا(عالمگيرى ج :۱ ص : ۱۷۱، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها وصفتها)

۳]انما الصدقات للفقراء و المسٰكين و العاملين .. الاية (التوبة :۶۰) أيضا : أما تفسيرها فهى تمليک المال من فقير مسلم غير هاشمى ولا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالىٰ (فتاوىٰ هند ية ج:۱ ص : ۱۷۰)

٤]اذ ا أراد الرجل أد ا ء الزكاة الواجبة قالوا الأفضل الاعلان والاظهار و فى التطوعات الأفضل هو الاخفاء و الاسرار (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۷۱) اذا اراد الرجل أد اء الزكاة فالأفضل هو الأظهار و فى التطوع الاخفاء (خلاصة الفتاوىٰ، كتاب الزكاة، الفصل الثامن فى اد اء الزكوٰة ج : ۱ ص ۲۴۱، طبع رشيد ية كوئته)۔

اوداسې نور... اوهغه ددې حساب هم دځان سره نه ساتي، نوایاداسې کول به په زکات ورکولو کې شماریږي اوکه نه؟

جواب: دزکات په نیت سره چې څه ورکوي هغومره زکات اداکیږي،[۱] خو دابه ځنګه معلوم شي چې دهغې زکات پوره شوی دی اوکه نه؟له دې وجې دحساب لګولونه وروسته چې څومره زکات کیږي هغه اداکول پکاردي،خو دا اختیارشته چې په یوځای ورکړل شي یالږلږ په ټول کال کې اداکړل شي،خوحساب ساتل ضروري دي اوداهم یاد ساتل پکاردي چې دزکات ورکولوپه وخت کې دزکات نیت کول ضروري دي،کوم شی چې دزکات په نیت سره ورنکړل شي دهغه سره زکات نه اداکیږي،خو که دزکات نیت یې وکړاوڅه پیسې یې بیلې کیښودې اوبیایې وخت په وخت دهغو نه زکات ورکولو، نوزکات ادا کیږي.[۲]

سوال: که یوکس دا وغواړي چې دکال په آخره کې دزکات اداکولوپه ځای هره میاشت څه روپۍ دزکات په طورسره وباسي، نوایاداعمل صحیح دی؟دیوصاحب وینا ده چې دغه شان زکات نه اداکیږي داسې صدقه ویستل پکاردي؟

جواب: هره میاشت لږلږ زکات ورکول هم صحیح دي.[۳]

سوال: عرض دادی چې زماوسیع کاروباردی،خو زه چې کله کلنۍ حساب وکړم ،نوپه کرار کرارپه مختلفو مدرسواوغریبانوباندې په اته میاشتو کې زکات تقسیموم.مااوریدلي دي چې زکات درمضان په میاشت کې پوره پوره اداکول پکاردي،مهرباني وکړئ اودقرآن اوسنت په رڼاکې ووایئ چې دزکات روپۍ په کومه میاشت کې یا لږ لږ ورکړو،نوڅه نقصان خوپه کې نه شته؟په تفصیل سره یې ولیکئ!

جواب: ته چې له کوم وخت نه د نصاب خاوند شوې، دهماغه تاریخ(قمري تاریخ ترې مراد دی)په راتلوباندې زکات فرض شي[۴]،که څه هم رمضان وي یامحرم،غوره خوداده چې

۱] و شرط صحة أدائها نية مقارنة له أى للأد اء و لو........ حكما ....أو مقارنة بعزل ما وجب كله أو بعضه و لا يخرج عن العهدة بالعزل بل بالأد اء للفقراء (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۷۰ كتاب الزكاة)۔

۲] وأما شرط أدائها فنية مقارنة للأد اء أو لعزل ما وجب، فاذا نوى أن يؤدى الزكوٰة ولم يعزل شيئا فجعل يتصدق شيئا فشيئا الى اخر السنة و لم تحضره النية لم يجز عن الزكوٰة كذ ا فى التبيين ا ذ ا كان فى وقت التصدق بحال لو سئل عما اذ ا تؤدى يمكنه أن يجيب من غير فكرة فذٰ لک يكون نية منه و لو قال ما تصد قت الىٰ اخر السنة فقد نو يت عن الزكوٰة لم يجز كذا فى السراجية (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۷۱، كتاب الزكاة، الباب الأول فى تفسيرها وصفتها)۔

۳] أيضا)۔

٤]والمراد بكونه حوليا ان يتم الحول عليه وهو فى ملكه .... و فى القنية العبرة فى الزكوٰة للحول القمرى (البحر الرائق ج : ۲ ص : ۲۱۹، كتاب الزكاة، طبع دار المعرفة، بيروت)۔

حساب وکړل شي اودزکات روپۍ بیلې کړل شي،خو که لږې لږې دټول کال په دوران کې اداکړل شي، نوهم به زکات اداشي. اوکله چې کال شروع شي دهماغه وخت نه لږلږ پیشګي زکات ورکوي نوداهم صحیح ده[۱]،چې دکال په ختمیدو باندې زکات هم اداشي،په هرحال څومره مقداردزکات چې واجب وي دهغه ادا کول ضروري دي.

سوال: که څوک زکات دمیاشتې میاشتې په قسطونوکې اداکول غواړي، نودوه صورتونه کیدای شي،فرض کړئ چې هغه مخکینی زکات اداکړی دی اواوس په هغه باندې زکات واجب نه دی،په اولني صورت کې به هغه دکال په تیریدوباندې حساب لګوي چې په هغه باندې څومره زکات فرض شوی دی اودا روپۍ هغه دمیاشتوپه قسطونوکې اداکول شروع کړي، خوددې په دوران کې هغه وفات شو،نودزکات بوج به په هغه باندې پاتې شي.

۲ په دویم صورت کې هغه حساب ولګوي چې دکال دآخر پورې به په هغه باندې څومره زکات فرض شي اوقسطواراداکول دې شروع کړي،کوم کمې زیاتی چې په کې وی هغه دې په آخري میاشت کې برابر کړي،په داسې صورت کې چې کله هغه مري نوپه هغه باندې به دزکات بوج نه وي،خو ایاداسې به زکات اداشي؟

جواب: پیشګي زکات ورکول صحیح دي،له دې وجې دهغه زکات به اداشي.[۲]

سوال: مادرمضان په میاشت کې چې څومره زکات کیده، هغه پیسې جداکیښودې،اوس یودوه کورونه چاته چې زه زکات ورکول غواړم هغوی ته هره میاشت دهغو نه ورکوم،ځکه که په یوځای ورکړل شي، نوداخلک یې خرچ کوي اوبیاپریشانه وي،تاسوپه شرعي نقطه نظرسره راته ووایئ چې زماداکارصحیح دی اوکه غلط؟په دې سلسله کې که داډوانس (پشګي) زکات ورکولوپه سلسله کې هم راته ووایئ، نوډیره مهربانې به مووي.

جواب: ستاداکارصحیح دی،چې دزکات روپۍ مو بیلې ایښې دي ،او دوخت مناسب یې را احلئ[۳] او کوم کس چې دنصاب خاوندوي، که هغه دکال تیریدونه مخکې زکات ورکړي یاد څو کلونو پیشګي زکات اداکړی نوداسې کول هم جائزدي.[۴]

۱] و لوعجل ذو نصاب زكوٰته لسنين أو نصب صح لوجود السبب (در مختار) قوله وكذ ا لو عجل .... و هي التعجيل لسنة أو لسنين لأ نه اذ ا ملك نصابا و أخرج زكوٰته قبل أن يحول الحول كان ذ لک تعجيلا بعد وجود السبب .... الخ (شامي ج : ۲ ص : ۲۹۳، أيضا خلاصة الفتاويٰ ج : ۱ ص : ۲٤۱)۔

۲] هم دغه شان پورته حواله)۔

۳] تیره شوی حاشیه (وأما شرط أدائها فنية مقارنة للأد اء أو لعزل ما وجب...الخ) اوګورئ!)۔

٤] تيره شوی حاشيه (و لوعجل ذو نصاب زكوٰته لسنين...الخ) اوګورئ!)۔

د زکات له روپیو نه قرض ورکول

سوال: زه هره میاشت دزکات روپۍ اوباسم،اوپه رمضان شریف کې یې ورکوم،که څوک په عامو ورځوکې له ماځخه په قرض دا روپۍ وغواړی نوایازه یې ورکولی شم؟
جواب: ترڅوپورې چې دا روپۍ تاسره وي ستاملکیت دی اوته چې پرې څه کول غواړې کولی یې شې.[1]

د تیروشویو کلونو زکات

سوال: په یوکس باندې زکات واجب دی،خو هغه زکات نه اداکوي، څه موده وروسته هغه دالله تعالی په حضورکې توبه استغفارکوي اود آینده دزکات ورکولوخپل خدای سره وعده کوي،دتیرزکات په باره کې دده ته څه حکم دی؟ایاهغه دتیروشویو کلونو زکات هم اداکړي؟ مثلاً:س کاله پورې یې زکات نه دی اداکړی، هرکله چې دهغه سره خپل کورهم نه شته اوتنخوا هم یوازې دګزارې وي،دهغه له پاره د زکات څه حکم دی؟
جواب: دلمونځ،روژې اوزکات ټولو حکم یو دی،که یوکس دغفلت او کوتاهي له وجې دا فرائض پریږدي، نویوازې توبې اوستغفارسره به دافرائض معاف نه شي،بلکې حساب کتاب کولونه وروسته چې دڅوکلونو لمونځونه دهغه په ذمه وي لږ لږ اداکول دې شروع کړي.مثلاً دهر لمونځ سره دې یوقضایي لمونځ هم اداکوي، تردې پورې چې دتیروشویو کلونو لمونځونه پوره شي، همدغه شان دې دزکات حساب وکړي اووخت په وخت دې اداکوي،تردې پورې چې دتیروکلونوزکات پوره شي او همدغه راز دروژې حکم هم دی، غرض داچې ددې قضا شویو فرائضواداکول هم هغومره ضروري دي،لکه څنګه چې دفرضو اداکول ضروري دي.[2]

د تیروشویو کلونو زکات څنګه اداکړو؟

سوال: زما واده دیارلس کاله مخکې و،اوماخپلې ښځې ته شپږ تولې سره زراوشل تولې

---

[1] و لا یخرج المزکی عن العهدة بالعزل بل بالأد اء للفقراء (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۷۰ کتاب الزکاة، و فی البحر ج : ۲ ص : ۳۶۸ طبع رشید یه)۔

[2] باب قضاء الفوائت (القضا لغة الأحكام) .... (الأولیٰ ان یقول (اسقاط الحکم الواجب بمثل ما عنده) اعلم ان القضاء وجب بالسبب الذی وجب به الأد اء فکل من الأد اء والقضاء تسلیم عین الواجب الا ان الأداء تسلیم عن الواجب فی وقته والقضاء تسلیم عین الواجب بعد خروج الوقت وهٰذ ا هو الراجح .... والتاخیر بلا عذ ر کبیرة لا تزول بالقضاء بل بالتوبة .... و أفاد بذکره الترتیب فی الفوائت والوقتیة لزوم القضاء و هو ما علیه الجمهور (حاشیه طحطاوی علی مراقی الفلاح، باب قضاء الفوائت ص ۲۳۹ طبع میرمحمد کتب خانه، و أیضا تیسیرالوصولْ الی علم الأصول ص : ۴۰)۔

سپین زر په تحفه کې ورکړې و.

الف......په دې مالیت باندې په څومره زکات وي؟

ب......دوه کاله وروسته په دې مالیت کې یوه توله سره زر کم شو، یعنې پنځه تولې سره زر او ۲۰ تولې سپین زر پاتې شو، ددې تقریباً یوولس (۱۱) کاله شوي دي، چې زکات یې نه دی ورکړل شوی. اوس ددې څومره زکات ورکړو، حساب وکړئ اوراته اووایئ اوکه سره زر ورکړو نوڅومره ورکړو؟

سوال: زماخورسره نهه تولې سره زر او ۲۰تولې سپین زر دي اودا د اوولسو کالونه دي. تاسو راته ووایئ چې په دې باندې اوس څومره زکات ورکول واجب دي؟

جواب: ددې دواړومسئلو یوجواب دی، ستادخوراوښځې په ملکیت کې چې په کوم تاریخ سره زر او سپین زر راغلل، هرکال په دغه قمري تاریخ باندې په دې باندې زکات فرض کیده،[۱] چې هغوی ادانکړ، له دې وجې دټولوتیروشویوکلونوزکات اداکول په هغوی باندې لازم دی.[۲]

دتیرو شوو کلونو د زکات دادا کولوطریقه داده چې په اول کال د سرو زرو اوسپین زرو کوم مقدارو، دهغه ځلویښتمه برخه دې په زکات کې ورکړل شي، بیاپه دویم کال ددې ځلویښتمې برخې اندازه دې ترې لرې کړل شي اود پاتې نه دې ځلویښتمه برخه وویستل شي، همدغه شان دې داوولسو(۱۷)کالوحساب ولګول شي اوددې پاتې ټولوکلونودزکات مجموعه چې څومره اندازه سره زر اوسپین زر جوړ شي هغه دې په زکات کې اداکړل شي،[۳] ستا دخور سره اولس کاله مخکې ۹ تولې سره زر او(۲۰) تولې سپین زر و،ماد اوولسوکلونو د زکات حساب وکړ، نود سرو زرو دزکات ټوله اندازه(۳۲،۰۷) ګرام جوړه شوه ،اودسپینو زرو د زکات ټوله اندازه(۸۱،۲۰۱)ګرام جوړه شوه.لهذاد(۹)تولې سرو زرو او(۲۰)تولې سپینو زرو زکات په پورتنې مقدارسره اداکول ستادخورپه ذمه واجب دي اوستادښځې په ذمه دیوولسو(۱۱) کلونو په زکات کې (۱۴،۷۹۵)ګرامه سره زر او(۲۵،۵۰۹)ګرامه سپین زر اداکول لازم دي.

۱]و شرطه أى شرط آفتراض أدائها حولان الحول و هو فى ملكه و ثمنية المال كالدراهم والدنانيرلتعيينهما للتجارة بأصل الخلقة فتلزم الزكوٰة كيفما أمسكهما... الخ (الدرالمختار مع الشامى، ج : ۲ ص : ۲۶۷)۔

۲] .... و فى القنية العبرة فى الزكوٰة للحول القمرى (البحر الرائق ج : ۲ ص : ۲۱۹، كتاب الزكاة)۔

۳]وذكر فى المنتقى : رجل له ثلث ماة درهم د ين حال عليها ثلا ثة أحوال فقبض مائتين، فعند ابى حنيفة يزكى للسنة الأولى خمسة وللثانية والثالثة أربعة أربعة من ماة و ستين ... الخ (فتاويٰ شامى ج:۲ ص :۳۰۵، كتاب الزكاة)

د دوکان زکات څنګه اداکړل شي؟

سوال: زه د يو دکان مالک يم، چې له نن نه څلورکاله مخکې مې په (۲۰) زره روپۍ اخستی و او تقريبا يو کال مخکې مې په کې د (۵۰) زرو روپيوسامان اچولی و، چې تقريبا دشلو زرو روپيو سامان په ماقرض اخستی و، چې اوس ماادا کړی دی، ددې دکان نه چې کومه امدني کيږي زه هغه پوره په دکان کې په دويم ځل لګوم، د مارکيټ په حساب سره زما د دکان قيمت د يو لك نه زيات دی او په دې کې چې کوم سامان دی د هغه قيمت هم شپيته يا پنځه شپيته زره روپۍ جوړيږي، د رمضان مياشت راتلونکې ده، ستاسونه مې سوال دادی چې زه په دې باندې زکات څنګه اداکړم؟ د دکان دامدني نه زه څه خرچ کوم نه.

جواب: په دکان کې چې دځومره ماليت سامان دی، دهغه قيمت ولګوه اوکه ستاپه ذمه څه قرض وي، نوهغه ترې لرې کړه اوباقي چې ځومره مال پاتې شي، دهغه څلويښتمه برخه په زکات کې ورکړه، ددکان په عمارت ،الماريو، فرنيچر او داسې نورو... باندې زکات نه شته، يوازې دخرڅلاو مال باندې زکات دی.[1]

استعمال شوي شيان په زکات کې ورکول

سوال: يوکس يوشی شپږ مياشتې استعمال کړی،اوشپږ مياشتې وروسته هماغه شی په خپل زړه دزکات نيت کولوسره په نيم قيمت باندې له وينا پرته چا مستحق ته په زکات کې ورکړي، نوزکات به اداشي او که نه؟

جواب: که په بازار کې خرڅ کړل شي اودومره قيمت يې ملاويږي نوزکات به اداشي.[2]

نه خرڅيدونکی شی په زکات کې ورکول

سوال: د يو دکاندار يوشی نه خرڅيږي،هغه په زکات کې ورکولی شي اوکه نه؟ که ورېې کړي قبليږي اوکه نه؟

جواب: ردي شی په زکات کې ورکول داخلاص خلاف دي،بياهم ددې شي چې ځومره ماليت

---

[1] الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت أى كائنة أى شيء يعنى من جنس ماتجب فيه الزكوٰة كالسوائم أو غيرها كالثياب اذ ا بلغت قيمتها نصابا من الورق أو الذ هب..... الخ (اللباب فى شرح الكتاب ج : ۱ ص : ۱۴۵، كتاب الزكاة،) و ان كان حاله أكثر من د ينه زكى الفاضل اذ ا بلغ نصابا بالفراغ عن الحاجة الأصلية والمراد به د ين له مطالب من جهة العباد (الهد اية مع شر ح البناية ج : ۴ ص : ۱۶، ۱۷)۔

[2] المال الذى تجب فيه الزكاة ان ادى زكوٰته من خلاف جنسه اد ى قدر قيمة الواجب اجماعا (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۰، الباب الثالث فى زكاة الذهب والفضة، الفصل الثانى فى العروض، كتاب الزكاة)۔

په بازار کې وي. د هغه په ورکولو سره به د هماغه اندازې مال زکات اداشي [۱]

د شیانو په شکل کې زکات ادا کول

سوال: ایا د زکات روپۍ مستحقینو ته د شیانو په شکل کې ورکول کیدای شي؟

جواب: ورکول کېدای شي [۲] خو دا خیال ساتل پکار دي چې ردي شیان په زکات کې ورنکړل شي

د زکات په روپیو د مستحقینو له پاره کاروبار کول

سوال: د زکات د تقسیم په باره کې یوه نظریه دا مخې ته راغلې ده چې د اروپۍ دې مستحقینو ته د ورکولو په ځای د هغوی په حق کې د چاذمه دارکس په نګراني کې د صنعتي نوعیت کاروبار کې ولګول شي، چې د هغو نه ګټه هم حاصله شي او غریبانو ته روزګار هم پیداشي او مستحقین زر تر زره د نصاب لرونکو خلکو په قطار کې ودرول شي، هرکله چې مادیو دیني او دنیاوی دواړو علمونو لرونکي ګوشه نشین بزرګ نه دااوریدلي دي چې د زکات روپۍ له مخیرو کسانو نه مستحقینو ته مخامخ ورکول پکاردي؟ نه هیڅ یو دریم کس ته ددې دواړو افرادو په مینځ کې د حائل کیدو اجازت شته او نه روپۍ حقدار ته له رسیدو مخکې ددې نه د څه قسمه د فائدې حاصلولو د کوشش کولو اختیارشته، که څه هغه د حقدار په حق کې ولې نه وي؟ ددې دواړو نظریو د صحیح یا غلط کیدو په باره کې ضروري وضاحت وکړئ!

جواب: د بزرګ دا خبره صحیح ده، چې د زکات د روپیو ترڅو پورې څوک فقیر او محتاج مالک جوړ شوی نه وي، زکات نه اداکیږي، [۳] د هغه د مالک جوړولو نه وروسته که د هغوی په اجازت سره د اسې انتظام وکړل شي کوم چې تاسو لیکلی دی، نو صحیح دی.

د زکات په روپیو د غریبانو له پاره کارخانې جوړول

سوال: ایا د زکات په روپیو د غریبانو له پاره کارخانې جوړول صحیح دي؟ چې د غریبانو او محتاجو په مستقل طور سره مدد وکړل شي؟

جواب: د زکات د ادائیګي له پاره د فقیر مالک جوړول شرط دي [۴]، صنعتي کارخانې لګولو

---

[۱] ایضاً پورتنی حواله۔

[۲] المال الذی تجب فیه الزکاة ان ادی زکوٰته من خلاف جنسه ادی قدر قیمة الواجب اجماعا (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۸۰) لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون و ما تنفقوا من شيء فان الله به علیم (ال عمران : ۹۱)

[۳] أما تفسیرها فهی تملیک المال من فقیر مسلم غیرهاشمی و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ هذا فی التبیین (فتاویٰ عالمگیری ج: ۱ص: ۱۷۰ کتاب الزکاة، الباب الاول فی تفسیرها وصفتها)

[٤] ایضاً پورته حواله۔

سره زکات نه ادا کیږي[۱]، که کارخانه جوړه شي اویوغریب یا څو غریبانان ددې مالکان جوړ کړل شي دځومره مالیت چې هغه کارخانه ده، نو دهغومره مالیت زکات به اداشي.

په قرض ورکړل شویو روپیوباندې د زکات نیت کولو سره زکات نه اداکیږي

سوال: مادیوغریب اوپریشان حال ضرورت مند مدد وکړ، هغه قرض پیسې غوښتې وې، دهغه د غریبۍ له وجې نه موږ دهغه مالي مدد وکړ، اوس هغه په تاکل شوي وخت باندې قرض واپس نکړای شو اونه یې څه صورت په نظرراځي، اوس که موږ دا په قرض ورکړل شوې روپۍ دزکات په نیت سره پریږدو، نوزکات به اداشي؟ هرکله چې موږ هغه ته قرض ورکړې وې اودزکات په نیت مونه وې ورکړې، نه موداخیال و، چې هغه به روپۍ نه واپس کوي اوخوري به یې.

جواب: کوم صورت چې تاسولیکلی دی، دې سره زکات نه ادا کیږي.ځکه چې دزکات داداکولوپه وخت کې نیت کول شرط دي.[۲]

مستحق سړي ته زکات ورکولو سره داویل چې هغه دې په چا حج وکړي

سوال: یو مستحق سړي ته چې هرڅوک وي زکات ورکړل شواو هغه ته وویل شو چې ته په چاباندې حج وکړه، نو آیا داسې کولو سره زکات ادا شو؟

جواب: کوم مستحق ته چې تاسو زکات ورکوئ، هغه ددې مالک دی، تاته ددې وینا کولو څه حق دی چې هغه دې په چاباندې حج وکړي؟[۳]

دکوروالو ناخوښه نوې جامه په زکات کې ورکول

سوال: یوه جامه د کور والو له پاره واخستل شوه، خو هغه دکور والو خوښه نه شوه او دکاندار یې هم واپس نه اخلي، هغه جامه کیښودل شوه او سوچ وکړل شو چې دا به د زکات

۱] و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد وکذ ا القناطر والسقایات و اصلاح الطرقات و کری الأنهار و الحج و الجهاد وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ الباب السابع فی المصارف)۔

۲] وأما شرط أدائها فنیة مقارنة للأد اء أو لعزل ما وجب، هٰکذ ا فی الکنز (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰) و فی الدرالمختار ج : ۲ ص : ۲۷۰ : و شرط صحة أدائها نیة مقارنة له أی للأد اء و لو ..... حکما ...... أو مقارنة بعزل ما وجب کله أو بعضه و لا یخرج عن العهدة بالعزل بل بالأد اء للفقراء (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۷۰ کتاب الزکاة)۔

۳] کتاب الزکوٰة .... هی تملیک جزء مال عینه الشارع و هو ربع عشرنصاب حولی .... من مسلم فقیر غیرهاشمی و لا مولاه .... مع قطع المنفعة عن المملک من کل وجه .... للّٰه تعالیٰ (الدرالمختار، ج : ۲ ص :۲۵۶، ۲۵۸)

په طور باندې ورکړو. آیا هغه جامه د زکات په طور باندې ورکولو سره زکات به ادا شي؟

جواب: کومه جامه چې دکوروالو خوښه نه شوه، آیا په هغې کې څه نقص و؟ په هرحال څه قیمت کمولو سره هغه په زکات کې ورکول جائز دي.

زکات د سکول په ماشومانو باندې خرچ کول

سوال: زمونږ جماعت (ډله) دخپلو خپلوانو نه د فلاح وبهبود له پاره د ممبرانو نه زکات جمع کوي. ددې له پاره چې په حق دارو یې تقسیم کړي، په دې سلسله کې څه پوښتنې په ذهن کې پیدا کیږي، چې د اختلاف سبب هم جوړیږي:

ایا د زکات پیسې د سکول د ماشومانو د تعلیم ،دهغوی د کتابونو، یونیفارم اود بس د کرایې دله پاره استعمالېدای شي؟ د ځینوخلکو خیال دی چې د دنیاوي تعلیم له پاره د زکات پیسې نه شي خرچ کیدلی. حالانکه یو څو کسان ددې جواب ورکوي چې حدیث دې چې علم حاصل کړئ که څه هم چین کې وي، او چین کې چونکې اسلام او اسلامي حکومت نه و. لهذا د علم په حوالې سره د چین سفر به هم د دنیاوي علم حاصلولو له پاره وي، دویمه خبره داده چې د غزوه بدر نه وروسته قیدیانو نه پیسو اخستلو سره هغوی پرینښودل شوي وو. حالانکې هغه کافران قیدیان چې تعلیم یافته و هغوی پابند کړل شو چې هغوی د مدینې لس ماشومان د علم په زیور سره ښائسته کړي. اوس مدینه منوره کې دیني علم د حضور ﷺ اود هغه د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ښه چا ورکولی شو ! دا کافران قیدیان به یقیناً د مدینې د مسلمانانو خلکو ماشومانو ته د دنیاوي علم ورکولو باندې مامور وي.

جواب: د زکات د پیسو یو مستحق مالک جوړول ضروري دي، د سکول ماشومان چې مسلمانان وي او د زکات مستحق هم وي، هغوی ته ورکولو سره زکات ادا کیږي،[1] دا جدا بحث دی چې د زکات له پاره تر ټولو ښه مصرف لټول پکار دي.

دا حدیث چې علم حاصل کړئ ! کهڅ څه هم په چین کې وي، صحیح نه دی، د علم حدیث ماهرینو دې ته موضوع او د ځانه جوړ شوی ویلي دي.[2]

د کافرو قیدیانو سره دا شرط کول چې هغوی د صحابه وو رضي الله عنهم ماشومانو ته لیکل وښیي، ددې نه د نن سبا د سکول اود کالجونو د تعلیم ذکر څنګه رااووت؟ چې (۹۹) فیصد

---

[1] کتاب الزکوٰة : أما تفسیرها فهی تملیک المال من فقیر مسلم غیرهاشمی و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ هٰذ ا فی الشرع (فتاویٰ هند یة : ۱ ص : ۱۷۰، کتاب الزکوٰة، فتاوی شامی ج : ۲ ص : ۲۵۷)

[2] أطلبوا العلم و لو بالصین .... قال ابن حبان : باطل لا اصل له ... الخ (اللالی المصنوعة فی الاحادیث الموضوعة ج : ۱ ص : ۱۹۳، طبع دار الفکر بیروت)

ماشومان بې دینه جوړوي اودا ماشومان نه د لمانځه پاتې شي، نه د دین. دنیاوي علم حاصلول یوازې روا نه بلکې ضروري دي، خو شرط دادی چې دزده کوونکوماشومانو دین برباد نه شي، کوم تعلیم چې مسلمان بچي له دین نه راانده کړي، جائز نه دی، بلکې حرام دی، اوهغه سره مرسته کونکی دحرام فعل مرتکب دی. [۱]

د یوې غریبې انجیلۍ د واده له پاره د زکات په پیسو دوه تولې یا ددې نه کم سره زر اخستل

سوال: آیا د زکات د پیسو نه یوې نهایت غریبې رشته دارې انجیلۍ له پاره دوه تولې یا ددې نه کم سره زر اخستل او دواده له پاره ورکول کیدای شي؟ او زکات به ادا شي؟

جواب: که چیرته هغه انجیلۍ د نصاب خاونده نه وي (له مخکې نه هغې سره دګینې یا د نغدو په شکل کې دومره سرمایه نشته چې هغې باندې زکات فرض وي) نو دانجیلۍ ته د زکات د پیسو نه ګینه جوړول صحیح دي. [۲]

د زکات په پیسو سره جهیز (سامان) اخستل او ورکول

سوال: زما مسئله داده چې زما د خاوند د خور (ایندرور) پنځه لورګانې او دوه زامن دي، یوه لور یې واده شوې ده. د دویمې لور واده تیره میاشت کې شوی دی، درې لورګانې یې لاشته. د جینکو والد صاحب په کور کې دهغوی دوینا مطابق بالکل خرچې وغیره نه ورکوي. ورور یې ملازم دی، موریې هم اکثره ناروغه وي. اوریدلې مې چې ورور یې دوه زره روپۍ هره میاشت ورکوي، نن سبا په دومره ګراني او بیماري کې په دوو زرو باندې ګزاره کول مشکل دي، زموږه مسئله داده چې زما خاوند هم قرضی دی، دهغه هم دومره حیثیت نه شته چې دهغوی مالي مدد وکړای شي. زه غوښتل غواړم سره قسط اچولو سره زکات ادا کوم، ځکه چې ماسره دخپل کور ګینه ده. لهذا ما تاسو نه دا پوښتنه کوله چې هغه سالانه زکات کې دهغه جینکو د جهیز (سامان) له پاره سالانه څه پیسې هغوی ته ورکولی شم اوکه نه؟ دې د پاره چې هغوی دخپلو جینکو له پاره ګینه پرې جوړه کړي، داسې کول څومره حده پورې جایز دي؟ مولانا صاحب! د رمضان المبارک نه مخکې زما د خط جواب راکړئ، زه به ستاسو ډیره شکرګزاره شم، هسې یو خبره بله عرض کړم چې د لومړۍ انجیلۍ په واده کې مې د زکات نه دوه زره روپۍ ورکړې دي، زما هغه زکات قبول شوی دی

---

[۱] وتعاونوا على البر والتقوى و لا تعاونوا على الاثم و العدوان (المائدة : ۲)

[۲] " انما الصدقات للفقراء والمساكين " الاية (التوبة : ۶۰) المصارف ..... الخ منها الفقير و هو من له أدنى شيء وهوما دون النصاب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۷ الباب السابع فى المصارف)

او که نه؟ تاسو زما د خط جواب ضرور راکړئ!

جواب: که چیرته هغو جینکو سره دومره سره زر نه وي چې هغوی باندې زکات واجبیږي، نو هغوی ته د جهیز سامان اخیستلو سره ورکولی شی. یا نغدې روپۍ ورکولی شی چې هغه جهیز (سامان) واخلي.[۱]

دقرض ورکړل شویو روپیو هرکال زکات ورکړئ یا د وصول کیدو نه وروسته په یوځای ورکړئ

سوال: ماخه روپۍ یودوست ته دقرض حسنه په طورورکړي دي، ایازه د هغو هرکال زکات ورکړم؟ یا چې کله هغه وصول شي بیا یې ورکړم؟ واضحه دې وي چې قرض ورکولوباندې څوکالونه تیر شول، او اوس دهغه دوست کاروبار روان دی،زماددوه څلورځله غوښتنې باوجودهم هغه قرض واپس نه کړ، خبرې ته تیال ورکړي چې لا تر اوسه مې یوبل قرض ګیردي چې کله هغه راووځي نوفوراًبه یې اداکړم.

جواب: دقرض په روپیو باندې هرکال په تا زکات لازم دی،خو تاته دااختیارشته چې هرکال پرې زکات اداکوې یاچې کله قرض وصول شي نودتیروتیولوکلونوزکات په یوځای اداکوې.[۲]

مقروض د سرو زرو زکات څنګه اداکړي؟

سوال: ماسره نهه تولې ګینه ده،دهغې دزکات په باره کې پوښتنه کوم چې زکات په څومره تولوباندې لازمیږي.اودڅومره تولونه وروسته زکات ورکول وي؟ فرض کړئ چې پنځه تولې باندې زکات لازم دی، نو ماباندې به دبقایا څلورو تولو زکات هم ورکول وي یا ټولو نهو تولو ورکول وي؟زه په سرکاری (حکومتي) اداره کې نوکریم،اوکافي اندازه قرض هم ما باندې دی،په دې صورت کې دزکات طریقه څه ده؟هرکله چې زماتنخواه هم زیاته نه ده،په مشکله مې ګزاره کیږي.

جواب: ستاپه ذمه چې کوم قرض دی دهغه دلرې کولونه وروسته که تاسره اوو نیمې تولې سره زر باقي پاتې کیږي، نوپه تاباندې دباقي مانده زکات واجب دی.[۳]

---

[۱] (۲) المصارف... الخ (منها الفقیر) وهو من له ادنیٰ شيء وهو ما دون النصاب أو قدر نصاب غیر تام و هو مستغرق فی الحاجة (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۷، الباب السابع فی المصارف)

[۲] و لو کان الد ین علی مقر ملی أو عليٰ معسر أو مفلس .... فوصل الیٰ ملکه لزم زکوٰة ما مضیٰ (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۶۷) و فی خلاصة الفتاویٰ (ج : ۱ ص : ۲۳۸) الد یون علی ثلاث مراتب : قوی کالقرض و بدل مال التجارة وفیهما الزکوٰة وانما یخاطب بالأد اء .... الخ شامی ج : ۲ ص : ۲۰۶ مطلب فی وجوب الزکوٰة فی د ین المرصد)_

[۳] ومن کان علیه د ین محیط بماله فلا زکوٰة........ و ان کان ماله أکثر ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د زکات نه نوکر ته تنخوا ورکول جائز نه دي د امداد له پاره زکات ورکول صحیح دي

سوال: ماسره یو نوکر دی. هغه د تنخوا زیاتولو مطالبه وکړه، نوما دزکات په نیت سره اضافه اوکړه، اوس هغه دا ګڼي چې په تنخوا کې مې اضافه وشوه، او زه د دې په بدله کې کارکوم، آیا دې طریقې ورکولو سره به زما زکات اداشي؟

جواب: د نوکر تنخوا خو د هغه د کار بدله ده. او کله چې تاد تنخوا د زیاتولو په نامه باندې اضافه وکړه نو هغه هم د کار په معاوضه کې شوه، له دې وجې ستا زکات ادا نه شو[۱]، کومه تنخواه چې د هغه سره تاکل شوې وي. د هغې دا دا کولو نه وروسته که هغه محتاج وګڼل شي او د هغه زکات ورکولو سره مدد وکړل شي. نو زکات به اداشي.[۲]

نوکر ته ایډوانس (پیشګي) ورکړل شویو روپیو کې د زکات نیت کول صحیح نه دي

سوال: ما خپل نوکر ته څه پېشګي روپۍ د واپسي په شرط ورکړې، خو زه وینم چې هغه به دا روپۍ ادا نه کړای شي، که زه د زکات نیت وکړم نو آیا ادا به شي؟

جواب: نیت کول د زکات د ورکولو په وخت کې ضروري دی، وروسته شوی نیت کافي نه دی، له دې وجې نه ته دا روپۍ د زکات له مدنه نه شې لرې کولای[۳] او دا کولی شې چې د زکات په نیت سره هغو مره روپۍ ورکړه او هماغه وخت ترې خپل قرض وصول کړه.[۴]

د آینده مزدروي خرچې د زکات نه جدا کول صحیح نه دي

سوال: یو کس کور جوړوي، مزدوران کار کوي، د دې وخت کې د زکات ورکولو وخت راځي، هغه د دې مزدورانو اجرت بیل بېل ردې او زکات اوباسي، یعنې تقریبا پنځوس زره جوړیدې، نو

...بقیه د تیرمخ]...من د ینه زکی الفاضل اذ ا بلغ نصابا بالفراغة عن الحاجة (هداية ج : ١ ص : ١٨٦، كتاب الزكاة)۔

۱] ولو نوى الزكوٰة بما يد فع المعلم الى الخليفة و لم يستأجره ان كان الخليفة بحال لولم يد فعه يعلم الصبيان أيضا أجزاه و الا فلا وكذ ا ما يد فعه الى الخد م من الرجال والنساء فى الاعياد وغيرها بنية الزكاة كذ ا فى معراج الدراية (عالمگیری ج : ١ ص : ١٩٠ كتاب الزكاة الباب السابع فى المصارف)۔

۲] ويجوز دفعها الیٰ من يملک أقل من النصاب وان كان صحيحا مكتسبا (عالمگیری ج:١ص:١٨٩ فى المصارف)

۳] تیره شوی حاشیه (ولو نوى الزكوٰة بما يد فع المعلم الى الخليفة....الخ) اوګورئ۔

٤] وحيلة الجواز ان يعطى مديونه الفقيرزكوٰته ثم يأخذها عن دينه ١هـ (درمختار على الشامية ج:٢ص:٣٧١)

پنځوس زره یې ترې بیلې کېښودلې او دهغه زکات او نه باسي، ځکه چې مالوستلي دي چې که دچا نوکر وي نو هغه دې دهغه تنخوا جدا کړي او بیا دې زکات ورکړي.

جواب: څومره خرچه چې په کور باندې شوې ده، او دهغه په ذمه د مزدورانو مزدوري واجب ده، هغه دزکات نه لرې کولی شي، خو آینده چې کومه خرچه کیږي یامزدوري واجبیږي، دهغې جدا کول صحیح نه دي.[۱]

د زکات په روپیو جومات ته جنریټر اخیستل جائز نه دي

سوال: یوکس دخپل زکات په روپیو دجومات له پاره جنریټراخیستلی شي او که نه؟

جواب: دزکات په روپیو دجومات له پاره جنریټر نه شي اخیستل کېدای،[۲] خودا کیدای شي چې یو غریب کس په قرض باندې دجومات له پاره جنریټرواخلي اودزکات روپۍ هغه ته دقرض ادا کولو له پاره ورکړل شي.

چې پیسې نه وي نو زیورات دې خرڅ کړي اوزکات دې اداکړي

سوال: زکات ورکول یوازې په ښځه باندې فرض دي، هغه خوګټه نه کوي، بیاهغه څنګه زکات ورکړي؟هرکله چې خاوند هغې ته یوازې دومره روپۍ ورکوي چې دکوردضروریاتوله پاره وي.

جواب: که پیسې نه وي، نو ګینه دې خرڅه کړي اوزکات دې اداکړي، یاکه دګینې څلویښتمه برخه ورکول ممکن وي، نوهغه دې ورکړي.[۳]

سوال: دزیدښځې سره د سرو زرو ګینه ده، چې وزن کړې یې نه ده، ایاددې زکات به ښځه ورکوي لو که خاوند ؟هرکله چې خاوند ټول ضرورتونه پوره کوي، اوښځې ته ډیرې کمې روپۍ دجیب خرچ له پاره ورکوي ، څینې وخت دکال په آخره کې دخاوندسره دومره روپۍ نه وي چې

۱] (قوله و ملک نصاب حولی فارغ عن الدین و حوائجه الأصلية نام و لو تقدیرا) .... والمراد بکونه حولیا أن یتم الحول علیه و هو فی ملکه لقوله علیه السلام لا زکوٰة فی مال حتی یحول علیه الحول ... الخ (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۱۹) و اذا کان النصاب کاملا فی طرفی الحول فنقصانه فیما بین ذلک لا یسقط الزکوٰة لأنه یشق اعتبارالکمال فی أثنائه اما لا بد منه فی ابتدائه ......و فی انتهائه .. الخ (هدایة ج: ۱ ص: ۱۹۶)

۲]و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد .... و کل مالا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة الباب السابع فی المصارف، طبع رشید یه کوئته)

۳] تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم و فی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال مضروباکان أو لم یکن ..... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۸، کتاب الزکاة، الباب الثالث) لان الواجب الأصلی عندهما هو ربع عشر العین و انما له ولایة النقل الی القیمة یوم الأداء (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۲۲، کتاب الزکوٰة)۔

زکات پرې اداکړای شي.دخاوندآمدني دسکول تنخوا ده،اوځه روپۍ یې دګټې او تاوان په کاروبارکې لګیدلې دي. چې زکات یې ورکوي. نوایابیابه هم د سرو زرو په ګینه باندې زکات ورکول واجب وي؟

جواب: د سرو زرو نصاب اوو نیمې تولې دی،که دزیدښځې سره دومره سره زر وي چې هغه په خپله مالکه وي،نوزکات په هغې په خپله فرض دی اوکه پیسې نه وي نوګینه دې خرڅه کړي اوزکات دې اداکړي.[۱]

ښځه دې په خپله زکات اداکړي که څه هم ګینه خرڅه کړي

سوال: زمادتولې ګینې وزن تقریبا اته تولې دی، خو له دې پرته، ماسره نه دقربانۍ له پاره او نه دزکات له پاره پیسې شته، لهذا مایوسیټ دخپلې لورپه نوم ایښی دی، هغه اوس زیر استعمال هم نه دی او خاوندپه زکات ورکولوباندې راضي نه دی او وایي چې ته او ګینه دې پوه شه، خوپه دې کې زمایوازې دومره ملکیت دی چې استعمالولی یې شم، خو خرڅولی یا بدلولی یې نه شم، اوس دماشومې دګینې زکات څوک ورکړي؟د ورور په ورکړل شویو دوه نیم زره روپیو کې زکات ورکوم.

جواب: دکومې ګینې چې تاخپله لورمالکه جوړه کړې ده، هغه چې ترڅو پورې نابالغه وي په هغې باندې زکات نه شته،[۲]خو هغې ته ورکولونه وروسته ستاله پاره دهغه استعمال جائزنه دی[۳]، پاتې سره زر که نغدې روپۍ ورسره یوځای کړل شي اودنصاب حد ته رسیږي، نوپه هغې باندې زکات فرض دی،[۴] که نغدې روپۍ نه وي، نوګینه دې خرڅه کړل شي اوزکات ورکول ضروري دي،که خاوند ستاپه وینا باندې ستاله طرفه زکات اداکړي، نوزکات به ادا شي[۵]،خودهغه په ذمه فرض نه دي، فرض ستاپه ذمه دي، دزکات داداکولوګنجائش چې نه

۱] لم يختلفوا ان الحلى اذ ا كان فى ملک الرجل تجب فيه الزكوٰة، فذ الک اذ ا كان فى ملک المرأة كالدراهم والد نا نير، و أيضا لا يختلف حكم الرجل والمرأة فيما يلزمها من الزكاة، فوجب أن لا يختلف فى الحلى (أحكام القران للجصاص ج : ۳ ص : ۱۵۸) باب زكاة الحلى، طبع قد يمى) ايضاً پورته حواله۔

۲](وشرط وجوبها العقل والبلوغ والاسلام) أى شرط آفتراضها لأنها فر يضة محكمة قطعية .... و خرج المجنون والصبى فلا زكوٰة فى مالهما ... الخ (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۱۷) و أيضا فليس الزكوٰة عليٰ صبى ومجنون .... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۲، كتاب الزكوٰة طبع رشيد يه كوئته)۔

۳]لا يجوز لأحد أن يتصرف فى ملک الغير بغيراذ نه (قواعد الفقه ص : ۱۱۰)۔

٤] تيره شوى حاشيه (تجب فى كل مائتى درهم خمسة دراهم....الخ) او وړيسى حاشيه (لم يختلفوا ان الحلى اذ ا كان فى ملک الرجل...الخ) وګورئ!)۔

۵]و تعتبرنية الموكل فى الزكوٰة دون الوكيل كذا فى معراج الدراية (عالمگيرى ج:۱ص:۱۷۱، كتاب الزكوٰة)

وي، نو دومره ګینه دې نه ساتل کیږي، چې زکات پرې فرض شي،دا جواب خو په هغه صورت کې دی چې دا ګینه ستا ملکیت وي،خو تاچې داليکلي دي چې: په دې زما يوازې دومره ملکيت دی چې استعمالولی يې شم ، بدلولی يا خرڅولی يې نه شم؟ ددې فقرې نه داسې معلوميږي چې دا ګينه په اصل کې دخاوند ملکيت دی او تاته يوازې داستعمال له پاره درکړل شوې ده ، که همدا مطلب وي، نو ددې ګينې زکات ستا په خاوند باندې فرض دی په تا نه دی.

غريبه موردې د نصاب برابر سره زر خرڅ کړي او زکات دې ادا کړي

سوال: زما موربې بي سره دزکات په اندازه ګینه ده، دهغې خپله څه امدني نه شته، بلکې په اولاد باندې يې ګزاره روانه ده، په دې صورت کې په ګينه باندې زکات واجب دی او که نه؟

جواب: زکات پرې واجب دی، په دې شرط چې ګينه دزکات نصاب ته رسيږي،ګينه دې خرڅه کړي او زکات دې ادا کړي.[1]

د خاوند په وفات کېدو باندې زکات څنګه ادا کړل شي

سوال: زمور يوه خپلوانه ده، دهغې خاوندوفات شوی دی او په هغې باندې دولس زره روپۍ قرضه ده،له هغې سره لږ شان سره زر هم شته،اوس پوښتنه داده چې ايا په دې باندې زکات واجب دی او که نه؟که واجب وي، نو څومره؟

جواب: دخاوندپرېښودل شوې ترکه يوازې دښځې نه ده، بلکې دټولونه مخکې دې د خاوند قرضه اداکړل شي، بيا دې هغه په شرعي برخوکې تقسيم کړل شي[2]، بيا په دې وارثانوکې چې څوک بالغ وي او دهغوی برخه نصاب ته رسيږي، نو په هغو باندې به زکات وي.[3]

که نغدې روپۍ نه وي، نو د تيريو شويو او اينده

کلونو په زکات کې ګينه ورکولی شئ

سوال: که يوه اينجلۍ په جهيز کې دځان سره دومره ګينه راوړي، چې دزکات يې ډيرې پيسې

---

[1] تيره شوی حاشيه (تجب فی کل مائتی درهم خمسة دراهم.....الخ) او وړيسی حاشيه (لم يختلفوا ان الحلی اذا کان فی ملک الرجل...الخ) اوګورئ۔

[2] يبدا عن ترکة الميت الخالية عن تعلق حق الغير ...... بتجهيزه .... ثم تقدم د يونه التی لها مطالب من جهة العباد و يقدم د ين الصحة .... ثم يقسم الباقی بعد ذ لک بين ورثته ای الذ ين يثبت ارثهم بالکتاب أو السنة .... الخ (در مختار، کتاب الفرائض ج : ۶ ص : ۷۵۹ تا ۷۶۲)۔

[3] وشرط وجوبها العقل والبلوغ والاسلام والحر ية .... و ملک نصاب حولی فارغ عن الد ين وحوائجه الأصلية .... الخ (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۱۷، ۲۱۸، کتاب الزکاة)۔

جوړېږي او دخاوند په امدني سره په کال کې دومره پيسې نه شي جمع کېداى، نوزکات څنګه ادا شي؟

جواب: ددې ګينې څه برخه دې خرڅه کړل شي، يادې دڅوکلونو په زکات کې ورکړل شي، يعنې ددې قيمت دې ولګول شي او دڅومره کلونوچې برابروي دهغومره کلونونيت دې وکړي اوپه زکات کې دې ورکړل شي.[۱]

دکان کې د تجارت په مال باندې زکات او د ادا کولو طريقه يې

سوال: زه دکتابونواوستيشنرئ دکان کوم، دسامان ماليت تقريبا د دولسو زرونه واخله ترينځلسو زرو پورې وي، دکان دکرايې دى،ايا ددې دکان سامان دزکات داداکولوقابل دى؟ يعنې ددې تجارت په مال باندې زکات فرض دى؟

جواب: ددکان کوم مال چې دخرڅلاو وي اودهغه ماليت ددوه پنځوس نيمې تولې چاندي (سپين زرو) ماليت ته رسيږي، نوپه دې مال باندې زکات فرض دى.[۲]

سوال: که په دې مال باندې زکات فرض وي، نو دستيشنري سامان په ډيرشيانوباندې مشتمل وي اوپه دې کې هميشه اخيستل اوخرڅول کوم، ددې له وجې حساب لګول ناممکن شي، نوايا په اټکل سره ددې قيمت لګولوسره زکات اداکولى شم؟

جواب: دهميشه حساب لګولوضرورت نه شته، په کال کې يوتاريخ مقرر کړه مثلاً: په لومړي رمضان باندې دې ددکان دقابل فروخت سامان جايزه واخيستل شي اوددې دماليت تعين دې وکړل شي اوددې مطابق يې اداکوه، په کوم تاريخ باندې چې تادکان شروع کړى و، هرکال په دغه تاريخ باندې حساب کوه.[۳]

انکم ټيکس (ماصول) اداکولو سره زکات نه اداکيږي

سوال: يوکس دنصاب مالک دى،که هغه دشروع نه دځپل جايداد او مال زکات اداکوي، نو

۱] الفصل الأول فى زكوٰة الذ هب والفضة تجب فى كل مائتى درهم خمسة دراهم و فى كل عشر ين مثقال ذهب نصف مثقال مضروباكان أو لم يكن مصوغا أو غيرمصوغ حليا كان للرجال أو للنساء .... و يعتبرفيها أن يكون المؤدى قدر الواجب وزنا ولا يعتبرفيه القيمة....... و توادى من خلاف جنسه يعتبرالقيمة بالاجماع (الفتاويٰ الهند ية ج : ۱ ص : ۱۷۸، ۱۷۹، كتاب الزكاة، الباب الثالث فى زكاة الذ هب)۔

۲] واللازم .... فى مضروب كل منهما ومعموله و لو تبرا أو حليا مطلقا .... أو فى عرض تجارة قيمة نصاب (الدرالمختار، ج : ۲ ص : ۲۹۸، كتاب الزكاة، باب زكاة المال)۔

۳] الزكاة واجبة فى عروض التجارة كائنة ماكانت اذ ا بلغت قيمتها نصابا من الورق أو الذ هب .... و تعتبرالقيمة عند حولان الحول بعد أن تكون قيمتها فى ابتد اء الحول مائتى درهم من الدراهم الغالب عليها الفضة (عالمگيرى:كتاب الزكوٰة، الباب الثالث فى زكوٰة الذهب والفضة ج: ۱ ص:۱۷۹، طبع ر شيديه)۔

ایا شرعا هغه دملکي نظام دولت وضع شوي انکم ټيکس (ماصول) اداکولونه وروسته بري کيږي؟ اوکه هغه يوازې انکم ټيکس (ماصول) اداکوي اوزکات نه ورکوي، نودهغه له پاره څه حکم دی؟ نوردا چې په موجوده نظام کې هغه څه طريقه اختيارکړي؟

جواب: انکم ټيکس (ماصول) دملکي ضروریاتوله پاره دحکومت له طرف نه مقرر دی، هرکله چې زکات ديومسلمان له پاره فريضه خداوندي اوعبادت دی، دانکم ټيکس (ماصول) اداکولوسره زکات نه اداکيږي، بلکې دزکات جدا اداکول ضروري دي.[1]

مالک جوړولونه پرته فليټ (کور) دهستوګنې له پاره ورکولوسره زکات نه اداکيږي

سوال: مسئله داده چې دزکات په مدکې تعميرشوي فليټ په لاندينو شرائطو سره دزکات مستحقينوته ورکړل شوی دی، نودزکات ورکونکوزکات اداکيږي اوکه نه؟

شرطونه:

۱:..... دافليټ (کواټر) کم نه کم پنځوکلنوپورې ته په چاخرڅولی نه شي، (دزيات نه زيات هيڅ حدنشته)

۲:.....متعلقه فليټ (کواټر) ستادخپل استعمال له پاره تاته درکول کيږي په دې کې به ته کرايه دار نه ساتې، په ګروې باندې يې نه شي ورکولی اوبل کس ته يې داستعمال له پاره هم نه شې ورکولی.

۳:.....که تافليټ (کواټر) چاته په ګروې باندې ورکړ ياکرايه داردې وساتلو، نودې اطلاع جماعت ته ملاويدوباندې ستاپه فليټ (کواټر) باندې حق به منسوخ کړل شي.

۴:.....دفليټ (کواټر) دمرمت کومې روپۍ چې جماعت تاکلي دهغو هره مياشت اداکولو نه وروسته دهغې رسيد به ضرورحاصلول وي.

۵:.....د فليټ (کواټر) وساطت دبل فليټ (کواټر) قبضه دارسره بدلېدای نه شي.

۶:.....ددې عمارت چت به دجماعت په قبضه کې وي.

۷:.....په مستقبل کې د فليټ (کواټر) دخرڅولو ياپريښودو، نو ابجکشن سرټيفکيټ (اعتراض درخواست) به دجماعت نه حاصلولونه وروسته نوره کاروايي کېدای شي.

۸:.....دپورتنوبيان شويو شرطونونه پرته دجماعت له طرف نه په عمل کې نوي راتلونکي

---

[1] فالدليل علىٰ فرضيتها الكتاب والسنة والاجماع والمعقول أما الكتاب فقوله تعاليٰ و ا توا الزكوٰة و قوله عزوجل خذ من اموالهم صد قة تطهرهم و تزكيهم بها ... الخ (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۲، كتاب الزكوٰة طبع سعيد)۔

احکامات اوشرائط منل اوپه هغو باندې به عمل کول وي، ددې بیان شویو شرطونو او پابندیو خلاف ورزي کونکي ممبر نه به جماعت فلیټ (کواټر) خالي کولی شي اوپه فلیټ (کواټر) کې اوسیدو والا ته په دې باندې عمل کول اوقانوني حق به پرینبودل وي. (ذکر شوي پورتني ټولوشرطونواوهدایات لوستلو نه وروسته دامنظوروم اوپه رضااوخوښی سره په دې باندې دستخط کوم)

مهرباني وکړئ اوجواب دجنګ اخبارپه ذریعه راکړئ، چې ټولوجماعتونوته معلومه شي ځکه چې داسلسله په سکهر،حیدراباداو دکراچۍ په میمن برادرۍ کې عام طورسره روانه شوې ده اوپه دې کې دزکات په کروړونوروپۍ دزکات په مدکې دخلکونه وصولیږي اوپکې لګول کیږي.

جواب: زکات هغه وخت اداکیږي،کله چې محتاج دزکات دمال مالک جوړ کړل شي اودزکات ورکونکي دهغه سره هیڅ تعلق اوواسطه پاتې نه شي[1] ستاپه شرائط نامه کې چې کوم شرطونه ذکر شوي دي هغه دعاریت دي، دتملیک نه دي، لهذاددې شرطونوسره که دچادزکات رقم سره فلیټ (کواټر) جوړکړل شي، نوزکات نه اداکیږي، دزکات داداکېدو صورت همدغه دی چې چا فلیټ (کواټر) ورکړل شي هغه مالک جوړکړل شي اودملکیت دکاغذونوسره هغه ته مالکانه حقوق ورکړل شي، دغه خلک چې په دې فلیټونو (کواټرو)کې څنګه غواړي مالکانه تصرف وکړي اود جماعت له طرفه په هغوی باندې هیڅ پابندي نه وي،که هغوی ته مالکانه حقوق ورنکړای شي، نودزکات اداکونکو زکات به ادانه شي اوپه هغوی به لازم وي چې خپل زکات په دویم ځل اداکړي.

د زکات په پیسو کور جوړول

سوال: یو سړی عموما یوې امدادي ادارې ته د زکات پیسې ورکوي، د امدادي ادارې د مشرانو په مشورې سره هغه د زکات په پیسو سره یو کور واخلي او داځای هم هغې امدادي ادارې ته ورکړي، دلته داسې هم کېدلای شو چې هغه پیسې ړومبی ادارې ته اداکولوسره دهغه نه وروسته اداره په یو ټېکدار باندې تعمیر وکړي،خو ادارې د داسې قسم مشکلاتو

---

[1] أما تفسيرها فهى تمليک المال من فقير مسلم غيرهاشمى و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالىٰ هٰذ ا فى الشرع كذا فى التبيين (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۰) هى لغة الطهارة والنماء و شرعا تمليک .... جزء مال خرج المنفعة فلو أسكن فقيرا داره سنة ناويا لا يجز يه ... الخ (الدرالمختار مع رد المحتار، ج : ۲ ص : ۲۵۷) و أما ركن الزكوٰة فركن الزكوٰة هو اخراج جزء من النصاب الى الله تعالىٰ وتسليم ذٰ لک اليه يقطع المالک يد ه عنه بتمليكه من الفقير و تسليمه اليه أو الى يد من هو نائب عنه و هو المصدق والملک للفقير يثبت من الله تعالىٰ و صاحب المال نائب عن الله تعالىٰ فى التمليک والتسليم الى الفقير (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۳۹)، ولو دفع اليه دارا يسكنها من الزكوٰة لا يجوز .... اذ ا دفع الزكوٰة الى الفقير لا يتم الدفع ما لم يقبضها .... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰، كتاب الزكاة)۔

نه د بچ کېدوله پاره پورته ذکرشوي امرته ترجيح ورکړه، يعنې د مال په صورت حال کې د زکات د ادا کولو ، ايا په داسې صورت کې زکات ادا کيږي؟

جواب: داکور چې کله يو محتاج ته ورکړل شي (مالکانه حقوقو سره)، نو هلته به زکات ادا کيږي، ددې نه مخکې نه. [۱]

د زکات د پيسو نه قرض ورکول

سوال: ما زکات اکاونټ (له سود پرته) خلاص کړی دی، په هغه کې کال په کال پيسې جمع کيږي، او زه دضرورت په اندازه پيسې خلکو او ادارو ته ورکوم، سوال دادی:

۱: ايا هغه اکاونټ نه قرض حسنه ورکولی شم؟

۲: ايا هغه اکاونټ نه ضرورت مندو ته قرض ورکولی شم؟ هغوی که چيرته د وعدې مطابق قرض واپس کړي، نو په اکاونټ کې به واپس پيسې جمع کيږي، که چيرته هغوی واپس نه کړي، نو ايا هغومره دزکات پيسې به زما په ذمه باندې واجب پاتې وي، يا قرض اخيستونکي باندې به (زما) زکات واجب الاداء وي؟ يا موږ دواړو باندې؟ د شريعت مطابق چې څه جواب وي، را يې کړئ!

جواب: تاسو دا پيسې فقيرانو، ميسکينانو ته مالک جوړولو سره ورکولی شئ،[۲] خو دا پيسې د قرض په طور باندې ورکول صحيح نه دي. [۳]

---

[۱] ولو دفع اليه دارا ليسكنها عن الزكوٰة لا يجوز اذ ا د فع الزكوٰة الى الفقيرلا يتم الدفع مالم يقبضها (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰، كتاب الزكاة الباب السابع فى المصارف)

[۲] "انما الصدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها والمؤلفة قلوبهم و فى الرقاب والغارمين و فى سبيل الله وابن السبيل فر يضة من الله " (التوبة : ۶۰)

[۳] و أما ركن الزكوٰة فركن الزكوٰة هو اخراج جزء من النصاب الى الله تعالىٰ وتسليم ذ لک اليه يقطع المالک يد ہ عنه بتمليكه من الفقير و تسليمه اليه أو الى يد من هو نائب عنه و هو المصدق والملک للفقير يثبت من الله تعالىٰ و صاحب المال نائب عن الله تعالىٰ فى التمليک والتسليم الى الفقير (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۳۹ كتاب الزكاة)

❖ كومو خلكوته زكات وركول كيږي؟ ❖

(د زكات مصارف)

د زكات حق داران

سوال: كومو خلكوته زكات وركول جائزدي اوكومو خلكوته ناجائز دي؟

جواب: خپل مور و پلارته اوخپل اولادته زكات وركول روا نه دي، همدغه شان ښځه او خاونديو بل ته زكات نه شي وركولى، [۱] كوم خلك چې په خپله دنصاب مالک وي هغوى ته زكات وركول جائزنه دي، [۲] دحضور ﷺ خاندان (هاشميانو) ته زكات دوركولوحكم نه شته، [۳] بلكې كه هغوى ضرورت مند وي، نودهغوى مددپه غيرزكات سره لازم دى، [۴] خپل ورور، خور، تره، خوريي، ماما، وراره، ته زكات وركول جائزدي [۵] نور تفصيل په خپله معلوم كړئ يا يې په كتاب كې ولولئ.

سوال: دزكات تقيسم په كوموكومو قومونو باندې حرام دى؟ هركله چې زموږ په علاقه پلندري، بلكې په پوره ازادكشميركې سيد، اعوان، لوهار(پښ)، تركاڼ، قريشي او داسې نور... ددوى له پاره زكات حرام ګرځول شوى دى، البته دسيدانوله پاره خوزكات اخيستل جائزنه دي، نوردوه قومونه چې په كې قريشي بلونكي تركاڼ، لوهار اواعوان، ملک شامل دي دزكات حقداردي اوكه نه؟ مهرباني وكړئ اوددې هم وضاحت وكړئ چې د سيد كورنۍ نه پرته حاجت مند خلک مثلاً: يتيم، كونډه، معذوره، د زكات اخيستلو حقداردي؟

---

[۱] و لا الىٰ من بينهما ولا د ولو مملوكا لفقير أو بينهما زوجية ...... الخ (الدرالمختار كتاب الزكاة، باب المصرف، ج : ۲ ص : ۳۴۶، هد اية ج : ۱ ص : ۲۰۶)۔

[۲] و لا يجوز د فع الزكاة من يملک نصابا أى مالا كان د نانير أو دراهم أو سوا ئم أو عروضا للتجارة أو لغير التجارة فاضلاعن حاجته فى جميع السنة هٰكذا فى الزاهدى (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۸۹، كتاب الزكاة الباب السابع)

[۳] ولا الى بنى هاشم الا من أبطل النص قرابته وهم بنو لهب...الخ (الدرالمختار باب المصرف،ج:۲ ص:۳۵۰)

[٤] هذ ا فى الوجبات كالزكوٰة والنذر والعشروالكفارة فأما التطوع فيجوز الصرف اليهم كذ ا فى الكافى (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹، كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)۔

[٥] والأفضل فى الزكاة والفطر والنذر والصرف أولا الى الاخوة والأخوات ثم أولادهم ثم الى الأعمام والعمات ثم الى أولاد هم ثم الى الأخوال والخالات ..... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰، كتاب الزكاة، الباب السابع)۔

جواب: زکات د حضور ﷺ دخاندان له پاره حلال نه دی او د حضور ﷺ دخاندان نه مراد، آل علي، آل عقيل، آل جعفر، آل عباس او آل حارث بن عبدالمطلب[1] کوم کس چې د دې پنځو بزرگانو د نسل نه وي هغوی ته زکات نه شي ورکول کېدای، که غريب او ضرورتمند وي، نو د نورفنډ نه د دوی خدمت کول پکار دي.[2]

د سيد او هاشمي مدد دې له زکات پرته وکړل شي

سوال: اسلام د مساوات، عدل او حکمت دين دی اسلام د غيرمسلمونه جزيه وصولوي او هغوی ته د خپل سوري لاندې تحفظ ورکوي، اسلام د زکات د ورکولو حکم ورکوي او حکم ورکوي چې د امت (د هاشمي نه پرته) په غريبانو، مسکينانو، کونډو باندې دې خرچ کړل شي، خو زما سوال دادی چې زموږ مذهب هاشمي امت د غريبانو، کونډو او يتيمانو، نادارانو، مسکينانو، او محتاجو غريب طالب علمانو ته څه ډول مالي تحفظ ورکوي؟

جواب: هاشمي د حضور ﷺ خاندان دی او حضور ﷺ د خپل ځان او خپلو متعلقينو له پاره زکات ممنوع ګرځولی دی[3] دا حضرات که ضرورت مندوي، نو له زکات پرته له بل فنډ نه د دوی خدمت کول پکار دي او د حضور ﷺ د قرابت لحاظ ساتلو سره د دوی خدمت کول ډېر لوی اجر باعث دي.[4]

ساداتو ته ولې زکات نه شي ورکول کېدای

سوال: مولانا صاحب! ما په اکثرو کتابونو کې لوستلي دي او اوريدلي مې هم دي چې سيدانو ته زکات ورکول نه پکار دي، دا سې ولې دي؟

جواب: زکات د خلکو د مال خيرې دی او د حضور ﷺ آل په دې کې ملوث کول مناسب نه و او که هغوی ضرورت مندوي، نو د پاک مال نه دې د هغوی مدد وکړل شي[5] نور دا چې که

۱] ولا يد فع الیٰ بنی هاشم و هم ال علی و ال عباس و ال جعفر و ال عقيل و ال حارث بن عبدالمطلب كذ ا فی الهد ا ية (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۹، كتاب الزكاة، الباب السابع فی المصارف)۔

۲] تيره شوی حاشيه (هٰذ ا فی الوجبات كالزكوٰة والنذر والعشر.....الخ) اوګورئ!۔

۳] قوله و بنی هاشم و مواليهم أی لا يجوز الدفع لهم لحد يث البخاری نحن أهل بيت لا تحل لنا الصد قة (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۶۵، كتاب الزكاة، باب المصرف)۔

٤] وقال المصنف فی الكافی هٰذ ا فی الوجبات كالزكوٰة والنذر والعشر والكفارة فأما التطوع والوقف فيجوز الصرف اليهم لأن المؤدی فی الواجب يطهر نفسه باسقاط الفرض فيتدنس المؤدی كالماء المستعمل وفی النفل تبرع بماليس عليه فلايتدنس به المؤدی كمن تبردبالماء ١هـ (البحرالرائق ج:۲ص:۲۶۵، كتاب الزكاة،باب المصرف)

۵] ايضا)۔

دحضور ﷺ آل ته دزکات دورکولوحکم وي، نويو ناپوه ته شک کېداى شو چې ښکلى نظام دخپل اولادله پاره خو..... معاذالله...جاري کړى نه دى، اوبل داچې ددې يونفسياتي اړخ هم دى اوهغه داچې که دحضور ﷺ آل ته زکات ورکول جائز واى، نوخلکوبه دحضور ﷺ دقرابت له وجې نه هغوى ته ترجيح ورکوله، غيرسيد ته په زکات ورکولوباندې به يې زړه نه مطمئن کېده اودې سره به د نوروفقيرانو ګيله پيداشوې وه.

سوال: په سني فرقه کې سيدانوته دزکات، صدقا ت اوخيرات د استعمال ممانعت دى، سوال دادى چې په دې فقه کې غريب سيدان نه وي؟ اوکه وي نودهغوى دحاجت پوره کولوله پاره په سني فقه کې کومه طريقه ده؟ اوپه دې سلسله کې دپاکستان دحکومت په زکات اوعشرکې څه ګنجائش شته اوکه نه؟

جواب: دامسئله دسني فقهې نه ده، بلکې په خپله دحضور ﷺ ارشاد مبارک دى، چې دحضور ﷺ له پاره اودحضور ﷺ د آل له پاره زکات او صدقات حلال نه دي،[۱] ځکه چې دخلکو دمال خيرى دى، دحضور ﷺ آل الله تعالى ددې کثافت نه پاک ساتلي دي، سيدکه غريب وي، نو دهغوى په خدمت کې په عزت اواحترام سره هديه پيش کول پکار دي، حکومت ته پکاردي چې دسيدانو کفالت دغيرصدقاتو له فنډ نه وکړي.

د سيد ښځې ته زکات

سوال: زموږ يوخپلوان چې سيددى،جسماني طورسره مکمل معذوردى، له دې وجې دګټې قابل نه دى، دهغه دکور ګزاره دهغه دښځې چې غيرسيده ده ماشومانوته ټيوشن(سبق ښودلو) سره اودځه نزدې خپلوانو په مددسره چليږي، سوال دادى چې دهغه ښځه غيرسيده ده اود کورکفيله ده، دهغې خاونداوماشومان سيدان دي، دوى ته زکات ورکول کېداى شي؟

جواب: ښځه که غيرسيده ده اودزکات حقداره ده، نودې ته زکات ورکولى شئ[۲]، ددې زکات دمالک کېدونه وروسته که هغه وغواړي، نوپه خپلوماشومانواوخاوندباندې يې خرچ کولى شي.[۳]

---

[۱] عن عبد المطلب بن ر بيعة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان هٰذ ه الصد قات انما هى أوساخ الناس و انها لا تحل لمحمدٍ و لا لال محمد رواه مسلم (مشكوٰة ص : ۱۶۱، باب من لا تحل له الصد قة)۔

[۲] و يجوز الدفع الى من عد اهم من بنى هاشم (عالمگيرى ج: ۱ ص : ۱۸۹، المصارف....الخ منها الفقير وهو من له ادنىٰ شئ وهو ما دون النصاب، عالمگيرى: ۱۸۷، كتاب الزكاة، الباب السابع)۔

[۳] عن عائشة رضى الله عنها قالت : كان فى بر يرة ثلاث سنن احد ى السنن انها عتقت فخيرت فى زوجها .... و دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم والبرمة تفور بلحم فقرب اليه خبز وادم من ادم البيت فقال : الم ار برمة فيها لحم ! قالوا : بلىٰ و لكن ذ الك لحم تصدق ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د سيدې انجيلى اولاد ته زكات

سوال: د(هندې) واده د(زيد)سره وشو،چې دهغه نه ددې دوه ماشومان دي، څه موده وروسته زيد هندې ته طلاق وركړ،بچي دهندې سره دي، نوموړې محنت كوي اودهغوى پرورش پرې كوي، زيد دماشومانو دپرورش له پاره هيڅ نه وركوي، دهندې تعلق دساداتو له كورنۍ سره دى،اودهغې دا بچي صديقيان دي، دهندې خپل خپلوان،ورونه، خويندې او مورپلار ددې ماشومانودپرورش له پاره دزكات پيسې هندې ته وركولى شي اوكه نه؟چې هغه يې يوازې په ماشومانوباندې خرچ كړي،ځكه چې دهندې له پاره خوزكات اخيستل جائزنه دي، شرعي اعتبارسره په دې مسئله باندې رڼاواچوئ!

جواب: داماشومان سيدان نه بلكې صديقيان دي،له دې وجې دې ماشومانوته زكات وركول صحيح دي اوهنده دخپلوبچوله پاره زكات وصولولى شي[1]،دخپل ځان له پاره نه.[2]

علوي(اعوان) ته زكات وركول

سوال: ((بهشتى زيور)) كې دي چې بنوعبدالمطلب او بنوهاشم ته زكات وركول جايز نه دى، سوال دادى چې علوي چې عام طور باندې ورته اعوان ويل كيږي، دهغوى په باره كې څه حكم دى؟

جواب: بنوهاشم ته زكات وركول جائز نه دي، او اعوان هم د حضرت علي رضي الله عنه اولاد دى، له دې وجې نه هغوى هم هاشميان دي. [3]

د سيدې ميرمنې اولاد چې د غير سيد نه وي هغوى ته زكات وركول

سوال: ښځه سيده ده او خاوند غير سيد، هغه وفات شوى دى، دهغه زامنو ته زكات وركول سهي دي او كه نه؟

جواب: وركول كيداى شي. [4]

...بقيه د تيرمخ]...به عليٰ بر يرة و أنت لا تأكل الصد قة، قال: هو عليها صدقة و لنا هدية متفق عليه (مشكوٰة ص : ۱۶۱، باب من لا تحل له الصد قة، الفصل الاول)

[1] و يجوز الدفع الى من عد اهم من بنى هاشم (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹، كتاب الزكاة، الباب السابع)

[2] فان تحر يم الصدقة حكم يختص بالقرابة من بنى هاشم...الخ (البحرالرائق ج:۲ ص:۲۶۵، كتاب الزكاة)

[3] و بنو هاشم الذ ى تحرم عليهم الصدقات ال عباس و ال على وال جعفر و ال عقيل و ولد الحارث بن عبدالمطلب كذا ذكره الكرخى (بدائع ج:۲ ص:۴۹، كتاب الزكاة، فصل و أما الذى يرجع الى المؤدى اليه)

[4] و يجوز الدفع الى من عد اهم من بنى هاشم (عالمگيرى ج:۱ص: ۱۸۹)...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

غريبې سيدې خورته زكات وركول

سوال: زما واده ديو سيدې كورنۍ له ښځې سره شوى دى، ديوې خور واده مې هم دسيد سړي سره شوى دى، د خور مې مالي حالت خراب دى، ايا زه دخپل زكات له پيسو نه خپلې خور يا د هغې د اولاد مدد كولى شم؟

جواب: خور ته يې وركولاى شې، ځكه چې هغه سيده نه ده، [١] اود هغې اولاد ته يې نه شې وركولاى ځكه چې هغوى سيدان دي. [٢]

د زكات صحيح مصرف

سوال: ايادزكات اوعشرروپۍ په ملكى دفاع باندې ياانډسټري (خدمتي اداره) لګولو باندې خرچ كيداى شي اوكه نه؟ترننه پورې موږ همدغه اوريدلي دي چې دعشراوزكات پيسې په دې باندې نه شي خرچ كيداى،خودمياصاحب...يواخباري بيان موږ يوازې حيران نه، بلكې پريشان هم كړو، ميا صاحب فرمايي : ،،شرعي نقطه نظرسره حكومت دزكات او عشرپيسې په ملكى دفاع باندې دخرچ كولوحق لري، دزكات او عشردمصارفوپه باره كې د(جنګ) نمايده دسوال په جواب كې هغه وويل چې مذهبي نقطه نظر سره دملكي دفاع ضروريات پوره كولوله پاره كه وسايل موجودنه وي، ياكم وي. نوبياددې مقصدله پاره عشراوزكات استعماليداى شي، همدغه شان ددين دتبليغ اوددين داشاعت له پاره عشراوزكات په پوره طريقې سره استعماليداى شي، ځكه چې په دې سلسله كې،،دفي سبيل الله،،مدموجود دى،هغوى وويل چې دزكات پيسوسره په ملک كې انډسټري هم لګيداى شي، په كوموكې چې غريبانو يتيمانواومستحقوكسانوته نوكري (وظيفې) ملاويدل پكاردي،خو ددې انډسټري دقيام سره يودا شرط هم ضروري دى، هغوى مالدارنوخلكوته نوكري (وظيفې) ورنكړي..،،بحواله جنګ كراچۍ ۱۰دسمبر۱۹۸۴. ايادميان صاحب دانقطه نظردقرآن اوسنت اوفقه حنفي مطابق دى؟دلائلوسره وضاحت وكړئ!

جواب: زكات دفقيرانواومسكينانوله پاره دى،په قرآن كريم كې چې كوم د،،في سبيل الله،، مد موجود دى،فقرورسره دشرط په طور ملحوظ دى،يعنې كوم مجاهدچې نادار وي هغه ته

...بقيه د تيرمخ]... المصارف .... منها الفقير و هو من له أدنى شيء و هو ما دون النصاب (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٧، كتاب الزكاة، الباب السابع).

[١]الأفضل فى الزكاة .... الصرف الى الأخوة والأخوات (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٩٠، كتاب الزكاة الباب السابع فى المصارف)

[٢]ولا يد فع الى بنى هاشم (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٩، كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

دهغه دضروریاتوله پاره د زکات دمدنه ورکول کیدای شي.په دې شرط چې هغه يې مالک جوړ کړل شي[۱].مطلق ملکي دفاع باندې تعلیم.صحت اورفاه عامه په مدونوباندې دزکات پیسه خرچ کول صحیح نه دي.[۲] کوم کسان چې داقسمه فتوا لګوي، دهغوی مطابق په زکات او ټیکس ،ماصول، کې هیڅ فرق نه شته

دزکات اخستونکي دظاهراعتباربه کیږي

سوال: عزیزان،رشته دار چې په ظاهره دزکات حقدارپه نظرراځي دا تصدیق څنګه وکړای شي چې دوی دنصاب مالکان نه دي؟

جواب: دظاهراعتباردی، که دظاهري حال مطابق زړه مني چې دی حقداردی، نوهغه ته دې ورکړل شي[۳]

معمولي آمدني والا رشته دارته زکات ورکول جائزدي

سوال: زمایوه نژدې رشته داره ده، دهغې خاوندیومعمولي کارکوي، آمدني يې دومره نه ده چې دکور ګزاره ورسره په ښې طریقې سره وچلیږي، داوسیدوکوریې هم دکرایې دی،پوښتنه داده چې په دې حالاتوکې،زه دزکات اوصدقاتو روپۍ هغوی ته ورکولی شم؟

جواب: که هغوی دزکات مستحق وي، نودزکات په مدکې دهغوی مددکول ضروري پکاردی.[۴]

دکمې کښې لرونکې کورنۍ ماشومانوته اختر کې دزکات نه جامې اخیستل او ورکول

سوال: زموږه نژدې رشته داران دژ چې ملازمت کوژ، دهغوی میاشتنۍ تنخوا دوه زره

۱]أما تفسيرها فهي تمليک المال من فقير مسلم غيرهاشمي و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من كل وجه لله تعالىٰ هٰذ ا في الشرع كذ ا في التبيين (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۷۰، كتاب الزكاة)۔

۲]و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد وكذ ا القناطر والسقايات و اصلاح الطرقات و كرى الأنهار و الحج و الجهاد وكل ما لا تمليک فيه (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۸ كتاب الزكاة، الباب السابع في المصارف)۔

۳] اذ ا شک و تحرى فوقع في أكبر رأيه أنه محل الصد قة فد فع اليه أو سأل منه فد فع أو راه في صف الفقراء فد فع فان ظهر انه محل الصد قة جاز بالاجماع (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰ كتاب الزكاة، الباب السابع في المصارف، طبع رشيدية)۔

٤] و يجوز د فعها الىٰ من يملک أقل من النصاب و ان كان صحيحا مكتسبا كذ ا في الزاهدى (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹ كتاب الزكوٰة الباب السابع في المصارف)۔

روپۍ ده. کورنۍ خپل دی. اوو اته ماشومان او دوه ښځه اوخاوند دي، یعني د لسو یولسو کسو کورنۍ ده. ښځه یې اکثر بیماره وي، تاسو ته معلومه ده چې ددې ګراني په دورکې د دوو زروحیثیت څه دی. ایا داسې خاندان ته زکات ورکول کیدلی شي، سره له دې نه چې هغوی صاحب نصاب هم نه دي؟ هغوی ته نه ویلوسره زکات ورکړل شي،یاورته وویل شي چې تاسواخترکې پرې دماشومانوله پاره جامې واخلئ،یاد ماشومانوکتابونه له پاره واخلئ. دبجلۍبل به مونږ اداکړو.په دې مسئله تفصیل سره رڼا واچوئ!

جواب: ورکول کېدای شي. [۱]

پګړۍ باندې اخیستل شوی کورکې اوسیدونکو ته زکات ورکول

سوال: زما د خور زوی په دواړو سترګومعذوره شوی دی. د سترګو په علاج باندې زرګونه روپۍ خرچ کولوسره کېدای شي نظر واپس راشي. د کور کالي وغیره خرڅ شوي دي، ایا د هغه په علاج باندې د زکات پیسې خرچ کیدلی شي؟ خپل کور دی چې په هغه کې اوسیږي، اود هغه پګړۍ درې لکه روپۍ دجایدادمالک ته واپس کولوسره ملاویدلی شي، او په دې وخت کې د ګټې ذریعه نه ښته

جواب: که چیرته هغه مستحق وي نو ورکول کېدای شي. [۲]

د مستحق تعین به څنګه کیږي؟

سوال: په دې زمانه کې دچا باره کې فیصله کول چې دا سړی د زکات مستحق دی، ډیره مشکل اونا ممکن دی. اویا دا پوښتنه کول چې تاسو څنګه مستحق یې؟ نامناسب معلومیږي، مهرباني کولوسره ارشاد وفرمایئ چې ددې خبرې تعین په کومه طریقه وکړل شي چې فلانکی سړی د زکات مستحق دی اوکه نه؟

جواب: څوک د زکات مستحق دی او څوک نه؟ ددې فیصله خو زکات ورکونکی کولی شي، که چیرته دچا په کور کې تې وي.یا داسې نور د لغوې سامان دی، نو هغه د زکات مستحق نه دی، څوک چې داصلي ضرورتونو نه زیاتې پیسې په دنصاب په اندازه لري، هغه دزکات مستحق نه دی.[۳]

---

[۱] (منها الفقیر) و هو من له ادنیٰ شيء و هو ما دون النصاب (عالمگیری ج:۱ ص: ۱۸۷) دفع الزکاة الی صبیان أقاربه برسم عید أو الی مبشرأومهدی الباکورة جاز (الدرالمختار ج:۲ ص:۳۵۶قبیل باب صدقة الفطر)

[۲] (منها الفقیر) و هو من له ادنیٰ شيء و هو ما دون النصاب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۷)

[۳] و لا یجوز د فع الزکاة من یملک نصابا أی مال کان د نانیر أو دراهم أو سوا ئم أو عروضا للتجارة أو لغیر التجارة فاضلاعن حاجته فی جمیع السنة هکذا فی الزاهدی(عالمگیری ج:۱ص:۱۸۹کتاب الزکاة الباب السابع)

عثماني ته زكات وركول

سوال: زما خاوند عثماني دی او د نصاب مالک نه دی. آيا زما والدين يا ورور خور زما د خاوند په علم کې د راوستلو نه پرته هغه ته د زکات پيسې دقرض يا عطيې په طور ورکولی شي؟

جواب: که چيرته ستا خاوند د زکات مستحق وي نوستا والدين هغه ته زکات ورکولی شي والله اعلم [۱]

غريبې کورنۍ ته د کور جوړولو له پاره زکات ورکول

سوال: هغې کورنۍ ته اوس په کور کې کړکۍ او داسې نور... لګول دي، ځکه چې ګرمي زياته ده. د کوټې په چت باندې فرش لګول دي، دې له پاره چې اوبه لاندې رانه شي. آيا موږ هغوی ته دکور آبادولوله پاره دزکات پيسې ورکولی شو؟ هغوی ته وايوچې دا کارتاسووکړئ ! بل به موږ ادا کړو؟

جواب: هو جناب! کار ورباندې وکړئ،بيا دبل ادا کولو له پاره هغوی ته د زکات پيسې ورکړئ![۲]

د زکات په پيسو سره د مستحق رشته دار واده کول

سوال: آيا د خپلې وريرې په واده باندې د زکات پيسې لګولی شم؟

جواب: که چيرته هغې انجيلۍ سره ياد هغې والدينوسره دومره پيسې نه وي چې دهغې واده وکړای شي، نو د زکات په پيسو سره دهغې واده جائز دی،خوغوره صورت دادی چې دچانه قرض اخيستلوسره دهغې د واده مصارف برداشت کړئ شی، وروسته د زکات په پيسو سره دهغې قرض ادا شي. [۳]

---

[۱] المصارف... الخ منها الفقير وهو من له ادنیٰ شيء وهو ما دون النصاب أو قدر نصاب غير تام و هو مستغرق فی الحاجة (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۷) و يجوز دفعها لزوجة أبيه و ابنه وزوج ابنته تاترخانية (الدر المختار ج : ۲ ص : ۳۴۶)

[۲] و يجوز دفعها الی من يملک أقل من النصاب (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۹) والغارم من لزمه د ين و لا يملک نصابا فاضلا عن د ينه (هد ا ية ج : ۱ ص : ۲۰۵) المراد بالغارم فی الاية و هو فی اللغة من عليه د ين و لا يجد قضاء كما ذكره القعنبی و انما لم يقيد ه المصنف لأن الفقرشرط فی الأصناف كلها .... و فی الفتاوی الظهيرية و الدفع الی من عليه الد ين أولی من الدفع الی الفقير (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۶۰، كتاب الزكاة، باب المصارف)

[۳] و لو قضی د ين الفقير بزكوٰة ماله ان كان بأمره جاز وان كان بغير...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

چې لمسي او لمسۍ ته زكات وركول نه دي سهي، نو اينګور ته څنګه وركول كېداى شي؟

سوال: كه چيرته لمسي او لمسۍ ته زكات نه شي وركول كيداى، نو بيا اينګور ته څنګه وركول كېداى شي؟ حالانكه اينګور ته هم ضرورت د خپل اولاد له پاره وي.

جواب: اينګور ته زكات وركول سهي كيږي، او هغه مالكه كيدو نه وروسته چاته يې چې خوښه وي وردې كړي. [۱]

د خورا و ورور په صدقه فطر او زكات سره مدد كول

سوال: زيد د ضعيف كيدو او زيات عمر په وجه د دوو دريو كالونه روژې نه شي نيولى، نو د صدقه فطر مطابق د تير شوي كال دوه سوه لس روپۍ دروژو دفديې په طور په غريبانو باندې تقسيم كړې، سږ كال اته روپۍ صدقه فطر ښودل كيږي، د ديرشتو روژو دوه سوه څلويښت روپۍ كيږي، د زيد حقيقي خور ډيره سخته بيماره ده، كونډه ده، څه ذريعه د آمدني يې هم نشته، يو زوى يې دى چې هغه هم بې كاره دى، هيڅ ګټه نه كوي، له دې وجې چې داسې (زيد) د زيات عمر(بوډا والي) په وجه روژې نه نيسي، كه چيرته د روژې د فديې (۲۴۰)روپۍ خپلې كونډې خور ته (چې سخته ضرورت منده اود علاج معالجې هم حاجت منده ده) وركړي، نود زيد د طرف نه د روژې فديه ادا كيږي اوكه نه؟

جواب: زكات، صدقه فطر اود روژو د فديې پيسې ورور او خور ته وركول جائز دي،[۲] په دې شرط چې هغوى محتاج وي. [۳]

غريب خور، ورور او خپلوانو ته زكات وركول

سوال: آيا زكات خپل مستحق خور، ورور او خپلوانو ته وركول روا دي؟ او آيا هغوى ته دا ويل ضروري دي چې دا د زكات پيسې دي؟

....بقيه د تيرمخ]... أمره لا يجوز و سقط الد ين ... الخ (عالمگيرى ج: ۱ ص : ۱۹۰) و فى الفتاوى الظهير ية و الدفع الى من عليه الد ين أولى من الدفع الى الفقير (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۶۰)

[۱] يجوز د فع الزكوٰة الى من سوى الوالد ين و المولود ين من الأقارب و من الاخوة و الأخوات و غيرهم لانقطاع منافع الأملاک (بد ائع ج : ۲ ص : ۵۰، كتاب الزكاة فصل و أما ا لذى يرجع الى المؤدى اليه)

[۲] و الأفضل فى الزكوٰة و الفطر و النذرالصرف أولا الى الاخوة والأخوات ... الخ (عالمگيرى ج: ۱ ص:۱۹۰)

[۳] و يجوز د فعها الىٰ من يملک أقل من النصاب (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹ كتاب الزكاة، الباب السابع)

جواب: خور. ورور او خپلوانو ته زکات ورکول یوازې جائز نه، [۱] بلکې په دې کې دوه اجرونه هم دي. یو د فریضې د ادا کولو، او دویم د صله رحمي، [۲]خو والدینو، خپل اولاد اود اولاد اولاد ته زکات نه شي ورکول کېدای، همدغه شان اولاد خپلو والدینو ته، نیکه نیا «آنی» ته اود مور طرف نه نیا نیکه ته زکات نه شي ورکولی، ښځه خاوند هم یو بل ته زکات نه شي ورکولی.[۳]

چاته چې زکات ورکړل شي هغه ته ویل ضروري نه دي،خو د ورکولوپه وخت کې نیت کول ضروري دي.[۴]

له وینا پرته کونډې خورته زکات ورکول

سوال: د زید یو خور کونډه ده، د خاوند په پنشن«تقاعدي» باندې ګزاره یې ده. اینګور لمسو او دوو زامنو سره ده، یو په روزګار باندې دی، او دویم چې اولاد والا دی، بې روزګاره دی. د ژوند ګاډی په یو طریقه روانه ده،خو مالي تنګي شته ، د خاوند پنشن اود زوی ګټه کفایت نه کوي، نو په داسې صورت کې زید که چیرته خپلې کونډې خور ته فدیه، زکات یاد فطرانې د پیسو نه مالي امداد وکړي، نوایا شرعي اعتبارسره به دا جائز وي؟ سره له دې نه چې خور ته ددې علم نه وي چې امداد په کوم صورت سره کیږي؟

جواب: خور که چیرته غریبه وي، نو هغې ته زکات وغیره ورکول جائز دي، د ورکولو په وخت کې چې په زړه کې نیت وکړل شي، هغې ته وینا ضروري نه ده. والله اعلم ![۵]

---

[۱] و الأفضل فى الزكوٰة .... أولا الى الاخوة والأخوات .... ثم الى الأعمام و العمات .... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰ کتاب الزکاة، الباب السابع فى المصارف)

[۲] روى أن امراة عبد الله بن مسعود رضى الله عنه سالت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الصد قة على زوجها عبد الله فقال النبى صلى الله عليه وسلم : لک أجران، أجرالصد قة و أجرالصلة (بد ا ئع الصنائع ج : ۲ ص : ۴۰، کتاب الزكوٰة، طبع ايچ ايم سعيد (وعن سلمان بن عامر رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال : الصد قة على المسكين صد قة و على ذوى الرحم ثنتان : صد قة و صلة رواه النسائى والترمذى (الترغيب والترهيب ج : ۲ ص : ۳۷)

[۳] و لا يد فع المزكى زكوٰة ماله الى أبيه و جده و ان علا و لا الى ولد ه و ولد ولد ه و ان سفل .... و لا تد فع المرأة الى زوجها (هد اية ج : ۱ ص : ۲۰۶، کتاب الزكاة، باب من يجوز د فع الصد قات اليه)

[۴] نوى الزكاة بما يد فع لصبيان أقربائه أو لمن يأتيه بالبشارة أو يأتى بالباكورة أجزاه .... و كذ ا ما يد فعه الى الخدم من الرجال والنساء فى الأعياد و غيرها بنية الزكاة، كذ ا فى معراج الدراية (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰ کتاب الزکاة، الباب السابع فى المصارف) وفى شرح الحموى : العبرة لنية الدافع لا لعلم المد فوع اليه (الأشباه والنظائر مع شرح الحموى ج : ۱ ص : ۲۲۱)

[۵] و الأفضل فى الزكوٰة .... الصرف الى الاخوة والأخوات ... الخ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

يتيمو ورونو، خويندو او موربا ندې د زكات پيسې خرچ كول

سوال: ايا په يتيمو ورونو، خوريندو او مور باندې د زكات پيسې پرته له دې چې هغوى ته وويل شي خرچ كيدلاى شي يا هغوى ته له دې ويلو نه پرته چې دا زكات دې وركول كېداى شي؟

جواب: مور ته زكات وركول جائز نه دي، [۱] خور، ورور كه چيرته محتاج وي، نو هغوى ته زكات وركول جائز دي، [۲] خو ستاسو يتيم ورور خور چونكې پخپله ستا په كفالت كې دى. له دې وجې نه هغوى ته دې زكات نه وركول كيږي. [۳]

ورورته زكات وركول

سوال: ددين عالمان ددې مسئلې په باره كې څه فرمايي چې كه خپل حقيقي ورورمعذوره او بيمار وي اودآمدني څه ذريعه يې هم نه وي، نوبل ورورهغه ته زكات وركولى شي؟

جواب: ورور، خور، ماماا و تره ته زكات وركول جائزدي. [۴]

ورورا و پلارته زكات وركول

سوال: كه يوكس په حساب كتاب كې دخپل پلاراوورونو نه بيل وي، او دحيثيت خاوند هم وي، دى خپل پلارته داسې زكات وركول غواړي چې اول يې خپل غريب مستحق وروته وركړي اوروور ته ووايي چې دا روپۍ ته اوپلاردواړه استعمال كړئ ياوروته ووايي داروپۍ قبولې كړه او پلارته يې وركړه، هركله چې پلارمستحق هم وي، اياداصحيح دى؟يا داسې څه صورت شته چې داروپۍ پلار ته وركړل شي اوزكات اداشي؟

جواب: ورورته زكات وركول صحيح دي، [۵]خوپه دې كې دافرمايش كول چې فلانى كس مثلاً: پلار، باندې يې خرچ كړئ غلط دي، كله چې هغه ورورته زكات وركړ، نوهغه دهغه ملكيت

...بقيه د تيرمخ]... (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰) نوى الزكاة الا أنه سماه قرضا جاز فى الأصح لأن العبرة للقلب لا للسان (الدر المختار مع رد المحتار ج : ۶ ص : ۷۳۳)

[۱]لا يصرف .... الى من بينهما ولاد (تنو ير الأبصار ج : ۲ ص : ۳۴۶، طبع سعيد)

[۲]و الأفضل فى الزكوٰة......... الصرف أولا الى الاخوة والأخوات ... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰)

[۳]وفى رد المحتار : قلت والظاهر أنه اذ ا احتسبه من الزكوٰة تسقط عنه النفقة المفروضة لاكتفاء اليتيم بها لما صرحوا به أن نفقة الأقارب تجب باعتبار الحاجة .... قال فى التتارخانية عن المحيط اذ ا كان يعول يتيما و يجعل ما يكسوه و يطعمه من ماله ففى الكسوة لا شک فى الجواز لوجود الركن وهو التمليک و أما الطعام فما يد فعه اليه بيد ه يجوز أيضا لما قلنا بخلاف ما يأكله بلا د فع اليه (رد المحتار ج:۲ ص:۲۵۷ كتاب الزكاة)

[۴] و الأفضل فى الزكوٰة ...... الصرف أولا الى الاخوة والأخوات... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰)

[۵]و الأفضل فى الزكوٰة .... الصرف أولا الى الاخوة والأخوات... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰)

شو.اوس دهغه چې څه خوښه وي پرې ودې کړي اوکه وروړته زکات ورکول مقصودنه وي، بلکې پلارته ورکول مقصود وي او ورور یوازې وکیل وي، نو وروړته ورکولوسره به زکات ادانه شي [۱]

بې وسه ورو نو او خویندو ته زکات ورکول

سوال: زماپلاریونیم کال کیږي چې وفات شوی دی اوزه په کور کې مشریم.اوشادي شده هم یم.فی الحال دټول کفالت زه کوم ، دکور کسان څه داسې دي:یومورصاحبه،یوه خور،اودرې واړه واړه ورونه، په کوموکې چې یوبرسرروزګاردی اودوه اوس تعلیم کوي، زماپه ذمه زکات واجب دی،ایازه هغه زکات خپلو ورونو او خور ته ورکولی شم ؟ځکه چې دهغوی هیڅ ذریعه معاش نشته،پاتې شوه دمورمسئله مې نوهغه زمافرض دي.اوټوله ذمه واري به قبلومه.

جواب: ورونو اوخویندوته زکات ورکول جائزدي.[۲]

د حیثیت خاوندسړي دخپلو والدینو مالي مدد نه کول ، همدغه راز خپل ورور پرېښودلو سره نورو خلکوته زکات ورکول

سوال: یو سړی دجایداد او حیثیت خاوند دی، په ښه تنخوا باندې ملازم دی، هسې خو نیک دی.خو دلته دوه مسئلې دی، له دې ښه حالت او مالي استحکام باوجود هغه خپلو والدینو باندې چې د انتهایي غربت ښکار دي، څه نه خرچ کوي اونه دهغوی څه مالي مدد کوي، د داسې سړي په باره کې څه حکم دی؟

جواب: دا سړی چې پخپله خو خوشحاله ژوند تیروي،خو د بوډاګانو والدینو خیال نه ساتي، ګناهګار دی، د مرګ نه وروسته به په عذاب کې مبتلا وي. [۳]

سوال: ددې سړي دویم ورور غریب دی، دومره غریب چې لوږې پورې خبره رسیږي او څه خپلوان ورسره امداد کوي، ورور یې زکات وباسي، مګر نورو خلکو ته یې ورکوپ، ورور ته یې نه ورکوي، نه د هغه په څه بله طریقه مدد کوپ، په ورونو کې تعلقات خو ښه دي،خو دهغه مدد نه کوي. د اسلامی فقه مطابق دا کار ترکومه حده پورې صحیح دی؟

---

[۱] و تعتبرنية الموكل فى الزكوٰة دون الوكيل كذ ا فى معراج الدراية (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۷۱ كتاب الزكاة)
[۲] أيضا تيره شوی حاشيه (و الأفضل فى الزكوٰة ....الخ) اوګوری!_
[۳]عن ابن عباس رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من اصبح مطيعا لله فى والد يه أصبح له بابان مفتوحان من الجنة، وان كان واحد ا فواحداً، ومن أصبح عاصيا لله فى والد يه أصبح له بابان مفتوحان من النار، ان كان واحدا، فواحدا، قال رجل : وان ظلماه؟ قال : وان ظلماه ! و ان ظلماه ! وان ظلماه (مشكوٰة ص : ۴۲۱، باب البر والصلة)

جواب: د سرې د زکات مستحق د ټولو نه مخکې دهغه ورور، وريرونه او خپل خپلوان دي، کوم سرى چې څومره زيات نژدې وي، هغومره زيات مستحق دى، دا سړى چې خپل ورور اودهغه ماشومانو پريښودلوسره نورو ته زکات ورکوي، غلطي کوي.[1]

کونډې خورته زکات ورکول

سوال: زموږه خور کونډه ده او بيماره هم ده، هغه دخپلو زامنو سره اوسيږي، آيا هغې ته د علاج له پاره د زکات پيسې ورکول کيداى شي؟

جواب: خور ته د زکات پيسې ورکول جائز دي.[2]

تره ته زکات

سوال: زماپلاروفات شوى دى، مونږ اوو وروڼه خويندې او يو مور صاحبه ده،دالله تعالى په فضل اوکرم سره په موږ باندې زکات فرض دى اوموږ زکات ورکوو،ايادزکات څه پيسې خپل تره ته ورکړو؟دتره مالي حالات ښه نه دى،موږ زکات تره ته ورکولى شواوکه نه؟اوداهم غواړوچې تره ته مو دا پته ولګيږي چې دا دزکات روپۍ دي.

جواب: تره ته زکات ورکول جائزدي،[3]چاته چې زکات ورکړل شي هغه ته داويل ضروري نه دي چې دادزکات روپۍ دي، يوازې دزکات نيت کول کافي دي.[4]

وراره يا زوى ته زکات ورکول

سوال: ماسره زمايتيمه وريره اوسيږي، ايازه دزکات روپۍ په هغې باندې خرچ کولاى شم؟دويم سوال دادې چې ايازه خپل زوى ته زکات ورکولاى شم؟هغه معمولى نوکردى.

جواب: زوى،لور،لمسي اولمسۍته زکات ورکول جائزنه دي،وراره او وريرې ته زکات ورکول صحيح دي.

---

[1]و الأفضل فى الزكوٰة .... الصرف الى الاخوة والأخوات ثم الى اولاد هم ... ثم الى ذوى الأرحام ثم الى الجيران الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰ كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

[2]والأفضل فى الزكاة والفطر والنذر الصرف اولا الى الاخوة والأخوات (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰)

[3]و الأفضل فى الزكوٰة .... ثم الى الأعمام والعمات، ثم اليٰ أولادهم .. الخ (عالمگيرى ج: ۱ ص : ۱۹۰)

[4] نوى الزكاة بما يد فع لصبيان أقر با ئه أو لمن يأتيه بالبشارة أو يأ تى بالباكورة أجزاه .... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰) و فى شرح الحموى : العبرة لنية الد ا فع لا لعلم المد فوع اليه (الأشباه والنظائر مع شر ح الحموى ج : ۱ ص : ۲۲۱، طبع ادارة القران)۔

ښځه خپل خاوند ته زکات نه شي ورکولی

سوال: ۱: عام طورسره دښځې ټول کفالت دخاوندپه ذمه وي، که دبدنصیبي نه خاوندغریب شي اوښځه مالداره وي، نوشرعاً دښځې په خاوندباندې څه حقوق عائد کیږي؟
۲ دمذکوره خاوند دښځې نه زکات اخیستل اوخوړل به صحیح وي؟

جواب: په ښځه باندې دخاوندچې کوم حقوق دي، هغه دخاوندپه مالداري اوغریبي دواړوکې یوشان دي، دخاوندغریب کیدوپه صورت کې شرعي حق دادی چې هغه دخاوندغریبي ته په پام یوازې ددومره نان اونفقې مطالبه وکړي چې خاوندیې تحمل لري،[۱] خو اخلاقاً ښځې ته پکاردي چې هغه دخپل مال نه دخاوندامداد وکړي یاخپل خاوندته دخه کاروبارکولواجازت ورکړي.[۲]

۲ چونکې دښځې اوخاوندګټه عادةً مشترکه وي اودواړه عموماً دیوبل دڅیزونونه استفاده کوي، له دې وجې نه دخاونداوښځې یوبل ته زکات ورکول جائزنه دي.[۳]

د مالدارې ښځې غریب خاوند ته زکات ورکول صحیح دي

سوال: د زید دښځې سره دڅلورو زرو روپیو سره زر اوچاندی (سپین زر) دي، خوددې خاوند زیات قرضدار دی. (یاده دې وي چې سره زر دزیددښځې ملکیت دي) اود زید موریلارهغه ته په کورکې دبرخې ورکولونه انکار کړی دی، تسلی بخش جواب راکړئ چې زیدزکات اخستلی شي اوکه نه؟ قرضداری زیدپه خپله دی اومال دزیددښځې سره دی.

جواب: زیددنورونه زکات اخیستلی شي[۴]، خودده ښځه ده ته زکات نه شي ورکولی،[۱] په هرحال که خاوندغریب وي، نوهغه دزکات مستحق دی، دښځې دمالداري په وجه هغه ته مالدارنه ویل کیږي.

۱] النفقة واجبة للزوجة علىٰ زوجها........ و تعتبرفى ذٰلک حالهما جميعا .... و عليه الفتوىٰ وتفسيره انهما اذا كانا موسر ين تجب نفقة اليسار و ان كانا معسر ين فنفقة الاعسار (هد اية ج : ۲ ص : ۴۳۷)۔

۲] عن ز ينب امرأة عبد الله بن مسعود قالت : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : تصد قن يا معشرالنساء ولو من حليكن، قالت : فرجعت الىٰ عبد الله فقلت : انک رجل خفيف ذ ات اليد و أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قد أمرنا بالصد قة فأ ته فاسئله فان كان ذٰلک يجزيء عنى والا صرفتها الى غيركم .... فقال رسول الله صلى الله على وسلم: لها أجران أجر القرابة و أجرالصد قة متفق عليه(مشكوٰة ص: ۱۷۱ ،باب افضل الصدقة)

۳] ولا يد فع الى امرأته للاشتراک فى المنافع عادة ولا تد فع المرأة الى زوجها عند ابى حنيفة رحمه الله تعالىٰ كذ ا فى الهد اية (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹)كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)۔

۴] (منها الفقير) و هو من له ادنىٰ شيء و هو ما دون النصاب أو قدر نصاب...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

واده کړې ښځې ته زکات ورکول

سوال: یوه ښځه چې خاوند یې ژوندی دی، خو هغوی محنت مزدوري کوي، ایا دوی ته خیرات صدقه او زکات ورکول صحیح دي؟

جواب: که هغوی غریبان او مستحق وي نو جائز دي.[۲]

مالدار اولاد لرونکې کونډې ته زکات

سوال: یوه ښځه چې کونډه ده، خو دهغې څلورپنځه زامن په روزګار دي او ښه آمدني یې کېږي که هغه هلکان دخپلې مور بالکل امداد نه کوي، نو ایا دې ښځې ته زکات ورکول جائز دي؟ اوکه بالفرض اولاد څه لږشان امداد ورکوي چې دهغې له پاره ناکافي وي، نو بیا هغې ته زکات ورکول صحیح دي او که نه؟

جواب: ددې ښځې اخراجات ددې دزامنو په ذمه دي[۳]، خو که هغه غریبه وي او زامن دهغې دومره مالي امداد نه کوي چې دروزمره ضروریاتو له پاره کافي وي، نو هغې ته زکات ورکول جائز دي.[۴]

د زکات مستحق

سوال: زما کونډه وریندار ده، د هغې سره تقریباً پنځلس تولې د سرو زرو ګینه ده، سره له دې چې دهغې هیڅ آمدني نه شته، نه یې کورشته او نه یې د آمدني څه ذریعه شته، ایا هغې ته زکات ورکول کیدای شي؟ واضحه دې وی چې کومه ګینه دهغې سره ده هغه ورته خاوند او دهغه مورپلار ورکړې وه، زموږ سره اوسیږي او دهغې یوزوی هم دی چې لاوس سبق وایي او دګټې قابل نه دی.

جواب: ستاد وریندار سره که پنځلس تولې د سرو زرو ګینه خپله وي، نو هغې ته زکات

....بقیه د تیرمخ]... غیر نام و هو مستغرق فی الحاجة فلا یخرجه عن الفقر ملک نصب کثیرة غیر نامیة اذ ا کانت مستغرقة بالحاجة کذ ا فی فتح القد یر (عالمگیری ج:۱ ص : ۱۸۷)_

۱] تیره شوی حاشیه (ولا ید فع الی امرأته للاشتراک...الخ) اوګورئ!)_

۲] ایضاً تیره شوی حاشیه (منها الفقیر) و هو من له ادنیٰ شيء...الخ) اوګورئ!)_

۳] و علی الرجل أن ینفق علیٰ ابو یه و أجد اده وجد اته اذ ا کانوا فقراء و ان خالفوه فی د ینه اما الأبوان فلقوله تعالیٰ و صاحبهما فی الد نیا معروفا (هد اية ج : ۲ ص : ۴۴۵، باب النفقة، فصل فی من یجب النفقة و من لا یجب)

٤] ایضاً تیره شوی حاشیه (منها الفقیر) و هو من له ادنیٰ شيء...الخ) اوګورئ!)_

ورکول جائزنه دي،[۱] بلکې په هغې پخپله زکات فرض دی[۲]، اوکه دهغې زوی سره خپل څه نه وي، نوهغه ته زکات ورکولی شئ.[۳]

کونډې او ماشوما نوته رسېدونکې ترکه باندې زکات

سوال: یوه کونډه ښځه ده دهغې درې نارینه اولاددی،هغې ته دخپل خاوند دترکې نه تقریباً څلویښت زره روپۍ ورسېدې،هغې هغه روپۍ دبینک په فکسډ ډیپازټ کې کېښودلې،اوپه هغې باندې چې کوم سود یامنافع ملاوېږي په هغې باندې دهغې وخت تیرېږي، نوآیا په هغې باندې زکات واجب دی؟(یادلرئ چې ددې نه پرته دهغې هیڅ دآمدنئ ذریعه نشته)

جواب: داروپۍ دې په شرعي برخوکې تقسیم کړل شي[۴] اودهریوه په برخه کې چې څومره روپۍ راشي که هغه دنصاب(دوه پنځوس نیم تولې چاندي (سپین زرو) دمالیت پورې رسېږي، نوپه هغه باندې زکات فرض دی[۵] دنابالغه بچیوپه برخه باندې زکات نه شته.[۶]

سوال: کله چې دپاکستان حکومت زکات ارډیننس نافذکړاوزکات یې وصول کړ، له دې نه وروسته اعلی افسرانوته رجوع وشوه، نوپه جواب کې هغوی دمحلې کمیټۍ ته دزکات له فنډنه دزکات وظیفه ورکولو له پاره وویل،ایاهغوی دزکات اخیستلوحقداردي، هرکله چې دهغوی په خپلې آمدني باندې گزاره کیږي.

جواب: دنصاب خاوندزکات نه شي اخیستلی.[۷]

د نصاب خاوندې خو محتاجه کونډې سره څه ډول مدد وکړل شي؟

سوال: یوه ضرورت منده زنانه چې اوس کونډه ده، دهغې خاوند یوه هفته وړاندې وفات شوی دی، ددې زنانه څه ذریعه معاش نه شته، دمرحوم دیوې ماشومې عمر۹کاله دی،دکرایې په

۱] ولایجوز دفع الزکاة الی من یملک نصابا .... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۹)۔

۲] الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ المسلم اذا ملک نصابا ملکا تاما وحال علیه الحول (هدایة ج:۱ ص:۱۸۵)

۳] ان الطفل یعد غنیا بغنی أبیه بخلاف الکبیر فان لا یعد غنیا بغنی أبیه ولا الأب بغنی ابنه ولاالزوجة بغنی زوجها ولاالطفل بغنی امه (رد المحتارج : ۲ ص : ۳۵۰، مطلب فی الحوائج الأصلیة)۔

٤] یوصیکم الله فی اولادکم للذکرمثل حظ الأنثیین (النساء : ۱۱) " فان کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم" (النساء : ۱۲)۔

۵] ایضاً تیره شوی حاشیه (الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ...الخ) اوگوری!۔

۶] ومنها العقل والبلوغ فلیس الزکوٰة علیٰ صبی ومجنون (عالمگیری ج : ۱ ص :۲ ۱۷)۔

۷] ایضاً تیره شوی حاشیه (الزکوٰة واجبة علی الحر العاقل البالغ...الخ) اوگوری!۔

کورکې اوسیږی میاشتنی کرایه (۵۰۰)روپۍ ده،ددې زنانه سره د سرو زرو یوسیټ د واده دوخت دی،وزن یې تقریباً لس تولې دی،کونډه یې دخپلې لور له پاره مخصوص کول غواړي،یعنی ددې ګینې ملکیت د(۹) کلنې ماشومې په نوم کول غواړي،ایاپه موجوده حالاتوکې مذکوره کونډه شریعت دزکات حقداره ګرخوي؟یعنی دهغې ضروریات دزکات نه د میاشتنی وظیفې په شکل کې پوره کیدای شي؟

جواب: که د سرو زرو سیټ یې دخپلې لورپه نامه هبه کړ،نو یاده کونډه دزکات حقداره ده،اودهغې امداددزکات نه کیدای شي.[۱]

مفلوک الحال کونډې ته زکات ورکول

سوال: زموږ په محله کې یوه کونډه ښځه اوسیږي،دهغې یوه پیغله لورهم ده،چې په مقامی کالج کې سبق وایي اودکونډې یورورډب چې دغلې دلالي کوي،دمیاشتې دوه زره روپۍ ګټي،خو خپلې موراوکونډې خورته هیڅ نه ورکوي،ددې کونډې ښځې موربالکل ضعیفه اوبیماره ده،اوددې ټولوخرچ دښځې وراره کوي،اوددې وراره یې هم واده وشو،دهغه یوه لورهم ده اوس هغه وراره وایي چې زه دټولوخرچ نه شم اوچتولی، اوس هغه کونډه ښځه بلکل یواځې شوې ده،اودهغې دمدد کولو والا هیڅوک نه شته، نوآیا په دې حالت کې دهغې له پاره زکات اخیستل جائزدي؟اوایاموږ برادري والا ددې کونډې ورور سره په روپۍ نه ورکولوباندې زور کولی شو؟

جواب: وروركه قدرت لري، نوورته پكاردي چې دخپلې خوراخراجات برداشت كړي اوكه هغه نه كوي یاطاقت نه لري اودكونډې سره دنصاب برابر سره زر چاندی (سپین زر) یاروپۍ نه وي، نوظاهره ده چې هغه ناداره او غریبه ده، دې صورت كې هغې ته زكات او صدقات وركول ضروري دي.[۲]

روزګار کونکې کونډې ته زکات ورکول

سوال: زموږ په علاقه کې یوه کونډه اوسیږی،چې په محکمه تعلیم پاکستان کې نوکره ده، میاشتنی تنخوا یې پنځه سوه روپۍ ده او دهغې یوزلمی زوی هم سرکاري(حکومتي) نوکر دی، دواړه یوځای دسرکار له طرف نه ورکړل شوې کوارټر(کور) کې اوسیږي،زموږ دعلاقې دزکات کمیټی ددې کونډې ښځې له پاره پنځوس روپۍ هره میاشت دزکات له فنډنه وظیفه

۱] قوله هو الفقير والمسكين .... أى المصرف الفقير والمسكين .... والأولى أن يفسر الفقيربمن له مادون النصاب ... الخ (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۵۸، كتاب الزكاة)_

۲] و الأفضل فى الزكوٰة....... الصرف أولا الى الاخوة والأخوات ... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰)

تاکلې ده او هغه ورته هره میاشت ملاویږي، نو ایا د کونډې کیدو په وجه هرکله چې هغه سرکاري (حکومتی) نوکره ده د زکات مستحق ده؟

جواب: که هغه قرضداره نه وي او بر سر روزګار وي، نو هغې له زکات اخستل پکار نه دي، بیا هم که هغه د نصاب خاونده نه وي، نو هغې ته ورکولو سره به زکات اداشي.[۱]

د خاوند وړونو او وریرونو ته زکات ورکول

سوال: زما د خاوند څلور وړونه او یوه خورده چې د سابقه خاوندنه طلاق اخیستلونه وروسته په بل ځای کې واده شوې ده، خود سابقه خاوندنه یې درې بچي دي چې زما د بل لیور سره اوسیږي او زیر تعلیم دي، په دومره ګراني کوم چې د کور خرچې نه پوره کیږي هغوی ته خرچې ورکول هم یو مسئله ده، ددې نه پرته زما مشر لیور وفات شوی دی، او د هغه بچي هم زیر تعلیم دي، پوښتنه داده چې ایا مونږ ددې ماشومانو په تعلیم یا واده باندې د زکات په مد کې خرچ کولی شو؟ او زمونږ زکات به اداشي؟ خو چې دې ماشومانو ته معلومه نه شي چې دا زکات دی.

جواب: ته د خپل خاوند وړونو، وریرونو ته زکات ورکولی شې، ستا خاوند یې ورکولی شي[۲] او د زکات دادا ییګي له پاره هغوی ته ویل ضروري نه دي، چې دا د زکات روپۍ دي، په خپله نیت کول کافي دي، که څه هم هغوی ته دهدیې یا تحفې په نوم سره ورکړل شي، بیا هم زکات ادا کیږي.[۳]

غیر مستحق ته زکات ورکول

سوال: که صدقه، خیرات یا زکات یو چا ته مستحق ګڼلو سره ورکړل شي او په حقیقت کې هغه مستحق نه وي، بلکې خپله مسکیني ظاهروي، لکه څنګه چې د نن سبا سوال کونکي دي، نو خیرات یا زکات ورکونکی به ثواب ومومي؟

۱] ویجوز دفعها الیٰ من یملک أقل من ذٰلک وان کان صحیحا مکتسبا لأنه فقیر والفقراء هم المصارف، ولأن حقیقة الحاجة لا یوقف علیها فادیر الحکم علیٰ دلیلها و هو فقد النصاب (هدایة ج: ۱ ص: ۲۰۷، کتاب الزکاة، باب المصرف)۔

۲] و لا الیٰ من بینهما ولاد .... الخ وفی الشرح: و قید بالولاد لجوازه لبقیة الأقارب کالاخوة والأعمام ولأخوال الفقراء بل هم أولی لأنه صلة و صدقة (شامی ج: ۲ ص: ۳۴۶) و الأفضل فی الزکوٰة .... الصرف أولا الی الاخوة والأخوات ثم الی أولادهم . الخ (عالمگیری ج:۱ ص: ۱۹۰ کتاب الزکاة، الباب السابع)

۳] دفع الزکوٰة الی صبیان أقاربه برسم عید أو الیٰ مبشر أو مهدی الباکورة جاز (الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۵۶، قبیل باب صدقة الفطر)۔

جواب: دزکات ورکولوپه وخت کې که غالب ګمان و چې داکس د زکات مستحق دی، نوزکات اداشو، [۱] خوسوالګروته ورکول پکارنه دي. [۲]

د کاروبار نه کونکي کس کفالت زکات سره کول جائزدي

سوال: یوکس چې قصداً کار وبارنه کوي ،خپلوانوسره دوکې کوي،هغوی مجبوراً دده کفالت کوي ایازکات سره دهغه کفالت جائزده،اوزکات به اداشي؟

جواب: زکات به اداشي. [۳]

د کار نه کونکي سړي ماشوما نواو ښځې ته زکات ورکول

سوال: یو سړی چې قصدا کار نه کوي، په کور کې پروت وي، حالانکه دهغه درې زامن او یوه ښځه ده. خپل ذاتي کور یې هم نه شته ، دهغه د ښځې او ماشومانو څه قصور دی؟ کور د کرایه دی، ایا داسې تنګ لاسو ماشومانو او ښځې ته زکات ورکول کیدای شي؟ دا هم ده چې کله موږ دهغه ښځې ماشومانو ته پیسې ورکړو، نو هغه به یې هم خوري، حالانکې صحت مندکیدو باوجود بې کاره ګرځي راګرځي، ښځه او بچي په تنګي سره ژوند تیروي، په دې صورت کې تاسو واضحه کړئ چې د زکات په پیسو سره دهغوی مدد کیدلی شي؟ د بچیو په دې کې څه قصور دی؟

جواب: دهغه بچیو او ښځې ته دې زکات ورکړل شي. [۴]

ګټه نه کونکي ته زکات ورکول

سوال: زما خسر وفات شوی دی او زما د ښځې وروڼه که څه هم ځوانان دي،خو کار نه کوي، حالانکې هغوی سره ځمکه وغیره موجوده ده،خو نغدې پیسې ورسره نه شته ، آیا زه هغوی ته زکات ورکولی شم؟

۱] أما لو تحرى فد فع لمن ظنه غير مصرف أوْ شك و لم يتحر لم يجز حتى يظهر أنه مصرف فيجز به فى الصحيح خلافا لمن ظن عد مه و تمامه فى النهر : و فيه : واعلم أن المد فوع اليه لو كان جالسا فى صف الفقراء يصنع صنعهم او كان عليه زيهم او سأله فاعطاه كانت هٰذ ه الأسباب بمنزلة التحرى .. الخ (رد المحتار ج : ۲ ص : ۳۵۲، مطلب فى الحوائج الأصلية)۔

۲] و لا يحل أن يسأل شيئا من القوت من له قوت يومه بالفعل أو بالقوة كالصحيح المكتسب و يأثم معطيه ان علم بحاله لاعانته على المحرم (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۵۴، ۳۵۵، طبع ايچ ايم سعيد)۔

۳] ايضاً تيره شوى حاشيه (ويجوز د فعها الىٰ من يملك اقل من ذٰلک...الخ) او وړمبى بله حاشيه (أما لو تحرى فد فع لمن ظنه...الخ) اوګورئ!)۔

۴](منها الفقير) و هو من له ادنىٰ شيء و هو ما دون النصاب (عالمگيرى باب المصارف ج:۱ ص : ۱۸۷)

جواب: که چیرته هغوی سره دومره مالیت نه وي چې هغوی باندې زکات واجب شي، نو هغوی ته زکات ورکول جائز دي.خو هغوی ته دخپل محنت کټه پکار ده [۱]

د نصاب خاوند قرضدار باندې زکات فرض دی اوکه نه؟

سوال: که دنصاب خاوند قرضداری وي، نودهغه له پاره څه حکم دی؟موږ اوریدلي دي چې په قرضداري باندې په هیڅ صورت کې زکات نه واجبیږي،ترڅوپورې چې قرض ادانه کړي. که څه هم دهغه سره دومره روپۍ وي چې قرض پرې اداکولی شي، خوپه قرض کې تال اچونکی وي

جواب: اصول دادي چې که دچاسره مال هم وي اوقرضداری هم وي، نو اودې کتل شي چې دقرض پرې کولونه وروسته له هغه سره دنصاب برابر مالیت پاتې کیږي اوکه نه؟که دقرض پرې کولونه وروسته ورسره دنصاب برابرمالیت پاتې کیده،نوپه هغه باندې ددې پاتې شوي مال زکات واجب دی. برابره ده که هغه قرض اداکوي یایې نه اداکوي اوکه دقرض پرې کولونه وروسته دنصاب برابرمالیت پورې نه رسیږي، نوپه هغه باندې زکات فرض نه دی[۲]،په دې اصول باندې ښهٔ ځان پوه کړئ!

ایضاً

سوال: زیداوبکردوه ورونه دي،زیدبکرته په مختلفو وختونوکې دکاروبارښې کافي روپۍ دقرض په طوروکړې،خود ځینو وجوهاتوپه وجه په کاروبارکې نقصان کیده.زیدددې پروخت نه د خپلو روپیو غوښتونکی دی، خودبکرله پاره دروپیو پرې کول په نظرنه راځي اوکاروبارهم یوازې دنامه دی،نو ایادهغه له پاره زکات اخیستل اوپه قرض کې ورکول شرعاً مناسب دي؟ نورداچې په خپلوکې څوک دومره یا ددې نه کمې روپۍ زکات اوباسي اوبکرته ورکول وغواړي چې هغه پرې خپل قرض خلاص کړای شي، نوایادهغوی له پاره شرعاً جائزدي اوکه نه؟

جواب: که دبکراثاثه دومره نه وي چې هغه پرې قرض اداکړای شي، نوهغه ته دزکات روپۍ ورکول کیدای شي[۳]

---

[۱] ويجوز دفعها الٰي من يملک اقل من النصاب وان کان صحيحا مکتسبا(عالمگيری باب المصارف ج:۱ ص:۱۸۹)

[۲] ومن کان عليه د ين محيط بماله فلا زکوٰة .... و ان کان ماله اکثر من د ينه زکی الفاضل اذ ا بلغ نصابا بالفراغة عن الحاجة (هد اية ج : ۱ ص : ۱۸۶، کتاب الزکاة)

[۳] ومنها الغارم و هو من لزمه دين ولا يملک نصابا فاضلا عن د ينه أو کان له مال علی الناس لا يمکنه اخذه کذافی التبيين والدفع الٰی من عليه الدين أولی من الدفع الی الفقير کذا فی المضمرات(عالمگيری ج:۱ ص:۱۸۸)

قرضداري ته زکات ورکول او قرض ترې اخیستل

سوال: زموږ په یو کس باندې (۲۳۰۰) روپۍ قرض و، هغه کس ډیر غریب دی، موږ هغه کس ته بطورزکات دومره روپۍ ورکړې او هغه یادې روپۍ په قرض کې واپس کړې، ایا زموږ زکات اداشو؟

جواب: ستاسو زکات اداشو او د هغه قرضه اداشوه.[۱]

قرضدار سړي ته زکات ورکول که څه هم د هغه زامن ګټه کوي

سوال: یو سړی بهرملک ته تللو سره د چاسره یې په شراکت باندې کاروبار کړی و. دلته هغه خپل کور او ګینه خرڅ کړي دي او د خلکو نه یې پنځه لکه روپۍ قرض کولو سره په کاروبار کې ولګولې او چیرته یې چې کاروبار کاو هغه دکان دده د شریک په نوم و، چې کله کار وچلیده. نو هغه ملګري ورته وویل چې ستا په دې دکان کې هیڅ برخه نشته، ته پاکستان ته واپس لاړ شه. څه لیکل وغیره شوي نه وو، دکان د ملګري پخپل نوم باندې و، هغه سړی واپس پاکستان ته راغی. حالانکه دهغه په ذمه د لاکونو روپیو قرض دی، اخیستلو والا یې شپه او ورځ پریشانه او بې عزته کوي، حالانکه دهغه یو زوی اوس ملازم شوی دی او درې زامن یې معمولي دکان داري کوي او هغه پخپله هم دیوبل چا په دکان کې کار کوي، کور د کرایې دی. چې لږ څه راوړي هغه قرض والا په دروازه باندې ولاړ وي، ایا داسې سړي ته زکات ورکول سهي دي؟ دهغه دکان خپل ذاتی دی چې په هغه کې یې زامن کاروبار کوي، چې د لکونو روپیو سودا پکې کیږي. ددې وجه نه یې نه کوي چې بیا به یې د زامنو د کاروبار څخه څه جوړشي. داسې کورنۍ ته زکات ورکول سهي دي؟

جواب: دقرض ادا کولو له پاره زکات ورکول سهي دي.[۲]

قرضدار ته زکات ورکولو سره دهغه نه خپل قرض واپس اخیستل

سوال: زما ترور چې به امریکا کې مقیمه ده، هغې ماته (۷۰۰۰) روپۍ په زکات کې را اولیږلې چې دا یو مستحق ته ورکړه، څه موده مخکې یوې ښځې څه پیسې مانه قرض اخیستې وې، خو اوس هغه په داسې حالت کې نه ده چې زما پیسې ماته واپس راکړای شي، تاسو ماته د قران او سنتو په رڼا کې ووایئ که چیرته زه خپلې دقرض پیسې واپس وانه اخلم

---

[۱] و حیلة الجواز ان یعطی مد یونه الفقیر زکوته ثم یأخذ ها عن د ینه (الدر المختار ج : ۲ ص : ۲۷۱)۔

[۲] و منها الغارم وهو من لزمه دین ولا یملک نصابا فاضلا عن دینه (عالمگیری باب المصارف ج :۱ ص :۱۸۸)

(ځکه چې دهغې حالت د ورکولو قابل نه دی) اود خپلې ترور په رالیږل شویو پیسو کې زه بدلې کړم نو ایا دا به مناسب وي حالانکې هغه زنانه زکات هم اخل. زه غواړم چې هغې باندې د قرضې بوج هم ختم شي او زه به هم خپل قرض واخلم. یعنې د ترور امانت مستحق کس پورې ورسوم،

جواب: هغې ته د زکات پیسې ورکړه، او بیا یې دهغې نه خپل قرض کې وصول کړه، [۱] د زکات ادا کولو له پاره دا شرط دی چې د زکات ادا کولو په وخت کې د زکات په نیت سره ورکړل شي.[۲] که چیرته پیسې دې بطور قرض ورکړې وي، نو وروسته د زکات نیت کولو سره زکات نه ادا کیږي، کومې زنانه چې تانه پیسې قرض اخیستې دي، دهغې حل دادی چې تاسو د یوې ښځې په ذریعې هغې ته دزکات پیسې ورکړه،(د وینا ضرورت نشته دې چې دا د زکات پیسې دي) چې کله هغه ستا په وړاندې هغې ته دزکات پیسې ورکړي، نوتاسو هغې ښځې ته ووایئ چې هغه ستاقرض اداکړي.

د یو قرض دار قرض د زکات نه ادا کول

سوال: د زکات د پیسو نه دخپلې ملګرې د خاوند قرض یا د بل خپلوان قرض ورکولی شم؟

جواب... که چیرته هغوی محتاج وي، نو هغوی ته د قرض ادا کولو له پاره د زکات پیسې ورکول صحیح دي.[۳]

په قرض باندې ورکړل شویو پیسو کې د زکات نیت کیدلی شي؟

سوال: څه خلک قرض اخیستلوسره لاړ شي، کافي وخت تیریدو نه وروسته د ملاویدو امید نه وي،که موږ هغه قرض باندې ورکړل شویو پیسو کې د زکات نیت وکړو،نو زکات ادا کیږي؟**جواب:** د زکات ادا کیدو شرط دادی چې دپیسو ورکولو وخت کې د زکات نیت وکړل شي، [۴] یا کله پورې چې فقیرسره هغه پیسې بعینه محفوظې وي هغه وخت پورې نیت کیدلی شي،خو که چیرته د قرض په نیت سره دې پیسې ورکړې او قرض اخیستونکي هغه پیسې خرچ کړې اوس د زکات نیت کولو سره زکات نه ادا کیږي،خو دا صورت کیدای

---

[۱]حیلة الجواز ان یعطی المد یون الفقیر خمسة زکٰوة ثم یأخذ ها منه قضاء عن د ینه (بحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۲۶کتاب الزکاة)

[۲]وشرط ادائها نیة مقارنة للاداء او لعزل ما وجب...الخ (بحرالرائق ج۲ ص۲۲۶، کتاب الزکاة)

[۳]فان کان مد یونا فد فع الیه مقدار ما لوقضی به د ینه لا یبقی له شيء أو یبقی دون المائتین لا بأس به (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)

[۴]و أما شرط ادائها فنیة مقارنة للأدا ء أو لعزل ما وجب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰کتاب الزکاة)

شي چې که چیرته قرضدار محتاج وي، نو هغه ته دې د زکات پیسې ورکړل شي، او د ورکولو نه دې پخپل قرض کې وصول کړل شي [۱]

د پګړۍ کور او په کور کې د پنځلس شلو زرو روپیو شیانو لرونکي ته د لور د واده له پاره زکات ورکول

سوال: یوسړي د زکات په پیسو سره د لور د واده له پاره د مدد درخواست کړی دی. دهغه په کور کې د پنځلس شلو زور روپیو شیان دي، اود پګړۍ کور یې هم دی، خوپه نن سبا دور کې چې د واده له پاره کم ازکم کوم ضروریات دي هغه سړی یې د پوره کولو نه قاصر اوعاجز دی. مثلاً فرنیچر. لوښي، جامې. د بهر نه د میلمنو په راتللو باندې دهغوی له پاره د طعام او قیام بندوبست او داسې نور... ایا دا سړی د زکات مستحق دی؟

جواب: د استعمال شیانو نه پرته که چیرته هغه سره سامان د دوه پنځوس نیمو تولو چاندي مالیت ته رسیدلی وي، که څه هم دګینې اویا روپیوپه شکل کې وي، هغه د زکات مستحق نه دی. داسړی چې د لور واده کول غواړي دچانه دې قرض اخیستلوسره خرچه کړي. وروسته د قرض د ادا کولو له پاره هغه ته د زکات پیسې ورکول کیدای شي. [۲]

مستحق ته په زکات کې کور جوړول او د واپسي طمع ترې ساتل

سوال: بحمدالله!نن سبا دعشر اوزکات دنفاذاودسودپه خاتمې باندې کار روان دی اوپه دې سلسله کې شرعي قوانین په عمل کې راوستل کیږي،دزکات اوعشردتقسیم په سلسله کې، دمستحقینوپه باره کې صدرصاحب او وزیر خزانه په مختلفو موقعوباندې ویلي و چې دزکات دتقسیمولوبهترینه طریقه داده چې دې سره دمستحق عزت نفس مجروح نه شي اوداداسې تقسیم کړل شي چې په مستقبل کې هغه دزکات مستحق پاتې نه شي،یعنی په لږ صورت کې نه،بلکې داسې امداد وي چې دمستحق مستقبل پرې بنائسته شي.

لهذا آیا په داسې کسانوباندې زکات تقسیمیدای شي،چې د غریب الوطن، ژوندتیروي، یعنی دهغوی سره تراوسه پورې دمستقلې هستوګنې له پاره خپل کورنه وي،دزمکې ټوټه ورسره وي. خو دملازمت په ژوندکې په کمه آمدني کې یوازې دخوراک څښاک کارپرې په مشکله سره پوره کیږي،یادبلې څه وجې نه دومره غریب وي، چې دخپل ذاتي کور له پاره حاصل شوې څمکې باندې دموجوده دور په ګرانۍ کې دجوړولو عملاً تصورهم نه شي کیدای.

---

[۱] حیلة الجواز ان یعطی مد یونه الفقیر زکوته ثم یأخذ ها عن د ینه (الدر المختار ج : ۲ ص : ۲۷۱)

[۲] المصارف :الخ منها الفقیر هو من له ادنیٰ شيء و هو ما دون النصاب أو قدر نصاب غیرنام وهو مستغرق فی الحاجة فلا یخرجه عن الفقر (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۷ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)

آیا په داسې صورت کې د کور دجوړولوله پاره دتخمین مطابق په یوځای دزکات روپۍ ورکول کیدای شي چې دپوره کورنۍ سرونه پټ شي.؟ ددې نه پرته زکات اخستونکی د تعمیراتي مراحلوپوره کولونه وروسته دزکات روپۍ په مناسبو قسطونو کې رضاکارانه طورسره واپس اداکولی شي؟

جواب: داسې غریب اونادار خلک چې دنصاب برابر مال نه لري،هغوی ته زکات ورکول جائزدي[۱]. اوددې صورت داکیدای شي چې دزکات په روپیو کورجوړکړل شي اوهغوی ته ورکړل شي اوداسې غریب او نادار نه دزکات دروپیو دواپسي طمع کول عبث دي،له دې وجې نه درضاکارانه واپسي سوال دبحث نه خارج دی.

د نصاب دخاوند له پاره د زکات د مد نه خوراک کول

سوال: زه په مدرسه کې قرآن پاک حفظ کوم اوزماعمرتقریباً شلو کلونو ته رسیدلی دی، او زموږ کورني حالات هم ډیرښه دي اود کور ټول اخراجات اوآمدني زمانه مشرانودرې ورونړه په لاسوکې دي. هرکله چې زماپه مدرسه کې خوراک څنباک اواوسیدل دي او تاسوته به معلومه وي چې ددیني مدرسوګزاره اکثر په زکات خیرات اودقربانۍ په څرمنوباندې وي،مهرباني وکړئ اوداراته ووایئ چې دمدرسې خوراک زماله پاره جائزدی اوکه نه؟

جواب: که دموږپلاردجائدادنه تاته دومره برخه ملاوشوې وي چې ته دنصاب خاوند یې نودزکات دمدنه ستاله پاره خوراک کول جائزنه دي.[۲]

د معذور هلک پلارته زکات ورکول

سوال: دیوسرکاري(حکومتي) ملازم ګریډنمبر۱یو زوی چې عمریې تقریباً لس کاله دی په دماغي بیماري کې مبتلادی، پلاردهغه کفالت کوي اوڅومره پورې چې کیدای شي علاج او درملنه یې کوي،ددې هلک ددماغي بیمارۍ په وجه زموږ دزکات کمیټۍ دزکات دفنډنه د هلک له پاره ماهانه وظیفه مقررکړې ده اوهره میاشت ورته ورکول کیږي دمریض هلک پلار د سرکاري (حکومتي) نوکري (وظیفې) سره سره دحکومت دطرف نه ورکړل شوي کوارټر (کور) کې اوسیږي ایاپه داسې حالت کې دهلک پلاردزکات مستحق دی؟

۱] ویجوز د فعها الیٰ من یملک أقل من ذٰلک وان کان صحیحا مکتسبا لأنه فقیر والفقراء هم المصارف، ولأن حقیقة الحاجة لایوقف علیها فادیر الحکم عليٰ دلیلها وهو فقدالنصاب (هدایة ج:۱ ص:۲۰۷،کتاب ألزکاة، باب المصرف)

۲] ولایجوز د فع الزکاة الی من یمک نصابا .... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۹)۔

جواب: که دهلک پلارغریب وي نودزکات حقداردی[۱]،ځینې اولاد داره خلک داسې وي چې هغوی دنصاب خاوندان نه وي اودهغوی روزګارهم دهغوی دخرچې له پاره نه کافي کیږي، داسې خلکوته زکات ورکول جائزدي.[۲]

غریب ته زکات ورکول او نیت

سوال: زموږ یو پیژندګلودی،مالي اعتبارسره ډیرکمزوری دی،ریږی لګوي، ښځه یې دتې بي مریضه ده،هغه ورته په کورکې چنې، کباب اوداسې نور...شیان جوړ وي اوهغه یې خرڅوي او دوه درې واړه واړه بچي یې هم دي،دهغوی ذاتي کوردی،ایاداسې کس ته زکات ورکول کیدای شي؟ اوکه هغه زکات اخیستل نه خوښوي، نو هغه ته دویلونه پرته زکات ورکولی شو؟

جواب: ذاتي کور اوریږی لګولوباوجودکه هغه فقیر اوضرورت مند وي،نوهغه ته زکات ورکول صحیح دي[۳] اودزکات داداکولوله پاره هغۀ ته داویل شرط نه دي چې دازکات دی، تحفه اوهدیه ویلو سره یې هم ورکولی شئ،نیت دې دزکات وکړل شي.[۴]

آیا د نصاب د قیمت برابر میښې لرونکی زکات اخستلی شي؟

سوال: که دیوکس سره یوساعت ،یایوه غوااویایوه میښه وي چې قیمت یې دنصاب له کچې سره برابروي، ددې کس له پاره دزکات روپۍ اودفطرانې(سرسایې) روپۍ اخیستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: داشیان چې په سوال کې ذکر شوي دي په اصلي ضرورتونو کې شامل دي، له دې وجې نه داکس زکات اخیستلی شي.[۵]

امام ته زکات ورکول

سوال: دمسجد دامام له پاره زکات اخیستل جائزدي؟

۱] تیره شوی حاشیه (ویجوز د فعها الیٰ من یملک أقل من ذٰلک....الخ) اوګورئ!۔

۲] وکذ ا لو کان له حوانیت أو د ار غلة تساوی ثلاثة الاف درهم وغلتها لا تکفی لقوته و قوت عیاله یجوز صرف الزکاة فی قول محمدرحمه الله تعالیٰ (عالمگیری ج:۱ ص: ۱۸۹کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)

۳]ویجوز د فعها الیٰ من یملک أقل من النصاب وان کان صحیحا مکتسبا کذ ا فی الزاهدی (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۹، کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

٤] قوله فیه أشار الیٰ أنه لا اعتبار للتسمیة فلوسماها هبة أو قرضا تجز یه (رد المحتار ج : ۲ ص : ۲۶۸)۔

٥] و فارغ عن حاجته الأصلیة و هو ما ید فع الهلاك عن الانسان تحقیقا کالنفقة و دور السکنیٰ و الات الحرب والثیاب المحتاج الیها لد فع الحر أو البرد .... و کالات الحرفة و أثاث المنزل و دواب الرکوب ... الخ (شامی ج : ۲ ص: ۲۶۲)۔

جواب: که هغه محتاج او فقیروي، نو جائز دي، که نه ،يوازې د مسجد د امام کیدو سره څوک د زکات مستحق کیږي نه[1] او د امامت داجرت په طور سره هم زکات ورکول جائز نه دي.[2]

د مسجد امام ته تنخوا د زکات له روپیو نه ورکول جائز نه دي.

سوال: زمونږ په علاقه کې دادستور دی چې کله يو عالم پيش امام جوړوي، نو د هغه له پاره څه تنخواه يا نفقه نه ټاکي ،بلکې دعلاقې رسم دادی چې خلک يعنې محلې والا امام ته زکات ورکوي، دی مخکې دافيصله نه کوي چې زه امامت کوم، نو تاسو ما ته زکات راکوئ،له دې وجې نه پيش امام ته زکات ورکول امام ته هم معلوم وي چې دادرسم له وجې نه دي اوقوم ته هم،ايا داسې امامت کولو سره دزکات رقم اداکيږي اوکه نه؟اوپيش امام له پاره داسې امامت کولو کې څه قباحت شته يانه؟

جواب: اګرچې دامام صاحب سره داخبره ټاکل شوې نه ده چې هغه ته به دزکات د رقم نه تنخوا ورکړل کيږي، خو چونکه ,,المعروف کالمشروط،، داصولو مطابق کوم شی دمخکې په ذهن کې فيصله شوی وي هغه داسې دی لکه چې ددې شرط ولګول شي،چنانچې کله چې دامام صاحب اوزکات ورکونکوپه ذهن کې داخبره دمخکې نه ده چې دامام صاحب تنخوا به نه مقررېږي اوهغه ته به دزکات روپۍ ورکول کيږي، لهذادزکات په روپيو سره امام ته تنخوا ياپه نورو الفاظو سره دامامت اجرت ورکول جائزنه دي[3] خو که هغه ته دامامت اجرت جداورکول کيږي اوبيادغريبۍ له وجې نه هغه ته زکات ورکړل شي، نوصحيح ده.[4]

په جيل کې زکات ورکول

سوال: جيل کې دننه دجمعې مونځ کول اوزکات ورکول جائزدی اوکه نه؟ اوکه جائزدي نوجيل کې دننه مستحق قيدي ته زکات ورکول کيدای شي اوکه نه؟

جواب: په جيل کې لمونځ خوپه جماعت کول پکاردي،مګردجمعې په ځاب دماسپخين لمونځ

---

[1] منها الفقير و هو من له ادنیٰ شيء و هو ما دون النصاب أو قدر نصاب غيرنام وهو مستغرق فی الحاجة فلا يخرجه عن الفقرملک نصب کثيرة غير نامية اذ اکانت مستغرقة بالحاجة کذ ا فی فتح القد ير (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۷کتاب الزکاة، الباب السابع)۔

[2] ولاتحسب أجرة العمال و نفقة البقر و کری الأنهار و أجرة الحافظ وغيرذالک .. الخ (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۸۷کتاب الزکاة، الباب السادس فی زکوٰة الزرع والثمار)۔

[3] تيره شوی حاشيه (ولاتحسب أجرة العمال و نفقة البقر...الخ) اوګورئ۔

[4] و لو نوی الزکاة بما لم يد فع المعلم الی الخليفة و لم يستأجره ان کان الخليفة بحال لولم يد فعه يعلم الصبيان أيضا أجزاه و الا فلا (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۹۰کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

کول پکار دي[۱] دجیل په قیدیانو کې چې کوم کسان دزکات مستحق وي، هغوی ته زکات ورکول صحیح دي.[۲]

خیر غوښتونکو ته زکات ورکول

سوال: په رمضان المبارک کې کراچۍ ته دملک دمختلفو برخو نه ګڼ شمیر خانه بدوش راځي داخلک دکراچۍ په علاقه کې خیرات زکات غواړي،په شرعی نقطه نظرسره راته ووایئ چې دې خلکوته زکات او فطرانه(سرسایه) ورکول جائزدي اوکه نه؟

جواب: ډیرخیرغوښتونکي په خپله دنصاب خاوندان وي،له دې وجې نه ترڅوپورې چې دا اطمینان نه وي شوی چې دوی واقعي محتاج دي، زکات اوصدقه فطرورکول صحیح نه دي.[۳]

د مدرسې چنده غوښتونکي ته له تحقیق پرته زکات ورکول

سوال: دا چې په کوڅو کې ګرځي او د مدرسې په نوم چنده غواړي، هغوی ته له تحقیق پرته زکات یا څه پیسې ورکول جائز دي اوکه نه؟

جواب: ماته معلومه نه ده چې دا څنګه خلک وي؟ ترڅوپورې چې تحقیق نه وي، څه ویلی شم؟

د څلورنیمو زرو روپیو سرو زرو دمالیت مالک ته زکات ورکول

سوال: که چیرته د نصاب مالیت مثلاً ۴۵۰۰ روپۍ وي، نو ایا داسې سړي ته زکات ورکول سهي دي چې هغه سره دومره پیسې یا ددې نه زیاته ګینه وغیره وي؟ له دې پرته فریج، وي سي آر، ټي وي وغیره هم ورسره وي؟

جواب: داسې سړي ته زکات نه ورکول نه سهي کیږي.[۴]

چې په کوم کورکې ټي وي، وي سي آر وي، هغوی ته زکات ورکول جائز نه دي

سوال: نن سبا عام طور باندې چې کومو خلکو ته زکات ورکول کیږي. دهغوی په کورنو کې

---

[۱] ومنها الاذ ن العام و هو أن تفتح أبواب الجامع فيؤذ ن للناس حتى ان جماعة لو اجتمعوا فى الجامع و أغلقوا أبواب المسجدعلى أنفسهم وجمعوا لم يجز..الخ (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۴۸كتاب الصلاة، الباب السادس عشر)

[۲] تیره شوی حاشیه (ولاتحسب أجرة العمال و نفقة البقر...الخ) اوګورئ!۔

[۳] و لا يحل أن يسأل شيئا من القوت من له قوت يومه بالفعل أو بالقوة كالصحيح المكتسب و يأثم معطيه ان علم بحاله لاعانته على المحرم (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۵۴، ۳۵۵، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۴] المصارف..الخ، منها الفقير و هو من له ادنىٰ شيء و هو ما دون النصاب أو قدر نصاب غيرنام وهو مستغرق فى الحاجة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۷ كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

ټي وي، فریج، وي سي آر وغیره اونور ډیر شیان وي، حالانکې بیوازې ټي وي د ځلورو پنځو زرو روپیو وي، چې د دوو پنځوس نیمو تولو چاندي برابر دی، په داسې صورت کې هغو خلکو ته زکات ورکول صحیح دي؟

جواب: د چا په کورونو کې چې ټي وي او وي سي آر وي، هغوی ته زکات ورکول صحیح نه دي. [۱]

غیرمسلم ته زکات ورکول

سوال: ایا غیرمسلم یعنې عیسایی ښځې چې په کورونوکې کارکوي دزکات خیرات یا د صدقې مستحق کیدای شي؟ځکه چې دا خلک هم غریبان وي اومحنت مزدوري سره یې په مشکله ګزاره کیږي.

جواب: غیرمسلم ته زکات ورکول صحیح نه دي، نفلي صدقه ورکولی شئ[۲]خوهغه هم په اجرت کې دې نه ور کول کیږي. [۳]

غیرمسلم ته زکات اوصدقه فطر ورکول صحیح نه دي

سوال: دډیروخت نه اخترونوته نژدې ورځوکې قافلې قافلې غیرمسلم خانه بدوش کراچۍ او نورو ښارونوته دزکات اوفطرانې دوصولولوله پاره راځي، په دې خانه بدوشانوکې اکثریت د غیر مسلمو وي آیادې غیرمسلموته زکات یافطرانه ورکول سهي دي؟ او آیادا د مسلمانو فقیرانوحق نه دی؟ او آیا ددی زکات او فطرانه اداکیږي؟

جواب: زکات اوصدقه فطربیوازې مسلمان فقیر ته ورکول کیدایشي [۴]

کوموخلکوچې غیرمسلموته ورکړي وي، هغوی دې دوباره اداکړي.

غیرمسلم ته زکات ورکول

سوال: آیا غیرمسلم ته زکات اوخیرات ورکول سهي کیږي؟ ځکه چې نن سبا په جمعه او

---

[۱]و لا یجوز د فع الزکوٰۃ الی من یملک نصابا أی مال کان .... فاضلا عن حاجته (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۹ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)

[۲]و أما أهل الذ مة فلا یجوز صرف الزکاة الیهم بالا تفاق و یجوز صرف صد قة التطوع الیهم بالا تفاق .... و أما الحر بی المستأمن فلا یجوز د فع الزکوٰۃ و الصد قة الواجبة الیه بالاجماع ویجوز صرف التطوع الیه کذ ا فی السراج الوهاج (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

[۳] ولاتحسب أجرة العمال و نفقة البقر و کری الأنهار و أجرة الحافظ وغیرذالک .. الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۷ کتاب الزکاة، الباب السادس فی زکوٰۃ الزرع والثمار)۔

[۴] تیره شوی حاشیه (و أما أهل الذ مة فلا یجوز صرف الزکاة الیهم...الخ) اوګورئ۔

اخترونو کې غیرمسلم هم خیرات زکات غواړي.

جواب: غیر مسلم ته زکات ورکول جائز نه دي، خو صدقه او خیرات ورکول جائز دي. [۱]

د زکات نه کرایه، د ډاکټر فیس ادا کولو سره د زکات ادا کول

سوال: زما د یو مفت ډسپنسرۍ خلاصولو اراده ده، چې په هغې کې به ټولې دوایانې، کرایه او د ډاکټرانو تنخواګانې د زکات د پیسو نه ورکول کیږي، یوازې په ډسپنسرۍ باندې به لیکل کیږي چې د:ې ځائ نه به یوازې هغه خلک دوایي اخلي چې د زکات مستحق وي. آیا یوازې دومره لیکل کافي دي؟ ډسپنسرۍ ته هرقسمه خلک راځي، آیا داسې کولو سره به زکات ادا شي؟

جواب: کومې دوایانې چې مستحقو کسانو ته ورکړل شي، په هغو کې د زکات نیت صحیح دی، کرایه او د ډاکټر فیس دې وټاکل شي او غریبانانو ته دې د فیس پیسې په زکات کې نغدې ورکړل شي، هغوی دې ډاکټر ته ورکړي. دا جائز ده. والله اعلم [۲]

که چیرته د ډاکټر فیس د زکات نه ادا کړل شي نو آیا زکات به ادا شي؟

سوال: که چیرته د چا علاج وکړل شي او د هسپتال بل او د ډاکټر فیس په هسپتال کې جمع کړل شي. او مریض ته په ملکیت کې ورنه کړل شي نو آیا زکات به نه ادا کیږي؟

جواب: نه جی! مریض دې مالک جوړ کړل شی نو زکات به ادا کیږي، که نه ، نه. هغه هم په دې شرط چې مریض د زکات مستحق وي. [۳]

د زکات د فنډ نه مریضانو ته دوایي اخیستل او ورکول

سوال: د انجمن دهلی راعیان زیرِ اهتمام یو میډیکل سینټر نیوکراچۍ کې امدادي بنیادونو باندې کار کوي. دلته غریبانو مریضانو ته دوایي د زکات د فنډ نه ورکول کیږي، آیا دا جائز دي؟ هرمریض نه د ټوکن منی په طور باندې ۵روپۍ اخستل کیږي، ایا هغه پیسو سره د ډاکټر او د کمپاؤنډر تنخواه ورکول کیدای شي؟

جواب: کوم غریبانان چې د زکات مستحق دي، هغوی ته د زکات د پیسو نه دوایانې اخیستلو سره ورکول کیدای شي او د ډاکټر او د کمپاؤنډر د فیس د پاره هغوی ته د نغدې

[۱] ولا یجوز أن یدفع الزکوٰة الیٰ ذ می و ید فع الیه ما سویٰ ذ الک من الصد قة (هد ا یة ج : ۱ ص : ۱۸۵، کتاب الزکاة).

[۲] اذا دفع الزکوٰة الی الفقیرلا یتم الدفع ما لم یقبضه (عالمگیری ج:۱ ص:۱۹۰کتاب الزکاة، الباب السابع)

[۳] ولا یجوز ان یبنی بالزکوة المسجد.......وکل مالا تملیك فیه. (عالمگیری ج۱ ص۱۸۸، کتاب الزکاة)

پیسې ورکړل شي، او بیا دې هغوی ډاکټراو کمپاؤنډر ته فیس ادا کړي. [۱]

غیرمسلموته زکات

سوال: ایا غیرمسلمه (هندو، سک، عیسایي، قادیایي، پارسي او داسې نورو...) ته زکات ورکول جائز دي؟ هرکله چې په سوونو مسلمانان حقدار موجودوي.

سوال: حکومت په بینکونوکې جمع شویو روپیو نه یوازې د مسلمانانوداکاونټونو نه جداکوي هرکله چې ددې زکات نه څه برخه دکالجونو زده کونکو ته بطورمددورکول کیږي په دې طلباوو کې د مسلمانانوزده کونکو نه پرته قادیاني، هندو ټول شامل وي، ستاسونه دا پوښتنه کوم چې دزکات دامصرف عین داسلام مطابق دی یاپه دې کې اختلاف دی؟

جواب: دزکات مصرف صرف مسلمانان دي، هیڅ یوغیرمسلم ته زکات ورکول جائزنه دي[۲] که حکومت دزکات رقم غیرمسلموته ورکوي او صحیح مصرف باندې یې نه خرچ کوي، نو داهل زکات زکات به ادانه شي.

زکات او څرمنې هغو تنظیمونو ته ورکړئ چې صحیح استعمال یې کوي

سوال: مختلف تنظیمونه زکات اودقرباني څرمنې جمع کوي. کله چې هغوی ته ددې په ذریعه روپۍ حاصلې شي، نودهغو حساب هم نه پیش کوي، اونه داخراجاتو، نوآیا په دې صورت کې دوی ته د قربانۍ څرمنې اوزکات ورکولوسره به زکات اوقرباني اداشي؟

جواب: دزکات اودقربانۍ دڅرمنې څوک محتاج مالک جوړول ضروري دي، له دې پرته به زکات ادانه شي[۳] اودقربانۍ ثواب به ورسره ضائع شي، نو دکوموتنظیمونوپه باره کې چې موږپوره اطمینان وي چې هغوی دزکات پیسې په صحیحې طریقې په صحیح مصرف باندې خرچ کوي هغوی ته زکات ورکول پکاردي. اودچاپه باره کې چې دا اطمینان نه وي هغوی ته ورکړل شوی زکات ادانه شو دې خلکوته پکاردي چې خپل زکات په دویم ځل اداکړي.

دینی مدرسې ته زکات ورکول غوره دي

سوال: مدارس عربیه ته زکات ورکول جائزدي اوکه نه؟

---

[۱] اذا دفع الزکوٰۃ الی الفقیرلا یتم الدفع ما لم یقبضه (عالمگیری ج:۱ص:۱۹۰کتاب الزکاۃ، الباب السابع)

[۲] و أما أهل الذ مة فلا يجوز صرف الزكاة اليهم بالا تفاق و يجوز صرف صد قة التطوع اليهم بالا تفاق .... و أما الحر بی المستأمن فلا یجوز د فع الزکوٰۃ و الصد قة الواجبة الیه بالاجماع ویجوز صرف التطوع الیه کذ ا فی السراج الوهاج (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸کتاب الزکاۃ، الباب السابع فی المصارف)_

[۳] أما تفسیرها فهی تملیک المال من فقیر مسلم غیرهاشمی و لا مولاه بشرط قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالیٰ هٰذ ا فی الشرع کذ ا فی التبیین (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰کتاب الزکاۃ)_

جواب: زکات ورکول جائزنه بلکې بهتردي[۱] ځکه چې دغریبانو د مدد سره سره ددیني علمونو سرپرستي هم ورسره وشي.

آیا زکات او د قربانۍ څرمنې مدرسې ته ورکول جائزدي؟

سوال: دزکات مال اوقرباني څرمنې دمدارس عربیه په جوړولواو استاذانو ته تنخوا ورکولو وغیره باندې صرف کیدای شي اوکه نه؟ځکه چې دلته یوخطیب صاحب دجمعې دورځې په تقریرکې خلکو ته وویل چې تعمیرمدارس اوتنخوا مدرسین باندې دامال صرف کول ناجائز دي، چې دهغې له وجې نه دخلکوشک شو،ځکه چې دډیروخت نه خلک دزکات مال او د قربانۍ څرمنې ددین دخدمت له وجې نه مدرسو ته ورکوي اواوس هغوی نورومسکینانوته ورکول شروع کړل،دځه په وجه چې مدرسوته په ظاهري طورسره نقصان وشو،ددې وجې نه مهرباني وکړئ اووضاحت وفرمایئ چې دعواموذړو نه شک لرې شي اومهتَمین حضرات هم په صحیحې طریقې سره دامال صرف کړي.

جواب: زکات، دقرباني څرمنې اوصدقات واجبه نه ،نه مدرسې تعمیر کیدې شي[۲] اونه ددې نه مدرسینوته تنخواه ورکول جائزدي[۳].

خو چونکه مدارس عربیه ته زیاته آمدني هم ددې نه کیږي ددې وجې نه دتملیک په ذریعه دا رقم استعمالیږي دتملیک صحیح صورت د صاحب علم نه معلوم کړئ.

د زکات په روپیو دمدرسې او هسپتال چلولو صورت

سوال: زموږ یودوست په اورنګي ټاون کې یوه مدرسه جوړول غواړي،چې پکې به مقامي ماشومانوته دقران دحفظ اوناظرې درس ورکول کیږي اوددې نه وروسته په دې کې رعایتي مطب (خیراتي هسپتال)جوړولواراده یې ده،پوښتنه داده چې ایادمدرسې توسیع او تعمیر اود معلم تنخوا دزکات اوصدقاتونه اداکیدای شي؟ ایا دهسپتال په مدکې دزکات او صدقات، او عطیات روپۍ اخیستل کیدای شي؟

جواب: له تملیک پرته دزکات روپۍ په مسجد، مدرسه،اودمدرسینوپه تنخوا کې نه شي استعمالیدای ،ددې تدبیر دادی چې یومحتاج کس دې قرضه واخلي اوپه جومات کې دې ورکړي اودزکات روپیو سره دې دهغه قرضه خلاصه کړل شي،یعنی د زکات روپۍ دې هغه ته

۱]التصدق علی الفقیرالعالم أفضل من التصدق علی الجاهل کذا فی الزاهدی (عالمگیری ج: ۱ ص : ۱۸۷)

۲]و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد وکذ ا القناطر والسقایات و اصلاح الطرقات و کری الأنهار و الحج و الجهاد وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)_

۳]ولا یجوز ان یبنی بالزکوة المسجد.......وکل مالا تملیك فیه. (عالمگیری ج۱ ص۱۸۸، کتاب الزکاة)_

ورکړل شي، چې هغو سره هغه قرض اداکړي او د مطب (هسپتال) هم دغه حکم دی.[۱]

د زکات په پیسو برستنې اخیستل او طلباوو ته یوازې د استعمال له پاره ورکول

سوال: د یوې دینی مدرسې سفیر (ناظم) ماته راغی، او په خپله مدرسه کې یې د یخنی له وجې د برستنو ضرورت بیان کړ او د زکات پیسې یې وغوښتلې، ما دغه ته پوښتنه وکړه چې د زکات پیسې به د برستنو د پاره څنګه استعمالوي؟ نو هغوی وضاحت وکړ چې د زکات په پیسو سره برستنې جوړوو او په مدرسه کې به یې ایږدو. د یخنې په موسم کې طلباوو ته د استعمال له پاره ورکول کیږي، بیا واپس اخستل کیږي، چې کله طلباء د مدرسې نه فارغ شي، نو هغوی ته د خپل ځان سره د برستنو وړلو اجازت هم نه شته.
محترم مولانا صاحب! تاسو وضاحت وکړئ چې آیا په داسې صورت کې به زکات ادا شي؟ ځکه چې ما اوریدلي دي چې د زکات اداکولو په وخت کې د یوچا مالک جوړول ضروري دي.

جواب: هو! د زکات د پیسو فقیر مالک جوړول ضروري دي، له دې وجې د برستنو کوم صورت چې تاسو لیکلی دی، په هغه سره به زکات نه ادا کیږي، خو که چیرته غریبان طالبان د هغو برستنو مالک جوړ کړل شي نو زکات به ادا شي. [۲]

د زکات په روپیو د شفاخانې (هسپتال) جوړول

سوال: د یوې خیریه ادارې خلک د زکات د وصولولو د فنډنه ډسپنسرۍ (شفاخانه) جوړول غواړي، دوایانې به د زکات د فنډنه اخستل کیږي، د ډاکټر فیس، د ځای کرایه، او نور اخراجات به د زکات نه خرچ کیږي، هرکله چې د ډسپنسرۍ (شفاخانې) نه هرکس امیر او غریب دوایي اخستلی شي.
یوه مسئله دا هم ده چې څنګه چې اداره زکات وصولوي، نو هغه زکات په مستحقینو کې د تقسیمولو وروسته هم پاتې شي، نو آیا دا اداره دې هغه زکات په هماغه کال کې ختم کړي یا

---

[۱] و لو قضى دين الفقير بزكوٰة ماله ان كان بامره جاز وان كان بغير امره لا يجوز و سقط الدين (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰) و فى الفتاوى الظهيرية : والدفع الى من عليه الدين اولى من الدفع الى الفقير (البحر الرائق ج : ۲ ص : ۲۶۰) و حيلة التكفين بها التصدق على فقير ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما و كذا فى تعمير المسجد ..... الخ قوله لكن الثواب لهما اى ثواب الزكوٰة للمزكى و ثواب التكفين للفقير (شامى ج : ۲ ص : ۲۷۱، مطلب فى زكاة ثمن المبيع وفاء)۔

[۲] اذا دفع الزكوٰة الى الفقير لا يتم الدفع ما لم يقبضه (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۰ كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

هغه آینده کال هم تقسیمولی شي مهرباني وکړئ او ددې جواب ضرور راکړئ؟

جواب: دزکات په روپیو دچا مستحق مالک جوړول ضروري دي[1] له دې وجې نه نه خود دسپینسرۍ (شفاخانې) تعمیرجائزدی[2] اونه دډاکټرانوفیس[3]،نه د الاتو خرید[4]،اونه حیثیت لرونکوخلکوته دهغې نه دوایانې ورکول جائزدي[5] خو مستحقو خلکوته دوایانې ورکول کیدای شي[6]

ترکومې پورې چې دکال دختیمدوپورې دزکات دروپیو خرچ کولوسوال دی، نودا اصول په ذهن کې ساتل پکاردي چې ترڅوپورې داروپۍ تاسومستحقینوته ورنکړئ ترهغې پورې دمالکانوزکات نه اداکیږي، له دې وجې نه ترکومې پورې چې ممکن وي داروپۍ زرخرچ کول پکاردي.

جومات کې دزکات پیسه لګولوسره زکات نه اداکیږي

سوال: یوجومات دی چې دهوې کمیټۍ د سرپرستي لاندې چلیږي،نوددې کمیټۍ دزکات مال قبضه کول اودزکات مال په جومات کې خرچ کول څنګه دي؟

جواب: دزکات روپۍ په جومات کې لګولوسره به زکات ادانه شي.[7]

د تبلیغ دله پاره هم دیوچا مالک جوړولو نه پرته زکات نه اداکیږي

سوال: د زکات په روپیو دتبلیغ په کارونوکې څه معاونت کیدای شي؟

جواب: دزکات په روپیو کې تملیک شرط دی[8] یعنې کوم کس چې د زکات مستحق وي

---

[1] أیضا۔

[2] و لا یجوز ان یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطر والسقایات و اصلاح الطرقات و کری الأنهار و الحج و الجهاد وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

[3] ایضاً تیره شوی حاشیه)۔

[4] أیضا۔

[5] ولا یجوز دفع الزکوٰة الی من یملک نصابا ای مال کان......(عالمگیری ج:۱ ص: ۱۸۹کتاب الزکاة)

[6] ویجوز دفعها الیٰ من یملک أقل من النصاب (عالمگیری ج: ۱ ص: ۱۸۹، کتاب الزکاة، الباب السابع)

[7] و لا یجوز ان یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطر والسقایات و اصلاح الطرقات و کری الأنهار و الحج و الجهاد وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

[8] و أما أهل الذمة فلا یجوز صرف الزکاة الیهم بالاتفاق و یجوز صرف صدقة التطوع الیهم بالاتفاق .... و أما الحربی المستأمن فلا یجوز دفع الزکوٰة و الصدقة الواجبة الیه بالاجماع ویجوز صرف التطوع الیه کذا فی السراج الوهاج (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

دهغومره روپيږ مالک دې جوړکړل شي، دتمليک نه پرته دخيرپه کارونوکې خرچ کولوسره زکات نه ادا کيږي.

د زکات روپيوسره د حشراتو يا مرغوله پاره دانه اخيستلو سره زکات نه ادا کيږي

سوال: آيا دزکات روپيو سره مرغانوچنچړوو اوداسې نورو...ته دانه اچولی شو؟ ايا د چنچړو (مرغو) دخوراک شيان دزکات په روپيو اخستلی اوهغوی ته اچولی شو؟ داسې کولوسره زکات ادا کيږي؟

جواب: دې سره زکات نه اداکيږي، دزکات داداکيدوشرط دادی چې د زکات دروپيو څوک مسلمان مالک جوړکړل شي[۱] اوکه دزکات په روپيو سره خوراک پوخ کړل شي اوغريبانواو محتاجوته دعوت ورکړل شي چې دچاڅومره خواهش وي ودې خوري، مګردځان سره وړلو اجازت نه وي دې سره هم زکات نه ادا کيږي.[۲]

د حکومت په ذريعه د زکات تقسيم

سوال: موجوده حکومت چې دزکات په نامه کومې روپۍ تقسيموي شرعاً ددې څه حيثيت دی؟ ځينې وخت نصاب لرونکي خلک هم ځانونه مسکينان ظاهرکړي اودا روپۍ حاصلې کړي، دهغوی له پاره څه حکم دی؟

جناب عالی! مهرباني وکړئ او ووايئ چې ددې روپيواخيستل دچاله پاره جائز او دچا له پاره ناجائز دي؟

جواب: صاحب نصاب خلک دزکات مصرف نه دي[۳] هغوی ته زکات اخيستل حرام دي[۴] اوکه څوک فقير وګڼل شي او زکات ورکړل شي،وروسته معلومه شي چې هغه مالدارو، نو زکات اداشو.[۵]

۱] ایضاً_

۲] قوله تمليكا فلا يكفى فيها الاطعام الا بطر يق التمليک و لو أطعمه عند ه ناويا الزكوٰة لا تكفى (شامی ج: ۲ ص : ۳۴۴، کتاب الزكاة، باب المصارف)_

۳] ولا يجوز د فع الزكوٰة الى من يملک نصابا أى مال كان ......(عالمگیری ج: ۱ ص : ۱۸۹ کتاب الزكاة)

۴]قوله فاد فع عن حاجته .... فان كان له فضل عن ذالک تبلغ قيمته مائتى درهم حرم عليه أخذ الصدقة (شامی ج : ۲ ص : ۳۴۷، کتاب الزكاة، باب المصرف)_

۵] اذ ا شک و تحرى فوقع فى أكبررأيه أنه محل الصد قة فد فع اليه أو سأل منه فد فع أو راه فى صف الفقراء فد فع فان ظهر أنه محل الصد قة جاز بالاجماع و كذ ا ان لم يظهرحاله عند ه و أما اذ ا ظهرأنه غنى أو هاشمى .... فانه يجوز و تسقط عنه الزكوٰة...الخ (عالمگیری ج:۱ ص:۱۹۰ کتاب الزكاة الباب السابع فى المصارف)

د وزیراعظم ریلیف فنډ کې زکات ورکول

سوال: د وزیراعظم صاحب په ریلیف فنډ کې د زکات پیسې ورکول کیدای شي؟

جواب: که چیرته ددې خبرې اطمینان وي چې د زکات پیسې مستحقینو ته رسیږي، نو صحیح ده. که نه، پخپله اداکول یې ضروري دي.

د زکات پیسې په ملکي قرض او مهم کې ورکول

سوال: د قرضدار قرض خلاصولو له پاره په زکات سره مدد کیدلی شي، نو ایا د نوازشریف قرض خلاص کړئ او ملک ښائسته کړئ په مهم کې د زکات په پیسو سره عطیه ورکول کیدای شي؟

جواب: د هغه له پاره دې د زکات نه پرته نورې پیسې ورکړل شي، اود زکات پیسې دې د غریبانو او محتاجو له پاره پریښودل شي. [1]

د زکات مال دیني جماعتونو ته ورکول

سوال: یو سړی د زکات مال دیني جماعتونو (ډلو) ته ورکولی شي؟

جواب: د زکات د پاره ضروري ده چې یو محتاج دهغه مالک کړل شي، د کومو ادارو په باره کې چې اطمینان وي چې هغوی به د زکات پیسې په صحیح مصرف کې خرچ کړي، هغوی ته زکات ورکول جائز دي اود کومو په باره کې چې اطمینان نه وي، هغوی ته دزکات ورکول جائز نه دي. [2]

زکات اود مدرسې تعمیر

سوال: د یو صاحبې تمنا او خواهش و چې هغه یوه دینِي مدرسه د طالباتو له پاره د حیدرآباد په ښار کې جوړه کړي، چې په هغې کې جینکۍ د قرآن شریف حفظ او ناظره ووایي، یادې میرمنې خپلې ذاتي خرچې باندې یو پلاټ واخیست اود مدرسې د تعمیر له پاره یې پخپل لاس باندې بنیاد کیښود او مدرسه تراوسه پورې زیرِتعمیرده، ځینې اهل خیر حضرات په هغه مدرسه کې دخپل زکات په پیسو سره اعانت کول غواړي، د پوښتنې خبرې دا ده چې د مدرسې نګران د زکات دا پیسې په کومه طریقه باندې قبولې کړي او په کومه طریقه دا پیسې د مدرسې په مزید تعمیر باندې خرچه کړي، دې د پاره چې د زکات

---

[1] المصارف الخ منها الفقير .... و هو ما دون النصاب ومنها المسكين وهو من لاشيء له ... الخ و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد ...... وكل مالا تمليك فيه (عالمگيرى ج:١ ص: ١٨٧، ١٨٨ كتاب الزكاة)

[2] اذا دفع الزكوٰة الى الفقيرلايتم الدفع مالم يقبضها أويقبضها للفقيرمن له ولاية عليه(عالمگيرى ج:١ ص:١٩٠)

ورکوونکیو زکات هم ادا شي او د مدرسې تعمیر هم مکمل شي؟

جواب: د زکات د پیسو یو محتاج کس مالک جوړول ضروري دي،[۱] په تعمیر کې د زکات پیسې خرچ کولو سره زکات نه ادا کیږي، په تعمیراتو کې دې د غیرزکات پیسې وصول کړل شي. [۲]

د زکات په پیسو سره د کوهي جوړول

سوال: د کچي په علاقه کې یو مسجد دی، د مسجد له پاره د کوهي دجوړولو ضرورت دی، دې له پاره چې خلک په آساني سره اودس وکړل شي، ایا د زکات په پیسو سره دکوهي جوړول جائز دي؟

جواب: د زکات په پیسو سره دکوهي جوړول جائز نه دي. [۳]

مستحقینو ته د زکات په پیسو عینکې (چشمې) جوړول او ورکول

سوال: طارق دخپل د زکات پیسې الف. ب. ج کمپنۍ ته ورکړې چې دا پیسې د زکات مستحقینو په علاج باندې خرچ کړي، یا د زکات مستحقینو ته چشمې جوړولوسره ورکړي الف. ب. ج کمپنۍ پخپلو کارکنانو باندې دا کار وکړ، مهرباني وکړئ خبر راکړئ چې ایا زکات ادا شو؟

جواب: د کومې ادارې په حواله کې چې د زکات دا پیسې ورکړل شوي دي، که چیرته هغوی واقعي مستحقینو ته ادا کوي، نو زکات به ادا شي، او چې مستحقینو ته نه ورکول کیږي ، نو زکات نه ادا کیږي. [۴]

واجب صدقات په غلطو مصارفو باندې خرچ کول

سوال: کراچۍ کې نن سبا الهي عذاب راغلی دی، قرآن مجید کې ډیرو ځایونو کې تیرشویو قومونو باندې دالهي عذاب یادونې موجودې دي،چې کله قومونه د الله تعالی نافرماني کوي، نو په هغوی باندې عذاب رالیږل کیږي، موږ هم نافرمان یو او شپه ورځ د الله تعالی په نافرمانیو کې مصروف یو،خو دتیرو ډیرو کلونو راهسې موږ په اجتماعي

---

[۱] اذا دفع الزكوٰة الى الفقير لا يتم الدفع مالم يقبضها(عالمگيرى ج : ١ ص : ١٩٠ كتاب الزكوٰة)

[۲] و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد وكذا القناطر والسقايات و اصلاح الطرقات و كرى الأنهار و الحج و الجهاد وكل ما لا تمليك فيه (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٨ كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

[۳] ايضاً

[۴] اذا دفع الزكوٰة الى الفقير لا يتم الدفع مالم يقبضها(عالمگيرى ج : ١ ص : ١٩٠ كتاب الزكوٰة)

نافرماني کې مصروف یو. تیرشوو څو کلونو راهسې مختلفو سیاسي پارټیانو خپلو ملګرو ته چندې سره سره، فطرانه، صدقه، زکات، خیرات وغیره هم وصولول شروع کړي دي او دهغې لږ برخه مستحقینو ته او لویه برخه خپلو فضول خرچو اود اسحلې وغیره اخیستلو باندې صرف کول شروع کړي دي، د کراچۍ هغه خلک چې په پردي وطن یعني دبۍ، سعودي عرب، مسقط کې دي، هغوی هم دې کار خیر ګڼلوسره په دې کې برخه واخیسته او اوس هم په دې باندې عمل کوي، حالانکې د صدقې، زکات، خیرات وغیره د پاره الله تعالی اود هغه رسول ﷺ باقاعده احکامات واضح طور باندې بیان کړي دي، په دې فعل باندې یو عالم هم څه توجه ورنه کړه، ستاسو نه درخواست دی، تاسو ددې په باره کې واضحه طور باندې ووایئ او تیرشوي عمل باندې به د توبې او استغفار څه طریقه وي؟ بله داچې هغه زکات، خیرات، صدقه، فطرانه ایا دوباره به ورکول کیږي؟

جواب: صدقه، زکات، اود څرمنو پیسې که چیرته په صحیح مصرف باندې صرف نه کړل شي، نو هغه زکات او صدقات واجبه نه ادا کیږي ، اود صدقې ثواب نه ملاویږي.

ستاسو دا خبره صحیح ده چې د څه مودې راهیسې دزکات ، صدقاتو اود قربانۍ د څرمنو پیسې د نااهلو په لاسونو کې ورکول کیږي او هغوی یې په بې دردي او بې پرواهي سره بې ځایه خرچ کوي حدیث شریف کې دې ته د قیامت په علامو کې شمیر کړل شوي دي،[۱] ښکاره خبره ده چې ددې بې احتیاطۍ په نتیجه کې الهي عذاب خو به نازلیږي، ددې نه پرته نور ډیر ګناهونه دي چې په هغو کې موږ اجتماعی طور باندې مبتلا یو. دهغو نه په خاص طور باندې توبه وکړئ.

د زکات پیسې د جومات خانې په تزیین باندې خرچ کول

سوال: زه د یو کلي د جومات خانې انچارج (مشر) یم، جومات خانه کې د خاندان د واده او غم پروګرامونه کیږي، په هغې کې د څه وخت له پاره د قرآن ناظره هم قائمه ده، د قوم خلک د چندې نه پرته زکات، صدقات، د قربانۍ څرمنې هم په هغې کې ورکوي، چې دهغې د پاره د اکثرو علماوو په نزد جائز نه ده. دهغو پیسو استعمال د جومات خانې به تزیین کې خرچ کیږي، ماته د خرچ کولو پوره اجازت دی، او څنګه چې وغوارم هغسې یې خرچ کولی شم، دا د قوم اعتماد دی، زه غوارم چې د زکات پیسې مسکینو او مستحق خلکو ته د مدد په طور باندې ورکړم.خوقوم به ماته په دې سلسله کې اجازت رانه کړي، آیا زه پخپله د قوم له اجازې پرته دا پیسې مستحق خلکو ته ورکولی شم؟

[۱] عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : اذا اتخذ الفئ دولا و الأمانة مغنما والزكوة مغرما.... الخ (مشكوٰة، باب اشراط الساعة ص : ۴۷۰، طبع قديمي كتب خانه)

جواب: زکات اود قرباني څرمنې د جومات خانې په تزيين باندې استعمالول جائز نه دي، د خلکو زکات او قربانيانې به صحيح نه وي. تاسو خپل خاندان ته مسئله وښايئ. که چېرته هغوی نه مني نود جومات خانې د کار نه استعفاء ورکولوسره بري الذمه شئ، دې له پاره چې د جومات د خلکو سره د قيامت په ورځ تاسو هم ونه نيول شئ. [۱]

د زکات په پيسو اخيستل شوي پلاټ باندې پلازه جوړولو سره څه پلاټ غريبانا نوته ورکول او څه خرڅول

سوال: زموږ ډلې له نن نه درې کاله مخکې يو پلاټ په يوولس (۱۱)لکه روپۍ باندې واخست. چې په هغې کې رجسټري خرچې او مزيد ورکړل شوې پيسې يوځای کولو سره تقريباً ۱۹ نه ۲۰ لکه روپۍ دي چې ټولې پيسې هم د زکات د فنډ نه ورکړل شوې وې، واخستل شو نن د هغه پلاټ قيمت (۴۰) نه (۴۵) لکو روپيو پورې دی..

اوس هغه پلاټ باندې زموږه ډله يوه پلازه جوړوي، چې په هغې کې به ټول ۹۰ کورونه جوړوي. چې څلوېښت کورونه به د زکات مستحقو افرادو ته په زکات کې د جمع شويو پيسو نه جوړولوسره ورکول کيږي. او پنځوس کورونه به داسې کسانو ته ورکول کيږي چې هره مياشت به د قسطونو په صورت کې زموږ ډلې ته پيسې ادا کوي اودهغوی په هغه پيسو سره به دهغوی پنځوس کورونه جوړيږي.

محترم! تاسو نه داپوښتنه ده چې کوم پلاټ ټول د زکات په پيسو سره اخستل شوی دی اودهغه قيمت هم د اول په دوه چنده شوی دی، درې کاله مخکې د (۱۹)نه تر (۲۰)پورې واخستل شو پلاټ نن د (۴۰)نه تر (۴۵)لکو روپيونه زيات دی، په داسې صورت کې دهغو (۵۰)فليټونو چې دهغو پيسې به مالکان ادا کولو سره بيا قبضه حاصلوي، د زکات نه د حاصل شويو پيسو څمکه دهغوی د تعمير مسئله اود خرچې مسئله چې آيا (د پلاټ د دريو کالو مخکنی پيسې به لګيږي يا ننې پيسې به لګيږي) څکه چې د څمکې خريداري د زکات د پيسو نه شوې ده، په دې صورت کې به د (۵۰) فليټونو د مالکانو به ذمه څه پيسې وي؟ حالانکه د جماعت عهديدارانو (۴۰) کورونه په زکات کې او (۵۰) کورونه به پيسې ادا کولو والو ته ورکوي.

جواب: د زکات په پيسو سره که د اخستل شويو شيانو محتاج خلک مالکان جوړ کړل شي، نو زکات ادا کيږي، که نه، زکات نه کيږي، ستاسو جماعت چې د (۱۹) نه تر (۲۰) شلو

---

[۱] و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد وكذا القناطر والسقايات .... وكل ما لا تمليك فيه (عالمگيرى ج ۱ ص : ۱۸۸ كتاب الزكاة، الباب السابع فى المصارف)

لکو پورې چې کوم پلاټ د زکات په پیسو سره اخستی دی. چونکې محتاج دهغه مالکان جوړ نه کړای شو. ددې وجې نه د زکات ادا کونکو زکات ادا نه شو.[۱]

د امدادي ټولي په ذریعې د زکات تقسیم

سوال: زموږه یو وړوکی غونډې خانداني ټولی دی. موږ دخپلو ممبرانو نه زکات وصولولو سره د خاندان په ضرورت مندو خلکو کې تقسیموو. زیات خلک په رمضان المبارک کې زکات وباسي. اودهغوی خواهش هم دا وي چې دا زکات هم په دې میاشت ضرورت مندو نه ورکړل شي. فی الحال هم دا طریقه اختیارېږي،خو ځینې خلک دا غواړي چې دیوځای ورکولو په ځائ د هغوی له پاره میاشتنۍ پیسې مقرر کړل شي.
لومړی سوال د قرآن کریم اود شریعت په رڼا کې دادی چې که چیرته موږ په زکات کې جمع شوې پیسې خپل ځان سره یعنې انجمن سره کینبودوسره پوره کال تقسیم کړو نو په داسې کولو سره به رمضان المبارک کې ثواب ملاویدلو باندې څه اثر نه پریوځي؟ ځکه چې د زکات ادا کونکو خو یوځای پیسې په رمضان المبارک کې ادا کړې دي.
جواب: زکات ادا کونکو زکات ویستلو سره انجمن وکیل جوړ کړی دی، له دې وجې نه هغوی ته ثواب ملاو شو. وړاندې د انجمن ذمه داري ده چې هغوی یې صحیح خرچ کړي.[۲]

د زکات پیسې په کاروبار کې لګولو سره دهغې په ګټې د غریبانانو مدد کول

سوال: آیا دا به صحیح ددشریعت مطابق وي، چې د زکات پیسې یو مناسب ځای کې په کاروبار کې ولګول شي، یا این ائي ټي یونټس واخستل شي او حاصل شوې ګټې سره د مستحقینو مدد وکړل شي؟
جواب: د یو سړي زکات به هغه وخت ادا کیږي چې کله هغه پیسې په مستحقینو باندې تقسیم کړل شي، [۳] د زکات پیسې که چیرته په یو اداره کې کینبودل شي نو په هغې سره زکات نه ادا کیږي ترڅو پورې چې په مستحقینو باندې تقسیم نه شي، او که چیرته دا سړی د

---

[۱] و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطر والسقایات .... وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸ کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)
[۲] فلو دفع الزکوٰة الی رجل وامرأة ان یدفع الی الفقراء فدفع ولم ینو عند الدفع جاز (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۱)
[۳] اذا دفع الزکوٰة الی الفقیر لا یتم الدفع مالم یقبضها(عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰ کتاب الزکوٰة)

زکات د تقسیم نه مخکې مړ شي، نو زکات به د هغه په ذمه باندې پاتې وي، او وروسته د وارثانو له اجازې نه پرته هغه زکات نه شي ادا کیدای. خو وارث که چیرته عاقل بالغ وي، نو د هغه د تقسیم اجازه ورکولی شي، چونکې دا مسئله ډیره نازکه ده. له دې وجې نه زما په خیال کې د زکات د فرضیت نه ازادیدو د پاره ضروري دي چې د زکات پیسې مستحقینو ته فوراً ورکړل شي

زکات او صدقات وصولونکې امدادي ادارې څخه سید ته شیان اخیستل

سوال: زمونږ په علاقه کې یو ویلفیئر شاپ دی چې هلته د خوراک څښاک او د ژوند د ضروریاتو نور شیان خرڅیږي، دا شیان چې عام دکان دار خرڅوي، دهغې په مقابله کې نهایت کمې ګټې باندې خرڅیږي، داسې وګڼئ چې دا خلک ددې ګراني په دور کې نهایت کمې ګټې باندې شیان خرڅولو سره دخلکو خدمت کوي،، هغه ویلفیئر والو ته فنډ، ډونیشن، خیرات او زکات هم ملاویږي، د زکات مسئله هم ده. او زما تعلق چونکې د سید کورنۍ سره دی. نو ایا مونږ هم هغه ویلفیئر شاپ نه سامان اخستلی شو؟ زیات سامان که واخستل شي نود عام دکان دارو په نسبت کافي بچت کیږي، مونږ هم په دې نیت سره رمضان المبارک کې سامان واخست، حالانکه د والد صاحب وینا ده چې مونږ دهغه ویلفیئر شاپ نه سامان اخستلی شو. ځکه چې مونږ د هغه مال قیمت ادا کوو. دهغوی وینا ده چې که چیرته دا ویلفیئر والا هم هغه قیمت باندې مال خرڅوي په کوم قیمت چې هغوی پخپله اخیستی دی، نو بیا مونږ ددې مال د اخیستلو مستحق نه وو، زما ستاسو نه دا پوښتنه ده چې مونږه هم د هغه ویلفیئر شاپ نه سامان اخستلی شو اوکه نه؟ که چیرته یې نه شو اخستی نو د کوم مال په اخیستلو سره چې مونږ ګناهګار شو دهغې کفاره څنګه ادا کړو؟

جواب: د زکات پیسې که چیرته په هغه اداره کې جمع کیږي، نو سیدانو ته دهغه ځای نه شیان اخیستل صحیح نه دي،[۱] او داسې ادارو کې پیسې جمع کول هم صحیح نه دي، یعنې د زکات او واجبو صدقاتو پیسې په داسې ادارو کې جمع کول صحیح نه دي. [۲]

فلاحي ادارې او د زکات پیسې

سوال: زیاتې فلاحي ادارې د زکات او صدقو ملاو شوې پیسې په بینکونو کې جمع کوي او په هغه پیسو کې د سود اضافه هم کیږي، دا خبره مونږ ته داسې معلومه شوه چې په اخبارونو کې دا خبر راغی چې دهغو ادارو په بینک کاتو کې چې کوم سود ملاویږي په هغې

---

[۱] و لا يد فع الى بنى هاشم (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۹ كتاب الزكوٰة، الباب السابع فى المصارف)

[۲] و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد.......... وكل ما لا تمليك فيه (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۸۸)

باندې حکومت ټیکس نافذ کړی دی، له دې وروسته معلومه شوه چې خبرو اترو باندې انکم ټیکس ختم شو، آیا داسې ادارو ته د زکات او صدقو پیسې ورکول صحیح دي،حالانکې دا فلاحی ادارې پیسې په بینک کې کینږدو باندې سود سره دا فلاحي ادارې چلوي؟

جواب: دلته د یو څو مسائلو پیژندل ضروري دي:

۱ د زکات له پاره تملیک شرط دی، چې د زکات د پیسو یو محتاج مالک جوړ کړل شي. که نه زکات نه ادا کیږي. بلکې د مالک په ذمه باندې به باقي پاتې وي، نوکه چیرته یو سړی قرضدار مړشي، نو د مرګ نه وروسته دهغه قرضه د زکات د پیسو نه ادا کیږي، ځکه چې مړی د مالک جوړیدو اهل نه دی، همدغه شان که چیرته د زکات په پیسو سره هسپتال جوړ کړل شي.یو ابادی یې جوړه کړه، یا یوې امدادي ادارې ته یې ګاډی اخیستو سره ورکړ، یا نور سامان یې هغه ته اخیستو سره ورکړ، نو زکات نه ادا کیږي.

۲ کومو امدادي ادارو ته چې زکات ورکول کیږي، هغوی دهغو پیسو خپله نه مالک کیږي، بلکې هغوی د زکات ادا کونکو وکیلان دي، که چیرته دا ادارې محتاج او مستحق افراد دهغو پیسو مالک جوړوي نو زکات ادا شو، اوکه چیرته هغوی فقیرو او محتاجو خلکو ته دا پیسې نه ورکوي، بلکې خپل سرباندې یې یو امدادي کار کې خرچ کوي، مثلاً: د امدادي ادارې له پاره ګاډی یا امبولانس یې واخیست، چیرته یې هسپتال جوړ کړ، چیرته یې کور جوړ کړ، نو زکات نه ادا کیږي، بلکې زکات به د مالک په ذمه باندې باقي پاتې وي.

۳ همدغه شان که چیرته امدادي ادارې دزکات پیسې په بینک کې کینږدي نو ترڅو پورې چې هغه پیسې په بینک کې دي، ترهغې پورې زکات نه دی اداشوی ، هغه مهال به ادا کیږي چې کله دا پیسې د بینک نهراخیستلو سره یو مستحق محتاج ته حواله کړل شي. [1]

د زکات پیسې په امدادي کارونو کې استعمالول

سوال: تقریبا د سلو نه زیاتو کسانو په یو ځای یو ویلفیئرسوسائټي جوړ کړی دی، دا په قریش او شیخ خاندان باندې مشتمله ده، دا خالصتا سماجي تنظیم دی او هم د خپل خاندان دهغو کسانو له پاره چې معذور، فقیر، کونډې، یتیم وي، زکات، صدقات، د قرباني څرمنې او فطرانه(سرسایه) اخلي او هره میاشت یې دوظیفې په طور باندې د مستحقینو کورونو ته رسوي، علاج معالجه هم کوي اود واده په موقع باندې مالي امداد هم کوي.

---

[1] اذا دفع الزكوٰة الى الفقير لا يتم الدفع مالم يقبضها(عالمگیری. ج : ۱ ص : ۱۹۰ كتاب الزكوٰة) و لا يجوز أن يبنى بالزكوٰة المسجد و كذ ا القناطر...وكل ما لا تمليک فيه و لايقضى بها دين الميت (عالمگیری ج:۱ ص:۱۸۸)

طریقه کار دادی چې عهده داران کورپه کور ګرځیدوسره دا عطیات وصولوي او همدغه شان د محتاط اندازې مطابق اویا زره روپۍ په دې اوس وختونو کې جمع شوي دي، اوس نوی صورت دا مخې ته راغلی دی چې خلک زموږ نه کور اخیستلو له پاره یا وړوکي کاروبار له پاره د زکات کمیټۍ اراکینو باندې د خاندان د بااثر افرادو دباو هم اچوي، ایا موږ د زکات په پیسو سره تجارت، کاروبار یاکور اخیستو له پاره قرض حسنه میاشتني قسطونوباندې ورکولی شو؟

جواب: د زکات پیسې دې په قرض کې ورنه کړل شي. بلکې چاته چې ورکول کیږي اوهغه ضرورت مند وي. هغه دې د زکات د پیسو مالک جوړکړل شي، که چیرته وړوکی کور اخیستوسره هغه مالک جوړ کړل شي. نو هم صحیح ده، په هرحال د زکات پیسې دې په قرض کې نه ورکول کیږي. والله اعلم![1]

فلاحي ادارې د زکات وکیل دی ترڅو پورې چې مستحق ته ادا نه کړي

سوال: څه خدمتي اداره یاوقف ټرسټ یافاونډیشن ته زکات ورکولو سره به زکات اداشي؟

جواب: کومې فلاحي ادارې چې زکات جمع کوي، هغوی دزکات د روپیو مالکان نه وي، بلکې دزکات ورکونکو وکیل اونماینده وي، ترڅوپورې چې دهغوی سره دزکات پیسې جمع وي، هغه به دمخکې په شان دزکات ورکونکوملکیت وي[2]که هغوی یې په صحیح مصرف باندې خرچ کړي، نودزکات ورکونکوزکات به اداشي، که نه،نه اداکیږي، له دې وجې نه ترڅوپورې چې دیوې فلاحي ادارې له طرف نه درته مکمل اطمینان نه وي چې هغوی دزکات روپۍ دشریعت مطابق په صحیح مصرف باندې خرچ کوي، ترهغه وخته پورې دې هغوی ته زکات نه ور کول کیږي.

سوال: دغه شان دزکات راجمع کونکې ادارې دزکات دجمع شویو روپیو په خپله مالکان جوړشي اوکه نه؟ همدغه شان جمع شوې دزکات روپۍ هغوی په خپله خوښه دداقسمه خلکوپه خیرښیګړه باندې خرچ کولی شي مثلاً ددې مال نه صاحب مال اوصاحب زکات کس ته او ددرمیانې طبقې صاحب مال کس له پاره دکور داخیستویا کاروبار کولوله پاره په منافع باندې په اسان قسطونوکې واپس کولوسره بطورقرض ورکولی شو؟ ځکه چې ددرمیانې طبقې صاحب مال د زکات مستحق نه وي اوهغوی زکات اخیستل هم نه غواړي ددې مطابق هغوی

---

[1] و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد و کذ ا القناطر............ وکل ما لا تملیک فیه (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸) و لو د فع الیه دارا لیسکنها عن الزکوٰة لا یجوز (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰ کتاب الزکاة)

[2] و أما اذ ا لم یکن الاخذ وکیلا عنهم فتجزی و ان بلغ المقبوض نصابا کثیرة لأنهم لم یملکوا شیئا مما فی ید ه (شامی ج : ۲ ص : ۲۶۹، کتاب الزکاة، باب المصرف)۔

ته دزکات روپۍ دقرض په طورسره ورکول مناسب دي؟

جواب: دا اداري په دې روپیوکې دمالکانه تصرف مجازنه دي، بلکې یوازې په فقیرانو او مسکینانو کې دتقسیمولومجازدي، له دې وجې نه دقرض ورکولومجازنه دي[۱]،خو که دمالکانو له طرف نه اجازه وي، نو صحیح ده، خو صاحب مال ته دکورداخیستوله پاره روپۍ ورکولو سره به زکات ادانه شي،[۲] خو داصورت کېدای شي چې هغه دې له چانه قرض واخلي اوکوردې پرې واخلي اوس هغه ته دقرض داداکولو له پاره زکات ورکول صحیح دي.[۳]

د زکات نه چنده راټولونکوته ټاکلې برخه ورکول جائزنه دي

سوال: ددیني مدرسودچندې له پاره ځیني ماشومان ورې ورې صندوقچې واخلي، په نورو ښارونو کې چنده غواړي، په دوی کې اکثرکسان دچندې دروپیو نه په ټاکلې برخه کې چنده غواړي د ځینو تنخوا وي، که څوک دزکات روپۍ دوی ته ورکړي، نوایادزکات فرض به اداشي اوکه نه؟ځکه چنده جمع کونکوکې دځینوبرخه (نیمه، دریمه او څلورمه برخه) وي، نوپوره روپۍ مدرسې ته نه رسیږي، ددې له وجې نه مهرباني وکړ ئ اوپه تفصیل سره په دې مسئله باندې رڼاواچوئ.

جواب: دچندې په روپیو باندې سفیرمقررول جائزنه دي[۴]مدرسوته چې کوم زکات ورکول کیږي که هغوی یې په صحیح مصرف باندې خرچه کوي، نوزکات به اداشي،که نه،نه اداکیږي له دې وجې نه زکات دې یوازې هغو مدرسو ته ورکړل شي دچا په باره کې چې اطمینان وي چې هغوی په صحیح صحیح مصرف باندې خرچه کوي، دکومومدرسوپه نوم چې ماشومان چنده جمع کوي هغوی یې دزکات په صحیح مصرف کې نه خرچه کوي ددې له وجې نه داسې مدرسوته دې دزکات روپۍ نه ورکول کیږي.

۱] تیره شوی حاشیه (و أما اذا لم یکن الاخذ وکیلا...الخ) اوګورئ)۔

۲]و لا یملک دفع الزکوٰة الی من یملک نصابا أی مال کان....(عالمگیری ج:۱ ص : ۱۸۹کتاب الزکاة)

۳] و منها الغارم و هو من لزمه د ین ولا یملک نصابا فاضلا عن د ینه أو کان له مال علی الناس لا یمکنه أخذه کذا فی التبیین (عالمگیری ج : ۱ ص: ۱۸۸کتاب الزکاة، الباب السابع فی المصارف)۔

٤]اوګورئ: نظام الفتاوٰی ج : ۲ ص : ۳۶۱ طبع مکتبه رحمانیه)۔

❖ د پیداوار عشر ❖

دعُشر تعریف

سوال: ۱ دعشر تعریف څه دی؟ ۲: ایا دزکات په شان دعُشر هم نصاب وي؟
۳: ایا عشر په ټولو زمیدارو باندې برابروي؟ ۴: دا کومو خلکوته ورکول کیږي؟
۵: یوکس که دخپل مال زکات اداکړي، نو ایا عشر به هم ورکوي؟
۶: ایا دا په کال کې یوځل ورکول کیږي یا په هرنوي فصل باندې؟
۷: ایا د څارویو له پاره کرل شوي فصل باندې هم عشروي؟

جواب: عشر دځمکې دپیداوار زکات دی،[۱] که ځمکه باراني وي چې دباران اوبو سره اوبه کیږي، نود پیداوار اخیستو په وخت کې ددې لسمه برخه دالله تعالی په لاره کې ورکول واجب دي[۲] او که ځمکه په خپل محنت اوبه کوي، نو دهغې دپیداوار شلمه برخه صدقه کول واجب دي.[۳]

۲..... زموږ دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ددې هیڅ نصاب نشته، بلکې پیداور کم وي یا زیات په دې کې عشر واجب دی.[۴]

۱] الباب السادس فی زکوٰة الزرع والثمار، وهو فرض وسببه الأرض النامية بالخارج حقيقة .... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۵ کتاب الزکاة، الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)۔

۲] و ما سقی بالدولاب والد الیة ففیه نصف العشر وان سقی سیحا و بد الیة یعتبراکثرالسنة .... الخ (فتاویٰ عالمگیری ج:۱ ص:۱۸۶ کتاب الزکاة، الباب السادس) و أیضا : وما سقی بغرب أو د الیة أو سافیة ففیه نصف العشر، الد الیه، الدولاب والسانیة البعیر الذی یستقی به الماء (الجوهر النیرة ج : ۱ ص : ۱۵۴، باب العشر)۔

۳] یجب العشر فی مسقی سماء و سیح و نصفه فی مسقی غرب ود الیة (شامی ج : ۲ ص : ۳۲۷، باب العشر أیضا ج : ۲ ص : ۳۲۵) أیضا : ثم ماء العشری ماء السماء والأبار والبحار التی لا تدخل تحت ولایة أحد (هدایة مع فتح القدیر ج: ۲ ص : ۱۹۹، باب الزکاة الزرع والثمار، وکذ ا فی رد المحتار ج: ۲ ص : ۳۳۰ باب العشر)

۴] ویجب العشر عند أبی حنیفة رحمه الله تعالیٰ فی کل ماتخرجه الأرض من الحنطة والشعیر......... قل أو کثیر ..... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۶) والحجة لأبی حنیفة فی ایجاب الحق فی جمیع الأصناف خلا ما ذکرنا، قول الله تعالیٰ : یٰایها الذین اٰمنوا أنفقوا من طیبٰت ما کسبتم ومما أخرجنالکم من الأرض وعمومه یوجب الحق فی کل خارج الا ما قام دلیله، و یدل علیه أیضا قوله تعالیٰ : والنخل والزرع مختلفا أکله .... واٰتوا حقه یوم حصاده، و ذ الک عام فی کل ثمرة فی جمیع ما یقع فیه الحصاد، والد لیل أن هٰذ ا لحق هو العشر، اتفق الجمیع من فقهاء الأمصار علیٰ أنه لا حق یجب فی الخارج من الأرض عند الحصاد الا العشر (شرح مختصر الطحاوی ج : ۲ ص : ۲۸۸، ۲۸۹، باب زکاة الثمار والزروع)۔

۳..... هو؛ کوم کس چې هم دځمکې نه پیداوار اوچت کړي دهغه په ذمه عشرواجب دی.[۱]
۴..... دعشرحق دار هغه خلک دي کوم چې دزکات حق دار دي.[۲]
۵..... عشر د پیداوار زکات دی، ددې له وجې نه د نور مال زکات ادا کولو باوجود په پیداوار باندې عشر واجبیږي.[۳]
۶ په کال چې څومره فصلونه راشي په هرنوي فصل باندې عشر واجب دی.[۴]
۷ هو؛ د ځارویو له پاره کرل شوې ګیا په فصل باندې هم دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد عشر واجب دی.[۵]

دځمکې په هرپیداوارباندې عشرشته زکات نه شته

سوال: دعشرنصاب څه دی؟ اودکوموکوموشیانوعشرورکول کیږي؟ په زرعي پیداوار باندې ۵ فیصده زکات ورکول کیږي، نوایا په زرعي پیداوارباندې عشراو زکات دواړه اداکول وي؟

جواب: دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې دعشري ځمکې په هر پیداوارباندې عشر واجب دی، که کم وي اوکه زیات[۶] که ځمکه باراني وي، نودهغه په پیداوارباندې لسمه برخه

۱] أن ملک الأرض لیس بشرط لوجوب العشر و انما الشرط ملک الخارج لأنه یجب فی الخارج لا فی الأرض فکان ملکه لها و عد مه سواء بد ا ئع (شامی ج : ۲ ص : ۳۲۶، باب العشر)۔

۲] مصرف الزکوٰة والعشر .... هو فقیر و هو من له أدنیٰ شيء أی دون نصاب ... الخ (الدر المختار ج : ۲ ص : ۳۳۹باب المصرف)۔

۳]الباب السادس فی زکوٰة الزرع والثمار، وهو فرض وسببه الأرض النامیة بالخارج حقیقة .... الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۵کتاب الزکاة، الباب السادس فی زکاة الزرع والثمار)۔

٤] بلاشرط نصاب .... و بلا شرط بناء و حولان حول .... الخ وفی الشرح : حتی لوأخرجت الأرض مرارا وجب فی کل مرة لاطلاق النصوص عن قید الحول...الخ (شامی ج:۲ ص: ۳۲۶، باب العشر)

٥] (و فی الخضروات التی لا تبقی وهٰذ ا قول الأمام وهوالصحیح کما فی التحفة (شامی ج : ۲ ص : ۳۲۶، باب العشر) أما الحطب والقصب والحشیش لا تستنبت فی الجنان عاد ة بل تنقی عنها حتی لو اتخذ ها مقصبة او مشجرة أو منبتا یجب فیها العشر (هد ایة ج:۱ص:۲۰۱کتاب الزکاة، باب زکاة الزروع والثمار)

٦]قال أبوجعفر : کان أبوحنیفة یقول : فی قلیل الثمار والزروع، وفی کثیرها الصد قة، فان کانت مما سقته السماء أو سقی فتحا، فالعشر، وان سقی بدالیة او سانیة : فنصف العشر .... والحجة لأبی حنیفة فی ایجاب الحق فی جمیع الأصناف خلاماذکرنا، قوله الله تعالیٰ : یٰأیها الذین أمنوا أنفقوا من طیبٰت ما کسبتم ومما أخرجنالکم من الأرض وعمومه یوجب الحق فی کل خارج الا ما قام دلیله، و یدل علیه أیضا قوله تعالیٰ : والنخل والزرع مختلفا أکله والز یتون والرمان مشتبها وغیرمتشابه کلوا من ثمره اذ ا أثمر وأتوا حقه یوم حصاده، و ذ الک عام فی کل ثمرة فی جمیع ما یقع فیه الحصاد (شرح مختصر الطحطاوی ج : ۲ ص : ۲۸۷، ۲۸۸، باب الزکاة)۔

واجب ده او که د کوهي په اوبو باندې اوبه کيږي يانهري اوبو باندې اوبه کيږي، نو په هغه کې شلمه برخه واجب ده.[1] د حضرت امام صاحب په نزد په ميوو، سبزيو، ترکاريو او څارويو په گيا (وابنه) باندې هم کوم چې کرل کيږي عشر واجب دی، په زرعي پيداوار باندې زکات نه وي يوازې عشر واجب دی د کوم تفصيل چې پورته ذکر شوی دی.

عشر په څومره امدني باندې دی

سوال: گزارش دادی چې تاسو د يو سوال په جواب کې ويلي دي چې کوم کس چې د ځمکې نه پيداوار اوچت کړي که کم وي يا زيات د هغه په ذمه عشر واجب دی، په دې سلسله دا وضاحت هم وکړئ چې که د يو کس سره لږه شان ځمکه وي او په هغه باندې کښت کوي، فصل هم ښه نه کيږي، دسرې، اوبو او چينجو وژلو دوايانو باندې اخراجات په مشکله سره پوره کيږي، کوم فصل چې راځي د هغه د ضرورياتو نه ډير کم دی، د غه شان هغه صاحب نصاب نه دی او مستحق زکات دی، نو ايا په داسې صورت کې هغه د خپل فصل عشر په خپله استعمالولی شي؟

جواب: د هغه د ذاتي پيداوار عشر د هغه په ذمه واجب دی دا هغه په خپله نه شي استعمالولی.[2]

عُشر د چا په ذمه دی

سوال: که چيرته د ځمکې مالک خپله ځمکه دهقان ته ورکړي، نو عشر به د چا په ذمه باندې واجب الاداء وي؟ که چيرته د مالک په ذمه وي، نو کوم وخت؟

جواب: عشر د هغه سړي په ذمه دی د چا کورته چې غله لاړه شي، د دې له وجې نه به د ځمکې عشر د مستاجر په ذمه وي.[3]

د پيداوار عشر څومره وي

سوال: له ځمکې نه پيدا کيدونکي فصل باندې څومره عشر فرض دی؟

جواب: که چيرته ځمکه په اوبو سره اوبه کيږي، نو شلمه برخه فرض ده او که چيرته د باران په اوبو اوبه کيږي، نو لسمه برخه فرض ده.[4]

---

[1] ويجب العشر عند أبي حنيفة رحمه الله تعالىٰ في كل ماتخرجه الأرض من الحنطة والشعيرو البطيخ القثاء والخيار والباذنجان والعصفر و أشباه ذالک مماله ثمرة باقية أوباقية قل أو كثر هٰكذ ا فى فتاوى قاضيخان (عالمگيرى ج: ۱ ص :۱۸۶، كتاب الزكاة، الباب السادس فى زكاة الزروع والثمار)۔

[2] د تير مخ حاشيې اوگورئ، أيضا : و لا يأكل شيئا من طعام العشر حتى يؤدى عشرة كذ ا فى الظهير ية (عالمگيرى ج : ۱ ص :۱۸۷، كتاب الزكاة، الباب السادس فى زكاة الزروع والثمار)۔

[3] ايضاً، نزدى تيرى شوى درى حاشيې اوگورئ!

[4] قوله يجب العشرثبت ذالک بالكتاب والسنة والاجماع والمعقول: اى يفترض..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

سوال: په فصل باندې چې کومه خرچه کیږي هغه خرچ ویستلو سره عشر ادا کړل شي یا پرته د خرچه ویستلو نه؟

جواب: له خرچ ویستلو نه دې پرته ادا کړل شي. [۱]

د پیداوارد عشر نه وروسته د هغه په روپیو باندې د زکات مسئله

سوال: د باغ خرڅولو نه یوه میاشت وروسته څوک خپل سالانه زکات وباسي ایا د باغ په روپیو باندې د کوم چې هغه عشرورکړی دی زکات راځي اوکه نه؟

جواب: په دې روپیو باندې زکات راځي، کله چې د نور روپیو زکات ورکوي، نو د هغه سره دې هم ورکړي.[۲]

د غلې او میوې په پیداوار باندې د عُشر ادائیګي

سوال: ایا د غلې یا میوې په بدله کې د هغه قیمت د زکات په شکل کې وصولیدای شي یا هم جنس وصولول ضروري دي؟ یو صاحب فرمایل چې که د جنس قیمت ورکړل شو، نو زکات ادا نه شو، حالانکې د عشر په اړه ننس کې هم قیمت وصولیږي.

دویمه خبره دا چې ایا په زرعي پیداوارکې څه نصاب شته؟ څه خلک وایي چې په دې کې د نصاب قید نه شته، څه خلک وایي چې د کم نه کم یو وسق کېدل ضروري دي، د یو وسق څومره وزن وي، مونږ ته معلوم نه دی، مهرباني وکړئ او په فقه حنفي سره جواب راکړئ مونږ به ستاسو ډیر شکرګزار یو.

جواب: د عشر پیداوار که باراني وي، نو په هغه باندې عشر (یعني لسمه برخه واجب ده) او د هغه په پیداوار باندې د اوبو خرچې راځي، نو شلمه برخه واجب ده[۳] اصل واجب د پیداوار برخه ده،

...بقیه د تیرمخ]... لقوله تعالیٰ : وأتوا حقه یوم حصاده، فان عامة المفسر ین علیٰ أنه العشر أو نصفه وهو مجمل بینه قوله صلی الله علیه وسلم : ماسقت السماء ففیه العشر، وما سقی بغرب أو د الیة ففیه نصف العشر (ردالمحتار ج : ۲ ص : ۳۲۵، باب العشر)

[۱] و لا ترفع المؤن ای لا تحسب أجرة العمال و نفقة البقروکری الأنهار وأجرة الحافظ وغیرذالک (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۵۶)

[۲] ومن کان له نصاب فاستفاد فی أثناء الحول مالا من جنسه ضمه الیٰ ماله و زکاه سواء کان المستفاد من نمائه أو لا وبأی وجه استفاد ضمه سواء کان بمیراث أو هبة أو غیرذالک (الجواهرالنیرة ج:۲ ص: ۱۲۳، باب زکوٰة الابل)

[۳] قوله یجب العشر ثبت ذالک بالکتاب والسنة والاجماع والمعقول : ای یفترض لقوله تعالیٰ : وأتوا حقه یوم حصاده، فان عامة المفسر ین علیٰ أنه العشر أو نصفه وهو مجمل بینه قوله صلی الله علیه وسلم : ماسقت السماء ففیه العشر، وما سقی بغرب أو د الیة ففیه نصف العشر (ردالمحتار ج : ۲ ص : ۳۲۵، باب العشر)...

خو دا هم اختيار شته چې د دومره غلې قيمت دې ورکړل شي[1] حکومت چې کوم دفي ايکړ په حساب سره عشروصولوي داصحيح نه دی داپکارده چې څومره پيداواروي دهغه لسمه يا شلمه برخه واخيستل شي دپوره علاقې له پاره دعشرفي ايکړ قيمت مقررول غلط دي.[2]

د عشر اداکولو نه وروسته تر خرڅېدو پورې په غلې نه عشر شته او نه زکات

سوال: دغنمو نه موبه وخت باندې عشرويستلی دی، غله پوره کال پرته وه يعني نه په خپل څه ضرورت باندې استعماليږي اونه په مارکيټ دهغه طلب شته، ايا دکال په تيريدو باندې په هغو باندې عشر ورکول واجب دي ياڅلويښتمه برخه زکات؟

جواب: يوځل عشراداکولونه وروسته چې ترڅوپورې يې هغه خرڅه کړې نه وي په هغې باندې دويم ځل نه عشرشته اونه زکات[3] اوکله چې يې دعشرداداکولونه وروسته غله خرڅه کړه، نودهغه نه حاصل شويو روپيو باندې به هغه وخت زکات واجب شي کله چې په هغه باندې کال تيرشي. ياکه داکس دمخکې نه دنصاب خاوند وي، نوچې کله په نصاب باندې کال پوره شي هغه وخت به په دې روپيو باندې زکات اداکوي.[4]

د کروندې په ځمکه باندې عشر

سوال: زه ديوزميدارځمکه کرم اوسږکال په تړوله ځمکه باندې دلسو زروکپاس (پنبه) شوې ده او زماپه برخه کې پنځه زره راغلې ده، اوس ايادپوره لسوزروعشريازکات وباسم يادخپلې برخې دپنځو زرو عشر يازکات وباسم؟

جواب: ته دخپلې برخې دپيداوارعشر وباسه، ځکه چې اصول دادي چې د ځمکې پيداوار دچا کورته راشي دځمکې عشربه دهماغه په ذمه وي، دکرونده ګر (زميندار) په برخه کې چې څومره پيداوارراشي عشردهغه په ذِمه دی، دمالک په برخې ته چې څومره لاړشي دهغه عشرپه هغه باندې لازم دی.[5]

---

[1] المال الذى تجب فيه الزكاة ان أدى زكاته من خلاف جنسه أدى قدر قيمة الواجب اجماعا (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٠، كتاب الزكاة، الباب الثالث فى زكوٰة الذ هب والفضة والعروض)۔

[2] لأنه فى الخارج لا فى الأرض (شامى ج : ٢ ص : ٣٢٦، باب العشر)۔

[3] ووقته وقت خروج الزرع وظهور الثمر عند أبى حنيفة رحمه الله تعالىٰ كذا فى البحرالرائق (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٦، كتاب الزكاة، الباب السادس فى زكوٰة الزرع والثمار)۔

[4] ومن كان له نصاب فاستفاد فى أثناء الحول مالا من جنسه ضمه الىٰ ماله و زكاه سواء كان المستفاد من نمائه أو لا وبأى وجه استفاد ضمه سواء كان بميراث أو هبة أو غيرذالك (الجواهرالنيرة ج:٢ ص: ١٢٣، باب زكوٰة الابل)

[5] تيرى شوى حاشيې(بلاشرط نصاب..الخ)او وروستى حاشيه (وفى الخضروات التى لاتبقى..الخ) اوګورئ!)

ټریکټر او داسې نور... چلولو سره د زراعت عشر شلمه برخه دی

سوال: په مخکینی زمانه کې خلکوزمینداري کوله، نویوازې یوې به یې پکې وکړه او اوبه کولونه وروسته به پیداوارحاصلولو، خو په موجوده دورکې دټریکټرونو په ذریعه پکې یوې کیږي او په ځمکه کې سرې اچول وي اوګوډ وغیره هم پکې کول وي، نودداسې ځمکې عشرورکول خوچې په ځمکه باندې ځومره خرچې راځي دهغه نه عشر وويستل شي یادټول پیداوارپرته دخرچې ویستلوعشربه اداکول وي؟ نورداچې دعشرویستلوپه وخت کې تخم ترې وباسو اویادتخم ویستلونه پرته اداکړو؟

جواب: دداسې ځمکې په پیداواربانديې نیم عشریعنې دپیداوارشلمه برخه واجب ده[۱] اخراجات به نه وضع کیږي، بلکې دپوره پیداوارشلمه برخه به اداکیږي، تخم به هم په اخراجاتوکې شماریږي.[۲]

د کټې قابل دمیوې باغ خرڅول جائزدي او ددې عشربه د مالک په ذمه وي

سوال: یوکس خپل باغ د میوو قابل کېدونه وروسته خرڅ کړ، ایا عشر هغه ورکړی یا اخیستونکي باندې به عشرراځي؟

جواب: په دې صورت کې په اخیستونکي باندې عشرنه شته، بلکې دباغ په خرڅونکي باندې دی.[۳]

د عشرروپۍ د رفاه عامه له پاره نه دي، بلکې دفقیرانوله پاره دي

سوال: دپاکستان حکومت چې کومې دزکات اوعشرکمیټۍ جوړې کړي دي، دهغوی سره دعشرکافي روپۍ جمع دي، ایاعشربه رفاه عامه باندې خرچ کېدای شي؟ مثلاً: دسکول په عمارت، یا چار دیواري یا کوڅو وغیره باندې؟

جواب: دزکات اوعشر روپۍ یوازې فقیرانوته ورکول کېدای شي[۴] رفاه عامه باندې یې خرچ

۱]حوالی دپاره اوګورئ تیره شوی حاشیه (قال ابوجعفر : کان ابوحنیفة یقول : فی قلیل الثمار...الخ) او وروستی حاشیه (قوله یجب العشر ثبت ذالک بالکتاب والسنة...الخ)۔

۲] قوله بلا رفع مؤن ای یجب العشرفی الأول ونصفه فی الثانی بلا رفع أجرة العمال و نفقة البقروکری الأنهار واجرة الحافظ ونحوذالک .... بل یجب العشر فی الکل (شامی ج : ۲ ص : ۳۲۸؛ باب العشر)

۳] و اذا باع الأرض العشر یة و فیها زرع قد أدرک مع زرعها أو باع الزرع خاص فعشره علی البائع دون المشتری (عالمګیری ج : ۱ ص :۱۸۷، کتاب الزکاة، الباب السادس فی زکوٰة الزرع والثمار)۔

۴]مصرف الزکاة والعشر .... (هو فقیر و هو من له أدنی شيء) ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

کول جائزنه دي.[۱]

قرض دارته د قرض پیسې په عشر او زکات کې پرېښودل

سوال: ایا قرض دار ته د قرض روپۍ (قرض باندې ورکړل شوې روپۍ) عشر یا زکات کې پرېښودل کېږي او که نه؟

جواب: د عشر او زکات ادا کولو په وخت کې نیت کول ضروري دي، ددې له وجې هغه قرضه چې مخکې دې ورکړې وه، هغه ته په عشر، زکات کې نه شي پرېښودل کېدلی،[۲] البته دا کېدلی شي چې هغه ته زکات ورکولو سره دا پیسې پخپل قرض کې دهغه نه واپس واخیستل شي.

که چیرته حکومت کم عشر اخیستی وي، نو پاتې سره څه وکړو

سوال: په زید باندې لس زره روپۍ عشر جوړېږي اود حکومت د قوانینو مطابق درې زره روپۍ عشر جوړېږي، زید حکومت ته درې زره روپۍ ادا کړې، اوس به زید اوو زره روپۍ ادا کوي یا لس زره؟ او حکومت ته یې چې کوم عشر ادا کړ، هغه جائز دی او که ناجائز؟

جواب: څومره چې پاتې دی، هغه دې پخپله ادا کړي.[۳]

د عشر د ادائیګۍ په باره کې متفرق مسائل

سوال: ایا دعشر د زکات په شان نصاب دی؟ څکه چې حکومت یومقدار مقررکړی دی، که فصل دهغه مقدارنه زیات وي، نو ورکول لازمي دي، که نه، نه دي لازم

جواب: دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې دعشرنصاب نه شته، بلکې په هرقلیل اوکثیرباندې عشرواجب دی[۴] حکومت په یوخاص مقدارباندې عشروصولوي، ددې دکم عشرمالک ته په خپله اداکول پکاردي.

...بقیه د تیرمخ]... أی دون نصاب .... (ومسکین، من لاشیء له) علی المذ هب .... الخ (در مختار ج : ۲ ص : ۲۳۹ باب المصرف، أیضاً: اللباب فی شرح الکتاب ج : ۱ ص : ۱۴۸)۔

[۱] و لا یجوز أن یبنی بالزکوٰة المسجد وکذ ا القناطر والسقایات .... (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۸)۔

[۲]وأما رکنه فالتملیک کالزکاة وشرائط الأد اء ما قد مناه فی الزکاة (البحرالرائق ج:۲ص:۲۵۵باب العشر)

[۳]فیجب اخراج الواجب من جمیع ما أخرجته الأرض عشرا أو نصفا البحرالرائق ج:۲ص:۲۵۶ باب العشر)

[۴]کان أبوحنیفة یقول : فی قلیل الثمار والز روع، وفی کثیرها الصد قة .... والحجة لأبی حنیفة فی ایجاب الحق فی جمیع الأصناف خلاما ذکرنا، قوله الله تعالیٰ : یٰأیها الذین أمنوا أنفقوا من طیبٰت ما کسبتم ومما أخرجنا لکم من الأرض وعمومه یوجب الحق فی کل خارج ... الخ (شرح مختصر الطحاوی ج : ۲ ص : ۲۸۷) قال أبوحنیفة رحمه الله تعالیٰ : فی قلیل ما أخرجته الأرض وکثیره العشر ...... الخ (اللباب فی شرح الکتاب ج : ۱ ص : ۱۴۶، باب زکاة الزروع)۔

سوال: حکومت ته عشرورکول جائزدي اوکه نه؟ځکه چې تصرف ډير مشکوک دی.

جواب: که اعتمادنه وي، نومه يې ورکوئ، خوايا داسې ممکنه هم ده چې حکومت عشروصول کړي اوکسان ادانه کړي؟

سوال: دباراني ځمکې په پيداوار باندې دعشرلسمه برخه ده اوپه نيهري او کوهي وغيره باندې شلمه برخه ده، ايا شلمه برخه ځکه مقرره چې په مؤخرالذکر باندې اخراجات ډير شي،که داصحيح ده، نونن سبا دچينجو وژلودواياني او سرې اضافي خرچې په کروندې برداشت کول وي، ايا د سرې وغيره خرچې دفصل دامدني نه کمولو سره عشرورکول دي يابه دټول پيداوارعشرورکول وي ؟

جواب: شريعت په اخراجاتوباندې نصف عشر(يعني لسمې برخې په ځاى شلمه برخه)کړې ده، ددې له وجې اخراجات به ترې نه ويستل کيږي، بلکې دتمام پيداوارعشربه ورکول کيږي.[۱]

سوال: فرض کړئ چې دوه نيم ايکړه ځمکې نه (۱۰۰)منه غنم پيدا کيږي، ددې ځمکې دکتايي خرچې تقريبا پنځه منه ده، دغنموکتايي دوه منه في ايکړپه حساب سره کوي اود تريشر خرچې ۱۵منه وي، بچت امدني(۸۰)منه شوه،اياعشربه په (۱۰۰)منو ورکول وي ياپه ۸۰ منو کې.

جواب: عشر په (۱۰۰) منو راځي.[۲]

سوال: دغنمودفصل درېبلو(لو) مزدوري په غنموکې ورکول جائزدي اوکه نه؟ ځکه چې دغنمودفصل دکتايي مزدوري مزدوران يوازې دغنمو په صورت کې اخلي.

جواب: دصاحبينو په نزدجائزده اوفتوا هم په دې ده.[۳]

---

[۱] و كل شيء اخرجته الأرض مما فيه العشر لا يحتسب فيه أجرالعمال ونفقة البقر، لأن النبى صلى الله عليه وسلم حكم بتفاوت الواجب لتفاوت المؤنة فلا معنى لرفعها (هد اية ج : ۱ ص : ۲۰۳، كتاب الزكاة، باب زكاة الزروع والثمار، أيضا : فتاوىٰ شامي ج : ۲ ص : ۳۲۸ باب العشر) دغه شان اوګورئ ټوره شوى حاشيه (قال أبوجعفر: كان أبوحنيفة يقول....الخ) او بله حاشيه (قوله بلا رفع مؤن أى يجب العشر...الخ)۔

[۲] بلا رفع مؤن .... بلا رفع أجرة العمال و نفقة البقر وكرى الأنهار وأجرة الحافظ ونحوذالک .... بل يجب فى الكل (شامي ج : ۲ ص : ۳۲۸، باب العشر) وكل شيء أخرجته الأرض مما فيه العشر لا يحتسب فيه أجر العمال ونفقة البقر لأن النبى صلى الله عليه وسلم حكم بتفاوت الواجب لتفاوت المؤنة فلا معنى لرفعها (هد اية ج : ۱ ص : ۲۰۳، كتاب الزكاة، باب زكاة الزروع والثمار)۔

[۳] ولا تصح عند الامام لأنها كقفيزالطحان وعند هما تصح وبه يفتى للحاجة وقياسا على المضاربة (الد رالمختار ج : ۶ ص : ۲۷۵، كتاب المزارعة، طبع سعيد)۔

❖ د زکات متفرق مسائل ❖

زکات ورکونکی چې په کوم ملک کې وي د هماغه ملک د کرنسي اعتبار وي

سوال: څوملګري په یوځای دخپل ملک د مستحقینوله پاره دزکات په مد کې څه پیسې رالیږل غواړي، خو دهغه ځای اوزموږ په کرنسي کې فرق دی مثلاً دلته (۵۰۰۰۰) روپۍ راولیږي، نو دوی ته به (۴۰۰۰۰) روپۍ ملاوشي، اوس پوښتنه داده چې دزکات (۵۰۰۰۰) روپۍ اداشولې یا (۴۰۰۰۰) اداشوې؟ ځکه چې دهغه ځای اوددې ځای په قیمت کې دغه فرق چلیږي، همدغه شان موږ خپل ملک ته زکات راولیږودکوم ځای دکرنسي قیمت چې ددې ځای نه کم وي یعنې که موږ دلته (۵۰۰۰۰) روپۍ راولیږو، نوهلته به (۲۰۰۰۰) روپۍ ملاوشي، نوپه دې صورت کې زکات د (۵۰۰۰۰) روپیو شو که د (۲۰۰۰۰) روپیو؟ ددواړومسئلوجواب ډیرضروري دی، ځکه چې په دواړو ملکونو کې زموږ دبرادرۍ څه کسان اوسیږي داکه په جنګ اخبارکې شائع کړئ، نود ډیره ښیګړه به ورسره وشي، ځکه چې ډیرکسان داسې پیسې لیږي رالیږي، نوهغوی ته به هم ددې مسئلې معلومات وشي.

جواب: زکات ورکونکی چې دکوم ملک په پیسوکې زکات اداکړي، دهغه ځای دپیسو اعتبار به وي، دهغه ملک په کرنسي کې چې څومره زکات اداکړ، دهماغومره مال زکات به شماریږي، ددویم ملک کرنسي (روپۍ) که کمې وي یازیاتې.

په نورو الفاظو کې په دې باندې پوه شئ چې کومې روپۍ چامحتاج یامحتاجانوته ورکړل شوي وي هغه دزکات ورکونکي دمال څلویښتمه برخه کېدل پکاردي، په کومه کرنسي کې چې زکات ادا شوی وي دکرنسي په حساب سره دڅلویښتمې برخې اعتباربه وي.[1]

امریکا کې اوسېدونکي کومې کرنسي سره زکات ادا کړي

سوال: امریکا کې اوسیدونکي خلک په کومې کرنسي سره زکات ادا کړي؟

جواب: هغوی به د ډالرو په حساب سره د زکات تعین کوي، که د هغه نه وروسته دهغه مالیت ته په پاکستاني روپیو کې بدلولوسره زکات ورکړي.[2]

---

[1] المال الذی تجب فیه الزکوٰة ان ادی زکاته من خلاف جنسه أی قدر قیمة الواجب اجماعا (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۸۰، کتاب الزکاة، الباب الثالث فی زکوٰة الذهب والفضة والعروض طبع رشیدیه کوئته)۔

[2] هم دغه پورته حواله_

د زکات په کیښودل شویو پیسو کې لوټ ماتول، د ضرورت له پاره اخیستل

سوال: ایا د زکات په جدا کیښودل شویو پیسو کې لوټ ماتولی شو؟ یا عارضي ضرورت له پاره د هغه نه پیسې ویستلی شو؟

جواب: کومې پیسې چې تا د زکات له پاره جدا ایښې وي، هغه چې ترڅو پورې فقیر ته ادا نه کړې، هغه پیسې ستا په ملکیت کې دي، هغه بدلولی هم شئ، خرچه کولی یې هم شئ، خو کله چې فقیر ته ورکول کیږي، نو د زکات نیت به ضروري وي. [۱]

د زکات له پاره ویستل شوې روپۍ یا د سود استعمال

سوال: یوکس د زکات روپۍ یا د سود روپۍ مستحق ته ورکولو له پاره وویستې، خو په عین وخت باندې هغه ته د څه روپیو ضرورت پیښ شو، نو ایا هغه د زکات یا سود د پیسو نه د قرض په طور سره اخیستی شي؟

جواب: د زکات روپۍ خو د هغه ملکیت دی ترڅو پورې چې یې اداکړې نه وي د هغه له پاره د دې استعمالول صحیح دي، د سود د روپیو استعمال صحیح نه دی. [۲]

د سود په روپیو باندې زکات

سوال: دیوکس په بینک کې اکاونټ دی او د کال په اخره کې چې د هغه په اکاونټ کې څومره منافع ملاویږي صحیح هم هغومره چیک کټ کړي اوویې باسي او بیا غریبانو کې داسې ګڼلو سره یې تقسیم کړي چې ثواب به ملاویږي یا زکات تقسیموم، نو ایا هغه ته به واقعي ثواب ملاوشي او که نه؟ په اسلامي شریعت کې جائزدي او که نه؟

جواب: د سود روپۍ د صدقې په نیت سره چا ته هم ورکول پکار نه دي، بلکې د ثواب د نیت نه پرته چا محتاج ته ورکول پکار دي[۳] صدقه خو د پاک شي ورکول کیږي، د سود نه وروسته د سود د روپیو سره زکات نه شي اداکېدای. [۴]

---

[۱] اذا دفع الزکوٰة الی الفقیر لا یتم الدفع مالم یقبضها(عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۰ کتاب الزکوٰة الباب السابع فی المصارف) و اما شرط اد لها فنیة مقارنة للأداء او لعزل ماوجب (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۷۰، شامی ج : ۲ ص : ۲۷۰)

[۲] عن جابر رضی الله عنه قال : لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم اکل الربا و موکله و کاتبه و شاهد یه و قال هم سواء رواه مسلم (مشکوٰة ص : ۲۴۴، طبع قدیمی) أیضا : أن ما وجب التصدق بکله لا یفید التصدق ببعضه لأن المغصوب ان علمت أصحابه أو ورثتهم وجب رده علیهم و الا وجب التصدق به (شامی ج : ۲ ص : ۲۹۱، باب زکاة الغنم)۔

[۳] انما یکفر اذا تصدق بالحرام القطعی، أی مع رجاء الثواب الناشی استحلاله (شامی ج : ۲ ص : ۲۹۲)

[۴] عن أبی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

❖ صدقه فطر (سرسایه) ❖

د صدقه فطر مسئلې

سوال: صدقه فطرپه چاباندې واجب ده؟ اوددې مسئلې څه دي؟

جواب: دصدقه فطرمسائل په لاندې ډول دي:

۱ صدقه فطرپه هرمسلمان باندې چې دنصاب په کچه دمال مالک وي واجب ده.[۱]

۲ دکوم سره چې دخپل استعمال اوضروریاتونه زیات دومره شیان وي چې که دهغو قیمت ولګول شي ددوه پنځوس نیمې تولې چاندي (سپین زر) اندازې ته ورسیږي، نودې کس ته دنصاب خاوند ویل کیږي اودهغه په ذمه صدقه فطرواجب ده (د چاندي (سپین زر) قیمت دې دبازارنه معلوم شي).[۲]

۳ هرکس چې دنصاب خاوند وي هغه ته دخپل طرف نه اودخپل نابالغه اولادله طرف نه صدقه فطراداکول واجب دي اوکه دنابالغو خپل مال وي، نودهغو نه دې اداکړل شي.[۳]

۴ کوموکسانوچې دسفرله وجې نه یاهسې دغفلت اوکوتاهي له وجې نه روژې نه وي نیولې صدقه فطرپه هغوی باندې هم واجب ده، چې کله دنصاب خاوند وي.[۴]

۵ کوم ماشوم چې داخترپه شپه دصبح صادق نه مخکې پیداشي، دهغه صدقه فطرلازمه ده اوکه صبح صادق نه وروسته پیداشو، نولازمه نه ده.

۶ کوم کس چې داخترپه شپه دصبح صادق نه مخکې وفات شي، دهغه صدقه فطرنه شته اوکه دصبح صادق نه وروسته وفات شو، نوصدقه فطرېې واجب ده.[۵]

...بقيه د تيرمخ]...ان الله طيب لا يقبل الا طيبا ..... الخ (مشكوٰة ص : ۲۴۱)، أيضا : فى القنية لوكان الخبيث نصابا لايلزمه الزكوٰة لأن الكل واجب التصدق عليه فلا يفيد ايجاب التصد ق ببعضه ۱هـ و مثله فى البزازية (رد المحتار ج : ۲ ص : ۲۹۱، باب زكاة الغنم)۔

۱] وهي واجبة على الحرالمسلم المالک لمقد ارالنصاب فاضلا عن حوائجه الأصلية(عالمگيرى ج:۱ص:۱۹۱)

۲] و لا يعتبر فيه وصف النماء ويتعلق بهذ ا النصاب وجوب الأضحية (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۱، كتاب الزكاة، الباب الثامن فى صد قة الفطر) ذى نصاب فاضل عن حاجته الأصلية كد ينه وحوائج عياله .... الخ (الدر المختار ج : ۲ ص : ۳۶۰)۔

۳] وتجب عن نفسه وطفله الفقير كذ ا فى الكافى .... ثم اذ ا كان للولد الصغير أو المجنون مال .... يخرج صد قة فطر .... من مالهما ... الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۱۹۲، كتاب الزكاة، الباب الثامن فى صد قة الفطر)۔

٤] وهي واجبة على الحرالمسلم المالک لمقد ارالنصاب فاضلا عن حوائجه الأصلية (عالمگيرى ج:۱ص:۱۹۱)

٥] ووقت الوجوب بعدطلوع الفجرالثانى من يوم الفطرفمن مات قبل ذالک...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

۷...... داخترپه ورځ داخترلمونځ ته دتللونه مخکې صدقه فطر اداکول غوره دي،[۱] خو که اول يې ادا نه کړ، نو وروسته اداکول يې هم جائز دي اوترڅوپورې چې يې اداکړې نه وي دهغه په ذمه به واجب الاداوي.[۲]

۸ صدقه فطردهرکس له طرف نه پاوکم دوه سيره غنم يادهغو قيمت دى اودهمدومره قيمت نور شيان هم ورکولی شي.[۳]

۹ ديو کس صدقه فطر د يو نه زياتو فقيرانو او محتاجو ته ورکول هم جائزدي او د څو کسانوصدقه

يوفقيرمحتاج ته ورکول هم صحيح دي.[۴]

۱۰...... کوم خلک چې دنصاب خاوندنه وي، هغوی ته صدقه فطرورکول صحيح دي.[۵]

۱۱...... خپل سکه ورور، خور، تره، ترور، ته صدقه فطرورکول جائزدي، ښځه خاونديوبل ته صدقه فطر نه شي ورکولی، همدغه شان مورو پلار اولاد ته اواولادمور وپلارته نيانيکه ته صدقه فطر نه شي ورکولی.[۶]

۱۲...... دصدقه فطرځوک محتاج اوفقيرمالک جوړول ضروري دي، له دې وجې نه دصدقه فطر روپۍ په جومات کې لګول اوبل څه د ښيګړې په کارکې لګول صحيح نه دي.[۷]

محتاجې دتره ښځې ته صدقه فطر(سرسايه) ورکول

سوال: بله خبره داده چې وړوکی اختر تير شو په هغه اختر چې ماباندې فطرانه(سرسايه) ورکول و، هغه ما خپلې دتره ښځې ته ورکړه، اوس کلي وال وايي چې ستا ورکړل شوې

...بقيه د تيرمخ]... لم تجب عليه الصد قة ومن له ولد أو أسلم قبله وجبت ومن ولد أو أسلم بعده لم تجب .. الخ (عالمگيری ج:۱ ص:۱۹۲، کتاب الزکاة، الباب الثامن)

۱] والمستحب للناس أن يخرجوا الفطرة بعد طلوع الفجر يوم الفطر قبل الخروج الى المصلى کذ ا فی الجوهرة النيرة (عالمگيری ج : ۱ ص : ۱۹۲، کتاب الزکاة، الباب الثامن فی صد قة الفطر)۔

۲] وأما وقت أدائها فجميع العمرعند عامة مشائخنا رحمهم الله کذاقی البد ائع(عالمگيری ج :۱ ص : ۱۹۲)

۳] وهي نصف صاع من بر أو صاع من شعير أو تمر و د قيق الحنطة والشعير وسو يقهما مثلهما والخبز لا يجوز الا باعتبار القيمة وهوالأصح (عالمگيری ج:۱ص:۱۹۱،کتاب الزکاة، الباب الثامن فی صد قة الفطر)۔

۴] ويجوز أن يعطی ما يجب فی صد قة الفطر عن أنسان واحد جماعة مساکين و يعطی مايجب عن جماعة مسکينا واحدا لأن الواجب زکوٰة فجاز جمعها وتفر يقها کزکوٰة المال (بد ا ئع الصنائع ج : ۲ ص : ۷۵، أيضا الدرالمختارمع الرد ج : ۲ ص : ۳۶۷، باب صد قة الفطر)۔

۵] ومصرف هٰذه الصدقة ماهومصرف الزکوٰة کذ ا فی الخلاصة (عالمگيری ج:۱ص:۱۹۴، کتاب الزکاة)۔

۶] أيضا۔

۷] أيضا۔

فطرانه ناجائز ده. ځکه چې دهغې خاوند ژوندی دی، ما مخکې هم عرض وکړ چې دهغې خاوند بالکل څه نه ورکوي، اوس تاسو ووایئ چې دا ورکړل شوې فطرانه جائز ده اوکه ناجائز؟

جواب: که چیرته ستا دا تره ښځه محتاجه وي، نو هغې ته صدقه فطر ورکول صحیح دي.[1]

د اختر نه وروسته فطرانه (سرسایه) ادا کول

سوال: څه موده وړاندې مې دخپلې ښځې سره جګړه وشوه او هغه ناراضه کیدو سره د مور کور ته لاړه، په رمضان کې چې کله ما زکات، صدقه اوداسې نور... ورکول شروع کړه، نو په غوسه کې مې د ښځې په نوم فطرانه ورنه کړه، باقي د ټولو بچیو وغیره مې ادا کړه، زما میرمن شپږ میاشتې وروسته کور ته بیرته راغله اوپه دې وخت کې ماسره اوسیږي،اوس زه په کومه طِریقه دهغې غلطۍ تدارک کولی شم؟

جواب: د ښځې خاوند په مینځ کې خو جنګ جګړه راځي،خو تاسو په ناراضتیا کې د ماشومانو خبره وکړه، په هرحال د ښځې په اجازت سره صدقه فطر اوس ادا کړه.[2]

صدقه فطر غیرمسلم ته ورکول جائزدي

د مسئلې تصحیح اوتحقیق

سوال: جناب مولاناصاحب! ,,اپ کے مسائل اوران کاحل،، ۲۱ اګست دجمعې په ایډیشن کې ستاسونه په یوه مسئله کې خطاشوې ده، چونکه ستاسوپه واسطې سره عوام د دینی مسائلونه خبرداری حاصلیږي اوزه ددې مسائلودتصحیح له پاره تاسوته تکلیف درکوم چې عواموته صحیح خبرحاصل شي اوتاسوته ګزارش دی چې مسائل دتحقیق اوتدقیق نه وروسته زیرقلم راولئ، ذمه داري اوفرض پوره کوئ،په کومه مسئله کې چې خطا شوې ده هغه وګورئ:

صدقه فطرغیرمسلم ته ورکول صحیح دي، زه په اول کې د بهشتی زیورحواله راوړم ،،زکات کوموخلکوته ورکول جائز دي ،په بیان کې سوم بهشتي زیورمسئله نمبر۸داسې ده:

مسئله :دزکات پیسه کافرته ورکول صحیح نه دي، هر مسلمان ته دې ورکړل شي، زکات او عشر او صدقه فطراونذراوکفارې نه پرته خیر خیرات کافرته ورکول صحیح دي.،،

هغه کتابونه کوم چې ماسره موجوددي هغوی هم دې قول ته مختار ویلي دي، درمختار، بهارشریعت،قانون شریعت،عمدة الفقه،شامي.

---

[1] ومصرف هذه الصد قة ماهومصرف الزكوٰة(عالمگیری باب صد قة الفطر ج: ۱ ص: ۱۹۴ كتاب الزكوٰة)

[2] وان اخروها عن یوم الفطر لم تسقط وكان علیهم اخراجها. (عالمگیری، باب صدقة الفطر ج۱ ص۱۹۲)

جواب: دجناب تصحیح ډیره ډیره مننه، الله تعالی دې ډیرجزاء خیر درکړي، زه تاسوته هم اونورو دعلم خاوندانو ته هم درخواست کوم چې زماپه تحریرکې که څه غلطي په نظرراشي، نوپه هغې ضرورخبر راکوئ، اوس په دې مسئله کې خپل تحقیق درته عرض کوم، دکومو حضراتوچې دې تحقیق سره اتفاق نه وي هغوی په خپل تحقیق باندې عمل کولی شي.

فتاوی عالمگیري (ج: ۱ ص: ۱۸۸ جدید کوئټه) کې دي: ,,

ذمي کافرانوته زکات ورکول بالاتفاق جائزنه دي، نفلي صدقه ورکول بالاتفاق جائز دي، خوپه صدقه فطر، نذراوکفاراتو کې اختلاف دی، امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فرمايي چې جائزدی. مگر مسلمانانو فقیرانو ته ورکول مونږ ته زیات محبوب دي، په شرح طحاوي کې داسې دي.[۱]

,,درمختارمع شامي (ج: ۲ ص: ۳۵۱ طبع جدید مصر) کې دی.،،

,,دزکات، عشراوخراج نه پرته نورصدقات، که څه هم واجب وي لکه نذر، کفاره، قطر ذمي ته ورکول جائزدي، په دې کې دامام ابویوسف رحمه الله اختلاف دی، اوهم دهغه په قول باندې فتوا ده، ,,حاوي قدسي.،[۲]

علامه شامي رحمه الله په دې باندې لیکي:

,,په هدایه وغیره کې تصریح ده چې داد امام ابویوسف رحمه الله یو روایت دی، دکوم نه چې ظاهریږي چې دامام ابویوسف رحمه الله مشهورقول دامام ابوحنیفه رحمه الله اومحمد رحمه الله مطابق دی.،،

,,خیررملي دحاشیه طحاوي نه چې کوم نقل کړی دی، هغه دادي چې دامام ابویوسف رحمه الله قول اخستل کیږي (خو دهدایه وغیره دکلام مفاد دادي چې دامام ابوحنیفه رحمه الله قول راجح دی، اوعام متون په دې باندې دي.[۳]

,,فتاوی قاضي خان بحاشیه عالمگیري (ج: ۱ ص: ۳۲۱) کې دي.

,,چې صدقه فطر ذمي ته ورکړل شي روا دي، خومکروه دي،،[۴]

۱] وأما اهل الذمة فلا يجوزصرف الزكوٰة اليهم بالا تفاق و يجوزصرف صدقة التطوع اليهم بالا تفاق واختلفوا فى الصد قة الفطر والنذر والكفارات قال أبوحنيفة ومحمد رحمهما الله تعالىٰ يجوز الا أن فقراء المسلمين أحب الينا كذا فى شرح الطحاوى (عالمگيرى ج:۱ ص:۱۸۸ كتاب الزكوٰة، الباب السابع فى المصارف)

۲] وجاز دفع غيرها وغيرالعشر والخراج اليه أى الذ مى ولو واجبا كنذ ر وكفارة وفطرة خلا فا للثانى و بقوله يفتى حاوى القد سى (الد رالمختار مع الشامى ج : ۲ ص : ۳۵۱، باب المصرف)۔

۳] وصرح فى الهد اية وغيرها بأن هٰذ الرواية عن الثانى، وظاهر أن قوله المشهور كقولهما (قوله و بقوله يفتى) الذى فى حاشية الخيرالرملى عن الحاوى و بقوله نأخذ، قلت لكن كلام الهد ا ية وغيرها يفيد ترجيح قولهما وعليه المتون (شامى ج : ۲ ص : ۳۵۲)۔

۴] ويجوز أن يعطى فقراء اهل الذ مة ويكره (فتاوى قاضيخان برحاشيه عالمگيرى ج : ۱ ص : ۳۲۱)۔

له دې عباراتونه دا لاندې نتائج حاصل شول ،،

۱ ... امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نزد صدقه فطراو داسې نور ... صدقات ذمي کافرته ورکول جائز دي، خوبهتر دادي چې مسلمان ته ورکړل شي، ذمي ته ورکول غوره نه دي.

۲ ... دامام ابويوسف رحمه الله مشهور قول همدغه دی، خودهغوی نه يو روايت دادی چې صدقات واجبه کافرته ورکول صحيح نه دي.

۳ ... حاوی قدسي دامام ابويوسف رحمه الله روايت اخستی دی، خو هدايه اودحنفي فقهې تمام متون دامام محمد رحمه الله قول اخستی دی.

۴ ... کوموحضراتوچې دعدم جوازفتوا ورکړه، هغوی غالباً دحاوي قدسي په قول باندې اعتماد وکړ، بهشتي زيورپه متن کې هم هغه اخستل شوې ده، اوماهم د،،جنګ،، په يوتيرشوې اشاعت کې هماغه اختيارکړی و، خو دامام ابوحنيفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله فتوا دجواز ده او دحاوي قدسي نه پرته ټولو اکابرو دغه اختيارکړی دی، بهشتي زيورپه حاشيه کې همدغه نقل کړی دی، له دې وجې نه ماخپلې مسئلې ته رجوع کول ضروري وګڼل ،،

❖ نذر اوصدقه ❖

د صدقې تعريف او قسمونه

سوال: دصدقې تعريف څه دی؟ اوددې څومره قسمونه دي؟

جواب: کوم مال چې دالله تعالی درضاله پاره دالله تعالی په لاره کې غريبانواومسکينانوته ورکول کيږي، دخيرپه څه کارکې خرچ کړل شي هغه ته،،صدقه،، وايي[۱]، دصدقې درې قسمونه دي ۱: فرض، لکه زکات. ۲: واجب، لکه نذر، صدقه فطراوقرباني وغيره. ۳: نفلي صدقات لکه عام خيرخيرات.

خيرات، صدقه او نذرکې فرق

سوال: خيرات، صدقه اونذرنيازکې څه فرق دی؟

جواب: صدقه اوخيرخيرات خوپوشيزدی، يعنی کوم مال چې دالله تعالی د رضاله پاره دڅه خيرپه کار کې ولګول شي هغې ته صدقه او خيرات ويل کيږي[۲] اودڅه کارپه کيدوباندې دڅه

۱] الصدقة : هى العطية التى تبتغى بها المثوبة من الله تعالىٰ (قواعد الفقه ص : ۳۴۸) والصدقة العطية التى يراد بها المثوبة عنده تعالىٰ سميت بها لأنها تظهر صدق رغبة الرجل فى تلک المثوبة (حاشيه الطحطاوى على الدرالمختار ج : ۱ ص : ۴۳۲، طبع رشيدية كوئته)۔

۲] أيضا۔

صدقه کولو یا د څه عبادت د کولو نذر وکړي، نو هغه ته نذر ویل کیږي[1] د نذر حکم د زکات حکم دی. دا یوازې غریبان خوړلی شي، غني یې نه شي خوړلی[2]، او د نیاز معنا هم د نذر ده.

په صدقه او نذر کې فرق

سوال: صدقه او نذر کې څه فرق دی؟

جواب: نذر او د څه ځیز په خپله ذمه د کولو نامه ده،[3] مثلاً: یو کس نذر وکړي چې که زما فلانی کار وشو، نو زه به دومره صدقه کوم، په کار کیدو باندې منل شوی شی واجب شي او که یو کس له لازم کولو پرته د الله تعالی په لاره کې خیرخیرات وکړي هغې ته صدقه وایي، ګویا منتْ هم صدقه ده ،خو هغه صدقه واجب ده، هر کله چې عام صدقات واجب نه وي.

د نذر او منښتې تعریف

سوال: د نذر او منښتې تعریف څه دی؟ او که په دې کې څه فرق وي، نو واضحه یې کړئ؟

جواب: د نذر معنا داده: په څه شرط باندې څه عبادت په خپله ذمه اخیستل[4]، مثلاً: که فلاني کار وشو، نو زه به دومره نفل کوم، دومره روژې به نیسم، د بیت الله شریف حج به کوم، یا دومره روپۍ به فقیرانو ته ورکوم او داسې نور... دې ته منښته هم وایي.

د نذر غوښه نه په خپله استعمالیږي او نه مالدارانو ته ورکول کیږي، بلکې د دې غوښه په فقیرانو کې تقسیمول ضروري دي. [5]

د نذر شرطونه

سوال: زموږ په مذهب کې نذر کول څنګه دي؟ او د دې الفاظ څنګه پکار دي؟ او په کومو کومو صورتونو کې نذر کول جائز دي؟

---

[1] ومن نذر نذرا مطلقا أو معلقا بشرط وكان من جنسه واجب .... لزم الناذر لحد يث من نذر وسمى فعليه الوفاء بما سمى كصوم وصلاة وصدقة .... الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۳ ص ۷۳۵،كتاب الأيمان)_

[2] ولا يجوز لهم النذور والكفارات ولاصد قة الفطر ولا جزاء الصيد لأنها صد قة واجبة ... الخ (الجوهرة النيرة ج : ۱ ص : ۱۳۳، كتاب الزكاة، باب من يجوز د فع الصد قة اليه ومن لا يجوز)_

[3] ولوجعل عليه حجة أو عمرة أو صوما أوصلاة أو صدقة أو ما أشبه ذ الک مماهو طاعة ان فعل كذ ا ففعل لزمه ذالک الذى جعله على نفسه (عالمگيرى ج :۲ ص : ۶۵كتاب الأيمان، الباب الثانى فيما يكون يمينا و لا يكون يمينا)

[4] أيضا)_

[5] ولا يجوز لهم النذور والكفارات ولاصد قة الفطر ولا جزاء الصيد لأنها صد قة واجبة ... الخ (الجوهرالنيرة ج : ۱ ص : ۱۳۳، كتاب الزكاة، باب من يجوز د فع الصد قة اليه ومن لا يجوز)_

جواب: شرعاً نذرمنل جائزدي،خو دنذر منلوځوشرطونه دي اول داچې نذر دالله تعالی په نوم ومنل شي،دغيرالله په نامه نذر منل جائزنه دي،بلکې ګناه ده،[۱]دويمه داچې نذر يوازې دعبادت دکارصحيح ده،کوم کارچې عبادت نه وي دهغه نذر منل صحيح نه دي[۲]دريم دا عبادت هم داسې وي چې ددې په شان عبادت کله فرض وي اوکله واجب وي،لکه: لمونځ، روژه، حج، قرباني اوداسې نور... داسې عبادت چې دهغې جنس کله فرض ياواجب نه وي دهغه نذر هم صحيح نه دی،دبېلګې په ډول که يو چا قرآن خواني ومنله، نوهغه نه لازميږي.[۳]

يوازې خيال راتلوسره نذرنه لازميږي

سوال: محترمه! زمايودوست دی،واده يې نه دی کړی،دهغه دترور واده ډېره موده شوې ده اوتراوسه پورې داولاد دنعمت نه محرومه ده،يوه ورځ زماددوست په ذهن کې داخيال راغي چې ترورمې داووايي چې ماکره(تروركره)اولاد وشو، نوزه به دماشومانوسامان چاته ورکړم،له دې نه وروسته دهغه په ذهن کې خيال راغي چې داندر تا دخپل ځان له پاره منلی دی، خو دا خيال راتلوسره زمادوست الله تعالی ته توبه وايستله اودهغه ذهن داټول شيان نه قبلوي،زما دوست نن سبا ډېر زيات پريشان دی، مهرباني وکړئ مولاناصاحب! تاسودا وفرمايئ چې يوازې په ذهن کې خيال راتلوسره نذر کيږي اوکه نه؟ هرکله چې خلک وايي چې يوازې خيال راتلوسره نذر نه کيږي.

جواب: يوازې دخه خبرې خيال راتلوسره نذر نه کيږي، بلکې په ژبې سره اداکول ورسره ضروري دي.[۴]

د ماشومتوب په حالت کې د روژه نيولو نذر وما نه نو د بلوغ نه ورسته واجب نه دي

سوال: ما باندې د پنځلسو کلونو په عمر کې روژې فرض شوې. ما د ديارلسو کلونو په عمرکې هرکله چې ماباندې روژې نه وې فرض شوې. نو نذر مې منلی و چې زما د پيشو

۱](قوله باطل وحرام) بوجوه، منها أنه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لأنه عبادة والعباد ة لا تكون لمخلوق (شامی ج : ۲ ص : ۴۳۹، مطلب فی النذ رالذ ی يقع للأموات من أكثر العوام ... الخ)۔

۲]وفی البدائع : ومن شروطه أن يكون قربة مقصود ة فلا يصح النذر بعيادة المريض والوضوء والاغتسال ... الخ (شامی ج : ۳ ص : ۷۳۵،، كتاب الأيمان)۔

۳] وكان من جنسه واجب أی فرض ...... كصوم وصلاة وصد قة ...... ولم يلزم الناذر ماليس من جنسه فرض ...الخ (الدر المختار مع الرد ج : ۳ ص : ۷۳۵، كتاب الأيمان)۔

٤] واجب بالنذر بلسانه قوله بلسانه فلا يكفی لايجابه النية (شامی ج : ۲ ص : ۴۴۱، باب الاعتكاف)۔

ورک شوی بچی بیرته پیدا شي. نو روژې به نسم. دا نذر پوره شو. خو ما روژې ونه نیولې او اومې وبل چې څه مې نیولې دي نه هغه کې به حساب شي. راروان رمضان کې هم روژې فرض نه وي. خو ما نو خو روژې ونیولې. خو د روژو نیولو په وخت کې مې د نذر نیت ونه کړ. اوس بو شننه داده چې د نذر روژې ادا شوې نا به بې دوباره نیول ضروري وي؟

جواب: د نذر سنت به ذمه باندې لازم نه دی [۱]

ماشومتوب کې منل شوی نذر بالغ کیدو نه وروسته واجب نه دی

سوال: که چیرته نابالغه هلک نذر ومني او هغه کار وشي. نو هغه نابالغه باندې د نذر پوره کول لازم دي اوکه نه؟ که چیرته د نابالغه نذر شرعاً معتبر وي. خو هغه پوره نه کړ. نو بالغ کیدو نه وروسته یې هم پوره کول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: د نابالغه نذر لازم نه دی. او بالغ کیدو نه وروسته هم د هغه پوره کول ضروري نه دي [۲]

نذر منل شرعاً څنګه دي او تعریف یې څه دی؟

سوال: یو اهمه خبره داده چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې نذر مه منئ. ځکه چې نذر تقدیري امورو کې هیڅ ګټه ورکوونکی نه دی. بس په هغه سره یوازې دومره کیږي چې د بخیل نه مال ځي. حواله صحیح مسلم. کتاب النذر. او صحیح بخاري. کتاب الایمان والنذر. له دې احادیثو معلومه شوه چې داسې قسم نذر بې معنا او ممنوع دی. مهرباني وکړې په اسلامی صفحې د راروانې جمعې په ایډیشن کې صحیح جواب شائع کړئ. او که چیرته زما په خبرو کې څه غلطي وي. نو زما اصلاح وکړئ!

جواب: د نذر معنا دیو داسې عبادت پخپله ذمه باندې لازمول دي چې په هغه باندې لازم نه و. او «پخپله ذمه باندې لازم کول» د ژبې فعل دی. یوازې زړه کې خیال کولو سره هغه شی د هغه په ذمه لازمیږي نه، ترڅو پورې چې په ژبې سره الفاظ ادا نه کړي. هم دا وجه ده چې د لمونځ نیت کولو سره لمونځ شروع کیږي نه، ترڅو پورې چې تکبیرِتحریمه ونه وایي. د حج او عمرې په نیت سره حج او عمره شروع کیږي نه. ترڅو پورې چې د تلبیې الفاظ ونه وایي.

---

[۱] عن علی رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : رفع القلم عن ثلاثة : عن النائم حتی یستیقظ. وعن الصبی حتی یبلغ. وعن المعتوه حتی یعقل (رواه الترمذی و أبود اؤد ورواه الدارمی عن عائشة وابن ماجة عنهما (مشکوٰة ص : ۲۸۴، باب الخلع والطلاق، الفصل الثانی)

[۲] اماالذی یتعلق بالناذر فشرائط الأهلیة منها العقل ومنهاالبلوغ فلا یصح نذرالمجنون والصبی الذی لا یعقل لأن حکم النذر وجوب المنذور به وهما لیسا من أهل الوجوب وکذا الصبی العاقل لأنه لیس من أهل وجوب الشرائع (بدائع الصنائع ج : ۵ ص : ۸۱، طبع ایچ ایم سعید)

د طلاق خیال په زړه کې راتلو سره طلاق نه واقع کیږي، ترڅوپورې چې د طلاق الفاظ په ژبې سره ونه وایي اود نکاح په نیت کولو سره نکاح نه کیږي، ترڅوپورې چې د ایجاب او قبول الفاظ ونه ویل شي، همدغه شان د نذرخیال په زړه کې راتلوسره نذرهم نه کیږي، ترڅو پورې چې د نذرالفاظ په ژبې ونه ویل شي، چنانچې علامه شامي رحمه الله په کتاب الصوم کې نقل کړي دي چې نذر د ژبې عمل دی.[۱]

تاسو چې د قرآن پاک کوم آیت نقل کړ، په هغه وویل شو چې: «چې تاسو نذر ومنئ» ما ویلي دي چې دنذر منل په ژبې سره کیږی، ددې وجې نه دا آیت ددې مسئلې خلاف نه دی، تاسو چې کوم حدیث نقل کړی دی چې: «د اعمالو دارمدار په نیت باندې دی» په هغه کې عمل او نیت جدا جداذکر شوي دي، چې دهغه نه معلومیږی چې یوازې نیت کولو سره عمل نه کیږي، بلکې عمل کې د نیت صحیح کیدل دقبولیت شرط دی، لهذا دهغه حدیث په رڼا کې هم یوازې په نیت او خیال سره نذر نه کیږي، ترڅو پورې چې د ژبې عمل موجود نه شي. بل حدیث کې هم زړونه او عملونه جدا جدا ذکر کړل شو، چې دهغې نه معلومیږي چې یوازې د زړه د خیال نوم عمل نه دی، خود عمل د پاره د زړه د نیت صحیح کیدل ضروري دي، او تاسو چې کوم حدیث نقل کړي دي چې: «نذر مه منئ» دا حدیث صحیح دی، خو تاسو چې ددې نه څه نتیجه اخذ کړې ده چې: «داسې قسم نذر بې معنا او ممنوع دی» دا نتیجه غلطه ده، ځکه چې که چیرته د حدیث شریف همدا مطلب وي چې نذر بې معنا او ممنوع دی، نوپه شریعت کې به د نذر پوره کولو حکم نه ورکول کیدای، سره له دې چې ټول د امت اکابر متفق دي چې د مقصود عبادت نذر صحیح دی، اود هغه پوره کول لازم دي.

په حدیث کې د نذر نه چې کوم ممانعت شوی دی، علماوو دهغه څه ډیر توجهیات کړي دي: یوداچې ځینې جاهل دا ګڼي چې نذر منلوسره هغه کار ضروري شي، حدیث کې ددې خیال دتردید له پاره فرمایل شوي دي چې په نذر سره د الله تقدیر نه بدلیږي، دویم داچې د بنده دا ویل چې که چیرته زما مریض ته شفاء ملاو شي، نو زه به دومره روژې نیسم، یا دومره مال به صدقه کوم. په ښکاره صورت کې د الله تعالی سره سودا کول دي، اودا د عبدیت شان نه دی. [۲]

---

[۱] واجب بالنذر بلسانه قوله بلسانه فلا يكفي لايجاب النية (شامي ج : ۲ ص : ۴۴۱، باب الاعتكاف)

[۲] لأن غيرالبخيل يعطى باختياره بلا واسطة النذور قال القاضى عادة الناس تعليق النذور علىٰ حصول المنافع و د فع المضار فنهى عنه فان ذالک فعل البخلاء اذ ا السخى اذ ا أراد أن يتقرب الى الله تعالىٰ استعجل فيه و أتى به فى الحال والبخيل لا تطاوعه نفسه باخراج شيء من يد ه الا فى مقابلة عوض يستوفى أوله فيلتزمه فى مقابلته...... قال ويحتمل أن يكون سببه كونه يأتى بالقربة التى التزمها...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

حلال مال صدقه کولوسره بلا ګانې لرې کیږي نه د حرام مال صدقې سره

سوال: د عالمانونه مواوریدلي دي چې صدقه د هرمرض درمل دی،ایا دا صحیح دی.؟
په یوکس باندې دسوري دوره راځي،دجادوتکلیف دی،نو ایا صدقه کولوسره به دهغهٔ تکلیف یاپه دوره کې فرق راشي؟دڅه تکلیف له پاره څنګه صدقه کول پکاردي؟ایادصدقې نذر کول هم جائزدي؟مثلاً اې الله!که فلانی تکلیف په دومره موده کې لرې شو، نوزه به دومره صدقه کوم.جائزدي؟که صدقه دهرمرض علاج وي،صدقه کولوسره تکلیف پریشاني لرې کیږي، نو (پك توب) هم یوه بیماري ده،نوأیاصدقې کولوسره به په سرباندې ویښته راوخیژي.؟ صدقه یوازې دغریبانوخلکوحق دی، که په جومات کې هم ورکول کیدای شي؟ مهرباني وکړئ او د صدقې په باره کې دپورتنو سوالونو په تفصیل سره جواب راکړئ، ،صدقې سره کومې بیمارۍ او تکلیفونه لرې کیدای شي اوڅنګه کول پکاردي؟

جواب: صدقه د ردبلا ذریعه ده،خو،دهرمرض علاج ده،،دامې نه دي اوریدلي چې کوم مصیبتونه اوتکلیفونه چې دالله تعالی د ناراضتیا له وجې راپیښیږي،هغه صدقې سره لرې کیږي، څکه چې صدقه دالله تعالی غوسه لرې کوي[۱]،نذرمنل جائزدي،خو حضورﷺ ناخوښه ګرځولی دی[۲]له دې وجې نه دنذر منلوپه ځای صدقه کول پکار دي، د غریبانو محتاجو خدمت هم صدقه ده او دجومات خدمت هم صدقه ده،مخوصدقه دپاک مال نه پکارده. ناپاکه او حرام مال نه شوې صدقه دالله تعالی په دربارکې قابل قبول نه ده.[۳]

د غیرالله د نیاز مسئله

سوال: آیا دامام جعفرؒ نیازاودیولسمې خوراک خوړل حرام دي؟ څکه چې دالله تعالی نه

...بقیه د تیرمخ]... فی نذ ره علی صورة المعارضة للأمر الذ ی طلبه فینقض أجره و شان العبادة أن تکون متمحضا لله تعالیٰ اهـ (مرقاة شرح مشکوٰة ج : ۳ ص : ۵۶۳ طبع بمبئی)

۱]و روی عن رافع بن خد یج رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : الصدقة تسد سبعین بابا من السوء رواه الطبرانی فی الکبیر و عن أنس بن مالک رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : باکروا بالصد قة فان البلاء لایتخطی الصد قة رواه البیهقی مرفوعا وموقوفا (الترغیب والترهیب ج : ۲ ص : ۱۹) و عن أنس رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان الصد قة لتطفیء غضب الرب و تدفع میتة السوء رواه الترمذی (مشکوٰة ص : ۱۶۸)

۲]عن أبی هریرة وابن عمر رضی الله عنهما قالا: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لا تنذروا فان النذر لا یغنی من القدر شیئا و انما یستخرج به من البخیل متفق علیه(مشکوٰة ص:۲۹۷،باب النذ ور، الفصل الأول)

۳] عن أبی هر یرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله طیب لا یقبل الا طیبا ... الخ (مشکوٰة : ۲۴۱، کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال، الفصل الأول)۔

پرته دغیرنیازنه کیږي.

جواب: دغیرالله په نامه کې چې کوم نیازورکول کیږي، که دهغې نه مقصود دهغه بزرګ روح ته ایصال ثواب وي یعنی دالله تعالی درضا له پاره چې کومه صدقه ورکړل شی دهغې ثواب هغه بزرګ ته ببنل مقصودوي، نوداصورت جائزدی[1] اوکه یوازې دهغه بزرګ درضا حاصلولوله پاره دهغه دنامې نیازورکړل شي، چې هغه خوشحال شي اوزموږ کارونه جوړکړي، نودا ناجائز اوشرک دی.[2]

دغیرالله نذرمنل جائز نه دي

سوال: اکثر خلک په معمولی خبرو باندې هم نذر مني او خپل مسائل اولیاوو او انبیاوو ته سپاري. آیا داسې کول د ګناه باعث خو به نه وي؟ ځکه چې د الله تعالی نه پرته دهیچا له پاره هم نذر منل نه دي پکار، او نذر منل یو ولي ته د لالچ ورکولو مترادف خو نه دي، مثلاً: په نذر کې ویل کیږي چې که چیرته فلانکی کار پوره شي، نو دا به کوو، هغه به کوو او داسې نور....

جواب: د غیرالله نذر منل ګناه اوشرک دی، ددې نه توبه ویستل پکار دي، اود الله تعالی په نوم نذر منل جائز دي.[3]

وزه (چیلی) د چاژوندي یا وفات شوي په نامه کول

سوال: آیادا صحیح ده چې یوه بیزه دژوندي یاوفات شوي په نامه کړل شي، اوبیاهغه ذبح کړل شي نودهغې خوړل جائزدي؟یاداسې وویل شي چې که زمافلانی کاروشونوزه به دا بیزه ددې ولی الله په نامه ذبح کومه؟

---

[1] صرح علماؤنا فی باب الحج عن الغیر بأن للانسان أن یجعل ثواب عمله لغیره صلاة أو صوما أو صد قة أو غیرها کذ ا فی الهد ایة (شامی ج : ۲ ص : ۲۴۳، مطلب فی القراء ة للمیت و اهد اء ثوابها له)۔

[2] واعلم أن النذر الذی یقع فی الأموات من أکثر العوام وما یؤکد من الدراهم والشمع ونحوهما الیٰ ضرائح الأولیاء الکرام تقر با فهو بالأجماع باطل وحرام مالم یقصدوا صرفها لفقراء الأنام وفی رد المحتار : قوله باطل وحرام بوجوه منها أنه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لأنه عبادة والعبادة لاتکون لمخلوق، ومنها أن المنذور له میت والمیت لا یملک ومنها أنه ظن أن المیت یتصرف فی الأمور دون الله تعالیٰ و اعتقاده ذالک کفر (الدرالمختار مع الرد المحتار ج : ۲ ص : ۴۳۹)۔

[3] و اعلم أن النذر الذی یقع للأموات من أکثرالعوام ومایؤکد من الدراهم والشمع والز یت ولحوهما الیٰ ضرا نح الأولیاء الکرام تقر با الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام و فی الشرح : بوجوه منها أنه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لأنه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق (الدرالمختار مع الرد المحتار ج : ۲ ص : ۴۳۹، فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم)

جواب: که دبزرګ په نامه کولونه که دامرادوي چې ددې صدقې ثواب دې هغه بزرګ ته ورسیږي. نوصحیح ده،اوددې بیزې غوښه حلاله ده،هرکله چې هغه دالله تعالی په نامه ذبح شوې وي[۱]اوکه دهغه بزرګ په نامه ورکول مقصودوي، نوداشرک دی اوهغه بیزه حرامه ده،تردې پورې چې هغه نذرمنونکی دخپل فعل نه توبه وباسی اودخپل نذرنه منع شي.[۲]

د جنتي ښځې کیسه له ځان نه جوړه شوې ده او د هغې نذر منل جائز نه دي

سوال: که یوه زنانه دا نذروکړي چې که زمافلانی کارپوره شي. نودجنتي ښځې کیسې به اورم،ماهم درې سوه ځله دجنتي ښځې کیسې نذر کړې ده،خو درې سوه ځله اوریدل راته ګران شوي دي.تاسوددې حل وښایئ!

جواب: دجنتي ښځې کیسه ځان نه جوړه شوې ده،نه ددې نذر صحیح دی اونه ددې پوره کول جائزدي،ددې نذر نه توبه اوباسه،اوددې پوره کولوباندې مه پریشانه کیږه.[۳]

نه خوېه مزاربا ندې د سلامي نذر جائزدی او نه ددې پوره کول

سوال: زمامورنیت کړی و چې زماواده وشي، نوهغه به مااوزماناوې دلعل شهبازقلندرمزارته دسلامي له پاره بیايي،اوس واده شوی دی، خو زه دښځومزارونوته دتګ خلاف یم،دشریعت په رڼاکې ماته څه کول پکاردي ؟

جواب: داسې نذر منل صحیح نه دي اوددې پوره کول صحیح نه دي، له دې وجې ته دسلامي له پاره خپله ښځه هیڅ کله مزارته بونه ځې.[۴]

د قرآن مجید په هره کرښه باندې ګوته کیښودو سره د ((بسم الله الرحمن الرحیم)) ویلو نذرمنل

سوال: د بسم الله قرآن ختمول څنګه دي؟ چې په هغې کې د قرآن مجید په هره کرښه باندې

۱] اللهم الا ان قال یا الله انی نذرت لک ان شفیت مر یضی أو رددت غائبی أو قضیت حاجتی أن أطعم الفقراء الذ ین بباب السید ة نفیسة أو الامام الشافعی أو الامام اللیث أو أشتري حصیر المساجد أو ز یتا لوقود ها أو دراهم لمن یقوم بشعائرها الی غیر ذ الک مما یکون فیه نفع للفقراء والنذر لله عز وجل (رد المحتار ج : ۲ ص : ۴۳۹، فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم)۔

۲] ایضاً تیره شوی حاشیه (واعلم أن النذر الذی یقع فی الأموات...الخ) اوګورئ!۔

۳] وفی البحر شرائطه خمس فزاد أن لا یکون معصیة لذ اته اخ قال فی الفتح وأما کون المنذور معصیة یمنع انعقاد النذر فیجب أن یکون معناه اذ ا کان حراما لعینه أو لیس فیه جهة قربة (شامی ج : ۳ ص : ۷۳۶، مطلب فی أحکام النذر)۔

۴] هم دغه پورته حواله اوګورئ!۔

ګوته ګرځولو سره ((بسم الله الرحمن الرحيم)) ويل کيږي، ايا دا د قرآن مجيد بې حرمتي نه ده چې په قرآن مجيد کې ليکلي څه دي او مونږ بسم الله وايو . اکثر خلک دا نذر مني چې زما فلانکى کار وشي نو زه به د بسم الله ختم کوم.

جواب: بسم الله شريف سره د ختم کولو چې کوم صورت په سوال کې ليکلى دى دا طريقه صحيح نه ده. او ددې نذر منل باطل دي. [1]

له ناروغى نه د صحت له پاره نذر منل

سوال: زه په يو حادثه کې سوځيدلى وم، او چې کله زما ښځې ته ددې اطلاع ملاو شوه، نو هغوى نذر ومانه. چې که زما خاوند په خيريت سره کور ته راشي، نو يو عدد نوې قرآن مجيد به په جمات کې ايږدم، او (۴۱) ځله به يسن شريف وايم، او چې کله زه د هسپتال نه کور ته په خيرخيريت سره راغلم، نو زما ښځې ماته د نذر منلو وويل، او چې کله ما خپلو بزرګانو ته د نذر مسئله وويله، نو هغوى ووئيل چې د مرګ نه پس د مرحوم ايصال ثواب د پاره خو قرآن مجيد په جومات کې کيښودل کيږي، له وفات مخکې نه، زما دا پوښتنه داده چې ايا زه قرآن مجيد په جومات کې کيږدم يا بيا دهغه کفاره ادا کړم؟ که چيرته کفاره وي نو څومره به وي؟ ايا زه (۴۱) ځلې يسن شريف چاباندې ووايم؟ په دې کې څه حرج خو نه شته؟

جواب: په جومات کې قرآن مجيد کيښودل خو د نذر له وجې نه لازم دي،[2] او دا تصور غلط دى چې قرآن مجيد يوازې د مړي له پاره کيښودل کيږي، د سورت يسن په چا باندې د وئيلو نذر منل لازم نه دي.او که چيرته پخپله د ويلو نذر وي، نو ويل به يې لازم وي،[3] خو بيا هم که چا باندې يې ووايې نو ښه ده.

د انشورنس (بيمه کونکې کمپنى) ملازمت ملاويدلو باندې نذر

سوال: که چيرته يو سړي يو ځاى کې د ملازمت ملاويدو په باره کې نذر منلى وي، نو آيا هغه ملازم ته د انشورنس کمپنۍ ملازمت ملاويدو باندې به هغه نذر واجبيږي او که نه؟

---

[1] وفى القياس لا يلزمه شيء لأنه التزم ماليس بقربة واجبة ولا مقصودة فى الأصل (هد ا ية ج : ٢ ص : ٥٠٢، باب اليمين فى الحج والصلاة والصوم)، وفى البد ا ئع : ومن شروطه أن يكون قربة مقصودة فلا يصح النذر بعيادة المر يض و تشييع ا لجنازة والوضوء والاغتسال و دخول المسجد و مس المصحف .. الخ (رد المحتار ج : ٣ ص : ٧٣٥، كتاب الأيمان)

[2] ومن نذر نذرا مطلقا .... لزم الناذ ر .... كصوم وصلاة وصد قة و وقف .. الخ (الدرالمختار ج : ٣ ص : ٧٣٥، كتاب الأيمان)

[3] قوله لم يلزمه وكذ ا لو نذر قراء ة القران، قلت وهو مشكل فان القراء ة عبادة مقصودة ومن جنسها واجب وكذ ا الطواف فانه عبادة مقصودة أيضا(رد المحتار ج : ٣ ص : ٧٣٨، كتاب الأيمان)

جواب: نذر واجبيږي. [^۱]خو حلال مال سره دې ادا کړي. [^۲] والله اعلم !

نهم اولسم محرم با ندې د څپليو نه اچولو نذر

سوال: مسئله داده چې زما دوست نذر منلى و چې که چيرته الله تعالى زما فلانکې کار وکړي، نو زه به ټول ژوند ترڅوپورې چې زه ژوندى يم په(۹)او (۱۰) محرم باندې څپلى او چپلې نه اچوم.او دا دواړه ورځې به پښې ابله يم. ايا دهغه دا نذر منل صحيح دي او که نه؟

جواب: دا نذر صحيح نه دى، او ددې پوره کول هم ضروري نه دي. [^۳]

سوال: د پورته ذکر شوي سوال په رڼا کې يو سوال داهم دى چې هغه ته کتو سره ما هم نذر ومانه چې که چيرته الله تعالى زما فلانکى فلانکى کار وکړي، يا فلانکى فلانکى شى ماته ملاوشي. نو زه به ان شاء الله په دې کال د محرم الحرام په(۹) او (۱۰) تاريخ باندې له څپليو پرته ګرځمه. او الله تعالى زما دعا قبوله کړه، ما د محرم الحرام په (۹) او (۱۰) تاريخ باندې له څپليوپرته ورځ تيره کړه او په هغه کال ما نذر ومانه چې که چيرته الله تعالى زما دا کار وکړي، نو زه به ټول عمر ترڅوپورې چې ژوندى يم ترهغې پورې به د محرم الحرام په (۹) او (۱۰) تاريخ له څپلي پرته ورځ تيرومه، اوس مسئله داده چې ماته ډيرو خلکو دې طرف ته توجه راکړه چې دا نذر منل جائز نه دي، اوس تاسو ووايئ چې زما د پاره څه حکم دى؟ او ايا ددې نذر پوره کول ضروري دي؟

جواب: پورته مې ليکلى دى چې دا نذر صحيح نه دى، او ددې پوره کول هم ضرورى نه دي.[^۴]

د صحت له پاره له الله تعالى نه نذرمنل جائزدي

سوال: که دناروغۍ دشفاله پاره نذر دالله تعالى له پاره ومنل شي، نو ايا داصحيح او جائز دي؟آيا دابه دالله تعالى سره شرط کول نه وي؟

جواب: دصحت له پاره دالله تعالى نه نذر منل جائزدي[^۵]خو ددې نه غوره داده چې له نذر پرته

---

[^۱] و ان علق النذر بشرط فوجد الشرط فعليه الوفاء بنفس النذر لاطلاق الحديث (فتح القد ير ج : ۴ ص : ۲۷، طبع دار صادر بيروت، كتاب الأيمان، فصل فى الكفارة)

[^۲] عن أبي هر يرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله طيب لا يقبل الا طيبا ... الا الخ (مشكوٰة : ۲۴۱، كتاب البيوع، باب الكسب وطلب الحلال، الفصل الأول)

[^۳] وفى القياس لايلزمه شيء لأنه التزم ماليس بقربة مقصودة ولا مقصود ة فى الأصل (هداية ج:ص: ۵۰۲)

[^۴]وفى القياس لايلزمه شيء لأنه التزم ما ليس بقربة مقصودة ولا مقصودة فى الأصل (هداية ج : ص :۵۰۲)

[^۵]و قد روى عن محمد رحمه الله تعالىٰ قال : ان علق النذر بشرط ير يد كونه كقوله ان شفى الله مر يضى أو رد غائبى .... يلزمه عين ماسمى (عالمگيرى ج : ۲ ص : ۶۵،...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

صدقه اوخیرات ورکړل شي اود الله تعالی څخه دصحت دعا وغوښتل شي.

پردو لرګیو باندې پوخ شوی شی جائز نه دی

سوال: موږ دالله تعالی په نامه څه پخول اودهغو دتقسیمولو اراده وکړه، هغه دالله تعالی په حکم سره پوره شو، دپخولوپه دوران کې لرګي کم شول،دپریشاني یا بل څه وجې نه لرګي ملاونه شو،نو د یومیدان نه مو څه لرګي راواخیستل اوکارپوره شو، دلرګیو مالک معلومول ګران و، له دې وجې نه دلرګیو دوزن برابرچې څومره قیمت جوړېده هغه موخیرات کړ،نو ایاداتقسیم شوی شی حرام شو؟

جواب: دالله تعالی په نامه چې څه شی ورکول وي، هغومره پیسې دې په خاموشي سره چامستحق ته ورکړل شي، دپخولواوخوړلو څه ضرورت نه شته[۱].اوپردي لرګي راوړل اودالله تعالی دنامې شی پرې پخول جائزنه دې[۲] دلرګیو خاوندولټوئ اودلرګیوقیمت دې اداکړل شي یادې له هغه نه معافي وغوښتل شي.[۳]

د حرام مال صدقه ناجائزه اودوبال سبب دی

سوال: ډیرخلک مولیدلي دي چې هغوی رشوت،سود،ناجائزه تجارت،حرام کاروبارو سره روپۍ جمع کوي اوبیادهغه مال نه صدقه ، خیرات اوحج هم کوي، پوښتنه داده چې حرامې روپۍ ګټل خوګناه ده،اوبیاله دې روپیوصدقه وغیره جائز دي.

جواب: د حرام مال صدقه قابل قبول نه ده، بلکې برعکس (چپه) د وبال موجب ده.

حدیث شریف کې دی چې:،،الله تعالی پاک دی اوهم پاک شی قبلوي.،،[۴]

دحرام اوناجائز مال صدقه کولومثال داسې دی،لکه یو کس چې دګندګي ټوکرۍ دبادشاه په خدمت کې پیش کړي،ظاهره ده چې بادشاه په دې نه خوشحالیږي بلکې ناراضه کیږي.

...بقیه د تیرمخ]...کتاب الأیمان، الباب الثاني فیما یکون یمینا و ما لا یکون یمینا، الباب الثاني، طبع رشیدیة)

۱]وجاز دفع القیمة في زکوٰة وعشر وخراج وفطر ونذر... الخ (الدر المختار مع الرد ج : ۲ ص : ۲۸۵)۔

۲]عن أبي حرة الرقاشي عن عمه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ألا لا تظلموا الا لا یحل مال أمرء الا بطیب نفس منه رواه البیهقي (مشکوٰة ص : ۲۵۵، باب الغصب والعاریة، الفصل الثاني)۔

۳] و قسم یحتاج الی التراد وهو حق الادمي والقرار ما في الد نیا بالاستحلال أو رد العین أو بدله (مرقاة المفاتیح، باب الکبائر ج : ۱ ص : ۱۰۲)۔

٤] عن أبي هر یرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله طیب لا یقبل الا طیبا ... الا الخ (مشکوٰة : ۲۴۱، کتاب البیوع، باب الکسب وطلب الحلال، الفصل الأول)۔

د ،، یولاس سره صدقه ورکړل شي چې بل لاس ته معلومه نه شي ،، مطلب

سوال: د صدقې په باره کې مود عالمانو صاحبانو نه اوریدلي دي چې داسې دې ورکړل شي چې بل لاس ته معلومات ونه شي، د دویم لاس نه مراد دویم کس دی؟ یا که یو کس صدقه ورکول غواړي او په خپله هغه د ملک نه بهر کاروبار کوي، کوم کس ته چې صدقه ورکول غواړي د هغه څه معلومات ورسره نه شته. (کونده ښځه ده) هغه به څنګه اداکوي؟ که د صدقې روپۍ د خپلې ښځې په ذریعه ورکول غواړي، نو په داسې صدقه کې څه نقصان خو نه شته؟ هر کله چې د ښځې خاوند حقوق یو شان دي، داسې به صدقه وشي او که نه؟ او د دې متبادل حل راته ووایئ!

جواب: کوم صورت چې تاسو لیکلی دی د هغه مطابق د ښځې په ذریعه صدقه ورکولو کې هیڅ نقصان نه شته ،، په یو لاس چې ورکړل شي او بل ته معلومات ونه شي ،، نه مقصود دا دی چې نمود او نمائش او ریاکاری پکې پکار نه ده[1]. او د کور د قابل اعتماد کس په ذریعه صدقه کول ریا کاری نه ده.

په صدقه کې ډیر قیدونه لګول صحیح نه دي

سوال: آیا په صدقه کې د تور رنګ چرګ ورکول یا د څه رنګ او نسل چرګ ورکول جائز دي؟ د دې شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: کوم شی چې د الله تعالی د رضا له پاره فی سبیل الله ورکړل شي، هغه ته صدقه ویل کیږي، نفلي صدقه کمه یا زیاته بنده د خپل وس مطابق ورکولی شي، صدقې سره بلاګانې لرې کیږي[2]، په صدقه کې د چیلي یا چرګ ذبح کول شرط نه دي او نه د څه رنګ او نسل قید شته، ځینې خلک څوک چې دا ډول قیدونه لګوي، هغوی اکثر بد دین وي.

نذر پوره کول ضروري دي او مستحق یې غریب خلک او د مدرسې طالبان دي

سوال: زما مور بې زما د نوکرۍ (وظیفې) په سلسله کې نذر کړی و چې که زما زوی ته په مطلوب ځای کې نوکري ملاو شوه، نو زه به د الله تعالی په نوم قرباني کوم، الحمدلله نوکري ملاو شوه، د الله تعالی شکر دی، خو ډیر وخت تیر شوا و تر اوسه پورې مو نذر پوره نه کړ، په دې

---

[1] عن أنس رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم .... قال : نعم ابن ادم تصدق صدقة بيمينه يخفيها من شماله رواه الترمذي (مشكوٰة ص : ۱۷۰) وفي شرح المشكوٰة : حيث منعها عن اظهار الصدقة ايثار للسمعة وحبا للثناء أو باعتبار أنه قهر الشيطان أو باعتبار أنه حصل رضا الرحمٰن (مرقاة المفاتيح، باب فضل الصدقة ج : ۲ ص : ۴۸۳)۔

[2] عن علی رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : بادروا بالصدقة فان البلاء لا يتخطأها (رواه رزين (مشكوٰة ص : ۱۶۷، باب الانفاق وكراهية الامساك، الفصل الثالث)۔

کې سستي ضرور شوې ده،خو دې کې زموږ په نیت کې څه فتورنه شته،یوازې مطلوب موداد ی چې ددې طریقه کارڅه وي؟چې صحیح اوعین اسلامی وي اوپه دې کې اختلاف رایه داده چې د کوم څناور قرباني وکړل شي دهغه غوښه رشته دارانو،دکورکسانوله پاره ناجائزده،داپوره پوره په غریبانواومسکینانانوته ورکول پکاردي.

جواب: ستادموږپه ذمه دقرباني په ورځوکې قرباني کول واجب دي[۱].اوددې غوښه په فقیرانو کې تقسیمول لازم دي، دنذر شی غني اومالداره کسان نه شي خوړلی،څنګه چې زکات او صدقه فطر(سرسایه)دمالدارانوله پاره حلاله نه ده.[۲]

د یوکار نذرمنلوسره هغه کار ونه شو، نو نذر نه لازمیږي

سوال: که چیرته څوک نذر ومني چې که دهغه کار وشي، خو دهغه کار ونه شي، بیا هغه د هغه کار له پاره یوعمل وکړي او عمل د پاره هم نذر ومني،خو هغه عمل دڅه وجې نه بند شي، آیا داسې صورت کې نذر پوره کول واجب دي؟

جواب: چې کاروشي، نو د نذر پوره کول لازم دي،که نه، لازم نه دي. [۳]

سوال: بیا هم داعمل هغه اضافي کار سره وکړي،خو عمل مکمل کیدو نه وروسته هم دهغه کار ونه شي، نو ایا په هغه صورت کې نذر پوره کول واجب دي؟

جواب: کار ونه شي، نو نذر واجب نه دی. [۴]

سوال: د کوم کار له پاره چې عمل کیده، که چیرته هغه کار د پوره کولو له پاره لومړی عمل پریښودل شي او بل روحاني عمل یا بله طریقه شروع کړل شي او هغې دویمې طریقې سره کار وشي، نو ایا نذر پوره کول واجب دي؟

جواب: چې کار وشي، نو نذر پوره کول واجب دي. [۵]

۱]فی الدر المختار : من نذر وسمی فعلیه الوفاء بما سمٰی .... الخ وفی شرحه : والمراد أنه یلزمه الوفاء بأصل القربة التی التزمها (شامی ج : ۳ ص : ۷۳۵، مطلب فی احکام النذر)۔

۲] فی الدر المختار : مصرف الزکوٰة ..... هو الفقیر... الخ وفی رد المحتار : وهو مصرف أیضا لصد قة الفطر والکفارة والنذر وغیرذ الک من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی(شامی ج:۲ص: ۳۳۹، باب المصرف)

[۳]اذ ا نذ ر شیئا من القربات لزمه الوفاء به لقوله تعالیٰ : ولیوفوا نذ ورهم، و قوله صلی الله علیه وسلم : من نذر أن یطیع الله فلیطعه ومن نذ ر أن یعصی الله فلا یعصه رواه البخاری والاجماع علی وجوب الایفاء به وبه استدل القا ئلون بالفتراضه (حاشیه طحطاوی علی مراقی الفلاح ص : ۳۷۸)

[۴]هم دغه پورته حواله اوګوری !

[۵]فان نذر مکلف نذرا بشيء مما یصح نذ ره وکان مطلقا غیرمقید بوجود شيء کقوله : لله علی أو نذ ر لله علی صلاة رکعتین أو معلقا بشرط یر ید کونه کقوله: ان رزقنی الله غلاما...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

سوال: د کار نه مخکې یې ډیر نذرونه منلي وي، ایا دهغو ټولو پوره کول لازم دي؟

جواب: کار کیدو باندې د نذر پوره کول ضروري دي.خو که چیرته یې میعاد (وخت) مقرر کړی و او په هغه میعاد کې کار ونه شو، نو نذر لازم نه شو. [۱]

د کار کیدو د پاره د کوم شي نذر چې شوی و که هغه هیر شي نو څه وکړي

سوال: ما نذر کړی و چې که زمامراد پوره شو، نوزه به روژې نیسم.او صدقه به ورکوم وغیره به، پوښتنه داده چې ماته صحیح طریقې سره یادنه دي چې مادوڅومره روژو نذر کړی و، اوپه صدقه کې څه ورکول دي؟نوایازه دوباره دڅه شي نیت کولی شم؟ (یعنی صدقه وغیره یا نفل لمونځ یاروژې وغیره چې تعدادیاپیسې یا مقداردوباره متعین کولی شم اوکه نه؟)دادې واضحه وي چې زماتراوسه پورې مرادپوره شوی نه دی، زه غواړم چې ما کوم نذر کړی هغه پوره کړم. له دې وجې نه دځان سره لیکل شوې کیږدم،چې راته یادوی، یابه بیاهم په ما دلومړي نذرپوره کول لازم وي؟

جواب: دکوم کارله پاره چې تا نذر منلی و، که هغه پوره شوی نه وي، نو نذر لازم نه دی.که تا داسې ویلي و چې دومره روژې به نیسم،یا دومره صدقه به ورکوم،نوبیادکارپوره کیدوپه صورت کې به تا باندې خپلې روژې نیول لازم وي،اوصدقه به ورکول وی[۲]،اوکه درته یادنه وي نود غور او فکر کولونه وروسته چې کوم مقداردې په ذهن کې راشي دهغه پوره کول به وي اوکه داسې دې ویلي و چې څه روژې به نیسم یاصدقه به ورکوم نواوس تعین کولی شې.

که د صدقې امانت ورک شو نو اداکول یې لازم نه دي

سوال: خوورځې مخکې زمامشرې خور(چې واده شوې نه ده) ماته څلور سوه روپۍ دچیلی صدقه کولوله پاره راکړې وې،اوورسره یې راته دا نصیحت کړې وچې داروپۍ ستاپه روپیوکې شاملې نه شي،ما دا روپۍ د جدا کیښودوپه نیت سره راتاو کړلې اوپه جیب کې مې کیښودلې،چې سحربه پرې چیلۍ صدقه کړم،خو اتفاق سره داروپۍ په هماغه شپه زمادجیب نه ووتلې، زماداندازې مطابق داروپۍ په موټرسائیکل باندې دتلوپه وخت کې زمادجیب نه وغوځېدې اوورکې شوې، دغه شان زما خورچې کومې روپۍ دصدقې له پاره ویستلې وې

...بقیه د تیرمخ]... فعلی اطعام عشرة مساکین ووجد الشرط لزمه الوفاء به (حاشیه طحطاوی علی مراقی الفلاح ص : ۳۷۹، باب ما یلزم الوفاء به)

[۱] أیضا_

[۲] ومن نذر نذرا مطلقاأو معلقا بشرط .... و وجه الشرط المعلق به لزم الناذر الحدیث من نذر وسمّیٰ فعلیه الوفاء بما سمّیٰ (الدرالمختار مع الرد ج : ۳ ص : ۷۳۵، کتاب الأیمان، طبع سعید)_

هغه دهغه مقصدله پاره استعمال نه شوې، ستاسونه پوښتنه داده چې په داسې صورت کې صدقه وشوه اوکه نه؟هرکله چې نيت بالکل صفا و اوپه حديث کې دي چې الله تعالى ستاسو نيتونوته گوري، که زه وغواړم نوهمدومره روپۍ دخپل جيب خرچې نه بچ کولی شم اوددومره روپۍ جمع کولی اوصدقه کولی شم. مهرباني وکړئ اوپه دې سلسله کې زمارهنمايي وکړئ، ځکه چې دکومې ورځې نه رانه روپۍ ورکې شوې دي په ډيره ذهني پريشاني کې گيريم.

جواب: ستا په ذمه د پيسو ادا کول لازم نه دي[۱] که ستا خور د نفلي صدقې له پاره درکړې وې، نودهغې په ذمه هيڅ لازم نه دي اوکه نذريې منلې و، نودهغې په ذمه ددې نذرپوره کول لازم دي.[۲]

که د شيريني نذرمنل شوي وي ، نو دهمدومره روپيو صدقه صحيح کيږي

سوال: مايه يومشکل وخت کې دالله تعالى په حضوردکاميابي له پاره د يوولسو روپيو د شيريني نذر منلى و.اوس زه هغه روپۍ د جومات په تعميرکې خرچ کول غواړم آيا دا صحيح دى، يا ماته متهايي وغيره تقسيمول پکاردي؟

جواب: چامحتاج ته دې همدومره روپۍ ورکړل شي.[۳]

د مړي د ثواب له پاره شوې صدقه په جومات کې استعمالول

سوال: زموږ علاقه کې چې مړى وشي، نوهغې پيسې وروسته چې کومه صدقه کيږي، هغه په جومات کې استعمالوي. آيا داسې کول جائزدي اوکه نه؟ موږ دا صدقه دجومات په ضروورياتو باندې خرچ کولی شو؟

جواب: که مړي په جومات کې دخرچ کولووصيت کړى وي، يادهغه وارثان (په دې شرط چې عاقل اوبالغ وي)په خپله دمړي له طرف نه په جومات کې خرچه کوي، نوداصحيح دى اوپه صدقه جاريه کې شماريږي.[۴]

نذرپوره کول د کارکيدو نه وروسته ضروري دي له کيدو مخکې نه

سوال: که يوکس نذر ومني چې که زمافلانى کار وشو، نو زه به روژې نيسم،يا به نفل کوم،

---

[۱] قال : في المنح ان الأمانة علم لما هو غيرمضمون، فشمل جميع الصورالتى لا ضمان فيهاكالعارية والمستأجرة ...... الخ (رد المحتار ج : ۵ ص : ۶۶۲، کتاب الايد اع، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[۲] تيره شوى حاشيه (ومن نذر نذرا مطلقا أو معلقا...الخ) اوگورئ!۔

[۳] تيره شوى حاشيه (فان نذر مکلف نذرا بشيء مما يصح نذره ...الخ) اوگورئ!۔

[۴] بوصيته من الثلث .... وان لم يوص وتبرع وليه به جاز ان شاء الله ويکون الثواب للولى .. الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۲ ص : ۴۲۴، فصل في العوارض المبيحة لعد م الصوم)۔

نوهغه کس خپل نذر د کار پوره کیدونه مخکې پوره کړي که وروسته؟

جواب: د الله تعالی په نوم نذر کول جائزدي او کار کیدونه وروسته د نذر پوره کول لازم دي له کار کېدو وړاندې نه. اودکاردپوره کیدونه مخکې ددې نذر اداکول صحیح نه دي، که دنذر روژه یې مخکې ونیوله اوکا وروسته پوره شو، نو د کار کیدونه وروسته به دویم ځل روژه نیول لازم وي.[1]

د نذر به یوه روژه نیول وي اوکه دوه؟

سوال: یوکس نذر کړی و چې که زمافلانی کاروشو، نوزه به هرکال د محرم په میاشت کې یاپه بله میاشت کې روژه نیسم. دهغه کار پوره شوه.روژه خوهرکال په خپل مقرره وخت باندې نیسم، خودځینو خلکووینا ده چې دنذر روژه یوه نه نیول کیږي دوه مسلسل نیسه!مهرباني وکړه اوپه دې سلسله کې دشریعت له مخې پرې رڼاواچوه چې زماشک لرې شي اوکه دوه پرله پسې روژې نیول وي، نوچې دتیرشویوکلونوځومره روژې نیول شوي دي دهغو کفاره څنګه اداکړل شي؟

جواب: که دیوې روژې نذر دې کړی و، نویوه روژه واجب ده[2]دویمه مستحب ده،ددې د قضانیولوضرورت نه شته.

په نذرکې تاخیر کول بد دی

سوال: ما یو دوه میاشتې وړاندې د دوو روژو نذر منلې و. چې تراوسه پورې ما د مختلفو مصروفیاتو له وجې نه دي نیولي، ستاسو نه پوښتنه داده چې ماته دا ووایئ چې که چیرته زه روژې اوس ونیسم نوځه ګناه خو به نه وي؟

جواب: ترڅوچې ممکن وي، هغه زر اونیسه. په نذر کې تاخیر کول بد کاردی.[3]

د روژو نذرپوره کول ضروري دي

سوال: مولانا صاحب ! زما د خور د واده تقریباً یوولس کاله وشو، دهغې اولاد نه شته ، هغې د نن نه تقریباً څلور کاله مخکې نذر منلی و چې که چیرته زما اولاد وشو، نو زه به

---

[1] بخلاف النذرالمعلق فانه لایجوزتعجیله قبل وجودالشرط (شامی ج:۳ ص:۷۴۱ مطلب النذرغیرمعلق .. الخ)

[2] ولو جعل علیه .... صوما أو صلاة أو صد قة .... لزمه ذالک الذ ی جعله علیٰ نفسه (عالمگیری ج : ۲ ص : ۶۵، کتاب الأیمان، الباب الثانی فیما یکون یمینا و ما لایکون یمینا)۔

[3] لو مات قبل الأد اء یأثم بترکه و هو الصحیح،لأ ن الأمر بالفعل مطلق عن الوقت فلا یجوز تقیید ه الا بد لیل فکذ الک النذر (بد ائع الصنائع ج:۵ ص : ۹۴، کتاب النذ ر، فصل و أما أحکام النذ ر، طبع سعید)

ثلوېښت روژې نیسم، د الله په فضل سره لومړی یې یو هلک پیدا شو چې نامکمل و، دهغې نه وروسته یې یو بل زوی پیدا شو چې صحیح نه و، او اوس یې لور شوې ده، هغه هم صحیح نه ده، زما خور اوس وویل چې کوم نذر مې منلې و هغه.ما نه هېر شو، مولانا صاحب هره پرېشاني مې لیدلې ده، اوس پوښتنه داده چې د کومو ثلوېښتو ورځو نذر مې منلې و دهغې کفاره څنګه ادا کړل شي؟

جواب: د ثلوېښتو ورځو نذر پوره کول ضروري دي. [1]

د نذر پاو باندې یوې میاشتې روژې که پرلپسې نه شې نیولې نو وقفه په وقفه دې ونیسي

سوال: زما د ملګرې مور دخپل خاوند په مصیبت باندې پاو باندې یوه میاشت د روژو نیولو نذر منلی و، د الله تعالی لوی احسان دی چې هغه صحیح شو، اوس تاسو نه پوښتنه داده چې هغه روژې پرلپسې ونیسی یا وقفه په وقفه باندې یې هم نیولی شي؟ ځکه چې هغه د بلډ پریشر مریضه ده اودهغې په ګردو کې انفکشن (درد) هم دی، چې په وجه یې د رمضان په روژو کې هم په ګردو کې تکلیف وي.

جواب: هغې محترمې چې څومره روژې نذر منلې وې، هغه یې په ذمه لازمې دي، که چیرته د پرلپسې نیولو طاقت نه لري، نو وقفه په وقفه باندې دې ونیسي. [2]

د قرباني منل شوې غوا د لوی اخترپه ورځ ذبحه او غوښه یې په فقیرانو باندې تقسیم کړه

سوال: ما نذر منلی و چې که چیرته الله تعالی زما مراد پوره کړ، نوزه به یوه غوا قرباني کوم، الله تعالی زما هغه مراد پوره کړ، اوس چونکې خبره ډېره زړه شوې ده، نو ماته یاد نه دي چې ما د صدقې غوا په نذر کې منلې وه یا د خیرات، یعنې پخپله غوښه خوړلی شم اوکه نه؟ اوس اصل مسئله داده چې ایا زه دهغې غوا قیمت په قسطونو کې ورکولی شم چې په یو ځای باندې د کولو استطاعت نه شته؟ یعنې زه دا غواړم چې هرکال په لوی اختر کې په غوا

---

[1] النذرالذ ی لا تسمیه فیه فحکمه وجوب مانوی أن کان الناذر نوی شیئا سواء کان مطلقا عن شرط أومعلقا بشرط بأن قال لله علی نذ ر أو قال ان فعلت کذ ا فللّه علی نذ ر فان نوی صوما أوصلاة أو حجا أو عمرة لزمه الوفاء به فی المطلق للحال وفی المعلق بالشرط عند وجود الشرط ولا تجز یه الکفارة (بد ائع الصنا نع ج : ٥ ص : ۹۲، کتاب النذر)

[2] أیضا_

کې یوه برخه ونیسم او نیت د نذر شوې غوا وکړم. داسې به په چاباندې یعنې کور والو باندې ښکاره نه شي او نذر به هم پوره شي

جواب: عیدالاضحی کې د غوا قرباني وکړئ. [۱]اوهغه پخپله مه خوره. بلکې دهغې غوښه مسکینانو او فقیرانو ته ورکړه، اودهغې څرمنه یوې دیني اداري ته ورکړه![۲]

آیا د الله په نوم د نذرشوې چیلی خرڅولوسره غریب ته پیسې ورکول سهي دي؟ بله داچې دهغې غوښه څوک خوړلی شي؟

سوال: ما د الله تعالی په نوم باندې نذر منلې و چې اې الله که زما فلانکې کار وشي. نو زه به ستا په لاره کې یوه چیلۍ ورکوم. اوس الله تعالی زما هغه خواهش پوره کړی دی. نو زه دا نذر څنګه پوره کړم؟

۱: آیا د چیلۍ غوښه په خلکو کې تقسیم کړل شي؟

۲ آیا دهغې غوښه پخپله هم خوړل کیدای شي؟

جواب: د نذر غوښه دې په فقیرانو تقسیم کړل شي. پخپله دې هم نه خوري او مالدارو ته دې هم نه ورکوي

سوال: چیلۍ زما سره ده. هغې خرڅولوسره روپۍ په غریبانانو کې یا یو زیرِ تعمیر جومات کې ورکړل شي؟

جواب: هماغه چیلۍ دې یو فقیر محتاج ته ورکړل شي. [۳]

د صدقې غوښه په کورکې استعمالول ناجائزدي

سوال: یوکس په صدقه کې چیلې ذبحه کړه اوهغه غوښه په خواوشا ګاونډیانو(همسایه ګانو) کې ویشي ایاهغه غوښه په کورکې هم خوړلی شي اوکه نه؟تاسوشرعي دلیل پیش کړئ چې دصدقې دچیلي غوښه په کورکې استعمالیدای شي اوکه نه؟

جواب: چیلې ذبحه کولوسره صدقه نه کیږي،بلکې فقیرانو او مسکینانوته ورکولوسره صدقه کیږي . له دې وجې څومره غوښه دې چې په محتاجوکې تقسیم کړله دهغې صدقه وشوه،

---

[۱] الأضحية اسم لما يذ بح ف وقت مخصوص لم يكن فيها الغاء الوقت فاذ ا أنذرها يلزم فعلها فيه والا لم يكن اتيا بالمنذ ور ..... الخ (رد المحتار ج : ۶ ص :۳۳۳، كتاب الأضحية)

[۲] اذ مصرف النذر الفقراء .... الخ (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۳۱، قبيل باب الاعتكاف)

[۳] اذ مصرف النذر الفقراء .... ولا يجوز أن يصرف ذ الک لغنى غير محتاج ولا لشر يف منصب لأنه لا يحل له الأخذ ما لم يكن محتاجا فقيرا (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۲۳۱، قبيل باب الاعتكاف)

اوکومه دې چې په کورکې وخوړه دهغې ونه شوه[۱]،خو که نذردې منلي و، نو ددې پوره چيلي په محتاجوباندې صدقه کول واجب دي،نه مالداره ګاونډيانو (همسايه ګانو) ته ورکول جائزدي اونه په خپله کورکې خوړل جائزدي[۲]

کومه غوښه دې چې په فقيرانوکې تقسيم کړه هغه صدقه ده او کومه چې دې په کورکې کېښوده هغه صدقه نه ده

سوال: دفرنټيرپه کلي والوعلاقوکې رسومات جاري دي، په کومو کې چې تعليم يافته خلک هم شامل دي. زموږ په کلي کې چې کوم خلک په بهرملکونوکې نوکري کوي يادنوکري (وظيفې) نه بهرته په رخصتي باندې راتلوپه دوران کې يوه يادوه غواګانې ياغويان صدقه کوي.خوهغوی وايي چې ماګشتي منلې وه،چې ددې تقسيم دغه شان وي چې غوښه په دريو برخو وويشل شي، چې څه پيمانه او وزن يې مقررنه ده،اندازې سره وي، يوه برخه دکورله پاره کېښودل شي،اوپاتې دوه برخې يوځای کړل شي اووړه ووړه کټ کړل شي.اوپه خپلوانوکې په هرکس ته ديو کس نيم کلوپه حساب سره ورکوي، ډيرو نژدې خپلوانوته له حساب پرته ورکول کېږي. دغه وخت کې چې کوم غيرخلک موجودوي هغوی ته صرف دنيم کلوپه حساب سره ورکول کېږي.باقي غوښه دکورله پاره کېښودل شي،هرکله چې دغوا يا غويي څرمن (پوستکی)، سر اودننه غوښه مثلاً زړه، کليجی (ينه)،ګردې،سګی ،کولمې اولړه شان ښه غوښه دمخکې نه دخپل کورله پاره کېښودل کېږي، زموږ اختلاف دی که هغه صدقه ده نودې ته دګشتي نامه ولې ورکول کېږي؟ اوبياکه صدقه خيال کولوسره ورکول کېږي نوايادددې داطريقه صحيح ده؟ الله تعالى به دا منظوره کړي؟

جواب: ،،ګشتی،، مطلب باندې خوزه په خپله هم پوه نه شوم، که دا نذروي نوبياپوره صدقه کول ضروري دي[۳] په خپله خوړل اومالدارانو ته ورکول جائزنه دي[۴] اوکه دغه شان صدقه وي

۱]عن عائشة رضی الله عنها أنهم ذبحوا شاة فقال النبی صلی الله عليه وسلم : ما بقی منها؟ قالت ما بقی منها الا کتفها قال : بقی کلها غير کتفها رواه الترمذی(مشکوٰة ص : ۱۶۹، باب فضل الصد قة، الفصل الثانی)

۲] مصرف الزکاة .... هو الفقير والمسکين .... الخ وهو مصرف أيضا لصد قة الفطر والکفارة والنذر وغير ذالک من الصدقات الواجبة (رد المحتار علی الدرالمختارج : ۲ ص : ۳۳۹ و فی البحر ج : ۲ ص : ۳۲۱ مثله)_

۳]النذ رالذ ی لا تسمية فيه فحکمه وجوب مانوی أن کان الناذر نوی شيئا سواء کان مطلقا عن شرط أومعلقا بشرط بأن قال لله علی نذ ر أو قال ان فعلت کذ ا فلله علی نذ ر فان نوی صوما أوصلاة أو حجا أو عمرة لزمه الوفاء به فی المطلق للحال وفی المعلق بالشرط عند وجود الشرط ولا تجز يه الکفارة (بد ائع الصنائع ج : ۵ ص : ۹۲، کتاب النذر)_

۴]اذ مصرف النذر الفقراء .... ولا يجوز أن يصرف ذالک...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

نو چې ځومره غوښه يې فقيرانوته ورکړې وي هغه صدقه ده اوکومه يې چې په کورکې کېښودله هغه صدقه نه ده.[۱]

د نذرغوښه يوازې غريبان خوړلې شي

سوال: زما خور دا نذرکړې و چې که زماکاروشو، نوزه به دالله تعالى په نامه چيلۍ ذبحه کوم. لهذا اوس کارشوی دی اوهغه خپل نذر پوره کول غواړي اودالله تعالى دنامه چيلۍ ذبح کول غواړي. نوايا ددې چيلۍ غوښه خپلوان اوکوروالا استعمالولی شي او که نه؟ مهرباني وکړئ او رهبري مو وکړئ!

جواب: دنذر شی يوازې غريبان خوړلی شي،خپلوخپلوانو اومالدارو خلکوته يې خوړل جائزنه دي،که نه،نذر به موپوره نه شي.[۲]

سوال: تاسودجمعې په ايډيشن (چهاپ شوي مضمون) کې ديوسوال په جواب کې فرمايلي و چې دنذر غوښه ټول په ټوله دالله تعالى په لارکې تقسيمول پکاردي، په خپله يا خپلوانو باندې خوړل يې جائزنه دي.ايادنورو شيانو په باره کې هم دغه حکم دی؟مثلاً:که يوکس د چيلۍ نه پرته دبل شي نذر وکړي، نواياهغه به هم ټول دالله تعالى په لاره کې تقسيمول لازم وي؟

جواب: هو! دنذردټولوشيانو همدغه حکم دی. هغه دې په غريبانوباندې تقسيم کړل شي، مالدارانو ته يې خوړل جائزنه دي اود نذر منونکي اودهغه کورنۍ يې هم نه شي خوړلې.[۳]

د نذر نفلونه پوره کول واجب دي

سوال: زما مورسخته ناروغه وه،مانذر کړی و که دموراپريشن (عمليات کيدل) مې صحيح وشو نو سل رکعاته نفل به کوم،خو ما(۴۸)نفل وکړل،اوباقي مې ونه کړل،اوس دا ووايئ چې زه څه وکړم؟!

جواب: که ستادموراپريشن صحيح شوی وي، نوسل نفلونه ستاپه ذمه واجب شول، خپل نذر پوره کول واجب دي.له دې وجې نه باقي نفل هم وکړه.[۴]

...بقيه د تيرمخ]... لغنى غير محتاج ولا لشر يف منصب لأنه لا يحل له الأخذ ما لم يكن محتاجا فقيرا (البحرالرائق ج : ۲ ص : ۳۲۱، قبيل باب الاعتكاف)_

[۱] عن عائشة رضى الله عنها أنهم ذ بحوا شاة فقال النبى صلى الله عليه وسلم : ما بقى منها؟ قالت ما بقى منها الا كتفها قال : بقى كلها غير كتفها (مشكوٰة ص : ۱۶۹، باب فضل الصد قة، الفصل الثانى)_

[۲] تيره شوى حاشيه (اذمصرف النذر الفقراء....الخ) او وړيسى حاشيه (مصرف الزكاة ....الخ) اوګورئ!

[۳] ايضاً)_

[۴] ومن نذر نذرا مطلقا أو معلقا بشرط...... و وجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحد يث من نذر وسمىٰ فعليه الوفاء بما سمىٰ كصوم وصلاة وصد قة .... الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۳ ص : ۷۳۵، كتاب الأيمان)_

د نذر نفل چې څومره یاد وی هغومره دې اوکړې شی

سوال: که څه مشکل کې نفل منلې شوې وی او دانسان دا هیرشی چې معلوم نه ده چې څومره نفل مې منلې وو؟ او د څه مقصد له پاره مې منلې وو؟ او که اوس کول وی نو د هغې نیت څنګه اوکړې شی او تعداد به څنګه معلوم شی؟ آیا مونږ د دې نفلونو په ځائې څه صدقه وغیره کولې شو؟

جواب: هم هغومره نفل دې اوکړې شی لګ شان په خپله حافظه باندې زور واچولې شی او یا د دې کړې شی چې د څومره نفلو غالب خیال وی هم هغومره کول واجب دی. د هغې په ځائې صدقه ورکولو سره به هغه منخته پوره نه شی.[1]

د قرآن مجید د ختمولو منخته لازم نه ده

سوال: کله چې مونږ د څه کار د پوره کیدو له پاره منخته کوو چې فلانې کار پوره کیدو باندې به مونږ د قرآن کریم ختم کوو. د دې وجې د محلې واله راوغوښتلې شی او په حافظانو باندې د قرآن شریف ختم اوکړې شی. زه ستاسو نه دا معلومول غواړم چې یواځې (ځانله) کس قرآن پاک ختمولې شی؟ په څومره ورځو کې د ننه د ننه قرآن پاک ختمول پکار دی؟

جواب: د نذر د پوره کیدو فقهاوو (رحمهم الله) خاص شرطونه لیکلي دي، که هغه شرطونه په کې ونه موندل شي، نو نذر لازم نه وي، د دې شرطونو مطابق که چا نذر وکړ چې زما فلانی کار وشي، نو زه به د قرآن شریف ختم کوم. نو د دې سره نذر نه لازمیږي او پوره کول یې واجب نه دي،[2] ځکه که هغه دا وايي چې زه به قرآن وایم، نو بیا خو واجبیږي،[3] خو چونکې په نورو باندې قرآن ویل یو داسې امر دی چې دا پخپله عبادت نه دی، د دې مثال داسې دې لکه چې څوک د بل چا د روژې نیولو نذر ومني نو په هغه باندې نذر نه واجبیږي.

د قرآن کریم او نفل کولو نذر پوره نه شي، نو کفاره یې

سوال: ما څه نذر د کار پوره کیدو له پاره منلی و، اوس هغه مانه هیر شوی دی، نو زه هغه نذر څنګه پوره کړم؟ ځکه چې زما کار شوی دی. بله دا چې نذر کې د قرآن مجید ختم،

---

[1] هم دغه پورته حواله۔

[2] و لم يلزم الناذ ر ماليس من جنسه فرض كعيادة مر يض وتشييع جنازة و دخول مسجد ... الخ (الدرالمختار ج : ۳ ص : ۷۳۶، كتاب الأيمان)۔

[3] ولونذر التسبيحات دبر الصلاة لم يلزمه وفى الشرح : قوله لم يلزمه وكذ ا لو نذر قراءة القران وعلله القهستانى فى باب الاعتكاف بأنها للصلاة وفى الخانية و لو قال على الطواف بالبيت والسعى بين الصفا والمروة أو عليّ أن قراء ة القران ان فعلت كذ ا لا يلزمه شيء قلت وهو مشكل فان القراء ة عبادة مقصودة ومن جنسها واجب و كذ ا الطواف فانه عبادة مقصود ة أيضا (رد المحتار ج : ۳ ص : ۷۳۸ كتاب الأيمان)۔

نفلونه وغیره هم شامل دي. ایا دهغو کفاره هم ورکول کیدای شي او که پوره کول یې ضروري دي؟

جواب: د نذر منلو نه وروسته دهغه پوره کول لازمیږي.[۱] د قرآن مجید ویلو چې کوم نذر دی منلې و هغه خو لازم دی. [۲] همدغه شان د نفل کولو یا د روژو نیولو چې کوم نذر دې منلی و دهغه پوره کول هم لازم دي. تاسو سوچ کولو سره هغو مره نفلونه ادا کړئ. له دې پرته بې څه کفا ره نه شته [۳]

د چا په وفات باندې ټینګې ارادې سره ویل چې زه به یو ختم کوم خو ونه شي نو څه حکم دی؟

سوال: ما د یو سړي په وفا ت باندې مضبوطې ارادې سره ویلي و چې زه به د هغه له پاره دیو قرآن کریم ختم کوم. خو اوس بې زه نه شم ویلی. نو ایا دا ویل په ما باندې واجب شو، حالانکه ما یوازې اراده کړې وه، نذر وغیره مې نه و منلي؟

جواب: واجب خو نه شو. [۴] خو د مسلمان د خولې نه یو خبره وځي، نو دهغې نه پوره کول ډیره د کمزوري خبره ده. یو ځلې قرآن کریم ختمول څه مشکل کار نه دی؟ لږ د همت نه کار اخیستل پکار دي....!

قرآن مجید ختمیدو باندې د چیلی دذبحې نذر منل که دقرآن ختمولو نه مخکې پوره شي، نو آیا دویم ځل به یې پوره کول واجب وي؟

سوال: یو سړي نذر منلی و چې کله زما وړوکی ورور قرآن کریم ختم کړي، نو زه به د الله له

---

[۱] ومن نذر نذرا مطلقا أومعلقا بشرط ...... و وجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحد یث من نذر وسمیٰ فعلیه الوفاء بما سمیٰ کصوم وصلاة وصد قة .... الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۳ ص : ۷۳۵، کتاب الأیمان)

[۲] ولونذر التسبیحات دبر الصلاة لم یلزمه وفی الشرح : قوله لم یلزمه وکذ ا لو نذر قراءة القران وعلله القهستانی فی باب الاعتکاف بأنها للصلاة وفی الخانیة ؤ لو قال علی الطواف بالبیت والسعی بین الصفا والمروة أو عليّ أن قراء ة القران ان فعلت کذ ا لا یلزمه شيء قلت وهو مشکل فان القراء ة عبادة مقصودة ومن جنسها واجب و کذ ا الطواف فانه عبادة مقصود ة أیضا (رد المحتار ج : ۳ ص : ۷۳۸ کتاب الأیمان)_

[۳] ومن نذر نذرا مطلقا أو معلقا بشرط ..... و وجد الشرط المعلق به لزم الناذر لحد یث من نذر وسمیٰ فعلیه الوفاء بما سمیٰ کصوم وصلاة وصد قة .... الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۳ ص : ۷۳۵، کتاب الأیمان)_

[۴] فرکن النذ ر هو الصیغة الد الة علیه وهو قوله عز شانه علی کذ ا أو علیٰ کذ ا أو هذ ا هد ی أو هذ ا صد قة أو مالی صد قة أو ما أملک صدقة ولحوذ الک (بدائع الصنا ئع ج : ۵ ص : ۸۱ طبع ایچ ایم سعید)

پاره یوه چیلۍ ذبح کوم. یوه ورځ هغه د وړوکی ورور نه پوښتنه کوي چې قران کریم به کله ختمیږي؟ نو وړوکي ورور دمشبر ورور د خوشحالو له پاره وايي چې قرآن کريم خو ختم شوی دی. حالانکې ختم ته دوه سپارې پاتې وي او وړوکی ورور ته د مشر ورور د نذر منلو علم هم نه و. نو خبر راکړئ چې د قرآن شريف د ختم نه مخکې نذر قبول شو یا د قرآن کریم د ختم نه پس یوبله چیلي ذبح کړي؟

جواب: د وړوکی ورور په وینا باندې چې کله دې گمان سره چیلۍ ذبح کړه چې زما ورور قرآن مجید په حفظ پوره کړی دی. خوهغه نه وي خلاص کړی، او زه نذر پوره کوم. نو نذر پوره نه شو. وروسته به دوباره چیلۍ ذبح کول ضروري وي. [۱]

یوولسمه دولسمه باندې نذر نیازکول

سوال: ...ایاپه یوولسمه دولسمه باندې رڼاگانې کول، په دغو ورځو کې فاتحه کول، یانذر نیاز کول وثواب اوخیروبرکت سبب دی؟ اوکه نه وي، نوگناه خو به نه وي؟

جواب: لنډه داچې شریعت دصدقې خیرات اوایصال ثواب ترغیب ورکړی دی، خوداطریقې خلکودخپل ځان نه جوړې کړې دي، نوځکه ددې کارونوکول جائزنه دي[۲] اوناجائز شی نذرمنل هم گناه ده اود غلط نذرپوره کول هم گناه ده.[۳]

خیرات د فقیر په ځای سپي ته اچول جائز نه دي

سوال: زه روزانه هرماښام یوه روټۍ اویوپلیټ وریژې سپي ته اچوم، فقیرته یې نه ورکوم، ځکه چې دنن سبافقیران ټول دروغ وايي، زه چې سپي ته داخوراک اچوم نوښه کوم؟

جواب: کوم فرق چې په انسان اوسپي کې دی. هماغه فرق سپي او انسان ته ورکړل شوي خیرات کې هم دی اوستاداخیال چې دنن سبا فقیران بناوټي دي بالکل غلط دی، د الله تعالی ډیربندگان محتاج او ضرورت مند دي، خودچاپه وړاندې دخپلې حاجت مندي اظهارنه کوي،

---

[۱] أجمع أصحابنا أن النذ ر بالعبادات اذ اكان معلقا بالشرط و أد اها قبل وجودها لا يجوز سواء كانت العبادة بد نية أو مالية (فتاويٰ تاتارخانية ج : ۵ ص : ۵۰، طبع ادارة القران كراچی)

[۲] وفی البزازية : و يكره اتخاذ الطعام فی اليوم الأول والثالث و بعد الأسبوع ونقل الطعام الى القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة لقراء ة القران وجمع الصلحاء والقراء للختم ... الخ (رد المحتار علی الدرالمختارج : ۲ ص : ۲۴۰، باب صلاة الجنازة، مطلب فی كراهية الضيافة من أهل الميت، طبع سعيد كراچی)۔

[۳] وفی البحر شرا نطه .... أن لا يكون معصية لذ اته .... الخ قال فی الفتح : وأما كون المنذ ور معصية يمنع انعقاد النذ ر فيجب أن يكون معناه اذ ا كان حراما لعينه أو ليس فيه جهة قربة (رد المحتار على الدرالمختارج : ۳ ص : ۷۳۶ كتاب الأيمان، طبع ايچ ايم سعيد)۔

داسې خلکوته صدقه ورکول پکاردي.دد ینی مدرسې طالبانوته ورکول پکاردي.همدغه شان دفی سبیل الله ډیر صورتونه دي،خو ستا دصدقې مستحق یواز سپي پاتې شوي دي؟

❖ نفلي صدقې ❖

دصدقې او خيرات تعريف

سوال: صدقه اوخیرات دیو شي دوه نومونه دي او که څه فرق په کې شته؟

جواب: په اردومحاوره کې دادواړه لفظونه په یوه معنا استعماليږي په قرآن پاک کې دصدقې لفظ دزکات له پاره ویل شوی دی[۱]،او خیرات ټولونیکوکارونوته ویل شوی دی.

د صدقې طريقه

سوال: ۱ دصدقې څه معنا ده؟

۲ ځینې خلک دځپل سرومال صدقه ورکوي،ددې څه مقصددی؟

۳ آیا صدقه څه خاص قسم خیرات دی کوم چې ورکول کیږي؟

۴ په صدقه کې څه ورکول پکاردي اوکوموخلکوته ورکول پکاردي؟

۵ آیا سیدته صدقه ورکول جائزدي؟ که موږ دهغوی مالي خدمت کول غواړو، نوڅه نیت کول پکاردي؟

۶ ډیرخلک لږه شان غوښه راوغواړي اوپه مارغانوباندې یې وخوري او وایي چې دادسرصدقه ده، آیا دا طریقه صحیح ده؟ که نغدې روپۍ غریبانو ته ورکړل شي، نوداعمل څنګه دی؟یاهغه غوښه په غریبانوکې تقسیم کړل شي

۷ اکثر لیدل شوي دي چې ډیرخلک یوازې توره چیلۍ یاتوره چرګه دصدقې په طورورکوي، ایا دتورشي ورکول ضروري دي؟

جواب: دصدقې معنادالله تعالی درضا اوخوشحالولو له پاره دخیرپه کارونوکې مال خرچ کول دي[۲]،دصدقې په قرآن پاک اواحادیثوکې ډیر لوی فضیلت اوترغیب راغلی دی[۳]،

---

[۱] إنما الصّدقات للفقراء والمساكين والعاملين عليها (التوبة : ۶۰)_

[۲] الصدقة : هي العطية التي تبتغى بها المثوبة من الله تعالىٰ (قواعد الفقه ص : ۳۴۸)_

[۳] خذ من أموالهم صد قة تطهرهم وتزكيهم بها (التوبة: ۱۰۳) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الا الطيب فان الله يقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبها كما ير بي أحدكم فلوه حتى تكون مثل الجبل رواه البخارى ومسلم (الترغيب والترهيب ج : ۲ ص : ۳ طبع بيروت)_

د مصيبتونو اوتکليفونودلرې کولوله پاره صدقه ډيرموثر شی دی.[۱]

دالله تعالی په لارکې چې کوم مال هم خرچ کړل شي هغه صدقه ده. هغه چامحتاج ته نغدې روپۍ ورکول، ياخوراک پرې خوړل،ياجامې ورکول يابل څه شی ورکول.دتورچيلي ياچرګې څه خصوصيت نه شته،نه دصدقې له پاره دتورچيلي ياتورې چرګې ذبح کول څه خاص شرط دی.بلکې دهغې نغدقيمت که چامحتاج ته ورکړل شي نوهغومره ثواب يې دی. مرغانوته غوښه اچول اوهغه دسرصدقه ګڼل فضول خبره ده.

اوکه يوځناور وړی وي، نوهغه باندې خوراک ځنباک کول داجرسبب دی،خو ضرورت مندانسان له نظره غوځول اوغوښه مرغانوته اچول بې فيدې حرکت دی،صدقه غريبانو او محتاجوته ورکول کيږي. سيدته صدقه ورکول پکارنه دي، بلکې د هديې اوتحفې په نيت سره دهغه مددکول پکاردي. بياهم هغوی ته نفلی صدقه ورکول جائزدي، زکات اوصدقه فطر نه شئ ورکولی[۲]، همدغه شان عالمانو او صالحانوته هم دصدقې په نيت سره نه بلکې د هديې په نيت سره ورکړه پکارده.

دصدقې يو قسم صدقه جاريه ده، کومه چې دبنده دمرګ نه پس هم جاري وي، مثلاً: يوځای کې داوبوکمی و،هلته يې کوهی وکنيسته،يامسافروله پاره يې مسافرخانه جوړه کړه،جومات يې جوړکړ، يا په جومات جوړلو کې يې برخه واخيسته،ياڅه ديني مدرسه يې جوړه کړه، ياپه څه ديني مدرسه کې دلوستونکوله پاره يې دخوراک، لباس،اوکتابونوغيره انتظام وکړ، ياد يوې ديني مدرسې ماشومانوله پاره يې دقرآن مجيدنسخې واخستلې،يااهل علم ته يې دهغوی دضرورت له پاره ديني کتابونه واخيستل او ورېې کړل او داسې نور... ترڅوپورې چې ددې شيانو فيض جاري وي، دې کس ته به دمرګ نه وروسته هم ددې ثواب ملاويږي.[۳]

د زکات مستحق ته صدقه هم ورکول کيږي

سوال: چاته چې زکات ورکول کيږي، هغه ته د صدقې پيسې هم ورکول کيږي؟

جواب: چاته چې زکات ورکول جائزدي،هغه ته عامه صدقه په اولی درجه ورکول جائز دي.[۴]

---

[۱] عن رافع بن خديج رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الصدقة تسد سبعين بابا من السوء- رواه الطبراني في الكبير (الترغيب والترهيب ج :۲ ص: ۱۹ طبع احياء التراث العربي)_

[۲] ولا يدفع الى بنى هاشم .... هذا في الواجبات كالزكوٰة والنذر والعشر والكفارة فاماالتطوع فيجوزالصرف اليهم كذا في الكافي (عالمگيرى ج :۱ ص ۱۸۹ الباب السابع في المصارف)_

[۳] عن انس بن مالك رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله وسلم : سبع تجرى للعبد بعد موته وهو في قبره من علم علما أو حفر بئرا أو غرس نخلا أو بنى مسجدا أو ورث مصحفا أو ترك ولدا يستغفرله بعدموته رواه البزار (الترغيب والترهيب ج :۲ ص:۷۲، داراحياء التراث العربي،بيروت)_

[۴] انماالصدقات للفقراء والمسٰكين والعاملين عليها (التوبه : ۶۰)

صدقه کله لازمیږي؟

سوال: صدقه په کوموو ختونو کې لازمیږي؟ او هغه شی چې په صدقه کې ورکول کیږي، د هغه صحیح مصرف څه پکار دی؟

جواب: زکات، عشر، صدقه فطر، قرباني، نذر، کفاره، یاخو فرض دي یا واجب دي، له دې نه پرته هیڅ صدقه لازمي نه ده[۱] او که یو کس د یرزیات ضرورتمند وي او تاسو سره ګنجائش وي، نو هغه مدد کول لازمي دي، عام طور سره نفلي صدقه مشکلات او مصیبتونه لرې کولو له پاره ورکول کیږي، ځکه چې په حدیث کې دي چې صدقه مصیبت لرې کوي.[۲]

د خیرات د خوراک د ورکولو صحیح طریقه

سوال: زموږ په محله کې جومات دی، دې ته د محلې خلک د هرې جمعې په شپه د ماښام په وخت کې ډوډۍ راوړي، د خیرات په نیت سره، ملونځ ګزار ګوله دوه واخلي او بیرته شي، همدغه شان هریو لمونځ ګزار ګوله دوه اخلي او روان شي، څوک یې هم په مړه خیټه نه شي خوړلی، ځکه چې هغه دومره نه وي چې د ټولو لمونځ کونکو پرې خیټه ډکه شي آیا غوره نه ده چې هغوی په یو ځای کورته (۵) کسان راوغواړي او په مړه خیټه پرې ډوډۍ وخوري؟

جواب: له دې نه غوره داده چې که په محله کې څوک غریب وي، نو هغه کورته دې ډوډۍ ولیږل شي، یا دومره نغدې پیسې دې ورکړل شي[۳] ځینې خلک یوازې خوراک خوړل صدقه ګڼي، که ضرورتمند ته نغد مال ورکړل شي یا اوړه غله ورکړې شي، دا بالکل صدقه نه ګڼي، همدغه شان ځینې خلک د هرې جمعې په شپه جومات ته ډوډۍ لیږل ضروري ګڼي، حالانکې د صدقې له پاره نه د جمعې شپه شرط ده او نه جومات ته لیږل، چې ترڅو پورې په خوراک باندې دعا ونه کړې شي هغه سره ایصال ثواب نه کیږي، دا هم غلطه ده. تاچې په اخلاص سره د الله تعالی په لارکې هرڅه ورکړل هغه قبلیږي او که تاسو د دې ثواب چا عزیز یا بزرګ ته رسول غواړئ، نو د ایصال ثواب په نیت سره هغه ته ثواب رسیږي.[۴]

۱] ولا یدفع الی بنی هاشم .... هذا فی الواجبات کالزکوٰة والنذر والعشر والکفارة فاماالتطوع فیجوزالصرف الیهم کذا فی الکافی (عالمگیری ج :۱ ص ۱۸۹ الباب السابع فی المصارف)_

۲] عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : باکروا بالصدقة فان البلاء لا یتخطی الصدقة رواه البیهقی (الترغیب والترهیب ج :۲ ص : ۱۹)_

۳] ذکرفی الفتاویٰ ان أداء القیمة أفضل من عین المنصوص علیه وعلیه الفتویٰ کذ افی الجوهرالنیرة (عالمگیری ج : ۱ ص : ۱۹۲، الباب السابع فی المصارف)_

۴] وفی التتارخانیة عن المحیط الأفضل لمن یتصدق نفلا أن ینوی لجمیع...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

د غلا د مال واپسي یا د هغه برابر صدقه

سوال: یوکس څه شی پټ کړ او د غلا کولو وروسته خیال ورته راغی چې داسې کول نه و پکار . خود کوم ځای نه چې هغه شی په ناجائزې طریقې سره حاصل کړی و، هلته د هغه شي رسول هم ممکن نه وي. نو آیا د هغه د قیمت مساوي روپۍ خیرات کولو سره وروسته په هغه مال کې تصرف کې کولی شي؟

جواب: که د هغه کس ځای معلوم وي، نو هغه شی یا د هغه قیمت هغه ته رسول لازمي دي، په روپۍ لیږلو کې خوڅه شک نشته. په هرحال که د هغه کس پته معلومه وي، نو د هغه له طرف نه قیمت صدقه کول کافي نه دي، بلکې هغه ته رسول ضروري دي. او که هغه کس مړشوی وي او د هغه وارثان معلوم وي. نو هر وارث ته د هغه برخه رسول لازم دي او که د هغوی پته معلومه نه وي. نو د هغه له طرف نه دې هغه شی صدقه کړل شي.[۱]

د داسې شي صدقه چې مالکیې نامعلوم وي

سوال: د څو ورځو مخکې خبره ده چې سخت باران شروع و، په هغه کې یوه بیزه په منډه موږ کره راغله او زموږ د بیزې سره ودرېده کله چې باران ودرید، نو موږ هغه بهر ووېستله. چې له کوم ځای نه راغلې وي هلته لاړه شي، خو هغه به بار بار موږ کره راتله او زموږ بزې (چیلی) سره به یو ځای کېده، اخر موږ مجبور شو او هغه مو بهر وویستله او دروازه مو بنده کړله، داسې حالت کې زموږ د محلې هر کس دا غوښتل چې بیزه موږ ته ملاوشي او د هغوی اصرار هم دغه و، چې بیزه دې هغوی ته ورکړل شي، خو موږ ورنه کړله، هغه مو ځان سره کړه په علاقه کې موټرلیرې لیرې پورې وګرځوله. چې د مالک پته یې ولګیږي، خو پته یې ونه لګیده، په اخر کې موږ بیزه له ځان سره کړه، چې که مالک یې راشي. نو هغه ته به یې ورکړو، د دوه میاشتې کېدو باوجود د مالک پته ونه لګیده او نه هغه په خپله راغی، اوس موږ بیزه خرڅول غواړو او د خرڅولو نه وروسته روپۍ د مطلوبه کس په نوم سره خیرات یا دینې اداري ته ورکول غواړو، پوښتنه داده چې زموږ دا عمل صحیح دی او که غلط؟ او که غلط دی، نو موږ څه وکړو؟

...بقیه د تیرمخ]... المؤمنین والمؤمنات لأنها تصل الیهم ولا ینقص من أجره شيء (ردالمحتار علی الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۵۷. مطلب الأفضل علی أن ینوی بالصدقة جمیع المؤمنین والمؤمنات)۔

[۱] علیه دیون ومظالم جهل اربابها و أیس من علیه ذالک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله وان استغرقت جمیع ماله هذا مذهب أصحابنا.... .. وسقط عنه المطالبة من أصحاب الدیون فی العقبی وفی الشرح قوله جهل أربابها یشمل ورثتهم فلوعلمهم لزمه الدفع الیهم لأن الدین صارحقهم (شامی ج : ۴ ص : ۲۸۳، کتاب اللقطه)۔

جواب: ستاسو عمل صحیح دی، همدغه کول پکاردي، خو چې دا نیت هم ورسره وي چې که وروسته ددې مالک معلوم شو او زموږ نه یې د بیزې د قیمت مطالبه وکړ، نو موږ به هغه ته روپۍ واپس ورکوو او دا صدقه به زموږ له طرف نه شماریږي.[1]

ورک شوی شی صدقه کول

سوال: عرض دادی چې ما ته د دفترپه تشناب (بیت الخلاء) کې یوه ګړۍ (ساعت) لاس ته راغله. ما دهغې ګړۍ اطلاع نزدې ټولو دفترونو ته وکړه، نزدې جومات کې مې اعلان وکړ، له دې نه پرته مې اشتهار ولیکه او مناسبو ځایونو کې مې ولګاو، چې خلکو ته معلومه شي او ساعت اصلي مالک پیداشي، چې امانت یې ورته وسپارم ، ددې واقعې تقریبا یوه نیمه میاشت شوې ده. خو مالک یې پیدا نه شو، تاسو ته خواست دی چې د شریعت مطابق ددې حل وښیئ چې په دې ساعت څه وکړم؟

جواب: که چیرې دهغې دمالک دپیدا کېدو امکان نه وي، نو دمالک له طرف نه یې صدقه کړه، بیا که چیرې مالک پیداشو، نو هغه ته اختیار دی چې هغه ددغې صدقې اجازه وکړي او یا تاسو نه دګړۍ قیمت حاصل کړي، دغه صدقه بیا به ستاسو له طرف نه ګڼل کیږي.

دوکان کې د پریښودل شویو شیانو سره څه وکړو

سوال: زما دوکان ته ګاک راځي، کله ناکله یو څوک زموږ په دوکان کې د خوراک څښاک شیان چې هغه میوې وغیره وي دهیریدو له وجې پریږدي، پوښتنه داده چې دغو شیانو باندې څه وکړو؟

(۱) که چیرې دغه شیان دامانت په طور کیښودل شي، دډیروخت کیښودو له وجې هغه خراب شي. (۲) ایا یو غریب ته یې ورکول جائز دي او که پخپله یې اخیستلی شو؟

(۳) یا هغه خرابیدو ته پریښودل پکار دي؟

جواب: ددغو میوو دخرابیدو پورې دهغه دمالک انتظار کول پکار دي، کله چې دخرابیدو ویره وي. نو دمالک له طرف نه یې محتاج ته ورکول پکاردي، که چیرته یې بیامالک راشي، نو هغه ته صحیح خبره کول پکاردي، که چیرته مالک دهغې صدقې اجازه ورکړي خو صحیح ده، که نه. مالک ته دهغو میوو قیمت ورکړئ او دغه صدقه به ستاسو له طرف نه ګڼل کیږي.

---

[1] فينتفع الرافع بها لو فقيرا والا تصدق بها على فقير ولو على أصله وفرعه وعرسه ... فان جاء مالكها بعد التصدق خير بين اجازة فعله ولو بعد هلاكها وله ثوابها أو تضمينه . الخ (الدرالمختار مع الرد ج : ۴ ص : ۲۷۹، ۲۸۰)

د چیلی په ورک شوي بچي باندې څه وکړو

سوال: یو پلاټ ته د سهار په وخت کې د چیلی یو بچی (چې عمریې تقریبا دوه میاشتې دی) راغی. هغه ځوځو واري وشړل شو، خو نه خي. د ګاونډیانو نه پوښتنه وشوه، خو د هیچا هم نه و، د هغې علاقې د شپونکي نه پوښتنه وشوه، هغه هم انکار وکړ، جوماتکې په لاؤډسپیکر باندې اعلان وشو، خو څوک ورپسې رانغلل، اوس هغه تقریبا د لسو میاشتو شوی ده، د شریعت مطابق څه قانون پرې لازمیږي؟

جواب: که چیرته د پلټنې باوجود د هغه مالک نه پیدا کیږي، نو د هغه حکم د ورک شوي شي دی. چې د مالک له طرف نه د صدقې په نیت باندې غریب محتاج ته ورکړل شي او که چیرته مالک یې پیدا شي، نو هغه ته به اختیار وي چې صدقه جاري وساتي یا له تاسو نه د هغه نغد قیمت واخلي. دویم صورت کې به دا صدقه ستاسو له طرف نه وي.

❖ د صدقې او فقیرانو متعلق مسئلې ❖

د مجبورۍ له وجې خلکو نه د غوښتنې باره کې شرعي حکم

سوال: زه د شپږم ټولګي زده کونکی وم، چې زما پلار ناروغ شو او د ګټې کولو قابل پاتې نه شو، زمانه مشر ورور شته او نه مې خاندان کې څوک مدد کونکي، چې د هغو په ذریعه باندې زموږ د کور نظام وچلیږي، زموږ مورد خلکو په کورونو کې کارونو کولو سره موږ ساتي، خو زموږ کور کې اته کسان وو او د ګرانۍ له وجې موګذاره نه کېده، نو د مجبورۍ له وجه زموږ مور خلکو کره کارکولو سره خپل حالات ورته بیانولو او مدد خواست به یې ورته کاو، زما پلار درې کاله ناروغ و او بیا وفات شو، ماسبق پرېښود او مزدوري مې شروع کړه، اوس د الله تعالی فضل او کرم دی چې ما دوو خویندو ودونه هم وکړل، خپل واده مې هم کړی دی، د مور خدمت هم کوم، اوس مسئله داده چې ما د خلکو نه اوریدلي دي چې د خیر ټولونکي په تندی باندې به د خیر غوښتلو داغ وي او خیر ټولونکي جنت ته نه شي تللی، زه د خپلې مور باره کې ډیرزیات خفه یم، ځکه چې څه ورځې هغې هم د مجبورۍ له وجې د خلکو نه خیر غوښتی و، مهرباني وکړئ او وضاحت وکړئ چې دا خبره صحیح ده چې خیر غوښتونکی جنت ته نه شي تللی؟

جواب: کوم خلک چې خیر غوښتل د پیشې په ډول خپل کړي، د هغوی باره کې سخت وعید راغلی دی[1]. خو کوم شریف خلک چې د مجبورۍ له وجې سوال کوي، هغه د دې وعید

---

[1] عن قبیصة ابن مخارق رضی الله عنه قال : تحملت حمالة فاتیت ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

مستحق نه دي. ستاسو مور که چیرته سوال کړی دی. نو د پیشې په ډول باندې یې نه دی کړی، بلکې د مجبوري له وجې یې کړی دی، له دې وجې د هغې باره کې دخفه کېدو ضرورت نه شته. الله تعالی دې توفیق درکړي چې څومره مود خلکو نه اخیستي دي چې د هغو نه یې زیاتو خلکوته ورکړئ.

ایا صدقې سره مرګ وروسته کیږي

سوال: حضرت امام جعفر صادق رحمه الله ته یو روایت منسوب دی چې د صدقې له وجې مرګ هم وروسته کیږي. ایا دا صحیح دی؟ او په ام الکتاب کې د مرګ وخت مقرر اونه بدلیدونکی بنودل شوی دی، نو دا څنګه ممکن دي؟ وضاحت وکړئ!

جواب: د روایت کوم الفاظ چې تاسو نقل کړي دي، هغه خو چیرته په نظر نه دي راغلي، خو د ترمذي شریف روایت کې دي چې صدقه د الله تعالی غضب منع کوي او غلط مرګ وروسته کوي[۱] او د طبراني روایت کې دي چې د مسلمان عمر د صدقې له وجې زیاتیږي او غلط مرګ یې وروسته کیږي او الله تعالی د صدقې د برکت له وجې کبر، فقر او فخر لرې کوي[۲] کله چې د مرګ وخت راشي، نو بیا هغه نه وروسته کیږي، خو ځینې اعمال او اسباب د عمر زیاتولو والا بنودل شوي دي، که چیرته څوک د غه اعمال شروع کړي، نو عمر به یې ضرور زیاتیږي او د الله تعالی په علم کې دا خبره د مخکې نه وي چې دا کس به د غه عملونه کوي او که نه؟ د الله تعالی په علم کې د مرګ وخت مقرر دی.[۳]

...بقیه د تیرمخ]... رسول الله صلی اللّه علیه وسلم أسئله فیها، فقال أقم حتی تأتینا الصدقة فنأمرلک بها ثم قال : یاقبیصة ! ان المسئلة لاتحل الا لأحد ثلاثة رجل تحمل حمالة فحلت له المسئلة حتی یصیبها ثم یمسک و رجل اصابته جائحة اجتاحت ماله فحلت له المسئلة حتی یصیب قواما من عیش أو قال سدادا من عیش ورجل أصابته فاقة حتی یقوم ثلاثة من ذوی الحجة من قومه لقد أصابت فلانا فاقة فحلت له المسئلة حتی یصیب قواما من عیش أو قال سدادا من عیش فما سواهم من المسئلة یا قبیصة سحت یأکلهاصاحبها سحتا (مشکوٰة ص : ۱۶۲، باب من لاتحل له المسئلة من تحل له، طبع قدیمی کتب خانه)_

۱]عن أنس بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الصدقة لتطفي غضب الرب وتدفع میتة السوء (ترمذی ج : ۱ ص : ۱۴۴، باب فضل الصدقة)_

۲]صدقة المرء المسلم تزید فی العمر وتمنع میتة السوء ویذهب بهاالله الفخروالکبر (کنزالعمال ج:۶ ص:۳۶۱)

۳] عن انس رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله وسلم: من احب ان یبسط له فی رزقه و ینساله فی أثره فلیصل رحمه متفق علیه (مشکوٰة ص:۴۱۹، باب البر والصلة) وفی شرحه: انه بالنسبة الیٰ ما یظهر للملائکة فی اللوح المحفوظ ونحو ذالک فیظهر لهم فی اللوح ان عمره ستون سنة الا ان یصل رحمه فان وصلها زید له اربعون وقد علم الله تعالی ما یسقع له من ذلک وهو من معنی قوله تعالیٰ: یمحوالله ما یشاء ویثبت ...... الخ (المرقاة ج:۴ ص: ۶۶۷)_

ایا په سړکونو سوال کونکیو ته صدقه ورکول غوره دي او که نه

سوال: ډیری په سړکونو او بازارونو کې باخای په ځای ناست فقیران په نظر راځي او هغوی د هر یوکس نه سوال کوي. هغوی کې څه ضرورت مندوي او اکثرپکې ډیپیشي په ډول خیر غواړي. خو مسافرو او لاروپانو ته ددې معلومات نه وي چې اصلي کوم دي او نقلي کوم دي؟ له دې وجې خینې خیرات ورکونکي غیرحق دارو خلکوته ورکړي. له همدې وجې خینې خلک خیرات ورکوي او خینې یې نه ورکوي. نودې صورت کې دخیرات ورکونکي ثواب کیږي او که نه؟ اوس که هغه ضرورت مندته ورکړي وي او که پیشه دار ته. ځکه چې دې باره کې خیرات کونکي نه معلوم نه وي اوخیني خلک خیرات نه ورکوي، که هغه ضرورت مندوي او که پیشه دار. ځکه چې نه ورکونکي ته هم دا معلومات نه وي، نوایادې صورت کې به هغه ته عذاب وي؟

جواب: د خیرات ټولولو کسب کونکي ته خیرات ورکول جائزنه دي[1]، هغوی کې اکثر مالدار وي. دهغوی له پاره سوال کول حرام دي اوهغوی ته خیرات ورکولوسره دهغوی په پیشه کې دهغوی مدد کیږي. له دې وجې داهم جائزنه دي اوهغوی ته زکات ورکولوسره زکات هم نه اداکیږي[2] که چیرته دیوکس باره کې دایقین وي چې دی په رښتیا باندې مستحق دی. نوهغه ته خیرات ورکولی شئ اودورکولوثواب به هم وي، خوزکات هم هغو خلکوته ورکول پکاردي کوم چې رښتیا باندې محتاج وي، دخیرغوښتلوپیشه یې نه وي.

پیشه ورخیرمارو ته خیرات ورکول نه دي پکار

سوال: تاسو نه معلومول غواړم چې دشریعت لحاظ سره خیرات ورکول جائزدي؟ ځکه چې دنن سبا دورکې داسې خلک هم خیرات غواړي کوم چې بالکل جوړ وي اوهغوی ته خیرات ورکول جائزدي او که ناجائز؟ که چیرته ورکړل شي، نوڅه ګناه خوبه نه وي؟ ځکه چې موږ ته دا معلومه نه وي چې دوی کې یتیمان. مسکینان یاکونډې شته او که نه؟ ایادوی کې یتیمان. مسکینان اوکونډې کېدای شي؟ په شکل باندې نه ښکاري او که چیرې ورنه کړل شي. نوویره وي چې چیرته موږ دالله تعالی دحکم نافرماني خوونه کړه، چې دهغه له وجې به موږته سزاراکړل شي

---

[1] ولا يحل أن يسأل شيئا من القوت (من له قوت يومه) بالفعل او بالقوة كالصحيح المكتسب .... الخ وفي الشامية و يأثم معطيه ...الخ قال الاكمل في شرح المشارق: وأما الدفع الىٰ مثل هذا السائل عالما بحاله فحكمه في القياس الاثم به لانه اعانة على الحرام لكنه يجعل هبة وبالهبة للغني أو لمن لا يكون محتاجا اليه لايكون اثما. اى لان الصدقة على الغني هبة كما ان الهبة للفقير صدقة (شامي ج: ۲ ص: ۳۵۵، مطلب في الحوائج الاصلية)۔

[2] ولا يجوز دفع الزكوٰة الىٰ من يملك نصابا اى مال كان دنانير أو دراهم أو سوائم...الخ (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۱۸۹، الباب السابع في المصارف)۔

جواب: پیشه ورخیرماروته نه دي ورکول پکار اوکه چیرته دهغوی نه پرته یقین وي چې یوکس په رښتیاباندې محتاج دی. نوورکول پکار دي، که نه. نه [۱]

ایا د پیشه ورخیرګرپه باره کې تنبیه راغلې ده

سوال: ما په یو کتاب کې لوستلي دي چې د پیشه ور سائل په اعانت باندې تنبیه راغلې ده. په دې صورت کې ماته د سائل اعانت کول پکار دي اوکه نه؟

جواب: د پیشه ور سائل په باره کې چې کومه تنبیه ده. هغه صحیح ده. خوکه چیرته څوک په رښتیا حاجت مند وي. نودهغه اعانت ضرور کول پکار دي. خوکه چیرته د حالاتو نه څرګندیږي چې دا سړی پیشه ورسائل دی. نودهغه اعانت دې ونه شي. [۲]

پیشه ورسائل ته خیرات ورکول، بل داچې په جوماتونو کې سوال کول اوهغه ته ورکول

سوال: د خیرات متعلق د حضور ﷺ فرمان دی چې خیرات مه بندوئ تاسو نه به رزق بند کړل شي. یوعالم د ټي وي پروګرام کې وویل چې عامو خیرګرو ته خیرات ورکول جائز نه دي اوبیوازې داسې سړي ته ورکول کېدای شي چې هغه سره د یو وخت خوراک له پاره څه نه وي او هغه هم تصدیق شده خبره وي. حالانکې د نن سبا د خیرګرو متعلق دا معلومول ناممکن دي. بلکې شاید یو خیرګر او غوښتونکی داسې نه وي چې هغه سره د یو وخت د خوراک له پاره څه نه وي. تاسو مزید وضاحت وکړئ چې خیرات چاچا ته ورکول کېدلی شي ددې له پاره چې خیرات ورکونکي د ثواب په ځای ګناهګار نه شي؟

په جوماتونو کې د فرض جمعې نه فورا وروسته ځینې خلک په لوړ اواز سره امداد او خیرات غواړي اوپه تفصیل سره خپل حالات بیانوي. چې په هغه سره ځان ته لمونځ کوونکو

---

[۱] عن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ليس المسكين الذى يطوف على الناس ترده اللقمة واللقمتان والتمر والتمران ولكن المسكين الذى لا يجد غنى يغنيه ولا يفطن به فيصدق عليه ولا يقوم فيسال الناسبخارى ج: ۱ ص: ۲۰۰، كتاب الزكوٰة) ايضا: ويجوز دفعها الىٰ من يملک أقل من النصاب وان كان صحيحا مكتسبا كذا فى الزاهدى (عالمگيرى ج: ۱ ص: ۱۸۹،الباب السابع فى المصارف)_

[۲] ولا يحل ان يسال شيئا من القوت (من له قوت يومه) بالفعل أو بالقوة كالصحيح المكتسب ... الخ وفى الشامية : ويأثم معطيه ... الخ قال الأكمل فى شرح المشارق: واما الدفع الىٰ مثل هذا السائل عالما بحاله فحكمه فى القياس الاثم به لانه اعانة على الحرام لكنه يجعل هبه و بالهبة للغنى أو لمن لا يكون محتاجا اليه لا يكون اثما، اى لان الصدقة على الغنى هبة كما ان الهبة للفقير صدقة(شامي ج:۲ ص:۳۵۵، مطلب فى الحوائج الاصلية)

په لمونځ کې خلل واقع کیږي. ایا په جوماتو کې خیر غوښتل جائز دي؟ او هغه ته ورکولو والا ګناهګار خو به نه وي؟

جواب: پیشه ور خیرګر عام طور باندې محتاج نه وي. هغه ته خیرات ورکول نه دي پکار، که په جوماتو کې یې غواړي یا بهر.خو دچا په باره کې چې زړه ګواهي ورکړي چې بیچاره ضرورت مند محتاج دی، هغه ته ورکول پکار دي. [۱]

د پیشه ور خیرګرو مستحق کیدل به څنګه معلومیږي

سوال: اکثره وختونو کې خاص طور باندې د زیارت او جمعې په ورځ فقیران راځي. چې مختلفو تکلیفونو بیانولو سره خیر او امداد غواړي او د ځینو خلکو نه مې اوریدلي دي چې دا فقیر خو د پیشې په طور باندې خیرغواړي، دی زموږ نه هم ښه ژوند تیروي. خیر د زړونو له حاله خو الله خبر دی. پوښتنه داوه چې دیو عام مسلمان ته دهغو فقیرانو په اوازونو باندې څه ردعمل پکار دی؟ ایا هغوی ته خیرات ورکول پکار دي اودهغه اوازونه اوریدلو سره زړه ته څه سوچ کول پکار دي؟ یا په زړه کې تمنا پیدا کېدل پکار دي؟ تفصیل سره د قرآن اوحدیث په رڼا کې ووایئ!

جواب: په هغوی کې ځینې په رښتیا ضرورت مند هم کېدای شي، خو عام طور باندې دا خلک پیشه ور وي او خیر غوښتو سره نشه کوي. په هغوی کې ډیرخلک د پوډرو وغیره عادي شي. له دې وجې پیشه ور خیرمارو ته صدقه ورکول جائز نه دي.خو که چیرته د چا په باره کې زړه ګواهي درکړي چې دی په رښتیا مستحق دی، هغه ته ضرور ورکول پکار دي.[۲]

پیشه ورسائل ته ورکول

سوال: ما د علماء کرامو نه اوریدلي دي چې حضور ﷺ کله هم یوسائل واپس کړی نه دی، خودمولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله تصنیف «دین ودنیا» کې د پیشه ور سائل په اعانت باندې تنبیه راغلې ده. په دې صورت کې ماته د سائل اعانت کول پکار دي او که نه؟

جواب: د پیشه ورسائل په باره کې حضرت تهانوي رحمه الله چې څه لیکلي دي، هغه صحیح دي. ددې له وجې که چیرته په رښتیا څوک حاجت مند وي. نودهغه اعانت ضرور کول پکار

---

[۱] ایضا تیره شوی حواله)

[۲] ولا یحل ان یسال شینا من القوت (من له قوت یومه) بالفعل أو بالقوة کالصحیح المکتسب ... الخ وفی الشامیة : ویأثم معطیه ... الخ قال الاکمل فی شرح المشارق: واما الدفع الیٰ مثل هذا السائل عالما بحاله فحکمه فی القیاس الاثم به لانه اعانة علی الحرام لکنه یجعل هبه و بالهبة للغنی أو لمن لا یکون محتاجا الیه لا یکون اثما، ای لان الصدقة علی الغنی هبة کما ان الهبة للفقیر صدقة(شامی ج:۲ ص:۳۵۵، مطلب فی الحوائج الاصلیة)

دي. خو که چيرته د حالاتونه محسوسه شي چې دا سړی پيشه ورسائل دی. نو دهغه اعانت دې ونه شي [۱]

په خيرات کې د مالدارو شامليدل

سوال: هريو خيرات چې وي چې د غريبانانو حق دی، که چيرته امير شامل شي. نو ايا خيرات به صحيح وي؟

جواب: صدقه وخيرات د فقيرانو حق دی، مالدارو ته تلل نه دي پکار. [۲]

ايا خيرات او نذر، ګاونډي ته ورکول کېدای شي

سوال: خيرات. نذر، ګاونډي يا عام سړي ته ورکول کېدلی شي او که نه؟

جواب: يوازې مستحقو غريبانو ته ورکول کېدلی شي. [۳]

له نفلي صدقې شوي دعوت کې د مالدار سړي شرکت

سوال: له نفلي صدقې شوي دعوت کې دمالدار شرکت د مالک په اجازې سره جائز دی؟

جواب: نفلي صدقه کې د مالدار سړي شرکت جائز دی اود ثواب فيصله به د قيامت په ورځ الله تعالی کوي. [۴]

که چيرته د شپې خوراک د کمپنۍ په ذمه وي، نو ملازمينو باندې به خوړل شوې غوښه صدقه نه وي

سوال: تاسو ماته د شرعي صدقې د حيثيت په باره کې ووايئ، يعني د صدقې په غوښه کې د چا چا حق دی؟ زه چې په کومه کمپنۍ کې کار کوم، هلته مونږ خلکو ته د شپې خوراک راکول کيږي. اوس څه مودې راهيسې دا سلسله شروع شوې ده، د کمپنۍ مالکان چيلۍ راغواړي او ذبح کوي.يې او دا غوښه د شپې په خوراک کې مزدورانو ته ورکول کيږي.

---

[۱] ولا يحل ان يسال شيئا من القوت (من له قوت يومه) بالفعل أو بالقوة كالصحيح المكتسب ... الخ وفى الشامية : ويأثم معطيه ... الخ قال الكمل فى شرح المشارق: واما الدفع اليٰ مثل هذا السائل عالما بحاله فحكمه فى القياس الاثم به لانه اعانة على الحرام لكنه يجعل هبه و بالهبة للغنى أو لمن لا يكون محتاجا اليه لا يكون اثما، اى لان الصدقة على الغنى هبة كما ان الهبة للفقير صدقة(شامى ج:۲ ص:۳۵۵، مطلب فى الحوائج الاصلية)

[۲] انماالصدقات للفقراء والمسٰكين ..... الخ (التوبة : ۶۰)

[۳] ايضاً_)

[۴] لأن الصدقة على الغنى هبة(شامى ج: ۲ ص: ۳۵۵، مطلب فى الحوئج الاصلية، طبع ايج ايم سعيد)

ځینې خلکو نه مې پوښتنه کولو سره پته ولګیده چې دا دصدقې غوښه ده او ځینې وایې دا د الله له پاره ده

سوال دادی هرکله چې د شپې خوراک په کمپنۍ والا دی. نو داسې د صدقې غوښه په اسټاف والو (مزدورانو) باندې خوړل جائز دي اوکه نه؟ اود اسټاف (مزدورانو) چې په هغوی کې سید حضرات هم شامل دي. دا خوراک خوړل جائز دي؟ زموږ د ملګري وینا ده ځکه چې د شپې روټۍ د کمپنۍ په ذمه ده. نو ددې له وجې دهغوی صدقه نه ده شوې او زموږ دا خوراک جائز دی

جواب: ستاسود ملګري دا وینا صحیح ده د شپې روټۍ د کمپنۍ په ذمه ده. له دې وجې دا ډوډۍ هم ګویا په مزدورۍ کې شامله ده او په مزدورۍ کې د ورکړل شوي شي صدقه نه کیږي [1] له دې له وجې تاسو ته دهغه خوړل جائز دي.

صدقه نغدې ورکړل شي یا د خوراک په شکل کې

سوال: د صدقې ورکولو اصل صورت څه دی؟ د خوراک په صورت کې صدقه ورکړو یا یو ضرورت مند ته نغدې روپۍ ورکړل شي؟ په دې دواړو صورتونوکې ثواب په کوم یو کې زیات دی؟

جواب: که نغدې ورکړل شي، نو ډیره ښه ده. پخولوسره یې هم ورکولی شئ. [2]

ایا څارویوباندې صدقه کول غوره دي که انسانانو باندې

سوال: صدقه څنګه ادا کول پکار دي؟ ایا مرغانو باندې غوښه خوړل جائز دي؟

جواب: مرغان خپل رزق پخپله لټوي. انسانانو باندې خوړل غوره دي. [3]

د صدقې څاروي نه پخپله خوراک کول

سوال: که چیرته یو سړی یو څاروی صدقه کړي او هغه ذبح کولو سره دهغه غوښه په خلکو کې تقسیم کړي. نو ایاهغه پخپله یادهغه دکورنۍ کسان په هغه غوښه کې غوښه اخیستلی شي اوکه نه؟

---

[1] ولا تحسب أجرة العامل ونفقة البقروكرى الأنهار وأجرالحفاظ وغيرذ الك (عالمگيرى ج : ١ ص : ١٨٧)

[2] ودفع القيمة أى الدراهم أفضل من د فع العين على المذ هب المفتيٰ به جوهرة .. الخ (وفى الشامية :لأن العلة فى أفضلية القيمة كونها أعون عليٰ د فع حاجة الفقير لاحتمال أنه يحتاج غيرالحنطة .... الخ (شامى ج : ٢ ص : ٣٦٦)

[3] انماالصدقات للفقراء والمسٰكين ..... الخ (التوبة : ٦٠)

جواب: څاروي ذبح کولو سره صدقه نه کیږي. بلکې چې څومره برخه خیرات کړل شي هغه به صدقه وي او څومره یې چې خپله وخوړله هغه به صدقه نه وي. [۱]

د صدقې له پاره د تورې چیلۍ تخصیص

سوال: زموږ په معاشره کې ځینې رسوماتو باندې عمل ضروري ګڼل کیږي. مثلاً: د صدقې له پاره باید توره چیلۍ ورکړل شي، بله داچې د چا له طرف نه چې صدقه ورکول کیږي. هغه دې د صدقې په څاروي باندې لاس راکاږي، ایا ددې یو شرعي حیثیت شته؟

جواب: د صدقې کولو حکم شته او صدقې کولو سره افتونه او مصیبتونه لیرې کیږي، خو دا نورې خبرې چې تاسو لیکلي دي چې چیلۍ توره وي، په هغې باندې لاس راکاږل کیږي، هغه ټولې خبرې له ځانه جوړې شوي دي. [۲]

د الله تعالی د نوم په ځای د سر صدقه ورکول

سوال: یو عامل صاحب ویلي دي چې کوم خلک په مصیبتونو کې مبتلا وي، هغوی ته پکار دي چې په ځای د یو نوم طرف ته منسوب کولو یوازې دخپل سر صدقه ورکړي، صدقه ادا کولوسره مصائب لیرې کیږي او هغه وایي چې صدقه یوازې دخپل سر کیږي. خو موږ تراوسه پورې چې کله صدقه ورکوو. نو د الله په نوم باندې یې ورکوو اې الله! دا خیرات ستا د نوم دی. زموږ په حال باندې رحم وکړه.

حضرت! ایا د عامل وینا صحیح ده که غلطه؟ صحیح طریقه څه ده؟ او که چیرته غلطه ده څنګه چې زموږ ګمان دی. نو دهغه وضاحت وکړئ. ډیره مهرباني به مو وي.

جواب: دخپل سر د صدقې مطلب هم د الله په نوم باندې وي. له دې وجې صحیح دی. خپل طرف نه صدقه کول. دا صدقه هم في سبیل الله وي. [۳] د عامل دا وینا هم صحیح ده چې صدقې سره مصیبتونه لیرې کیږي. [۴]

---

[۱] کما فی الحدیث : وروی عن عائشة رضی الله عنها أنهم ذبحوا شاة. فقال النبی صلی الله علیه وسلم : ما بقی منها قالت مابقی منها الا کتفها،قال: بقی کلها غیرکتفها رواه الترمذی، و قال : حد یث حسن صحیح، ومعناه أنهم تصدقوا بها الا کتفها (الترغیب والترهیب ج : ۲ ص : ۶، طبع دار احیاء التراث العربی)

[۲] وروی عن أبی بکرالصد یق رضی الله عنه قال : سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم علی اعواد المنبریقول : ا تقوا النار ولو بشق تمرة فانها تقیم العوج و تد فع میتة السوء وتقع من الجائع موقعها من الشعبان رواه أبویعلی والبزار (الترغیب والترهیب ج : ۲ ص : ۱۱، طبع دار احیاء التراث العربی، بیروت)

[۳] وروی عن میمونة بنت سعد أنها قالت : یا رسول الله ! افتنا عن الصدقة؟ فقال : انها حجاب من النار لمن احتسبها یبتغی بها وجه الله عزوجل رواه الطبرانی (الترغیب والترهیب ج : ۲ ص : ۱۷، طبع دار احیاء التراث العربی، بیروت)

[۴] و روی عن رافع بن خد یج رضی الله عنه قال : قال...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

د صدقې پيسې چيرته خرچه شي

سوال: زه اکثر د صدقې پيسې جدا کوم او خان سره يې ږدم، چې کله يو فقير راشي، نو يو دوه روپۍ هغه ته ورکوم او سل پنځوس روپۍ يو امدادي ادارې ته ليږم. ايا دا طريقه صحيح ده؟ ځکه چې فوري طور باندې ځوک نه پيداکيږي چې پيسې ورکړل شي. د کور والاوو وينا ده چې د صدقې پيسې هغه وخت ورکول پکار دي، کوم وخت چې صدقه ادا کوې.

جواب: هرکله چې تاسو سره د صدقې پيسې جمع شي، نو يوې ديني مدرسې ته يې ليږه! دې له پاره چې تاته د ديني علومو ويلو او ښودلو ثواب ملاو شي. [1]

د قرآن کريم د ختم نه وروسته صدقه او خيرات کول

سوال: ايا ختم قرآن او ايت کريمه ختمولو نه وروسته صدقه وخيرات يا زکات ادا کول ضروري دي او هغه په کومو خلکو باندې خرچه کېدلی شي ؟

جواب: د ختم قرآن ياد ايت کريمې په ختم باندې زکات ويستل ضروري نه دي، هغسې صدقه او خيرات سړی چې کله هم کوي ښه خبره ده. [2]

پخپل ژوند کې د صدقه جاريه اهتمام کول

سوال: که چيرته يو سړی د اخرت ذخيره کولو په خيال يو نيک کار وکړي، مثلاً: يو جومات يې جوړ کړ، په يو مدرسه کې يې برخه واچوله، سپارې يې په جومات کې کېښودلې، همدغه شان ديو غريب اعانت يې وکړ، نو ايا دهغه له پاره جائز ده؟ ځکه چې د وارثانو نه خو توقع نه شته چې دهغه په مال کې د صدقه جاريه له پاره څه خرچه کړي.

جواب: دا نه يوازې جائز ده، بلکې غوره او افضل ده چې سړی پخپل ژوند کې دخپل ځان له پاره د اخرت ذخيره جمع کولو اهتمام وکړي. [3]

...بقيه د تيرمخ]... رسول الله صلى الله عليه وسلم : الصد قة تسد سبعين بابا من السوء رواه الطبرانى فى الكبير (الترغيب والترهيب ج :۲ ص: ۱۹ طبع احياء التراث العربى بيروت)

[1] وفى المعراج : التصدق على العالم الفقير أفضل (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۳۵۴، باب المصرف)

[2] وفى رواية : من استطاع منكم أن يستترمن النار ولو بشق تمرة فليفعل رواه البخارى ومسلم (الترغيب والترهيب ج :۲ ص: ۱۰ طبع احياء التراث العربى بيروت)

[3] حدثنا أبوهر يرة قال : جاء رجل الى النبى صلى الله عليه وسلم فقال : يا رسول الله ! أى صدقة أعظم أجرا؟ قال : أن تصدق و أنت صحيح شحيح تخشى الفقر و تأمل الغنى و لا تمهل حتى بلغت الحلقوم ... الخ (بخارى ج : ۱ ص : ۱۹۱)

د حکومت نه غلا شويو پاتې پيسو باندې خيرات کول

سوال: هرڅوک چې وي چې د حکومت نه غلا کوي. لکه بجلي. شوه يا بل کوم يو شی وي چې حکومت ته معلوم نه دی، مګر الله تعالی يېويني. نو تاسو ووايئ چې دا پيسې چې کومې بچ کړي. هغه جائز شوې؟ صفا صفا وليکئ او حلال رزق هم ګټې. هغه سره خو يو ځای کېږي نه؟ او درود. فاتحه وغيره هم په اهتمام سره وايي. نو ايا دا ټول ثواب هغه خلکو ته رسيږي دچا په نوم چې کوي؟ او کولو والا ته هم ثواب ملاويږي او که نه؟

جواب: د حکومت د غلا پيسې ناجائز دي، په هغه کې چې کومه صدقه وکړل شي، دهغه ثواب نه ملاويږي. [١]

د رشوت د پيسو او د ځمکې د پيداوار د خاوند صدقه او خيرات کول

سوال: زيد خپله ځمکه چې په هغې کې زيد کرونده کوي خپل نژدې خپلوان ته په اجاره باندې ورکړه، د زيد هغه خپلوان د پوليس ډي ايس پي عهدې باندې دی. هغه ته په کثرت سره د رشوت پيسې راځي،خو هغه سره دخپلې کروندې له پاره ځمکه هم شته چې تقريباً ۱۲۰۰ ايکړ ده چې هغه ته خپل پلار پخپل ژوند کې د جدابرخې په طور ورکړې ده. اوهغه د رشوت په پيسو باندې نه ده اخستې، اوس د غالب ګمان مطابق هغه سره يعنې د زيد د رشته دار سره حرام مال زيات دی په نسبت د حلال مال. ځکه چې رشوت زيات ملاويږي. اوس پوښتنه دا ده چې ايا زيد ته چې د اجارې پيسې دخپلې حلالې ځمکې په عوض کې ملاويږي هغه حلالې دي يا حرامې؟ هغه زيد پخپل ذاتي استعمال کې راوستلی شي اوکه نه؟ يو ديني مصرف يعنې جومات کې چنده يا مدرسه کې چنده ورکولی شي اوکه نه؟ او زيد ته ددې پوره علم و چې دهغه خپلوان سره حرام مال زيات موجود دی، نو د زيد داعمل صحيح دی اوکه غلط؟

جواب: دکوم سړي ګټه چې د حلالو او حرامو نه مخلوطه وي، په هغه کې د غالب اعتبار دی، حلال غالب وي، نودهغه د کور خوراک جائز دی که نه ، نه، همدا حکم دهغه سره دمعاملې کولو هم ګڼل پکار دي، ځينې خلک خپله حلاله ګټه جدا ايږدي، له دې وجه نه که چيرته زيد خپله ځمکه هغه ته په اجاره باندې ورکوي. نو هغه ته دې ووايي چې ماته دې دا

---

[١] عن أبي هر يرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله طيب لا يقبل الا طيبا .... الخ (مشكوٰة ص : ۲٤۱) وعن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من تصدق بعد له تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الا الطيب... الخ (مشكوٰة ص: ۱٦۷، باب فضل الصدقة، الفصل الأول، طبع قد يمی)

اجاره د حلال مال نه راکړل شي. که چېرته هغه داسې نه کوي، نو هغه ته دې نه ورکول کېږي، په هر حال که چېرته حرام مال نه اجاره ادا کړل شوې ده نو زيد ته پکار دی چې دهغې نه صدقه نه کوي، بلکې د يو غيرمسلم نه دې قرض اخيستلو سره په هغې کې خرچ کړي او دا پيسې دې غيرمسلم ته په قرض کې ورکړي. [١]

د خيرات کونکي په زړه کې د خپل تعريف خيال راتلل او توبه کول

سوال: که چېرته يو انسان نيک کار کوي، مثلاً: خيرات وغيره ورکوی، دهغه په زړه کې دا خيال راشی چې خلک به زما تعريف کوي، خو سمدلاسه د الله د ويرې نه دا خبره د خپل زړه نه اوباسي او توبه وکړي، نو دهغه سړي نيک عمل قبليږی او که نه؟

جواب: ضرور به قبليږي. ان شاء الله ! [٢]

❖ د حج او عمرې فضيلت ❖

حج سره د ګناهونو معافي او نيکی باقي پاتې کيدل

سوال: اوريدلی مودي چې دحج اداکولونه وروسته چې د کوم کس حج قبول شي، هغه د ګناه نه داسې پاک شي، لکه د پيدا کيدونه وروسته ماشوم، ايا دا خبره صحيح ده؟ که چيرې دا خبره صحيح وي، نو ايا د هغه کس نيکي چې هغه اوسه پورې کړي دي هغه هم ختمې شوې؟

جواب: دګناهونو معاف کيدونه تاسو دا څنګه وګڼل چې نيکي به يې هم ختمې شي، حج ډير غټ عبادت دی چې د هغه په ذريعه باندې ګناهونه معاف کيږي، خودعبادت په وجه باندې نيکي نه ضائع کيږي اوداچې فرمايل شوي دي لکه چې هغه ماشوم نن د مور دخيټې نه پيدا شو[٣] دا د ګناهونو نه پاکيدو باندې پوهاوي له پاره ويل شوي دي، چې څنګه يو ماشوم د ګناهونو نه پاک اوصفاوي، دغه شان دقبول شوي حج نه وروسته انسان د ګناهونو نه پاک اوصفا شي. [۴]

---

[١] اهدى الى رجل شيئا أو أضافه ان كان غالب ماله من الحلال فلا بأس الا أن يعلم بأنه حرام فان كان الغالب هوالحرام ينبغي لايقبل الهد ية ولا يأكل الطعام الا أن يخبره بأنه حلال و رثته أو استقرضته من رجل كذ ا في الينابيع (عالمگيرى ج : ۵ ص : ۳۴۲، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشر فى الهد ايا والضيافات)

[٢] انما الأعمال بالنيات الحد يث (مشكوٰة ص : ۱۱، مقدمة)

[٣] عن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من حج لله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولد ته امه متفق عليه (مشكوٰة ص : ۲۲۱، كتاب المناسک، الفصل الأول، طبع قديمى)۔

[٤] قال الطيبي: اى مشابها فى البراءة عن الذنوب بنفسه فى يوم ولدته امه فيه (مرقات ج:۳ ص:۱۶۸ طبع بمبئ)

آیا حاجی ته قضا شوې روژې او لمونځونه هم معافیږي؟

سوال: آیا د حاجي قضا لمونځونه او روژې هم معافیږي؟

جواب: حج سره فرائض او حقوق العباد نه معافیږي. بلکې څوک چې د فرائضو د پریښودو او د حقوق العباد د تلف کولو توبه ونه باسي دهغه حج نه قبلیږي. داسې سړی د دنیا به نظر کې حاجی دی، خو د الله په دفتر کې حاجی نه دی بلکې فاسق دی. [۱]

د حج د اداکولو نه مخکې د واجب حقونو اداکول

سوال: ځینې نارینه دخپلې ښځې، ورور، والدینو یا نورو محارمو له خفګان سره، او همدغه شان ځینې زنانه دخپل خاوند، والدینو یا نورو محارمو خفګان سره، له معافي غوښتلو پرته د حج مبرور او د زیارت رسول ﷺ د سعادت د حصول او د فریضې د اداکولو له پاره حرمین شریفین ته ځي، ایا داسې ناراضګي اودمعافی غوښتلو نه پرته او د صله رحمي سلوک نه کولو سره دحدیث شریف خلاف ورزي کولوسره دهغو خلکو د داسې مقدسې فریضې د اداکولو له پاره تلل تر کومه حده پورې صحیح دي، اودهغوی د حج او د نورو عباداتو په قبولیت څه فرق پریوځي او که نه؟

جواب: کوم څوک چې دحج په سفر ځي، که څه هم حج فرضي وي یا نفلي، دهغه له پاره ضروري ده چې د ټولو متعلقینو واجب حقوق ادا کړي اوله ټولو نه معافی وغواړي [۲] ځکه چې اوږد سفر دی او د واپسي پته نه شته. له دې وجه داسې تلل پکار دي ګویا د آخرت په سفر روان دی، خو کوم خلک چې د حقوقو ادا کولو نه پرته او د والدینو له اجازې پرته ځي، یا ښځه د خاوند د اجازې نه پرته ځي، نودهغوی حج خو به وشي، خو دا به حج مبرور نه وي او الله تعالی ښه پوهیږي چې په دې باندې څه سزا ملاویږي....؟

---

[۱] ان من جملة بعض حقوق الله كترک الصلوة والصوم مما أجمع العلماء عليٰ أنه لابد من قضائهما ولو بعد التوبة التي هى أقويٰ أنواع الكفارة، ومن جملتها بعض حقوق العباد كقتل النفس و أخذ مال الناس ظلما فى البلاد ولاريب فى أن مجرد أداء الحج لا يكفر نحوهما من غير تمكين للنفس ورد مال المظلومين أو الاستحلال من أصحابهما الموجودين (ارشاد السارى ص: ۳۲۲) ويجب أن يتوب من جميع الذنوب توبة نصوحا ... وان كانت عما ترک فيه من حقوق الله تعاليٰ كصلاة فلا تنفعه التوبة ما لم يقض ما فاته ثم يندم و يستغفرالله تعاليٰ وان كانت عن ذنب يتعلق بالعباد فان من مظالم الاموال فتوقف التوبة منها مع قدمناق حقوق الله تعاليٰ على الخروج عن الأموال وارضاء الخصم اما بأن يتحلل من أهلها أويردها اليهم أو اليٰ من يقوم مقامهم من وكيل أو وارث ... الخ (ارشاد السارى ص : ۳، طبع دارالفكر بيروت)

[۲] يبدا بالتوبة و اخلاص النية ورد الظالم والاستحلال من خصومه ومن كل عامله .... ويتجرد عن الرياء والسمعة (عالمگيرى ج: ۱.ص: ۲۱۹، كتاب المناسک، الباب الأول، طبع رشيديه كوئته)

د قبول شوي حج پيژندنه

سوال: له ډېرو خلکونه مواوريدلي دي چې موږ حج خواداکړوخودا راته معلومات نه شته چې الله تعالى قبول کړ اوکه نه؟ ماوريدلي دی که چيرې مسلمان دحج کولونه بيرته راشي اوواپس راتلونه پس بيا ګناه کوي. يعنی دروغ، غلا، غيبت دڅارزړه ازارول اوداسې نور.....نودادهغه خلکونښه ده دڅاعبادت چې الله تعالى نه وي قبول کړی، ځکه چې انسان کله حج کولونه وروسته راشي، نوالله تعالى دهغه زړه دموم (شمعې) په شان نرم کړي اودنيکيونه پرته هغه بل کارنه کوي، داترکومه حده پورې صحيح دي؟

جواب: قبول شوی حج هغه وي چې د هغه په ذريعه باندې ژوند بدل شي، دبيا له پاره ځان دګناهونونه ساتل اودطاعاتو پابندي کول پکاردي، دحج نه وروسته چې دکوم سړي په ژوندکې انقلاب رانه شی دهغه معامله شک کې ده.[1]

ډير ځلې د ((عمرې)) په ادا کولو باندې د اعتراض جواب

سوال: په موږ کې اکثر دمال خاوندان په کال کې ديو دوو عمرو کولو معمول لري، دا حقيقت د هر عقلمند پاکستاني په علم کې دی چې د عمرې د سفر د پاره د زر مبادله (هغه سکه چې دهغې په ذريعې سره بين الاقوامی تجارت کيږي) ضرورت وي، او دا زرِ مبادله حکومت پاکستان مختلفو ادارو نه په سود باندې حاصلوي، زما د معلوماتو مطابق د فرض حج نه وروسته ځومره حجونه او عمرې چې وکړل شي دهغې شمير په نفلی عباداتو کې کيږي، زموږ په ملک کې د زرِمبادله دحصول چې کوم صورت حال دی دهغې پيشِ نظر آيا نفلي عمره باربار جائز ده؟

جواب: سرکاري افسران او ارباب حل وعقدکه چيرته ټول مصارف بند کړي، غيرملکي دورې ونه کړي اود يوې يوې پيسې بچت وکړي، نو زه به هم خلکو ته مشوره ورکوم چې هغوی دې عمرو يا نفلي حج باندې پيسې نه خرچ کوي، خو هرکله چې دا خلک په عيش وعشرت کې زرِمبادله خرچ کوي، نو الله او رسول سره څه دښمني ده چې دهغوی د پاره خرچ نه کړل شي.....؟[2]

[1] أن الحج المبرور عليٰ ما نقله العسقلانى عن ابن خالويه المقبول وهو كما ترى أمره مجهول وقال غيره هوالذى لايخالطه شيء من المعاصى ورجحه النووى وهٰذا هو الأقرب والى قواعد الفقة أنسب لكن مع هٰذا لا يخلوا عن نوع من الابهام لعدم الجزم أحد بخلوه عن نوع من الاثار، وقيل الذى لارياء فيه ولا سمعة ولا رفث ولافسوق وهٰذا داخل فيما قبله، وقيل الذى لا معصية بعده، وقال الحسن البصرى : الحج المبرور أن يرجع زاهدا فى الدنيا راغبا فى العقبيٰ (ارشاد السارى ص : ۳۲۲، باب المتفرقات، طبع دارالفكر بيروت)۔

[2] العمرة فى العمر مرة سنة مؤكدة ...... فلا يكره الاكثارمنها ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

نفلي حج زيات ضروري دی اوکه د غريبانو مدد کول

سوال: حج داسلام يواهم رکن دی، دحج په دوران کې داسلامي يووالي اواجتماعيت يوه عظيم الشانه مظاهره کيږي، چې دهغې دفائدونه څوک هم انکارنه شي کولې، خود پوښتنې کولومسئله داده چې نن سبانفلي حج جائزدی اوکه نه؟ خاص طورباندې دهغه ملکونو اوسيدونکوله پاره دکوم ځای نه چې حج ته تلوله پاره په زرګونوروپۍ خرچ کيږي اويومولاناصاحب روزنامه جنګ ته انټرويوورکولوکې وفرمايل چې کميونزم اوسوشلزم يعنی لادينيت دحملودمقابلې له پاره ضروري دی چې دانسان دډوډۍ مسئله حل کړل شي، پاکستان او نورډيرو مسلمانو ملکونوکې په لکونوخلک يوازې دخيټې د مجبوري په وجه باندې عيسائيت اختياروي، که نه داخلک هم زموږ په شان مسلمانان دي اوضرورت راتلوسره داسلام له پاره خپل ځان هم قربانولی شي، په نفلي حج باندې پيسې خرچ کولوپه ځای دپاکستان په غريبانوکې تقسيم کړل شي، نوزماخيال دی چې دملک د غربت مسئله به ډيرحدپورې حل شي اود اسلامي نظام په لاره کې چې کوم بندونه دي هغه به پخپله ختم شي، تيرشوي کال کې مې دې باره کې يوبل مولاناصاحب ته ليکلي و، نوهغوی زماپه تايدکې ليکلي و چې اوسنيو حالاتوکې نفلي حج له پاره تلل ګناه ده، داپيسې دملک په يتيمانو اوغريبانوتقسيم کولوباندې به زيات ثواب ملاويږي، تاسوته خواست دی چې دې باره کې نوروضاحت هم وفرمايئ اودپاکستان دکروړونو مسلمانان ددې حقيقت نه خبرکړئ چې داسلامي نظام لارآسانې نه آسانه شي.

جواب: ديومولاناصاحب دفتوا نه وروسته دبل مولانا دتاييداوتصديق نه وروسته زموږ د ليکلو څه ضرورت پاتې شو، خوزماپه خيال کې نفلي حج ته حرام ويل نه دي پکار[1]، خو زکات که چيرې دمالدارونه په صحيح طريقه باندې وصول کړل شي اوپه مستحقينوکې په صحيح طريقه باندې تقسيم کړل شي نودغربت مسئله حل کيدای شي، خودا څوک وکړي؟

...بقيه د تيرمخ]... (حاشيه ردالمحتار ج : ۲ص : ۴۷۲، مطلب احکام العمرة، طبع ايچ ايم سعيد) يجوز تکرارها فی السنة الواحدة (عالمگيری ج : ۱ ص : ۲۳۷، طبع رسيدية کوئته)

۱]ذکرفی القنية ان أباحنيفة کان يقول الصدقة افضل من حج التطوع فلماحج وعرف مشاقه فقال : الحج افضل (وقيل الحج افضل) وهو رواية عن أبي حنيفة ان الحج تطوعا أفضل من الصدقة والصدقة افضل من العتق والوصية بالصدقة افضل ثم بالحج ثم بالعتق وفی النوازل أن الحج أفضل من الصدقة عند الامام وعندمحمد الصدقة أفضل منه انتهى وتبين بماذکرنا أن ماعندالمصنف عنه بقيل هوالأولى کمالايخفیٰ (ارشادالساری ص:۳۱۶،طبع دارالفکربيروت)

د حج اوعمرې په شان مقدس عملونه
د ګناهونو نه پاک ساتل پکاردي

سوال: دلته په سعودي عرب کښې کورونو کښې وي سي ار باندې ګنده فلمونه کتل کیږي اوهره میاشت عمرې او مسجد نبوي ﷺ ته حاضري هم کیږي.ایاددې په وجه دعمرې اود مسجد نبوي ﷺ فائدې نه ختميږي؟ خلک عمره دثواب په نيت اومسجد نبوي ﷺ ته دحضور ﷺ دقبر مبارک دزیارت په غرض ځي. فلمونه کتل بد نه ګڼي، عام خيال دی چې دمکې نه دلرې والي په وجه بندې د وخت پاس کولو له پاره يې ګورو اودلته دوخت تيرولوبله څه ذريعه به نه شته

جواب: عمرې او د مسجد نبوي ﷺ په زيارت کې خلک داسې غلطي کوي چې دالله تعالى پناه، د دين دمسئلو نه له ځانه پوښتنه کوي اونه ددې ضرورت ګڼي[1] کوم کس چې دتې وي سوېږون په شان حرام څيزنه پرهيز نه کوي، الله تعالى ته دهغه دعمرې اوحج څه ضرورت دی؟[2] ديوعارف قول دی

بطواف کعبه رفتم ز حرم ندا بر آمد   که بيرون درچې کردی که درون خانه آئی

ترجمه چې زه دکعبې طواف ته لاړم نودحرم نه آواز راغی چې تا بهرڅه وکړل،چې په دروازه دننه راځې

خلک زيره خريلونه وروسته روضې مبارکې ته ځي اوهغوی ته لږ شان شرم هم نه ورځي چې حضور ﷺ سره دمينې کولودعوه کوي. خوشکل دحضور ﷺ ددښمنانوپه شان جوړوي له دې ليکلونه مې مقصددانه دی چې خلک دې عمرې او حج نه کوي، بلکې مقصددادې چې دامقدس عملونه د ګناهونو او غلطيونه پاک ساتل پکاردي دغه شان حج اوعمرې باندې پوره ثواب ملاويږي[3]

آيا د لمانځه اهتمام سره نه کونکي په عمره کې څه نقص پيدا کيږي؟

سوال: زموږ کور والا په کال کې يوځل او ځينې وخت دوه ځلې د عمرې سعادت حاصلوي، خو دلته راتلوسره د لمونځ اهتمام نه کوي اود سحر خو داسې حال معلوميږي چې زموږ په

---

[1] اولیعلم مايحتاج اليه في سفره من أمرالصلاة وكذالک يتعلم كيفية الحج وصفة المناسک(ارشادالساری ص:۴)

[2] لأنه مشروط بعدم وجودالفسق سابقا ولاحقا وحالا ... ولاشک ان المصر على المعصية فاسق وصاحب كبيرة فلا يكون داخلا في اجزاء على أداء الحجة (ارشاد الساری ص : ۳۲۳، باب المتفرقات، طبع دارالفكر بيروت)۔

[3] ايضا۔

ذمه باندې بالکل فرض نه دی. پوښتنه داده چې دهغوی د لمونځ اهتمام نه کولو له وجې نه په عمره کې خو څه نقص نه راځي؟ که چیرته یي نو دهغې ضمان څه دی او آیا دا عمره به قبوله وي او که نه؟

جواب: لمونځ فرض دی. [۱] او عمره سنت ده. [۲] کوم سړی چې د فرض تارک وي او هیڅ پروا یې نه کوي. هغه ته به د یو سنت په ادا کولو سره څه فائده وي...؟

د عمرې د ادا کولو تقاضې

سوال: زموږه کور والا هرکال د الله په فضل اوکرم سره رمضان المبارک کې عمرې ته ځي. او اکثر د ماښام پنځه بجې د طیارې پرواز وي. دهغه سفر په بناء باندې دهغې ورځې فرض روژه کوروالا نه نیسي، او وایي چې په سفر کې روژه نه وي، سفر خو د شپې وي او روژه د سحر نه. نه نیسي. پوښتنه داده چې آیا دهغوی دا عمل ترکومه حده پورې صحیح دی؟ آیا هغوی باندې به د روژې قضا وي اوکه نه؟ دا هم ووایئ چې په سفر کې چې کومه روژه معاف ده هغه کوم یو سفر دی؟ ځکه چې د هوایي جهاز سفر خو د مشقت نه بالکل خالي وي.

جواب: ځوک چې د صبح صادق نه مخکې د سفر په حالت کې وي هغه ته د روژې نه نیولو رخصت دی، خو دچا چې سفر وروسته شروع کیږي ، په هغه باندې روژه نیول فرض دي، او پریښودل یې حرام دي. [۳] عجیبه خبره ده چې ستاسو کورنۍ د نفلو له وجې فرض پریږدي، اود حرامو ارتکاب کوی او بیا...... چشم بدور... ! د حج او عمرې شوقین هم ویل کیږي، څومره روژې چې ستا کور والو پریښې دي، دهغو قضا لازمه ده، د روژې نه نیولو رخصت هرمسافر د پاره دی.خو په کوم سفرکې چې مشقت نه وي، په هغه کې روژه نیول غوره دي،

---

[۱] عن عبادة الصامت رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : خمس صلوات افترضهن الله تعالىٰ، من احسن وضوئهن وصلاهن لوقتهن وأتم ركوعهن وخشوعهن كان له عهد أن يغفرله، ومن لم يفعله فليس على الله عهد ان شاء غفرله وان شاء عذ به رواه احمد و أبوداؤد و روى مالك والنسائي وغيره (مشكوٰة ص : ۵۸ طبع قد يمی) عن أبي هريرة رضی الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة كفارات لما بينهن مالم يعش الكبائر (ترمذی، باب فی فضل صلوات الخمس ج : ۱ ص : ۳۰)

[۲] عن جابررضی الله عنه أن النبی صلى الله عليه وسلم : سئل عن العمرة أ واجبة هی؟ قال : لا : وان يعتمروا هو أفضل (ترمذی ج : ۱ ص : ۱۱۲، أبواب الحج، طبع د هلی) العمرة فی العمر سنة مؤكدة ...الخ (ردالمحتار ج : ۲ ص : ۴۷۲)

[۳] بخلاف اليوم الذی سافرفيه لأنه كان مقيما فی أول اليوم فدخل تحت خطاب المقيمين فی ذالک اليوم فلزمه اتمامه حتما (بدائع الصنائع ج:۲ ص۹۵) فلو سافر نهارا لا يباح له الفطرفی ذ الک اليوم (عالمگيری ج : ۱ ص : ۲۰۶)

که نه وروسته به قضا را وړل وي. [۱]

د مکې اوسېدونکو ته طواف غوره دی که عمره؟

سوال: مکه مکرمه کې طواف کول افضل دي او که عمره، چې د عائشې د جومات (مسجد عائشه رضي الله عنها) نه احرام تړلو سره کیږي؟ ځکه چې زموږ امام وایي چې مکه مکرمه کې طواف د تړلو نه افضل دی او دلیل دا بیانوي چې قرآن کې د بیت الله شریف د طواف حکم دی نه د عمرې. په دې وجه باندې مکې کې د اوسیدونکو له پاره د عمرې نه طواف افضل دی. پوښتنه دا کول غواړم چې د امام دا خبرې صحیح دي او که نه؟

جواب: طواف کول ډیر افضل دي، خوشرط دا دی چې عمره کولو باندې څومره وخت خرچ کیږي، هغومره وخت یا د هغې نه زیات وخت په طواف باندې خرچ کړل شي، که نه، د عمرې په ځای باندې یو یا دوه طوافونه کولو ته افضل نه شي ویل کیدای.[۲]

کوم خلک چې د مدینې منورې نه د مکې مکرمې ته د تلو اراده کوي هغوی ته ذوالحلیفه نه (کوم چې د مدینې شریفې په خواؤشا کې دی) احرام تړل لازم دي او هغوی د میقات د مقام نه بغیر د احرام نه تیریدل جائز نه دي[۳]، او که چیرې د مدینې منورې نه مکې مکرمې ته د تلو قصد نه وي کړې بلکه جدې ته تلل غواړي نو هغوی له پاره احرام تړلو سوال نشته.[۴]

کعبې باندې لومړي نظر پریوتو نه څه مراد دي؟ ایا هغه وخت دعا خامخا قبلیږي

سوال: لومړی نظر کعبې شریفې باندې پریوتو سره کومه دعا چې وغوښتل شي قبلیږي، سترګې رپولو سره لومړی نظر ختمیږي. (الف) د لومړي نظر نه څه مراد دي؟ (ب) دا موقع به ژوند کې یو ازې یو ځل راځي یا هرځل؟ مثلا: په دویم ځل حج ته لاړو یا منی نه طواف زیارت له پاره راغلو بیا نظر پریوتو، یا پنځه وخته لمونځ ته حرم شریف ته داخل شو لومړی نظر پریوت. وضاحت وکړئ ډیره مهرباني به مو وي.

---

[۱] ولكن الصوم أفضل ان لم يضره (حاشيه رد المحتار ج: ۲ ص: ۴۲۱، كتاب الحج)

[۲] ونظيره ما أجاب به العلامة القاضي ابراهيم بن ظهيرالمكي حيث سئل هل الأفضل الطواف أو العمرة من ان الأرجح تفضيل الطواف على العمرة اذاشغل به مقدارزمن العمرة (فتاوىٰ شامي ج:۲ ص:۵۰۲، طبع ايچ ايم سعيد)

[۳] المواقيت التي لايجوز أن يجاوزها الانسان الامحرما خمسة لأهل المد ينة ذو الحليفة ... الخ (هدا ية ج: ۱ ص: ۲۳۴، كتاب الحج، طبع شركت علميه ملتان)۔

[۴] ولوجاوزالميقات و يريدبستان بني عامر دون مكة فلاشيء عليه (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۵۳، طبع رشيدية كوئته)

جواب: د لومړي نظر نه مراد دادی چې څنګه بیت الله شریف باندې نظر پریوځي دعا وکړئ.[۱] هغه ته په عمر کې یوځل باندې ولې حمل شي؟ چې کله هم لومړی نظر په بیت الله شریف باندې پریوځي دعا دې وکړل شي او د قبولیت یقین دې وساتل شي.

ایا غریبان خلک به د حج او د زکات د ثواب نه محروم پاتې وي

سوال: د اسلام په پنځو ارکانو کې دوه ارکانه زکات او حج په غریبانو باندې فرض نه دي. خو د هغه له وجې هغه غریب سړی د دې دواړو د بې انتها ثواب او فضلیت نه محروم وي. د اسلام نظام انصاف ایا د دې له وجې متاثره کیږي نه؟

جواب: الله تعالی د ثواب او فضلیت د حاصلولو له پاره بې شمیره صورتونه ښودلي دي او هغه صورتونو بې پخپلو بندګانو باندې تقسیم کړي دي. دچاله پاره یې یو صورت خوښ کړ او دچا د پاره بل. د ټولو شیانو په یو وخت کې په یوانسان کې جمع کیدل ډیر مشکل دي، چې کله دا مقدمه په پوهه کې راغله. نو که چیرته د مالدارو له پاره الله تعالی د مالي عباداتو صورتونه پیدا کړي دي چې دهغه نه غریب خلک محروم دي، نو دغریبانو له پاره یې هغه صورتونه پیدا کړي دي چې دهغو نه مالدار محروم دي، مثلا یو سړی مالدار دی او هغه خپل مال د الله تعالی د رضا له پاره په نیکو کارونو کې خرچ کوي، څومره ثواب چې ده ته ورکول کیږي هغومره ثواب به هغه غریب ته هم ورکول کیږي چې دا نیت ساتي چې که چیرته ماسره مال وای. نو ما به هم ددې سړي په شان په نیکو کارونو کې خرچ کاو. وګورئ یو سړي له پاره الله تعالی د قرب الهي لاره دمال خرچ کول وګرځوله او د دویم له پاره یې یوازې ددې نیت کول.[۲]

یوازې مالدارسړی حج له وجې د جنت مستحق نه دی بلکې غریب انسان هم د نیک عملونو له وجې د جنت مستحق کیدای شي

سوال: حج کولو سره یوازې مالدارسړی جنت اخیستی شي،چې هغه سره حج ته دتلو پیسې

---

[۱] فاذا دخل مكة ووقع بصره على الكعبة و وصل المسجد، استحب له أن يرفع يديه ويدعو، فقد جاء أنه يستجاب دعاء المسلم عندرؤية الكعبة،ويقول اللهم زد هٰذا البيت تشريفا وتعظيما وتكريما الخ (الأذكارالنووية ص : ۱۶۵)

[۲] عن أبي كبشة الانماری رضی الله عنه أنه سمع رسول الله عليه وسلم يقول: ...... عبد رزقه الله مالا وعلما فهو يتقي فيه ربه ويصل رحمه ويعمل لله منه بحقه فهذا بأفضل المنازل، وعبد رزقه الله علما ولم يرزقه مالا فهو صادق النية يقول : لو ان لى مالا لعملت بعمل فلا ن فأجرهما سواء ... الخ (مشكوٰة، باب استحباب الاعمال والعمر للطاعة ص: ۴۵۱ طبع قديمى)

موجودې وي او هغه د زړګونو او لکونو لمونځو ثواب حاصلولی شي او غریب محروم دی او دالله تعالی فضل په مالدارو باندې دی. په نن سبا زمانه کې دهیڅ هم حج نه قبلیږي، ځکه چې دعرفات په میدان کې په لکونو مسلمانان (خاص طور باندې اسرائیل، امریکې او روس) دتباه کېدو له پاره ډیرپه خشوع او خضوع باندې دعاګانې کوي. خو حقیقت کې هغوی ته هیڅ نقصان هم نه شي رسولی. دنیا نه دغلطیو ختمیدو دعا کوي. خو غلطي زیاتیږي، دا دهغوی ددې دعاګانو د نه قبلېدو نښې دي؟

جواب: حج یوازې په مالدارو خلکو باندې فرض دی[۱] خو جنت یوازې په حج کولو باندې نه ملاویږي، ډیر عملونه داسې دي چې غریب سړی دهغه په ذریعه باندې جنت ګټلی شي، حدیث شریف کې خو دا راغلي دي چې فقیران او مهاجرین به دمالدارو نه نیمه ورځ مخکې جنت ته ځي[۲] حج دچا قبلیږي او دچا نه قبلیږي؟ دا فیصله خو یوازې قبلونکی کولی شي، دا کار زما او ستاسو دکولو نه دی، خو موږ دا ویلی شو چې چاد شرطونو او پابندۍ سره دحج ارکان اداکړل دهغه حج وشو[۳] پاتې شو ددعاګانو قبلیدل او نه قبلیدل، دا دحج دقبلیدو او نه قبلیدو نښه نه ده، اکثر دنیکانو خلکو دعاګانې نه قبلیږي او دبدکارو خلکو دعاګانې قبلیږي، ددې حکمتونه او مصلحتونه هم الله تعالی ته معلوم دي او کله داسې هم کیږي چې دبدي او د شر د غلبې له وجې دنیکانو خلکو دعاګانې هم نه قبلیږي حدیث کې راځي چې یو وخت به راځي چې نیک سړی به دعامو خلکو له پاره دعا کوي، الله تعالی به فرمایي چې که ته دځان له پاره څه غواړې وغواړه، زه به تاته درکړم خود عامو خلکو له پاره نه، ځکه چې هغوی زه خفه کړی یم. (کتاب الرقائق صفحه ۱۵۵. ۳۸٤)

او دا مضمون هم احادیثو کې راځي چې تاسو دنیکیو حکم کوئ او د بدیو منع کوئ، که نه. نژدې ده چې الله تعالی به تاسو باندې عام عذاب نازل کړي، بیا به تاسو دعاګانې کوئ او ستاسو دعاګانې به نه قبلیږي. (ترمذی صفحه ۳۹ جلد ۲)[۴]

دې وخت کې امت کې ګناهونه ډیر عام شوي دي او دالله تعالی نیک بندګان ډیر کم پاتې دي،

---

[۱] ولله علی الناس حج البیت من استطاع الیه سبیلا (ال عمران : ۹۷)۔

[۲] عن ابی هریره رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله وسلم: یدخل الفقراء الجنة قبل الاغنیاء بخمس ماة عام نصف یوم رواه الترمذی (مشکوٰة ص:۴۴۷، باب فضل الفقراء وماکان من عیش النبی صلی الله وسلم، طبع قدیمی)

[۳] لامکان قبوله حیث وجدت شرائطه وارکانه (ارشاد الساری ص: ۳۲۴ طبع دار الفکر بیروت)۔

[٤] عن حذیفة بن الیمان رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: والذی نفسی بیده ! لتأمرن بالمعروف و لتنهون عن المنکر او لیوشکن الله ان یبعث علیکم عذابا منه فتدعونه فلا یستجیب لکم (ترمذی ج:۲، ص:۳۹، ابواب الفتن، باب ما جاء فی الامر بالمعروف والنهی عن المنکر، طبع کتب خانه رشیدیه دهلي)

چې د ګناهونو نه منع کوي. له دې وجې که چیرې دې زمانه کې د نیکانو خلکو دعاګانې هم نه قبلیږي. نو دې کې قصور د هغه نیکو خلکو یا د هغه دعاګانو نه دی. بلکې د امت د بدو عملونه قصور دی. الله تعالی دې موږ معاف کړي

❖ حج او عمرې فرضیت ❖

ایا د نصاب په خاوند حج فرض دی

سوال: یو مولانا صاحب وایي. چې چاسره اوونیم تولې سره زر یا دوه پنځوس نیم تولې سپین زروي. هغه مالدار دی او هغه باندې حج فرض کیږي. یعنې کوم کس باندې چې زکات وي هغه باندې حج فرض دی. د اسلام په رڼاکې جواب راکړئ!

جواب: دې باندې حج نه فرض کیږي، بلکې حج هغه کس باندې فرض دی چاسره چې د حج د سفر خرچه وي او د هغه په غیرموجودګي کې د کور والو خرچه هم وي[1] نور تفصیل په ,,معلم الحجاج،، کې وګورئ!

د حج فرضیت او د کوروالو کفالت

سوال: زید د نوکرې (وظیفې) نه ریټائرډ (متقاعد) شو. لس زره روپۍ ورته په یوځای باندې حکومت ورکړې، اوس دا پیسې د حج کولو له پاره او د هغه وخت له پاره د هغه کوروالو د خرچ له پاره کافي دي. خو کله چې د حج نه واپس راشي. نو د روزګار له پاره به زید سره هیڅ نه وي. ایا داسې صورت کې زید باندې به حج فرض وي او که نه؟

۲ د قاسم دوکان دی او هغه کې داته زرو روپیو سامان دی. هغه د تجارت په ذریعه باندې خپل ځان او خپل بچي ساتي او که چیرته قاسم دوکان خرڅ کړي او حج ته لاړشي. نو وروسته د هغه د بچیوله پاره هم د دغې پیسو نه د هغه د بچیو د خوراک څښاک بندوبست هم کېدای شي، ایا داسې صورت کې به هغه باندې حج فرض وي او که نه او هغه ته حج له پاره تلل پکار دي او که نه؟

جواب: د دواړو سوالونو جواب یو دی چې د حج نه واپس هغه سره دومره پیسې پکار دي چې هغو باندې د هغه کوروالا د ضرورت مطابق کفالت وشي.[2]

---

[1] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال : جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال : یا رسول الله ! ما یوجب الحج؟ قال الزاد والراحلة رواه الترمذی و ابن ماجه (مشکوٰة ص: ۲۲۲) الحج واجب علی الاحرار .... الاصحاء اذا قدروا علی الزاد والراحله فاضلا عن المسکن و ما لابد منه، و عن نفقة عیاله الی حین عوده .....الخ (الهدایة مع البنایة ج: ۵ ص: ۱، ۲)۔

[2] (ومنها القدرة علی الزاد والراحلة) بطر یق الملک أوالاجازة دون الاعارة والاباحة ..... وتفسیرملک الزاد والراحلة أن یکون له مال فاضل عن حاجته وهوماسوی مسکنه...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

پورته ذکرشويو دواړوحالتونوکې به حج فرض نه وي، ښه به داوي چې تاسو نورو عالمانونه هم پوښتنه وکړئ

په فرض حج کې تلواروکړئ !

سوال: زما والد محترم چې دهغه عمر تقريبا (۷۰) کلونو ته نژدې دی، د حج ته د تللو خواهش نه لري. حالانکه زموږه او د مور خواهش دی چې هغه حج ادا کړي، مور مې د نن نه ديارلس کاله مخکې دماما سره د حج فريضه ادا کړې ده، د والد صاحب موقف په دې سلسله کې دادی چې د الله له طرف نه په قسمت کې وي، نو هغه به پخپله ماباندې حج وکړي ددې نه پرته په نورو معاملو کې مثلا د رشتو وغيره په سلسله کې هم د والد صاحب دا وينا ده چې الله به پخپله څه اسباب پيدا کړي، د انسان په طاقت هيڅ نه شته . لهذا انسان ته په کلاره باندې کيناستوسره دهغه د رحمت انتظار کول پکار دي، حالانکې موږه پلار ددې پوهولو کوشش کووچې مخکې انسان ته کوشش کول پکار دي بيا دعا کول پکار دي اودهغه نه وروسته د الله تعالی د رحمت انتظار کول پکار دي او بيا دا پوره اميد ساتل پکار دي چې الله تعالی هماغه څه د بنده له پاره مقرر کړي چې دهغه په حق کې غوره وي.

جواب: په چاباندې چې حج فرض وي او اداي نه کړي دهغه په باره کې حديث کې فرمايل شوي دي چې الله تعالی ته پروا نه شته چې هغه يهودي مړ شي يا عيسايي کېدو سره مړ شي.[۱] که چيرته ستا پلار محترم باندې حج فرض وي. نو هغه ته فورا ادا کول پکار دي او که چيرته پخپله د تللو طاقت نه لري، نو پخپل ځای دې بل څوك د حج بدل له پاره وليږي، الله تعالی پخپل رحمت سره پيسه ورکړې ده، پخپل رحمت سره حج ته د تلو له پاره بې د سورلی انتظام کړی دی، له دې نه وروسته هغه دکوم رحمت په انتظار کې دی...؟

...بقيه د تيرمخ]... ولبسه وخدمه وأثاث بيته قدرما يبلغه الیٰ مكة ذاهبا وجائياراكبا لا ماشيا و سوى ما يقضي به ديونه ويمسك لنفقة عياله ومرمة مسكنه ونحوه .... الیٰ وقت انصرافه كذا فى المحيط السرخسى (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۷، كتاب المناسک، الباب الأول) قال بعض العلماء ان كان الرجل تاجرا يعيش بالتجارة فملک مالا مقدارمالورفع منه الزاد والراحلة لذهابه وايابه ونفقة أولاده وعياله من وقت خروجه الیٰ وقت رجوعه ويبقى له بعد رجوعه رأس المال مال التجارة التى كان يتجربها كان عليه الحج والافلا ....الخ (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۸، كتاب المناسک، رد المحتارج : ۲ ص : ۴۶۲، كتاب الحج)۔

[۱] عن علي رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من ملک زاد وراحلة تبلغه الیٰ بيت الله ولم يحج فلا عليه أن يموت يهوديا أو نصرانيا وذالک ان الله يقول فى كتابه ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا (ترمذی، باب ماجاء فى التغليظ فى ترک الحج ج : ۱ ص : ۱۰۰)

حج مخکې دی که د لور واده

سوال: یو سړی سره دومره پیسې دي چې هغه یا حج وکړي یا د خپلې پېغلې لور واده. مهرباني وکړئ دا راته ووایئ چې هغه مخکې حج وکړي او که د لور واده، که چیرته هغه د خپلې لور واده وکړي نو بیا هغه حج نه شي کولی؟

جواب: هغه باندې حج فرض دی، که چیرته یې نه کوي، نو ګناهګار به وي[1]

مخکې د خور او ورونو ودونه وکړم که حج

سوال: زه د خپل کور مشر یم. زما والد صاحب وفات شوی دی. ما واده کړی دی او زما دوه ورونه دي. زه خپلې مور باندې په راروان کال د حج کولو اراده لرم. حالانکې زما خور خوانه ده چې د هغې عمر (۲۴) کاله دی او دوه ورونه مې بالترتیب د (۲۷)، (۳۰) کلونو دي. دا درې وارړه تراوسه ناواده دي. یو ورور مې په کور کې دی او بل ما سره په دبۍ کې کار کوي. زمونږه خپل دکان دی. زه ستاسو نه پوښتنه دا کوم چې لومړی په مور باندې حج وکړم یا د خور او ورونو ودونه وکړم؟ایا که په مور باندې لومړی حج وکړم. نو هغه حج به قابل قبول وي؟ ځکه چې زه په یو کال کې دواړه کارونه یوځای نه شم کولی. یا د ورونو ودونه کولی شم یا په مور باندې حج کولی شم. اکثر خلک وایي چې مخکې د خور او ورونو ودونه وکړه. که نه. حج به نه قبلیږي. دمور عمر مې (۵۵) کاله دی. تاسو ووایئ چې دا مسئله څنګه حل کړو؟

جواب: که چیرته ستا په مور باندې حج فرض نه وي. یعنې د هغې ذاتي ملکیت دومره نه وي چې په هغې باندې حج فرض وي. نو لومړی د ودونو مسئله حل کول غوره دي. خو ودونه دې په سادګي سره وشي. په هغه باندې دې بې ځایه پیسې نه خرچ کیږي.

په لړشان کته کې د جینکو د واده نه مخکې حج

سوال: یو کس مالدار دی او هغه باندې حج فرض دی. خو هغه سړي اولاد دی. د هغوی ودونه نه دي شوي. هغو کې دوه پېغلې لوڼه هم دي. پیسې دومره دي که چیرته هغه دې باندې حج وکړي. نو بیا دیوې انجیلۍ واده هم ممکن نه دی. ځکه چې نن سبا په ودونو باندې تقریباً دیرش څلویښت زره روپۍ خرچه کیږي. دا سې صورت کې چې یو سړي داسې حالات وي هغه

---

[1] وهو فرض على الفور وهو الأصح فلا يباح له التأخير بعد الامكان الى العام الثانى كذا فى خزانة المفتين (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۶. كتاب المناسک) .... و فى التجريد .... عنده دراهم يبلغ لها الحج او يبلغ ثمن مسكن وخادم وطعام وقوت فعليه الحج فان جعلها فى غير الحج أثم كذا فى الخلاصة (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۷. كتاب المناسک)

باندې څه فرض دي؟ حج که واده؟

جواب: فقهاوو لیکلي دي که چیرته یوکس سره دومره پیسې وي چې هغه یا خپل واده کولی شي یا حج کولی شي، نوکه چیرته دحج ورځې وي، نودهغه په ذمه حج فرض دی[1] ددې نه دخپلې مسئلې په جواب باندې پوه شئ، دې باره کې نورو عالمانو ته هم رجوع وکړئ!

د پنشن په پیسو باندې حج کول ضروري دي یا کور جوړول

سوال: په پنشن باندې د تلو په وخت موږ ته پنشن خرڅولو سره تقریبا درې نیم یا درې لاکه روپۍ ملاویږي، زموږ څه جائداد (ځمکه وغیره) نه وي، بچیو له پاره مو کور جوړول هم وي او نورې خرچې هم وي، ایا په دې پیسو کې به حج ضروري وي؟

جواب: که د حج موقع وي، نوحج وکړئ که نه یو وړوکی شان کور جوړ کړئ.[2]

د کرایې کور، مهرمؤجل والا باندې د حج فرضیت

سوال: د حج په مسائلو باندې مبني چې کوم کتاب دحج دوزارت له لوري ورکول کیږي په هغه کې یې لیکلي دي چې چاسره دخپل حاجت نه زیات مال وي، یعني د اوسیدو کور، جامې، د کور د اسبابو نه پرته د تلو راتلو اود اهل عیال خرچه وي او دا سرمایه دهغه د قرض مستثنی کولو نه وروسته وي، که څه هم هغه قرض مهرمعجل یا مهرمؤجل ولې نه وي. په هغه باندې حج فرض دی.

الف... سوال دادی چې که چیرته کور د کرایې وي، نو هغه باندې حج فرض دی او که نه؟

ب..... له مهر پرته یو قرض هم نه وي او مهر دومره زیات وي چې دهغه ادا کول ناممکن وي، ښځه یې نه معاف کوي، نو هغه حج ته لاړ شي او که نه؟

ج..... که چیرته ښځه مهر پرته د معاف کولو نه مړه شوي وي، نو هغه باندې هم ایا حج فرض نه دی؟ که چیرته جائیداد دومره وي چې هغې ته خرڅولو سره مهر ادا کیږي، خو وخت کم وي چې دهغې له وجې نه فوري خرڅول ناممکن وي، نو هغه حج ته تللی شي او که نه؟ که چیرته لاړ شي. نو دهغه به حج کیږي او که نه؟

---

[1] اذا وجد ما يحج به و قد قصد التزوج يحج به ولا يتزوج، لأن الحج فريضة أوجبهاالله تعالى على عبده كذا في التبيين (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۱۷، كتاب المناسک، طبع رشيدية كوئته، رد المحتار ج : ۲ ص : ۴۶۲، كتاب الحج)

[2] من شرائط الحج القدرة على الزاد والراحلة .... وهو أن يكون له مال فاضل عن حاجته و هو ما سوى مسكنه وأثاث بيته (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۷، كتاب المناسک، الباب الأول، طبع رشيد ية)

جواب: د کرایه کور وي. نو د کرایه پیسې به په حوائج اصلیه کې شماروي، هغو مره پیسې مستثنی کولو نه وروسته به وکتل شي چې هغه باندې حج فرض دی او که نه؟ [۱]
مهرمعجل خو بالاتفاق مانع وجوب دی او د مهرمؤجل مانع کېدو کې اختلاف دی. د اکثرو حضراتو فتوا داده چې دا هم مانع دی. [۲]
د ښځې دین مهر چې ترڅو پورې وصول نه وي هغه باندې حج فرض نه دی.[۳]

د حج فریضه او د ښځې مهر

سوال: زما یو دوست دی هغه دې کال کې د حج کولو اراده لري، هغه د مور و پلار نه اجازه اخیستې ده. خو د هغه په ذمه باندې د هغه د ښځې د مهر (۵۰۰۰۰) روپۍ قرض دی، ایا هغه به د ښځې نه اجازه اخلي یا معاف به یې کړي، ځکه چې د هغه ښځه په پاکستان کې ده او هغه په دبۍ کې دی. اوس به د هغه مهر څنګه معاف کیږي؟
جواب: ستاسو دوست دې ضرور حج وکړي[۴] د ښځې نه مهر معاف کول د حج له پاره څه شرط نه دي.[۵]

د کاروبار په نیت باندې حج کول

سوال: هرمسلمان باندې ژوند کې یو ځل حج فرض دی، اوسنې دور کې ځینې حضرات داسې دي کوم چې تقریبا هرکال حج ته ځي او یو وازې دا نه چې هرکال حج ته ځي، بلکې د هغوی حج یو قسمه کاروباري حج وي، ځکه چې د غه خلک مختلف دوایانې او نور سامانونه له ځان سره وړي او سعودي عرب کې هغه په ګټه باندې خرڅوي، د غه شان سعودي عرب نه واپسي کې هغوی د ځان سره ټیپ ریکارډر، وي سي آر (ویسیار) وکپړې وغیره د یرزیات راوړي او دلته یې

[۱] وأما تفسیرالزاد والراحلة فهوأن یملک من المال مقدارما یبلغه الیٰ مکة ....فاضلا عن مسکنه وخادمه و فرسه وسلاحه وثیابه ...الخ (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۲۲، کتاب الزکاة، طبع سعید)
[۲] وفی الدرالمختار فضلاً عما لابد منه کمامر فی الزکاة و فی رد المحتار : قوله کما مرفی الزکاة أی من بیان مالابد منه من الحوائج الأصلیة کفرسه وسلاحه ..... وقضاء دیونه وأصدقته و لو مؤجلة کما فی اللباب وغیره والمراد قضاء د یون العباد رد المحتار، کتاب الحج ج : ۲ ص : ۴۶۱) فارغ عن دین له مطالب من جهة العباد سواء کان لله کزکاة .... ولو صداق المؤجل (الدرالمختار، کتاب الزکاة ج : ۲ ص : ۲۶۰، ۲۶۱ طبع سعید)
[۳] فی الدرالمختار: لأن الد ین لیس بمال بل وصف فی الذ مة لا یتصورقبضه حقیقة (الدرالمختار ج:۳ ص:۸۴۸)
[۴] الحج واجب علی الأحرار . الیٰ حین عوده..الخ (الهد ایة مع البنایة ج:۵ ص : ۱۰۲، کتاب الحج،حقانیه)
[۵] وقضاء دیونه أی المعجلة والمؤجلة و أصدقة نسائه أی ومهورهن ولومؤجلة أی فضلا عن المعجلة وقیل لا یشترط کونه فاضلا عن أصد قة نسائه یعنی المؤجلة دون المعجلة (ارشاد الساری ص:۲۹،طبع دار الفکر، بیروت)

خرڅوي. تاسونه دا پوښتنه کول غواړم چې ددې کاروباري حج څه حیثیت دی؟ ایاهرکال پخپله باندې حج ته تلونه به دابهترنه وي چې څوک خپلوان په خپله خرچې باندې حج اداکولوته ولیږي. کوم چې دحج خرچې نه شي برداشت کولی

جواب: دحج دوران کې دکاروبارکولو اجازه، خوقرآن مجید ورکړې ده[۱]. خوکه دحج دسفرنه مقصدکاروباروي. نوبیاښکاره خبره ده چې هغه ته به دخپل نیت مطابق بدله ورکول کیږي[۲] پاتې شوه داخبره چې په خپل ځای باندې نوروخلکوباندې حج وکړي .دادخپلې حوصلې او ذوق خبره ده.ددې په فضیلت کې خوهیڅ شک نه شته. خوموږددې حکم چاته نه شوکولی.

د غریبي نه وروسته مالداري کې دویم حج

سوال: ماباندې حج بیت الله فرض نه و اوچاماباندې دځان سره حج بیت الله وکړ،اوس چې کله واپس وطن ته راغلم. نوالله تعالی ماته مال راکړ اوغني یې کړم. اوس تاسو ووایئ چې په دویم ځل حج ته لاړشم. نوداحج به زمانفلي حج وي اوکه فرضي؟

جواب: لومړی حج اداکولوسره دحج فرضیت ختم شو[۳] اودمالداره کېدو نه وروسته چې کوم دویم حج وکړل شي هغه به فرضي حج نه وي، بلکې نفلي به ګڼل کیږي[۴].(فتاوی دارالعلوم ص۵۳۱ ج۶)

ښځې باندې د حج فرضیت

سوال: ایاحج یوازې سړیوباندې فرض دی اوکه په ښځوباندې هم؟

جواب: ښځو باندې هم فرض دی که چیرته ورسره محرم وي[۵] اوکه چیرته محرم ورسره نه

۱]" لیس علیکم جناح ان تبتغوا فضلا من ربکم " (البقره : ۱۹۸) ویستحب ان یفرغ قلبه من طلب التجارة فان احتاج الیها ولم یکن له غنی عنها فلا بأس بها لکن لا یجعلها مقصوده الأکبربل یجعلها ضمنا وتبعا (ارشاد الساری ص : ۴)۔

۲]عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال :قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :انما الأعمال بالنیات، وانما لامري مانوئ، فمن کانت هجرته الی الله ورسوله فهجرته الی الله ورسوله، ومن کانت هجرته الیٰ دنیا یصیبها أو امرأة یتزوجها فهجرته الیٰ ماهاجر الیه متفق علیه(مشکوٰة ص: ۱۱، کتاب الایمان، طبع قد یمی کتب خانه)

۳]أنه لایجب فی العمرالا مرة واحدة (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۱۹)، فالحج فریضة محکمة ثبتت فرضیتهابدلائل مقطوعة حتی یکفرجاحدها و أن لا یجب فی العمرالا مرة کذا فی محیط السرخسی (عالمګیری ج :۱ ص : ۲۱۶)۔

۴]الفقیرفانه لا یجب علیه ابتداء لکن ان أداه صح منه وسقط عنه فرضه حتی لوصار غنیا بعده لایجب علیه ثانیا (ارشاد الساری ص : ۲۱)۔

۵]ویعتبر فی ان المرأة تکون محرم تحج به أو زوج (فتح القدیرمع الهدایة ج : ۲ ص : ۱۲۸، کتاب الحج)۔

وي. نو د مرګ نه مخکې دې د حج بدل وصيت وکړي [۱]

ايا ښځې ته پخپلو پيسو سره حج کول پکار دي

سوال: زه په يوه اداره کې ملازمه يم. خپله تنخوا پخپلې مرضۍ سره خرچه کوم. د خاوند په ګټه کې نه شاملومه. د خاوند وينا ده چې زه ملازمت پريږدم. خو زه اوس ملازمت پريښودل نه غواړم. زه حج ته تلل غواړم. خاوند وايي چې خپلې خرچې باندې لاړه شه زموږ له پاره د قرآن او سنت څه حکم دی؟

جواب: ستا د خوراک څښاک مصارف د خاوند په ذمه دي. [۲]حج ته د تلو له پاره که چيرته تا سره پيسې وي. نو خپلې پيسې خرچ کړه. [۳]

د کويژدن شوې انجيلۍ حج ته تلل

سوال: که چيرته دحج تياري مکمل وي اوذانجيلئي کويژدن وشي، نو ايا هغه دخپل مورو پلار سره حج کولی شي؟

جواب: ضرور تللی شي [۴]

کونده ښځه حج وکړي

سوال: خاوند که چيرته داسې وخت کې مړشي چې دحج وخت پورې دهغې عدت نه پوره کيږي، نو هغه دحج باره کې څه وکړي؟

جواب: دعدت پوره کېدو نه مخکې دې دحج سفر نه کوي [۵]

۱] واختلفوا الخ ثمرته تظهر فى وجوب الوصية بالحج اذامات مثلاقبل أمن الطريق أوهى قبل وجود المحرم ...... ومن قال بأنهاشرط الأداء قال يجب لأن الموت بعد الوجوب (فتح القدير ج : ۲ ص : ۱۳۰، كتاب الحج، عالمگيرى ج:۱ ص : ۲۱۹، كتاب المناسک، الباب الأول، طبع رشيدية)۔

۲]النفقة واجبة للزوجة علىٰ زوجها مسلمة كانت أوكافرة اذا سلمت نفسهاالىٰ منزله فعليه نفقتهاوكسوتها وسكناها (هداية : ۱ ص : ۴۳۷، باب النفقه، طبع شركت علميه ملتان)

۳]وتجب عليهاالنفقة والراحلة فى مالها للمحرم ليحج بها (عالمگيرى ج:۱ ص : ۲۱۹) وفى الدرالمختار : مع وجوب النفقة لمحرمها وفى رد المحتار: أى فيشترط أن تكون قادرة علىٰ نفقتها ونفقته (ردالمحتار ج:۲ ص:۴۶۴، طبع سعيد)

۴] ولها أن تخرج مع كل محرم الاأن يكون مجوسيالأنه يعتقد اباحة مناكحتها (هداية ج:۱ص:۲۳۳طبع ملتان)

۵] ومن شرائط وجوب الحج عليهاخلوها عن العدة أى عدة كانت ... الخ (البناية فى شرح الهداية ج : ۵ ص : ۲۰، كتاب الحج، طبع حقانيه)۔

خپله حج نه کونکي زوی له لوري والدينو حج ته ليږل

سوال: زوی خپل مور وپلار پخپله خرچه باندې دحج د سعادت له پاره ليږلی شي او که نه؟ حالانکه زوی پخپله د حج سعادت نه دی حاصل کړی او ايا داسې د والدينو حج به وشي؟

جواب: که چيرته زوی والدين د پيسو مالکان جوړ کړي، نودهغوی حج به وشي او که چيرته هلک سره مزيد نور گنجائش وي، نو هغه ته هم د والدينو سره تلل پکار دي. [۱]

د لورپه گټه باندې حج کول

سوال: که چيرته لورپه خپله گټه خپلې موربانديې حج کول غواړي، نوايادا جائزدي،چې دهغې زامن د دې قابل نه وي.

جواب: بې شکه جائزدي ،خودښځې دمحرم نه پرته حج ته تلل جائزنه دي، حرام دي.[۲]

د حاملې ښځې حج

سوال: اياحامله ښځې حج ته تللی شي؟ که چيرته هغه حج کولی شي، نواياهغه ماشوم ياماشومه کوم چې دهغې په خيټه کې دی دهغه هم حج وشو؟

جواب: حامله ښځه حج کولی شي[۳] اودهغې په خيټه کې دماشوم حج ونه شو.[۴]

د طاقت لرلو باوجود د حج نه مخکې عمره کول

سوال: واپسی نه وروسته حالات مناسب نه و اودرې کاله تيرولونه وروسته هم بې روزگاريم اويو بزرگ راته يوه خاص خبره وکړه، دهغه له پاره تاسوته رجوع کوم، فرمايي چې دعمرې شرطونه دادي، لومړی خودحج نه مخکې عمره جائزنه ده اوکه چيرته وکړل شي، نوهغه کال باندې حج هم لازم شي اوکه چيرته ونه کړل شي، نوگناهگاربه وي اوهم له دې وجې زه خفه يم، مهرباني وکړئ او دا راته ووايئ چې عمره دحج نه پرته نه کيږي، زمادې ويلوسره چې

---

[۱] وفی الدرالمختار:ولووهب الأب لابنه مالايحج به لم يجب قبوله وفی رد المحتار: وكذا عكسه...ومراده افادة أن القدرة على الزاد والراحلة لابد فيها من الملك دون الاباحة والعارية كماقدمناه (ردالمحتار ج:۲ص:۴۶۱)

[۲] قال ويعتبرفی المرأة أن تكون لهامحرم تحج به أو زوج ولا يجوز لها أن تحج بغيرهما (الهداية مع البناية ج : ۵ ص : ۱۳، ۱۴، كتاب الحج، طبع حقانية)۔

[۳] لأن النبی صلی الله عليه وسلم فسرالاستطاعة بالزاد والراحلة لاغيرقال ويعتبرفی المرأة أن يكون لهامحرم تحج به أوزوج (هداية ج : ۱ ص : ۲۳۳، كتاب الحج)۔

[۴] وانماشرط الحرية والبلوغ لقوله عليه السلام .... ايماصبی حج عشرحجج ثم بلغ فعليه حجة الاسلام (البناية مع الهداية ج : ۵ ص : ۵، كتاب الحج)۔

حضور ﷺ څوځله عمره کړې وه او حج یې یوازې یوځل په اخر کې کړی و، دا هغه برزګ ونه منل ویې ویل چې حضور ﷺ عمره نه وه کړې.

جواب: کوم کس چې دحج په ورځوکې بیت الله شریف ته ورسیږي، نودحج پورې ورته دهغه ځای کې داوسیدوطاقت وي، نوهغه باندې حج فرض دی [۱] اودافرضیت هغه باندې همیشه قائم وي، له دې وجې داسې کس کوم چې یوځل بیت الله شریف ته درسیدوطاقت لري،حج نه تلل پکاردي، عمرې له پاره سفرکول اودفرضیت باوجودحج نه کول ډیره غلطه خبره ده، په هرحال تاسوباندې حج فرض دی، حضور ﷺ د حج نه مخکې دحدیبیه په کال باندې عمره کړې وه، خودمکې کافرانو مخکې تلوته نه وپریښې، بل کال یې عمرة القضاء اداکړه. [۲]

حج یا د مور خدمت

سوال: زه حج کول غواړم، خو زما مور کمزورې ده او زما نه پرته دهغې څوک نه شته ، کومو خلکو سره چې زه د تللو اراده لرم هغوی بالکل پردي دي، زما تسلي وکړئ چې زه څه وکړم؟

جواب: که چیرته ستا په ذمه باندې حج فرض وي، نو مور الله ته وسپاره اوخپله ضرور حج ته لاړه شه او که چیرته تاباندې حج فرض نه وي، نو ستا له پاره د مور خدمت افضل دی. [۳]

د پلار د نافرمان زوی حج

سوال: زمامشرزوی ماته ډیربد وایي، داسې خبرې کوي لکه چې زه دهغه زوې یم اوهغه زما پلاروي، زمازړه دهغه له وجې ډیرکمزوری شوی دی اوماته ډیرسخت تکلیف دي، زه هروخت هغه ته بددعاکوم اوخاص طورباندې دهراذان په وخت کې هغه ته بد دعاکوم، چې الله تعالی دې هغه باندې فالج راولي اودهغه بیړه دې غرقه کړي، دهغه دکارونوله وجې ډیرسخت خفه یم، دروغ ډیرزیات وایي، جواب راکړئ چې دهغه به دالله تعالی په کورکې څه حال وي؟ اودی حج کولوله پاره هم روان دی، نوزه به هغه معاف کوم اوکه نه؟ دپلاردخفګان له وجې به

---

[۱] عن علی رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من ملک زادا وراحلة تبلغه الیٰ بیت الله ولم یحج فلاعلیه أن یموت یهودیا أو نصرانیاوذالک ان الله تبارک وتعالیٰ یقول : ولله علی الناس حج البیت من ستطاع الیه سبیلا رواه الترمذی (مشکوٰة ص : ۲۲۲،کتاب المناسک، الباب الأول) وهوفرض علی الفوروهوالأصح فلایباح له التأخیربعد الامکان الی العام الثانی کذا فی خزانة المفتین) (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۶، کتاب المناسک، طبع رسیدیة کوئته)۔

[۲] ان رسول الله صلی الله علیه وسلم وأصحابه أحصروا بالعمرة بالحدیبیة فقضوهامن القابل وکانت تسمی عمرة القضاء (البنایة شرح الهدایة ج : ۵ ص : ۳۷۹، کتاب الحج، باب الاحصار)۔

[۳] حج الفرض أولیٰ من طاعة الوالدین وطاعتهما اولیٰ من حج النفل (عالمگیری ج:۱ ص:۲۲۱ کتاب الحج)

ایا دهغه حج وشي او که نه؟ او ریدلي مې دادي که چیرته پلاریې معاف نه کړي، نو حج یې نه کیږي؟ زه به هغه کله هم نه معاف کوم.

جواب: که چیرته دهغه په ذمه باندې حج فرض وي. نو هغه ته حج له پاره تلل لازم دي[1] او دهغه فرض به هم اداشي. خو حج ته تلونکي له پاره ضروري ده چې حج ته تلو نه مخکې د ټولو خپلوانو حقونه اداکړي او دټولو نه حقونه معاف کړي[2] ستاسو زوی ته پکار دي چې هغه تاسو راضي کړي او معافي وغواړي، که چیرته تاسو هغه معاف نه کړئ، نوله دې وجې به دهغه نقصان وشي او تاسو ته به هم څه فائده و نه شي او که چیرته یې معاف کړئ، نو کېدای شي چې دهغه حالات صحیح شي. دې سره ستاسو هم فائده او دهغه هم.

عمره اداکولو سره حج نه لازمیږي کله چې دوه شرطونه وي

سوال: یو کس دخپل پلار صاحب دحج له پاره شل زره روپۍ جمع کړې وي، دحج دپالیسۍ مطابق دسمندري جهاز (طیاره) دډیک کرایه (۲۴۹۸۰) روپۍ تقریبا پنځویشت زره روپۍ ده. عالمانو سره مشوره وشوه چې څو مره پیسې کمې دي هغه قرض اخیستلو سره فارم ډک کړل شي؟ نو عالمانو په قرض باندې دحج اداکولو نه منع وکړه. بیا ترې نه پوښتنه وشوه چې عمره وکړي؟ نو جواب ملا وشو چې د عمرې کولو نه وروسته حج اداکول ضروري ګرځیږي، پوښتنه داکول غواړم که چیرته دحج په اداکولو کې دحکومت دقانون مطابق بندیز وي چې پیسې نه پوره کیږي، خو په موجوده پیسو باندې عمره کېدای شي. نو ایا دا صحیح ده او که غلط؟ او ایا عمره کولو نه وروسته به حج لازم وي او کله چې فرضیت کې کمی وي؟ داسې صورت کې څه کول پکار دي؟ په ژوند هیڅ اعتبار نه شته، تاسو ته خواست دی چې دې پیسو باندې عمره و شي، نو حج به لازم وي او که نه؟ څنګه چې شریعت اجازه ورکوي، جواب راکړئ، چې راتلونکې روژې کې عمره وکړل شي؟

جواب: که چیرته دحج په ورځو کې سړی مکې مکرمې ته ورسیږي او هلته دحج پورې اوسیدای شي، نو حج به فرض شي او که چیرته دا دواړه شرطونه پکې نه وي، نو حج نه فرض کیږي.[3]

---

[1] وهوفرض على الفور وهو الأصح فلا يباح له التأخير بعد الامكان الى العام الثاني كذا في خزانة المفتين (عالمگيرى ج : ١ ص : ٢١٦، كتاب المناسك، الباب الأول)_

[2] اذا أراد الرجل أن يحج ....يبدأ بالتوبة وإخلاص النية ورد المظالم والاستحلال من خصومه ومن كل من عامله كذ الى فتح القدير (عالمگيرى ج : ١ ص : ٢١٩، كتاب المناسك، الباب الأول)_

[3] ومن كان داخل المواقيت فهو كالمكي في عدم اشتراط الراحلة أى اذا قدروا على المشي ...... و أما الزاد فلا بد منه في أيام اشتغالهم بنسك الحج كما صرح به غيرواحد ففي الينابيع لا بد لهم من الزاد و قدر مايكفيهم وعيالهم بالمعروف وزاد في السراج الوهاج الى عودهم ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

سوال: که یوسړی دحج په میاشت کې داخل شي یعنې په روژه کې عمرې ته لاړشي اودشوال میاشت شروع شي، نوایاهغه کس باندې حج لازم شو؟ که چیرته هغه کس مخکې حج کړی وي، نوڅه حکم یې دی اوکه چیرته حج یې نه وي کړی، نوبیایې څه حکم دی؟

جواب: که چیرته حج یې کړی وي، نوپه دویم ځل باندې حج فرض نه دی[۱] اوکه یې نه وي کړی، نوهغه باندې حج فرض شو، دې شرط سره چې هغه دحج پورې هلته اوسیدای شي اوبیاوپس راتلوسره بیاحج ته دتلو طاقت لري، په دواړوشرطونوکې که چیرته یوشرط هم نه وي، نوهغه باندې حج فرض نه دی.[۲]

دچا له طرف نه چې عمره وکړل شي هغه باندې حج نه فرض کیږي

سوال: ایاسعودي عرب کې اوسیدوسره دخپلوخپلوانوله طرف نه چې ژوندي وي،مثلاً د وروله پاره،مورپلارله پاره،دښځې بچیوله پاره عمره کیږي؟ اوریدلی مودي چې دچاپه نوم باندې عمره و شی هغه باندې حج فرضیږي. ایاداصحیح دي چې یوازې دمړوله پاره عمره کیدای شي؟

جواب: عمره دژوندیودطرف نه هم کیدای شي[۳] دچاله طرف نه چې وکړل شي،هغوی باندې حج نه فرضیږی،ترڅوپورې چې هغوی طاقت ونه لري.[۴]

چې حج فرض وی نوښځې ته د خپل خاوند نه اوهلک ته د خپل پلار نه اجازه اخیستل ضروري نه دي

سوال: زماپلاردحج فریضه اداکړې ده،زه اوزمامورددې یروخت راهیسې پلارنه دحج ادا کولو اجازه غواړو،خوهغه په دې وجه باندې انکار کوي چې پیسې به خرچ شي، په دې وجه باندې

...بقیه د تیرمخ]... (ارشاد الساری ص : ۳۲، مبحث فی تحقیق الراحلة، عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۷)۔

۱] ولا یجب فی العمرالا مرة واحدة......فما زاد فهوتطوع (الهدایة مع البنایة ج : ۵ ص : ۳،کتاب الحج)۔

۲] أیضا پورته حاشیه (ومن کان داخل المواقیت...الخ) اوگوری!۔

۳] وفی الحج النفل تجوزالانابة حالة القدرة لأن باب النفل أوسع (هدایة ج : ۱ ص : ۲۷۷) أیضا : وفی البحر: من صام أوصلی أوتصدق وجعل ثوابه لغیره من الأموات والأحیاء جاز، ویصل ثوابها الیهم عند أهل السنة والجماعة کذافی البدائع ثم قال : وبهذا علم أنه لافرق بین أن یکون المجعول له میتا أوحیا، والظاهرأنه لافرق بین أن ینوی به عند الفعل للغیرأویفعله لنفسه ثم بعد ذالک یجعل ثوابه لغیره (رد المحتارج : ۲ ص : ۲۴۳، باب صلاة الجنازة، مطلب فی القراة .... الخ)۔

۴] الحج واجب .... اذا قدروا علی الزاد والراحلة (هدایة ج : ۱ ص : ۲۱۱، کتاب الحج)۔

هغه خبره وروسته کړي، مور ته الله تعالی دومره طاقت راکړی دی چې مور د پلار نه پیسې غوښتلونه پرته حج ته لاړ شو. یوازې د هغوی اجازه ضروری ده. ایا مونږ د حج تیاری وکړو او که نه؟

جواب: که چیرې تاسو باندې او ستاسو مور باندې حج فرض وي، نو تاسو حج ته ضرور لاړ شئ! د فرض حج له پاره ښځې ته د خاوند نه اجازه اخیستل (دې شرط باندې چې هغې سره محرم روان وي)[۱] او زوی ته له پلار نه اجازه اخیستل ضروري نه دي.[۲]

د مور پلار اجازه او حج

سوال: آیا حج کولو نه مخکې د مور پلار نه اجازه اخیستل ضروري دي؟

جواب: د فرض حج له پاره د مور پلار نه اجازه اخیستل شرط نه دي، خو د نفل حج له پاره د مور پلار نه د اجازې اخیستو نه پرته تلل نه دي پکار.[۳]

د ناواده کړي کس له پاره د مور پلار د له اجازې پرته حج ته تلل

سوال: کوم کس چې واده نه وي کړی او د هغه مور پلار ژوندي وي او مور پلار یې حج نه وي اداکړی، او د غه سړې حج کول غواړي، نو د هغه حج کیږي؟

۲. که چیرې مور پلار هغه ته حج ته د تلو اجازه ورکړي نو ایا هغه حج ته تلی شي؟

جواب: که چیرې د غه سړې مالداروي، برابره خبره ده که د هغه مور و پلار حج هم نه وي کړی، د هغه په ذمه باندې حج فرض دی[۴] او د فرض حج له پاره د مور پلار اجازه شرط نه ده.[۵]

---

[۱] ولیس لزوجها منعها عن حجة الاسلام وفی رد المحتار: أی اذا کان معها محرم والافله منعها کما یمنعها من غیر حجة الاسلام (فتاویٰ شامی ج : ۲ص : ۴۶۵، مطلب فی قولهم یقدم حق العبد .... الخ) وعند وجود المحرم کان علیها أن تحج حجة الاسلام وان لم یأذن لها زوجها (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۹، کتاب المناسک، الباب الأول)۔

[۲] ویکره الخروج الی الحج اذا کره أحد أبویه ان کان الوالد محتاجا الی خد مة الولد وان کان مستغنیا عن خد مته فلا بأس (عالمگیری ج : ۱ ص: ۲۲۰، کتاب المناسک، الباب الاول)۔

[۳] ویستأذن أبویه الخ أی اذا لم یکونا محتاجین الیه والا فیکره (ردالمحتار ج:۲ ص:۴۷۱ کتاب الحج) فی الملتقط حج الفرض أولیٰ من طاعة الوالدین و طاعتهما أولیٰ من حج النفل (عالمگیری ج : ۱ ص:۲۲۱، کتاب المناسک) و فی المضمرات الاتیان بحج الفرض أولیٰ من طاعة الوالدین (ارشاد الساری ص:۳، مقدمة، طبع دار الفکر)۔

[٤] ''وَ لِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيلًا،، (ال عمران : ۹۷)۔

[۵] تیره شوی حاشیه (و یستأذن أبویه الخ أی اذا لم یکونا محتاجین الیه...الخ) اوګورئ!۔

د بالغ حج

سوال: که چیرې یوکس په خپلې بالغې لور یا زوی باندې حج وکړي، نوایاداحج به دهغه نفلي وي؟

جواب: که پیسې دلور یا زوی ملکیت جوړې شوې وي، نوهغوی باندې هم حج فرض شو اودهغوی فرض حج هم اداشو.[1]

د نابالغ حج نفل وي

سوال: زه دحج کولواراده لرم.ماسره زمادوه بچي،دديارلسو کلو زوی،او دیوولسوکلولورده. تاسونه زه دا پوښتنه کول غواړم چې زما بچي چې نابالغ دي،دهغوی له پاره به داحج فرضي وي اوکه نفلي؟

جواب: دنابالغ حج نفلي وي، دبالغیدونه وروسته که چیرې دهغوی طاقت وي، نوهغوی باندې به حج فرض وي.[2]

که چاته څلورلکه روپۍ په یوځای ملاوشي نوهغه باندې حج فرض دی

سوال: ماته د ایئر فورس نه تقریباً څلور لکه روپۍ راروانه میاشت باندې د ملاویدو امید دی. ایا ماته فوراً حج ته تلل پکار دي؟ یا هغه پیسې په کاروبار باندې لګولوسره چې کله دهغې ګټه ملاؤ شي، نو بیا حج ته تلل پکار دي؟

جواب: حج خو تاباندې فرض شو. دحج د پیسو نه چې زیاتې کومې روپۍ دي هغه په کاروبار کې ولګوه! [3]

سعودی عرب کې د نوکري کونکیوحج اوعمره

سوال: کوم خلک چې دنوکرۍ له پاره جده یادسعودي عرب نورو ځایونو ته ځي،دهغه ځای نه هغوی حج اوعمرې اداکولوته ځي،دحدیث شریف په نزد باندې ددې ثواب څه دی؟ اودلرې نه خلک یعنې پاکستان نه خلک عمرې اوحج اداکولوله پاره ځي،یاغریب سړی چې پیسې

۱] ولو وهب الأب لابنه ....الخ وكذا عكسه .... و مراده الفادة أن القدرة على الزاد والراحلة لابد فيها من الملک دون الاباحة والعارية (رد المحتار ج :٢ ص:٤٦١)۔

٢] و انما شرط الحرية والبلوغ لقوله عليه السلام .... ايما صبي حج عشر حجج ثم بلغ فعليه حجة الاسلام (البناية مع الهداية ج :٥ ص :٥ كتاب الحج)۔

٣]من شرائط الحج القدرة على الزاد والراحلة .... أن يكون له مال فاضل عن حاجته........ قدر ما يبلغه الى المكة ذاهباً وجائياً(عالمگیری ج : ١ ص : ٢١٧. كتاب المناسک، الباب الاوّل)

جمع کوي اونیت یې هم وی چې زه به د عمرې یاحج ثواب حاصلوم، دویم کس چې هغه دنوکرۍ په سلسله کې سعودي عرب ته تللی وي. هغه هم دحج سعادت حاصل کړ. آیا دواړو صورتونو کې څه فرق نه شته؟

جواب: کوم خلک چې دنوکرۍ په سلسله کې سعودی عرب ته تللي وي اودحج په ورځو کې بیت الله شریف ته رسیدای شي، هغوی باندې حج فرض دی[1] اودهغوی حج اوعمره وغیره صحیح دي، که چیرې اخلاص وي اودحج اوعمرې ارکان هم صحیح اداکړي، نوان شاء الله هغوی ته به هم دحج اوعمرې هغومره ثواب ملاویږی څومره چې دوطن نه تلونکوته ملاویږي اوکوم غریب سړی چې پیسې جمع کولوسره دحج تلواراده کوي، خودومره پیسې جمع نه کړای شي چې دحج له پاره لاړشي، ان شاء الله هغه ته به په نیت کولوباندې دحج ثواب ملاویږي.[2]

حج باندې ډیوټۍ ته تلونکی که چیرې حج هم اداکړي نود هغه حج به وشي؟

سوال: زه دلته ریاض کې دحج په مقاماتوباندې ډیوټۍ له پاره حکومت رالیږلی یم، زماافسرماته وویل چې ته ډیوټۍ سره سره حج هم اداکولی شې، دغه شان دخپل افسرسره ماهم دحج ارکان اداکړل اوس واپس راتلووخت کې ماته خپلوځه دوستانووویل چې داسې ډیوټۍ کولوسره حج ادانه شو اوموږسره ډیرملایان حضرات هم وو، هغوی هم په ډیوټۍ وو، کوم کارچې موږته حکومت حواله کړی و، هغه موږپوره کړاودافسرانودااجازې نه وروسته مودحج ارکان اداکړل، ستاسوپه خیال کې دداسې حج شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: ستاسوحج هم خرما او هم ثواب په شان (مصداق) دی، تاسوته دوه چنده ثواب ملاوشو، دحج هم اودحاجیانو دخدمت کولوهم.[3]

د سیل (سیاحت) په ویزه باندې حج کول

سوال: دیندارحضرات خپلې ښځې عمرې اوحج اداکولوله پاره په ویزت (دسیل په ویزه باندې) راغواړي چې دلته به هم راشي اوحج یاعمره به هم اداکړي، کله ناکله دویزې حاصلولوله پاره

---

[1] و فی الینابیع یجب الحج علیٰ أهل مکة ومن حولها ممن کان بینه وبین مکة أقل من ثلاثة ایام اذا کانوا قادرین علی المشی وان لم یقدروا علی الراحلة ولکن لا بد ان یکون لهم من الطعام مقدار ما یکفیهم وعیالهم بالمعروف الیٰ عودهم کذا فی السراج الوهاج (عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۱۷، کتاب المناسک، الباب الأول)۔

[2] وقد روی أیضا من حدیث أبي موسی الاشعری رضی الله عنه نیة المؤمن خیر من عمله ان الله عز وجل لیعطی العبد علیٰ نیته ما لا یعطیه علیٰ عمله وذٰلک ان النیة لا ریاء فیها والعمل یخالطه الریاء (اتحاف السادة ج: ۱۰ ص: ۱۵ طبع دار الفکر بیروت)۔

[3] الحج المبرور لیس له جزاء الا الجنة، قالوا یارسول الله ! ما بر الحج؟ قال: اطعام الطعام وافشاء السلام (کنز العمال ج: ۵ ص: ۱۳، حدیث نمبر: ۱۱۸۳۴، طبع مؤسسة الرسالة بیروت)۔

رشوت هم ورکړل شي.نو آیا دا حج کول صحیح دي او که نه؟

جواب: دسیل(سیاحت) په ویزه باندې حج کول صحیح دي.خودې له پاره رشوت ورکول صحیح نه دي [۱]

د فوج له طرف نه د حج اداکونکي فرض حج به اداشي

سوال: که یوکس دفوج له طرف نه حج اداکولوته لاړشي. نودهغه فرض اداکیږي؟(فوجیان هرکال دحج اداکولوله پاره خي)

جواب: هو!فرض حج ادا کیږي. [۲]

آیا د ښځې په ګټې سره حج کول جائز دي؟

سوال: زه او زما خاوند ډاکټران یو. کور سره ذاتي کلینک هم دې، د لیډي ډاکټر د زيات ضرورت کیدو د وجې نه زما ګټه زما د خاوند د ګټې نه زیاته ده. اوس زموږ حج ته د تللو اراده ده. د کور اخراجات درمیانه چال سره د پوره کولو نه وروسته زما د خاوند په ګټې سره دحج اخراجات پوره کول ممکن نه دي. ماچیرته ویلي و چې د ښځې زامنو اود کور ټول اخراجات د خاوند په ذمه وي، نن سبا د ګراني په دور کې که چیرته خاوند ایمانداري سره ګټي. نو په عزت سره خو ژوند تیریدای شي.خو نور سهولتونه مثلا: ذاتي کور اود حج اخراجات تقریبا ناممکن دي، زما د زړه نه خواهش و چې زه دخپل خاوند د ګټې نه حج وکړم. خو في الحال دا ممکنه نه ده، کیدای شي څو کاله پس دا ممکن وي. آیا زه او زما خاوند . زما د ګټې نه په دې کال حج ته تللي شو . حالانکه ماته په دې باندې هیڅ اعتراض نه شته ؟آیا د ښځې په ګټې سره حج جائز دی؟ او آیا موږ ته به د حج ثواب ملاویږي اوکه نه؟

جواب: که چیرته تاسو دواړه ښځه خاوند ، ستاسو په ګټې سره حج ته لاړ شئ. نوله شک پرته جائز دی او تاته به دوچنده ثواب ملاویږي.[۳]

۱] عن عبدالله بن عمر وقال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي رواه ابوداؤد و ابن ماجه و رواه الترمذى (مشكوٰة ص: ۳۲۶،باب الربا، طبع قديمى كتب خانه)۔

۲] ولو تكلف هٰؤلاء الحج بأنفسهم سقط عنهم(عالمگیرى ج :۱ ص : ۲۱۸) أيضا الفقيراذا حج ماشياثم أيسر لا حج عليه هٰكذا فى فتاوىٰ قاضيخان (عالمگیرى ج:۱ ص:۲۱۷) فاذا بلغ مكة وهويملك منافع بدنه فقد قدرعلى الحج بالمشى وقليل زادفوجب عليه الحج فاذا أدى وقع عن حجة الاسلام (بدائع الصنائع ج:۲ ص:۱۲۰طبع سعيد)

۳]ومنهاالقدرة على الزاد والراحلة بطريق الملك اوالاجارة (عالمگیرى ج :۱ ص : ۲۱۷)

د پلار او خاوند شریک دکان خرڅولو سره د دواړو حج ته تلل

سوال: زما په صدر کې یو دکان دی. چې ما د پلار په پیسو سره واخیست په هغې کې مې د خاوند پیسې هم لګیدلي دي. هغه خرڅولو سره حج کولی شو؟ هغه دکان زما په نوم باندې دی. او پیسې به جدا جدا کوو.

جواب: دا هم صحیح ده. (هیڅ خبره نشته حج ته لاړه شه) [۱]

د حج پیسې په بل کاربا ندې لګول

سوال: ما خپلې مورته دوه کاله مخکې دهغې له پاره اودخپل پلار له پاره دحج پیسې ورکړې،او هغه پیسې هغوی په څه بل کارباندې ولګولې،دهغه نه پیسې په کال دووکې په یوځای باندې نه شي واپس کیدای،ماهغوی نه دحج تقاضاوکړه نوهغوی وویل چې که چیرې قسمت کې مو و نو وبه شی،ستافرض اداشو،مولوی صاحب راته ووایئ چې ماپه کوم نیت باندې هغوی ته پیسې ورکړې وې دهغې ثواب ماته ملاؤشو؟ اومورمې دحج نه اداکولوپه وجه باندې ګناهګاره خونه ده؟

جواب: تاسوته ثواب ملاؤشواوستاسومورباندې حج فرض شو،که چیرې دحج اداکولونه پرته هغه وفات شوه نوګناهګاره به وی،اوهغې باندې لازم دي چې مرګ نه مخکې وصیت وکړي چې دهغې دطرف نه حج اداکړل شي.[۲]

د فرض حج له پاره قرض اخیستل

سوال: قرض اخیستلوسره زیدحج کولی شي اوکه نه اوقرضه ورکونکی په خوشحالي باندې داوایي چې تاسوحج ته لاړشئ! زه پیسې درکوم. بیابه یې راکړئ!

جواب: که چیرې حج فرض وي اوقرض ملاویدای شي نوخامخا تلل پکاردي اوکه فرض نه وي نوبیاهم قرض اخیستوسره حج ته تلل جائزدي.[۳]

---

[۱] ومنهاالقدرة على الزاد والراحلة بطريق الملک ......أن يكون له مال فاضل عن حاجته ...... وقدرمايبلغه الى مكة ذاهبا وجائيا (عالمگیری ج :۱ ص : ۲۱۷، کتاب المناسک، الباب الأول، طبع رشيدية كوئته)

[۲] من عليه الحج اذا مات قبل أدائه فان مات من غيروصية يأثم بلاخلاف وان أحب الوارث أن يحج عنه حج وأرجوا أن يجزئه ذالک ان شاء الله تعالیٰ كذا ذكرأبوحنيفة رحمه الله تعالیٰ وان مات عن وصية لايسقط الحج عنه وان حج عنه يجوزعندنا (عالمگیری ج:۱ص:۲۵۸ کتاب المناسک، الباب الخامس عشرفی الوصية بالحج)

[۳] ولذا قلنالا يستقرض لحج الا اذا قدرعلى الوفاء كمامر (فتاویٰ شامی ج : ۲ ص : ۴۶۲، کتاب الحج،مطلب فی قولهم يقدم حق العبدعلى حق الشرع، طبع ايچ ايم سعيد)

قرض اخيستو سره حج او عمره کول

سوال: زما اراده د عمرې کولو ده، ما يوه کميټۍ اچولې وه. خيال مې و چې د دې پيسې به راووځي خو هغه را نه وتې. اميد دې چې بله مياشت پورې به راووځي. پوښتنه دا ده چې ايا زه د چا نه پيسې اخيستو سره عمره کولی شم. واپس راتلو سره به يې ورته واپس ورکړم. نو تاسو وايئ چې قرض حسنه باندې عمره اداکيدای شي؟

جواب: که چيرې د قرض سهولت سره دواپس کيدو اميد وي. نو قرض اخيستو سره عمرې وحج ته تلل صحيح دي [۱]

د قرض دار سړي حج کول جائز دي. خو د قرضې اداکولو ته دې هم فکر کوي

سوال: يو سړي باندې قرض دی. خو پيسې راتلو سره د قرض اداکولو په ځای باندې هغه د پاکستان (يا افغانستان) نه خپل مور پلار راوغوښتل او پخپله ورسره هم حج ته لاړ، د داسې حج په شريعت کې څه حيثيت دی؟

جواب: حج خو وشو خو د چا قرض نه ورکول ډيره بده خبره ده، د کبيره ګناهونو نه وروسته د ټولو نه غټه ګناه ده چې انسان قرض دار له دنيانه لاړشي او دومره مال پرينږدي چې د هغه نه د هغه قرض اداشي، د مړي قرض چې ترڅو پورې ادا نه شي هغه بندوي، په دې وجه باندې د قرض اداکول ډير زيات ضروري دي.[۲]

مخکې قرض ادا کړم او که نفلي حج؟

سوال: ما په (۱۹۹۲ء) کې د حج بيت الله سعادت حاصل کړ، ما هلته خصوصي طور باندې دا دعا وکړه. اې الله ما ته توفيق راکړې چې آينده کال زه د حضور ﷺ د طرف نه حج کولو له پاره راشم. چونکې زه يو معمولي ملازم يم. او زما خپل حيثيت هيڅ نه دی. په دې کال (۱۹۹۷ء) کې ما يو کور اخستی دی، چې د درې نيمو لکو روپيو دی. يوه نيم لک مې ادا کړي دي. او باقي پيسې دوه کاله پس ادا کول دي (دوه لکه روپۍ) شپږ مياشتې مخکې ما د کور ادائيګي له پاره قسط اچولی و، چې په دې اګست مياشت (۱۹۹۷ء) راوتی دی. د هغه ماليت شپته زره روپۍ دی او اوس ما ته شپږ مياشتې مزيد د قسط ادائيګي کول دي،

---

[۱] ايضاً پورتنۍ حاشيه)۔

[۲] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : نفس المؤمن معلقة بدينه حق يقضى عنه (ترمذی باب ماجاء ان نفس المؤمن معلقة بدينه ج : ۱ ص : ۱۲۸، طبع رشيدية)۔

مسئله داده چې اوس زه څه وکړم؟ هغه شپته زره روپۍ د حج بدل له پاره جمع کړم؟ یا د کور په قرضه کې یې ورکړم؟

جواب: د نفلي حج په ځای قرضه ادا کول غوره دي. [1] کله چې الله تعالی توفیق درکړي، نو دحضور ﷺ د طرف نه حج ادا کړه!

د قرض په پیسو سره، صدقه، حج او قرباني کول

سوال: ما د بچیو له وجې نوکري پرېښوده اوس کورکې د ښځې د مدد له پاره اوسیږم. مونږ هره میاشت قرض اخلو. چې هغې باندې سود وغیره به نه وي، چې کله زه واپس په نوکرې باندې شم. نو ادا به یې کړم. پوښتنه داده چې ایا ددې (قرض په پیسو سره) ۱: مونږ قرباني کولی شو اوکه نه؟ ۲: خیرات (د جومات په چنده، یا یو سړي ته) مونږ ورکولی شو اوکه نه؟ ۳: مورپلار باندې په دې پیسو سره حج کولی شو اوکه نه؟ ۴: په دې پیسو کې زکات ورکولی شو؟ ۵: که خیرات ورکړو نو قبلیږي او که نه؟

جواب: هرکله چې تاسره خپلې پیسې نه شته نو ښکاره خبره ده چې تاباندې نه زکات واجب دی، نه قرباني .خو ته د قرض پیسو دخپل مصلحت مطابق دخرچ کولو اختیارمند یې، قرباني غواړې نو قرباني کولې شې، صدقه خیرات کولی شې، حج کولې شې والدینو باندې یې هم کولی شې! [2]

❖ په ناجائزه ذریعه حج کول ❖

غصب شویو پیسو باندې حج کول

سوال: دچاذاتي شي باندې بل سړی قبضه وکړي، دهغه شي قیمت پنځوس زره روپۍ وي اوخان دهغې مالک کړي، نوایاهغه حج کولی شي؟ دالله تعالی اودحضور ﷺ دې باره کې څه حکم دی؟

جواب: دبل په شي باندې دپه ناجائزطریقې سره قبضه کول اودهغې مالک جوړیدل کبیره ګناه او سخت جرم دی[3] که چیرې داسې کس حج ته لاړشي، نودحج نه چې کومې فائدې

---

[1] اذا أراد الرجل أن يحج قالوا ينبغي أن يقضي ديونه (عالمگيرى ج :۱ ص : ۲۱۹، كتاب المناسك)

[2] من شرائط الحج القدرة على الزاد والراحلة ...... أن يكون له مال فاضل عن حاجته ..... قدر ما يبلغه الى مكة ذاهبا وجائيا (عالمگيرى ج :۱ ص : ۲۱۷، كتاب المناسك الباب الأول)

[3] عن أبي حرة الرقاشي عن عمه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ألا لاتظلموا! ألا لا يحل مال امرئ الابطيب نفس منه (مشكوٰة ص:۲۵۵باب الغصب والعارية،طبع قد يمى) ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

حاصلیږي، هغه به هغه ته حاصلې نه شي. حج ته تلونه مخکې انسان ته ددې خبرې اهتمام کول پکار دي چې دهغه په ذمه باندې دچاواجب حق وي دهغه نه دې ځان خلاص کړي، که چیرې دچاامانت هغه سره وي، نوهغه دې واپس کړي، که دچاڅه شی یې غصب کړی وي، نوهغه دې ورته واپس کړي، که چیرې دچاحق یې نیولی وي هغه دې اداکړي، له دې نه پرته که چیرې هغه حج ته لاړشي، نویوازې دنوم حج به وي[۱]، حدیث شریف کې دي چې یوکس دلرې نه دبیت الله په سفر باندې ځي، دهغه دسرویښته ګډ وډ وي، بدن یې خیرن خچن وي، هغه په چیغو چیغوباندې الله تعالی ته یارب یارب وایي، حالانکې دهغه خوراک حرام، جامې حرامې، دهغه خوراک ښباک حرام وي، نودهغه دعابه څنګه قبوله شي؟![۲]

د رشوت اخستونکي په حلاله ګټه حج کول

سوال: زه چې کوم ځای کارکوم هلته درشوت پیسې ډیرې زیاتې دي، خوخپله تنخواه کومه چې حلاله ده جداایږدم، ایازه په دغه ګټه باندې پخپله اوبه خپلې ښځې باندې حج کولی شم، اوزماتنخوا کې یوه پیسه هم حرامه نه شته.

جواب: کله چې ستاسوتنخواه حلاله ده نوبیاحج کولوکې څه مشکل دی؟ که دپورته آمدن نه ستاسو مراد دحراموګټه وي، نودې باره کې تاسوته دا پوښتنه کول پکارو وچې حلالې پیسې خوزه جمع کوم او حرامې پیسې خورم، زماداکارڅنګه دی؟

حدیث شریف کې دي چې دکوم بدن خوراک دحرامو وي، د دوزخ اوردهغه زیات مستحق دی.[۳] یوبل حدیث شریف کې دي چې یوکس دلرې نه دبیت الله په سفر باندې ځي، دهغه د سر ویښته ګډوډ وي، بدن یې خیرن خچن وی، هغه په چیغوچیغوباندې الله تعالی ته یارب یارب وایي حالانکې دهغه خوراک حرام، جامې حرامې، دهغه خوراک ښباک حرام وي، نودهغه دعابه څنګه قبوله شي؟![۴] غرض دا چې حج باندې تلل غواړې نود حرامې ګټې نه توبه اوباسه!

...بقیه د تیرمخ]... وعن عمران بن حصین رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال:....ومن انتهب نهبة فلیس منا رواه الترمذی (مشکوٰة : ص ۲۵۵)

۱] کمالوصلی مرائیاأوصام واغتاب فان الفعل صحیح لکنه بلاثواب والله تعالیٰ أعلم(ردالمحتار: ج۲ ص: ۴۵۶)

۲] عن أبي هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله طیب لایقبل الا طیبا ....ثم ذکرالرجل یطیل السفرأشعث أغبر یمد یدیه الی السماء : یارب ! یارب ! ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فانی یستجاب لذالک رواه مسلم (مشکوٰة ص : ۲۴۱، باب الکسب والحلال. طبع قدیمی)۔

۳] عن جابررضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایدخل الجنة لحم نبت من السحت، وکل لحم نبت من السحت کانت النارأولی به (مشکوٰة، باب الکسب وطلب الحلال ص:۲۴۲، طبع قدیمی)

۴] عن أبي هریرة رضی الله عنه .... رجل یطیل السفرأشعث أغبر یمد...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

آیا د رشوت اخیستونکو په جائزو پیسو سره حج، حج مقبول دی؟

سوال: آیا د هغو حضراتو حج او عمره کولو سره مخکیني او وروستني ګناهونه معاف کیږي چې پاک وطن پاکستان کې د حکومت په ملازمت کې پاتې کیدوسره ټول عمر د عوامو په جیبونو باندې ډاکې اچوي، په رشوتونو باندې خیټه ډکوي، بنګله، موټر، بینک بیلنس، جائیدادونه جوړوي؟ ریټائر کیدو نه پس د پنشن پیسې ملاؤ شوې یا زوی، ورور، وراره د بهر ملک نه پیسې رااولیږلې چې دا پیسې حلالې دي، حرامې نه دي، د حج عمرې د پاره لاړ شي دې له پاره چې ټول عمرمې حقوق العباد هضم کړي دي، رشوتونه مې خوړلي دي چې الله تعالی یې راته معاف کړي او د «حاجی» لقب هم حاصل کړم. ایا د الله په دربار کې د هغه حج او عمره قبلیږي؟

جواب: د الله تعالی په دربار کې دچا حج قبلیږي او دچا نه؟ دا خو هغه مالک ته معلومه ده، موږ ته د هغه په معاملاتو کې د وینا کولو حق نه شته .خو رسول الله ﷺ د «حج مقبول» څه نښې بیان کړي دي. هغه مخامخ کولو سره هرسړي ته فیصله کول پکار دي چې دهغه په حج کې د «حج مقبول» نښې موندل کیږي او که نه؟

یو نښه دا ده چې په حج کې یې حلال مال خرچ کړی وي، حرام مال سره چې کوم حج وکړل شي هغه قبول نه دی. بلکې مردود دی. د صحیح مسلم په حدیث کې دي چې حضور ﷺ وفرمایل چې «الله تعالی پخپله هم پاک دی او پاک شی هم قبلوي، او الله تعالی ایمان والاوو ته هم هغه حکم کړی دی چې رسولانو ته یې وکړ، څکه د الله تعالی ارشاد دی. «اې رسولانو! پاک شیان خورئ او نیک عمل کوئ (المؤمنون: ۵۱) او وییې فرمایل: دهغو پاکو شیانو څخه خوراک کوئ چې موږه تاسو ته درکړي دي (البقرة: ۱۷۲) بیا حضور ﷺ دهغه سړي ذکر وکړ چې په اوږد سفر (حج ته) ځي، دهغه د سر ویښتان ببر وي، بدن او جامې یې ګنده وي. هغه اسمان طرف ته لاس نیولوسره وایي: «اې زما ربه! اې زما ربه!» حالانکې دهغه خوراک حرام وي، دهغه څښاک حرام وي، دهغه د جامې د حرامو نه وي، او د حرامو په غذا سره دهغه پالنه وشوه.نو دهغه دعا به څنګه قبوله وي؟!.[۱]

بقیه د تیرمخ| يديه الى السماء : يارب ! يارب ! ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذى بالحرام فانى يستجاب لذالک رواه مسلم (مشکوٰة ص:۲۴۱ باب الکسب)

[۱] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان الله طيب لايقبل الا طيبا، وان الله تعالیٰ أمرالمؤمنين بماأمربه المرسلين فقال: يايهاالرسل كلوامن الطيبٰت واعملوا صالحا انى بما تعملون عليم وقال: يايهاالذين امنواكلوامن طيبٰت مارزقنكم ثم ذكرالرجل يطيل السفرأشعث اغبر يمد يديه الى السماء : يارب ! يارب ! ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذى بالحرام فانى يستجاب لذالک رواه مسلم (مشکوٰة ص : ۲۴۱. باب الکسب وطلب الحلال)

نو کوم سړی چې غواړي چې هغه ته د ((حج مقبول)) سعادت نصیب وي، هغه باندې لازم دي چې حلال او پاک مال سره حج وکړي. یوه علامه دادې چې، حج ته د تللو نه مخکې د ټولو ګناهونو نه بې توبه ویستلي وي. اودکومو خلکو چې مالي، جاني حقوق دهغه په ذمه دي هغه خو یا ادا کړي یایې ورباندې معاف کړي، چې دخلکو حقوق یې په ذمه باندې وي نو حج نه قبلیږي [۱]

یوه علامه یې داده چې د حج ارکان یې صحیح ادا کړي وي، که چیرته یې د حج ارکان صحیح ادا کړی نه وي نو قبولیت د حج یې مشکل دی. [۲]

په حرامو پیسو باندې حج

سوال: داخو متفقه فیصله ده چې په حرامو پیسو باندې حج قبول نه وي، خو ماد یو ملاصاحب نه اوریدلي دي.که چیرې دغه کس دیوغیرمسلم نه قرض واخلي اودحج واجبات دهغې نه اداکړي نوامیددی چې الله تعالی به دهغه حج قبول کړي، پوښتنه داده چې دغیرمسلم مال خومخکې نه حرام دی.داحج به څنګه اداشي.مهرباني وکړئ ددې وضاحت وکړئ!

جواب: غیرمسلم خودحلال اوحرام قائل نه وي،په دې وجه باندې حلال اوحرام دهغه په حق کې یوشان دي اوکله چې مسلمان دهغه نه قرض واخلي، نوهغه پیسې به دمسلمان له پاره حلالې وي.دهغې نه صدقه کولی شي،حج کولی شي.بیاکه دهغه قرض دحرام پیسونه اداکړي نوداګناه به وي خوحج کې به حرامې پیسې استعمال نه شي.[۳]

حرامو پیسو باندې حج ته تلل

سوال: آیا حرامو پیسو باندې حج ته تلل پکاردي؟ حالانکې د یو جومات د امام فتوا ده چې تلل پکار دي؟ خود ډیرو خلکو په دې کې اختلاف دی.

جواب: حرامو پیسو سره شوی حج نه قبلیږي. والله اعلم![۴]

حرامې ګټې نه چاباندې حج کول نه قبلیږي

سوال: که چیرته یو مالدار سړی یو غریب باندې حج کوي، دهغه مالداره سړي ګټه په ناجائزې طریقې سره وي، نودهغه غریب سړي حج کیږي اوکه نه؟

---

[۱] یبدأ بالتوبة .... وردالمظالم واستحلال من کل خصومه ومن کل عامله (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۹)

[۲] قال النووی : انه (ای الحج المبرور) الذی لایخالطه شئ من الاثم (معارف السنن ج : ۶ص : ۱۲)

[۳] والحلیة لمن لیس معه الاموال حرام أوفیه شبهة أن یستدین للحج من مال حلال ...... ویحج به ثم یقضی دینه من ماله (غنیة الناسک ص : ۲۱. باب شرائط الحج، طبع ادارة القران)_

[۴] فان الله لا یقبل الحج بالنفقة الحرام مع انه یسقط الفرض معها (عالمگیری ج:۱ص:۲۲۰، کتاب المناسک)

جواب: حرامو پیسو باندې شوي حج نه قبلیږي.[1]

د تحفې یا رشوت په پیسو باندې حج کول

سوال: مسئله داده چې زه یو مقامي دفترکې نوکر یم. زما کټه دومره نه ده چې زه اوزما بنځه بچت سیمو، وکړو او حج ته لاړشو. د هرمسلمان دا خواهش وي، بلکې فرض دی. موږ زرترزره حج اداکول غواړو. که چیرې ما سره څه پیسې جمع شي کومې چې ماته دفترکې په تحفوکې لږ لږ ملاوشوي وي. نو ایا هغه پیسې موږ حج باندې خرچ کولو سره دافرض اداکولی شو؟ یقین وکړئ چې ما کله هم دحکومت سره بې ایماني یادوکه کولوسره پیسې نه دي اخستي. بلکې په زور باندې راته پیسې راکړل شوي دي یادتحفې په طورباندې. آیاداسې پیسو باندې حج کول جائزدي؟ مهرباني وکړئ دې مسئلې نه مو خبرکړئ!

جواب: حج یوه مقدسه فریضه ده، خوپه هغه کس باندې فرض دی، چې طاقت یې لري[2] تاسوته چې کومې پیسې په تحفه کې ملاو شوي دي که چیرې تاسونوکر نه وئ نوبیابه هم تاسوته هغه پیسې ملاؤشوې وې؟ که چیرې جواب په نه! (نفي) وي، نوداتحفه نه ده، بلکې رشوت دی اودې باندې حج کول جائزنه دي، بلکې دکوموخلکونه موچې اخستي دي هغوی ته داپیسې واپس کول ضروري دي.[3]

د سود پیسې که نوروسره یوځای شوې وي نو دې باندې حج کول څنګه دي؟

سوال: مهرباني وکړئ دشرعي اصولومطابق دا ووایئ چې حلال او جائزپیسې دسودپیسوسره په قصدباندې ګډې کړل شي. نوایاداسې پیسوباندې حج کیدای شي اوکه نه؟

جواب: حج یوازې په حلالو پیسوباندې کیدای شي.[4]

---

[1] یجتهدفی تحصیل نفقة حلال فان الله لایقبل الحج بالنفقة الحرام (عالمگیری ج:۱ص:۲۲۰، کتاب المناسک)

[2] وهوواجب أی فرض فی العمرمرة علی الأحرار البالغین العقلاء الأصحاء اذا قدروا علی الزاد ذهابا وایابا والراحلة ....فاضلا أی زائدا ذالک عن مسکنه ومالابدله منه کالثیاب وأثاث المنزل والخادم ونحوذالک ....عن نفقة عیاله ....الیٰ حین عوده..الخ (اللباب فی شرح الکتاب ج:۱ص:۱۶۴، کتاب الحج، طبع قدیمی)

[3] عن أبی أمامة أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال : من شفع لأحد شفاعة فاهدی له هدیة علیها فقبلها فقد أتی بابا عظیما من أبواب الربا (مشکوٰة ص : ۳۲۶، باب رزق الولاة وهدایاهم)۔

[4] ولایحل حرام، ولوحج به سقط عنه الفرض لکن لاتقبل حجته (غنیة الناسک ص : ۲۱، باب شرائط الحج)، عن أبی هریرة رضی الله عنه .. ان الله طیب لایقبل الاطیبا (مشکوٰة ج :۱ ص : ۲۴۱، باب الکسب وطلب الحلال)

د زوی د سودي کاروبار په پیسو سره حج کیږي؟

سوال: د بینک سره د کاروبار کیدو په وجه زما د زوی په ګټه کې د سود ګډون دی. عالمان وايي چې سودي پيسو سره حج او عمره نه کيږي. دهغوی فرمان دی چې دیو غیرمسلم نه قرض اخستلو سره دې حج او عمره ادا کړل شي او بيا دې په سودي پيسو سره قرض ادا شي.خو اول اشکال دادی چې د قرضدار حج نه کيږي. دويم داچې زما زوی قرض غوښتی و. قرض ورکونکی غيرمسلم د قرض په پيسو باندې سود غواړي. زما زوی ماته نغدې روپۍ راکړې دي. دې ويلو سره چې ته پوهه شه او ستا کار. دهغه دا هم وينا ده چې په دې سودي پيسو سره زموږ ټول کاروبار چليږي. نو دهغې تدارک به څه وی؟ ماته د جواب تلوار ځکه ده چې په دې کال دحج په نيت سره دلته لندن ته زوی ته راغلي يو، اود حج درخواست موورکړی دی. رهنمايي وکړئ. بله داچې همدا زوی زموږ واحد کفيل دی او موږ د شلو پنځه ويشت کالو راهيسې د زوی د ګټې نه زکات ادا کوو او قرباني کوو، آينده څه وکړو؟

جواب: هرکله چې ستا په ذمه باندې حج فرض نه دی، نو تاسو مهرباني وکړئ مه ځئ! تاته به په نه تللو باندې ثواب ملاويږي، او پيسې خپل زوی ته واپس کړه! [۱]

د کوم دکان د بجلۍ بل چې کله هم نه وي ورکړل شوی، دهغه په ګټې حج کول

سوال: زما په کلي کې دکان دی، په هغه کې له ميټر پرته بجلۍ ده، د بجلۍ بل کله هم نه دی ورکړل شوی، دهغه دکان په ګټې سره حج ته تلل غواړم، ايا هغو پيسو سره به زما حج وشي؟

جواب: تراوسه پورې دې چې څومره بجلۍ غلا کړې ده، دهغې قيمت ادا کړه. او آينده د غلا نه توبه وکړه، بيا شوق سره حج ته لاړ شه! که نه، هماغه مثال به وي چې: نهه سوه مږې يې وخوړې. نو پيشو حج ته لاړه. [۲]

د حاجيانو له پاره د بينک تحفې

سوال: د کوم بينک په ذريعې چې موږ د حج پيسې جمع کړې اود حج له پاره مو کار وکړ. له هغه وروسته بينک موږ ته د تحفې په طور د اوبو يو ترماس(ترموس) او يو عدد بيګ راکړ، چونکې د بينک کار سودي وي، ايا دا تحفې موږ له پاره حج ته وړل جائز دي؟ يا بيا موږ دا تحفې واپس کړو؟ مهرباني کولو سره ددې مسئلې په باره کې خپلې رايې سره مو مستفيد کړئ!

---

[۱] وأماشرائط وجوبه الخ منهاالقدرة على الزاد والراحلة بطريق الملک والاجارة (عالمګيری ج:۱ص: ۲۱۷)

[۲] ...... فان الله لا يقبل الحج بالنفقة الحرام (فتاوئ عالمګيری ج : ۱ ص : ۲۲۰ کتاب المناسک)

جواب: د حاجیانو چې کومې پیسې جمع کیږي، بینک په هغو باندې سود اخلي او دا سود د حکومت په کار راځي یاد بینک والا. ددې ماته علم نه شته او هم دهغه سود په پیسو سره څه تحفې هم ورکول کیږي، اوس پخپله غور وکړئ چې دهغې اخستل به د حاجیانو د پاره ترکومه حده پورې صحیح وي....؟ [۱]

د بینک له طرف نه حاجیاتو ته تحفه ورکول

سوال: د کومو درخواست کوونکو چې د حج درخواست قبول شي، هغوی ته متعلقه بینک د تحفې په طور باندې څه څیزونه ورکوي، مثلاً: د اوبو له پاره ترماس، هینډبیګ (لاس بیګ) او داسې نور..... په دې کال یو بینک والا احرامونه رالیږلي دي، پوښتنه داده چې ایا داپه سود کې راځي او که نه؟ او په هغه احرام سره په حج کې خو څه نقص نه راځي؟

جواب: ددې وضاحت بینک والا ته کول پکار دي، که چیرته د حاجیانو د پیسونه څه برخه بطورِ تحفه پیش کیږی نو جائز دي، او که چیرته د بینک له طرف نه تحفه ورکول کیږي (ځکه چې بینک څلور پنځه میاشتې د حاجیانو د پیسو سود خوړلی وي، له دې وجې نه بینک د شکریه په طورباندې دحاجیانو په خدمت کې دا وړوکې تحفه پیش کوي) نو دا حلال نه دي، ځکه چې دا د سود د پیسو نه درکړل شوي دي. [۲]

آیا د عربو شیخانو په ذریعې سره شوی حج قبلیږي؟

سوال: زمونږخلک د عربو شیخانو په توسط سره حج کوي. عرب حضرات چونکې بلوچستان ته د ښکار په غرض راځي، دلته د معتبرو خلکو سره واسطه وي، دهغه معتبرو خلکو په ذریعې سره دسلو دوه سوو کسانو له پاره د هوایي سفر دوه طرفه ټکټ رالیږي. له دې پرته دهغو کسانو له پاره د قیام او طعام خرچه هم ورسره رالیږي، حالانکې هغه خرچ معتبرین اخوا دیخوا کړي، یوازې ټکټ متعلقه سړي ته ورکوي، الا ماشاء الله کله کله یو نیم غریب سړي ته ټکټ ملاویږي، دهغه ځای قیام، طعام، خرچې، اود پاسپورټ وغیره خرچې متعلقه سړي ته پخپله برداشت کول وي، سوال دادی چې داسې حج کول جائز دي او که ناجائز؟ ځینې شتمن کسان همدا طریقه اختیاروي چې دهغوی حج به ادا کیږي او که نه؟

---

[۱] عن علی رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم اکل الربوا ومؤکله (مسندامام اعظم ص: ۱۶۴)

[۲] عن أبي جحیفة ان النبی صلی الله علیه وسلم نهیٰ عن ثمن الدم وثمن الکلب وکسب البغی ولعن اکل الربا وموکله والواشمة والمستوشمة والمصور رواه البخاری (مشکوٰة ص : ۲۴۱، باب الکسب وطلب الحلال) عن جابرقال لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم اکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم (مشکوٰة ص : ۲۴۴)

جواب: دهغوی حج ادا کیږي.خو کومو خلکو چې پیسې خوړلي دي. هغوی باندې به ددې ګناه راځي او آخرت کې به هغوی ته دا پیسې ورکول وي [۱]

سعودی عرب نه ډیرو پیسو باندې ډرافټ

(تحریري درخواست) راغوښتلو سره حج ته تلل

سوال: د حج سپانسر سکیم (حج ته د لیږلو پروګرام) ۱۹۸۷ء تر لومړۍ مۍ پورې وغځول شو. حاجیان صاحبان دسعودي عرب نه ډرافټ راغواړي. دکوموحضراتو خپلوان چې هلته موجود دي. هغوی ته دقانون مطابق ډرافټ ملاو شي، له دې پرته ډیرپاکستاني حضرات دخلکونه د۲۸ زرو پاکستاني روپیو ډرافټ راغواړي او دهغه له پاره هغوی ته (۳۲)زره یاددې نه زیاتې پیسې ورکوي یعنی تقریباً څلورزره روپۍ زیاتې ورکوي.اوس پوښتنه داده چې دغه شان زیاتې پیسې ورکولوسره ډرافټ راغوښتل جائزدي؟ که یو څوک داسې ډرافټ راغوښتلو سره حج ته لاړشي اوحج اداکړي، نو ایافرض به اداشي؟ دې کې څه نقص خونشته عام طور باندې پاکستانی روپۍ ورکول کیږي اوهغه هلته دریال په شکل کې ملاویږي، بیاهم هغه بینک کې ورکول کیږي اودپاکستاني پیسو ډرافټ ملاو شي، هغه دلته دحج درخواست سره یوځای کړل شي،نوبیادحج درخواست منظورشي، نو داسې به حج اداشي که څه نقص یا کراهت به پکې وي؟

جواب: په (۳۲)زره روپۍ باندې د(۲۸)زرو روپیوډرآفت اخیستل خود سود کاروباردی[۲] اوکه د(۳۲) زرو په بدله کې دریالونوډرافټ راوغوښتل شي، نوهغه کرنسی (روپۍ) چونکې جداده، نوبیایې ګنجائش کیدای شي[۳]اوکه څوک ډرافټ راغواړي، نواضافی پیسې دمحنت په طورباندې اخلي، نوبیاداهم جائزدی.[۴]

---

[۱]عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : اتدرون من المفلس؟ قالوا المفلس فينامن لا درهم له ولامتاع ! فقال ان المفلس من امتى من يأتى يوم القيٰمة بصلوة وصيام و زكوٰة، ويأتى قد شتم هٰذا، وقذف هٰذا، وأكل مال هٰذا، وسفک دم هٰذا، وضرب هٰذا، فيعطى هٰذا من حسناته، وهٰذا من حسناته، فان فنيت حسناته قبل أن يقضى ماعليه، اخذ من خطاياهم فطرحت عليه، ثم طرح فى النار رواه مسلم (مشكوٰة ص : ۴۳۵، باب الظلم، الباب الأول)

۲]الربا.... وفى الشرع فضل مال بلاعوض فى معاوضة مال بمال (البناية ج : ۱۰ص : ۳۸۶، باب الربا)۔

۳]واذا اختلف هٰذاالأصناف فبيعوا كيف شئتم اذا كان يدا بيد (البناية ص : ۴۲۷، باب الربا)۔

۴]والبيعان أى المرابحة وبيع التولية جائزان لاستجماع شرائط الجواز .... ماراه المسلمون حسنافهوعند الله حسن (البناية مع الهداية ج : ۱۰ص : ۳۵۰، باب المرابحة والتولية، كتاب البيوع)۔

حج د پاره په ډرافټ با ندې زیاتې پیسې اخیستل

سوال: نن سبا د حج له پاره د دلال په ذريعه ډرافټ راغوښتل کیږي، هغه د ډیرش زرو وي، خو راغوښتونکي ته دهغه له پاره پنځه زره روپۍ اضافي ورکول وي. يعنی په پنځه ډیرش زره باندې غورزخيږي، پوښتنه داده چې ايادا پنځه زره روپۍ دکمیشن يا ذهغه دمزدورۍ په طور باندې ورکول کیدای شي اوکه نه؟ اياداسې معامله حلاله ده او که حرامه؟ دغه شان که چیرې هغه ته دپاکستاني پیسو په ځای باندې ډالر یاد بل ملک پیسې ورکړل شي، نوآيا دا به جائزوي اوکه ناجائز، ځکه چې دې کې خوجنسیت بدل شو.

جواب: دډرافټ راغوښتلوکوم صورت چې تاسوبيان کړی دی يعنې دډيريش زرو ډرافټ په پنځه ډيريش باندې راغوښتل داخو مې عقل ته نه پريوځي اوکه چیرې پنځۀ زره روپۍ ايجنټ ته دکمیشن په طور باندې ورکړل شي، نوبیاځه ګنجائش شته[1]،دروپۍ په بدله کې ډالريابله کرنسي (روپۍ) ورکړل شي، نوجائزدي.[2]

د حج له پاره جمع شوې د حج کمیټۍ پیسې دې واپس کړل شي

سوال: موږ ديوې ادارې ملازمان يو، چې په هغې کې د ټولو ملازمینو له پاره يو قسط (کشت) اچول شوی ده، چې په هغه کې (۲۰۰) روپۍ هره میاشت ورکوي، چې په هغو سره هر کال په دولسو ملازمینو باندې د قرعه اندازۍ په ذریعې سره حج کیږي. دا سلسله د پنځه کلونو راهیسې جاري ده، په دې کې د شمولیت په وخت ویل شوي و چې کوم ملازمین ریټائرډ (متقاعد) شي هغوی باندې به عمره کیږي (که چیرته په هغه موده کې دهغوی نوم په قرعه اندازۍ کې راووځي) خواوس د ګولډن شیک هینډ په ذریعې ډیر ملازمین ریټائرډ شوي دي، نو په هغوی باندې عمره وکړل شوه اونه دهغوی پیسې واپس کړل شوې، دحج کمیټۍ انتظامیه دا جواب ورکوي چې هغه ملازمینو ته پنځه ځلې چانس ورکړل شوی وو، دهغوی نوم راونه ووت. لهذا اوس دهغوی ممبرشپ (دنمبربرخه) ختمه ګڼل کیږي، زموږ سوال دادی چې آيا داسې صورت کې دنورو کسانو حج به جائز وي هرکله چې د ریټائرډ (ګوښه) ملازمینو پیسې په هغې کې شاملې وي اوهغوی ته نه وي واپس شوې؟

جواب: د کومو ملازمینو چې دحج په سلسله کې پیسې جمع وې، د ادارې د حج دکمیټۍ په ذمه فرض دي چې کوم ملازم دهغه اسکيم (پروګرام) لاندې ریټائر (ګوښه) شوی دی، هغه باقاعده د حج په اسکیم (پروګرام) کې شامل وساتي اوچې کله دهغه نوم راشي، نوهغه د حج

---

[1] وفي التحفة وأما أجرة السمسار في ظاهر الرواية تلحق برأس المال .... الخ (البناية ج : ۱۰ص :۳۵۵)۔

[2] أيضا پورته حاشيه (واذا اختلف هٰذاالأصناف فبيعوا...الخ) او ګورئ!۔

له پاره ولیږي. او که چیرته ممکن نه وي. نو دهغه چې څومره پیسې د حج د پآره جمع شوي دي. هغه ته واپس کړل شي ، دادحقوق العباد معامله ده.که نه. دهیچا حج به هم نه قبلیږي [۱]

د پنځوس روپیو ټکټ خرڅولو سره په قرعه اندازۍ سره یو کس حج ته دلیږلو د پروګرام شرعي حیثیت

سوال: زموږ یودوه دوستان د یو پروګرام افتتاح کوي. چې دهغه مطابق به څه ټکټونه خرڅیږي. فی ټکټ پنځوس روپۍ. په هغه کې چې څومره ممبران ټکټ اخلي. د هغو ټولو د نومونو پرچې جوړولو سره یوه پرچه له کتلوپرته راخیستل کیږي. دچا نوم چې راووت هغه به حج ته لیږل کیږي. چې دهغه خرچ به د ملاو شویو پیسو نه وي او باقي پیسې به زموږ ملکري چې داپروګرام چلوي. هغوی اخل

جواب: ما دا پروکرام مطالعه کړی دی. دابنکاره سود دی، که څه هم ستا دوستانو دا جاري کړی وي. یا دښمنانو. [۲]

د حج له پاره داخستل شوي قرض د بونډ انعام په پیسو سره د ادا کولو په حج باندې اثر

سوال: د یو سړي د حج د درخواست سره پیسو جمع کولو کې دشلو پنځه ویشتو زرو روپیو کمی راته. هغه سره د بونډدانعام پیسې وې. هغه یې محفوظ کړې اودچانه یې قرض اخستوسره پنځه ویشت زره روپۍ پوره.او فارم یې جمع کړ او حج ته ولاړ. د حج نه په واپسي باندې جائزپیسو نه د قرض د واپسي کوشش کوي. جائز پیسې نه پیدا کیدو په صورت کې د بونډ د انعام په پیسو سره قرض ادا کوي، پوښتنه داده چې دهغه حج به ادا شي یا حج نه واپسي باندې هم په جائز پیسو سره قرض ادا کولو باندې به حج جائز شي؟

جواب: دهغه حج صحیح دی. اوس قرض ادا کول په جائزو پیسو سره کوي یا ناجائزو سره؟ دهغې ګناه او ثواب به جدا وي، دحج سره ددې هیڅ تعلق نه شته. والله اعلم [۳]

---

[۱] یبدأ بالتوبة........ ورد المظالم واستحلال من کل خصومه ومن کل عامله (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۹)

[۲] عن أبي هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله طیب لایقبل الا طیبا .... الخ (مشکوٰة باب الکسب وطلب الحلال ج:۱ ص:۲۴۱ فان الحج عبادة مرکبة من عمل البدن والمال کما قدمناه، ولذا قال في البحرویجتهد في تحصیل نفقة حلال، فانه لایقبل بالنفقة الحرام کما وردفی الحدیث(رد المحتارج :۲ ص: ۴۵۶)

[۳] فان الله لایقبل الحج بالنفقة الحرام مع أنه یسقط الفرض معها (عالمگیری ج:۱ص:۲۲۰، کتاب المناسک)

د بینک د نوکرانو نه په زوره چنده اخیستل او د حج قرعه اندازي کول

سوال: موږ په مسلم کمرشل بینک کې نوکران یو، زموږ یونین (اتحادیه) یو حج سکیم (منصوبه) شروع کړې ده اودهرممبرنه پنځویش روپۍ هره میاشت اخلي اودغه پیسوباندې دقرعه اندازي په ذریعه باندې دوه ممبران حج له پاره لیږي، ایاد‌ې چندې باندې هغه هم دیوکال له پاره،دې پیسو باندې حج کول جائزدي؟ اکثرممبران داخلاص نه چنده نه ورکوي، خودیونین له ویرې نه هغوی پنځویش روپۍ میاشت کې ورکوي، ایاداسې کله چې یوکارله زړه نه کیږي دچادویرې نه چنده ورکوي، نوداسې حج جائزدی؟

جواب: کوم صورت چې تاسولیکلی دی داسې حج کول جائزنه دي، اول خودبینک نه حاصلیدونکې تنخوا حلاله نه ده[۱] اوبیاپه زورباندې پیسې جمع کول اوهغې باندې قرعه اندازي کول،دادواړه شیان ناجائزدي.[۲]

د باند (انعامی رسید) په انعام باندې حج کول

سوال: دټي وي (تلویزون)په یوپروګرام کې پروفیسرحسنین کاظمي صاحب دکوربه په حیثیت باندې دپروفیسرعلي رضاشاه نقوي اومولانا صلاح الدین صاحب جورنالست سره یوڅو مسئلو باندې خبرې کولې، په هغو سوالونوکې یوسوال دا و چې ایادپرائزباند(انعامی باند) په انعام باندې حج یا عمرې ته تلل جائزدي اوکه نه؟ ددې جواب پروفیسرعلي رضاشاه نقوي صاحب دا ورکړ،چې د پرائز باند(انعامی باند)دانعام په پیسوباندې حج اوعمرې ته تلل جائزدي، ددې تشریح هغوی داسې وکړه:

که چیرې څوک دلسورو‌پوباند‌اخلي، نوهغه سره لس روپۍ دي،هغه هروخت هغه بینک ته ورلی شي اوخپلې لس روپۍ حاصلولی شي،له دې پرته یې داسې تشریح وکړه چې مثلاً: زر کسان دلس لس روپیوباندونه اخلي،دقرعه اندازي (پچې) په ذریعه باندې چې کله یوکس ته انعام ملاویږي، خو باقي (۹۹۹) کسان دخپلوپیسونه نه محرومیږي، بلکې دهغوی پیسې هغوی سره محفوې وي اوهغه انعام اداره ورکوي دکومې په سرپرستي کې چې باندونوسکیم (منصوبه) شروع وي،نو دې پیسو باندې حج اوعمره اداکول جائزدي ، دا پروګرام به ډیرو خلکوپه تي وي(تلویزون) باندې کتلی او اوریدلی وي، مولانا صاحب تاسوته خواستی چې تاسودقرآن اوحدیث رڼاپه دې مسئله باندې واچوئ چې ایادباندپه ذریعه باندې دحاصل شوي

---

[۱] عن جابرقال لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم اكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء رواه مسلم (مشكوٰة ص : ۲۴۴باب الربا، طبع قديمى كتب خانه)۔

[۲] عن أبي حرة الرقاشي عن عمه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ألا لاتظلموا ا ألا لايحل مال امرئ الا بطيب نفس منه (مشكوٰة ج : ۱ ص : ۲۵۵، باب الغصب والعارية)۔

انعام په پیسوباندې عمره یاحج کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: پرائزبانډ (انعامی بانډ) باندې چې کومې پیسې ملاویږي هغه جواري (قیمار) ده او سود هم دی، جواری داسې ده چې بانډاخستونکوکې چاته هم معلومه نه وي چې ددې بانډ په بدله کې به هم لس روپۍ ملاویږي اوکه مثلاً پنځوس زره اوسود داسې دی چې پرائزبانډ (انعامی بانډ) اخیستوسره هغه سړی لس روپۍ دغې ادارې ته قرض ورکړي اوهغه اداره دلسو روپیوپه بدله کې هغه ته پنځوس زره روپۍ واپس کړي ، اوس دااضافي پیسې کومې چې هغه ته دانعام په شکل کې ملاوشوې،خالص سود دی[1]اودسودپه پیسوباندې حج کول جائزنه دي.[2]

د سرکاري حج شرعي حکم

سوال: زموږ په ملک کې هرکال صدرصاحب، وزیراعظم صاحب، ایم این اې، افسران اوداسې نور، چې پخپله دومره مالداره دي چې په سوونو غریبانوباندې حج کولی شي،خوپخپله سرکاري خرچې باندې سره د باډي ګارډ حج ته ځي، ایا د الله په دربارکې به داسې حج د قبولیت شرف حاصل کړي؟

۲: کوم خلک چې زموږ سره ځي اوپخپله د حج اخراجات برداشت کوي، آیآ دهغوی حج به قبلیږي؟

۳: ډیر عام کلي وال چې هغوی پیسې جمع کړي وي، هغوی لاړ نه شي، بلکې دهغوی په ځای نور مخور کسان حج ته ولیږل شي، آیا د صحیح صورت حال تللو والا حج به قبلیږي؟

۴: د ناقص په رایه موږ په دین، بلکې په هرډول معاملاتو کې دومره پاتې یو چې دومره موږ په اهمو دیني معاملاتو کې هم بدګماني کوو.

جواب: ستاسو داستفتاء او زما د فتوا ورکولو په هغو کسانو باندې هیڅ اثر نه پریوځي او دا ښکاره خبره ده چې هرکله چې په ناجائزو پیسو سره حج وکړل شي، نو د الله تعالی د نژدې والي ذریعه نه شي جوړېدای.

۲:.کوم خلک چې د نورو مال خوري او بیا حج ته هم ځي، دهغوی حج هم موجب د رضاءالهي نه شي کیدلی.

سرکاري خرچې باندې حج کول

سوال: سږکال یوځل بیا سرکاري محکمونه خلک سرکاري سطحه باندې حج ته ولیږل شو ، حالانکې سرکاری خزانې کې د پاکستان د څوارلسو کروړو عوامو برخه ده، ستاسو نه دا

---

[1] کل قرض جرنفعا فهوربا (فتاویٰ شامی ج : ۵ ص : ۱۶۶، ج : ۶ ص : ۳۹۴)۔

[2] یجتهدفی تحصیل نفقة حلال فان الله لایقبل الحج بالنفقة الحرام (عالمگیری ج:۱ص:۲۲۰، کتاب المناسک)

پوښتنه دا ده چې

۱ دغه شان د يوې محکمې له لوري خپل ملازمين سرکاري حج ته ليږل جائز دي؟

۲ ايا داسې به د هغو خلکو حج ادا شي؟

۳ که چيرته شرعاً دا جائز نه وي، نو ايا اينده کال حکومت ته دا سلسله بندول پکار دي؟

جواب: محکمې دوه قسمه دي، يو نجي او بله سرکاري، نجي محکمو کې که چيرته ځينې خلک د قرعه اندازي په ذريعې حج ته ليږل کيږي، نو دا ليږل هم صحيح دي او د هغوی حج به هم ادا کيږي شرط دادی چې د حج له پاره چې کومې پيسې جمع کړل شي. هغه يوازې د هغوی په ملکيت کې ورکړل شي او بل شرط دادی چې هغه قرعه اندازي کې غبن ونه کړل شي. که نه. د هغوی حج به صحيح نه وي.

۲: او دويمه طريقه د سرکاري ملازمينو حج ته ليږل دي، که چيرته حکومت سره داسې فنډ موجود وي چې په هغه سره هغوی يو داسې ځای کې پيسې خرچ کړل شي، بيا خو صحيح ده، د داسې خلکو حج به ادا شي، که چيرته سرکاری خزانې نه د حج د عازمينو مصارف برداشت کيږي. نو د داسې خلکو حج نه کيږي او هغوی به پخپله هم ګناهګاريږي او هغوی حج ته ليږونکي دا اختيارخاوندان هم ګناهګاريږي،خو دا چې څوک سړی خپلو پيسو باندې د حج خرچه وکړي. والله اعلم!

د حج د اراده کونکو بيمه کول

سوال: حکومت يوې مقامي کمپنۍ ته د حاجيانو د پاکستان نه بوولو سره صحيح سلامت واپسي پورې د بيمې ژوند اجازه ورکړې ده، عازم حج ته شايد د زرو روپيو په عوض د حادثاتي مرګ په صورت کې د هغه وارثانو ته تقريبا پنځه لکه روپۍ د بيمې پيسې ادا کيږي. مسئله داده چې د حاجيانو په داسې طريقې بيمه کول، ترغيب ورکول، يادشت کول، شرعا څنګه دي؟

جواب: د بيمې ژوند ناجائز او حرام دی، خصوصاً د حج په شان مقدس عبادت هغې ګندې سره ګنده کول نور هم ګنده دی، له دې وجې حاجيانو ته پکار دي چې هغوی په دې سلسله کې زر روپۍ ورکولو سره ژوند بيمه نه کړي، که نه د هغوی حج کول د نيکۍ بربادولو او د ګناه لازم کيدو مصداق جوړ نه شي، د حکومت دا کار کول او حاجيانو ته ددې ترغيب ورکول ناجائز دي، او د ګناه د دعوت ورکولو مرادف دی، له دې وجې سرکاري کسانو ته ددې نه ډډه (پرهيز) پکار ده.[1]

[1] کل قرض جرنفعا فهوربا (فقه السنة ج : ۳ ص : ۱۴۸، طبع دارالکتاب العربي، بيروت) أيضا : کل قرض جرمنفعة فهوربا (فتح القدير ج:۹ ص:۴۴۸ طبع رياض) القرض...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د حج له پاره دروغ ویل

سوال: سعودي حکومت تیر کال د حج نه مخکې يو قانون نافذ کړی و چې هغه غیرملکي کس چې سعودي کې نوکري کوي، که چیرې هغه یوځل حج اداکړې. نو هغه په دویم ځل باندې د پنځو کالو پورې حج نه شي کولی.

زموږ کمپنی هر هغه کس ته یو فارم ورکوي چې هغه باندې لیکل شوي وي چې ماتیر شویو پنځو کالو کې حج نه دی کړی، ماته دې د حج اداکولو اجازت راکړل شي، لاندې د هغه کس د دستخط نه پرته د دو ګواهانو نومونه او دستخطونه هم وي.

اوس که چیرې زه په خپله موریابنځه باندې دې کال حج کول غواړم، نو ماته به هغوی سره د محرم په طور باندې حج اداکول وي، او هغې له پاره به ماته پورته ذکرشوی فارم کولو سره دروغ ویل وي او خپل دفترکې به یې جمع کوي، ځکه دوه کاله مخکې ما حج ادا کړی و، تاسو نه پوښتنه داده چې دروغ لیکلو سره حج اداکول جائزدي؟ او داسې به حج اداشي یاداسې حج کونکی به ګناهګاروي؟

جواب: تاسو دروغ ولې وایئ تاسو دا ولیکئ چې ماخو حج کړی دی، خو خپلې موریابنځې باندې حج اداکول غواړم د دې له پاره اجازت راکړئ.[1]

د افغانستان په پاسپورټ باندې حج او عمره کول

سوال: زموږ دلته ځینې خلک د افغانستان په پاسپورټ باندې د حج او عمرې له پاره ځي، هغه خلک د دې دا تاویل پیش کوي چې دا ټول د انګریزانو قانون دی، د مسلمان د پاره سرحدبندي وغیره نه شته او د تاریخ په کتابونو کې پېښور هم د افغانستان یوه برخه ده، د افغانستان په جوړ شوي پاسپورټ باندې د افغانستان پته لیکل شوې وي، حالانکې تلونکی د پېښور او سیدونکی وي، ایا دا طریقه صحیح ده؟

جواب: که چیرته د هغه صاحب دا تقریر نور حکومتونه تسلیموي نو سبحان الله ! (بیا خو ډیره ښه ده) که نه، د دروغو ویلو سره د حج د پاره تلل جائز نه دي.

...بقیه د تیرمخ]... بالشرط حرام والشرط ليس بلازم (خلاصة الفتاوىٰ ج : ۳ ص : ۵۴) وان تأجيله لا يصح (الیٰ قوله) وعلىٰ اعتبارالانتهاء لا يصح لأنه يصيربيع الدراهم بالدراهم نسيئة وهو ربوا (هداية ج : ۳ ص : ۷۲) "وتعاونوا على البر والتقوىٰ ولاتعاونوا على الاثم والعدوان" (المائده : ۱)

[1] وفي الصحيحين عن أبي بكرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ألا أنبئكم بأكبرالكبائر؟ ثلاثا، قلنا : بلىٰ يا رسول الله ! قال : الشرک بالله وعقوق الوالدين، وكان متكئا. فجلس فقال : ألا وقول الزور، ألا وشهادة الزور، فمازال يكررها حتى قلنا: ليته سكت(تفسيرابن كثيرج:۴ ص:۶۱۵، طبع رشيدية كوئته)

له اجازې پرته د حج له پاره د عزت او نوکرۍ خطره

سوال: ان شاء الله زما موراو پلار دې کال ته حج له پاره راروان دي، سعودي حکومت قانون جوړکړی دې که چیرې دلته کارکونکو یوځل حج کړی وي، نوبیا به دویم حج پنځه کاله پس کوي، ما څلور کاله مخکې حج کړی دی، یوکال پاتې دی اوس زما مورپلار بوډاګان دي، ایا چې زه حج ته لاړشم نوګناه به وي؟ زما په خیال چې زه د اطلاع ورکولونه پرته لاړشم اوزه چې کوم ځای کې کارکوم هغوی به ما ته اجازه هم رانه کړي،دې معامله کې به دسعودي دحکومت خلاف ورزي وي،خوبل طرف ته زما د مورپلار مجبوري ده.

جواب: ستاسو مورپلار سره حج کول له څه شک پرته صحیح دي،خو دقانون خلاف ورزي کولو کې دعزت اونوکرۍ (وظیفې) خطره کیدای شي،دا تاسو پخپله باندې وګورئ!دې باره کې درته مشوره نه شم درکولی،خو شرعي طورباندې به داسې حج اداشي اوثواب به هم ملاوېږي.

حج له پاره رخصتي حاصلول

سوال: زه دقطر په حکومت کې نوکریم، دحج باره کې دمسئلې پوښتنه کول غواړم، دقطر حکومت دحج له پاره هریونوکرته کال کې یوه میاشت رخصتي دتنخواه سره ورکوي، او لومړی حج فرض وي. زه دحج کولوطاقت لرم اوحج کول غواړم،ایازه دقطردحکومت دحج رخصتیو کې یا خپلو سالانه رخصتیو کې حج ته لاړشم؟ایادې دواړو رخصتیو کې دفرق په وجې باندې به ثواب کې فرق راځي؟ زما دوست د قطر دحکومت په رخصتیانوکې حج کړی دی که چیرې ثواب کې فرق وي، نوپه دویم ځل باندې حج کولوته تیاریم؟

جواب: که چیرې دقانون په نزدباندې رخصتي ملاوېږي اوهغه له پاره دې دروغ نه وي ویلي[1] نودحج په ثواب کې هیڅ کمی نه دی راغلی.

د حکومت له اجازې پرته حج ته تلل

سوال: دحکومت دپابندي باوجودکوم خلک چې په غلایعنی په غلطو لاروباندې حج ته ځي اوحج هم نفلي کوي،دهغوی باره کې ستاسو څه خیال دی؟

جواب: دحکومت دقانون خلاف کولوکې یوطرف ته دعزت ویره ده که چیرې ونیول شي ،نوبې عزتي به یې وشي، دویم اکثردشرعي حکمونو خلاف ورزي هم کیږي، مثلاً اکثرمیقات نه له احرام پرته تیریدل وي،دهغه په وجه باندې دم لازمیږي،که چیرې دقانون دنیولو(ګرفت) اودشرعي حکمونود خلاف کولوویره نه وي، نوهیڅ بده خبره نه شته،که نه، دنفلي حج له پاره

[1] ''یاایهاالذین أمنوا اتقوا الله وقولوا قولا سدیدا '' (سورة ۳۳، الأحزاب : ۷۰)_

ګناه په سربانديې اخيستل صحيح نه دي.[۱]

د عمرې په ويزې باندې تللو سره حج کولو سره راتلل

سوال: که چيرته يوڅوک د عمرې په ويزه باندې لاړشي او حج کولو سره راشي. نو داسې کول به صحيح وي او که نه؟

جواب: که د عزت خطره نه وي نو جائز ده.

د رشوت په ذريعه باندې سعودي عرب کې
د نوکرسرې خپل مورپلار باندې حج کول

سوال: يوکس دملک نه بهرد ګټې کولوکوشش کوي اويوې (ريکروټنګ ايجنسي) يا (داخله ورکولو) ادارې ته درشوت په طورباندې لس دولس زره روپۍ ورکړې اوسعودي ته کارکولوله پاره لاړشي.هغه يويادوه کاله پس داسپانسرشپ اسکيم په ذريعه باندې په خپل پلارياموربانديې حج کوي.دې باره کې وواييئ چې داسې حج داسلام مطابق دی؟ ځکه چې هغه کس محنت کولوسره خوپيسې ګټي، خوپه کومه طريقه باندې چې هغه بهرتللی دی، يعنی رشوت ورکولو سره.نودهغه دمورپلارحج به قبول شي اوکه نه؟

جواب: رشوت ورکولوسره نوکري اخيستل ناجائزدي[۲]، خونوکري ملاويدو نه وروسته چې هغه په خپل محنت باندې کومې پيسې ګټي هغه حلالې دي اوپه هغو باندې پخپله ياپه مورپلار. يا نورو خپلوانو باندې حج کول جائزدي.

ځان د بل چا ښځه ښودلو سره حج کول

سوال: زما مسئله داسې ده چې زمانوم محمداکرم دی زمايودوست چې دهغه نوم محمد اشرف دی، زمادوست محمداشرف دخپل کفيل سره لړه شان جګړه وه. هغه خپله ښځه دلته حج کولوله پاره راغوښته. هغه زماپه نوم باندې خپله ښځه حج کولوته راوغوښتله ،هغه په نکاح نامه باندې هم زما نوم وليکه اوکاغذونوکې هم هغه زما ښځه جوړه شوه، هغه ائيرپورټ (هوايي ميدان) نه راوستوله پاره هم زه لاړم،ائيرپورټ (هوايي ميدان) باندې زماداقامې کاغذونه وکتل شواوهغه زماښځه ګڼل کيدو سره دائيرپورټ (هوايي ميدان) نه بهرراپريښودل شوه،اوس هغه ښځه خپل اصلي خاوندسره ده،اوهغې حج هم اوکړ،اوس تاسووواييئ چې داحج

۱] الافاقی مسلم مکلف أراد دخول مکة أوالحرم ..... جاوز اخرمواقيته غيرمحرم .... أثم ولزمه دم "
(غنية الناسک ص : ۶۰، فصل فی مجاوزة الافاقی وقته، طبع ادارة القران)۔

۲] عن عبدالله بن عمرولعن رسول الله صلی الله عليه وسلم الراشی والمرتشی (مشکوٰة ص:۳۲۶ باب الأقضية)

صحیح دی او که نه؟ او که چیرې دا صحیح نه وي. نو د ګناه کې زه تر کومه حده پورې شریک یم؟

جواب: د حج فریضه خو د هغې محترمې اداشوه. خو جعل سازي په ګناه کې درې واړه شریک یئ، هغه ښځه، خاوندیې او تاسو [۱]

مکه کې اوسیدو سره عمره

سوال: د حج په دوران کې مکه مکرمه کې کې زیاتې عمرې کیدای شي. هرکله چې څلور ښځه ورځې وروسته مدینې منورې ته تلل وي. هغه ځای نه بیرته راتګ باندې د حج فریضه ادا کول هم دي؟

جواب: جائز ده.

❖ عمره ❖

عمره د حج بدل نه ده

سوال: د اسلام پنځم رکن (د مالدار کس له پاره) د حج فریضه اداکول دي، خواکثر سوداګران حضرات کله چې هغوی یورپ یاامریکې ته د سوداګرۍ له پاره لاړشي، نو هغوی واپسي کې مکې مکرمې ته لاړشي او عمره اداکړي او همدغه حال د پاکستان داعلی افسرانو هم دی، کوم چې د حکومت په خرچې باندې یورپ ته د ټریننګ (تربیت) یا د حکومت څه د کار له پاره لاړشي. نو هغه حضرات هم واپسي کې عمره اداکړي، خو حج اداکولو کوشش نه کوي. غالباً چې د هغوی خیال وي چې عمره اداکول د حج نعم البدل دی، د عرض کولو مقصد دادی چې د عمرې کولو شرعي حیثیت څه دی؟ ایا عمره کول د حج نعم البدل کیدای شي؟

جواب: یورپ او امریکې ته تلو وخت کې که چیرې د عمرې سعادت نصیب شي، نو عمره خو کول پکاردي، خو عمره د حج بدل نه ده، [۲] په کوم کس باندې چې حج فرض وي، د هغه له پاره

۱] ان الاعانة علی المعصیة حرام مطلقا بنص القران، أعني قوله تعالیٰ: "ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان" (أحكام القران، مفتی محمد شفیع ج : ۳ ص : ۷۴) عن أبي هريرة رضی الله عنه أن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال .... من غشنا فلیس منا (الترغیب والترهیب ج : ۲ ص : ۵۷۱، الترهیب من الغش، طبع بیروت) وعن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اية المنافق ثلاث، زاد مسلم : وان صام وصلی وزعم أنه مسلم، ثم اتفقا : اذا حدث كذب، واذا وعد أخلف، واذا أتمن خان (مشكوٰة ص : ۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق)۔

۲] ان العمرة واجبة ولكنها لیست بفرضیة وتسمیتها حجة صغری فی الحدیث یحتمل أن یكون فی حكم الثواب (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۲۲۶، كتاب الحج، فصل وأماالعمرة. طبع سعید كراچی)۔

حج کول ضروري دي، بوازې عمره کولو سره فرض نه اداکيږي [۱]

دعمرې او قرباني له پاره عقيقه شرط نه ده

سوال: آيا هغه کس عمره کولی شي چې عقيقه يې نه وي شوې؟ اودغه شان اياهغه کس قرباني کولی شي چې عقيقه يې نه وي شوې؟ ځکه چې موږدتيرو څلوروکالوراهيسې دالله تعالى په فضل اوکرم باندې قرباني کوواوموږکې يوکس هم عقيقه نه وي شوي.او زما مشر ورورتيرکال سعودي عرب ته وظيفې له پاره تللی و.نوالله تعالى په هغه باندې رحم وکړ اودخانه کعبې زيارت اوعمره يې هماغه اخترباندې وکړل

جواب: عقيقه کول دقرباني اوعمرې له پاره شرط نه دي،نو دکوم کس چې عقيقه نه وي شوې، دهغه قرباني اوعمره صحيح ده.

احرام تړلو نه وروسته که د ناروغې په وجه عمره ادا نه شي نو د عمرې قضا او دم واجب دی

سوال: عمرې له پاره ماپه اوويشتمې روژې باندې دجدې نه احرام وتاړه . خوزماطبيعت ډيرزيات خراب شو،زه بالکل ګرځيدای نه شوم اوماته به تول عمرافسوس وي چې ماپه اوويشتمې روژې عمره ادانه شوه کړای اوماهغه احرام دعمرې کولونه پرته خلاص کړ. ما دمجبوري په وجه باندې عمره ادانه کړه،ددې ګناه معافي به څنګه کيږي؟

جواب: ستاسو په ذمه باندې داحرام خلاصولو په وجه باندې دم هم واجب دی[۲] اودعمرې قضاهم لازم ده.[۳]

ذی الحجه کې دحج نه مخکې څوعمرې اداکيدای شي؟

سوال: دحج دورځونه مخکې(دذی الحجه دلومړي تاريخ نه اتم تاريخ پورې) خلک چې وطن نه احرام تړلوسره ځي، نوبيا عمرې کولونه وروسته فارغ شي،سوال دادی چې دغه دوران کې نورې عمرې کيدای شي اوکه نه؟

جواب: حج پورې نورې عمرې کول نه دي پکار، حج نه فارغيدونه وروسته دې وکړل شي، دحج نه مخکې چې څومره طواف کول غواړي ودې کړي.[۴]

۱] ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا " (ال عمران : ۹۷)_

۲] اذا أحصرالمحرم بعدو أو أصابه مرض فمنعه من المضى جازله التحلل .... ويقال له ابعث شاة تذبح فى الحرم ....الخ (هداية، كتاب الحج، باب الاحصار ص : ۳۱۲ طبع رحمانيه)_

۳] وعلى المحصربالعمرة القضاء (هداية ص : ۳۱۳، كتاب الحج، باب الاحصار)_

۴] وأما شرائط الركن فماذكرنا فى الحج الاالوقت فان السنة كلها ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د عرفې له ورځې نه تر۱۳ ذی الحجه پورې عمره کول مکروه تحريمي دي

سوال: زمونږ دوستان وايي چې دحج يواځې رکن دعرفې دورځې نه تر ۱۳ ذی الحجه پورې عمره کول منع دي.که چیرې منع وي. نو ددې څه وجه ده؟ دقرآن اوحدیث په رڼاکې ددې سوال جواب راکړئ

جواب: دعرفې له ورځې نه تر(۱۳)ذی الحجه پورې پنځه ورځې دحج دي. دې ورځوکې دعمرې اجازه نه شته. په دې وجه باندې دې ورځوکې عمره کول مکروه تحریمي دي.[۱]

د عمرې ثواب ببښل

سوال: که چیرې یوکس دعمرې کولووخت کې نیت وکړي چې ددې عمرې ثواب دې زمافلانکي دوست یاخپلوان ته ورسیږي،یعني زما داعمره دې دفلانکي خپلوان په نوم ولیکل شي،نوآیا داسې کیدای شي؟

جواب: څنګه چې دنورونیکو کارونوثواب بل کس ته ببښل کیدای شي،دغه شان دعمرې ثواب هم ببښل کیدای شي[۲]

مرحومې مورته د عمرې ثواب څه ډول رسیږي؟

سوال: دشوال په میاشت کې مې دمورله طرف نه دیوې عمرې ادا کولو اراده ده،زه دخپل طرف نه عمره کولوسره ثواب هغې ته وبښم. یاعمره دهغې له طرف نه وکړم؟ ددې به څه طریقه وي او نیت یې څنګه دی؟

...بقيه د تيرمخ]... وقت العمرة وتجوز فى غير اشهرالحج وفى أشهرالحج. لكنه يكره فعلهافى يوم عرفة ويوم النحروأيام التشريق، أماالجواز فى الأوقات كلهافلقوله تعالى : وأتموا الحج والعمرة لله، مطلقاعن الوقت، وقد ورد عن عائشة رضى الله عنها انها قالت: ما اعتمر رسول الله صلى الله عليه وسلم عمرة الاشهدتها،وما اعتمرالا فى ذى القعدة وعن عمران بن حصين رضى الله عنه أن النبى صلى الله عليه وسلم اعتمرمع طائفة من أهله فى عشرذى الحجة فدل الحديثان عليٰ أن جوازهافى أشهرالحج، وما روى عن عمررضى الله عنه انه كان ينهيٰ عنها فى أشهرالحج فهومحمول على نهى الشفقة على أهل الحرم لئلا يكون الموسم فى وقت واحد من السنة بل فى وقتين لتوسع المعيشة على أهل الحرم (بدائع الصنائع ج:۲ ص:۲۲۷فصل فى العمرة، طبع ايچ ايم سعيد)

۱] العمرة ..... وجازت فى كل سنة ..... وكرهت تحريمايوم عرفة وأربعة أيام بعدها ... الخ (درمختارج : ۲ ص : ۴۷۳، كتاب الحج، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)۔

۲] الأصل أن كل من أتى بعبادة ماله جعل ثوابهالغيره .... الخ (وفى الشامية) أى سواء كانت صلاة أوصوما.... أوحجا أوعمرة (الفتاويٰ الشامية ج:۲ ص: ۵۹۵، باب الحج عن الغير، مطلب فى اهداء ثواب الأعمال للغير)۔

جواب: دواړه صورتونه صحیح دي،ستاسوله پاره آسان دادی چې عمره دخپل طرف نه وکړئ اوثواب هغې ته وبښئ[۱] او که چیرې دهغې دطرف نه عمره اداکول وي. نوداحرام تړلووخت کې دانیت وکړئ چې دخپلې مرحومې مورد طرف نه احرام تړم.اې الله! داعمره زماله پاره آسانه کړه اوزمادمورله طرف نه یې قبول کړه![۲]

د نوکري سفر او عمره

سوال: موړدنوکري(وظیفې) له پاره سعودی عرب ته راغلواوجده کې کوز شو اوبیاتقریباً زرمیله لرې کارکولوله پاره لاړو،دې کې موږته مخکې عمره کول پکار و اوکه وروسته؟

جواب: چونکه ستاسوداسفردعمرې له پاره نه و،بلکې دنوکري (وظیفې) له پاره و . په دې وجه چې تاسوکله عمره کول غواړئ کولی یې شئ، مخکې تاسوله پاره عمره کول ضروري نه و،خاص طورباندې کله چې تاسوته مکې مکرمې ته د تلواجازت نه درکول کېده.[۳]

آیا د حج په میاشت کې عمره کونکی نورې عمرې کولی شي؟

سوال: یوکس دحج په میاشت کې عمره وکړه،اوس هغه دحج تروختـه هلتـه اوسیږي، نو آیا هغه دغه وخت کې نورې عمرې اداکولی شي؟

جواب: دمتمتع له پاره دحج اوعمرې په مینځ کې نورې عمرې کول جائزدي.[۴]

۱] ایضاً۔

۲] ولجوازالنیابة فی الحج شرائط .... ومنها نیة المحجوج عنه عند الاحرام والأفضل أن یقول بلسانه لبیک عن فلان (الفتاوی الهندیة ج : ۱ ص: ۲۵۷، کتاب المناسک، الباب الرابع عشرفی الحج عن الغیر)۔

۳] وقتها أی العمرة جمیع السنة الا خمسة أیام...الخ (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۳۷، الباب السادس فی العمرة)

٤] العمرة ..... وجازت فی کل سنة ..... وکرهت تحریمایوم عرفة وأربعة أیام بعدها ... الخ (درمختارج : ۲ ص : ۴۷۳، کتاب الحج، طبع ایچ ایم سعید کراچی)۔

❖ د حج او عمرې اصطلاحات ❖

....

د حج په مسئلوکې ځينې دعربي الفاظ استعماليږي، دځينې دوستانو غوښتنه ده چې شروع کې دهغو معنا وليکئ، په دې وجه باندې د ,,معلم الحجاج،،[۱] نه نقل کولوسره ديوڅو الفاظو معنا دلته ليکل کيږي:

استلام: حجراسود ښکلول اولاس ور وړل، ياحجر اسود اورکن يماني ته يوازې لاس وړل.[۲]

اضطباع: داحرام څادردښي ترخ (ځنګ) نه لاندې ويستلوسره په ګسه (چپه) اوږه باندې اچول.[۳]

آفاقي: هغه کس دی چې دميقات دحدودونه بهروي. لکه: هندوستاني، پاکستاني، مصري، شامي، عراقي (افغاني)، ايراني او داسې نور...[۴]

ايام تشريق: دذالحجه يوولسم، دولسم اوديارلسم تاريخونوته ايام تشريق ويل کيږي،[۵] ځکه دې کې هم د (نهم اولسم ذی الحجه په شان) دهرلمونځ نه وروسته تکبيرات تشريق ويل کيږي. يعنې: الله اکبرالله اکبرلااله الاالله والله اکبرالله اکبروللهِ الحمد.

ايام نحر: دلسمې ذي الحجې نه دولسمې پورې.[۶]

اِفراد: يوازې دحج احرام تړل اويوازې دحج رکنونه اداکول.[۷]

تسبيح: ``سبحان الله،، ويل.[۸]

۱] معلم الحجاج ص : ۷۳ تا ۷۹، مؤلفه مولانا سعيد احمد مظاهری، طبع مکتبه تھانوی)_

۲] (واستلمه) أی مس الحجرباليد والقبلة (جامع الرموزج :۲ ص:۴۵۵، طبع ايران) وأيضا: الاستلام: صفته أن يضع کفيه علی الحجرالأسود ويضع فمه بين کفيه يقبله من غيرصوت ان تيسروالا يمسحه بالکف ويقبل کفه بدل تقبيل الحجرکذا فی شرح المناسک (قواعدالفقه، التعريفات الفقهية ص : ۱۷۵، طبع صدف پبلشرز)

۳] الاضطباع:أن يجعل رداءه تحت ابطه الأيمن ويلقيه عليٰ کتفه الأيسر(هداية ج:۱ ص:۲۴۱، باب الاحرام)

٤] الافاقی:أريدبه الخارجی أی خارج المواقيت (فتاويٰ شامی ج:۲ ص: ۴۶۸ مطلب فی فروض الحج و واجباته)

٥]و أيام النحرثلاثة، وأيام التشريق ثلاثة ويمضی ذالک کله فی أربعة أيام، فاليوم العاشرمن ذی الحجة للنحرخاصة. واليوم الثالث عشرللتشريق خاصة واليومان فيمابينهما للنحروالتشريق جميعا (بدائع الصنائع ج : ۱ ص : ۲۷۶، فصل فی صلاة العيدين)_

٦] ايضاً پورتنئ حاشيه)_

٧] الافراد أن يحرم بالحج وحده (الفقه الاسلامی وأدلته ج : ۳ ص : ۲۱۵)_

٨] التسبيح : هوان يقول سبحان الله (قواعد الفقه ص : ۲۳۸)_

تمتع دحج په میاشتو کې مخکې عمره کول او بیا هماغه کال دحج له پاره هم احرام تړل [۱]

تلبيه لبيک پوره لوستل [۲]

تهليل لااله الاالله لوستل [۳]

جمرات یاجمار منی کې درې ځایونه دي چې هغو کې دانسان دقد برابرستنې جوړې شوي دي.دلمه کاڼي ويشتل کيږي،دلته کې مسجدخيف چې دمشرق طرف ته دی. هغې ته جمرة اوٰلی ويل کيږي اوله هغې نه وروسته دمکې مکرمې دمينځ والاته جمرة الوسطی او له هغې نه وروسته ته جمرة الکبری اوجمرة العقبه اوجمرة الاخری ويل کيږي. [۴]

رمل دطواف په لومړيو دريوچکرونوکې اوږې خوځيږي،اوواړه واړه قدمونه ايښودوسره تيزتيزتلل وي [۵]

رمی کاڼي (تيږې) ويشتل. [۶]

زمزم مسجدحرام کې بيت الله شريف ته نژدې يوه مشهوره چينه ده، هغې اوس دکوهي شکل اختيارکړی دی، دغه چشمه الله تعالی په خپل قدرت باندې دحضرت اسماعيل عليه السلام اودهغه مور له پاره جاري کړې وه. [۷]

۱] التمتع هوالجمع بين أفعال الحج والعمرة فى أشهرالحج فى سنة واحدة باحرامين بتقديم أفعال العمرة من غير يلم بأهله الماما صحيحا (قواعد الفقه ص : ۲۳۷، و أيضا هداية ج : ۱ ص : ۲۴۱)_

۲] التلبية : هى لبيک اللهم لبيک، لاشريک لک لبيک، ان الحمد والنعمة لک والملک لاشريک لک لبيک(قواعد الفقه ص : ۲۳۵) التلبية : هى لبيک اللهم لبيک، لاشريک لک لبيک، ان الحمد والنعمة لک والملک لاشريک لک (الجوهرة النيرة ج : ۱ص : ۱۵۵، طبع مجتبائى دهلي)_

۳] التهليل : هوأن يقول لااله الاالله، وهومأخوذ من الهيلا (قواعد الفقه ص : ۲۴۲، صدف پبلشرز کراچي)

٤] الجمار والجمرات : هى الحصاة يعنى الصغارمن الأحجارجمع الجمرة وسموا المواضع التى ترمى جمارا وجمرات الجمارالثلاث : هى العقبة والوسطى والقصوىٰ بمنىٰ (قواعد الفقه ص : ۲۵۱طبع صدف)_

٥] الرمل بفتحتين سرعة المشى مع تقارب الخطى وهزالكفين مع الاضطباع (الجوهرة النيرة ج : ۱ص : ۱۵۸، طبع مجتبائى دهلي) الرمل: فى الطواف هوأن يمشى فى الطواف سريعاويهز فى مشيته الكتفين كالمبارزين بين الصفين)(قواعد الفقه ص : ۳۱۰، وكذا التعريفات ص : ۹۹)_

٦] فرمى الجمارفى اللغة هوالقذف بالأحجارالصغار و هى الحصىٰ (البدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۳۷)_

۷] زمزم : بيرعند الكعبة غيرمنصرف، وماء زمزم أى كثير (قواعد الفقه ص : ۳۱۴) وأيضا : و زمزم : بئرمشهورة بمكة بجوارالكعبة يتبرک بها ويشرب مائها وينقل الى الجهات (المعجم الوسيط ج : ۱ ص : ۴۰۰) دغه شان د تفصيل دپاره اوګورئ : فتح البارى، كتاب الأنبياء ج : ۶ ص : ۳۹۶ تا ۴۰۷، طبع دارنشرالكتب الاسلاميه لاهورپاکستان)_

سعي دصفا اومروه ترمنځ په خاې طريقې باندې اووه خله چکروهل [١]

شوط دبيت الله شريف څلوروطرفو نه يوچکرلګول [٢]

صفا بيت الله سره خواه کې دشمال طرف ته يووړوکې شان غردی، دهغه نه سعي شروع کيږي [٣]

طواف دبيت الله څلوروطرفوته خاې طريقې باندې اووه چکرونه لګول [٤]

عمره حل يا ميقات نه د احرام تړلوسره دبيت الله طواف کول او دصفا مروه سعي کول [٥]

عرفات ياعرفه دمکې مکرمې نه مشرق طرف ته تقريباً نهه ميله لرې يو ميدان دی.هلته حجيان صاحبان په نهم ذي الحجه باندې قيام کوي [٦]

قران دحج اوعمرې احرام دواړه په يوځاى باندې تړل اومخکې عمره اوبيا حج کول [٧]

قارن دحج قران کونکي ته وايي.

قرن مکې مکرمې نه تقريباً دوه څلويښت ميله لرې يوغردی،نجد ، يمن اونجد ، حجاز او نجد تهامه نه راتلونکوله پاره ميقات دی [٨]

١| السعى . الاسراع فى المشى وهودون العدو .... قال الراغب وخص السعى فيمابين الصفاوالمروة (قواعدالفقه ص : الفقه :٣٢٢)_

٢| الشوط : هوالجرى مرة الى الغاية ويراد به عند الفقهاء الطواف مرة جمعه اشواط (قواعد الفقه ص : ٣٤٢) وفى الجوهرالنيرة ج : ١ ص : ١٥٨ فيطوف بالبيت سبعة أشواط، الشوط من الحجرالى الحجر)_

٣| ثم يخرج الى الصفا فيصعد عليه ...... فيطوف سبعة أشواط يبدأ بالصفا ويختم بالمروة (هداية ج : ١ص : ٢٤٢ ٢٤٣- كتاب الحج)_

٤| الطواف : لغة : الدوران حول الشيء، وشرعا : هوالدوران حول البيت الحرام (قواعد الفقه ص : ٣٦٥)

٥| العمرة. اسم من الاعتمار، هى لغة الزيارة والقصد الى مكان عامر، وشرعا قصد بيت الله بافعال مخصوصة. وتسمى بالحج الأصغر، وأفعالها أربعة : الاحرام، والطواف، والسعى، والحلق ... الخ (قواعد الفقه ص . ٣٩٠)_

٦| العرفات:اسم للموقوف المعروف ويتم الحج بالوقوف بها (المنجد ص : ٦٤٥، وقواعد الفقه ص: ٣٧٨)

٧| صفة القرآن. أن يهل بالعمرة والحج من الميقات، قدم العمرة لأن الله قدمها....... ولأن أفعالهامتقدمة على أفعال الحج (الجوهرة النيرة ج : ١ ص : ١٦٧ طبع دهلى) وأيضا: القرآن هوالجمع بين العمرة والحج باحرام واحد فى سفرواحد (قواعد الفقه ص : ٤٢٦)_

٨| والمواقيت .... ولاهل نجد قرن المنازل. بسكون الراء. معرب علىٰ مرحلتين من مكة، وفى الحاشية (٤) تبعد عن مكة ٩٤كيلومترا وهوجبل شرقى مكة يطل على عرفات (اللباب فى شرح الكتاب. كتاب الحج. ج : ١ ص : ١٦٥طبع قديمى كتب خانه)_

قصر وېښته کمول.[۱]

محرم احرام تړونکی.[۲]

مفرد هغه حج کونکی چاچې دميقات نه يوازې دحج له پاره احرام تړلی وي.[۳]

ميقات هغه ځای له کوم ځای نه چې مکې مکرمې ته تلونکي له پاره احرام تړل واجب دي.[۴]

جحفه رابغ سره نژدې دمکې مکرمې نه درې ميله لرې يوځای دی. دشام نه راتلونکوله پاره ميقات دی.[۵]

جنت المعلی: دمکې مکرمې هديره(مقبره).

جبل رحمت: عرفات کې يوغردی.[۶]

حجراسود: تورکاڼی،دادجنت کاڼی دی،جنت نه راتلووخت کې دا د پيو (شيدو) په شان سپين و، خود انسانانودګناهونوپه وجه باندې دا تورشو.دادبيت الله شريف جنوب شرق طرف ته دانسان د اوږدوالي والي په برابر دبيت الله په ديوال کې خښ کړل شوی دی،ددې څلورو واړو طرفوته دسپينوزروحلقه جوړه شوې ده.[۷]

حرم: دمکې مکرمې څلوروطرفوته دڅه لرې پورې ځمکې ته حرم ويلی کيږي، ددې په حدودو باندې نښې لګول شوي دي،دې کې ښکار کول،ونه کټ کول،اوخاروي څرول حرام دي.[۸]

۱] التقصيرفى الحج : أن يقطع روؤس شعر رأسه قدر أنملة ونحوه عند الاحلال (قواعد الفقه ص : ۲۳۴، طبع صدف پبلشرزكراچى، المنجد ص : ۸۰۸ طبع دارالاشاعت كراچى)_

۲] المحرم : من أحرم بالعمرة أوبالحج أوبهما (قواعد الفقه ص : ۴۷۰)_

۳] الاحرام أربعة أوجه : ۱- احرام الحجة المفردة .... أماالاحرام بحجة مفردة فهوان يقول عندالميقات : اللهم انى أريد الحج والعمرة فيسره لى وتقبله منى (خزانة الفقه، كتاب وجوه الاحرام ص : ۸۸) وأيضا: المفرد ...... بكسرالراء هومن أفرد باحرام الحج (قواعد الفقه ص : ۴۹۹)_

٤] المواقيت : جمع ميقات وهى المواضع اللتى لايجاوزها مريد مكة الامحرما ....الخ (قواعد الفقه ص : ۵۱۲، الجوهرةالنيرة ج : ۱ص ۱۵۴)_

۵] جحفة : موضع بين مكة المكرمة والمدينة المنورة، وهى ميقات أهل الشام (قواعد الفقه ص : ۲۴۶) وأيضا ولأهل الشام الجحفة، علىٰ ثلاث مراحل من مكة بقرب رابغ (اللباب فى شرح الكتاب ج : ۱ص : ۱۶۵)

٦] اللباب فى شرح الكتاب، كتاب الحج، فصل يوم التروية وعرفة ج:۱ ص: ۱۷۱، طبع قديمى كتب خانه)

۷] وعنه (أى ابن عباس رضى الله عنهما) قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : نزل الحجرالأسود من الجنة وهوأشد بياضا من اللبن، فسودته خطايا بنى ادم (مشكوٰة باب دخول مكة، والطواف، الفصل الثانى ص : ۲۲۷، طبع قديمى، وكذا فى البحرالعميق ج : ۱ ص: ۱۷۳، طبع مؤسسة الريان، المكتبة المكية، مصر)_

۸] الحرم : بالتحريک اذا أطلق أريد به مكة المكرمة وهومواضع...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

حل: دحرم څلوروواړوطرفوته ميقات پورې چې کومه ځمکه ده، هغې ته حل ويل کيږي، ځکه چې دې کې هغه شيان حلال دي کوم چې په حرم کې حرام وو.[۱]

حلق: سر خريل،گنجی کول[۲]

حطيم دبيت الله شريف شمال طرف ته بيت الله سره نژدې دانسان دقدبرابر ديوال نه څه برخه ځمکه کې خنبه شوې ده، دې ته حطيم اوحظيره هم ويل کيږي،[۳] جناب رسول اللهﷺ ته دنبوت ملاويدونه لږشان مخکې کله چې قريشوخانه کعبه جوړه کړه نوټولوداتفاق وکړچې يوازې حلاله گټه به دې کې استعماليږي، خوپيسې کمې وې په دې وجه باندې دشمال طرف ته اصل پخواني بيت الله کې تقريباً شپږشرعي گزه ځای پريښودل شو، دې پريښودل شوي ځای ته حطيم ويل کيږي[۴]. اصل حطيم تقريباً شپږ شرعي گزه دی،اوس څه ځای پکې زيات رانيول شوی دی.

دم: داحرام په حالت کې دځينې منع شويو کارونوکولوپه وجه باندې چې دچيلی وغيره ذبح کول واجب شي،دې ته دم ويل کيږي.[۵]

ذوالحليفه: داديوځای نوم دی، مدينې منورې نه تقريباً شپږميله لرې دی، دمدينې منورې نه دمکې طرف ته راتلونکوله پاره ميقات دی،دې ته نن سبابيرعلي ويل کيږي.[۶]

...بقيه د تيرمخ]... معروفة محددة بنوع من العلاقة، وخارجهاالحل (قواعد الفقه ص : ۲۶۳)_

۱] الحل : بالفتح ضد العقد وبالکسر، ماجاوز الحرم من أرض مکة ويقابله الحرم (قواعد الفقه ص : ۲۶۷)_

۲] المنجد مترجم ص : ۲۳۳)_

۳]الحطيم : ويسمي الحجر و حظيرة اسماعيل عليه السلام وهی البقعة التی تحت الميزاب به حاجزکنصف دائرة بينه وبين البيت فرجه ستة ذراع (قواعد الفقه ص : ۲۶۶)_

۴]عن عائشة رضی الله عنهاقالت : سألت النبی صلی الله عليه وسلم عن الجدارأمن البيت هو؟ قال : نعم ! قلت فمالهم لم يدخلوه فی البيت؟ قال : ان قومک قصرت بهم النفقة قلت : فما شان بابه مرتفعا؟ قال : فعل ذالک قومک ليدخلوا من شاء وا ولولا ان قومک حديث عهدهم بالجاهلية فأخاف أن تنکرقلوبهم ان ادخل الجدرفی البيت وأن الصق بابه بالأرض (الصحيح للبخاری، باب فضل مکة وبنيانها ج: ۱ ص : ۲۱۵) وفی الفتح : (قصرت بهم النفقة) ويوضحه ماذکرابن اسحاق فی "السيرة " عن عبد الله بن أبی نجيح انه أخبرعن عبد الله بن صفوان بن أمية أن أبا وهب .... قال لقريش : لاتدخلوا فيه من کسبکم الاالطيب. ولاتدخلوا فيه مهربغی ولا بيع ربا ولامظلمة أحد من الناس عن عبدالله بن أبی يزيد عن أبيه أنه شهد عمربن الخطاب ..... فسأله عمر عن بناء الکعبة فقال : ان قريشا تقربت لبناء الکعبة - أی بالنفقة الطيبة - فعجزت فترکوا البيت فی الحجر، فقال عمر: صدقت (فتح الباری ج : ۳ ص : ۵۶۶ طبع قديمی کتب خانه کراچی)_

۵] الدم فی جناية الحج : هوذبح حيوان من الابل والبقر والغنم، وحيثما أطلق فالمراد به ذبح شاة ... الخ (قواعد الفقه ص : ۲۹۴، طبع صدف پبلشرز کراچی)_

۶] ولاهل المدينة ذوالحليفة، بضم ففتح، موضع علی ستة أميال من المدينة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ذات عرق دیوځای نوم دی چې نن سبا ویران (شاړ) دی. دمکې مکرمې نه تقریباً د دریو ورځو دسفر مطابق لرې دی، دعراق نه مکې طرف ته راتلونکوله پاره میقات دی.[1]

رکن یماني دبیت الله شریف جنوب غرب برخي ته وايي، دادیمن طرف ته دی.[2]

مطاف دطواف کولوځای چې دبیت الله شریف څلورو واړوطرفوته دی. اودې کې سنګ مرمرلګیدلي دي.

مقام ابراهیم جنتي کاڼی دی، حضرت ابراهیم علیه السلام دې باندې دریدوسره بیت الله جوړه کړې وه دمطاف مشرق طرف ته منبراود زمزم په مینځ کې یوه جالۍ داره قبې کې ایښودل شوې ده.[3]

ملتزم: دحجراسود اوبیت الله شریف په مینځ کې یودیوال دی چې هغه سره ځان یا غاړه لګول اودعاغوښتل سنت دي.[4]

مسجد خیف: د منی د غټ جومات نوم دی، چې د منی شمال طرف غرسره خواکې دی.[5]

مسجدنمره: دعرفات په خواکې یوجومات دی.

مدعی: ددعاغوښتلوځای، ددې نه مرادمسجدحرام اودمکې مکرمې د هدیرې (قبرستان) په مینځ کې یوځای دی، دلته مکې مکرمې ته داخلیدو په وخت کې دعاغوښتل مستحب دي.

...بقیه د تیرمخ]... وعشرمراحل من مكة، وتعرف الان بابارعلى (اللباب فى شرح الكتاب، كتاب الحج، المواقيت ج : ١ص: ١٦٥، طبع قديمى كتب خانه)_

[1] ذات عرق ميقات أهل العراق (قواعد الفقه ص: ٢٩٨) أيضا : ولأهل العراق ذات عرق، بكسرفسكون، على مرحلتين من مكة، وفى الحاشية ٢: تبعد عن مكة ٩٤كلومترا، وهى فى الشمال الشرقى لمكة (اللباب فى شرح الكتاب ج : ١ ص : ١٦٥، كتاب الحج، المواقيت، طبع قديمى، خزانة الفقه ص : ٨٩، طبع المكتبة العاصمية الغفورية)_

[2] وعن ابن عمران رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : مسح الحجر والركن اليمانى يحط الخطاياحطا ... وانما سمى الركن اليمانى فيماذكرالقعنبى : لأن رجلا من اليمن بناه (البحرالعميق ج : ١ ص : ١٧٧- ١٧٨ طبع مؤسسة الريان، المكتبة المكية)_

[3] عن سعيدبن جبير: " واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى " قال : الحجرمقام ابراهيم نبى الله، قد جعله الله رحمة، فكان يقوم عليه ويناوله اسماعيل الحجارة (تفسيرابن كثير، سورة البقرة اية : ١٢٥، ج : ١ ص : ٣٦١ طبع رشيدية) أيضا تفسيرمدارك ج : ١ ص : ١٢٨ طبع دار ابن كثير، بيروت)_

[4] الملتزم : هومابين الحجرالأسود الى باب الكعبة الشريفة من حائط الكعبة الشريفة (قواعد الفقه ص : ٥٠٥، أيضاالبحرالعميق ج : ١ ص : ١٨٥ طبع مكة)_

[5] قال ابن فارس اللغوى : الخيف ارتفع من الأرض والحدرمن الجبل، ومسجد منى يسمى مسجد الخيف لأنه فى سفح جبلها (البحرالعميق،فصل مسجد الخيف، ج : ١ ص : ٢٣٦ طبع مؤسسة الريان، المكتبة المكية)

مزدلفه: د منیٰ اوعرفات په مینځ کې یومیدان دی،داد منیٰ نه د مشرق طرف ته درې میله لرې دی.[۱]

محسر: مزدلفه سره نژدې یومیدان دی،دلته تیریدو وخت کې منډه وهل وي،دې ځای کې په اصحاب فیل باندې،کوموچې په بیت الله شریف باندې حمله کړې وه عذاب نازل شوی و.[۲]

مروه دبیت الله شمال مشرق طرف ته یوورکوکی شان غردی،دلته سعې ختمیږي.[۳]

میلین اخضرین: دصفااومروه په مینځ کې دمسجدحرام په دیوال کې دوه شنه میلونه لګیدلي دي.ددې په مینځ کې دسعې له پاره په منډه تلل وي.[۴]

موقف: داد دریدوځای دی. دحج په کارونوکې ددې نه مراد دعرفات یادمزدلفې میدان کې ددریدوځای دی.[۵]

میقاتي: دمیقات اوسیدونکي.

وقوف: دوقوف معنا دریدل دی،اودحج په کارونوکې ددې نه مراددعرفات اومزدلفه په میدان کې خاص وخت کې دریدل دي.[۶]

هدي: هغه ځاروي چې حاجي يې حرم ته دقرباني له پاره ځان سره بیایي.[۷]

۱] المزدلفة : موضع بين منى و عرفات و فيها المشعر الحرام و هو المعلم أى موضع علامة الحرم (قواعد الفقه ص: ۴۸۰)

۲] قوله : الابطن محسر وهو واد باسفل مزدلفة عن يسارها، وقف فيه ابليس متحسرا (الجوهرة النيرة، كتاب الحج ج : ۱ص : ۱۶۲) وأول محسر من القرن المشرف من الجبل الذى على يسارالذاهب الى منىٰ، سمي به لأنه فيل أصحاب الفيل أعيافيه (فتح القدير، كتاب الحج ج : ۲ ص : ۱۷۳ طبع دارصادر، بيروت)_

۳] المروة ..... وفى الحج جبل بمكة (قواعدالفقة ص : ۴۷۹، طبع صدف پبلشرزكراچي)_

۴] (قوله: فاذا بلغ الى بطن الوادى سعيٰ بين الميلين الأخضرين) وهما علامتان لموضع الهرولة، وهما شيئان منحوتان من جدارالمسجد لا انهما مفصلاً عن الجدار، وسماها أخضرين على طريق الأغلب والا فأحدهما أخضر والاخرأحمر ... فجعل هناك ميلان علامة لموضع الهرولة. ليعرف أنه بطن الوادى (الجوهرة النيرة، كتاب الحج ج :۱ ص :۱۵۹)

۵] الموقف: الموقف اثنان،۱– وقوف بعرفات:يقف الحاج بقرب الجبل بعدالظهروالعصرالى أن تغرب الشمس ... ۲–وأماالموقف الثانى فبالمزدلفة، يقف الامام والناس معه بعد ما صلى صلاة الفجرمن يوم النحربغلس الى أن ترتفع الشمس ...الخ (خزانة الفقه لأبى الليث ص : ۹۱كتاب الحج، الموقف، طبع المكتبة العاصمية)_

۶] أيضا)_

۷] الهدى : بالفتح ... اسم لما أهدى الى الحرم من النعم أوما ينقل للذبح من النعم الى الحرم، والهدى من ثلاثة، من الابل والبقروالغنم (قواعد الفقه ص : ۵۵۱، وأيضا فتاويٰ شامي ج: ۲ ص : ۶۱۴، باب الهدى)

یوم عرفه نهم ذی الحجه په کومه ورځ چې حج وي اوحاجي صاحبان دعرفات په میدان کې قیام کوي.[۱]

یلملم دمکې مکرمې نه جنوب طرف ته دوه منزله باندې یوغردی.دې ته نن سباسعدیه هم ویل کیږي.داد یمن،هندوستان اوپاکستان نه راتلونکوله پاره میقات دی.[۲]

حج کونکیوله پاره هدایات

سوال: داسلام په ارکانوکې دحج څه اهمیت دی؟ په لکونو مسلمانان هرکال حج ته ځي. بیاهم دهغوی په ژوندکې دیني انقلاب نه راځي.ددې څه وجه ده؟ دې موضوع باندې رڼا واچوئ؟

جواب: حج داسلام یوعظیم الشان رکن دی، داسلام دمکمل کیدو اعلان دحجة الوداع په موقع باندې شوی و اوهم په حج باندې د اسلام ارکان مکمل کیږي. په احادیثوکې دحج اوعمرې فضیلتونه ډیرزیات فرمایل شوي دي.

یوحدیث شریف کې دي چې **قال رسول الله ﷺ من حج لله فلم یرفث ولم یفسق رجع کیوم ولدته أمه. متفق علیه.** (مشکوة ص ۲۲۱)

ترجمه: چاچې یوازې دالله تعالی درضاله پاره حج وکړ اوهغه کې یې نه څه فحش خبره وکړه اونه یې نافرماني وکړه ، نوهغه دهغه ځای نه داسې پاک اوصفاراځي،لکه څنګه چې دپیدائش په ورځ باندې وي.

یوبل حدیث شریف کې دي چې:

سئل رسول الله ﷺ ای العمل افضل.قال ایمان بالله ورسوله.قیل.ثم ماذا؟ قال الجهادفی سبیل الله.قیل: ثمّ ماذا؟ قال: حج مبرور. متفق علیه (مشکوة ص ۲۲۱)

دحضور ﷺ نه پوښتنه وشوه چې دټولونه غوره عمل کوم یودی؟ حضور ﷺ وفرمایل الله تعالی اودهغه په رسول ﷺ باندې ایمان راوړل،عرض وشو:له هغه نه وروسته، حضور ﷺ وفرمایل: د الله تعالی په لارکې جهادکول،عرض وشو: له هغه نه وروسته، حضور ﷺ وفرمایل: مبرور حج.

۱] یوم الحج یوم العرفة : هو التاسع من ذی الحجة، وسمی یوم عرفة لأن ادم وحواء بعد ما أهبطا الی الأرض وافترقا فلم یجتمعا سنین ثم التقیا یوم عرفة بعرفات قاله النسفی – الخ (قواعد الفقه ص : ۵۵۸، المنجد ص : ۶۴۵)

۲] یلملم : میقات أهل الیمن ومن فی جهتهم من أهل باکستان والهند واندونیسیا وغیرهم (قواعد الفقه ص : ۵۵۵)، وأیضا : وهوجبل من جبال تهامة مشهورة فی زماننا بالسعدیة (حاشیة هدایة ج : ۱ ص : ۲۱۴، طبع ملتان)_

قال رسول الله ﷺ: العمرة الى العمرة كفارة لما بينهما والحج المبرور ليس له جزاء الا الجنة. متفق عليه.(ايضا) ديوې عمرې نه وروسته بله عمره ددې په مينځ کې دشويو ګناهونو کفاره ده اود مبرورحج جزا له جنت نه پرته بل څه نه شي کيداى.

يوبل حديث شريف کې دي چې: **وعن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ تابعوا بين الحج والعمرة فانهما ينفيان الفقر والذنوب كما ينفي الكير خبث الحديد والذهب والفضة وليس للحجة المبرور ثواب الا الجنة**.(مشکوة ص ۲۲۲)

پرلپسې حجونه اوعمرې کوئ ځکه چې دادواړه دفقراوګناهونونه داسې صفايي کوي، څنګه چې بټۍ داوسپنې، سروزرواوسپينوزرونه ګندلرې کوي اودمبرورحج ثواب يوازې جنت دی.

حج دالله تعالى سره دعشق اظهاردى اوبيت الله شريف د تجلياتو مرکزدى، په دې وجه باندې دبيت الله شريف زيارت او دحضور ﷺ په بارګاه کې حاضري کول دهرمسلمان خواهش وي. که چيرې دچاپه زړه کې داخواهش نه پيداکيږي، نوپوهيدل پکاردي چې دهغه دايمان جرړې وچې دي.

يوبل حديث شريف کې دي چې: **وعن على قال قال رسول الله ﷺ من ملك زاداوراحلة تبلغه الى بيت الله ولم يحج فلا عليه ان يموت يهوديا اونصرانيا الخ**.(مشکوة ص۲۲۲)

کوم کس چې بيت الله ته رسيدوله پاره زاد اوراحله لري اوددې باوجودهغه حج ونه کړي نودهغه په حق کې هيڅ فرق نه پريوځي چې هغه يهودي يانصراني مړشي.

يوبل حديث شريف کې دي چې:

وعن ابي امامة قال قال رسول الله ﷺ من لم يمنعه من الحج حاجة ظاهرة اوسلطان جائر اومرض حابس فمات ولم يحج فليمت ان شاء يهوديا وان شاء نصرانيا.(مشکوة ص۲۲۲)

دکوم کس په حج کولوکې چې نه ظاهري طورباندې څه بنديز وي، نه ورته ظالم پاچا اونه دبيمارۍ عذروي، نوهغه ته اختياردى چې هغه يهودي مړکيږي اويا نصراني.

دسفردسهولت اودزيات مال په وجه به هرکال په حاجيانو صاحبانوکې اضافه کيږي. خو ډيردغم اوتکليف خبره ده چې دحج نور اوبرکت ختميږي اودحج چې کومې ګټې دي دهغو نه امت محروميږي، دالله تعالى ډيرکم بندګان داسې پاتې شوي دي چې دحج فريضه ددې شرائطو او آدابوسره پوره پوره اداکوي،که نه، اکثر حاجيان صاحبان خپل حج برباد کړي اود ..نيکي بربادګناه لازم،، په شان شي، نه دحج صحيح مقصد دهغوى مطلب وي اونه دحج د مسئلو او حکمونونه هغه خبروي اونه دازده کوي چې حج څنګه کيږي ؟ اونه دهغه پاکو مقاماتو دعظمت اوحرمت پوره لحاظ ساتي، بلکې اوس خوداسې مناظرليدل کيږي چې دحج دوران کې حرام کارونه کول فيشن جوړشوي دي اودا امت دګناه ګناه ګڼلو له پاره تيارهم نه

دی (اناللّٰه وانااليه راجعون)ښکاره خبره ده چې داللّٰه تعالى اودهغه د رسول ﷺ دحکمونونه بغاوت کولوسره چې کوم حج وکړل شي، هغه کې به نوراوبرکت څنګه وي؟ اوداللّٰه تعالى رحمت دځان طرف ته څنګه متوجه کولی شي؟

دټولونه مخکې خودحکومت دطرف نه په حج درخواست کې د فوټو(عکس) لګولو حکم شوی دی اودې باندې غټ غضب اوستم داچې پرده کونکې ښځې مخکې ددې قيدنه ازادې وې، خوداسلام نافذکولو د جذبې په وجه باندې هغوی باندې هم دفوټو(عکس) لګولوپابندي ولګول شوه، بيادحاجيانودتربيت له پاره هغوی ته دحج فلمونه ښودل کيږي، دکوم عبادت شروع چې دفوټو (عکس)اودفلم په شان لعنت نه وشي،دهغه انجام به څه وي ياڅنګه به وي؟ اوچونکې حاجيان صاحبان پخپله باندې دحج فلمونه کتلوسره حج کول زده کوي په دې وجه باندې هغوی ته دحج دمسئلودکتاب دلوستلوضرورت يااحساس نه وي اونه دعالم نه دمسئلو د پوښتنې کولو ضرورت محسوسوي،نتيجه داچې دچاپه زړه کې څه راځي هغه کوي.

دحاجيانوصاحبانوقافلې چې کله دکورنه رخصتيږي، نود ګلونو هارونه هغوی ته اچول لکه چې دحج لازمه برخه وي،اوددې نه پرته دحاجي صاحب تلل بدګڼل کيږي، دتلوپه وخت کې چې کوم خشيت اوتقوی،دحقونواداکول،دمعاملاتوصفايي اودسفرشروع کولو دآدابواهتمام کول پکاروي هغه دلرې لرې پورې په نظرنه راځي، دمبارک سفرشروع دآدابونه پرته يوازې ځان ښودنې اورياپه ماحول کې وشي، اوس دڅه وخت نه دصدرمملکت، ګورنر (والي) يا د مشرانو دطرف نه په جهاز (طياره)کې حاجيانوصاحبانوته دالوداع ويلو رواج شروع شوی دی،دې موقع باندې بينډ، باجې (ډهول، توله)،تصويران ويستل اونعرې وهل سرکاري (حکومتی) طور باندې کيږي. غور وکړئ چې دا د څومره حرامو مجموعه ده.

دحج په سفرکې دجماعت سره لمونځ کول خوڅه چې په زرګونوکې به يوحاجی داسې وي چې هغه سره دلمونځ کولوخيال وي،چې ددې مقدس سفردوران کې کوم لمونځ قضانه شي،که نه، حاجيان صاحبان خودکورنه ځان ته لمونځونو معاف کولوسره روان شي. اواکثروخت بې وخته چې څنګه ورته آسانه وي لمونځونه کوي،خود لمونځونو اهتمام دهغوی په نزدباندې هيڅ اهميت نه لري،اوځينې خو حرمين شريفين ته رسيدونه پس هم دلمونځونوپه وخت کې بازارونو کې ګرځي. قرآن کريم کې چې دحج باره کې کوم هدايات ورکړل شوي دي هغه دادي:

۱. دحج دوران کې فحش خبرې نه وي، نه نافرماني اونه جنګونه کول.[۱]

اواحاديثوکې هم دقبول شوي حج همدانښې ښودل شوي دي چې هغه دفحش خبرو او نافرمانۍ نه پاک وي،خوحاجيانو صاحبانوکې ډيرکم خلک داسې وي چې دې هداياتو باندې عمل کوي اودخپل حج دبربادولو نه ځان ساتي،بدلې ويل (ساز او سرود) او ډيره خريل، له څه

---

[۱] "فمن فرض فيهن الحج فلارفث ولافسوق ولاجدال فى الحج" (البقرة : ۱۹۷)_

اختلاف پرته حرام او کبیره ګناهونه دي. خو حاجیانو صاحبانو دا بالکل د ګناه د فهرست نه ویستلي دي. د حج سفر شروع کیږي او ډیر اهتمام سره ډیرې خریل کیږي او ریډیو (رادو) او ټیپ ریکارډ ربانډې نغمې اوریدل کیږي انا لله وانا الیه راجعون.

دغه شان ډیر کبیره ګناهونه نور هم دي د کوموچې حاجیان صاحبان عادت وي او د الله تعالی بارګاه ته تلو وخت کې یې هم هغه نه پریږدي. د حاجیانو صاحبانو دا حالت لیدو سره راته دومره تکلیف وي چې د هغه د لیکلو له پاره راسره الفاظ نه شته، دغه شان د حج د سفر دوران کې د ښځوبې پردګي هم عامه ده، ډیرو سړیو سره ښځې هم بربنډ سر په نظر راځي، او غضب دا دی چې ډیرې ښځې د شرعي محرم نه بغیر د حج په سفر روانې وي، او د دروغو خوک محرم ولیکي، د دې نه چې کومه ګندګي پیدا کیږي، هغه "که څه وایم نو ژبه مې سوزي،، په شان دی.

د کوم حدیث چې د دې ارشاد تعلق دی چې د حج دوران کې جنګ جګړه کول نه دي پکار. د دې مقصد دا دی چې د دې سفر کې چونکې خلک ډیر زیات وي او سفر هم ډیر زیات اوږد وي، په دې وجه باندې د سفر دوران کې یو بل سره خفګان راتلی شي او خپلو کې د جذباتو جنګ کیدای شي او د سفر تکلیفونه برداشت کول او د خلکو په مصیبتونو باندې خفګان نه کول بلکې د صبر نه کار اخیستل هم د دې سفر د ټولو نه غټ کرامت دی، د دې حل هم دا کیدای شي چې هر حاجي د خپلو جذباتو احترام وکړي، د نورو د طرف نه خپل زړه د شیشې په شان صفا کړي او په لاره کې چې کومه ناخوښي (تکلیف) راشي، هغه خوشحالي سره برداشت کړي، پخپله د دې اهتمام وکړي چې د هغه د طرف نه چاته څه تکلیف ونه رسیږي او د نورو د طرف نه چې هغه ته څه تکلیف ورسیږي، هغه باندې غوسه ونه ښیي. د نورو له پاره د خپلو جذباتو قرباني ورکول د دې مبارک سفر د ټولو نه غټه تحفه ده، او د دې دولت حاصلولو له پاره د ډیرې غټې مجاهدې او لوړې حوصلې ضرورت دی او دا شی د الله تعالی د بندګانو د صحبت نه پرته نه شي نصیب کیدای.

د حج کونکو په خدمت کې د ډیر خیرخواهي او د دل سوزي سره خواست دی چې خپل دا مبارک سفر زیات نه زیات د برکت او سعادت ذریعه جوړولو له پاره دا معروضات نظر کې ساتل پکار دي:

۱ چونکې تاسو د حقیقی محبوب په لارکې وتلي یئ، په دې وجه باندې ستاسو د دې مقدس سفر هره یوه لمحه قیمتی ده، او شیطان به ستاسو وخت ضائع کولو کوشش کوي.

۲. څنګه چې د حج د سفر له پاره د سامان او ضروریاتو له پاره اهتمام کیږي، د دې نه ډیر زیات د حج د حکمونو او مسئلو زده کولو اهتمام کول پکار دي او که چیرې د سفر نه مخکې د دې موقع ملاو نه شي نو کم از کم د سفر دوران کې د دې اهتمام کول پکار دي، چې د یو عالم نه هر وخت د دې مسئلو پوښتنه کول او هغې باندې عمل وکړل شي، د دې باره کې دا کتابونه ځان سره ساتل پکار دي او دا باربار لوستل پکار دي. خاص طور باندې په هر موقع باندې د هغو خاصه برخه غور

سره لوستل پکار دي. کتابونه دا دي

۱ فضائل حج از حضرت شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا نورالله مرقده
۲ آپ حج کیسے کریں از مولانا محمد منظور نعماني مدظله
۳ معلم الحجاج از مولانا مفتي سعید احمد مرحوم
۴. مسائل حج از مولانا مفتي محمد فرید صاحب نورالله مرقده
۵ مجموع الفتاوی از مولانا مفتي محمد رفعت قاسمي صاحب مدظله

د دې مبارک سفر دوران کې د ټولو ګناهونونه پرهیزوکړئ او د ټول عمرله پاره د ګناهونونه د بچ کېدو عزم وکړئ او دې له پاره د الله تعالی په دربارکې خاص طورباندې دعاګانې وغواړئ" دا خبره خاص طورباندې ذهن کې ساتل پکاردي، چې د قبول شوي حج نښه داده چې د حج نه وروسته د انسان په ژوندکې دیني انقلاب راشي، کوم کس چې د حج نه وروسته هم فرائض نه اداکوي او ناجائز کارونه کوي، د هغه حج قبول نه دی. ستاسو زیات وخت په حرم شریف کې تیریدل پکاردي او د سخت ضرورت نه پرته بازارونوکې بالکل ګرځیدل نه دي پکار. د دنیا سامانونه تاسو ته ګران اوارزان. بنه او خراب په خپل ملک کې هم پیدا کیږي. خود حرم شریف نه ملاویدونکي سعادتونه تاسو ته بل ځای کې نه شي پیداکېدای. هلته اخیستل مه کوئ خاص طورباندې د هغه ځای نه ریډیو، ټی وی (تلویزون) او داسې شیان راوړل ډیر د افسوس خبره ده، چې یوه زمانه کې به حج او عمره کې، کجورې (خرما) او آب زم زم د حرمین شریفین تحفې وې او اوس ریډیو، ټي وي (تلویزون) او داسې نور... ناپاک شیان د حرمین شریفین نه د تحفې په طور باندې راوړل کیږي.

چونکې د حج دوران کې د مختلف طرفونونه د مختلف مسلکونو خلک جمع شوي وي، په دې وجه باندې یو عمل لیدو سره هغه عمل شروع کول نه دي پکار، بلکې تحقیق کول پکاردي چې آیا دا عمل ستاسو د حنفي مسلک مطابق صحیح دی او که نه؟ د لته د مثال په طورباندې دوه مسئلې ذکرکوم.

۱ د سحر د لمونځ نه وروسته اشراق پورې او د مازیګر د لمونځ نه وروسته د لمر پریوتو پورې دوګانه طواف لمونځ کولو اجازه نه شته.[1] د غه شان په مکروه وختونوکې هم اجازه نه شته. خو ډیر خلک نو روته کتلو په وجه باندې کوي.

۲ احرام خلاصولو نه وروسته سر خریل افضل دي او د داسې خلکو له پاره حضور ﷺ درې خله دعا کړې ده[2] او قینچي یا مشین باندې د ویښتو کمول هم جائز دي. احرام نه د وتو له پاره

---

[1] وکره تحریما صلاة ولو قضاء أو واجبة أو نفلا .... مع شروق واستواء، وغروب الاعصر یومه (الدر المختار، کتاب الصلاة ج : ۱ ص : ۳۷۰، ۳۷۱، کتاب الصلاة، طبع سعید)_

[2] اللهم ارحم المحلقین، قالوا : والمقصرین یارسول الله! قال : اللهم ارحم... [بقیه حاشیه به راروانه صفحه...

دسرکم ازکم څلورمه برخه صفاکول ضروري دي، له دې نه پرته احرام نه خلاصیږي[۱] خوبې شمیره خلک چې هغوی ته دصحیح مسئلې علم نه وي.هغوی نوروته کتلوسره دغوږونونه پورته لږشان ویښته کټ کړي اوداګنې چې هغوی احرام خلاص کړ. حالانکې دې سره احرام نه خلاصیږي.اوجامې اغوستلواواحرام خلاف کارکولوپه وجه باندې هغوی باندې دم واجب شي[۲]غرض داچې یوازې خلکوته دکتوپه وجه باندې څه کارنه دې کول پکار.بلکې دعالمانونه دمسئلوباره کې تحقیق کول پکاردي.

د حج د قسمونو تفصیل او اسان حج

سوال: مایودمولاناصاحب نه اوریدلي دي چې دحج درې قسمونه دي:(۱) قِران،(۲) تمتع،(۳) افراد. پوښتنه داده چې ددې دریوواړوڅه تعریف دی؟ داکوم قسمه حجونه دي اودې کې افضل او اسانه حج کوم یو دی؟ چاباندې چې حج فرض وي هغه کوم اداکړي؟ مهرباني وکړئ تفصیل سره ددریوواړوحکمونه هم واضح کړئ!

جواب: حج قِران دادې چې میقات نه تیریدووخت کې دحج اوعمرې دواړوله پاره په یوځای باندې احرام وتړل شي.مخکې دعمرې کارونه وشي اوبیا حج اداکړل شي اوبه لسم ذي الحجه باندې د رمي اوقرباني کولونه وروسته ددواړو احرام په یوځای باندې خلاص کړل شي.[۳]

حج تمتع دادې چې دمیقات نه دعمرې احرام وتړل شي اودعمرې کولونه وروسته احرام خلاص کړل شي اواتم تاریخ باندې دحج احرام وتړل شي اولسم ذي الحجه باندې درمي او

...بقیه د تیرمخ]... المحلقین ! قالوا: والمقصرین یارسول الله ! قال : والمقصرین متفق علیه (مشکوٰة، باب الحلق ص : ۲۳۲) وعن یحي ابن الحصین عن جدته أنهاسمعت النبی صلی الله علیه وسلم فی حجة الوداع دعا للمحلقین ثلاثا وللمقصرین مرة واحدة رواه مسلم (مشکوٰة ص : ۲۳۲، باب الحلق)_

۱]ثم قصربأن یأخذ من کل شعرقدر الأنملة وجوبا وتقصیرالکل مندوب والرابع واجب .... وحلقه الکل أفضل (قوله ثم قصر) أی أوحلق کمادل علیه قوله وحلقه أفضل ... (قوله بأن یأخذ الخ) قال فی البحر: والمراد بالتقصیرأن یأخذ الرجل والمرأة من روؤس شعر ربع الرأس مقدارالأنملة ... الخ (ردالمحتارمع الدرالمختار، کتاب الحج، مطلب فی رمی جمرة العقبة ج :۲ ص : ۵۱۵)_

۲]مایوجب الدم علی المحرم : خمسون شیئا یوجب الدم علی المحرم ....ولبس الثوب المخیط یوما کاملا أولیلة کاملة ... الخ (خزانة الفقه، کتاب مناسک الحج ص: ۹۳، طبع المکتبة العاصمیة الغفوریة)_

۳] باب القرآن .... قوله : وصفة القرآن أن یهل بالعمرة والحج معا من المیقات، قدم العمرة لأن الله تعالیٰ قدمها بقوله : "فمن تمتع بالعمرة الی الحج" ولأن أفعالهامتقدمة علی افعال الحج (الجوهرة النیرة، باب القرآن ج :۱ ص : ۱۶۷) أما الاحرام بحجة وعمرة فهوأن یقول عند المیقات اللهم ....فیؤدیهما جمیعا باحرام واحد، ثم یذبح شاة بعدالرمی من جمرة العقبة فی یوم النحرأومن یوم الغد الخ (خزانة الفقه، کتاب المناسک والحج ص : ۸۸)_

قرباني کولو نه وروسته احرام خلاص کړل شي.[۱]

حج افراد دا دي چې د میقات نه یوازې د حج احرام وتړل شي او لسم ذي الحجه باندې د رمي نه وروسته احرام خلاص کړل شي (دې صورت کې قرباني واجب نه ده).[۲]

لومړی صورت افضل دی او دویم اسهل دی. او دواړه صورتونه د دریم صورت افضل هم دي او اسهل هم دي. په کوم کس باندې چې حج فرض وي د هغه له پاره هم دا ترتیب دی.[۳]

عمرې نه وروسته حج ته کوم حج ویل کیږي؟

سوال: زه به شوال کې یوه عمره اداکوم، له هغه نه وروسته مې د حج اراده ده، د هغه نیت به څنګه وي او دا به کوم قسمه حج وي؟

جواب: نیت چې څنګه د جدا عمرې او جدا حج له پاره وي، هماغه شان به وي، مسئلې هماغه دي، خو دا به حج تمتع شي او لسم ذی الحجه باندې سرخیلو نه مخکې به قرباني لازمه وي، دې ته دم تمتع ویل کیږي.[۴]

د حج تمتع طریقه

سوال: موږ دواړه ډیر زیات پریشان یو. کله چې ستاسو مشوره راغلې وه چې حاجیانو حضراتو ته دعالمانو زده کولو نه وروسته حج کول پکار دي، په دې وجه باندې موږ تاسو نه پوښتنه کوو چې تاسو د تمتع طریقه لږ وښیئ چې د حج هغه پنځه ورځې به څنګه تیروو. او مسنونه طریقه څه ده او کوم عمل پرېښودو باندې دم واجبیږي، د دې وضاحت هم وکړئ!

جواب: د تمتع طریقه دا ده چې تاسو د میقات نه مخکې (بلکې جهاز (طیاره) ته ختلو نه مخکې) یوازې د عمرې احرام وتړئ، مکې مکرمې ته رسیدو سره د عمرې ارکان (طواف او سعي)

---

[۱] التمتع لغة الجمع بين العمرة والحج باحرامين .... وهو أن يحرم بعمرة من الميقات أوقبله فى أشهرالحج ويطوف .... وليسعٰى ويحلق أويقصر كالمفرد بالعمرة، ويقطع التلبية فى أول طوافه .... ثم يحرم بالحج من الحرم ان كان بمكة أومن الحل ان كان بالمواقيت .... يوم التروية وحج كالمفرد .... وذبح بعد الرمى فى أيام النحر.... الخ (جامع رموز الرواية فى شرح مختصرالوقاية، كتاب الحج، ج ۲ص: ۴۱۸ طبع مكتبه اسلامية گنبد قابوس ايران)۔

[۲] كيفية الافراد : الافراد أن يحرم بالحج وحده، ثم لايعتمرحتى لايفرغ من حجه ... الخ (الفقه الاسلامى وأدلته، كتاب الحج ج : ۳ ص : ۲۱۵ طبع دارالفكر)۔

[۳] القرآن عندنا أفضل من التمتع والافراد .... قال رحمه الله تعالىٰ : التمتع عندناأفضل من الافراد هٰذا هو الصحيح (الجوهرة النيرة، باب القرآن ج :۱ ص : ۱۶۷، ۱۶۹ كتاب الحج، طبع مجتبائى دهلي)۔

[۴] (فاذا دخل مكة وطاف وسعٰى) وطوافه وسعيه هٰذا للعمرة ...... عليه دم وهودم التمتع .... فاذا حلق يوم النحرفقد حل ... الخ (الجوهرة النيرة ج :۱ ص : ۱۷۱، كتاب الحج، طبع مجتبائى دهلي)۔

اداکولونه وروسته احرام خلاص کړئ.اوس تاسوباندې داحرام پابندي نه شته.اتم ذي الحجه باندې حج ته تلونه مخکې دحج احرام وتړئ اودعرفات اومزدلفه نه بیرته راتلوسره مخکې دغټ شیطان رمي وکړئ بیاقرباني وکړئ بیاویښتهٔ صفاکړئ(اوښځې دې دګوتې د سر برابر ویښته کټ کړي) اواحرام خلاص کړئ،بیادطواف زیارت له پاره بیت الله شریف ته لاړشئ اود طواف نه وروسته دحج سعی وکړئ اوکه چیرې منی ته تلونه مخکې احرام تړلوسره نفلي طواف وکړل شی اودهغه نه وروسته دحج سعی وکړئ نوداهم جائزدي.[۱]

د حج په میاشتو(شوال ، ذی القعده ، ذی الحجه) کې عمره اداکونکي باندې حج

سوال: شوال،ذي القعده اوذی الحجه دحج میاشتې دي،مسئله داده که چیرې دې میاشتوکې یوسړی عمره اداکړي، نودهغه له پاره ضروري دی چې حج هم اداکړي،که چیرې موږدشوال یاذي القعده په میاشت کې عمره اداکولونه وروسته ریاض ته راشو(یعنی دحرم دحدودونه بهر ووځو) اوبیادحج په موقع کې لاړشو، نوهغه وخت کې به نیت دتمتع حج وي اوکه دمفرد حج، دتمتع حج له پاره به په دویم ځل دعمرې ضرورت وي اوکه لومړی عمره به کافي وي؟

جواب: آفاقي سړی که چیرې دحج په میاشتوکې عمره کولونه وروسته خپل وطن ته لاړشي، نوپه دویم ځل هغه ته حج یاعمرې له پاره راتلل ضروري نه دي،که چیرې هغه همدغه کال باندې حج وکړي، نودهغه لومړی عمرې په وجه باندې به متمتع نه وي اونه به دهغه په ذمه باندې دتمتع دم لازم وي، که چیرې داسې کس تمتع کول غواړي، نوهغه ته به په دویم ځل دعمرې احرام تړل پکاروي.[۲]

۱] وصفته (أی التمتع) أن یبتدي من المیقات فی أشهرالحج فیحرم بالعمرة ویدخل مکة فیطوف لها ویسعٰی لها ویحلق أویقصر وقد حل من عمرته ...... ویقطع التلبیة اذا ابتدء بالطواف .... ویقیم بمکة حلالا لأنه حل من العمرة، قال : فاذا کان یوم الترویة أحرم بالحج من المسجد، والشرط أن یحرم من الحرم .... وفعل ما یفعله الحاج المفرد .... وعلیه دم التمتع (فتح القدیرمع الهدایة ج : ۲ ص : ۲۱۰تا ۲۱۲) وأیضا : أما الاحرام بالعمرة فی الحج فهوالتمتع، وصورته أن یحرم بالعمرة فی أیام الحج (شوال وذی القعدة وعشرة من ذی الحجة) ویأتی بأفعال العمرة فاذا حل من عمرته یقیم بمکة حلالا من غیرأن یرجع الیٰ أهله، ثم یحرم بالحج من المسجد فی یوم الترویة ویفعل مایفعل الحاج المفرد، علیه دم التمتع ...الخ (خزانة الفقه ص : ۸۹، کتاب الحج، الاحرام بعمرة فی الحج)۔

۲] ومعنی التمتع الترفق بأداء النسکین فی سفر واحد من غیرأن یلم بأهله بینهما الماما صحیحا وفی الفتح : فتحریرالضابط للمتمتع أن یفعل العمرة أو أکثرطوافها فی أشهرالحج عن احرام قبلها أو فیها ثم حج من عامة بوصف الصحة من غیرأن یلم بأهله بینهما الماما صحیحا (فتح القدیر، کتاب الحج، باب التمتع،ج : ۲ ص: ۲۱۰، ۲۱۱)

❖ حج بدل ❖

د حج بدل شرطونه

سوال: دحج بدل څه شرطونه دي؟ آيا سعودی عرب کې نوکرسړی، ديو پاکستاني (يا افغانی) له طرف نه حج بدل کولی شي اوکه نه؟

جواب: په کوم سړی باندې چې حج فرض وي اوهغه دحج داداکولو له پاره وصيت هم کړی وي ،نودهغه حج بدل دهغه دوطن نه کيدای شي،دسعودي عرب نه جائزنه دی[۱] اوکه چيرې له وصيت پرته يا د فرضيت نه پرته که څوک دخپلو نوله پاره حج بدل کوي، نوهغه حج نفلي دثواب له پاره دی.هغه دهرځای نه صحيح دی.[۲]

د حج بدل شرعي حيثيت

سوال: د حج بدل نه څه مراد دی؟ اود دې څه حکم دی؟

جواب: د حج درې صورتونه دي:

۱... يو سړی دومره کمزورې دی چې هغه پخپله حج ته نه شي تللی، دهغه سره دومره مال دی چې حج د هغه په ذمه فرض دی. نودهغه په ذمه لازم دي چې بل سړی دخپل ځان په ځای دحج له پاره ولیږي. [۳]

۲:. د يو سړي په ذمه باندې حج فرض و. هغه پخپل ژوند کې ونه کړ،خو د مرګ نه مخکې يې وصيت کړ چې زما له طرفه حج وکړئ. او په دريمه برخه دمال کې دومره ګنجائش و چې دهغه حج کيدای شي. نو کوم سړی چې داسې وصيت کولو سره مړ شي، د هغه د وارثانو په ذمه لازم دي چې دهغه له طرفه حج بدل وکړي. [۴]

۱](سئل) فی الحاج عن الغيرهل الأفضل فی حقه أن يعود الیٰ بلدامره؟ (الجواب) نعم علی الأظهر، فيكون أدء ه علی طبق أداء الميت لوفرض أداء ه، فان الغالب منه أنه كان يعود الی بلده، والمسئلة فی مناسک القاری (الفتاویٰ تنقيح الحامدية، كتاب الحج ج : ۱ ص : ۱۴طبع ايچ ايم سعيد) و أيضا : الحادی عشرأن يحج عنه من وطنه ان اتسع الثلث. الخ (فتاویٰ شامی، مطلب شروط الحج، ج : ۲ ص : ۶۰۰، أيضا الفقه الاسلامی وأدلته ج : ۳ ص : ۵۵)

۲] الحج النفل عن الغير: هٰذه الشرائط كلها عند الحنفية فی الحج الفرض، اما الحج النفل عن الغير، فلا يشترط فيه شيء منها الا الاسلام والعقل والتميز (الفقه الاسلامی وأدلته ج: ۳ ص:۵۶ الحج النفل عن الغير)

۳]قال الحنفية : من لم يجب عليه الحج بنفسه لعذركالمريض ونحوه، وله مال، يلزمه أن يحج رجلا عنه، ويجزأه عن حجة الاسلام (الفقه الاسلامی وأدلته كتاب الحج، مشروعية النيابة فی الحج،ج : ۳ ص : ۴۰، ۴۱)

۴]وان مات عن وصية لا يسقط الحج عنه :اذا حج عنه يجوز عندنا باستجماع شرائط الجواز، وهی نية الحج وأن يكون بمال الموصی....ويحج عنه من ثلث ماله سواء قيد الوصية بالثلث...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

۳: یو سړي وصیت نه دی کړی، خو دومره مال یې پرېښی دی چې د هغه حج بدل کېدای شي، [۱] همدغه شان که چیرته چا مال خو نه وي پرېښي، خو د هغه اولاد او نور وارثان ماشاءالله د حیثیت خاوندان وي او حج بدل ورته کولی شي. نو الله تعالی نه امید دی چې د هغه حج قبول کړي [۲]

د حج بدل جواز

سوال: زه دیوې ډیرې ضروري خبرې له پاره د مسئلې پوښتنه کوم، ما د خپل پلار صاحب نه حج بدل کړی و، یو صاحب راته وفرمایل چې حج بدل خو هیڅ شی نه دی او دانا جائز دی، ځکه چې قرآن شریف کې د حج بدل هیڅ ذکر نه شته، د کله نه مې چې د هغه صاحب نه دا خبره اوریدلې ده زما زړه ډیر زیات خفه دی چې زما پیسې ضائع شوې او ما ته سکون نه ملاویږي، ستاسو د جواب راته ډیر زیات انتظار دی چې زما فکر ختم شي.

جواب: حج بدل صحیح دی، تاسو ته د پریشانه کیدو ضرورت نه شته او کوم صاحب چې داوایي چې چونکه په قرآن مجید کې حج بدل نه شته، په دې وجه باندې حج بدل هیڅ شی نه دی، د هغه دا خبره بالکل فضول او بې کاره ده. حج بدل باره کې احادیث موجود دي[۳] او د امت د دې په صحیح کیدو باندې اجماع ده.[۴]

حج بدل څوک کولی شي؟

سوال: حج بدل کوم کس ادا کولی شي؟ ځینې خلک وایي چې حج بدل یوازې هغه کس کولی شي چې خپل حج یې کړی وي، که چیرې د چا په ذمه باندې حج فرض نه وي. نو آیا هغه کس حج بدل ادا کولی شي او که نه؟

جواب: د احنافو مسلک باندې کوم کس چې خپل حج نه وي ادا کړی د هغه د بل چا له پاره حج

...بقیه د تیرمخ]... أو أطلق بأن أوصى أن يحج عنه (فتاوىٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۵۸، كتاب الحج، الباب الخامس عشر، طبع رشيدية كوئته)

[۱] من عليه الحج اذا مات قبل ادائه فان مات عن غيروصية يأثم بلاخلاف، وان أحب الوارث أن يحج عنه، حج وأرجوا أن يجزئه ذلك ان شاء الله تعالىٰ (فتاوىٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۵۸، كتاب الحج، الباب الخامس عشر، طبع رشيدية)

[۲] أيضا_

[۳] أتى رجل النبي صلى الله عليه وسلم فقال : ان اختى نذرت أن تحج و انها ماتت، فقال النبي صلى الله عليه وسلم : لوكان عليها دين أكنت قاضيه؟ قال: نعم! قال: فاقض دين الله فهوأحق بالقضاء (مشكوٰة ص:۲۲۱، كتاب المناسك)

[۴] والحاصل أن من قدرعلى الحج وهوصحيح ثم عجزلزمه الاحجاج اتفاقا (رد المحتار ج : ۲ ص : ۵۹۸)_

بدل اداکول له کراهیت سره جائز دي [۱]

حج بدل د چا له طرف نه کول ضروري دي؟

سوال: حج بدل چې د چاله طرف نه کیږي ، آیا هغه (مرحوم) باندې چې حج فرض وي ،نوهغه وخت کې حج بدل وکړل شي یاچې کوم مرحوم باندې چې حج فرض نه وي د هغه له طرف نه هم حج بدل کیږي؟

جواب: په کوم کس باندې چې حج فرض وي او هغه دومره مال پریښې وي،چې د هغه په ذریعه برحه کې حج کیدای شي او هغه د حج بدل وصیت هم کړی وي. نو د هغه د طرف نه د هغه په وارثانو باندې حج بدل کول فرض دي [۲]

دکوم کس په ذمه چې حج فرض و،خو هغه دومره مال پرې نه ښود یاهغه د حج بدل وصیت نه وي کړی،نو د هغه له طرف نه حج بدل کول په وارثانو باندې لازم نه دي. خو که چیرې وارث د هغه له طرف نه پخپله باندې حج بدل وکړي یا بل څوک د حج بدل له پاره ولیږي، نو د الله تعالی د رحمت نه امید دی چې د مرحوم فرض به اداشي.[۳]

او د کوم کس په ذمه چې حج فرض نه وا و وارث د هغه له طرف نه حج بدل اداکړي، نو دابه نفلي

---

[۱] والذی یقتضیه النظران حج الصرورة (الذی لم یحج عن نفسه) عن غیره فهومکروه کراهة تحریم .... ومع ذلک یصح لأن النهی لیس لعین الحج ...... قال فی البحر: والحق انها تنزیهیة علی الامر (فتاوی شامی. مطلب فی حج الصرورة ج : ۲ ص : ۶۰۳) ایضا : ثم المصنف رحمه الله تعالیٰ لم یقیدالحاج عن الغیربشيء یفید انه یجوز احجاج الصرورة وهوالذی لم یحج أولا عن نفسه، لکنه مکروه کماصرحوا به ... الخ (البحرالرائق، کتاب الحج، باب الحج عن الغیر، ج : ۳ ص : ۱۲۳ طبع رشیدیه)_

[۲] وان مات عن وصیة لایسقط الحج عنه، ویجب أن یحج عنه، لأن الوصیة بالحج قدصحت، واذا حج عنه یجوز عند استجماع شرائط الجواز ...... ویحج عنه من ثلث ماله سواء قید الوصیة بأن یحج عنه بثلث ماله أو أطلق بأن أوصیٰ أن یحج عنه (البدائع الصنائع، فصل وأما بیان حکم فوات الحج عن العمرة ج :۲ ص : ۲۲۲، طبع ایچ ایم سعید) أیضا : وان مات عن وصیة لا یسقط الحج عنه، واذا حج عنه یجوز عندنا باستجماع شرائط الجواز (الفتاوی العالمگیریة، کتاب المناسک، الباب الخامس عشرفی الوصیة بالحج ج : ۲ ص : ۲۵۸ طبع رشیدیه)_

[۳] ولومات رجل بعد وجوب الحج ولم یوص به فحج رجل عنه أوحج عن أبیه أو أمه عن حجة الاسلام من غیروصیة قال : ابوحنیفة : یجزیه ان شاء الله ....لأنه ایصال للثواب، وهولایختص بأحد من قریب أوبعید (فتاویٰ شامی ج :۲ ص : ۶۰۰، باب الحج عن الغیر، البدائع الصنائع، کتاب الحج ج:۲ ص:۲۲۱) أیضا: ومن مات وعلیه فرض الحج، ولم یوص به، لم یلزم الوارث ان یحج عنه وان احب ان یحج عنه، حج وارجوا أن یجزیه ان شاء الله تعالیٰ (الفتاویٰ التاتارخانیة، کتاب المناسک،الوصیة بالحج ج:۲ ص: ۵۶۴طبع ادارة القران، البدائع ج : ۲ ص : ۲۲۱)

حج وي او مرحوم ته به د دې ثواب ضرور ملاویږي ان شاءالله.[۱]

له وصیت پرته حج بدل کول

سوال: حج بدل کې د چا وصیت نه شته، یو سړی په خپله خوښه د خپل مرحوم مور، پلار، پیر، استاذ یعنې له چا طرف نه حج بدل کوي، طاقت هم لري، آیا هغه یوازې حج اداکولی شي؟ او که هغه قرباني کول هم غواړي نوکولی یې شي؟ وضاحت کولو سره د شکریې اداکولو موقع راکړئ!

جواب: که وصیت نه وي، نو چې څنګه حج کول غواړي کولی یې شي، هغه به حج بدل نه وي، بلکې د ثواب ببنلوله پاره به وي او د هغه ثواب به الله تعالی هغوی ته ورسوي، له چاله طرف نه چې حج اداشوی وي، قرباني هم د غه شان د ثواب ببنلوله پاره کیدای شي.[۲]

د مړي له طرف نه حج بدل کېدای شي

سوال: یو مرحوم باندې حج فرض و، خو هغه حج ادانه شو کړی، آیا اوس د هغه له طرف نه بل څوک حج اداکولی شي؟

جواب: د مرحوم له طرف نه حج بدل اداکیدای شي، که چیرې هغه وصیت کړی وي، نو د هغه د مال په دریمه برخه کې د هغه له پاره حج بدل اداکول پکار دي او که چیرې دریمه برخه کې ممکن نه وي نو بیا که چیرې ټول وارثان بالغ او حاضروي او د ټول مال نه د حج اداکولو اجازه ورکوي، نو د ټول مال نه هم دې صورت کې حج اداکیدای شي[۳] او که چیرې هغه وصیت نه وکړی، نو بیا

۱] الأصل أن کل من أتی بعبادة ماله جعل ثوابها لغیره وفی رد المحتار: قوله بعبادة ما، أی سواء کانت صلاة أو صوما أوصدقة أوقراءة أو ذکرا أوطوافا أو حجا أوعمرة أو غیرذالک .... لأنها تصل الیهم ولاینقص من أجره شیء ...... وبحث أیضا أن الظاهرانه لافرق بین أن ینوی به عندالفعل للغیرأویفعله لنفسه ثم یجعل ثوابه لغیره لاطلاق کلامهم (رد المحتار ج : ۲ ص : ۵۹۵، باب الحج عن الغیر، مطلب فی اهداء ثواب الأعمال للغیر)_

۲] وأیضا: باب الحج عن الغیر، الأصل أن کل من أتی بعبادة ما له جعل ثوابها لغیره، وفی الشامیة (قوله بعبادة ما) أی سواء کانت صلاة أو صوما أوصدقة .... أوحجا أوعمرة أوغیرذالک ... الخ (درمختارمع رد المحتارج : ۲ ص : ۵۹۵) أیضا : عن أنس رضی الله عنه قال : یارسول الله ! انا نتصدق عن موتانا ونحج عنهم وندعوا لهم، فهل یصل ذالک لهم؟ قال : نعم ! انه لیصل الیهم، وانهم لیفرحون به کما یفرح أحدکم بالطبق اذا أهدی الیه (رد المحتار ج : ۲ ص : ۵۹۶، باب الحج عن الغیر) أیضا : الحج النفل عن الغیر، هذه الشرائط (أی المتقدمة) کلها عندالحنفیة فی الحج الفرض، أماالحج النفل عن الغیر، فلایشترط فیه شیء منها الا الاسلام، والعقل، والتمیز.... الخ (الفقه الاسلامی وادلته، کتاب الحج ج : ۳ ص : ۵۶)_

۳] اشترط الحنفیة عشرین شرطا للحج عن الغیر لذکرها ....[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...

د وارثانو تر خوښې او خوشحالۍ پوره اړه لري، امید دی چې الله تعالی به دې صورت کې د هغه حج قبول کړي او د هغه ګناهونه به معاف کړي.[۱]

د لور لخوا د مرحومې مور له طرف نه حج کول

سوال: زموږ په محله کې دیو زنانه وفات شوه، نو د هغې واده شوې لور د هغې په نوم باندې حج وکړ. واضحه دې وي چې د هغې د مرګ نه وروسته ما اوریدلي دي چې د مړو په نوم باندې عمره کیږي. آیا حج هم ادا کیږي ؟ او ایا هغه حج به د هغې د مور په نوم باندې مقبول شي؟ مهرباني وکړئ د دې جواب را کړئ!

جواب: هو! حج او عمره دواړه اداکیږي.[۲]

د حج بدل په سلسله کې د سوالونو جوابونه

سوال: دلته عام طورباندې د حج بدل نه دامفهوم اخستل کیږي چې حج بدل د هغه مرحوم له طرف نه کیږي په کوم باندې چې په ژوند کې حج فرض شوی وي، د هغه سره دومره مال جمع وي چې د هغه په ذریعه باندې اساني سره حج کیږي، هغه د حج اراده هم کړې وي، خود حج اداکولو نه مخکې هغه مړشي، اوس د هغه پرېښودل شوي مال کې د هغه څوک خپلوان یا زوی د هغه له طرف نه حج بدل کولی شي،دغه شان د ژوندیو له طرف نه د حج بدل هم دامفهوم وړاندې کیږي ،که چیرې هغه باندې حج فرض شوی وي،خو هغه د ناروغۍ یا بوډا والي په وجه باندې داسې حالت ته رسیدلی وي چې د ګرځیدو یا سورلۍ کولو نه معذوروي،نو هغه خپل اولاد کې چاته یا بل چاته د حج ټوله خرچه ورکړي او د حج له پاره یې ولیږي، دې له پاره هم دا شرط دی چې حج بدل کونکی کس هم د هغه ځای نه لاړ شي کوم ځای کې چې لیږونکی کس اوسیږي.

د دې ټول صراحت باوجود څه سوالونه په ذهن کې داسې دي چې حل کول غواړي: سوال دا دی

...بقیه د تیر مخ]... أن یحج النائب عن الأصیل من وطنه ان اتسع ثلث الترکة فی حالة الوصیة بالحج، و ان لم یتسع یحج عنه من حیث یبلغ (الفقه الاسلامی وادلته ج : ۳ ص : ۴۹،۵۵)_

۱] قلت : وقدمنا أن الوارث لیس له الحج بمال المیت الا أن تجیزالورثة وهم کبار، لأن هٰذا مثل التبرع بالمال (فتاوی شامی، باب الحج عن الغیر ج : ۲ ص : ۶۰۶) أیضا : لومات رجل بعد وجوب الحج ولم یوص به فحج رجل عنه أوحج عن أبیه أو أمه عن حجة الاسلام من غیروصیة قال : ابوحنیفة : یجزیه ان شاء الله (رد المحتار ج : ۲ ص : ۶۰۰) ولو أوصی المیت أن یحج عنه ولم یزد کان للوارث ان یحج عنه، فان کان الوصی وارث المیت أودفع المال الی وارث المیت لیحج عن المیت فان أجازت الورثة وهم کبارجاز والا فلا لأن هٰذا بمنزلة التبرع بالمال (فتاویٰ حامدیة ج : ۱ ص : ۱۴)_

۲] فلایجوزحج الغیربغیراذنه الا اذا حج أو أحج الوارث عن مورثه (حاشیه ردالمحتارج:۲ ص:۵۹۹ طبع سعید)

چې مړکیدونکی کس دمرګ په وخت کې ددې قابل نه وچې حج یې اداکړې وای، یا داسې
ووایي چې هغه باندې څه ذمه داري وي،چې هغې نه هغه دخپل مرګ پورې خلاص نه شو
اودولت ورسره نه ودځه په وجه باندې چې هغه باندې حج نه شي فرض کیدای،اوس دهغه
دمرګ نه شل کاله وروسته دهغه اولاد ددې قابل شواودهغوی دومره طاقت هم شته چې
دهرفرض اداکولو نه وروسته خپل حج هم وکړي اودپلارحج هم، نواوس مورېته دا ووایئ چې
داولادله طرف نه دخپل پلار له پاره داحج کول،حج بدل کیدای شي؟ (یاد ساتل پکاردي چې
پلاردمرګ په وخت کې ددې قابل نه وچې حج وکړي) اوچونکې چې دحج بدل له پاره دامضبوط
دلیل ګڼل کیږي چې دچا له پاره حج بدل وکړل شي،چې هغه باندې دې دمرګ نه مخکې حج
فرض شوی وي.نو آیا ذکرشوی کس دخپل پلاردطرف نه حج نه شي کولی؟ ځکه چې دمرګ نه
مخکې دهغه په پلارباندې حج فرض نه و.

اوس دژوندیوطرف ته راشئ،دژوندودطرف نه هم حج بدل همدې صورت کې کیدای شي چې
کله هغوی ددې قابل نه وي چې حج وکړي،یعنی ددولت باوجوددبدني معذوري یا بوډا والي
په وجه باندې هغوی ګرځیدای نه شي، نوهغوی دحج خرچې خپل اولادیا بل چا خپلوان ته
ورکړي اوهغوی حج ته ولیږي اوس که چیرې پلارسره دولت نه وي اوبدني طورباندې
معذورهم وي،یعنی هغه باندې دحج فرضیت لازم نه نه وي،نودهغه زوی چې دهغه نه جدا
اوسیږي (دا یاد ساتل پکاردي چې دخفګان په وجه باندې نه بلکې دځای دتنګي په وجه باندې
جدا اوسیدو باندې مجبوردی) طاقت لري، پخپله یې حج کړی دی،نو آیا هغه دخپل پلارله
طرف نه حج کولی شي؟ جناب! اوس دویمه مسئله داده که چیرې مور و پلارسره پیسې نه
شته، یا پلار کارروزګارنه کوي (ځنګه چې نن سباعام طورباندې کیږي چې زوې دکار کولو
قابل شي، نوداحترام په وجه باندې هغه پلارکار کولو ته نه پریږدي) بدني طورباندې هم ټیک
(صحیح) دی، نو آیا هغه دخپل زوی په خرچ باندې حج ته تلی شي اوکه نه؟ اوحج کې دهغه
پیسې بالکل نشته.

اوس تاسومونږته دا ووایئ چې دزوی په پیسوباندې دمور و پلارحج کیږي اوکه نه؟ مهرباني
وکړئ ددې سوالونوجواب راکړئ چې ماته دذهني پریشانئ نه خلاصی پیدا شي اوکه چیرې
بچی دطاقت لرلوباوجوددژوندي یامړه شوي مورو پلاردطرف نه حج بدل نه کوي، نوهغوی به
ګناهګاروي اوکه نه؟اوداهم چې دعمره بدل له پاره هم،هماغه شرطونه دي کوم چې دحج بدل
له پاره دي؟

جواب: ۱. په کوم ژوندي یامړي باندې چې حج فرض نه وي، دهغه له طرف نه حج بدل کیدای
شي،خودابه نفلي حج وي.[1]

---

[1] عن أنس رضي الله عنه قال : يارسول الله ! انا نتصدق عن موتانا...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه...]

۲ که چیرې پلار سره پیسې نه وي او زوی هغه ته د حج کولو پیسې ورکړي نو ددې پیسو مالک جوړیدو سره، په دې شرط باندې چې هغه باندې څه قرض نه وي، هغه باندې حج فرض شي.[۱]

۳ د اولاد په ذمه باندې په مور پلار باندې حج کول ضروري نه دي، خو که چیرې الله تعالی هغوی ته دولت ورکړی وي، نو مور پلار باندې حج کول ډیر لوی سعادت دی.[۲]

۴ که چیرې مور پلار غریبان وي او هغوی باندې حج فرض نه وي، نو د اولاد د طرف نه د هغوی له پاره حج بدل کول ضروري نه دي.

۵ عمره بدل نه وي، خو د چاله طرف نه عمره کول صحیح دي، د ژوندی له طرف نه هم او د مړي د طرف نه هم، د دې ثواب به هغوی ته ملاویږي له چا د طرف نه چې عمره اداکړل شي.[۳]

د مجبوري په وجه باندې حج بدل

سوال: زه د زړه مریض یم. ډیر وخت نه مې د بیت الله شریف د زیارت خواهش دې، تکلیف د برداشت کولو نه بهر دی، ډیر زیات کمزوری یم، او زما عمر تقریباً پنځه شپیته کاله دی، د وینې بواسیر مې هم دي، دیو څو وجوهاتو په وجه باندې تکلیف کې اضافه کیږي، زه د خپل حالت د مجبوري په وجه باندې یو خپلوان حج بدل له پاره لیږم، آیا زما ثواب کې به کمی خونه کیږي؟ آیا زما د خواهش مطابق به ما ته ثواب ملاو شي؟ او دا هم وو ایئ چې حج ته تلو نه مخکې چې کوم فرائض واجب وي د هغو فرائضو اداکول هم زما په ذمه باندې فرض دي او که نه؟ مثلاً خپلوانو سره ملاویدل، حقوق معاف کول او د اسې نور شرعي فرائض ما باندې واجب دي او که نه؟

جواب: که چیرې تاسو پخپله تلو نه معذوریئ، نو بل څوک حج بدل له پاره لیږلی شئ، ستاسو حج به اداشي، حقوق معاف کول پکار دي.[۴]

...بقیه د تیرمخ]... ونحج عنهم وندعوا لهم، فهل يصل ذالك لهم؟ قال : نعم ! انه ليصل اليهم .....الخ (رد المحتار ج : ۲ ص : ۵۹۶، باب الحج عن الغير، مطلب فيمن أخذ بعبادته شيئا من الدنيا)_

۱] وأما شرائط وجوبه .... ومنها القدرة على الزاد والراحلة بطريق الملك أوالاجارة .... وتفسيرملك الزاد والراحلة أن تكون له مال فاضل عن حاجته الأصلية وهوماسوى سكنه .... وسوىٰ مايقضى به د يونه .... الخ (فتاويٰ عالمگيرى، كتاب المناسك ج : ۱ ص : ۲۱۷)_

۲] عن ابن عباس رضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم : لمن حج عن أبويه أو قضى عنهما مغرما بعث يوم القيامة مع الأبرار(فتاويٰ شامى ج: ۲ ص: ۶۰۹، باب الحج عن الغير، مطلب العمل على القياس دون الاستحسان)

۳] الأصل أن كل من أتى بعبادة مّا له جعل ثوابها لغيره وفى الشامية (قوله بعبادة ما) أى سواء كانت صلاة .... أو طوافا أوحجا أو عمرة ....قوله لغيره أى من الأحياء والأموات ... الخ (فتاويٰ شامى ج : ۲ ص : ۵۹۵، ۵۹۶)

۴] (سئل) فى المعذورالذى لايرجى برؤه اذا أمر بأن يحج عنه غيره،...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

له وصیت پرته د مرحوم مورپلار له طرف نه حج اداکول

سوال: که چیرې د زید پلار د دې دنیانه رخصت شوی وي، نو زید د خپل مورپلار د وصیت نه پرته دهغوی له پاره حج او عمره اداکولی شي او که نه؟ که چیرې کولی یې شي، نو هغه د حج په دریو واړو قسمونو کې کوم قسم اداکړي؟

جواب: که چیرې د مورپلار په ذمه حج فرض و او هغوی د حج بدل وصیت نه وي کړی، او زید دهغوی د طرف نه حج بدل وکړي، نو امیددی چې دهغوی فرض به اداشي او دریو واړو قسمونو کې چې کوم قسم حج هم وکړي صحیح دی.[۱]

سوال: ذکرشوی حاجی د حج نه مخکې عمره هم اداکولی شي او که یوازې حج به اداکوي؟

جواب: له وصیت نه پرته چې کوم حج اداکیږي، له هغه نه مخکې عمره هم کیږي.[۲]

سوال: که چیرې مورپلار باندې حج فرض نه و، یعنی طاقت یې نه و، خو د زوی یې طاقت شته، نو هغه د مورپلار د طرف نه حج او عمره اداکولی شي او که نه؟ که چیرې کولی یې شي، نو حج به فرضي وي او که نفلي؟

جواب: حج کولی شي، خو دا حج به نفلي وي.[۳]

د مور له طرف نه حج بدل ادا کول

سوال: زموږ د مرې مور د زړه خواهش و چې حج وکړي، خو شاید چې دهغې په نصیب کې به نه و، څه ورځې مخکې هغه وفات شوه، اوس زموږ غواړو چې پخپلې خور چې کونډه ده، یوازې جینکی یې دي، ځوی یې هم نشته، هیڅ قسمه ذریعه د ګټې یې هم نشته، باندې حج وکړو، ایا زموږه داسې کول صحیح دي؟ ایا د دې حج ثواب به زموږ مور ته ملاویږي؟

جواب: چاچې خپله فرض حج ادا کړی وي، هغه دهغې د طرف نه نفلي حج کولی شي.[۴]،

...بقيه د تيرمخ]... وحج عنه فهل سقط الفرض عنه، استمرذلک العذر أم لا؟ (الجواب) اذا کان لايرجٰی برؤه يسقط الفرض عنه، استمرالعذر أولا، وان کان يرجی برؤه يشترط عجزه الی موته کما فی البحروغيره (الفتاویٰ تنقيح الحامدية، کتاب الحج ج :۱ ص : ۱۴، طبع رشيدية)_

۱] لومات رجل بعد وجوب الحج ولم يوص به فحج رجل عنه أوحج عن أبيه أو أمه عن حجة الاسلام من غيروصية قال : ابوحنيفة : يجزيه ان شاء الله ....لأنه ايصال للثواب، وهولايختص بأحد من قريب أوبعيد (فتاویٰ شامی ج:۲ ص: ۶۰۰، باب الحج عن الغير، قبيل مطلب شروط الحج عن الغيرعشرون، طبع سعيد)

۲] وهذه الشرائط کلها فی الحج الفرض، واما النفل فلا يشترط فيه شئ منها الا الاسلام والعقل والتميز.(ردالمحتارج۲ ص۶۰۰، باب الحج عن الغير، قبيل مطلب شروط الحج عن الغير عشرون، طبع سعيد)

۳] أيضا)_

۴]والأفضل للانسان اذا أراد ان يحج رجلا عن نفسه ان يحج رجلا قد حج...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

د مورله طرفه حج بدل ادا کول

سوال: زما مور محترمه تیر کال وفات شوې ده، آیا زه د هغې له طرف نه حج بدل کولی شم؟ او ما دې نه مخکې حج نه دی کړی، آیا ما ته به مخکې خپل حج او بیا د مور حج اداکول وي، یا یوازې د مور له طرف نه حج اداکولی شم؟

جواب: ښه خبره داده چې حج بدل هغه کس وکړي چې مخکې یې خپل حج کړی وي، کوم کس چې خپل حج نه وي کړی د هغه حج بدل کول مکروه دي. [۱]

د معذور پلار له پاره جده کې اوسیدونکی زوی حج بدل کولی شي؟

سوال: لس کاله مخکې جده کې زما اوسیدونکي زوی زه د کراچۍ نه ځان سره بوتلم او ما باندې یې عمره اداکړه، تر اوسه پورې د حج د سعادت نه محروم یم، زوی مې د یار لس څوار لس حجونه کړي دي، که چیرې هغه یو حج ماته وبښي نو آیا زما حج به اداشي؟ زما عمر ۸۷ کاله دی، بل زوی مې هم دوه درې حجونه کړي دي، جده کې نوکردی، رخصتي باندې یې کراچۍ ته دراتلو اراده ده، بیرته تلو کې د کراچۍ نه جدې ته رسیدو سره د حج په ورځو کې هغه زما له پاره حج بدل کولی شي؟ یو څو میاشتې مخکې تاسو د یو صاحب د سوال په جواب کې لیکلي وچې د حج بدل له پاره ښه دادي چې هغه خپل حج پخپله باندې کړی وي او بیا هم د هغه مقام یعنې کراچۍ نه سفر کولو سره جدې ته لاړشي او حج بدل وکړي، زه دګرځیدو قابل نه یم.

جواب: که چیرې ستاسو په ذمه باندې حج فرض وي، نو د حج بدل له پاره کراچۍ نه لیږل ضروري دي[۲] که ستاسو زوی ځي او که بل څوک او که تاسو باندې حج فرض نه وي نو ستاسو.

...بقيه د تیرمخ] ... عن نفسه، ومع هٰذا لو احج رجلالم يحج عن نفسه حجة الاسلام يجوزعندنا، وسقط الحج عن الامركذا فى المحيط (فتاوى عالمگيرى كتاب المناسک، الباب الرابع عشرفى الحج عن الغيرج : ۱ ص : ۲۵۷، طبع رشيديه)

۱ [(الجواب) يجوزلمن لم يكن حج عن نفسه أن يحج عن غيره لكنه خلاف الأفضل، ويسمّٰى حج الصرورة (الفتاويٰ تنقيح الحامدية، كتاب الحج ج :۱ ص : ۱۳) و أيضا : والذى يقتضيه النظرأن حج الصرورة (الذى لم يحج عن نفسه) عن غيره ان كان بعد تحقق الوجوب عليه بملک الزاد والراحلة والصحة فهومكروه كراهة تحريم .... ومع ذالک يصح لأن النهى ليس لعين الحج .... قال فى البحر والحق انها تنزيهية على الامر (فتاويٰ شامى، مطلب فى حج الصرورة ج : ۲ص : ۶۰۳)۔

۲ [(فلوأحج الوصى عنه من غيره) أى من غيربلده فيمااذا وجب الاحجاج من بلده لم يصح ويضمن ويكون الحج له ويحج عن الميت ثانيا (رد المحتارج : ۲ ص : ۶۰۵، باب الحج عن الغير، طبع ايچ ايم سعيد) وأماالمقصرالذى مات فتصح منه بل تجب الوصية بالاحجاج عنه ويكون من بلده ان لم يعين مكانا اخرا (الفقه الاسلامى وأدلته، مشروعية فى الحج، ج : ۳ ص :۴۱، طبع دارالفكربيروت)۔

زوی دجدې نه هم ستاسوله پاره حج بدل کولی شي اوکه چیرې هغه خپل یوحج تاسوته وبښي، نو بیابه هم تاسوته د هغې ثواب ملاو شي[1] خوکه چیرې تاسوباندې حج فرض وي نو بیا د ادا شوي حج ثواب ببنلوسره هغه فرض نه اداکیږي، دغه شان هغه زوی چې دکراچۍ نه جدې ته ځي، که چیرې هغه ستاسوپه خرچې باندې دلته نه احرام تړلونه وروسته دحج په نیت باندې دحج په میاشتوکې لاړشي اوحج اداکړي، نوستاسوحج بدل به دعذرپه وجه باندې اداشي.[2]

د نیکه له طرف نه حج بدل

سوال: زمانیکه وفات شوی دی، اوهغه دحج فارمونه ډک کړي وو او دهغوی نمبرهم راغلی و. خوهغه دمرګ نه مخکې یې خپلې ښځې یعنی زمانیا ته ویلي وکه چیرې زه مړشم، نوته حج ته لاړه شه. اوس مسئله داده چې آیا زمانیادعدت په دوران کې حج ته تلی شي؟

جواب: ستاسونیاله پاره دعدت په دوران کې حج ته تلل جائزنه دي[3] دعدت نه وروسته که چیرې محرم سره تللی شي، نولاړه دې شی اوکه چیرې ورسره دتلوله پاره څوک محرم نه وي، نودحج بدل وصیت دې وکړي[4] دامسئله هغه صورت کې ده کله چې ستاسونیاباندې حج فرض وي اوکه چیرې ستاسونیکه دمرګ نه مخکې وصیت کړی وي، نوستاسوپه نیاباندې دنیکه دطرف نه حج بدل کول لازم دي، که هغه پخپله باندې ځي اوکه بل څوک لیږي.[5]

---

[1] باب الحج عن الغیر: الأصل أن كل من أتی بعبادةما له جعل ثوابهالغيره، (وفی الشامية) قوله بعبادة ما له أی سواء كانت صلاة أوصوما أوصدقة ..... أوحجا أوعمرة أوغيرذٰلک (فتاویٰ شامی ج : ۲ ص : ۵۹۵) وأيضا : اتفق العلماء علی وصول ثواب الدعاء والصدقة والهدی للميت للحديث السابق : اذا مات الانسان انقطع عمله الا من ثلث : صدقة جارية، أوعلم ينتفع به، أوولد صالح يدعوله وقال جمهوراهل السنة والجماعة : للانسان أن يجعل ثواب عمل لغيره صلاة أوصوما أوصدقة أو تلاوة قران .... الخ (قواعد الفقه الاسلامی وأدلته، اهداء ثواب الأعمال للميت ج : ۳ ص : ۳۸، ۳۹)_

[2] ولجوازالنيابة فی الحج شرائط منها أن يكون المحجوج عنه عاجزا عن الأداء بنفسه وله مال وان كان قادرا علی الأداء بنفسه بأن كان صحيح البدن وله مال أوكان فقيرا صحيح البدن لايجوز حج غيره عنه، ومنها استدامة العجز من وقت الاحجاج الی وقت الموت كذافی البدائع(فتاویٰ هندية،الباب الرابع عشرفی الحج عن الغيرج:۱ ص: ۲۵۷)

[3] المعتدة لا تسافرلا للحج ولالغيره (فتاویٰ عالمگيری ج :۱ص : ۵۳۵) أيضا : فلاتخرج المرأة الی الحج فی عدة طلاق أوموت (فتاویٰ هندية ج :۱ ص : ۲۱۹، أيضا الفقه الاسلامی وأدلته ج : ۳ ص : ۳۶ طبع دارالفكربيروت) (۴) والذی اختاره فی الفتح أنه مع الصحة وأمن الطريق شرط وجوب الأداء فيجب الايصاء ان منع المرض وخوف الطريق أولم يوجد زوج ولامحرم (رد المحتار ج : ۲ ص : ۴۶۵)_

[4] والذی اختاره فی الفتح انه مع الصحة وامن الطريق شرط وجوب الاداء فيجب الايصاء ان منع المرض وخوف الطريق او لم يوجد زوج ولا محرم. (ردالمحتار ج۲ ص۴۶۵)_

[5] ومنها أن يكون حج المأموربمال المحجوج عنه فان تطوع الحاج عنه... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

د ښځې له طرف نه حج بدل

سوال: زما د مور د حج کولو ډیر ارمان و (الله تعالی دې هغې ته جنت نصیب کړي) اوس دې کال زما حج ته د تلو اراده ده (ان شاء الله) نو آیا زه دا نیت وکړم چې د دې ثواب دې ماسره زما مور ته هم ورسیږي؟ د دې له پاره څه نیت اوکړم؟ او ما سره به زما پلار هم ځي، هغوی یو ځل حج مخکې هم کړی دی نو آیا هغوی د حج بدل نیت (زموږ د مور له پاره) کولی شي؟

جواب: تاسو د خپل طرف نه حج وکړئ، او د هغې د طرف نه عمره وکړئ که چیرې ستاسو دپلار د هغې له طرف نه حج بدل وکړي، نو د هغې له طرف نه به حج وشي.[1]

د خسر له طرف نه حج بدل

سوال: آیا زوم د خپل خسر په ځای باندې حج بدل کولی شي؟ او خسر د ناروغی په وجه باندې دا کار نه شي کولی، هغه مالدار دی او د هغه زوی هم مالدار دی.

جواب: د خسر په حکم باندې زوم حج بدل کولی شي.[2]

د داسې ښځې له طرفه حج بدل په کومې چې حج فرض نه و

سوال: زما په ترور مرحومې (چې زه یې د مور په شان پاللې یم او ما د هغې هیڅ حق ادا نه کړای شو، ځکه چې زه کله د دې قابل شوم نو هغه وفات شوه) د مالي حالاتو په وجه باندې حج فرض نه و، آیا زه هغې ته ثواب بښنلو له پاره څوک ښځه حج بدل ته لیږلی شم؟ آیا دا حج څوک سړی کولی شي؟

جواب: تاسو د مرحومې له طرف نه حج بدل کولی شئ، خو چونکې ستاسو په ترور باندې حج فرض نه و او نه د هغې له طرف نه څه وصیت و، په دې وجه باندې به چې تاسو د هغې له طرف نه کوم حج کوئ هغه به نفلي وي.[3]

...بقیه د تیرمخ]... بمال نفسه لم یجزعنه حتی یحج بماله وکذا اذا أوصی أن یحج بماله ومات فطوع عنه وارثه بمال نفسه، کذا فی البدائع (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۵۷)_

[1] ومن مات وعلیه فرض الحج ولم یوص به، لم یلزم الوارث ان یحج عنه، وان أحب أن یحج عنه حج، وأرجو أن یجزیه ان شاء الله تعالیٰ (فتاویٰ تاتارخانیة، کتاب المناسک ج:۲ص:۵۶۴ طبع ادارة القران کراچی) فلایجوز حج الغیر عنه بغیرأمره الا الوارث یحج عن موروثه بغیرأمره فانه یجزیه (فتاویٰ عالمگیری باب الحج عن الغیرج:۱ ص : ۲۵۷)

[2] ومن شرائط الحج الأمربالحج فلا یجوزحج الغیرالا بأمره (فتاویٰ عالمگیری ج :۱ ص : ۲۵۷) ثم انما یسقط فرض الحج عن الانسان باحجاج غیره اذا کان المُحِجُّ وقت الأداء عاجزا عن الأداء بنفسه، ودام عجزه الیٰ أن مات...الخ (الفتاوی التاتارخانیة، کتاب المناسک باب الحج عن الغیرج:۲ ص:۵۴۵ طبع ادارة القران)

[3] وان کانت (أی العبادة المرکبة) نافلة کحج النفل وعمرة التطوع تجزي...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

۲. دښځې په ذريعه باندې حج بدل کول ضروري نه دي، دښځې له طرف نه سړی هم حج بدل کولی شي او دسړي له طرف نه ښځه هم حج بدل کولی شي.[۱]

چاچې خپل حج نه وي کړی، هغه په حج بدل باندې ليږل مکروه دي

سوال: دوه ورونه دي. چې دهغوی د پلار وفات شوی دی، دواړه ورونه جدا جدا پخپل کور کې د بچيو سره اوسيږي، چې په هغوی کې يو ورور مالدار دی، او بل ورور ډير غريب دی، وړوکی ورور چې مالدار دی دخپلې مور سره يې حج کړی دی، اوس هغه دخپل مرحوم پلار په نوم حج بدل په چا باندې کول غواړي، مشر ورور چونکې غريب دی او هغه يو ځل هم حج نه د کړی، وړوکی ورور پخپلو پيسو سره خپل مشر ورور د مرحوم پلار په نوم حج بدل باندې ليږل غواړي، نو سوال دادی چې مشر ورور چې تراوسه پورې يې پخپله حج نه دی کړی، ددې باوجود د بل چا د نوم حج بدل کولی شي؟

جواب: چاچې خپل حج نه وي کړی، دهغه په حج بدل باندې ليږل مکروه دي.[۲]

دخپل حج نه کونکي حج بدل کول او دحج بدل نه وروسته د بل حج فرضيت

سوال: زما پلار محترم څه موده مخکې وفات شوی دی، مرحوم ته دحج کولو ډيرخواهش و، همدا وجه ده چې هغه دخپلې ګټې نه څه برخه ويستلوسره کېښودله چې زه به حج ته ځمه،خو مرګ دهغه دا خواهش پوره نه کړ، آخري خواهش زما دمرحوم پلار همدا و ، مونږ ورونو مشوره وکړه چې دپلار خواهش په نظر کې ساتلو سره دهغه جمع شويو پيسونه دهغه له پاره حج بدل وکړو، زما مور هم دحج له پاره تياره شوه، اوس هغې سره د محرم تلل هم ضروري دي، زمونږ په خاندان کې دمور په محرم کسانو کې څوک هم حاجي نشته . اوس زه دخپل پلار د حج بدل په طور باندې مورسره حج ته تلل غواړم، اوس مسائل دادي چې:

۱. چې زه د مخکې نه حاجی نه يم، نو ايا حج بدل کولی شم؟

...بقيه د تيرمخ]... فى الحالتين، ولايشترط فيه العجز، ولاغيره مما يشترط فى حج الفرض، وعمرة الاسلام الأهلية النائب بالاسلام والعقل والتميز،والنية عنه فى الإحرام ان أمره بالحج، والافجعل ثوابه له بعدالأداء، اذ بدون الأمربه، يقع الحج عن الفاعل بالاتفاق، فهوليس حاجاعنه، بل هو جاعل ثواب حجه له...الخ(غنية الناسک فى بغية المناسک، باب الحج عن الغيرص: ۳۲۰طبع ادارة القرآن)

[۱] ولوأحج عنه امرأة أوعبدا أو أمة باذن السيد جاز ويكره، هٰكذا فى محيط السرخسى (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۵۷كتاب الحج، الباب الرابع عشر فى الحج عن الغير، طبع رشيديه كوئته)_

[۲] الأفضل احجاج الحرالعالم بالمناسک الذى حج عن نفسه وذكرفى البدائع كراهة احجاج الضرورة لأنه تارک فرض الحج (حاشيه رد المحتارج : ۲ ص : ۶۰۳) اذا أراد أن يحج رجلا عن نفسه أن يحج رجلا قد حج عن نفسه (عالمگيرى ج : ۱ص: ۲۵۷، كتاب المناسک، الباب الرابع عشرفى الحج عن الغير)

۲: دحج بدل نه وروسته به ما باندې دېل حج فرضیت وي او که نه؟
۳: بله دا چې زما د مرحوم پلار د ترور لور چې دهغې عمر تقریباً ۲۵ کالو ته نژدې دی، هغه هم زما سره حج ته تلل غواړي، ایا هغه ماسره حج ته تللی شي؟ دهغې سره زما رشته به دمحرم وي یا دغیرمحرم؟

جواب: چاچې خپل حج نه وي کړی، دهغه حج بدل باندې تګ مکروه دی.خو که چیرته تاسولاړ شئ. نوستاسو د پلار حج به ادا شي. [1]
۲ ستاسو حج به ستاسو په ذمه باندې پاتې وي، په دې شرط چې تاسو سره دومره پیسې وي چې تاسو حج ته لاړ شئ. [2]
۳: ستاسو مور تاسره په حج ته تللی شي،خو ستا د پلار د ترور لور تاسره حج ته نه شي تللی، ځکه چې هغه ستا محرمه نه ده. [3] والله اعلم!

آیا حج بدل کې یوازې حج افراد کیږي؟

سوال: ما اوریدلي دي چې حجِ بدل یوازې (افراد) کیږي ، آیا دا صحیح ده؟

ما او زما ورور حج بدل کړې دی، زمونږ مشرتره و ، دهغه له وفات نه وروسته ما دهغه د پاره حج بدل وکړ، هغه باندې حج فرض نه و ، هغه نه عمره کړې وه او نه یې وصیت کړی و ما دهغه د طرف نه حج وکړ اوهغه هم قران.

مورمې پخپل ژوند کې ډیرحجونه کړي و ، دهغې له وفات نه وروسته مونږ دهغې له پاره حج وکړ، دهغې له وصیت نه پرته، او حج قران مو وکړ، یاد دې وي چې مونږ خپل حج مخکې کړی دی، ایا زمونږ حج دهغوی له پاره صحیح شو؟ جواب ضرور راکړئ!

جواب: تاسو چې د مشرتره له طرف نه اود مور له طرف نه چې کوم حجِ بدل وکړ، هغه صحیح دی، ځکه چې هغوی دواړو باندې حج فرض نه و ، ګویا دا نفلي حج شو، اود نفلی حج له پاره هغه شرائط نشته چې د حج بدل له پاره ضروري دي. [4]

---

[1] والأفضل للانسان اذا أراد أن يحج رجلا عن نفسه أن يحج رجلا قد حج عن نفسه ومع هٰذا لوأحج رجلا لم يحج عن نفسه حجة الاسلام يجوزعندنا وسقط الحج عن الامر(عالمگیری ج : ۱ص: ۲۵۷، کتاب المناسک)
[2] اتفقوا أن الفرض يسقط عن الامرولايسقط عن المأمور (بحرالرائق ج :۳ ص:۶۶، ۶۷باب الحج عن الغير) منها القدرة على الزاد والراحلة سواء كان بطريق الملک أو الاجارة (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۱۷)
[3] عن ابن عباس عن النبى صلى الله عليه وسلم:ألا لاتحجن امرأة الا ومعهامحرم (بدائع الصنائع ج:۲ ص:۱۲۳)
[4] وهٰذه الشرائط كلها فى الحج الفرض وأماالنفل فلايشترط فيه شيء منها الا الاسلام والعقل والتميز (حاشيه ردالمحتارج:۱ ص:۶۰۱) وان كانت (أى العبادة المركبة منهما) نافلة كحج النفل وعمرة التطوع تجزي فى الحالتين، ولايشترط فيه العجز، ولاغيره ممايشترط فى حج الفرض، وعمرة الاسلام الا أهلية النائب بالاسلام والعقل والتميز النية عنه فى الاحرام ان أمره بالحج(غنية الناسک، کتاب الحج،باب الحج عن الغیر : ۳۲۰)

خپل حج نه کونکی حج بدل ته تلل

سوال: زما پلار صاحب وفات شوی دی او مور د خپل پلار صاحب حج بدل کول غواړو، مونږ چې کوم کس باندې حج بدل کول غواړو د هغه مالی حیثیت داسې نه دی چې هغه پخپله باندې حج وکړي. آیا مونږ دغه کس باندې حج بدل کولی شو. کوم چې خپل حج نه یې نه دی کړی؟ یا د حج بدل له پاره مخکې خپل حج کول لازمي دي. یا که بل څه صورت وي د حج بدل کولو؟ د دې تفصیلي جواب راکړی!

جواب: کوم کس چې خپل حج نه وي کړی، د هغه حج بدل ته تلل مکروه تنزیهي، یعنی خلاف اولی دي، خو که چیرې هغه لاړشي نو حج بدل به اداشي.[1]

سوال: دوه ورونه دي د هغوی پلار وفات شوی دی، دواړه ورونه جدا جدا د خپلو کورنیو سره اوسیږي، هغوی کې یو ورور مالدار دی او دویم ورور ډیرزیات غریب، کشر ورور کوم چې مالدار دی د خپلې مورسره حج کړی دی او اوس هغه د خپل پلار په نوم باندې حج بدل کول غواړي، مشر ورور چونکې غریب دی او هغه یوځل هم حج نه دی کړی، کشر ورور په خپلو پیسو باندې خپل مشر ورور د پلار په نوم حج بدل ته لیږل غواړي، سوال دادی چې مشر ورور چې خپل حج یې هم نه دی کړی، د دې باوجود د بل په نوم باندې حج بدل کولی شي؟

جواب: چاچې خپل حج نه وي کړی، د هغه حج بدل ته لیږل مکروه تنزیهي، یعنی خلاف اولی دي.[2]

سوال: د بل چا په پیسو باندې حج بدل کیدای شي؟

جواب: هغه حج بدل کوم چې د مړي له وصیت نه پرته وي، کوم ته چې عوام حج بدل وايي څنګه چې سوال کې ذکر شوي دي، د بل چا په پیسو باندې هم کیدای شي.

سوال: مشر ورور کوم چې حج بدل کولو نه بیرته شي، هغه ته به حاجی ویل کیږي؟

جواب: هو! د خپل حج کولو نه پرته به هم هغه ته حاجی ویل کیږي.

---

[1] (الجواب) يجوزلمن لم يكن حج عن نفسه ان يحج عن غيره لكنه خلاف الأفضل ويسمى حج الصرورة (الفتاوي تنقيح الحامدية، كتاب الحج ج : ١ص : ١٣طبع رشيدية) وأيضا : والذى يقتضيه النظر ....أن حج الصرورة (الذى لم يحج عن نفسه) عن غيره ان كان بعد تحقق الواجب عليه بملك الزاد والراحلة والصحة، فهومكروه كراهة تحريم .... ومع ذالک يصح لأن النهى ليس لعين الحج ..... قال فى البحر : والحق انهاتنزيهية على الامر(فتاوى شامى كتاب الحج، مطلب فى حج الصرورة ج:٢ ص: ٦٠٣، طبع سعيد)

[2] تیره شوی حاشیه ((الجواب) يجوزلمن لم يكن حج عن نفسه...الخ) او□وری!)_

حج بدل هر څوک کولی شي که مالداروي اوکه غریب

سوال: دحج بدل څه طریقه ده؟ کوم کس دحج بدل له پاره تلی شي؟ ډېر خلک وايي چې کوم کس خپل حج نه وي کړی، هغه حج بدل ته لیږل نه دي پکار، ځکه چې غریب سړي باندې حج فرض نه وي نو هغه حج بدل ته څنګه تلی شي؟ دمالدار لیږل غوره دي اوکه دغریب؟

جواب: کوم کس چې خپل حج نه وي کړی، هغه حج بدل ته لیږلو سره به حج اداشي. خو داسې کس حج بدل ته لیږل مکروه دي[۱]، داسې کس لیږل پکاردي کوم چې دمخکې نه حج کړی وي، که هغه غریب وي اوکه مالداره، دغریب یامالدار بحث دې مسئله کې نه شته.

نابالغ حج بدل نه شي کولی

سوال: زمادزوی عمردیارلس کاله دی، ایا دی دپلار له طرفه حج بدل کولی شي؟

جواب: نابالغ حج بدل نه شي کولی.[۲]

حج بدل کې قرباني لازمه ده اوکه نه؟

سوال: حج بدل کې قرباني لازمه ده اوکه نه؟

جواب: قرباني تمتع اوقران کې واجبه وي، مفردحج کې قرباني لازمه نه وي، که دڅه غلطي په وجه باندې لازمه شي نوهغه جداخبره ده.[۳]

دحج درې قسمونه دي: (۱) مفرد (۲) قران (۳) تمتع.

حج مفرد: مفردحج دادی چې دمیقات نه تیریدو وخت کې یوازې دحج له پاره احرام وتړل شي، دې سره دعمرې احرام ونه تړل شي، دحج نه فارغیدوپورې به دا احرام وي.[۴]

حج قران: قران حج دادی چې دمیقات نه عمرې اوحج دواړوله پاره احرام وتړل شي، مکې مکرمې ته رسیدوسره مخکې دعمرې ارکان اداکړل شي، له هغه نه وروسته دحج ارکان اداکړل

۱] أیضا)_

۲] التاسع عشر : تمیزالمأمور، فلایصح احجاج صبی غیرممیز ویصح احجاج المراهق کماسیأتی (فتاوی شامی کتاب الحج، مطلب شروط الحج عن الغیرج :۲ ص : ۶۰۱) وأیضا : ولما جزاء النیابة فی حجة الاسلام ونحوها ..... عشرون شرطا ...... العشرون : تمیزالمأمور لأعمال الحج فلایصح احجاج الصبی غیرممیز..... الخ (غنیة الناسک، باب الحج عن الغیرص : ۳۲۰ تا ۳۳۶ کتاب الحج، طبع ادارة القران)_

۳] خمسون شیئا یوجب الدم علی المحرم .... دم التمتع، دم القرآن، وهما دمان، دم لحجته ودم لعمرته (خزانة الفقه کتاب الحج، مایوجب الدم علی المحرم ص : ۹۳، ۹۴ طبع المکتبة المکیة الغفوریة العاصمیة)_

۴] کیفیة الافراد : الافراد أن یحرم بالحج وحده ثم لایعتمرحتی لایفرغ من حجه ....الخ (الفقه الاسلامی وأدلته، کتاب الحج ج : ۳ ص : ۲۱۵ طبع دارالفکر)_

شي،لسم ذي الحجه باندې درمي اوقرباني کولونه فارغيدوسره احرام خلاص کړل شي.[۱]

حج تمتع: تمتع حج دادب چې دحج په ورځوکې دميقات نه تيريدو وخت کې يوازې دعمرې احرام وتړل شي،اوددې اركان اداكولو سره احرام خلاص كړل شي، بياپه اتم ذي الحجه باندې دحج احرام وتړل شي اودحج اركان اداكړل شي،اولسم ذي الحجه باندې د رمى اوقرباني نه وروسته دحج احرام خلاص كړل شي.[۲]

حج بدل کې څومره قرباني ضروري دي؟

سوال: ۱: حج بدل والاكه چيرې قربانى كوي نويوه به كوى اوكه دوه؟ يعنى د آمر او مامور دواړو له طرف نه؟

سوال: ۲: مورېنفلى حج بدل كوو،دې صورت كې قرباني وكړو اوكه نه؟ كه ويې كړو نوڅنګه يې وكړو؟

سوال: ۳: كوم خلك چې دپاكستان (افغانستان) يا نورو ملكونو نه راشي اوحج بدل كوي، عمره وكړي اوبيااحرام خلاص كړي اوبياتمتع حج كوي،دې باره كې تفصيل سره جواب راكړئ!

جواب: حج بدل كونكي ته دمفردحج يعني يوازې دحج احرام تړل پكاردي اومفردحج كې دحج په وجه باندې قرباني نه وي، په دې وجه باندې د امر دطرف نه دقرباني ضرورت نه شته،ماموركه چيرې مقيم اومالدار وي، نودخپل طرف نه دې عامه قربانى وكړي،او مسافر اوغيرمستطيع (څوك چې طاقت نه لرى) باندې قرباني واجب نه ده.[۳]

۱] باب القرآن ..... قوله : وصفة القرآن أن يهل بالعمرة والحج معا من الميقات، قدم العمرة لأن الله تعالىٰ قدمها بقوله : " فمن تمتع بالعمرة الى الحج " ولأن أفعالها متقدمة على أفعال الحج (الجوهرة النيرة، باب القرآن ج :۱ ص : ۱۶۷، طبع مجتبائى دهلى) أيضا : أماالاحرام بحجة وعمرة، فهوأن يقول عند الميقات : اللهم لبيک ..... فيؤدى هماجميعا باحرام واحد، ثم يذبح شاة بعد الرمى من جمرة العقبة فى يوم النحر أومن يوم الغد (خزانة الفقه،كتاب المناسک والحج ص : ۸۸)_

۲] التمتع لغة الجمع بين العمرة والحج باحرامين ..... وهوأن يحرم بعمرة من الميقات أوقبله فى أشهرالحج ويطوف .....ويسعى ويحلق أويقصركالمفرد بالعمرة، ويقطع التلبية فى أول طوافه .... ثم يحرم بالحج من الحرم ان كان بمكة أومن الحل ان كان بالمواقيت ....يوم التروية وحج كالمفرد ..... وذبح بعد الرمى فى أيام النحر... الخ (جامع الرموز الرواية فى شرح مختصرالوقاية، كتاب الحج، ج : ۲ ص : ۴۱۸، طبع مكتبه اسلاميه گنبد قابوس ايران، وكذا فى فتح القديرج:۲ص:۲۱۰، ۲۱۱، طبع دار صادر بيروت، وخزانة الفقه ص : ۸۹، طبع المكتبه الغفورية العاصمية)_

۳] وأما الأضحية فان كان مسافرا لا تجب عليه، والا كان كالمكى فتجب عليه (الفقه الحنفى فى ثوبه الجديد، كتاب الحج ج:۱ ص:۴۹۴) يجب على الغنى دون الفقير......... شكرا لنعمة الحياة واحياء الميراث الخليل حين أمره الله يذبح الكبش فى هذه الأيام كذا فى البدائع (عالمگيرى ج:۵ ص:۲۹۲،كتاب الأضحية، الباب الأول)

۲ ددې مسئله هم پورته ليکل شوې ده.
۳ څنګه چې پورته ليکل شوي دي، حج بدل کونکي ته دمفردحج يعني يوازې دحج احرام تړل پکاردي، که چيرې هغوی تمتع وکړي (يعني دميقات نه يوازې دعمرې احرام وتړي اودعمرې نه فارغيدونه وروسته بياپه اتم ذي الحجه باندې دحج احرام وتړي) نودتمتع د قرباني به دهغه دمال نه په هغه باندې لازمه شي، نه د آمردمال نه اوکه چيرې امر ورته ددې اجازه ورکړې وي، نودهغه دمال نه قرباني کولی شي.[۱]

❖ له محرم نه پرته حج ❖

محرم چاته ويل کيږي؟

سوال: ښځه خاونديوځای حج ته ځي، سړی صالح اوپرهيزګار دی، دښځې يوخپلوانه ښځه دغه ښځې خاوندسره دحج له پاره تلل غواړي اوهغه خپلوانه ښځه داسې ده چې هغې سره نکاح دښځې په ژوندکې دهغې خاوندسره نه شي کيدای، مثلاً: دښځې وريره، د ښځې خورځه، دښځې خپله خور او داسې نور...

جواب: محرم هغه وي چاسره چې کله هم نکاح نه شي کيدای[۲] دښځې خورځه، وريره او خور دسړی له پاره نامحرم دي، هغوی سره تلل جائزنه دي.[۳]

کونډه اينګور د حج له پاره ځان سره بوول

سوال: زما يوه کونډه اينګور ده، زه يې خپل ځان سره د حج بيت الله شريف له پاره د بو ولو اراده لرم. زما ميرمن به هم زمونږ سره وي. زما د اينګور بل محرم داسې نه شته چې د حج استطاعت لري. زما عمر ۷۵ کاله دی، ايا زه هغه دخپل ځان سره د حج له پاره بو ولی شم؟

۱] ودم القرآن والتمتع والجناية على الحاج ان اذن له الامر بالقرآن والتمتع والا فيصيرمخالفا فيضمن (الدرالمختار، باب الحج عن الغير، مطلب العمل على القياس دون الاستحسان هنا، ج ۲ ص : ۶۱۱ طبع سعيد) أيضا : قال : فان أمره غيرأن يقرن عنه فالدم على من أحرم لأنه واجب شكرا بماوفقه الله تعالىٰ من الجمع بين النسكين، والمأمورهوالمختص، لهذه النعمة لأن حقيقة الفعل منه ... الخ (هداية، كتا ب الحج، باب الحج عن الغيرج : ۱ ص : ۲۹۸) أيضا : ودم التمتع والقرآن والجنايات على المأمور، فأما دم المتعة والقرآن فلأنه وجب شكرا وفق لأداء النسكين وهوالذى حصلت له هٰذه النعمة، وأما دم الجنايات فلأنه هوالجانى ....الخ (الفقه الحنفى، الحج عن الغيرج : ۱ ص : ۴۶۹ طبع بيروت)_

۲]والمحرم من لا يجوزله مناكحتها على التأبيد بقرابة أو رضاع أوصهرية...الخ (فتاوىٰ شامى ج: ۲ ص: ۴۶۴)

۳] ويعتبر فى المرأة أن يكون لها محرم تحج به أو زوج ولا يجوز لها أن تحج بغيرهما ...الخ (هدايه ج: ۱ص: ۲۳۳)

جواب: ستاسو کونډه اینګور ستاسو له پاره محرم ده، [۱] له دې وجې نه تاسو سره د هغې دحج سفر صحیح دی. [۲] والله اعلم!

ښځو له پاره حج کې د محرم شرط ولې ضروري دی؟

او خوله با ندې ورور ویلي کس سره حج ته تلل

سوال: یوې انجیلې په خوله باندې ورورویل شوي کس سره حج اداکړ. آیا دی د هغې محرم دی؟ هغه سره نکاح جائزده او که نه؟ او د ښځو له پاره حج کې د محرم شرط ولې ضروري دی؟

جواب: یوناپیژانده ته ورور ویلوسره هغه محرم نه جوړیږي[۳]، په دې وجه باندې نکاح جائزده، زه شرعي مسئله بیانوم، دولې جواب نه ورکوم، خوستاسو داطمینان له پاره لیکم چې د محرم نه بغیر ښځه حضور ﷺ د دریوورځویاددې نه دزیات سفرکولونه منع کړېده[۴] ځکه چې داسې اوږدسفرکې دهغې عزت اوعصمت بچ کول یوه مستقله مسئله ده اوزماناکاره په علم کې دي چې ځینې ښځې د محرم نه بغیرحج ته لاړې اوګندګۍ کې مبتلاکیدوسره بیرته راغلې، له دې نه پرته په اوږدسفرکې حادثې راتلای شي اودښځې د کینولواوپاځولوضرورت راتلی شي، که څوک محرم ورسره نه وي، نو دښځې له پاره به داسختې راځي.[۵]

ښځې له پاره یوازې د عمرې سفر کول جائز نه دي، خو عمره به اداشي

سوال: زه دعمرې په اراده باندې وتل غواړم، ائیرپورټ (هوایي میدان) پورې ماسره خاوند شته، جده ایرپورټ (هوایي میدان) باندې به زماروروموجودوي، بیابه دهغه سره عمره اداکوم، بیابه مې جدې نه ورورجهاز (طیاره) کې کینوي، اودلته به مې خاوندکوزه کړي، داسې

---

[۱] "وحلئل ابنائکم الذین من اصلبکم" (النساء:۲۳) والمحرم من لا یجوزله مناکحتها علی التأبید بقرابة أو رضاع أوصهریة...الخ (فتاویٰ شامی ج: ۲ ص: ۴۶۴)

[۲] عند وجود المحرم کان علیها أن تحج حجة الاسلام (عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۱۹، کتاب المناسک)

[۳] "وماجعل ادعیاء کم ابنائکم ذٰلکم قولکم بافوٰهکم" (الأحزاب : ۴) وفی التفسیر: یعنی تبنیکم له قول لا یقتضی أن یکون ابناحقیقیا فانه مخلوق من صلب رجل اخرفمایمکن أن له أبوان (تفسیرابن کثیرج : ۵ ص : ۱۴۳ طبع رشیدیة کونته)_

[۴] عن أبی سعیدالخدری رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لا یحل لامرأة تؤمن بالله والیوم الاخرأن تسافرسفرا یکون ثلاثة أیام فصاعدا الا ومعها أبوها، أو ابنها، أوزوجها، أوأخوها، أوذومحرم منها (صحیح لمسلم ج : ۱ص : ۴۳۴ طبع بمبیٔ) أیضا عن ابن عباس عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال : لاتحجن امرأة الاومعها محرم (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، کتاب الحج، طبع سعید)_

[۵] لأن المرأة لاتقدرعلی الرکوب والنزول بنفسهاآفتحتاج الی من یرکبها وینزلها ولایجوز ذالک لغیرالزوج والمحرم (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، کتاب الحج،فصل وأماشرائط فرضیته نوعان)_

صورت کې به عمره اداشي؟

جواب: عمره به اداشي،[۱] خوستاسو په هوايي جهاز (طياره) کې يواځې سفرکول جائزنه دي.[۲]

کراچی نه جدې پورې د محرم نه پرته سفرکول

سوال: که چيرې يوه ښځه دحج له پاره دمکې مکرمې دسفراراده وکړي اودهغې سره محرم نه شي تلی، خوداچې دکراچی نه جهاز (طياره) کې کينوي، اودهغې ښځې وروريه جده ايرپورټ (هوايي ميدان) کې موجودوي، داسې ښځې له پاره شرعي څه حکم دی؟

جواب: دکراچی نه جدې پورې له محرم نه پرته سفرکولوګناه به دهغې په ذمه وي.

مطلقه ښځې باندې د حج فرضيت، بل داچې دهغې محرم څوک وي؟

سوال: يوه ښځه چې مطلقه وي (دهغې د وينا مطابق) دهغې ناواده کړې لورګانې او هلکان هم د ګټلو قابل وي، ايا داسې صورت کې په هغې باندې حج واجب دی؟ حالانکې د بچيو کفيل پلار دی، په دې وخت کې صورت حال دادی چې تول بچي زيرِتعليم دي.

۲: پورتني صورت کې حج ته دتللو په وخت د ښځې محرم څوک کيدای شي؟

جواب: که چيرته هغې سره د تلو راتلو خرچ شته او يو محرم هم ورسره تلونکی وي، نو بيا خو په هغې باندې حج فرض دی، که چيرته خرچې نه وي، نوحج فرض نه دی، اوکه چيرته خرچې شته خو محرم نه شته، نو له محرم نه پرته دهغې حج ته تلل جائز نه دي، بلکې وصيت دې وکړي چې دهغې له طرف نه دې حج بدل وکړل شي.[۳]

۲: مطلقه ښځه دې دچا سره نکاح وکړي، هغه سره حج ته تلی شي.

دله محرم نه پرته د حج سفر

سوال: دمحرم نه پرته دحج دسفرشرعي حکم څه دی؟ دمحرم نه پرته دښځې حج جائزدی اوکه نه؟حکومت دحج درخواستونوسره دښځې دمحرم نوم اوپته (آدرس) وغيره ليکلوشرط ضروري کړی دی، کومې ښځې چې غيرمحرم، محرم ښودوسره حج ته لاړې شي، دهغوی له پاره څه حکم دی؟

۱] فان حجت بغيرمحرم أو زوج جازحجها مع الكراهة (الجوهرة النيرة ج : ١ص : ١٥٤)_

۲] ويؤده حديث الصحيحين :"لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الاخران تسافرمسيرة يوم وليلة الامع ذى محرم عليها" (فتاوىٰ شامى ج : ۲ ص : ۴۶۵)_

۳] ومنهاالمحرم للمرأة .... اذا كانت بينها وبين مكة مسيرة ثلاثة أيام .... وعلى القول الاخرين تلزمه الوصية (فتاوىٰ عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۱۹، كتاب المناسك)

جواب: دمحرم نه پرته دحج سفرجائزنه دی[۱] اونامحرم،محرم ښودوسره دحج سفرکول دوه چنده ګناه ده.[۲]

حج له پاره نامحرم، محرم جوړول ګناه ده

سوال: یوه ښځه چې هغې دوه ځله حج کړی دی اودهغې عمرهم د شپیتوکالونه پورته دی، په دریم ځل باندې حج کول غواړي،دې صورت کې ګروپ لیډر(د جماعت مشر) چې هغه شرعي محرم نه دی،هغه خپل محرم ښيي اودغه ګروپ کې پنځلس شل نورې ښځې هم دغه ګروپ لیډر (دجماعت مشر) خپل محرم ښودوسره(کوم چې شرعي طورباندې دهغوی محرم نه دی) حج ته رواني دي.دداسې ښځوحج به صحیح وي اوکه نه؟

جواب: دمحرم نه پرته سفرکول جائزنه دي،که څه هم حج به یې اداشي[۳]، خو د دروغو او د محرم نه پرته سفرکولوګناه به دهغوی په سروي.[۴]

نامحرم محرم ښودوسره حج کول

سوال: زمانیا او ترور په دې کال باندې حج ته تشریف وړی دی، هغوی سره محرم نه دی تللی، د تلو نه مخکې هغوی دخپل ښار د مولوي صاحب نه پوښتنه کړې ده، پته نه شته مولا صاحب هغوی ته څنګه د محرم نه پرته د تلو اجازت ورکړی دی، دویم زما نیا او ترور ویلي دي چې هغوی دخپل ګروپ یوسړی ورور جوړ کړی دی، حالانکې زه دهغوی وراره او لمسی یم، زه هم هغه سړی په مخ سره نه پیژنم، اوتردې پورې چې دهغوی زوی او ورور یعنې زما پلارصاحب هغه سړی نه پیژني.

جواب: ستا د نیا او ترور حج وشو،[۵] خو دهغوی دمحرم نه پرته سفر ګناه ده،د ګروپ یو سړی خپل ورور یا زوی جوړولو سره هغه محرم نه جوړیږي،[۶] او بیا درخواستونو کې هغه

۱]یکره تحریماعلیٰ المراة أن تحج بغیرهما أی المحرم والزوج (اللباب ج:۱ ص:۱۶۵، کتاب الحج، طبع قدیمی)

۲] عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من غشنا فلیس منا، والمکروالخداع فی النار (صحیح مسلم ج : ۱ ص : ۷۰، طبع قدیمی، حلیة الأولیاء ج : ۴ ص : ۱۸۹، طبع دارالکتب العلمیة بیروت، کنزالعمال ج : ۳ ص : ۵۴۵طبع مؤسسة الرسالة، بیروت)_

۳] حوالې دپاره تیره شوې حاشیه (عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال:...الخ) او وروستۍ حاشیه (فان حجت بغیرمحرم أو زوج جاز...الخ) اوګورئ!)_

۴] حوالې دپاره تیره شوې حاشیه (عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال:...الخ) او وروستۍ حاشیه (عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال:...الخ) اوګورئ!)_

۵]فان حجت بغیرمحرم أو زوج جاز حجهامع الکراهة (الجوهرة النیرة، کتاب الحج ج : ۱ ص : ۱۵۴)

۶]"وماجعل ادعیاء کم ابنائکم ذٰلکم قولکم بافواهکم" (الأحزاب:۴) ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

سړی خپل زوی یا ورور ښکاره کول جدا دروغ دي.

ښځې ته له محرم نه پرته حج ته تلل جائزنه دي

سوال: زه دحج سعادت حاصلول غواړم،اودالله تعالی شکردی چې دومره حیثیت مې شته چې دخپل حج خرچې پخپله باندې برداشت کړم، خومشکل دادی چې ماسره دتلوڅوک نه شته، ماشاء الله زما څلور زامن دي،هغوی کې دوو ودونه کړي دي اوخپل کاروباري اوکورني ژوندکې مصروف دي اویوسرکاري(حکومتي) نوکردی،هغوی ته رخصتي ملاویدل مشکل بلکې ناممکن دي، اوڅلورم زوی مې اوس د دیارلسوکلودی،اودقرآن پاک حفظ کوي. آیا زه ګروپ (جماعت) سره حج کولوته تلی شم یابله څه طریقه شته؟ مهرباني وکړئ جواب راکړئ!

جواب: دښځې له پاره له محرم نه پرته دحج په سفرباندې تلل جائزنه دي،[1] ستازامنوته پکاردي چې هغوی دخپل مصروفیات لږ شان اخوا دیخوا کړي اوتاسوسره دې حج ته لاړشي، تولې به دیریش پنځه دیریش ورځې لګیږي،ستازامنوته ستادحج له پاره دومره قرباني ورکول څه ګران دي؟

رضاعي وراره سره حج کول

سوال: سوال دادی چې زبیدې یو هلک ته خپل تی (سینه) ورکړ او اوس رضعیه له محرم نه پرته حج ته روانه ده، حالانکې دهغې تول محرم صاحب نصاب دي، یعنې حج ته د تللو استطاعت لري، جهاز کې هغه هلک هم ورسره دی، هغه دواړه جدا جدا اوسیږي، یوازې د حج په ورځو کې ملاویږي دې له پاره چې د رضعیه حج وشي، ځکه چې د رضاعت په رشتې سره هغه دهغه ترور ده، پوښتنه داده چې داسې د رضعې حج وشو اوکه نه، حالانکې ددغه هلک د رضعې سره بله رشته نه شته؟ موږه اوریدلي دي چې داسې حج نه کیږي او ځینې خلک وایي چې کیږي، جواب راکولوسره به مو ډیره ډیره مهرباني وي.

...بقيه د تيرمخ]...وفى التفسير: يعنى تبنيكم له قول لا يقتضى ان يكون ابناحقيقيا ......ان له ابوان (تفسيرابن كثيرج : ۵ ص : ۱۴۳طبع رشيدية كوئته) ايضاً: عن ابى سعيدالخدرى رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لا يحل لامراة تؤمن بالله واليوم الاخران تسافرسفرا...الى... اوذومحرم منها (صحيح لمسلم ج:۱ص:۴۳۴ طبع بمبي) ايضا عن ابن عباس عن النبى صلى الله عليه وسلم انه قال : لاتحجن امراة الاومعها محرم (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، كتاب الحج، طبع سعيد) ايضاً: لأن المراة لاتقدرعلى الركوب والنزول .....لغيرالزوج والمحرم (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، كتاب الحج،فصل واماشرائط فرضيته نوعان) ايضاً فان حجت بغيرمحرم أو زوج جازحجها مع الكراهة (الجوهرة النيرة ج : ۱ص : ۱۵۴)_

[1] حوالې دپاره تیره شوې حاشیه (وماجعل ادعياء كم ابنائكم...الخ) او وروستې درې حاشیې اوګورئ!

جواب: رضعي وراره محرم دی، رضاعی ترور دهغه سره حج ته تلی شي. [1]!

د محرم نه پرته حج

سوال: زما والدصاحب په (۱۹۷۲ء) کښې وفات شوی دی، زه د کورمشر یم، دهغه له وفات نه وروسته ټولې ذمه دارۍ په ماوې، او هغه ډیرې زیاتې وې، دالله تعالی شکردی مادې دوران کښې دپلارصاحب له وفات نه وروسته خپلې ذمه دارۍ پوره کړې، تیرکال مادخپلې کشرۍ خور واده هم وکړ، اوس ماباندې داسې څه ذمه داري نه وه اونه شته، زما مورصاحبه په کراچۍ کښې اوسیږي، دې کال خلک په حج اسکیم باندې حج ته ځي، نوزمادوست اودهغه مورهم ځي، هغوی درافت جوړکړ، کوم چې دهریوکس له پاره (۲۵۱۲۰) روپیودی، مادخپلې مور له پاره حج ډرافټ (داخله فارم) جوړکړ اودهغوی سره مې ولیږه، درې واړه ډرافټونه (داخله فارمې) یوځای جمع شول اودحکومت نه منظوري هم راغله، چې حج ته تلی شي، اومورمې اوکوم صاحب سره چې ځي دیندار دی، یعنی د لمونځ وغیره مکمل پابنددی، زه دحکومت نوکر یم، ماته چونکې رخصتي نه ملاویږي، زه سوچ کوم چې رخصتي ملاویدوسره به زه دلته ریاض نه دګاډي په ذریعه باندې لاړشم اودجدې په ایرپورټ (هوایي میدان) باندې به هغې سره ملاقات وکړم، اوحج به هم ورسره وکړم، خومایوه ورځ دلمونځ نه وروسته دامام صاحب نه چې دبنګله دیش دی، پوښتنه وکړه، نو هغوی جواب راکړ چې حنفی مذهب کښې له محرم نه پرته سفرباندې نه شي تلی، حج خودلرې خبره ده، اوس زه پریشان یم چې څه وکړم؟ آیا زمادمورحج کیږي اوکه نه؟ دلته بل عالم دکوم تعلق چې مصرسره دی، هغوی وویل چې کیږي، دهغوی تاریخ پیدائش (۱۹۲۲ء) دې اوعمریې اته پنځوس کاله جوړیږي، ما ځکه هم کوشش کړی وچې په ژوند هیڅ اعتبار نه شته اومعلومه نه ده چې حالات به سبا څنګه وي، سبابه نوکري وي یابه نه وي، دې وخت کښې زما حالات ښه دي، دالله تعالی شکردی اوزماداخواهش وچې زه په خپلې مورباندې حج وکړم اوهم دا دعا کوم اوکوله به مې چې دټولو وروڼو خویندو د ودونونه فارغ شم، نوبیابه په مورباندې حج کوم، دالله تعالی شکردی چې مادا ذمه دارۍ پوره کړې، الله تعالی که زماد اخري خواهش هم پوره کړي نوښه ده، په هرحال ماته جواب راکړئ نو زه به ستاسو ډیر شکرګزار یم، چې زماتسلي وشي.

جواب: داحنافو په مذهب ښځې له پاره له محرم نه پرته دحج سفر کول جائزنه دي، خوکه چیرې لاړه شي، نوحج به یې اداشي اودیوازې سفر کولوګناه به وي، دشوافعو په مذهب کښې د اعتباري ښځوسره دښځې له پاره حج ته تلل جائزدي، هغه مصری عالم به دشافعي مذهب وي.[2]

[1] يحرم من الرضاع مايحرم من النسب (هداية ج : ٢ ص : ٣٠٨، كتاب النكاح، فصل فى بيان المحرمات)

[2] ويعتبرفى المرأة أن يكون لهامحرم تحج به أو زوج ولايجوزلها ان تحج بغيرهما...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

له محرم نه پرته حج ته تلل

سوال: مسئله داده چې زما د پلار یونیم کال مخکې وفات شوی دی. زما مور ژوندۍ ده او هغه خپل پنشن او خپلې ذاتي پيسې جمع کولو سره حج کول غواړي، ماشاء الله دوه زامن دي، خو دومره مالي طاقت نه لري چې ددې ځای نه مور ځان سره د حج له پاره بوځي. زما خور، اود خور خاوندمې د ډيرو کالو راهيسې په رياض کې مقيم دي، اوس د مور مې اراده د حج ده. بلکې زيات خواهش دی چې هغه د بيت الله دحج شرف حاصل کړي. نو پوښتنه داده چې ايا لور او زوم سره حج کول جائز دي؟ ددې ځای نه لور او زوم خپلو خپلو مورګانې د جاز په ذريعې رياض يا جدې ته د حج له پاره راغوښتلی شي؟ مطلب زما د خور خاوند خپلې مور او خواښې، دواړه له محرم نه پرته جاز کې يوازې غوښتلی شي؟ او هغه ځای نه به زما مور سره لور او زوم وي، ايا په دې صورت کې به حج جائز وي، يا بيا څه صورت حال کيدلی شي؟ تاسو مهرباني وکړئ زر ترزره ددې جواب راکړئ! ځکه چې حج ته د رابللو د پاره ډيرې مياشتې مخکې انتظام کول وي، يعنې چې د بهر نه راغواړې هغه د مخکې نه پيسې وغيره جمع کوي.

جواب: ددې ځای نه په جهاز کې يوازې سفر کول جائز نه دي،[1] که چيرته ستا د خور خاوند خپلې مور او ستاسو مور ته راشي او ځان سره يې بوځي او حج ته تلو کې هم ورسره وي، نو جائز ده، که نه، جائز نه دی. [2]

زړه(بوډۍ) ښځه او بوډا سړي يوځای حج ته تلل

سوال: زما کمزورې مور (کونډه عمر ۵۲ کاله) او يو ضعيفه ملګرې (عمر ۲۵ کاله) حج ته د تلو خواهش مندې دي، دواړه زنانه د حنفي مسلک دي، ديو خاندان يو سړی چې دهغه عمر ۷۰ کاله دی، اوخپلې مور د پاره حج بدل کوي، سره حج ته تلل غواړي دواړه کمزورې زنانه د عمر په آخري برخه کې دي، يوازې دومره حده پورې صاحب نصاب دي چې حج وکړای شي، ايا هغه دخپلې ملګرې چې کمزورې وي دهغه بزرګ سره حج تلی شی ؟

....بقيه د تيرمخ]...وقال الشافعي : يجوزلها الحج إذا خرجت فى رفقة ومعهانساء ثقاة لحصول الأمن بالمرافقة (هداية، كتاب الحج ج : ١ ص : ٢١٣، بدالع الصنائع ج : ٢ ص : ١٢٣، كتاب الحج، طبع سعيد)_

[1] عن ابن عباس رضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : : ألا لا تحجن امرأة الا ومعهامحرم وعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : لا تسافرامرأة إلاومعهامحرم أوزوج، ولأنها إذا لم يكن معهازوج ولامحرم لايؤمن عليها اذ النساء لحم على وضم إلاماذاب عنه (بدائع ج:٢ ص:١٢٣، كتاب الحج، وأما شرائط فريضته، طبع سعيد)

[2] ايضاً_

جواب: زنانه وو ته که څه هم هغه هرڅومره بوډۍ وي. له محرم نه پرته سفر باندې تلل جائز نه دي.[۱] که چیرته هغوی باندې حج فرض وي او څوک محرم هغو سره تلونکی نه وي، نو وصیت دې وکړي چې د هغې له طرفه حج بدل وکړل شي. والله اعلم![۲]

له محرم نه پرته د بوډۍ ښځې حج اداشو، خو ګناهګاره شوه

سوال: زموږ د یو دوست بوډۍ عبادت ګزاره نیا د محرم نه پرته د حج اداکولو له پاره د کراچۍ نه د جهاز (طیاره) په ذریعه باندې جدې ته روانه شوه، تاسو نه پوښتنه داده چې کراچۍ نه د جدې پورې سفر له محرم نه پرته قبول دی یا د اسې حج نه اداکیږي، او که دې کې څه رعایت شته؟ ځکه چې د محترمې نه زوی شته او نه د هغې خاوندژوندی دی، او د هغې د حج کولو خواهش دی، نو آیا اسلام کې دې باره کې څه رعایت شته؟ او په زړګونو ښځې چې د هغوی څوک محرم نه وي. نو آیا هغوی دې حج نه کوي؟

جواب: د محرم نه پرته که چیرې ښځه لاړه شي، نو د هغې حج به اداشي،[۳] خود محرم نه پرته سفر کول د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې جائزنه دي، نو د دې ناجائزسفر ګناه به جدا وي،[۴] خو چونکې د بوډۍ ښځې سفر کې د فتنې ډیره ویره نه وي، په دې وجه باندې ممکن ده چې د الله تعالی د طرف نه ورته رعایت وشي، خو هغې ته په دې ناجائز سفر کولو باندې د الله تعالی نه استغفار کول پکاردي، پاتې شوه ستاسو دا خبره چې په زړګونو ښځې چې د هغوی محرم نه وي، نو هغوی دې حج نه کوي؟ د دې جواب دادی چې ترڅو پورې محرم نه وي، ښځې باندې حج فرض نه وي، په دې وجه باندې دې نه کوي او که چیرې ډیرزیات یې شوق وي نو نکاح دې وکړي، زما علم کې داسې واقعات شته چې ښځه د محرم نه پرته حج ته لاړه او هلته د ځان شرمولونه وروسته راغله، په ظاهره ماشاء الله حجانې ده (حج یې کړی دې)، خودننه حقیقت دا دی، په دې وجه باندې د الله تعالی قانون یوازې د خپل خیال او خواهش په وجه باندې نه منل

---

[۱] ویعتبرفی المرأة ان یکون لهامحرم تحج به أو زوج سواء کانت عجوزة أوشابة ... الخ (الجوهرة النیرة ج : ۱ ص : ۱۵۴، کتاب الحج، طبع مجتبائی دهلی)

[۲] وهل المحرم من شرائط الوجوب أومن شرائط الأداء علی الخلاف فی أمن الطریق (وهو قبل من شرائط الأداء حتی یجب الایصاء به قال فی النهایة وهوالصحیح) (الجوهرة النیرة ج : ۱ ص : ۱۵۴، کتاب الحج، طبع مجتبائی دهلي)

[۳] فإن حجت بغیرمحرم أو زوج جاز حجها مع الکراهة (الجوهرة النیرة ج : ۱ ص : ۱۵۴)_

[۴] عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال :ألا لا تحجن امرأة الا ومعهامحرم وعن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال : لا تسافرإمرأة ثلاثة ایام إلاومعهامحرم أوزوج، ولأنها إذا لم یکن معهازوج ولامحرم لایؤمن علیها اذ النساء لحم علی وضم إلاماذاب عنه (بدائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، کتاب الحج، وأما شرائط فریضته، طبع سعید)_

اويو طرف ته نظر كولو سره نورتهولو طرفونو نه مخ اړول دكوم ځاى عقل دى؟ افسوس چې نن سبا داخندا عامه شوې ده.

د ضعيفې ښځې د ضعيف نامحرم سړي سره حج

سوال: آيا د پنځوسو كالو،شپيتو كالو،يا اويا كالونامحرمه ښځه د اويا كالونامحرم سړي سره حج ياعمره كولى شي ؟ كه چيرې ښځې عمره وكړه، نوددې كفاره به څه وي؟

جواب: نامحرم سره دحج اوعمرې سفركول دبوډۍ ښځې له پاره هم جائزنه دي،[۱] كه چيرې يې وكړ، نودحج فرضيت اداشو،خوګناهګاره شوه، توبې اواستغفارنه پرته يې هيڅ كفاره نه شته.

د ماما نې (ماما ښځې) دخاوند له خوريي سره حج كول

سوال: مسئله داده چې زمامور سږ كال حج ته تلل غواړي اوزماوالد صاحب وفات شوى دى. زمادترورزوې خپلې موراو ترورسره روان دى او زمامورهغوى سره تلل غواړي،زمامورپه رشته كې زمادترور دزوى دماما ښځه ده، شرعي لحاظ سره دقرآن اوحديث په رڼاكې ووايئ چې مامانې (دماما ښځه) دخاوندله خوريي سره حج ته تلى شي، يادديې بل څه صورت كيداى شي؟

جواب: مامانې (دماما ښځه) شرعي محرم نه دى،په دې وجه باندې هغه دخپل خاوند له حقيقى خوريي سره حج ته نه شي تلى.[۲]

اوښي سره حج ته تلل

سوال: داوښي سره دحج يابل داسې سفرباندې چې دمحرم وجود پكې ضروري دى تلى شو اوكه نه؟ اوكله چې خورهم راسره ځي.

جواب: اوښي سره سفركول شرعي طورباندې صحيح نه دي.[۳]

سوال: مسئله داده كه چيرې ښځه اوخاوند يوځاى حج ته ځي، نودهغوى سره دښځې خورهم دمحرم په طورباندې تلى شي؟ شرعي طورباندې ديوې ښځې په موجودګي كې دهغې خورسره نكاح جائزنه ده،دې لحاظ سره ښينه محرم شوه،په هرحال كه چيرې دپاكستان حكومت ددې

۱] ومع زوج اومحرم ...... لامرأة حرة ولوعجوزا فى سفر (فتاوىٰ شامى ج : ۲ ص : ۴۶۴، كتاب الحج)، ويعتبر فى المرأة أن يكون لهامحرم تحج به أوزوج سواء كانت عجوزا أوشابة (الجوهرة النيرة ج : ۱ ص : ۱۵۴ كتاب الحج)

۲] وتعتبرفى المرأة أن يكون لهامحرم تحج به أوزوج ولا تجوزلها أن تحج بغيرهما (هداية ج : ۱ ص : ۲۳۳، كتاب الحج، طبع شركت علمية ملتان) دغه شان اوګورئ تيره شوى حاشيه (عن ابن عباس رضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال:...الخ)_

۳] ايضاً پورتنئ حواله)_

مسئلې وضاحت په اخبارونو کې چاپ کړي، نو ډیر خلک به د پریشانۍ نه بچ شي.

جواب: محرم هغه دی چاسره چې په هیڅ صورت کې نکاح جائز نه وي،[1] ښینه محرم نه ده، که چیرې خاوند ښځې ته طلاق ورکړي، یا ښځه مړه شي، نو د ښینې سره نکاح کیدای شي او نا محرم ځان سره بوتلو په وجه باندې حاجي مجرم جوړ شي.

د خور له خاوند سره د حج په سفر باندې تلل

سوال: زه یوه کونډه او سکول استاذه یم، عمر مې تقریباً ۵۰ کاله دی، زه ل هځپل وړوکی ورور او د ورور د ښځې سره اوسیږم، پخپله کفیله یم، صاحب نصابه یم، اوما د عمرې سعادت هم حاصل کړی دی، دا ځل د حج کولو اراده لرم، زما لرې رشته دار او د خور خاوند (عمرونه یې تقریبا ۵۰ او ۷۰ کاله) هم سږ کال د حج کولو اراده لري، تاسو پوښتنه داده چې ایا زه د خور خاوند سره حج کولی شم؟ جواب راکړئ! ډیره ډیره مهربانی به مو وي.

جواب: د خور خاوند نامحرم دی، اوله محرم نه پرته حج ته تلل جائز نه دي، خپل ورور ځان سره بوځه! [2]

د ماما زوی، د تره زوی، خور او د خور خاوند سره حج ته تلل

سوال: نن سبا عام رواج دی چې زنانه د خپل یو رشته دار مثلاً: د ماما زوی، تره زوی وغیره (یاد هغوی بچو سره) حج ته ځي، چاسره چې ځی عموماً د هغه ښځه هم ورسره وي، ایا د داسې ښځو په دې طریقې سره حج کیږي؟

جواب: له محرم نه پرته تلل جائز نه دي. [3]

سوال: که چیرته دوه درې خورګانې یوځای حج ته لاړې شي، په هغوی کې د یوې سره خاوند وي نو ایا د پاتې ښځو چې هغوی سره محرم نه شته، د خور او د خورد خاوند سره

---

[1] والمحرم من لا يجوزله مناكحتها على التأبيد ... الخ (فتاويٰ شامي ج : ۲ ص : ۴۶۴، كتاب الحج)_

[2] وتعتبرفي المرأة أن يكون لها محرم .... أن تحج بغيرهما (هداية ج : ۱ ص : ۲۳۳، كتاب الحج، طبع شركت علمية ملتان) ايضاً (عن ابن عباس رضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال:...الخ) ايضا:والمحرم من لا يجوزله مناكحتها على التأبيد ... الخ (فتاويٰ شامي ج : ۲ ص : ۴۶۴، كتاب الحج)_

[3] عن ابن عباس رضى الله عنهماعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : الا لا تحجن امرأة الا ومعهامحرم وعن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : لا تسافرإمرأة ثلاثة أيام إلاومعهامحرم أوزوج، ولأنها إذا لم يكن معهازوج ولامحرم لايؤمن عليها (بدائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، كتاب الحج، وأما شرائط فريضته، طبع سعيد) وتعتبرفي المرأة أن يكون لها محرم تحج به أوزوج، ولايجوز لها أن تحج بغيرهما إذا كان بينهما وبين مكة ثلاثة أيام (هداية، كتاب الحج ج : ۱ ص : ۱۲۳، كتاب الحج، طبع شركت علميه ملتان)

حج کیږي او که نه؟

جواب: د خورخاوند محرم نه دی، له دې وجې د ښځې نه پرته ددې دنورو خورګانو دهغه سره تلل جائز نه دي [۱]

لیوریابل نامحرم سره د حج سفر

سوال: زید اوعمر دوه وروڼه دي، دکشر ورور **زید** ښځه **عمر** (دخاوند مشرروړسره) حج ته تلل غواړي.شرعی طورباندې څه حکم دی؟

جواب: دښځې لیورنامحرم دی اونامحرم سره دحج سفرباندې تلل جائزنه دي.[۲]

د خاوند حقیقي تره سره د حج سفرکول

سوال: زماښځه زماحقیقي تره سره زماپه خوښه باندې دحج سفرکول غواړي، کاغذونه یې داخل شوي دي، آیا زمادتره حیثیت خوبه دغیرمحرم په شان نه وي؟ شرعي طورباندې زماښځه دهغه سره تلی شي اوکه نه؟

جواب: که چیرې ستاسودښځې ستاسوتره سره نوره څه خپلولي نه وي، نودوی دواړه دیوبل له پاره غیرمحرم دي،اوستاسوښځې ته دهغه سره حج ته تلل جائزنه دي.[۳]

د ښځې له پاره دخپلې لوردخسر او خواښې سره د حج سفرکول

سوال: زما او زما د ښځې سږ کال حج ته دتلو اراده ده،ماسره زماداوښې ښځه کومه چې زما د زوی خواښې هم ده،هغه هم حج ته تلل غواړي اودهغې عمرشپیتهٔ کاله دې،اوزمااوښې دوه کاله مخکې مړشوی دی. هغه ضدکوی چې تاسونه ماسره تلونکې بل څوک ښه نه ښته،ډیر زیات خواهش مې دی چې دحضورﷺ د روضې مبارکې زیارت وکړم، په ژوندهیڅ اعتبار نه شته،زمافارم هم ځان سره جمع کړئ، زه به تاسوسره ځم،مسئله داده چې هغه ماسره په کوم صورت باندې حج ته تلی شي؟

---

[۱] ایضاً _

[۲] عن ابن عباس رضی الله عنهماعن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال : : ألا لا تحجن امرأة الا ومعهامحرم وعن النبی صلی الله علیه وسلم أنه قال : لا تسافرإمرأة ثلاثة أیام إلاومعهامحرم أوزوج، ولأنها إذا لم یکن معهازوج ولامحرم لایؤمن علیها (بدائع ج : ۲ ص : ۱۲۳، کتاب الحج، وأما شرائط فریضته، طبع سعید) وتعتبرفی المرأة أن یکون لهامحرم تحج به أوزوج، ولایجوز لها أن تحج بغیرهما إذا کان بینهما وبین مکة ثلاثة أیام (هدایة، کتاب الحج ج : ۱ ص : ۱۲۳، کتاب الحج، طبع شرکت علمیه ملتان)_

[۳] ایضاً پورتنۍ حواله)_

جواب: تاسو دهغې محرم نه يئ او دمحرم نه پرته دحج سفرجائزنه دی[1] که چيرې لاړه نوحج به يې اداشي، خوګناهګاره به وي.[2]

د خورليورسره د حج اوعمرې سفر

سوال: زمامسئله داده چې ماحج نه دی کړی، آيا زه عمره کولی شم؟ زمادخورليور سږ کال ته حج ته ځي هغه زمورږخپلوان هم دی اوواده يې هم کړی دی،چونکې ماته دلته ډيروخلکو وويل چې پيغله انجيلۍ دپردي سړي سره نه شي تلی، آيا زه هغه سره حج ته تلی شم؟

جواب: دخورليورنامحرم وي،اوله محرم نه پرته حج ياعمرې ته تلل جائزنه دي.[3]

د ښځې خوله باندې ويل شوي وروړسره حج کول

سوال: نامحرم سره حج ته تلل څنګه دي؟ که چيرې ښځه دمحرم نه پرته حج ته لاړه شي ياڅوک نامحرم، محرم جوړکړي اوهغه سره لاړه شي، نودهغې داعمل څنګه دی؟ زمورږترور سږ کال حج ته لاړه،هغې دحج سفرديوخوله باندې ويل شوي وروړسره وکړ اوهغه يې محرم ښکاره کړ. حالانکې دهغې لوڼه اوزامن هم شته، خوهغه يوازې خوله باندې ويل شوي وروړسره لاړه، آيا خوله باندې ويل شوي وروړ محرم جوړيدای شي؟ آيا هغه سره دحج ارکان اداکيدای شي؟ آيا دهغوی حج وشو؟

جواب: دښځې له محرم نه پرته سفرکول ګناه ده،[4]حج خوبه اداشي،خو ښځه به ګناهګاره وي[5]

خوله باندې ويل شوي وروړمحرم نه وي،هغه محرم ښکاره کول دروغ دي.[6]

د ښځې له پاره داسې ښځې سره د حج سفرکول چې هغې سره خپل خاوند موجود وي

سوال: يوه ښځه حج ته تلل غواړي،خاونديې وفات شوی دی،بل څوک محرم ورسره نه شي تلی، آيا دغه ښځه دداسې سړي سره تلې شي، چې هغه خپله ښځه وي،ياداسې ښځې سره تلی

---

[1] تيره شوی حاشيه (عن ابن عباس رضی الله عنهماعن النبی صلی الله عليه وسلم أنه قال:...الخ) اوګورئ!

[2] فإن حجت بغيرمحرم أوزوج جاز حجهامع الكراهة (الجوهرة النيرة ج: ١ ص : ١٥٤، كتاب الحج)_

[3] تيره شوی حاشيه (عن ابن عباس رضی الله عنهماعن النبی صلی الله عليه وسلم أنه قال:...الخ) اوګورئ!

[4] (أيضا)_

[5] فإن حجت بغيرمحرم أوزوج جاز حجهامع الكراهة (الجوهرة النيرة ج: ١ ص : ١٥٤، كتاب الحج)_

[6] "وماجعل ادعياء كم ابناء كم ذٰلكم قولكم بافوٰهكم " (الأحزاب : ۴)_

شي چې هغې سره محرم وي؟

جواب: ښځې له پاره له محرم نه پرته حج ته تلل جائزنه دي،او ذکرشوي صورت کې تلل جائزنه دي.[1]

نوکر محرم جوړولو سره حج کول

سوال: زه سرکاري (حکومتي) نوکر يم اوزما ښځه دحج سعادت حاصلول غواړي، زه دخپل مصروفياتوپه وجه باندې دمحرم په طورباندې هغې سره نه شم تلی، آيا زه خپل نوکر(کوم چې ماته سرکاري (حکومتي) طورباندې ملاودی) دمحرم په حيثيت باندې دخپلې ښځې سره ليږلی شم؟

جواب: محرم داسې خپلوان ته ويل کيږي،چې هغه سره درشتې په وجه باندې نکاح نه شي کيدای،[2] لکه: دښځې پلار،ورور،وراره،خوريی، دکور نوکر محرم نه دی اوله محرم نه پرته حج ته تلل حرام دي،تاسوبه پخپله باندې هم ګناهګاريږ،ستاسوښځه اونوکرهم.

که ښځې ته د مرګ پورې محرم پيدا نه شي نود حج وصيت دې وکړي

سوال: زمورږموورباندې حج فرض شوی دی،اوهغې سره حج ته تلوله پاره محرم نه پيداکيږي،نو آيا دې صورت کې هغه دغيرمحرم سره حج ته تلی شي؟ اودهغې عمرتقريباً (۷۳) شپيته کاله دی.

جواب: ښځه له محرم نه پرته حج ته نه شي تلی،دې کې دعمرهيڅ قيد نه شته، که چيرې محرم نه وي، نوهغې باندې حج اداکول فرض نه دي،دې صورت کې نامحرم سره تلل جائزنه دي،که چيرې لاړه نوحج به يې اداشی،خوګناهګاره به وي، که چيرې دآخري وخت پورې هغې ته محرم پيدا نه شي ،نوهغې ته پکاردي چې وصيت وکړي،چې دمرګ نه وروسته دې دهغې له طرف نه حج بدل اداکړل شي.[3]

---

[1] ''وماجعل ادعياء کم ابنائکم ذٰلکم قولکم بافوٰهکم'' (الأحزاب : ۴) وفی التفسير: يعنی تبنيکم له قول لا يقتضی أن يکون ابناحقيقيا فانه مخلوق من صلب رجل اخرفمايمکن أن له أبوان (تفسيرابن کثيرج : ۵ ص : ۱۴۳طبع رشيدية کونته) ايضاً تيره شوی حاشيه (عن أبی سعيدالخدری رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم : لا يحل لامرأة...الخ) اوګورئ!)_

[2] والمحرم من لايجوزله مناکحتهاعلی التأبيد بقرابة أو رضاع أوصهرية (شامی ج : ۲ ص : ۴۶۴، مطلب فی قولهم يقدم حق العبد علی حق الشرع، کتاب الحجر)_

[3] (قوله قولان) وهما مبنيان علی أن وجود الزوج أوالمحرم شرط وجوب أوشرط وجوب أداء والذی اختاره فی الفتح ..... شرط وجوب الأداء فيجب الإيصاء إن منع المرض وخوف الطريق أولم يوجد الزوج، ولا محرم (فتاویٰ شامی ج : ۲ ص : ۴۶۵، مطلب فی قولهم يقدم حق العبد علی حق الشرع، کتاب الحج)_

د عدت په ورځو کې د حج ارکان ادا کول

سوال: سږ کال زما اوزما د ښځې حج ته د تلو اراده ده (ان شاءالله) یو سوال په ذهن کې راغلی دی چې که چیرته زه د الله پاک په خوښه او رضا د حج نه مخکې یا د حج په دوران کې وفات شم، د ښځې د پاره څلورمیاشتې او لس ورځې عدت لازمیږي، څنګه چې د کونډې د پاره په کور کې تیرول دي، تاسو جواب راکړئ چې:

۱ . ایا ښځه د عدت په ورځو کې د حج ارکان ادا کړي؟

۲ له شرعي محرم نه پرته دومره موده په سعودي عرب کې څنګه تیره کړي؟ هرکله چې د حاجیانو د قیام موده یوازې (۳۵) ورځې وي، دهغې نه وروسته یې سعودي حکومت نه پریږدي، او ګروپ والا به پاکستان ته راشي.

۳ . که چیرته حج کولوسره ارکان ادا کوي، نو بیا به مدینې منورې ته حاضري څنګه کیږي، له شرعی محرم نه پرته ؟

جواب: که چیرته تاسو حرمین شریفین ته لاړ شئ اوهلته ستاسو وفات وشي. نو ښځې ته خو حکم دی چې دهغه ځای نه بیرته راشي ،خو د جازونو د وختونو مسئله ده، له دې وجه نه دې د معتبرو زنانه وو سره سفر وکړي. [1]

عدت به دهغه وخت شروع کیږي کله چې تاسو وفات شئ. [2]

❖ د احرام تړلو مسئلې ❖

له غسل وروسته اوله احرام تړلو نه مخکې خوشبويي اورا نجه استعمالول

سوال: آیا دغسل نه وروسته داحرام تړلو نه مخکې بدن باندې اوداحرام په کپړو باندې خوشبويي لګول جائز دي؟ اوتیل اورانجه استعمالولی شي اوکه نه؟

جواب: داحرام تړلو نه مخکې تیل اورانجه لګول جائزدي اود خوشبويي باره کې داتفصیل

[1] (وإن كان مات عنها فى غيرمصرمن الأمصار، فإن شاء ت رجعت الى مصرها وإن شاء ت مضت فى سفرها) لأنها لايمكنها المقام هناک، فلم يلزمها الكون، ألا ترى انهالوطلقت فى المصر، ولم يكن المقام فى منزلهاخوف أوعذركان لها أن تنتقل، فإذا كانت فى غيرمصرفهى أحريٰ. لايلزمهاالكون هناک (شرح مختصرالطحاوى ج : ۵ ص : ۲۴۸، باب العدة والإستبراء، طبع دارالسراج، بيروت)

[2] قال : والعدة واجبة من يوم الطلاق، ويوم الموت، وذالک لقول الله تعالیٰ .... والذين يتوفون منكم ويذرون أزواجايتربصن بأنفسهن أربعة أشهروعشرا، فأوجبها من يوم الموت (شرح مختصرالطحاوى ج : ۵ ص : ۲۴۸، ۲۴۹باب العدة والإستبراء)

دی که چیرې بدن باندې خوشبویي لګول وي، نومطلق جائزدي اوجاموباندې داسې خوشبویي لګول چې دهغې وجودباقي پاتې نه شي اوخوشبویي پاتې شي، هغه جامو باندې لګول منع دي.[1]

د میقات په بورډ (لوحه) اوتنعیم کې فرق

سوال: دمکې دحدودونه مخکې کوم ځای چې دمیقات بورډلګیدلی وي اولیکل شوي وي چې غیرمسلم مخکې نه شي داخلیدای،هغه ځای نه احرام وتړل شي یاتنعیم ته تلوسره دمسجدعائشه نه احرام وتړل شي،دمیقات په بورډاوتنعیم کې څه فرق دی؟

جواب: دادمیقات بورډ (علامتي تخته) نه ده بلکې دحرم دحدودوبورډ (علامتي تخته)ده.[2]

تنعیم هم دحرم دحدودونه بهردی،په دې وجه باندې دواړوکې څه فرق نه شته، دمکې اوسیدونکي چې دمسجدتنعیم نه کوم احرام تړي دهغه وجه داده چې هغه دحرم دحدودو نه بهردتهولونه نژدې ځای دی[3]اوام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنها دهغه ځای نه احرام تړلوسره عمرې ته راغلې وه[4]اوبعضې حضرات دعمرې احرام تړلوله پاره دمکې مکرمې نه جعرانه ته ځی،ځکه چې حضور ﷺ دغزوه حنین نه وروسته دهغه ځای نه احرام تړلوسره عمرې له پاره تشریف راوړی و.[5] دمکې اوسیدونکوله پاره دعمرې داحرام له پاره ددې دواړوځایونوکې هیڅ فرق نه شته،هغوی دحرم دحدودونه بهردهرځای نه چې احرام وتړي،صحیح دی.[6]

۱] ویدهن بأی دهن شاء مطیبا کان أوغیرمطیب وأجمعوا علی أنه یجوز التطیب قبل الإحرام (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۲۲، طبع مکتبه ماجدیه کوئته، کذا فی فتاویٰ قاضیخان) ولایجوزالتطیب فی الثوب لماتبقی عینه علی قول الکل(عالمگیری ج:۱ ص: ۲۲۲، هٰکذا فی فتاوی الشامی ج:۲ ص:۱۷۱طبع مکتبه ماجدیه کوئته)

۲] قوله ولداخلهاالحل أی الحل میقات من کان داخل المواقیت المواضع التی بین المواقیت والحرم ولافرق بین أن یکون فی نفس المیقات أوبعده کما نص علیه محمد فی کتبه (البحرالرائق ج :۲ ص : ۳۱۹) وأماالصنف الثالث فمیقاهم للحج الحرم وللعمرة الحل فیحرم المکی من دویرة أهله للحج أوحیث شاء فی الحرم ویحرم للعمرة من الحل وهوالتنعیم (بدائع ج: ۱، ۲ ص :۱۶۷) والتنعیم أفضل هوموضع قریب من مکة عند مسجد عائشة (الشامی ج : ۲ ص : ۱۶۹، طحطاوی ج : ۱ ص : ۴۸۹ طبع المکتبة العربیة بیروت)_

۳]والمیقات لمن بمکة یعنی بداخل الحرم للحج والعمرة الحل ....والتنعیم أفضل (وفی الشامیة) والتنعیم أفضل وهوموضع قریب من مکة ... الخ (درمختارمع الرد ج : ۲ ص : ۴۷۸، کتاب الحج)_

۴]الأحرام منه أی التنعیم للعمرة أفضل ..... لأمره علیه السلام عبدالرحمٰن بأن یذهب بأخته عائشة إلی التنعیم .... الخ (فتاوی شامی ج : ۲ ص : ۴۷۹کتاب الحج، فصل فی الإحرام)_

۵]فإن میقات المکی للعمرة الحل (ردالمحتار،مطلب لایجب الضمان بکسرالات اللهوج:۲ ص:۵۸۱طبع سعید)

۶]والمیقات لمن بمکة یعنی بداخل الحرم للحج والعمرة الحل .... والتنعیم أفضل (وفی الشامیة) والتنعیم أفضل وهوموضع قریب من مکة ... الخ (درمختارمع الرد ج : ۲ ص : ۴۷۸، کتاب الحج)_

د احرام په حالت کې د مخ یا سر خوله اوچول

سوال: آیا د احرام په حالت کې د مخ یا سر خوله اوچول سهي دي، په جامه (تو ټه) باندې یا په لاس باندې؟

جواب: مکروه دي.[۱]

سوال: آیا د احرام په حالت کې حجر اسود ښکلول کیدای شي؟ یا ملتزم باندې دریدای شي، ځکه چې زمونږ مولانا صاحب وایي چې کوم ځای باندې عطر لګیدلي وي هغه ته لاس نه شي وروړلی.

جواب: حجر اسود یا ملتزم باندې که چیرې خوشبویي لګیدلي وي، نود محرم له پاره هغه ته لاس وړل جائز نه دي.[۲]

د یخنۍ په وجه باندې د احرام په حالت کې سویټر (بنین) یا ګرم څادر استعمالول

سوال: که چیرې مکې مکرمې کې یخني وي او یو سړی عمرې ته لاړ شي، نو هغه د احرام د دوو څادرونو نه علاوه ګرمه کیږه، مثلاً سوئټر یا ګرم څادر استعمالولی شي؟ تفصیل سره جواب را کړئ!

جواب: ګرم څادر استعمالولی شي، خو سر نه شي پټولی، او کومې جامې چې بدن پورې نښتې وي، مثلاً: جرابې او داسې نور... د هغو استعمال جائز نه دی.[۳]

د زنانه وو احرام په کوم شکل وي؟

سوال: د سړیو له پاره احرام د دوو څادرو په شکل وي، د زنانه وو له پاره به د احرام څنګه شکل وي؟ او ا یا احرام به زما او زما د بچیو د کور نه تړل وي، هرکله چې زه د برقې په حالت کې یم؟

جواب: د حج احرام د میقات نه مخکې تړل ضروري دي،[۴] زنانه ووته د احرام په حالت کې د مخ پټولو اجازه نشته.[۵]

۱] فصل فی مکروهاته ....(وتعصیب شيء من جسده) قال ابن الهمام : ویکره تعصیب رأسه ولو عصب غیر الرأس من بدنه یکره أیضا (إرشاد الساری ص : ۸۳)_

۲] وقالوا فیمن إستلم الحجر فأصاب یده من طیبه ان علیه الکفارة (بدائع الصنائع ج: ۲ ص: ۱۹۱)_

۳] ولایلبس الجوربین کما لایلبس الخفین (عالمگیری ج : ۱ص : ۲۲۴، کذا فی المحیط) ولایلبس مخیطا قمیصا أوقباء أوسراویل أوعمامة أوقلنسوة أوخفا الا أن یقطع الخف أسفل من الکعبین (عالمگیری ج : ۱ص : ۲۲۴، الباب الرابع فیمایفعله المحرم بعد الإحرام، هٰکذا فی فتح القدیر ج : ۲ ص : ۳۴۶)_

۴]المواقیت التی لایجوز أن یجاوزها الإنسان إلامحرما خمسة : لأهل المدینة ذوالحلیفة ...... وفائدة التاقیت المنع عن تأخیر الإحرام عنها (عالمگیری ج : ۱ص: ۲۲۱)

۵]والمراة فی جمیع ذٰلک کالرجل غیرأنها لا تکشف رأسها، وتکشف...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د ښځو په احرام کې مخونه خلاص ساتل

سوال: مااوریدلي دي چې حدیث شریف کې راغلي دي چې دښځې احرام په مخ کې دی، ددې نه معلومیږي چې مخ ښکاره ساتل پکاردي، حالانکې قرآن اوحدیثوکې ښځې دمخ ښکاره کولونه سختي سره منع شوې ده، داسې به څنګه صورت وي چې دې حدیث شریف باندې عمل هم وشي اومخ هم پټ شي،ځکه چې زماامیددی چې شریعت به دې باره کې ضرورڅه طریقه ښودلې وي.

جواب: داصحیح دی چې داحرام په حالت کې مخ پټول جائزنه دي، خوددې معنا دانه ده چې داحرام په حالت کې ښځې ته دپردې نه ازادي ورکړل شوې ده،[1] بلکې دکوم حدپورې چې ممکن وي،پرده ضروري ده یاخو دې په سر چج شان ولګول شي اودهغه دپاسه دې کپړه واچول شي،چې پرده وشي خوکپړه دې مخ پورې نه لګوي،یادې ښځه لاس کې پکې وغیره ونیسي اوهغه دې مخې ته کوي،دې کې هیڅ شک نشته چې دحج په اوږدسفرکې دښځې له پاره دپردې پابندي کول مشکل دي،خودکوم حدپورې چې کیدای شي دپردې اهتمام کول ضروري دي اوڅه چې دخپل وس اوطاقت نه بهروي الله تعالی دې دهغې معافي وکړي.[2]

د ښځې د احرام څه حالت دی اوهغه به احرام د کوم ځای نه تړي

سوال: سړیوله پاره احرام ددوه څادرونوپه شکل کې وي،دښځوله پاره به داحرام څه شکل وي؟ اوآیا احرام به زه اوزمابچي دکورنه تړي،اوزه دبرقې په حالت کې یم.

جواب: سړیوته داحرام په حالت کې ګنډل شوې جامې (کپړې) منع دي،[3] په دې وجه باندې

...بقیه د تیرمخ]...وجههاولوسدلت علی وجهها شيئا وجافته عنه جاز (فتاوىٰ عالمگیری ج :۱ص: ۲۳۵)

۱]ولأن المرأة لا تغطی وجهها إجماعا مع انها عورة مستورة وفی کشفه فتنة (بحرالرائق ج : ۲ ص : ۳۲۴، هٰکذا فی البدائع الصنائع ج : ۲-۱ص: ۱۸۶) والمرأة فی جمیع ذٰلک کالرجل غیرأنها لا تکشف رأسها وتکشف وجهها ولوسدلت عليٰ وجهها شيئا وجآفته عنه جاز (عالمگیری ج : ۱ ص: ۲۳۵، کذا فی الهدایة، وکذا السنن الکبريٰ للبیهقی ج : ۵ ص : ۴۸)_

۲] والمرأة فی جمیع ذٰلک کالرجل.......غیرأنها لا تکشف رأسها لأنه عورة وتکشف وجهها ......ولو سدلت شيئاعليٰ وجهها وجآفته عنه هٰکذا روی عن عائشة ولأنه بمنزلة الإستظلال بالمحمل (الهدایة مع الفتح ج : ۲ ص : ۱۹۳ تا ۱۹۵، باب الإحرام) والمرأة کالرجل غیرأنها تکشف وجهها...... وانما لا تکشف رأسها لأنه عورة ولماکان وجهها خفيا لأن المتبادر إلی الفهم لاتکشفه لما أنه محل الفتنة نص علیه (بحرالرائق ج :۲ص : ۳۵۴، کذا فی فتاوی عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۳۵، کتاب المناسک، الباب الخامس،کذا فی الهدایة وکذا فی فتح القدیرج : ۲ ص : ۱۴۳، طبع دارصادر، بیروت)_

۳]یحرم بالإحرام أمور.... .. الثالث لبس المخیط علی وجه لبس المخیط (فتح القدیرج :۲ص: ۱۴۱)_

هغوی داحرام نه مخکې دوه څادرونه واغوندي، ښځوته داحرام ترلوله پاره څه خاص قسمه جامې اغوستل لازم نه دي. هغوی دې په عام جاموکې احرام وتړي،خو دښځې احرام دهغې په مخ کې وي،په دې وجه باندې داحرام په حالت کې دې هغوی مخ داسې نه پټوي چې جامه دهغوی مخ پورې ولګیږي،[1]خودنامحرمو نه مخ پټول هم لازم دي،په دې وجه باندې هغوی ته پکاردي چې سر باندې څه شی وتړي چې هغه مخې ته راشي، په هغه باندې دې جامه واچوي چې دپردې جامه مخ پورې نه لګیږي اوپرده هم وشي[2]دحج احرام دمیقات نه مخکې تړل ضروري دی،دکورنه تړل ضروري نه دي.[3]

دښځې داحرام له پاسه دسرمسح کول غلط دي

سوال: نن سبالیدل شوي دي چې ښځې کوم احرام تړي، نودهغه په وجه باندې ویښته بالکل پټ شي اودهغه له سرنه باربارکوزول مشکل وي، نو آیا دسرمسح هم هغې جامې باندې صحیح دی اوکه نه؟

جواب: ښځې چې سرباندې کوم دوسمال تړي شرعي طورباندې دهغې احرام سره هیڅ تعلق نه شته. دا رومال صرف دې له پاره تړي چې ویښته خراب نه شي، ښځوله پاره په دې رومال باندې مسح کول صحیح نه دي، بلکې رومال کوزولوسره سرباندې مسح کول لازم دي، که چیرې رومال باندې مسح وکړي اوسرباندې مسح ونه کړي، نونه یې اودس کیږي،نه لمونځ،نه طواف اونه حج اونه عمره،ځکه چې داکارونه داودس نه پرته جائزنه دي اوسرباندې مسح کول فرض دي،دمسح نه پرته اودس نه کیږي.[4]

دښځې دمیاشتنی ناروغی په حالت کې احرام تړل

سوال: جدې ته روانیدونه مخکې دمیاشتنی ناروغی په حالت کې احرام تړل کیږي اوکه نه؟

جواب: دحیض په حالت کې ښځه احرام تړلی شي،ددوګانه (دوه رکعته)کولونه پرته دحج یاعمرې نیت دې وکړي اوتلبیه لوستلوسره دې احرام وتړي.[5]

۱]وتكشف وجهها لقوله عليه السلام : إحرام المرأة فى وجهها ... الخ (الهداية مع الفتح ج: ۲ص: ۱۹۳)

۲]المستحب أن تسدل على وجهها شيئا وتجافيه .... ودلت المسئلة على أن المرأة منهية عن إبداء وجهها للأجانب بلاضرورة (فتح القدير ج : ۲ ص: ۱۹۵، باب الإحرام)_

۳] لايجاوز أحد الميقات إلامحرما ... الخ (الهداية مع الفتح ج : ۲ ص : ۱۳۲، كتاب الحج)_

٤] ولايجوزمسح المرأة على خمارها لما روى عن عائشة رضى الله عنهاأنها أدخلت يدها تحت الخمارومسحت برأسها وقالت:بهٰذا أمرنى رسول الله صلى الله عليه وسلم (بدائع الصنائع ج:۱ ص:۵، عالمگيرى ج:۱ ص:۶)

۵] انه عليه السلام قال : ان النفساء والحائض تغتسل وتحرم وتقضى المناسک كلها غيرأن لا تطوف بالبيت (فتح القدير ج : ۲ص: ۱۳۵، باب الإحرام، عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۲۲، كتاب المناسک، الباب الثالث)_

حج کې پرده

سوال: نن سبا خلک حج ته ځي، ښځوسره څوک هم پرده نه کوي، داحرام په حالت کې داجواب ورکول کیږي که چیرې پرده وکړو، نوپه مخ باندې جامه لګیږي، نوددې له پاره څه وکړو؟

جواب: دپردې اهتمام کول خودحج دوران کې هم پکاردي، د احرام په حالت کې دې ښځې دتندې نه پورته څه چجه شان ولګوي چې پرده هم وشي اوجامه هم مخ ته ونه لګیږي.[۱]

له طواف نه پرته اوږې ښکاره ساتل مکروه دي

سوال: حج یاعمر ه کې احرام تړل کیږي،اکثرخلک اوږې ښکاره ساتي، ددې له پاره شرعي مسئله څه ده؟

جواب: شرعی مسئله داده چې دحج اوعمرې کوم طواف نه وروسته چې دصفا مروه سعي وي،هغه طواف کې رمل اواضطباع کول دي[۲]،درمل نه مراد دپهلوانانوپه شان اوږې خوځول اوتیزتیزتلل اواضطباع نه مراد ښي اوږه ښکاره کول دي[۳] دداسې طواف نه پرته خاص طور باندې لمونځ کې اوږې ښکاره کول مکروه دي.[۴]

په یو احرام باندې څومره عمرې کیدای شي

سوال: دالله تعالی په فضل اوکرم باندې به سږ کال دحج زیارت ته ځم،مکه معظمه کې دقیام دوران کې زه دخپل موروپلاردطرف نه پنځه عمرې اداکول غواړم، دهغو عمرو له پاره دحرم دحدودونه بهر تنعیم یاجعرانه ته تلوسره دنفلي عمرې احرام وتړل شي، آیا پنځه ځله یعنې دهریوې عمرې له پاره به جداجد یا یوځل احرام تړلوسره ورځ کې یوځل عمره وکړل شي،یاهم هغه احرام باندې ورځ کې دوه درې عمرې کیدای شي؟

جواب: دهریوې عمرې له پاره جداجدااحرام تړل کیږي،احرام تړلوسره سعي کولونه وروسته احرام خلاص کړل شي اوبیاتنعیم یا جعرانه تلوسره په دویم ځل باندې احرام وتړل شي،په یو احرام باندې دیوې نه زیاتې عمرې نه شي کیدای اوعمره(یعنې طواف اوسعي) کولونه وروسته کله چې ویښته خریلوسره احرام خلاص نه کړل شي،ددویمې عمرې احرام تړل جائزنه دي.[۵]

۱] والمرأة فی جمیع ذلک کالرجل غیرانها لا تکشف راسها وتکشف وجهها ولوسدلت علیٰ وجهها شیئا وجافته عنه جاز (عالمگیری ج:۱ص:۲۳۵، کذا فی الهدایة وکذا فی السنن الکبری للبیهقی ج : ۵ ص : ۴۸)

۲] قید للإضطباع والرمل لکونهما من سنن طواف بعده سعی (إرشاد الساری ص : ۱۵۸)_

۳] الرمل أن یهزفی مشیته الکتفین کالمبارز .... الخ فتح مع الهدایة ج : ۲ ص : ۵۲)_

٤] یسترالکتفین فإن الصلاة مع کشفهماأوکشف أحدهمامکروهة (إرشاد الساری لملاعلی القاری ص: ۶۸)

۵] باب الجمع بین النسکین المتحدین أی حجتین اوعمرتین أواکثر...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د عمرې احرام د کوم ځای نه تړل پکار دي

سوال: عمرې له پاره د احرام تړلو د مسئلې پوښتنه کول غواړم، یو معتبر کتاب کې د حج او عمرې فرق عنوان سره لیکلي دي چې د عمرې احرام د تړلو له پاره حل (د حرم د حدودو نه بهر ځای) دی او که چیرې د بهر ملک نه د حج په اراده باندې راشي، نو د میقات نه به احرام تړل وي.

۱ که چیرې یو کس د حج په اراده نه، بلکې یوازې د عمرې په اراده لرې او د بهر ملک کیدو ب وجود د حرم نه بهر مثلاً جده کې احرام تړل کیږي او که نه؟

۲ جده کې یو دوه ورځې د قیام نه وروسته که چیرې د عمرې عازم وي، نو هغه باندې به حل اطلاق کیږي او که نه؟

جواب: کوم کس چې د حل نه بهر نه مکې مکرمې ته د تللو اراده ساتي، هغه له پاره د میقات نه له احرامه تیریدل جائز نه دي. بلکې د حج یا عمرې احرام تړل هغه باندې لازم دي[1] که چیرې د احرام نه پرته تیر شي. نو هغه به بیرته د میقات مقام ته راځي او احرام تړل ورته ضروري دي، که چیرې واپس نه شو، نو دم به پرې لازم وي.[2] کوم کس چې د مکې مکرمې په قصد باندې د کورنه لاړ، د هغه په جده کې یو دوه ورځې قیام د اعتبار قابل نه دی او هغه به په دې وجه په اهل حل کې نه شمیرل کیږي او که د چا اراده هم جدې ته د تللو وي، هلته رسیدو نه وروسته بیې مکې مکرمې ته د تللو اراده وکړه نو هغه باندې به د اهل حل اطلاق کیږي[3] والله اعلم.

دې مسئلې باندې پوهیدو له پاره یو څو خبرې ذهن کې وساتئ:

میقات: د مکې مکرمې څلور و طرفو ته یو څو ځایونه مقرر دي، مکې ته د بهر نه راتلونکیو کسانو

...بقيه د تيرمخ]...من الشتين إحراما والعالا ..... مكروه مطلقا (ارشاد السارى ص : ۱۹۴) ومن أتى بعمرة إلاالحلق فأحرم بأخرى ذبح الأصل أن الجمع بين إحرامين لعمرتين مكروه تحريما فيلزم الدم (الدرالمختارج : ۲ ص : ۵۸۷، كتاب الحج، باب الجنايات)_

۱] ثم الافاقى اذا انتهى إليها على قصد دخول مكة عليه أن يحرم (البناية فى شرح الهداية ج:۵ ص: ۲۸ كتاب الحج، طبع مكتبه حقانيه) أيضا : ولايجوز للافاقى أن يدخل مكة بغيرإحرام نوى النسک أولا ولودخلها فعليه حجة أوعمرة كذا فى محيط السرخسى (فتاوى هندية، كتاب الحج، الباب الثانى فى المواقيت ج:۱ص:۲۲۱)_

۲] فلوجاوز أحد منهم ميقاته يريدالحج أوالعمرة فدخل الحرم من غيرإحرام فعليه دم ولوعاد إلى الميقات قبل أن يحرم أوبعد ما أحرم فهوعلى التفصيل ... الخ (بدائع ج: ۱، ۲ ص : ۱۶۶)، إرشاد السارى إلى مناسک الملاعلى القارى ص:۵۸) أيضا: ومن جاوزميقا ته غيرمحرم ثم أتى ميقاتا اخر فأحرم منه أجزاه ... الخ (فتاوى هندية ج:۱ص :۲۲۱)

۳] ومن كان أهله فى الميقات أوداخل الميقات إلى الحرم فميقاتهم للحج والعمرة الحل الذى بين المواقيت والحرم ولوأخرالإحرام إلى الحرم جاز كذا فى المحيط (عالمگيرى ج : ۱ص: ۲۲۱، الباب الثانى فى المواقيت)_

بندې دغو ځايونو کې احرام تړل لازم دي او د احرام نه پرته د هغو ځايونو نه مخکې تلل منع دي.[۱]

آفاقي کوم کس چې د ميقات نه بهر اوسيږي.[۲]

حرم د مکې مکرمې هغه حدود کوم ځايونو کې چې ښکار کول، و نه کټ کول وغيره منع دي.[۳]

حل د حرم نه بهر او ميقات کې د ننه برخې ته حل ويل کيږي.[۴]

د مدينې نه مکې ته راتلو سره يا د مسجد عائشې رضي الله عنها د زيارت نه وروسته عمره ضروري ده؟

سوال: مدينې نه يا د مسجد عائشې د زيارت نه وروسته مکې ته بيرته راتګ باندې عمره ضروري ده او که مستحب؟ هرکله چې عام طور باندې خلک د مدينې نه مکې ته تلو نه وروسته لازماً عمره ادا کوي

جواب: چې د مدينې نه مکې ته راشي نو د عمرې احرام لازم دی [۵] او د مسجد عائشې زيارت ته تګ نه وروسته لازم نه دی والله اعلم [۶]

د مکې، حج يا عمرې احرام کوم ځای نه تړل کيږي؟

سوال: موږ د مکې مکرمې د ميقات په حدودو کې اوسيږو، موږ د حج يا عمرې ادا کولو له پاره د څپل کور نه احرام تړلی شو او که د ميقات ځای ته به ورځو؟

جواب: کوم خلک چې د ميقات او د حرم حدودو کې اوسيږي، د هغوی له پاره حل ميقات دی، هغوی به د حج او عمرې دواړو احرام د حرم حدودو کې داخليدو نه مخکې تړي[۷] او کوم خلک

۱] والمواقيت التي لايجوز أن يجاوزها الإنسان إلامحرماخمسة .... قال الجوهري رحمه الله : الميقات موضع الإحرام (البناية في شرح الهداية ج : ۵ ص : ۲۱، كتاب الحج)_

۲] (ثم الافاقي) هومن كان خارج المواقيت (البناية في شرح الهداية ج : ۵ ص : ۲۸، كتاب الحج)_

۳] الحرم بالتحريک إذا أطلق أريد به حرم مكة المكرمة وهوموضع معروفة متحددة بنوع من العلامة (قواعد الفقه ص : ۲۶۳، طبع صدف پبلشرز کرچي)_

٤] الحل الذى بين المواقيت وبين الحرم (البناية في شرح الهداية ج : ۵ ص : ۳۲، كتاب الحج)_

۵]ولوجاوز الميقات قاصدا مكة بغيرإحرام مرارا فإنه يجب عليه لكل مرة إماحجة أوعمرة (عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۵۳) ولوجاوزالميقات يريد دخول مكة أوالحرم من غيرإحرام يلزمه إما حجة أوعمرة (بدائع ج : ۲ ص : ۱۶۵)

۶]المكي إذا خرج إلى الحل للإحتطاب أو الإحتشاش ثم دخل مكة يباح له الدخول بغيرإحرام .... كذا في محيط السرخسي (عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۲۱،كتاب المناسک، الباب الثانى في المواقيت)

۷]ومن كان داخل الميقات فوقته الحل أى موضع إحرامه الحل ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

چې مکه مکرمه کې یا د حرم حدودو کې دننه اوسیږي، هغوی دې د حج احرام د حرم حدودو کې دننه وتړي او د عمرې احرام دې د حرم د حدودو نه بهر د حل نه وتړي. د مکې اوسیدونکي د حج احرام د مکې نه تړي او د عمرې احرام تړلو له پاره تنعیم مسجد عائشه رضی الله عنها ته ځي یا جعرانه ته ځي

یادونه د میقات دننه او د حرم د حدودو نه بهر علاقې ته حل ویل کیږي [۱]

د کراچۍ نه تلونکي احرام له کوم ځای نه وتړي؟

سوال: تیرکال زه او زما میرمن د عمرې په نیت په جهاز کې سعودي عرب ته تللي وو، جده کې زما خوریی اوسیږي، هغه موږ کور ته بوتللو، د شپې د قیام نه وروسته په دویمه ورځ سحر غسل کولو سره د جدې نه مو احرام وتړلو او بیا مکې ته روان شو، دلاندې پوښتنو ځوابونه مطلوب دي.

۱ ایا موږ ته د کراچۍ نه د روانیدو په وخت احرام تړل پکار و؟

۲ ایا جده ائیرپورټ (هوایي میدان) باندې احرام تړل صحیح دي؟

۳ زه د جدې نه احرام تړلو سره د عمرې له پاره تللی وم؟ آیا زما د هغه ځای نه احرام تړل صحیح و؟ او زما عمره وشوه؟ او که ما باندې به دم لازم وي؟

جواب: ۱ تاسو ته د کراچۍ نه احرام تړل پکار و. [۲]

۲ د جدې نه احرام تړل د ځینې علماوو په نزد جائز نه دي او د ځینو په نزد جائز دي، [۳] په هر حال ستا عمره وشوه، خو تاسو ښه ونه کړل او په دې باندې دم نه لازمیږي.

عمره کونکي کس احرام له کوم ځای نه وتړي؟

سوال: عمرې له پاره له کور نه احرام تړل فرض دي او که جدې ته تلو سره؟

...بقیه د تیرمخ] ... (البنایة فی شرح الهدایة ج : ۵ ص : ۳۲) أیضا : ومن کان أهله فی المیقات أو داخل المیقات إلی الحرم فمیقاتهم للحج والعمرة الحل الذی بین المواقیت والحرم ولو أخر الإحرام إلی الحرم جاز (فتاوی عالمگیری، الباب الثانی فی المواقیت ج : ۱ ص : ۲۲۱)۔

[۱] ووقت المکی للإحرام بالحج الحرم وللعمرة الحل کذا فی الکافی فیخرج الذی یرید العمرة إلی الحل من أی جانب شاء کذا فی المحیط والتنعیم أفضل کذا فی الهدایة (فتاوی عالمگیری ج : ۱ص: ۲۲۱، أیضا بدائع ج : ۲ ص : ۱۶۷ بحرالرائق ج : ۲ص : ۳۱۹، أرشاد الساری إلی مناسک الملاعلی القاری ص : ۱۲۳)۔

[۲] فإن قدم الإحرام علیٰ هٰذه المواقیت (أی الخمسة المتقدمة) جاز لقوله تعالی : " واتموا الحج والعمرة لله " .... والأفضل التقدیم علیها (هدایة، کتاب الحج ج : ۱ص : ۲۳۵)

[۳] وإن لم یعلم المحاذاة فعلی المرحلتین من مکة کجدة المحروسة من طرف البحر (إرشاد الساری ص : ۵۶، طبع دارالفکر)

جواب: له میقات نه مخکې فرض دي.[۱] که سفر په هوايي جهاز (طیاره) کې وي، نو جهاز (طیاره) کې سوریدو نه مخکې احرام تړل پکار دي. جدې پورې احرام نه تړلو کې دعالمانو اختلاف دی، د احتیاط خبره داده چې احرام جدې نه مخکې تړل پکار دي.[۲]

هوايي جهاز (طیاره) کې سفرکونکی احرام له کوم ځای نه وتړي

سوال: ریاض نه چې کله عمرې یا حج اداکولو له پاره دهوايي جهاز (طیاره) په ذریعه باندې جدې ته ځي نو دسفردوران کې جهاز (طیاره) عمله اعلان کوي چې میقات راورسید احرام وتړئ ځینې خلک جهاز (طیاره) کې اودس وکړي او احرام وتړي او ځینې خلک جدې ائیرپورټ (هوايي میدان) کې کوزیدو سره غسل یا اودس وکړي او احرام وتړي او د احرام نفل کولو سره مکې مکرمې ته لاړشي. جدې نه چې مکې مکرمې ته ځي، نو لاره کې میقات راځي، کومو خلکو چې د ائیرپورټ (هوايي میدان) نه احرام تړلی وي، هغوی د جدې والا میقات باندې احرام وتړي، اوس سوال داپیدا کیږي چې جهاز (طیاره) کې د کوم میقات اعلان کیږي، که چیرې هلته احرام و نه تړل شي، نو څه بده خبره شته؟ ځکه چې جهاز (طیاره) خودمکې مکرمې په ځای باندې جدې ته ځي، ډیرخلک دې شک کې وي چې احرام په جهاز (طیاره) کې تړل ضروري دي، د میقات نه پرته د احرام نه تیریدل پکار نه دي، او جهاز (طیاره) کې د احرام نفل هم نه شي کیدای، مهرباني وکړئ وضاحت وفرمایئ!

جواب: داسې خلک کوم چې د میقات نه تیریدو سره جدې ته راځي، هغوی ته د میقات نه مخکې احرام تړل پکار دي[۳] احرام تړلو له پاره نفل کول سنت دي، که چیرې وخت نه وي، نو د نفلو نه پرته هم احرام تړل صحیح دي،[۴] جدې نه مکې ته تلو وخت کې په لار باندې میقات نه راځي، خو دې کې اختلاف دی چې جده میقات کې دننه ده او که پخپله باندې میقات دی، کوم خلک چې هوايي جهاز (طیاره) کې سفر کوي. هغوی ته پکار دي چې جهاز (طیاره) ته ختلو نه مخکې احرام وتړي او کم از کم څادر په سر کړي او کله چې د میقات اعلان وشي، نو جهاز (طیاره) کې دې احرام وتړي، جدې ته د رسیدو انتظار دې نه کوي.[۵]

۱]وأماالصنف الأول فميقاتهم ماوقت لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم لايجوز لأحد منهم أن يجاوز ميقاته إذا أرادالحج أوالعمرة إلامحرما (بدائع الصنائع ج:۲ ص:۱۶۴، كتاب الحج، فصل وأما بيان مكان الإحرام)

۲] د تفصیل دپاره اوګورئ: فتاوىٰ بینات ج : ۳ ص : ۹۸تا ۱۱۱، طبع مکتبه بینات، جواهرالفقه ج : ۱ص : ۴۵۹ تا۴۹۳، طبع دارالعلوم کراچی)_

۳]وكذٰلک لوأراد بمجاوزة هٰذه المواقيت دخول مكة لايجوزله أن يجاوزها إلامحرما (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۶۴،كتاب الحج، فصل وأمابيان مكان الإحرام)_

۴]ثم يصلي ركعتين بعد اللبس أى لبس الإزارين ...... ولوأحرم بغيرصلاة جاز (إرشاد السارى ص : ۶۸)

۵] ومن حج فى البحرفوقته إذا حاذى موضعا من البرلايتجاوزه إلامحرما...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که د سمندري بېړۍ نوکران حج کول غواړي نو له کوم ځای نه احرام وتړي؟

سوال: د سمندري بېړۍ نوکرانو ته د حج کولو اجازت ملاوېږي، يلملم د غره (ميقات) نه تيريدو وخت کې د خپلو فرائضو اداکولو په وجه باندې هغوی د احرام تړلو نه معذوروي.

۱. که چيرې د حج اراده لرونکو (د جهاز د نوکرانو) نيت له مخکې نه مکې مکرمې ته د تلو وي چې هغوی حج او عمره اداکړي.

۲. د وخت د کمې په وجه باندې مخکې مدينې منورې ته د تلو نيت وي.

پورته ذکرشويو کارونو کې د غلطې کيدو په وجه باندې د کفارې اداکولو به څه صورت وي؟

جواب: په دې باندې پوه نه شوم چې احرام د فرائضو اداکولو نه څنګه منع کوي؟ په هرحال مسئله داده که چيرې نوکران يوازې جدې پورې ځي او بيابه بيرته راځي، هغوی مکې مکرمې ته نه ځي نو هغوی به احرام نه تړي.

۲. که چيرې د هغوی اراده د مکې مکرمې نه مدينې منورې ته د تلووه، بيا هم هغوی ته د احرام تړلو ضرورت نشته.

۳. که چيرې هغوی د حج اراده لري او جدې ته رسيدو سره هغوی مکې مکرمې ته ځي، نو هغوی له پاره يلملم نه احرام تړل لازم دي،[۱] په دې وجه باندې کوم خلک چې په ډيوټي (وظيفه) باندې وي هغوی دې د سفر په دوران کې يوازې جدې ته د تلو اراده کوي، هلته رسيدو سره به هغوی ته مکې مکرمې ته د تلو اجازت ملاوشي، بيا دې هغوی د جدې نه احرام وتړي.[۲]

آيا د کراچۍ نه احرام تړل ضروري دي؟

سوال: زما اراده چې د رواني مياشې په آخره کې د کراچۍ نه مدينې ته (جدې ته تللو نه پرته) لاړ شم، ايا په دې صورت کې به هم د کراچۍ نه احرام تړل ضروري وي؟

جواب: که چيرته تاسو مکې مکرمې ته لومړی نه ځئ، نو ستا په ذمه باندې احرام تړل لازم نه دي. [۳]

...بقيه د تيرمخ]... (عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۲۱، طحطاوى ج : ۱ص: ۴۸۸، بحرالرائق ج : ۲ص : ۳۱۸) ومن كان فى بحر أوبر لايمرلواحدة من الميقات المذكور فعليه أن يحرم (فتح القديرج : ۲ص : ۳۳۴) د نور تفصيل دپاره اوګورې : فتاوى بينات ج : ۳ ص : ۹۸ تا ۱۱۱، طبع مكتبه بينات، جواهرالفقه ج : ۱ ص : ۴۵۹ تا ۴۹۳ مكتبه دارالعلوم كراچى)_

۱]ثم الافاقى إذا انتهى إليها على قصد دخول مكة عليه أن يحرم (الهداية مع البناية ج : ۵ ص : ۲۸)_

۲] ومن كان أهله فى الميقات أوداخل الميقات إلى الحرم فميقاتهم للحج والعمرة الحل الذى بين المواقيت والحرم ولوأخرالإحرام إلى الحرم جاز (فتاوى عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۲۱، الباب الثانى فى المواقيت)_

۳]لو جاوز الميقات ويريد بستان بنى عامر دون مكة فلا شيء عليه (عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۵۳)

کراچۍ نه عمرې ته تلونکی احرام له کوم ځای نه وتړي؟

سوال: مونږ راروانه میاشت کې عمرې ته تلل غواړو. پوښتنه داده چې آیا د کراچۍ نه احرام تړل ضروري دي، یا جدې ته رسیدو سره تړل کیږي؟ (سرپیوله پاره).

جواب: چونکې جهاز د میقات نه تیریدو سره (بلکې کله ناکله د حرم حدودو کې) جدې ته رسیږي، په دې وجه باندې جهاز کې کیناستونه مخکې احرام تړل پکار دي، په هرحال د میقات حد نه تیریدونه مخکې احرام تړل لازمي دي، جدې ته رسیدو سره نه[1] او که چیرې جدې ته رسیدو سره احرام وتړل شي نو بیا هم د ځینو عالمانو په نزد باندې صحیح دی.[2]

پینټ پتلون اچولو سره د عمرې له پاره تلل

سوال: زموږه کورنۍ والا له دې ځای نه چې عمرې باندې ځي، نو پینټ پتلون اچولو سره ځي ځنګه چې امریکې ته د سیل کولو له پاره ځي، پوښتنه داده چې د هغوی له احرام نه پرته جدې ته رسیدل ځنګه دي؟ که چیرته ناجائز وي، نو تر ننه پورې چې یې ډیرې عمرې دا سې کړې دي، د هغو تاوان به څه وي؟ ایا هغه عمرې به قبولې وي او که نه؟

جواب: حج او عمره چې څومره غټ عمل دی، هغومره نازک هم زیات دی، د چا په حالت کې چې د حج او عمرې سره انقلاب نه راځي او هغه هماغسې د کافرانو وضع قطع او د هغوی لباس وغیره خپل کړي وي، دا د هغه د حج او د عمرې د مردود کیدو علامه ده،[3] دا خبرې خو د پینټ شرټ اچولو سره عمرې ته د تللو وې، پاتې شوه جدې ته رسیدو سره احرام تړل، نو په دې کې د ځینې اهلِ علمو رایه داده چې چونکې په مینځ کې د میقات نه پرته د احرام نه تیریدل دي، له دې وجې نه دا جائز نه دي، او څوک چې د میقات نه احرام تړلو نه پرته مخکې لاړ شي، په هغه باندې دم لازم دی، خو دا چې دوباره میقات طرف ته واپس وګرځي او د هغه ځای نه احرام تړلو سره لاړ شي، [4] او ځینې حضراتو فرمایلي دي چې که چیرته جدې ته تللو سره احرام وتړي، نو دم نه لازمیږي، لومړی قول زیات د اعتبار لایق دی، په هرحال جدې ته تللو سره احرام تړل غلط دي، احرام د میقات نه تړل ضروري دي، او چونکې هوایي جهاز کې د میقات پته نه لګیږي، له دې وجې نه په هوایي جهاز سره سفر کونکو ته

---

[1] لا يجوز لأحد منهم أن يجاوز ميقاته اذا أراد الحج أو العمرة الاّ محرما (بدائع ج : ۱۲ ص : ۱۶۴)_

[2] تفصیل دپاره اوګورئ: جواهر الفقه ص : ۴۵۹ تا ۴۹۳)_

[3] ومن علامة القبول أن يرجع خيرا مما كان ولا يعاود المعاصى (التعليق الصبيح على مشكوٰة المصابيح ج : ۳ ص:۱۷۳ ومن علامات القبول انه اذا رجع يكون حاله خيرامن حال الذى قبله (معارف السنن ج۶:ص۱۲)

[4] ومن جاوز الميقات.... فان عاد حلالاً ثم أحرم سقط عنه الدم (فتاوىٰ علمگیری ج:۱ص:۲۵۳طبع رشيديه)

هم په جهاز کې د سوریدو نه مخکې احرام تړل پکار دي. [۱]

دچا سفرچې یقیني نه وي هغه احرام له کوم ځای نه وتړي؟

سوال: زه پي ايي اے (د پاکستان هوايي شرکت) کې نوکر یم اودعمرې اراده مې ده، سوال دادی چې دپی ايي اے (د پاکستان هوايي شرکت) نوکرانوته مفت ټکټ ملاویږي، خودهغه سیټ (چوکی) معلومه نه وي، په کومه ورځ اوکوم جهازکې چې سیټ (چوکی) خالي وي، هغه کې نوکرته سیټ ملاویدای شي، اکثردوه درې ورځې ائیرپورټ (هوائی میدان) ته تلل وي، په دې وجه باندې دکراچی نه احرام تړل مشکل دي، دداسې مجبوری حالت کې آیا دا صحیح دی چې جدې ته رسیدو سره هلته یوورځ دوه قیام کولونه پس احرام وتړل شي؟

جواب: کله چې منزل جده نه دی، بلکه مکه مکرمه دی، نواحرام د میقات نه مخکې تړل لازمي دي[۲] دپی ائی اے (دپاکستان هوائی شرکت) نوکرانوته پکاردي چې کله دهغوی سیټ (چوکی) معلومه شي اوهغوی ته بورډنګ کارډ ورکول شي، نوبیادې احرام وتړي، که انتظار ګاه کې د احرام تړلو وخت وي نو هلته دې وتړي، که نه، جهازکې کیناستوسره دې وتړي.[۳]

میقات نه له احرام پرته تیریدل

سوال: عمرې اداکولوله پاره موږمدینې منورې ته روان شو، اود مازیګراوماښام لمونځونه مو هلته اداکړل اوواپس جدې ته راغلو، میقات نه تیرشواوشپه مو جده کې تیره کړه اوسحر بیا مکې مکرمې ته لاړو اود عمرې د ادا کول له پاره لاړو، مکې مکرمې ته نژدې میقات نه مو احرام وتړلو اوعمره موواداکړه، آیا میقات نه له احرام نه پرته تیریدوسره چې موږعمره اداکړه، دې کې څه بده خبره خونه شته؟

جواب: که میقات نه تیریدو وخت کې تاسواراده مکې مکرمې ته د تلوکړې وه، نومیقات باندې تاسوته احرام تړل لازمي و اوددې د کفارې په طورباندې دم واجب دی[۴] اوکه چیرې هغه وخت کې مو اراده جدې ته دراتلووه، جدې ته راتلونه وروسته مودعمرې اراده وکړه، نوستاسوپه ذمه باندې هیڅ لازم نه دي.[۵]

---

[۱] وتقديم الاحرام على الميقات جائز بالاجماع (بدائع الصنائع ج : ۲ ص: ۱۶۴، كتاب الحج)

[۲] وتقديم الاحرام على الميقات جائز بالاجماع (بدائع الصنائع ج : ۲ ص: ۱۶۴، كتاب الحج)۔

[۳] ايضاً)۔

[۴] اذا دخل الآفاقى مكة بغير احرام وهو لا يريد الحج والعمرة فعليه لدخول مكة اما حجة أوعمرة، فان أحرم بالحج او العمرة من غيرأن يرجع الميقات فعليه دم لترك حق الميقات (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۵۳، كتاب الحج)

[۵] (وحل لأهل داخلها) يعنى لكل من وجد فى داخل المواقيت (دخول مكة غيرمحرم) مالم يرد نسكا للحرج كمالوجاوزها حطابومكة فهٰذا (ميقاته الحل) الذى بين المواقيت والحرم...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

سوال: دا وواییٔ چې کوم پاکستاني خلک په جده اوطائف کې نوکران دي، که چیرې هغوی دعمرې په نیت باندې مکې مکرمې(خانه کعبې) ته ځي، نودمیقات نه احرام تړل وي، که چیرې یوکس یوازې د طواف په غرض باندې مکې مکرمې ته ځي، نو آیا احرام تړل لازمي دي؟ ځکه چې دلته اوسیدونکي اکثرخلک له احرام تړلو پرته طواف کولو له پاره مکې ته ځي، آیا دا طریقه صحیح ده؟ که نه ده؟نو تاسومورته صحیح مسئله بیان کړئ؟

جواب: ستاسوسوال ډیرزیات اهم دی،دې باره کې یوڅومسئلو باندې ځان پوه کړئ:

۱ دمکې شریفې څلوروطرفو ته څه علاقې ته حرم ویل کیږي، هلته ښکارکول او ونه کښې کول منع دي، حرم نه مخکې څه فاصله باندې ځایونه مقررشوي دي،هغو ته میقات ویل کیږي اودهغه ځای نه حاجیان صاحبان احرام تړي.[۱]

۲ کوم خلک چې دحرم په علاقه کې اوسیږي یامیقات کې دننه وي،هغوی چې کله غواړي مکې مکرمې ته له احرام نه پرته تلی شي،[۲]خوکوم کس چې دمیقات دبهرنه ورځي،هغه له پاره میقات باندې دحج یاعمرې احرام تړل لازمي دي،[۳] داسې کس باندې حج یاعمره کول لازم شي، که دهغه کس مکې مکرمې ته تلل دحج یاعمرې په نیت نه وي،بلکې یوازې دضروري کارله پاره مکې مکرمې ته تلل غواړي یایوازې حرم شریف کې دجمعې لمونځ یاطواف کولوله پاره ځي، غرض داچې که هرمقصدله پاره مکې مکرمې ته ځي،هغه میقات نه له احرام تړلو پرته نه شي تلی.

...بقیه د تیرمخ]... (الدرالمختارج : ۲ ص : ۴۷۸، کتاب الحج، طبع ایچ ایم سعید، هدایة ج : ۱ص : ۲۳۵،کتاب الحج، طبع مکتبه شرکت علمیة)_

۱] عن ابن عباس رضی الله عنهما قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم .... إن هٰذا البلد حرمه الله یوم خلق السماوات والأرض فهوحرام بحرمة الله إلی یوم القیامة ..... لایعضد شوکه ولاینفرصیده وفی روایة أبی هریرة : لایعضد شجرها ...الخ (مشکوٰة ص : ۲۳۷، ۲۳۸) أن علی الحرم علامات منصوبة فی جمیع جوانبه نصبهاإبراهیم الخلیل علیه الصلاة والسلام، وکان جبریل یریه مواضعها ثم أمرالنبی صلی الله علیه وسلم بتجدیدها، ثم عمر، ثم عثمان،ثم معاویة وهی إلی الان ثابتة فی جمیع جوانبه .... الخ (رد المحتارج : ۲ ص : ۴۷۹، قبیل فصل فی الإحرام، طبع ایچ ایم سعید) والمواقیت التی لایجوزأن یجاوزهاالإنسان إلامحرما (هدایة ج : ۱ص : ۲۳۴، کتاب الحج)_

۲]ولوخرج من مکة إلی الحل ولم یجاوزالمیقات ثم أراد أن یعود إلی مکة له أن یعود إلیها من غیر إحرام لأن أهل مکة یحتاجون إلی الخروج إلی الحل ..... فلوألزمناهم الإحرام عند کل خروج لوقعوا فی الحرج (بدائع ج : ۱– ۲ ص : ۱۶۷ طبع ایچ ایم سعیدکراچی، بحرالرائق ج:۲ ص :۳۱، عالمگیری ج :۱ ص:۲۲۱، فتح القدیر ج:۲ص: ۳۳۵)

۳]المکی إذا خرج منهاوجاوزالمواقیت لایحل له العود بلاإحرام لکن إحرامه من المیقات (ردالمحتار ج : ۲ ص : ۴۷۸، مطلب فی المواقیت، طبع ایچ ایم سعید کراچی)_

۳ که چیرې یو کس د میقات نه له احرام نه پرته تیرشو، نو هغه باندې لازم دي چې مکې شریفې ته داخلیدو نه مخکې میقات ته واپس شي او د هغه ځای نه احرام وتړي.[۱]

۴ که چیرې هغه کس واپس نه شو، نو د هغه په ذمه باندې دم دی.[۲]

۵ کوم کس چې میقات نه له احرام تړلو پرته مکې مکرمې ته لاړ، هغه باندې حج یا عمره لازمه شوه او که څوک دیوځل نه زیات د احرام نه پرته د میقات نه تیرشو، نو هغه باندې هرځل یو حج یا عمره واجب شوه، د دې مسئلو نه معلومه شوه چې کوم خلک د میقات نه بهر اوسیږي، هغوی یوازې د طواف له پاره مکې مکرمې ته نه شي تلی، بلکې د هغوی له پاره ضروري ده چې هغوی د میقات نه د عمرې احرام تړلوسره ځي او دا هم معلومه شوه چې هغوی څومره ځله د احرام نه پرته تللي وي، هغوی باندې هغومره ځله دم او هغومره عمرې واجب شوې.[۳]

۶ جده د میقات نه بهرنه ده، نو جدې نه مکې ته له احرام نه پرته راتلل صحیح دي او طائف د میقات نه بهر دی، نو د هغه ځای نه له احرام نه پرته راتلل صحیح نه دي.[۴]

میقات نه له احرام نه پرته تیریدل صحیح نه دي

سوال: ځینې خلک دروغ ویلو سره له احرام نه پرته د حرم حدودو ته داخل شي او بیا د مسجد عائشه نه احرام وتړي، آیا د دې صورت کې دم لازم دی؟

جواب: د احرام نه پرته د حرم په حدودو کې داخلیدل ګناه ده او د داسې کس په ذمه باندې لازم دي چې بیرته میقات ته لاړشي او احرام وتړي، که چیرې دغه کس بیرته میقات ته لاړ او هلته احرام تړلوسره راغی، نو د هغه د ذمې نه دم ختم شو او که چیرې بیرته نه لاړ، نو هغه باندې دم واجب دی او دا دم به همیشه د هغه په ذمه وي، ترڅو پورې چې هغه ادا نه کړي او واجب نه

---

[۱] ولوجاوزميقاتا فى المواقيت الخمسة يريد الحج أوالعمرة فجاوزه بغيرإحرام ثم عاد قبل أن يحرم وأحرم من الميقات وجاوزه محرما لايجب عليه الدم بالإجماع (بدائع ج : ۲ ص :۱۶۵، كتاب الحج، بحرالرائق ج : ۳ ص : ۴۸) أيضا : ومن تجاوز الميقات دون إحرام وجب عليه الدم إلا إذا عاد إليه (الفقه الإسلامى وأدلته ج : ۳ ص : ۷۲، أحكام الحج والعمرة)_

[۲] أيضا)_

[۳] فإن دخل مكة بغيرإحرام ثم خرج فعاد إلى أهله ثم عاد إلى مكة فدخلها بغيرإحرام وجب عليه لكل واحد من الدخولين حجة أوعمرة (بدائع الصنائع ج : ۲ص : ۱۶۶، كتاب الحج، فصل وأما بيان مكان الإحرام)_

[٤] وكذا المكى إذا خرج من مكة لحاجة فبلغ الوقت ولم يجاوزه يعنى له أن يدخل مكة راجعا بغير إحرام (فتح القدير ج : ۲ ص : ۱۳۳) ولو جاوز ميقاتا فى المواقيت الخمسة يريد الحج أوالعمرة فجاوزه بغير إحرام ثم عاد قبل أن يحرم وأحرم من الميقات وجاوزه محرما لا يجب عليه الدم بالاجماع (بدائع ج: ۲ ص : ۱۶۵ بحرالرائق ج: ۳ ص : ۴۸) أيضا ومن تجاوز الميقات دون إحرام وجب عليه الدم إلا اذا عاد إليه (الفقه الاسلامى وادلته ج : ۳ ص : ۷۲)_

اداکولو ګناه به هم دهغه په ذمه وي[1] نفلي حج له پاره کبیره ګناه کول عبادت نه، بلکې دنفسي خواهشاتو پوره کول دي

یادونه کوم خلک چې دمیقات دبهرنه راغلي وي، هغوی له پاره دمسجدعائشه نه احرام تړل کافي نه دي،بلکې هغوی ته بیرته بهرنی میقات ته تلل ضروري دي،که چیرې بهرني میقات ته واپس نه لاړل اود مسجدعائشه رضی الله عنها نه یې احرام وتړلو،نودم به لازم وي.[2]

میقات نه له احرام پرته تیریدونکي باندې دم

سوال: یوه واقعه داسې وشوه چې یوسړی دحج په نیت باندې سعودی عرب ته لاړ، خومخکې هغه په ریاض کې قیام وکړ اوبیا مدینې منورې ته راغی،له دې نه وروسته احرام تړلونه پس مکې مکرمې ته لاړ، عمره یې اداکړه اوواپس ریاض ته لاړ، دهغې نه پس دحج نه یوه هفته مخکې داحرام نه بغیرمکې مکرمې ته راغې.چاهغه ته اووئیل چې تاغلطي اوکړه،تاته دلته داحرام نه بغیرراتلل نه ووپکار، پس هغه تنعیم ته لاړواوعمره ئې اداکړه. آیا داصحیح شوه اودغلطۍ کفاره به څه وی؟یاهغه باندې دم واجب شو؟

جواب: ذکر شوی صورت کې چونکه هغه کس دمیقات نه تیریدو وخت کې مکې مکرمې ته دتلونیت نه ووکړې،بلکه ریاض اوبیا مدینې منورې ته تلوسره هلته داحرام تړلواراده ئې وه،په دې وجه باندې هغه باندې میقات نه بغیرداحرام نه تیریدودم واجب نه دې.په دویم ځل باندې چې دغه سړې دریاض نه مکې مکرمې ته بغیرداحرام نه راغې،دهغې په وجه باندې په هغه باندې دم واجب شوې دې. تنعیم ته راتلوسره عمره اداکول دهغه غلطی نه ختموی.اودم ختم نه شو.اوکه چیرې دغه کس واپس میقات ته تلې وې اودهغه ځائې نه ئې دحج یاعمرې احرام تړلې وې نودم به ساقط شوې وې.[3]

له احرام نه پرته که میقات نه تیرشي، نودم واجبیږي، خو که بیرته میقات ته راغی او احرام یې وتړلو، نودم ساقطیږي

سوال: زه په اوولسمې روژې باندې ریاض نه مکې مکرمې ته روان شوم،هلته زمایوځوورځې

۱] ایضاً)_

۲] اذا تجاوز المیقات بنیة الاقامة فی مکة غیر الحرم جاز له ذٰلک .....ومن تجاوز المیقات دون إحرام وجب علیه الدم الا اذا عاد الیه (الفقه الاسلامی وادلته ج : ۳ ص : ۷۲) وأیضا : ولو جاوز میقاتا من المواقیت الخمسة یرید الحج أوالعمرة فجاوزه بغیر إحرام ثم عاد قبل أن یحرم وأحرم من المیقات وجاوزه محرما لا یجب علیه دم بالاجماع لانه لما عاد الی المیقات قبل أن یحرم وأحرم التحقت تلک المجاوزة بالعدم وصار هٰذا إبتداء إحرام منه (بدائع الصنائع ج : ۲ ص :۱۶۵)_

۳] أیضاً)_

ډیوټي وظیفه وه. خود سفر په وجه باندې زما طبیعت خراب شو. په دې وجه باندې ما په میقات باندې احرام ونه شو تړلی. دوه ورځې مکې کې قیام کولو نه وروسته زه بیرته د مدینې منورې په روډ (سړک) باندې د میقات نه مخکې لاړم او د عمرې له پاره مې احرام وتړلو او عمره مې اداکړه. زما څه دوستان وایي چې احرام په لومړۍ ورځ باندې تړل لازمي و، تاسو دې باره کې ما ته صحیح جواب راکړئ. ما نه چې کومه غلطي شوې ده د هغې کفاره څه ده؟

جواب: تاسو باندې میقات له احرام پرته تیریدو په وجه باندې دم لازم شوی و، که چیرې تاسو بیرته د میقات نه بهرتلو سره احرام کې راغلی یئ نو دم ختم شوی دی،[1] خو ستاسو د سوال نه داسې محسوسیږي چې تاسو د عمرې اداکولو له پاره د آفاقي میقات طرف ته نه یئ تللي، بلکې یوازې د حرم د حدودو نه بهرتلو سره مو احرام تړلی دی او هماغه مو میقات ګڼړلی دی، ځکه چې مدینې روډ باندې میقات یا خو رابغ دی او یا ذوالحلیفه. غالباً تاسو دې دواړو ځایونو کې یو ځای ته هم نه یئ رسیدلي. په هرحال ستاسو په سوال چې زه څنګه پوه شوی یم، که چیرې دا صحیح وي نو ستاسو په ذمه باندې دم نه دی ختم شوی او که چیرې په رښتیا باندې تاسو د آفاقي میقات نه بهرتلو سره احرام تړلی وي. نو ستاسو د ذمې نه دم ختم شوی دی.[2]

له احرام نه پرته مکې مکرمې ته داخلیدل

سوال: زه دلته طائف کې نوکري کوم. ما یو حج کړی دی او عمرې مې ډیرې زیاتې کړې دي، د تیرو اتو میاشتو نه زه هره جمعه مکې مکرمې ته ځم، هلته د جمعې لمونځ په بیت الله شریف کې اداکوم. زما مسر رور په مکه مکرمه کې کارکوي. هغه سره ملاقات هم وکړم. زما یو ملګری دی هغه وایي چې مکې ته له احرام نه پرته داخلیدو په وجه باندې دم واجبیږي، یعنی ته چې څوځله تللی یې. هغومره ځله دم ورکول در باندې واجب دی، اوس تاسو ما ته ووایئ چې ما باندې به دم ورکول واجب وي؟ ځکه چې زه هم دې ارادې سره ځم چې مکې مکرمې ته به لاړشم. طواف به وکړم. د جمعې لمونځ به اداکړم او بیا به خپل رورسره ملاوشم.

جواب: کوم خلک چې میقات نه بهر اوسیږي، که چیرې هغوی مکې مکرمې ته راځي، که د هغوی راتلل د خپل ذاتي (شخصي) کار له پاره هم وي، د هغوی په ذمه باندې د میقات نه د حج یا عمرې احرام تړل لازم دي، که چیرې هغوی د احرام نه پرته د میقات نه تیرشول، او بیرته راتلو سره یې د میقات نه احرام ونه تړلو، نو هغوی به ګناهګاروي او د هغوی په ذمه حج یا عمره واجب شوځ، د نورو اماما نو په نزد باندې داپابندي یوازې د هغو خلکو له پاره دي چې د حج او عمرې په نیت باندې میقات نه تیرشي، نورو خلکو له پاره احرام تړل لازم نه دي، د احنافو د

---

[1] تیره شوی حاشیه (اذا تجاوز المیقات بنیة الاقامة فی مکة غیر الحرم...الخ) اوګورئ!)_

[2] ایضاً_

مذهب مطابق تاسوچې څوځله داحرام نه پرته مکې مکرمې ته تللي يئ،ستاسوپه ذمه باندې هغومره عمرې لازمې دي اوكومه غلطي چې درنه شوې ده هغې له پاره استغفاركوئ. [1]

مکې مکرمې ته د داخليدو له پاره احرام ضروري دی؟

سوال: زما دوست لاندې فتوا دزيات تحقيق له پاره ليکلې ده، براه کرم دکتاب او سنت په رڼا کې ستاسو فتوا څه ده؟

فتوا رسول کريم ﷺ د ميقات په باره کې فرمايلي دي چې دا ميقات مقرر دی او دا د هغوخلکو له پاره دی چې د حج او عمرې په ارادې سره راتلل غواړي، (متفق عليه).خو هغه خلک چې د حج او عمرې له ارادې نه پرته، تجارتي غرض سره يا خپل رشته دار سره د ملاقات له پاره مکې مکرمې ته داخليدل غواړي، نو هغوی ته له احرام پرته مکې مکرمې ته داخله جائز ده. پخپله رسول الله ﷺ د مکې د فتحې په ورځ مکې مکرمې ته له احرام نه پرته داخل شو. حديث کې دي چې نبي ﷺ توره پګړۍ په سرمبارک باندې تړلې وه ، د احرام تړلو تعلق د نيت سره دی چې د ميقات تيريدو والا نيت څه دی؟ که چيرته يې د حج او عمرې نيت وي، نو بيا خو له احرام نه پرته ميقات باندې تيريدل جائز نه دي، په دې سره دم لازم راځي. او که چيرته ميقات باندې د تيريدونکي نيت د بيت الله د طواف يا حرم کې د لمونځ کولو يا چا سره د ملاقات وي، يا تجارتي غرض وي، نو ميقات باندې تيريدو او مکې ته د داخليدو له پاره احرام تړل ضروري نه دي.

ايا له ميقات نه د بهرنه راتلونکی مکې ته له احرام نه پرته داخليدای شي؟

جواب: دا فتوا دنورو امامانو مطابق ده، زموږ په نزد ميقات نه بهراوسيدونکي اګرکه هغوی ذاتي کار له پاره ځي، مکې مکرمې ته له احرام نه پرته داخليدل جائز نه دي، په دې جواب کې د حضور ﷺ دعمل کومه حواله ورکړل شوې ده، زموږ د امام په نزد صحيح نه ده. ځکه چې هغه ورځ مکه مکرمه د حضور ﷺ لپاره حلاله شوې وه او دا د حضور ﷺ خصوصيت و ، نه چې حرمِ مکه د هغه ورځې نه مخکې دچا له پاره حلاله وه اونه به ترقيامته

---

[1] وكذلک لو أراد بمجاوزة هذه المواقيت دخول مكة لا يجوز له أن يجاوزها الا محرما سواء أراد بدخول المكة النسک من الحج أوالعمرة أو التجارة أو حاجة اخريٰ عندنا وقال الشافعي : إن دخلها للنسک وجب عليه الاحرام،وإن دخلها لحاجة جازدخوله من غيرإحرام وجه قوله أنه تجوز السكنى بمكة من غيرإحرام فالدخول أوليٰ لأنه دون السكنى ولنا ما روى عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال : ألا إن مكة حرام منذخلقها الله تعاليٰ لم تحل لأحد قبلى ولاتحل لأحد بعدى وإنما أحلت لى ساعة من نهارثم عادت حراما إلى يوم القيامة الحديث والإستدلال به من ثلاثة أوجه (بدائع الصنائع، فصل : وأمابيان مكان الإحرام ج : ۲ ص : ۱۶۴ طبع ايچ ايم سعيد)_

پورې وروستو دچا له پاره حلاله شي. الغرض ! حنفي مذهب حضراتو ته دهغوی په فتوی باندې عمل کول صحیح نه دی. حنبلی او شافعی حضرات که عمل وکړي نو صحیح دہ. [۱]

ایا مدینې نه طائف ته راتلو سره دحرم له حدود نه تیریدو وخت کې احرام تړل ضروري دي؟

سوال: دمدینې منورې نه بیرته طائف ته راتلوسره مکې باندې تیریدل راځي. ایادحرم حدودو کې د داخلیدو له پاره احرام تړل او عمره کول هغه وخت هم ضروري دي؟ چې هر کله دسفردوران وي، شپه تیره شوي وي اوپاتې سفر دخپل ښار باقي وي او وخت کم وي او عمره کولو کې ډیروخت لګیږي.

جواب: احرام تړل دهغه سړي په ذمه لازم دي چې مکې مکرمې ته د داخلیدو اراده لري، څوک چې دحرم له حدودو نه تیریږي. دهغه په ذمه لازم نه دي. [۲]

جدې ته خاوند ته تلونکې ښځې له پاره احرام تړل ضروري نه دي

سوال: زه دخلورنیموکلنو راهیسې په جده کې اوسیږم، هرکال یوه میاشت رخصتي باندې ځم، تیرشوي رمضان کې دمعمول مطابق رخصتي باندې پاکستان ته لاړم، خوتلونه مخکې ما ښځې ته د ویزټ (سیل) ویزه ولیږله. ویزې لیږلووخت کې زمادوه مقصدونه وو:

(۱) ویزټ (سیل، سیاحت)

(۲) حج.... یعنې زماخیال و چې بچې به مې حج هم وکړي اوماسره به هم څه وخت تیرکړي او ویزه کې به لږوخت زیات کړم، ځکه چې دویزټ (د سیل) ویزه یوازې ددریومیاشتوويٍ، په هرحال په ۲۹شوال باندې زه دخپل کوروالوسره روان شوم، زه خودنوکري (وظیفې) په سلسله کې اوسیدم اوکوروالوباندې مې حج او سیاحت مقصد و، نوکراچۍ ائیرپورټ (هوایي میدان) نه مو احرام ونه تړلو، ۲۹ شوال باندې جدې ته ورسیدو (۳۰) شوال ورځ مو هم جدې کې تیره شوه، یعنې په دریمه ورځ باندې مابچې عمرې ته بوتلل اوبیاموحج هم اداکړ اوبیادوه درې

---

[۱] لو أراد بمجاوزة هذه المواقيت دخول مكة لا يجوز له أن يجاوزها الا محرما سواء .... أراد الحج أوالعمرة أو التجارة أو حاجة اخريٰ قال الشافعي .... إن دخلها لحاجة جازدخوله من غيرإحرام ولنا ما روى عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال : ألا إن مكة حرام منذخلقها الله تعاليٰ لم تحل لأحد قبلى ولاتحل لأحد بعدى وإنما أحلت لى ساعة من نهارثم عادت حراما إلى يوم القيامة الحديث والإستدلال به من ثلاثة أوجه (بدائع الصنائع، فصل : وأمابيان مكان الإحرام ج : ۲ ص : ۱۶۴ كتاب الحج)

[۲] لو أراد ....دخول مكة لا يجوز له أن يجاوزها الا محرما .... فإذا لم يرد البيت لم يصرملتزما للإحرام فلايلزمه شيء (بدائع الصنائع، ج:۲ ص:۱۶۴، ۱۶۶، كتاب الحج، فصل:وأمابيان مكان الإحرام)

[illegible] نه [illegible] علیمه وه او ما خیال ونه کړ، ماویل
چې [illegible] داحرام ضرورت نه شته،
[illegible] مقصد د حج و، یعني دا سې نه و
[illegible] او دلته چې د حج اراده کړې وي، یعني د
[illegible] او س مسئله داده چې [illegible] دم واجب شو او که نه؟
[illegible] چې خومره وخت تېر شوی دی، د هغه په څه کېږي [illegible]
[illegible] نه [illegible] مکه مکرمه کې، او هغوی ته معلومات هم نه شته

جواب: [illegible] صورت کې تاسو جده کې او سیدئ او ستاسو بنځه حقیقت کې تاسو ته [illegible] او د وېزې مقصد هم داو اګر چې اصل مقصد یې حج اداکول و. له دې وجې [illegible] هغې ته د میقات نه احرام تړل لازم نه و او نه هغې باندې دم لازم شوی دی[1]

د حج او عمرې په اراده جدې ته د راتلونکي احرام

سوال: که چېرته یو کس پاکستان، امریکه، انګلینډ یا بل ملک نه حج او عمرې په اراده باندې روان شي او جدې ته داحرام نه پرته ورسیږي. نو

۱. اوس به هغه کوم مقام ته بېرته تلوسره احرام تړي؟

۲. که چېرته هغه له جدې نه احرام وتړي. نو بیا به څنګه وي؟

جواب: ۱. کوم کس چې داحرام نه پرته له میقات نه تېر شي هغه له پاره افضل دادی چې خپل میقات ته بېرته لاړ شي او له هغه ځای نه احرام وتړي او هر یو میقات ته واپس تلوسره د هغه د ذمې نه به دم ختم شي[2]

۲. او که د جدې نه احرام وتړي. نو بیا به هم دم نه لازمیږي.

ایا له جدې نه احرام تړل کیدای شي

سوال: دعمرې داحرام په سلسله کې یوه ضروري مسئله داده چې د پي ايي اې (دپاکستان هوایي شرکت) نوکرانو ته دعمرې مفت ټکټ ملاویږي. خو دا ټکټ مستقل (پوخ) نه وي. بلکې د جهاز روانیدو نه مخکې که چېرته جهاز کې سیټ (چوکۍ) خالي وي. نو د هغه ټکټ ملاویدای

---

[1] ولو جاوز الميقات ويريد بستان بني عامر دون مكة فلا شيء عليه (عالمگيری ج: ۱ ص: ۲۵۳، كتاب الحج، الباب العاشر في مجاوزة الميقات بغير إحرام) أيضا: أما لو قصد موضعا من الحل كخليص وجدة حل له مجاوزته بلا إحرام فإذا حل به التحق باهله فله دخول مكة بلا إحرام (درمختار ج:۲ ص: ۴۷۷، كتاب الحج مطلب في المواقيت)

[2] ومن جاوز ميقاته غير محرم ثم أتى ميقاتا آخر فأحرم منه أجزأه إلا أن إحرامه من ميقاته أفضل (عالمگيری ج ۱ ص ۲۲۱، كتاب الحج، كذا في الجوهرة النيرة، شامي ج ۲ ص: ۱۶۷، عالمگيری ج: ۱ ص: ۲۵۳)

شي، هغه وخت کې دومره موقع نه وي چې احرام وتړل شي، کله څوڅوورځې ټکټ نه ملاوېږي اود نوکرانو رخصتیانې ختمې شي اوهغوی عمرې ته لاړنه شي، داسې صورت کې ایا هغوی جدې کې احرام تړلی شي؟دجهازپه غسل خانه کې هم دومره ګنجائش نه وي چې غسل کولو سره احرام وتړل شي اوکه چیرته کراچۍ کې احرام وتړي، نودټکټ نه ملاویدو له وجې به احرام خلاصول وي، نوڅه وکړي؟ نوکران بلکې ټول خلک جدې ته رسیدوسره احرام تړي.

جواب: احرام تړلو له پاره غسل اونفل کول شرط نه بلکې مستحب دي، دعذرپه صورت کې یوازې ګنډل شوې جامې وباسئ او څادرونه واغوندئ[1] اودعمرې نیت کولوسره تلبیه ولولئ بس احرام وتړل شو[2] اوداکارجهازکې ختلونه مخکې هم کیدای شي اوجهاز کې کیناستونه وروسته هم،جدې ته رسیدونه وروسته احرام تړل صحیح نه دي،ځکه چې اکثرجهازونه دحرم له پاسه تیرېږي، له دې وجې جهازکې ختو نه مخکې احرام تړل ضروري دي اوددې طریقه پورته ذکر شوه.[3]

جدې ته رسیدوسره احرام تړل صحیح نه دي

سوال: اکثرخلک عمره کولوکې لیدل شوي دي چې پاکستان نه تلونکي خلک په جده ائیرپورټ (هوایي میدان) باندې احرام تړي، ایا جده کې احرام تړلو سره عمره اداکیږي اوکه نه؟ که نه کیږي، نوددې بدل څه دی؟ ایا دم یاصدقه چې دهغه له وجې ناقصه عمره صحیح شي.

جواب: که چیرته دپاکستان نه دعمرې په اراده باندې تللي وي، نوبیاجده کې احرام تړل صحیح نه دي، بلکې دکراچۍ نه احرام تړل پکاردي،یا جهازکې احرام تړل پکاردي[4]که چا جده کې احرام وتاړه، نودهغه په ذمه باندې دم واجب دی اوکه نه؟ دې باره کې د اکابرینو اختلاف

---

[1] والغسل هوسنة للإحرام مطلقا أو الوضوء (إرشاد الساری ص : ۶۳) ويترع المخيط والخف ويلبس ثوبين إزارا ورداء جديدين أوغسيلين والجديد أفضل (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۲۲، كتاب الحج، الباب الثالث فى الإحرام) إذا أراد أن يحرم اغتسل أوتوضأ والغسل أفضل (بدائع ج : ۲ ص : ۱۴۳، كتاب الحج، فصل : وأمابيان سنن الحج) والأمر بالإغتسال فى الحديثين عليٰ وجه الإستحباب دون الإيجاب(بدائع ج :۲ ص : ۱۴۴، عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۲۲)

[2] وأما شرطه فالنية حق لا يصيرمحرما بالتلبية بدون نية الإحرام (عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۲۲، كتاب الحج، الباب الثالث فى الإحرام، إرشاد الساری ص : ۶۲، طبع دارالفكر)_

[3] لايجوزلإحد منهم أن يجاوزميقاته إذا أراد الحج أوالعمرة إلامحرما (بدائع ج: ۲ ص : ۱۶۴، كتاب الحج)

[4] ومن جاوزميقاته غيرمحرم ثم أتى ميقاتا اخر فأحرم منه أجزاه إلا ان إحرامه من ميقاته أفضل (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۲۱،كتاب الحج، كذا فى الجوهرة النيرة، شامى ج:۲ ص: ۱۶۷، عالمگيرى ج : ۱ ص : ۲۵۳) لايجوز لإحد منهم أن يجاوز ميقاته إذا أراد الحج أوالعمرة إلامحرما (بدائع ج : ۲ ص : ۱۶۴، كتاب الحج)_

دی داحتیاط خبره داده که چیرته چاداسې کړي وي، نوبیاله پاره دې ددې نه پرهیز وکړي.[۱]

جدې نه احرام کله تړل کیږي

سوال: که دیوکس دعمرې اراده وي، خودهغه په جده کې څه کاروي، مثلا دخپلوانوسره ملاقات یاڅه کاروباري کار یې وي، نو ایا داسې کس د احرام نه پرته جدې ته تللی شي، چې مخکې یې دجدې اوبیایې دعمرې کولواراده وي؟

جواب: که چیرته هغه دکراچۍ نه دجدې سفردخپلوانوسره دملاقات له پاره کوي اودکراچۍ نه دهغه نیت دعمرې اداکولونه وي، نودهغه له پاره دمیقات نه احرام تړل ضروري نه دي[۲]، جدې ته رسیدوسره که چیرته دهغه نیت دعمرې اداکولووي، نوجدې نه دې احرام وتړي،که یوازې دعمرې له پاره سفرکوي، نودمیقات نه مخکې احرام تړل ضروري دي، ذکرشوي صورت کې کله چې مخکې جدې ته دتلو اراده ده، نواحرام تړل ضروري نه دی، دهغه نه وروسته کله چې جدې نه دعمرې اراده وکړي، نودهغه ځای نه دې احرام وتړي.

جدې نه مکې ته د راتلونکو احرام تړل

سوال: ایا جده کې مستقل اوسیدونکي یادچاچې دپنځلسو ورځو د قیام کولونیت وي،یاله دې څخه دکم وخت ، نو جدې نه مکې ته له احرام نه پرته راتللی شي اوکه نه؟

جواب: جده کې اوسیدونکوته داحرام نه پرته مکې ته دراتلواجازه شته،کله چې هغوی دحج یاعمرې په اراده باندې مکې مکرمې ته نه راځي[۳]همداحکم دهغه ټولوخلکوله پاره دی کوم چې دڅه کارله پاره جدې ته راغلي وي اوبیادهغه ځای نه دهغوی نیت مکې مکرمې ته دتلو وشي، هغوی له پاره هم داحرام نه پرته راتلل جائزدي.

سوال: یوکس جدې ته لاړ، هلته یې یوڅوورځې قیام وکړ، بیامکې مکرمې ته دعمرې په نیت باندې لاړ، خواحرام یې ونه تاړه، بلکې مخکې یې حرم شریف سره خواکې هوټل کې کمره واخیستله او بیا تنعیم ته تلوسره یې احرام وتاړه، داسې کول صحیح دي اوکه غلط؟

---

[۱] اوګورئ: جواهرالفقه ج : ۱ ص : ۴۷۴- ۴۸۰، طبع دارالعلوم کراچی)_

[۲] أمالوقصد موضعا من الحل کخلیص وجدة حل له مجاوزته بلاإحرام فإذا حل به التحق بأهله فله دخول مکة بلا إحرام (الدرالمختارج : ۲ ص : ۴۷۷، کتاب الحج) وحل لأهل داخلها ...... دخول مکة غیرمحرم ...... مالم یرد نسکا .... فهٰذا میقاته الحل الذی بین المواقیت والحرم (الدرالمختار ج : ۲ ص : ۴۷۸، کتاب الحج)_

[۳] ومن کان داخل المیقات کالبستانی له أن یدخل مکة لحاجة بلا إحرام إلا إذا أراد النسک فالنسک لا یتادی إلا بالإحرام کذا فی الکافی (عالمگیری ج : ۱ ص : ۲۲۱، کتاب المناسک، طبع رشیدیه)_

جواب: غلط دي ځکه چې کله داکس دعمرې په نیت باندې مکې مکرمې ته لاړ، دحرم حدودو ته داخلیدونه مخکې د هغه له پاره د عمرې احرام تړل لازم و اودحرم حدودوکې له احرام نه پرته داخلیدل دهغه له پاره جائزنه و، له دې وجې پرته داحرام نه دحرم په حدودوکې داخلیدو له وجې ګناهګارشو اوکله چې هغه بیرته له تنعیم نه احرام وتاړه، نودم ختم شوخوګناه پاتې ده، توبه اواستغفاردې کوي.[۱]

سوال: که چیرته دغه کس دعمرې په نیت باندې مکې مکرمې ته لاړنه شي، بلکه هسې لاړشي یا طواف له پاره لاړشي اودحرم شریف نه بهر هوټل کې کمره واخلي اوبیاواپس شي، نوبیا یې په هوټل کې له قیام نه وروسته د عمرې اراده پیدا شوه او تنعیم ته لاړ احرام یې وتاړه، نو ایا په دې صورت کې هم ګناهګار شو؟

جواب: دې صورت کې به ګناهګارنه وي، ځکه چې داکس دعمرې په نیت باندې مکې مکرمې ته نه و راغلی، مکې مکرمې ته راتلونه وروسته که چیرته دهغه نیت وچې عمره هم وکړم، له دې وجې داحرام نه پرته حرم ته دراتلوګناه دهغه په ذمه باندې نه شته، اوس که چیرته دی عمره کول غواړي، نو دمکې داوسیدونکوپه شان دې مکې نه بهرتلوسره احرام وتړي.[۲]

داحرام خلاصولو طریقه

سوال: دحج یاعمرې احرام چې کله وتړل شي، څنګه چې داحرام تړلو شرطونه دي، دغه شان داحرام خلاصولوهم شرطونه دي، ویښته کټ کول، نودویښتودکټ کولوداصل طریقې اواصل مسئلې وضاحت وکړئ.

جواب: داحرام خلاصولوله پاره حلق (یعنې چاړه باندې د سرنه ویښته صفاکول) غوره دي او قصر جائزدی، دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندې داحرام خلاصولوله پاره دا شرط دی چې کم نه کم دسرد څلورمې برخې ویښته دیوبندپه اندازه کټ کړل شي[۳] اوکه چیرته دسرویښته واړه وي

---

[۱] وإذا تجاوزالميقات بنية الإقامة فى مكان غيرالحرم جازله ذلك.... ومن تجاوزالميقات دون إحرام وجب عليه الدم إلا إذا عاد اليه (الفقه الإسلامى وأدلته ج:۳ ص:۷۲) وأيضا: ولوجاوزميقاتا من المواقيت الخمسة يريدالحج أوالعمرة فجاوزه بغيرإحرام ثم عاد قبل أن يحرم وأحرم من الميقات وجاوزه محرمالايجب عليه دم بالإجماع لأنه لما عاد إلى الميقات قبل أن يحرم وأحرم التحقت تلك المجاوزة بالعدم وصارهٰذا إبتدا إحرام منه (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۶۵)_

[۲] ايضاً پورته حواله)_

[۳] والحلق أفضل .... ويكتفى فى الحلق بربع الرأس إعتبارا بالمسح وحلق الكل الأولى والتقصير أن يأخذ من رؤس شعره مقدارالأنملة (بحرالرائق ج : ۲ ص : ۳۸۵، ۳۸۶، بدائع ج : ۲ص :۱۴۱، كتاب الحج، فصل : وأمامقدارالواجب)_

اوديوبندنه كم وي، نوپه چاړه باندې يې خريل ضروري دي، له دې نه پرته احرام نه خلاصيږي [۱]

عمرې نه فارغېدو سره حلق نه مخكې جامې اغوستل

سوال: دوه كاله مخكې عمرې له پاره تللى وم، تقريبا لس ورځې مې مكه كې تيرې كړې، اخري ورځ باندې مې چې كله عمره وكړه، نو ډير په بيړه (جلدي) كې وم. ځكه چې زمه دجهاز تلوكې يوازې څلور ګنټې پاتې وې، داويره راسره وه چې هسې نه جهاز رانه لاړ شي، دهمدغې بيړې له وجې مې دحلق كولونه مخكې جامې واغوستلې اواحرام مې خلاص كړ اوحلق مې وكړ

هغه وخت بيړه كې وم يادراته نه و چې ما غلط وكړل، دلته راتلوسره مې يودوست سره خبروكې ماته يادشوچې مااحرام خلاصولونه وروسته حلق كړى و، مهرباني وكړئ اوماته ووايئ چې ماباندې جزا (دم) واجب دى اوكه نه؟ اوكه چيرته واجب وي، نو ايا زه دمكې مكرمې نه بهردم كولى شم ، يادډې له پاره مكې مكرمې كې حاضريدل ضروري دي؟ ان شاء الله دې كال مې دحج اراده ده ايا دحج نه مخكې به دم واجب دى او كه دحج قرباني سره به دجزا (دم) په طور باندې يوچيلى حلاله كړم، اميددى چې تاسوبه زرجواب راكړئ

جواب: ددې غلطي له وجې ستاسوپه ذمه باندې دم لازم نه دى، بلكې دصدقه فطر دمقدار صدقه تاسوباندې لازمه ده اوداصدقه تاسو هرځاى كې اداكولى شئ [۲]

احرام خلاصولوله پاره څومره ويښته كټ كول ضروري دي

سوال: دحج ياعمرې په وخت كې ويښته كټ كول دي، څه خلک يوڅو ويښته كټ كړي اودامام ابوحنيفه رحمه الله مقلددى، ايا داسې ويښته كټ كولوسره دهغوى احرام خلاص شي؟ احرام له پاره منع كړل شوي شيان حلال شي؟

جواب: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدباندې داحرام خلاصولوله پاره كم نه كم دسردڅلورمې برخې ويښته دګوتې د يوبند په مقداركټ كول شرط دي [۳] له دې وجې چې كوم خلک يوازې يوڅوړ ويښته كټ كوي، دهغوى احرام نه خلاصيږي اوهماغه حالت كې منع شوي كارونه كوي

---

[۱] هذا إذا كان على رأسه شعر، فأما إذا لم يكن أجرى الموسى عليٰ رأسه لما روى عن ابن عمرانه قال : من جاء يوم النحر ولم يكن عليٰ رأسه شعر أجرى الموسى على رأسه .... الخ (بدائع الصنائع، فصل وأماالحلق أوالتقصير ج : ۲ص : ۱۴۰)_

[۲] اذا لبس المحرم المخيط على وجه المعتاد يوما إلى الليل فعليه دم، وإن كان أقل من ذٰلک فصدقة (عالمگيرى ج:۱ ص : ۲۴۲، فتح القدير ج : ۲ ص : ۴۴۲، بحرالرائق ج : ۳ ص : ۶، شامى ج :۲ ص :۲۲۰)_

[۳] فإن حلق أقل من الربع الرأس لم يجز وإن حلق ربع الرأس أجزأه ويكره (بدائع، ج:۲ ص:۱۴۱، كتاب الحج)

اودهغه له وجې هغوی باندې دم واجب شي[1] دلته ياد ساتل پکاردي چې دسردڅلورمې برخې پورې ويښته کټ کول شرط دي، خودسرڅه ويښته اخيستل اوڅه پريښودل جائزنه دي، حديث شريف کې له دې کارنه منع شوې ده[2] له دې وجې که چادسر د څلورمې برخې ويښته کټ کړل، نواحرام خو خلاص شو، خودپاتې ويښتو نه کټ کولو له وجې به ګناهګاروي.

سوال: دا خل مې عمره کې اکثره خلک وليدل چې عمرې نه وروسته د ويښتو کټ کولونه پرته احرام خلاص کړي، ياځينې خلک دڅلورو طرفو نه معمولي معمولي ويښته کټ کړي اودا وايي چې دڅلورمې برخې کټ کولوحکم دی اوهغه پوره شواو ځينې خلک په مشين باندې کټ کوي، پوښتنه دا ده چې دداسې خلکوباره کې څه حکم دی؟ دهغوی احرام خلاصول ايا دم وغيره واجبوي اوکه نه اوسنت طريقه څه ده؟

جواب: دحج اوعمرې احرام خلاصولوله پاره څلورصورتونه اختيارېږي، دهريوحکم جداجدا ليکم:

لومړی صورت: داچې حلق وکړل شي يعني چاړه باندې ويښته صفا شي، داصورت له ټولونه غوره دی[3] اودحلق کونکوله پاره حضورﷺ درې ځله درحمت دعاکړې ده[4] کوم کس چې حج اوعمرې ته تلوسره دحضورﷺ ددعانه محروم پاتې شي، دهغه ځای محرومي! څومره د افسوس خبره ده؟! له دې وجې حج اوعمره کونکي ټولوخلکو ته مشوره ورکوم چې هغوی ځان دحضورﷺ ددعانه محروم نه کړي، بلکې حلق کولوسره دې احرام خلاص کړي.

دويم صورت: دادې چې په قينچي يامشين باندې دټول سرويښته کټ کړل شي، داصورت هم له کراهت پرته جائزدی.[5]

---

[1] لأن الحلق والتقصيرواجب لما ذكرنا ولايقع التحلل إلا بأحدهما ولم يوجد فكان إحرامه باقيا فإذا غسل رأسه بالخطمى فقد أزال التفث فى حال قيام الإحرام فيلزمه الدم والله أعلم (بدائع ج: ۲ص: ۱۴۰ كتاب الحج)

[2] عن نافع عن ابن عمرقال : سمعت النبى صلى الله عليه وسلم ينهى عن القزع، قيل النافع : ماالقزع؟ قال : يحلق بعض رأس الصبى ويترك البعض متفق عليه وعن ابن عمرأن النبى صلى الله عليه وسلم رأى صبيا قد حلق بعض رأسه وترك بعضه فنهاهم عن ذٰلك وقال: إحلقوا كله أوتركوا كله رواه مسلم (مشكوٰة، باب الترجل ص : ۳۸۰)

[3] فأما الحلق فالأفضل حلق جميع الرأس لقوله عزوجل : "محلقين رؤوسكم" والرأس اسم للجميع وكذا روى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم حلق جميع رأسه (بدائع ج : ۲ ص : ۱۴۱، كتاب الحج، فصل : وأمامقدارالواجب)

[4] الحلق أفضل لأنه روى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا للمحلقين ثلاثا والمقصرين مرة واحدة فقال : اللهم اغفرللمحلقين والمقصرين (بدائع ج : ۲ ص : ۱۴۰، كتاب الحج،فصل : وأما الحلق أو التقصير)_

[5] فالحلق أو التقصيرواجب عندنا إذا كان عليٰ رأسه شعر لا يتحلل بدونه (بدائع الصنائع ج : ۲ ص : ۱۴۰، كتاب الحج)_

دريم صورت دادی چې کم نه کم دسردڅلورمې برخې وینبته کم کړل شي، داصورت مکروه تحريمي اوناجائزدی، څکه چې يو حديث شريف کې ددې منع راغلې ده[1]، خودې باندې احرام خلاص شي[2].اوس پخپله باندې سوچ وکړئ چې حج اوعمرې په شان مقدس عبادت ختمول په يوناجائزکارباندې وشي، نوهغه حج ياعمره به څنګه قبول شي.

څلورم صورت دادی چې اخواديخوانه وينبته کټ کړل شي کوم چې د سرڅلورمې برخې نه کم وي، دې صورت کې به احرام نه خلاصيږي، بلکې انسان به داحرام په صورت کې وي[3]اودهغه باندې به احرام کې دمنع شويو شيانوپابندي کول وي اوګنډل شوې جامې اونورمنع کړل شوي کارونو کولوپه صورت کې به هغه باندې دم لازم وي[4] نن سباډيرناخبره خلک نوروته کتو سره دې څلورم صورت باندې عمل کوي، دغه خلک هميشه په احرام کې وي اود احرام په حالت کې منع شوي کارونه کوي اودخپلې بې خبرې له وجې ګنې چې موږ يو څو وينبتو کټ کولوسره احرام خلاص کړ، حالانکې احرام خلاص شوی نه وي اوداحرام په حالت کې داحرام خلاف کارونه کولوسره دالله تعالى قهراوعذاب ته دعوت ورکوي، همدغه وجه ده چې زرګونو خلکو کې به يوکس نيم داسې وي چې دهغه حج اوعمره به دشريعت مطابق وي، نورخلک يوازې دسيل کولوله پاره ځي اوخلک ورته حاجی وايي، عواموته پکاردي چې دحج اوعمرې مسئلې دعالمانونه زده کړي اوهغه باندې عمل وکړي، يوازې کتلو سره دې کارنه کوي.

د حج احرام که چيرته د طواف نه وروسته خلاص کړ، نوڅه وکړي

سوال: ماله کراچۍ نه دټولوخلکوسره دحج احرام وتاړه، مکې شريفې کې مې دطواف کولونه وروسته خلاص کړ، نواوس ماته څه کول پکاردي؟

جواب: تاسوباندې دحج احرام خلاصولوله وجې دم لازم دی او دحج قضاء لازم شوه، حج خو

---

[1] عن نافع عن ابن عمرقال : سمعت النبی صلی الله عليه وسلم ينهی عن القزع، قيل لنافع : ماالقزع؟ قال : يحلق بعض رأس الصبی ويترک البعض متفق عليه وعن ابن عمرأن النبی صلی الله عليه وسلم رأی صبيا قد حلق بعض رأسه وترک بعضه فنهاهم عن ذلک وقال: إحلقوا کله أوترکوا کله رواه مسلم (مشکوٰة، باب الترجل ص : ۳۸۰)

[2] وإن حلق ربع الرأس أجزاه ويکره (بدائع ج : ۲ ص : ۱۴۱، کتاب الحج، فصل : وأمامقدار الواجب)_

[3] والحلق المطلق يقع عليٰ حلق جميع الرأس ولوحلق بعض الرأس فإن حلق أقل من الربع لم يجزه (بدائع ج : ۲ ص : ۱۴۱، کتاب الحج، فصل : وأمامقدار الواجب)_

[4] لأن الحلق والتقصيرواجب لما ذکرنا ولايقع التحلل إلا بأحدهما ولم يوجد فکان إحرامه باقيا فإذا غسل رأسه بالخطمی فقد أزال التفث فی حال قيام الإحرام فيلزمه الدم والله أعلم (بدائع ج:۲ص: ۱۴۰ کتاب الحج)

تاسو وکړې، دم ستاسو په ذمه باندې پاتې دی[1]. دې کاربانديې دشرم کولونه پرته توبه او استغفار هم وکړئ، د الله تعالی نه معافي غواړئ

د عمرې د احرام نه فارغېدو نه وروسته د حج احرام تړلو پورې پابندي نه شته

سوال: پاکستان کې دتمتع حج له پاره احرام تړلوسره لاړو، خومکې ته رسيدوسره مومخکې عمره اداکړه اواحرام مو خلاص کړ، اوس سوال دادی چې احرام خلاصولوسره چې يوطرف ته هغه پابندي ختمې شي کومې چې داحرام په حالت کې وي، ايا هلته داپابندي هم ختمه شي چې ښځه په خاوندباندې حلاله شي، ځکه چې داحرام په حالت کې حرامه وه، حج ته لس ورځې پاتې دي اوکه چيرته چاداسې وکړل، نو دهغه حج به قبليږي اوکه نه؟ اوکه چيرته وشي، نوهغه به څه کوي؟که چيرته بل کال په دويم ځل دحج کولوحکم وي اوهغه مجبوري له وجې يعنی پيسې نه وي او ونه کړل شي، نوددې څه حکم دی؟

جواب: دعمرې داحرام فارغيدو نه وروسته دحج داحرام پورې چې څومره وقفه ده، دې کې چې څنګه دبل څه شي پابندي نه شته، دغه شان د ښځې اوخاوندد تعلق پابندي هم نه شته، دعمرې نه د فارغيدونه وروسته ښځې سره ملاويدل جائزدي، له دې وجې دحج ثواب نه ضائع کيږي اونه بل کال حج لازميږي.[2]

محرم له پاره ښځه کله حلاله وي

سوال: ايا داصحيح دي چې طواف زيارت نه کونکي باندې دهغه ښځه حرامه شي؟ حوالې سره جواب راکړئ او ايا دقرباني نه مخکې طواف زيارت کيدای شي؟

جواب: کله چې طواف زيارت ونه کړل شي ښځه حلاله نه وي، دښځې په حق کې احرام باقي وي[3]

---

[1] ان المحرم إذا نوى رفض الإحرام فجعل يصنع مايصنعه الحلال من لبس الثياب والتطيب .... وعليه أن يعود كماكان محرما ويجب دم لجميع ما ارتكب (شامی ج : ۲ ص : ۲۲۴، كتاب الحج)_

[2] وصفة المتمتع الذى لايسوق الهدى أن يبتدي من الميقات فيحرم بعمرة ويدخل مكة ويطوف لها ويسعى ويحلق أويقصر وقدحل من عمرته(عالمگيرى ج:۱ ص:۲۳۸) ثم يقيم بمكة حلالا (عالمگيرى ج :۱ص :۲۳۸كذا فى الهداية)

[3] ولولم يطف أصلا لم تحل له النساء وإن طال ومضت سنون وهٰذا باجماع (عالمگيرى ج :۱ص :۲۳۲) أربعة أشياء تحل به النساء للمحرمين ..... وللحاج بطواف الزيارة (خزانة الفقه ص : ۹۷، أيضا الفقه الإسلامى وأدلته : وأما طواف الزيارة ج : ۳ ص : ۱۴۶) (وإذا طاف) أى طواف الزيارة (حل له النساء) (إرشاد السارى ص :۱۵۵) وتحل له النساء بالحلق السابق لابالطواف وإذا طاف أربعة أشواط حلت له النساء (عالمگيرى ج :۱ص :۲۳۲، كتاب الحج، الباب الخامس فى كيفية أداء الحج، طبع مكتبه ماجديه كوئته، بدائع ج : ۲ص :۱۴۰، كتاب الحج)_

قرباني نه مخکې طواف زيارت جائزدی، خوغوره داده چې وروسته يې وکړي.[۱]

احرام تړلو نه وروسته د حج کولو نه پرته د واپسي مسئلې

سوال: هوايي جازکې حج ته تلونکي حنفي مذهب والا دکورنه احرام تړلوسره ځي، که چيرته اتفاقي طور باندې يوحاجي(کوم چې کورنه احرام تړلی وي) دڅه مجبوري له وجې دايرپورټ (هوايي ميدان) نه واپس شي اوحج ته لاړنه شي، نوايا هغه احرام نه شي خلاصولی ترڅوچې دقرباني پيسې دحرم حدودو ته ونه ليږي اودهغه ځای نه دقرباني خبر رانه شي، که څه هم دې کې لس پنځلس ورځې تيرې شي؟

جواب: کورنه داحرام څادرونه اغوستل پکاردي، خواحرام تړل نه دي پکار احرام دې هغه وخت کې وتړي، کله چې سيټ (چوکی) ملاوشي، د احرام تړلومطلب دی دحج ياعمرې نيت سره تلبيه لوستل اوکه چيرته احرام يې تړلی وي اودهغه نه وروسته لا نه ړو، نوڅنګه چې تاسوليکلي دي هغه به دقرباني پيسې دچاپه لاس باندې مکې مکرمې ته وليږي او په خپلوکې به دافيصله وکړي چې په فلانکی ورځ به دقرباني څاروی حلاليږي، کله چې دقرباني څاروي حلال شي، دهغه نه وروسته به احرام خلاص کړي[۲] اوبيابه ددې حج قضاء راوړي.[۳]

له عمرې کولو پرته په احرام خلاصونکي باندې دم واجب دی او که قضا لازمه ده

سوال: د دويمې عمرې له پاره ما د جدې نه احرام تړلی و، خو زما طبيعت ډير زيات خراب شوی و، زه بالکل تللی نه شوم، ماد عمرې اداکولو نه پرته احرام خلاص کړ، ماد مجبوري نه عمره ادا نه کړه، ددې ګناه بنبنه څنګه کيږي؟

جواب: ستا په ذمه د احرام خلاصولو له وجې دم هم واجب دی اود عمرې قضا هم لازمه ده.[۴]

---

[۱] وظاهرانه لايجب الترتيب بينه وبين الرمى والذبح والحلق وفى الدرالمختارعند عد الواجبات والترتيب بين الرمى والحلق والذبح يوم النحروأما الترتيب بين الطواف وبين الرمى والحلق فسنة فلوطاف قبل الرمى والحلق لاشيء عليه ويكره لباب اه وبالأولى لوطاف القارن والمتمتع قبل الذبح لأن الذبح يجب قبل الرمى وقد علمت أن الطواف قبل الرمى لايجب فيه شيء فبالأولى قبل الذبح (منحة الخالق على هامش البحرالرائق ج : ۳ ص : ۲۶، باب الجنايات)_

[۲] وأراد التحلل يجب أن يبعث الهدى أوثمنه يشترى به الهدى فيذبح عنه ويجب أن يواعدهم يوما ..... الخ (بدائع ج: ۲ص : ۱۷۸، عالمگيرى ج:۱ ص:۲۵۵) لقوله تعالى:"ولاتحلقوا رؤسكم حتى يبلغ الهدى محله"

[۳] والحاصل أن يجب عند الحنفية على المحصرقضاء ماأحرم به بعدالتحلل(الفقه الإسلامى وأدلته ج:۳ ص:۲۹۳)

[۴] من أهل فى يوم النحر... لزمته ويرفضها فإن رفضها فعليه دم لرفضها وعمرة مكانها(هداية ج:۱ص:۲۷۲)

ایا د احرام په حالت کې جنابت باندې دم واجب دی؟

سوال: د احرام په حالت کې که چیرته سړی یا ښځه د څه عذر له وجې جنب شي، نو د هغوی د پاکۍ طریقه به څه وي، ایا هغوی باندې به دم وغیره وي او که نه؟

جواب: دم وغیره پرې نه شته.[1]

که چیرته ناپاکه احرام سره له عمرې کولو وروسته دم ورکړل شي نو ایا عمره وشوه

سوال: ماته د متیازو نه وروسته د څاڅکو ناروغي ده، زه چې کله د عمرې له پاره روان شوم. نو ما د احرام تړلو په وخت دا فیصله وکړه چې اوس عمرې پوره کولو پورې به متیازې نه کوم او دا مې ددې وجه نه فیصله کړې وه چې څاڅکي لاړ نه شي، حالانکې دومره مدې پورې متیازې ټینګول ممکن نه دي، همدا و چې زما متیازې د احرام په حالت کې ووتلې، بیا ددې ګناه د پاسه یوبله ګناه وشوه چې په جاز کې د سترګو د زنا له وجې نه ناپاکې قطرې هم ووتلې، مکې ته رسیدو سره لومړی ما غسل وکړ، خو بله ګناه دا هم شوه چې د غسل نه وروسته ما پرته د پاکوالي نه احرام وتاړه، په دې خیال سره چې هرڅه شوي دي اوچ شوي به وي، غرض ما هم په هغه احرام سره عمره وکړه، بیا د مدینې نه په واپسي باندې دویمه عمره وکړه، نو احرام وینځلو سره مې وکړه، دهغه نه وروسته شیطان ماته وسوسې اچول شروع کړي، دهغه ځای نه د راتللو نه وروسته ما دیو حاجي په لاس د چیلۍ ذبح کولو له پاره پیسې هم ولیږلې، سوال دادی چې زما عمره وشوه او که نه؟ او زه د څومره ګناه مرتکب شوم؟

جواب: د پریشانه کېدو ضرورت نشته، ستاسو دواړه عمرې صحیح شوې، ځکه چې تاسو دم هم ورکړ، د شیطان په وسوسو کې رانه شئ، بلکې الله تعالی نه معافي وغواړه. والسلام!

د ناپاکۍ له وجې د احرام لاندینۍ څادر بدلول

سوال: ماته د هر وخت د عمرې سعادت حاصلیږي او زه د کراچۍ نه احرام تړلو سره ځم، خو د ضعیفۍ له وجې ماته متیازې زر زر راځي او د هوایي جاز د ځلور ګنټو سفر کې درې ځله غسل خانې ته تلل وي، غسل خانه دومره وړه وي چې احرام پاک ساتل ډیر مشکل وي، ایا داسې حالت کې عمره خلاصه کړم یا لاندینس احرام بدلولی شم، بل صورت ایا دا هم کېدای شي چې

---

[1] إذا حاضت المرأة أونفست عند الإحرام اغتسلت للإحرام وأحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غيرأنها لاتطوف بالبيت حتى تطهر وإذا حاضت المرأة أونفست فلاغسل عليها بعد الإحرام (الفقه الإسلامی وأدلته ج : ۳ ص : ۱۶۲، أحكام الحج والعمرة، حج المرأة الحائض، بحرالرائق ج : ۲ص : ۳۷۰، كتاب الحج)۔

جده کې زما يوه لور اوسيږي، هغې کره يوشپه قيام وکړم او له هغه ځای نه احرام وتړم؟

جواب: احرام خو جازته ختونه مخکې يا وروسته تړل پکار دي، د احرام نه لاندينی ځادر بدلوئ[١]

که د احرام په حالت کې ويښته وغورځيږي نو ايا قرباني وکړي؟

سوال: زما د سر او ږيرې ويښته ډير زيات غورځيږي، اوريدلي مې دي چې د احرام په حالت کې څومره ويښته وغورځيږي، هغومره قرباني به ورکول وي، دحج په صورت کې اوزه معذوريم، مسئله واضحه کړئ؛

جواب: چې څومره ويښته غورځيږي هغومره قرباني به کوئ، دا مسئله غلطه ده،خو داحتياط له پاره اودس کول پکار دي، چې ويښته ونه غورځيږي اوکه چيرې وغورځيږي، نوصدقه کول کافي دي.[٢]

ايا د احرام په حالت کې ګزار لګيدو سره دم واجب دی

سوال: که يو کس د احرام په حالت کې که په ګزار ولګيد او وينه را ووځي، نو ايا دم واجب دی يا صدقه ورکول به واجب وي؟

جواب: په دې سره دم نه لازميږي، نه څه صدقه واجب ده. [٣]

له عمرې کولو وروسته د حج له پاره احرام وينځل

سوال: که حج نه مخکې د تمتع احرام تړلو سره عمره اداکړل شي، (٨) ذوالحجه باندې د احرام وينځل پکار دي يا د وينځلو نه پرته يې استعمالول پکار دي؟

جواب: د تمتع عمره اداکولو نه وروسته د احرام ځادرونه وينځل ضروري نه دي،که چيرته هغه پاک وي، نو هماغه ځادرونو کې احرام تړل کيږي.

که د احرام په حالت کې له غاښونو نه وينه را ووځي، نو څه حکم دی

سوال: زه حج ته روان يم او په احرام کې چې کوم احتياط او اداب دی، په هغو کې يو احتياط دا هم دی چې له کوم ځای نه وينه راونو ځي، زما مسئله داده چې زما د غاښونو نه وينه ځي، خاص طورباندې د ويده کيدو په وخت يا لګيدو سره يادغاښونو صفا کولو په

---

[١] عن ابن عمررضی الله عنهما أنه عليه السلام أهل حين استوت بهراحلته قائمة(فتح القديرج:٢ ص : ٣٤٠)

[٢] إذا حک المحرم رأسه أولحيته فانتثرمنها شعرفعليه صدقة (عالمگيری ج : ١ص : ٢٤٣، کتاب المناسک، الباب الثامن فی الجنايات، الفصل الثالث فی حلق الشعر، وبدائع ج : ٢ص : ١٩٣، کتاب الحج)_

[٣] ولاباس للمحرم أن يحتجم أويفتصد أويجبرالکسراويختتن... الخ (عالمگيری ج : ١ص : ٢٢٤، کتاب المناسک، الباب الرابع فيمايفعله المحرم)

وخت برش یا ګوته ولګیږي، په دې سره هم راووځي. که چیرته د احرام په حالت کې وینه راووځي. نو دهغه څه حکم دی؟

جواب: له دې سره احرام نه خرابیږي. خو کوشش دې وکړل شي چې د احرام په حالت کې برش ونه وهل شي ا[۱]

د احرام په سر باندې لګیدل، بالښت باندې ویده کیدل، په احرام سره د سترګې اوبه صفا کولو احرام باندې اثر او د هغه ازاله

سوال: د روانیدو په وخت دې احرام وتاړه، سترګو کې اوبه راغلې. احرام سره دې صفا کړې. احرام اینښتلو.د سرنه دې کوز کړ، جامه په سرباندې ولګیدله، یوسړی د احرام پیسکې ووهلو. دهغه احرام سرباندې ولګیده، بالښت باندې ویده شو، په مخ باندې یې کپړه ولګیدله. یو صاحب وویل که چیرته سچپه هم ځملې، نوسرلاندې لاس ږده، ددې غلطیو ازاله څنګه وشي؟ تاسو ووایې، ما به د ویده کیدو په وخت کله اخبار کله پلاستک خلته بالښت باندې کیښودله. دا کار زما صحیح و او که غلط؟

جواب: په دې شیانو سره هیڅ نه کیږي، نه ددې د ازالې څه ضرورت شته.[۲]

ایا هرڅل عمرې له پاره احرام وینځل پکاردي

سوال: هرڅل عمرې له پاره احرام وینځل پکاردي یاهماغه احرام دویم، دریم ځل باندې پنځه ورځو وړې پرته له وینځلو نه استعمالولی شي؟

جواب: داحرام څادرونه هرڅل وینځل ضروري نه دي.

د احرام څادرونه له استعمالولو وروسته هرچاته ورکولی شئ

سوال: یا مورډحج نه وروسته احرام چا غریب ته ورکړو،چې هغه یې دخپل ضرورت له پاره استعمال کړي؟

جواب: داحرام څادرونه پخپله باندې هم استعمالولی شئ،اوکه چاته یې ورکول غواړئ نو هم ورکولی یې شئ.

---

[۱] ایضاً _

[۲] لابأس بأن يستظل بالبيت والمحمل .... وكذا لودخل تحت سترالكعبة حتى غطاه والسترلايصيب رأسه ولاوجهه لابأس به (عالمگيری ج : ۱ص : ۲۲۴، كتاب المناسک، الباب الرابع فيما يفعله المحرم بعد الإحرام)

احرام د تولیې (جان پاک) په ځای باندې استعمالول

سوال: احرام (چې د تولیې (جان پاك) د تو کر دی، عام استعمال کې د تولیې (جان پاك)په ځای بندې استعمالېدای شي او که نه؟

جواب: هو، کولی شئ چې استعمال يې کړئ.

د احرام ټوکر وروسته بل ځای کې استعمالول

سوال: حج اوعمرې کې چې کوم ټوکر داحرام په طورباندې استعمالیږي، آیا هغه دعامو جمووپه شان کورکې استعمالیدای شي؟ یعنی تولیه(جان پاك) دجان پاك په ځای او څادرنه قمیص پرتوګ جوړولوسره اغوستل کیږي اوکه نه؟

جواب: داحرام دجامې عام استعمال جائزدی.

❖ طواف ❖

د حرم شریف تحیة المسجد طواف دی

سوال: ایا دعمرې اداکولونه وروسته دمکې مکرمې نه درخصتیدو وخت کې طواف الوداع ضروري دی؟ او ایا عمرې ته تلونکي کس له پاره حرم شریف کې تحیة المسجدنفل کول ضروري دي؟

جواب: طواف الوداع یوازې حج کې واجب دی[1]،عمره کې نه[2]،دحرم شرف تحیة المسجد طواف دی.[3]

طواف نه مخکې سعی کول

سوال: حرمین شریفین کې لمونځ کولوله پاره دښځو دمیاشتني مرض(حیض) بندولوله پاره درمل استعمالول، آیا داعمل له څه کراهت پرته صحیح دی اوکه نه؟

جواب: هیڅ بده خبره نه ده.

سوال: دویمه مسئله داده چې ښځه په خپلوخاصو ورځو(حیض)کې سعې (طواف نه) مخکې

---

[1] وأما واجبات الحج فخمسة : السعي بين الصفا والمروة .... وطواف الصدر (بدائع الصنائع ج: ۲ص: ۱۳۳، كتاب الحج) والطواف الوداع وهو واجب عندنا (فتح القديرج : ۲ ص: ۳۹۷، كتاب الحج)

[2] وأما طواف الصدر فلايجب على المعتمر (بدائع ج :۲ ص : ۲۲۷، كتاب الحج)_

[3] ان تحية هٰذا المسجد بخصوصه هوالطواف (شامي ج : ۲ ص : ۱۷۹، إرشاد الساری ص : ۱۲۶)_

کولی شي او که نه؟ او که نه شي يې کولی، نو عمره به څنګه اداکوي، آيا هغه به د پاکي حالت پورې انتظار کوي آيا احرام به خلاصوي؟

جواب: دې صورت کې سعی د طواف نه مخکې کول صحيح نه دي، پاکيدونه وروسته دې طواف او سعی کولو نه وروسته احرام خلاص کړي او هغه وخت پورې دې احرام کې وي.[۱]

اذان شروع کيدو نه وروسته طواف شروع کول

سوال: ايا اذان شروع کېدو نه وروسته طواف شروع کول جائز دي؟

جواب: که څېرته د اذان او لمونځ په مينځ کې دومره وقفه وي، چې طواف په کې کيږي، نو د اذان په وخت کې طواف شروع کولو کې څه بده خبره نشته.[۲]

بيت الله کې د ماښام د اذان او لمانځه په مينځ کې د طواف دوه رکعته نفل کول

سوال: حرم شريف کې د ماښام له اذان نه وروسته کافی وخت وي، ايا هغه وقفه کې د طواف دوه رکعته نفل يا قضا لمونځ وغيره کيږي او که نه؟

جواب: په هغه وقفه کې د طواف دوه رکعته نفل او د قضا لمونځ صحيح دی.

د طواف په دوران کې تکليف رسول

سوال: ليدل شوي دي چې ځينې خلک د طواف په دوران کې تيز ګرځي او مخې ته راتلونکي ته ديکه ورکولو سره د مخکې تلو کوشش کوي، آيا دا صحيح دی؟

جواب: د طواف دوران کې خلکو ته ديکې ورکول (تيلوهل) ډيره بده خبره ده.[۳]

د طواف په دوران کې د زنا نه وو سره لګېدل

سوال: په طواف کې ښځې بالکل احتياط نه کوي او زمونږ احتياط کولو نه باوجود مخکې وروسته، اخوا ديخوا جنګيږي.

---

[۱] ولوحاضت عند الإحرام أتت بغير الطواف،لقوله عليه السلام لعائشة رضى الله عنها حين حاضت بسرف إفعلی ما يفعل الحاج غيرأن لا تطوفی (بحرالرائق ج:۲ص: ۳۷۰، طبع دارالمعرفة، والدليل لفقه الإسلامی ج: ۳ص : ۱۶۶)

[۲] ولو أقيمت الصلوٰة والرجل يطوف أويسعى يترک الطواف والسعی ويصلی ثم يبنی بعد الفراغ من الصلوٰة (عالمگيری ج:۱ص:۲۲۷ کتاب المناسک، الباب الخامس: فی کيفية أداء الحج، هٰکذا فی فتح القدير)_

[۳] لقوله عليه السلام : وإيذاء المسلم حرام (بدائع ج : ۲ص : ۱۴۶،کتاب الحج، شامی ج : ۲ص:۱۸۰)

جواب: حتی الوسع دې له احتیاط نه کار واخیستل شي

د حجراسود د استلام طریقه

سوال: څه حجاج تو چکر پوره کولونه وروسته د حجراسود استلام کولو سره اووه خله لاسونه اوچتولونه وروسته دویم چکر شروع کوي. ددې له وجې طواف کې بندیز راځي. ایا د هغوی دا عمل صحیح دی؟

جواب: اووه خله لاس اوچتول غلط دي، یو خل استلام کافي دی.

استلام د طواف کولونه مخکې اود طواف د هرچکرنه وروسته د حجراسود ښکلول اوکه چیرته حجراسود ښکلول مشکل وي، نو د حجر اسود طرف ته د لاس اشاره کول او د هغه ښکلول دي[1]

د حجراسود او رکن یماني ښکلول

سوال: مسئله داده چې اکثره خلک د طواف دوران کې لیدل شوي دي چې ښځې او سړي د رکن یماني او حجراسود د ښکلولو ډیرزیات اهتمام کوي او اکثر ددې عمل اداکولو کې ډیر زیات رش له وجې داسې حالت وي چې هغه دبیانولو نه دی، یعنې ښځې او سړي ګډوډ وي او ددې باوجود دا عمل نه پریښودل کیږي. پوښتنه داده چې دا عمل سنت دی او که واجب؟ چې ددې دومره اهتمام کیږي. که چیرته اداکول مشکل وي (یعنې د حجراسود وغیره ښکلول) نو ددې بدل څه دی؟ مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: د حجراسود استلام سنت دی، په دې شرط باندې چې ستاسو د ښکلولو له وجې بل چاته تکلیف نه وي او که چیرته دې کې غوبل جوړیږي او بل مسلمان ته تکلیف رسیږي، نو اداکار کول حرام دی او طواف کې حرام کار کول او نور خلک خطره کې اچول ډیره د کم عقلي خبره ده، که چیرته څوک اساني سره حجراسود ته رسیدای شي، نو هغه دې ښکل کړي، که نه، د لرې نه دې ورته د لاس اشاره وکړي او دا خیال دې وکړي چې ما حجراسود ته لاس یوړو او بیا دې لاسونه ښکل کړي، نو د هغه په ثواب کې به کمی نه راځي. ان شاء الله![2]

---

[1] (ثم ابتدأ بالحجرالأسود (فاستقبله وكبر وهلل) لما روى أن النبى صلى الله عليه وسلم دخل المسجد فابتدأ بالحجرفاستقبله وكبروهلل (ويرفع يديه) أى عند التكبير آفتتاح الطواف لقوله عليه السلام : لاترفع الأيدى إلا فى سبعة مواطن وذكرمن جملتها إستلام الحجر(واستلمه إن استطاع فى غيرأن يؤذى مسلما) يعنى بعد الرفع للآفتتاح والتكبير ....أن يضع يده ويقبله .... الخ فتح القديرج : ۲ ص : ۳۵۳، ۳۵۴، بدائع ج : ۲ص : ۱۴۶، عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۲۵)

[2] الإستلام سنة والتحرزعن أذى المسلم واجب، وإن أمكنه أن يمس الحجرشيئا فى يده أويمسه بيده أويقبل مامس به .. الخ (فتح القديرج : ۲ص : ۳۵۳، ۳۵۴،كتاب الحج بدائع ج : ۲ ص: ۱۴۷، بحرالرائق ج : ۲ص : ۳۲۶)

او د رکن یماني نه ښکلول شته او نه د هغه له طرف ته اشاره، بلکې که چیرته روانه باندې هغه ته لاس یوړل شي، نو صحیح دی. لاس دې ښکلوي هم نه، که نه له اشارې نه پرته دې ترې تیر شي[۱]

د حجراسود توهین

سوال: جناب تاسو نه دیوې مسئلې پوښتنه کول دي، هغه داچې یوه مالداره ښځه حج ته ولاړه، بیرته راتلو سره هغې وویل چې دحج دوران کې خلکو حجراسود څنګه ښکلولو. نو ماته د هغه نه کرکه راغله. ما ښکل نه کړ. دې باره کې دقرآن او حدیث شریف په رڼا کې وفرمایئ چې شریعت کې د داسې ښځې له پاره څه حکم دی، هغه اسلام کې ده او که د اسلام نه خارجه شوه؟

جواب: که چیرته هغې ښځې دحجراسود دبې عزتۍ او توهین کولو له پاره دا خبره کړې وي او دهغې مقصد دحجراسود توهین کول وي او د حجراسود نه ښکلول دنفرت له وجې و، نو دا دکفر کلمه ده [۲] هغې باندې دایمان تجدید کول واجب دي او دخاوند سره دهغې نکاح ماته شوه او که چیرته دهغې اراده داوي، چې حجراسود باندې دخلکو لاړې وغیره پرتې وي او هغه لاړې دنفرت قابل دي او یا دهغې مقصد دکبر له وجې دخلکو توهین کول و، نو دکفر حکم نه دی، خو دا کبیره ګناه ده، هغې ښځې ته توبه کول واجب دي[۳] او که چیرته دهغې ښځې ددې خبرې چې ماته کرکه راغله مطلب داوي چې ښځو او سړیو یوځای حجراسود ښکلولو او ماته حیاء راغله چې په سړیو کې دننه ورشم او حجراسود ښکل کړم، نو دهغې دا کار له څه شک پرته صحیح دی او دیو مسلمان کار او خبرې نه دخپل وس مطابق صحیح مطلب اخیستل پکار دي.

د طواف په هر چکر کې نوې دعا لوستل ضروري نه دي

سوال: طواف کې اووه چکرونه وي، هرچکر کې نوې دعا لوستل ضروري دي او که هریوه دعا لوستل کیدای شي؟

جواب: هرچکر کې نوې دعا لوستل ضروري نه دي، بلکې کومې دعا یا ذکر کې چې خشوع او خضوع زیاته وي، هغه لولئ! حضور ﷺ نه دحجر اسود او رکن یماني په مینځ کې **(ربنا اتنا في الدنيا حسنة)** دعا لوستل نقل شوي دي، دطواف داوو چکرونو کومې دعاګانې چې کتابونو

---

[۱] أما ركن اليمانى فإن استلمه فحسن وإن تركه لم يضره فى قول أبى حنيفة وأبى يوسف رحمهما الله ... الخ (البناية فى شرح الهداية ج : ۵ ص : ۷۷، كتاب الحج، طبع حقانيه ملتان)_

[۲] وفى تتمة الفتاوى : من استخف بالقران ......أوبنحوهما يعظم فى الشرع كفر (شرح فقه أكبر ص : ۲۰۵)

[۳] مايكون كفرا إتفاقا يبطل العمل والنكاح ......وما فيه خلاف يؤمر بالإستغفار والتوبة وتجديد النكاح (درمختار ج: ۴ ص : ۲۴۶ باب المرتد، طبع ایچ ایم سعید)_

کې لیکل شوي دي، دا د حضور ﷺ نه نقل نه دي. له ځینې بزرګانو نه نقل دي، عام خلک خونه دا صحیح طور باندې اداکولی شي او نه د دې د معنی او مفهوم نه خبروي او بیا د طواف په دوران کې یې په چیغو چیغو (زوره زوره) لولي، له دې وجې نورو خلکو ته هم پریشانی وي او ځینې د قرآن مجید تلاوت په تیز (لوړ) اواز کوي، داسې کول هم مناسب نه دي، دریمه کلمه، څلورمه کلمه، درود شریف یا داسې یوه دعا چې هغه زړه ته ښه لګیږي، په ارام باندې لوستل پکار دي.[1]

اضطباع اووه واړه چکرونوکې ده

سوال: ماته چې د کوم کتاب لوستلو موقع هم ملاؤشوې ده، هغه کې ما داسې لیدلي دي چې اضطباع د کوم طواف کې چې اضطباع مسنون ده، پوره طواف یعنې اووه واړو چکرونوکې مسنون ده، خو زموږ د جومات امام صاحب وایي چې د رمل په شان داهم یوازې لومړیو دریې چکرونوکې مسنون ده، هغه ته خلکو وویل چې مسئله غلطه بیانوې، خو هغه په خپله خبره باندې قائم دی، مهرباني وکړئ او ووایئ چې حنفي فقه کې داسې څه روایت شته؟

جواب: مناسک ملاعلي قاري رحمه الله کې لیکلي دي چې اضطباع اووه واړو چکرونوکې مسنون ده[2]، علامه شامي ردالمختارکې لیکي:

وفی شرح اللباب واعلم ان الاضطباع سنة في جميع اشواط الطواف، كماصرح به ابن الضياء.

(ردالمختار ص۴۹۵ ج۲) **ترجمه**: اضطباع په اووه واړو چکرونوکې مسنون ده، لکه څنګه چې ابن ضیاء د دې تصریح کړې ده.

سوال: ماکتابونوکې هم دا لیدلي دي که چیرته یو کس په احرام کې مړشي، نو د غیرمحرم په شان هغه ته کفن ورکول پکار دي، د هغه سر پټ کړئ، کافور او خوشبویي وغیره پرې ولګوئ، خو زموږ د جومات امام صاحب وایي چې د احرام په کپړوکې یې ښخ کړئ! مهرباني وکړئ او ووایئ چې د دې معامله کې حنفي فقه څه وایي؟ ایا په رښتیا باندې سړي له پاره جدا حکم دی او ښځې له پاره جدا؟

جواب: د حنفیه وو په نزد د مرګ له وجې احرام ختم شي، که چیرته یو کس د احرام په حالت کې وفات شي، نو هغه ته د عامو مړیو په شان مسنون کفن ورکول پکار دي، د هغه سر پټول پکار دي

---

[1] عن يحيى بن عبيد عن أبيه أنه سمع عبدالله بن السائب يقول : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : بين الركنين : ربنا اتنا فى الدنيا حسنة وفى الاخرة حسنة و قناعذاب النار (السنن الكبريٰ للبيهقى ج : ٥ ص : ٨۴، شامي ج : ٢ ص: ١٨۴) يكره أن يرفع صوته بالقراء ة ولا بأس بقراء ته فى نفسه ...... وإن الذكر أفضل منها مأثورا أوّلا كما هو مقتضى الاطلاق (شامي ج : ٢ ص :١٨٣، باب الكسوف، طبع سعيد)_

[2] واعلم ان الاضطباع سنة فى جميع أشواط الطواف كما صرح به ابن الضياء (مناسک لملاعلى القارى ص:٨٨)

او خوشبويي ورباندې لګول پکار دي[۱] داجداخبره ده چې دقيامت په ورځ به هغه داحرام په حالت کې راپاڅولی شي.[۲]

د طواف څوارلس چکرونه کول

سوال: مور عمرې ته لاړو اود طواف داووه چکرونوپه ځای موڅوارلس چکرونه وکړل، له دې وروسته موسعي وکړه، ايا داعمل صحيح دی؟

جواب: طواف خو اووه چکرونه دي، تاسومسلسل دوه طوافونه وکړل، داسې کول مناسب نه و، خو دې باندې کفاره ياجرمانه نه شته، خو ستاسوپه ذمه باندې ددوو طوافونو دوه رکعته لازم شول، يعنې څلور رکعتونه، که چيرته تاسونه وي کړي، نواوس يې وکړئ![۳]

د بيت الله شريف ديوال ښکلول مکروه او د ادب خلاف دي

سوال: دبيت الله ديوال ښکلول څنګه دي اوکه چاښکل کړ، نوګناهګاردی اوکه نه؟

جواب: يوازې حجراسودښکلول کيدای شي،له دې نه پرته بل ځای ښکلول مکروه اوادب خلاف دي.[۴]

د عمرې د طواف يوچکر که چيرته حطيم کې د ننه وکړل شي، نودم واجب دی

سوال: زه اوزمادوست يو کال حج ته تلي وو، مورږ قِران احرام تړلی وو، کله چې مورږ دعمرې طواف کولو، نوخلک ډيرزيات وو، له دې وجې مورږ په دريم ياڅلورم چکرکې په حطيم کې دننه تيرشو، مخکې مورږته معلومه نه وه، خوکله چې دحطيم نه بل طرف ته ووتو، نومورږته معلومه

---

[۱] والمحرم وغير المحرم فی ذالک سواء يطيب ويغطی وجهه ورأسه......... هٰکذا فی المحيط (عالمگيری ج:۱ ص: ۱۶۱، کتاب الصلاة، الباب الحادی والعشرون فی الجنائز، الفصل الثالث فی التکفين)_

[۲] عن جابر بن عبدالله قال : سمعت النبی صلی الله عليه وسلم يقول : يبعث کل عبد علی ما مات عليه وعن ابن عباس أن رجلا کان مع رسول الله صلی الله عليه وسلم محرما فوقصته ناقته فمات، فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم :اغسلوه بماء وسدر وکفنوه فی ثوبه ولاتمسوه بطيب ولاتخمروا رأسه فإنه يبعث يوم القيامة ملبيا، وفی رواية : ملبها أخرجه البخاری (التذکرة ص:۲۱۱ فی أحوال الموتٰی وامور الاخرة)_

[۳] (ثمانية أشواط) أی بزيادة واحدة علی سبعة (إن کان) أی الطائف حين فی شرع فی هٰذا الشوط(علی ظن ان الثامن سابع فلا شيء عليه کالمظنون) (إرشاد الساری ص:۱۱۳، طبع دار الفکر، بيروت) فعليه لکل اسبوع رکعتان علی حدتين فی ضمن فرض أو سنة (إرشاد الساری ص:۱۱۳)_

[۴] (قوله ويکره إستلام غيرهما) وهو الرکن العراقی والشامی لأنهما ليسا رکنين حقيقة بل فی وسط البيت لأن بعض الحطيم فی البيت (بحرالرائق ج:۲ ص:۳۳۰، کتاب الحج)_

شوه، له دې وجې زموږ دا چکر نامکمل شو، خو موږ دا چکر بيا ونه کړ، هغه وخت موخبره د ذهن نه ووتله، اوس دې باره کې ماته څه تسلي بخش خواب نه ملاويږي، موږ ډير چکرونه وهلي دي، نوفرض خواداشو، اوس که چيرته د عمرې هريوچکر واجب دی، نوواجب پاتې شو، دم به راځي او د قران له پاره دوه دم دي.

په هر حال دا تحقيق ستاسو دی، چې ما باندې دم واجب دی او که نه؟ او که چيرته دی، نو د ادا کولو يې څه صورت دی؟ اميد ساتم چې زر ترزره به جواب راکړئ، الله تعالى دې ستاسو فيض تړول عمر جاري ساتي. امين!

جواب: تاسو او ستاسو په دوست باندې د عمرې يو طواف نه مکمل کولو له وجې يو يو دم واجب دی[1]، د قران باره کې چې کوم اصول دي چې دې کې دوه دم وي، هغه دلته نه جاري کيږي، د دم ادا کولو صورت دا دی چې څوک مکې مکرمې ته ځي تاسو هغه ته د ومره پيسې ورکړئ چې هغو باندې يو چيلی اخيستل کيږي، هغه صاحب دې چيلی واخلي او د حرم حدودو کې دې هغه حلال کړي، او غوښه دې فقيرانو او مسکينانو باندې تقسيم کړي، غنيان او مالدار خلک دې هغه غوښه نه خوري.

مقام ابراهيم باندې د طواف لمونځ ادا کول

سوال: ځيني خلک د دې باوجود چې خلک ډير زيات وي، مقام ابراهيم باندې واجب الطواف لمونځ ادا کول شروع کړي، د هغه له وجې د هغوی د زخمي کيدو ويره وي او د ضعيفانو او ښځو د زخمي کيدو ويره هم وي، ايا دا لمونځ درش نه يو طرف ته کيدو سره نه شي ادا کيدای؟

جواب: ضرور کيدای شي او که چيرته مقام ابراهيم باندې خپل ځان ته يا بل چا ته د تکليف رسيدو ويره وي، نو مقام ابراهيم باندې دې لمونځ نه کوي، ځکه چې چا ته تکليف رسول حرام دي.[2]

ايا د طواف دوه رکعته نفل مقام ابراهيم باندې کول ضروري دي

سوال: د طواف اخر کې چې کوم دوه رکعته نفل ادا کيږي، ايا هغه مقام ابراهيم کې ادا کول ضروري دي او که نه؟ او چيرته چت (بام) وغيره باندې ادا کيدای شي او که نه؟

---

[1] ولو طاف فى داخل الحجر فعليه أن يعيد لأن الحطيم لما كان من البيت فإذا طاف فى داخل الحطيم فقد ترک الطواف ببعض البيت والمفروض هو الطواف بكل البيت لقوله تعالى :(وليطوفو بالبيت العتيق)والأفضل أن يعيد الطواف ... ولو لم يعد حتى عاد إلى أهله يجب عليه الدم لأن الحطيم ربع البيت فقد ترک من طوافه ربعه (بدائع ج:۲ ص:۱۳۲،کتاب الحج، عالمگيرى ج:۱ ص:۲۲۵، کتاب المناسک)_

[2] وإذا فرغ من الطواف يأتى مقام إبراهيم عليه السلام ويصلى ركعتين وإن لم يقدر على الصلوة فى المقام بسبب المزاحمة يصلى حيث...إلخ(عالمگيرى ج: ۱ ص:۲۲۶، کتاب المناسک) ثم يأتى المقام (أى مقام إبراهيم عليه السلام) فيصلى عنده ركعتين أو حيث تيسر (هداية ج:۱ ص:۲۲۲، کتاب الحج)_

جواب: كه ځاى وي، نومقام ابراهيم باندې اداكول يې غوره دي، يا حطيم كې كه ګنجائش وي نوهلته كول پكاردي. كه نه، هرځاى كې كيداى شي، بلكې دحرم شريف نه بهركه خپل كور كې هم وشي، نوبيا هم جائزدى،څه كراهت پكې نه شته.[۱]

د هرطواف دوه نفل په غيرممنوع وخت كې اداكول

سوال: دبيت الله شريف دطواف نه وروسته دوه ركعته نفل(واجب الطواف) ممنوع وخت دسهار لمر راختلو پورې اودماښام دمازيګرنه دمغرب پورې) كول پكاردي اوكه نه؟ ډيرعالمان وايي چې ددې نفلوممنوع وختونه نه شته، داهروخت كيداى شي اوځه عالمان وايي چې دمنع شويو وختونونه وروسته كول پكاردي،كه چيرته دمنع شويو وختونو نه وروسته وكړل شي، نوهغه وخت كې چې هرڅومره طوافونه وشي، دهغو ټولوله پاره يوځل دوه نفل وكړل شي يادوه دوه نفل دهريوطواف له پاره جداجدا كول پكاردي؟

جواب: دامام ابوحنيفهرحمه الله په نزدباندې منع شويو وختونو كې (يعني دمازيګرنه وروسته تر ماښام پورې اودسهارنه وروسته تر اشراق پورې او د زوال وخت كې) دطواف دوه ركعته نفل اداكول جائزنه دي، دې دوران كې چې هرڅومره طوافونه شوي وي، دمكروه وخت ختميدونه وروسته دهغو له پاره دوه دوه ركعته جداجدا اداكړئ.[۲]

د طواف دوران كې كه اودس مات شي نوڅه وكړي

سوال: دطواف دوران كې يادحج دنورو اركان اداكولووخت كې كه چيرته اودس مات شي، نو ايا په دويم ځل باندې اودس كولوسره به اركان اداكول وي، عرفات كې دقيام دوران كې ياسعي كولووخت كې؟ مهرباني وكړئ تفصيل سره جواب راكړئ!

جواب: طواف له پاره اودس شرط دى،كه چيرته دطواف دوران كې اودس مات شي، نوپه دويم ځل باندې طواف كول پكاردي اوكه چيرته څلور يا پنځه چكرونه پوره كړي وي، نواودس كولوسره دې پاتې چكرونه پوره كړي،كه نه. بيادې دشروع نه طواف وكړي[۳]، البته دسعي

---

[۱] وإذا فرغ من الطواف يأتي مقام إبراهيم عليه السلام ويصلي ركعتين وإن لم يقدر على الصلوٰة فى المقام بسبب المزاحمة يصلي حيث لا يعسر عليه من المسجد كذا فى الظهيرية وإن صلّى فى غير المسجد جاز كذا فى فتاوى قاضيخان (عالمگيرى ج:۱ ص:۲۲۶، فتح القدير ج:۲ ص:۳۵۹، بحرالرائق ج:۲ ص:۳۲۱)_

[۲] ولو صلاها فى وقت مكروه قيل صحت مع الكراهة ويجب قطعهافإن مضىٰ فيها فالأحب أن يعيدها لباب ...... لا تنعقد فى ثلاثة من الأوقات المنهية أعنى الطلوع والإستواء والغروب ...إلخ(شامي ج:۲ ص:۱۸۴) (ولا يصلي فى وقت مكروه) أى للفرائض والنوافل لأئمتنا(إرشاد السارى ص:۶۸)_

[۳] إلا أنه يشترط أن يكون الطواف على الطهارة عن الجنابة والحيض،لأن السعى مرتب عليه ومن توابعه، والطواف مع الجنابة والحيض لا يعتد به حق إعادته ...إلخ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دوران کې اودس شرط نه دی، که چیرته له اوداسه پرته سعي وکړل شي. نوادا به شي، همدغه حکم دعرفات دقیام باره کې هم دی [۱]

که په طواف کې باربار اودس مات شي، نو باید څه وکړل شي

سوال: مسئله داده چې زه د شوګر مریضه یمه. د ګیس له وجې زما اودس نه ټینګیږي. د لمونځ له پاره زه هروخت تازه اودس کوم. د طواف په دوران کې که چیرته داسې باربار اودس مات شي، نو زما طواف کیږي؟

جواب: کوشش وکړه چې تاسو طواف په اوداسه وکړئ او که چیرته د څلورو چکرو نه وروسته اودس مات شي، نو په دویم ځل اودس کولوسره پاتې چکرې پوره کړه اود یو ډاکټر نه دوا واخله چې په هغې سره ستا اودس نه ماتیږي او که چیرته په یو حالت کې هم ستا اودس نه ټینګیږي، نو تاسو معذوره یئ.[۲]

د عمرې د طواف کولو دوران کې که انجیلی ته میاشنتی ناروغي (حیض) راشي، هغه څه وکړي

سوال: یوه انجیلۍ دخپل مورپلارسره عمرې اودمدینې منورې زیارت له پاره روانه شوه، دتلووخت کې ماشومه دبلوغ زماني ته نه وه رسیدلې، دهغې عمرتقریبا دولس کاله و. مکې مکرمې ته رسیدو سره هغې دعمرې طواف وکړ اوبیایې سعې وکړه اودسعې نه وروسته ماشومې خپلې مورته دحیض راتلواطلاع دناواقفیت له وجې ډیر دپریشاني په حالت کې ورکړه، مورترې پوښتنه وکړه، چې دا دکله نه شروع شوې ده؟ هغې ورته وویل چې دطواف دوران کې شروع شوې ده، هغې دحیض په حالت کې دطواف زیاته برخه اداکړه اوبیایې هماغه حالت کې سعې هم وکړه، داسې صورت کې هغې ماشومې باندې ددې کارکوم چې دبې خبرې په حالت کې وشو، څه شی واجب شو؟ اوکه واجب وي، نودڅه شي اداکول واجب دي؟

...بقیه د تیرمخ]... (بدائع ج:۲ ص:۱۳۵، فتح القدیر ج:۲ ص:۴۵۸) عن عائشة رضی الله عنها، ان اول شيء بدا به حين قدم مكة أن توضأ ثم طاف بالبيت (السنن الكبريٰ للبيهقى ج:۵ ص:۸۶، البحر الرائق ج:۱ ص:۱۹۷)_

[۱] وإن سعى جنبا أوحائضا أو نفساء فسعيه صحيح (هندية ج:۱ ص:۲۴۷ طبع رشيديه)_

[۲] والمستحاضة ومن به سلس البول ......يتوضؤن لوقت كل صلاة ... وكذا كل من هو فى معناها وهو من ذكرناه ومن به إستطلاق البطن وانفلات ريح لأن الضرورة بهٰذا يتحقق وهى نعم الكل (هداية، كتاب الطهارة ص:۵۰ تا ۵۲)

جواب: هغې ته پکار و چې د عمرې احرام یې نه خلاصولی، بلکې د پاکیدو نه وروسته به یې بیا طواف او سعې کړې وه، په هرحال چونکې هغې احرام د نابالغې په حالت کې تړلی و له دې وجې هغې باندې د جنابت دم نه شته. مناسک ملاعلي قاري رحمه الله کې دي:

(وان ارتكب) اى الصبي شيئاً من المحظورات (لاشئ عليه) اى ولو بعد بلوغة لعدم تكليفه قبله (ص ۴۹)

ماشوم که چیرته د احرام په منع شویو کارونوکې یو کار وکړ، نو د هغه په ذمه باندې څه نه شته، که څه هم له بلوغ نه وروسته وي، ځکه چې هغه د دې نه مخکې مکلف نه و.

معذور کس له طواف او دوه رکعتو سره څه وکړي

سوال: معذور کس له پاره د طواف نه وروسته دوه رکعته نفل کول څنګه دي؟

جواب: څنګه چې فرض لمونځ کوي هغه شان دې د طواف دوه رکعته هم وکړي، یعني ولاړه باندې، که چیرته د هغه طاقت نه وي، نو بیا دې ناسته باندې وکړي[1] او طواف دې پخپله یا د چا په مرسته باندې وکړي، یا ډولۍ کې څنګه چې عام طور باندې یې هلته معذور خلک کوي.[2]

د آب زم زم څښلو طریقه

سوال: د آب زم زم باره کې حدیث شریف کې حکم دی چې په ولاړه باندې یې څښل پکار دي، پوښتنه داده چې ایا دا حکم یوازې د حج او عمرې اداکولو په وخت کې دی او بل وخت او بل ځای کې په ولاړه باندې قبلې طرف ته مخ کولو سره څښل پکار دي، یا د قبلې طرف ته د مخ کولو پابندي نه شته؟ ځکه چې کله حاجیان د ځان سره آب زم زم وړي، نو هلته یې هم ځینې خلک په ولاړه باندې څښي او ځینې یې په ناسته څښي.

جواب: اب زم زم په ولاړه باندې قبلې طرف ته مخ کولو سره څښل مستحب دي، د حج او عمرې له پاره خاص نه دی.[3]

---

[1] تعذر عليه القيام أو خاف زيادة المرض صلى قاعدا يركع ويسجد (بحر الرائق ج:۲ ص:۱۱۲، عالمگیری ج:۱ ص:۱۳۶)

[2] ان طاؤسا اخبره ان رسول الله صلى الله عليه وسلم مر وهو يطوف بالكعبة برجل يقود رجلا......ثم أمره ان يقوده بيده (السنن الكبرى للبيهقي ج:۵ ص:۸۸ و ۹۹، عالمگیری ج:۱ ص:۲۳۶)۔

[3] عن ابن عباس رضى الله عنهما ان النبي رسول الله صلى الله عليه وسلم شرب من زمزم وهو قائم (ترمذی ج: ۲ ص:۱۰) وعن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده قال: رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم يشرب قائما وقاعدا هذا حديث حسن صحيح (ترمذی ج:۲ ص:۱۰) وكيفيته ان ياتي زمزم فيستقى بنفسه الماء

❖ د حج اعمال ❖

د حج په ورځوکې نوروته تلبيه ويل

سوال: دحج په ورځوکې ځينې خلک ليدل شوي دي چې موټر کې ناست يوکس تلبيه لولي اونور دهغه تکرارکوي، اياداجائزدي؟

جواب: که چيرته دعوامو خلکو داساني له پاره داسې کوي، نودې کې هيڅ خبره نه شته، که نه، اواز يوځای کولو سره تلبيه لوستل نه دي پکار.[1]

بې تعليمه مورو پلار باندې حج څنګه وکړل شي

سوال: زيدحج کول غواړي اوله ځان سره په خپل موراوپلارباندې هم حج کول غواړي، خومور و پلاريې بالکل بې تعليمه دي، سورة فاتحه هم ورته صحيح نه ورځي، دکوشش باوجوديې نه شي زده کولی، ايادې صورت کې زيد دځان سره خپل مورو پلار بوولی شي؟ حج يوازې دنوم له پاره خونه وي. مهرباني وکړئ تفصيل باندې موږوه کړئ!

جواب: حج کې تلبيه لوستل فرض دي اوددې نه پرته احرام نه شي تړل کيدای[2] هغوی ته تلبيه ښودل پکاردي، دهغوی حج به اداشي او که چيرته هغوی دتلبيه الفاظ نه شي يادولی، نوکم نه کم دومره خو کېدای شي چې داحرام تړلووخت کې هغوی باندې دتلبيه الفاظ وويل شي اوهغوی به يې تاسوسره ووايئ، همدغه شان به دتلبې فرض اداشي.[3]

فيشربه مستقبل القبلة (عالمگيرى ج:١ س:٢٣٠، شامى ج:١ ص:٩٥ طبع مكتبه رشيديه كوئته) أيضا قوله شرب من ماء زمزم أى قائما مستقبلا القبلة...إلخ (شامى ج:٢ ص:٥٢۴)

[1] (وإذا كانوا جماعة) وأقلها هنااثنان ولذا قال (لا يمشى أحد على تلبية الاخر) لأنه يشوش الخواطر، ويفوت كمال سمع الحاضر (بل كل إنسان يلبى بنفسه) أى منفرد بصوته (دون أن يمشى على صوت غيره) أى على وجه المعية لا الشبهية...إلخ (المسلک المتقسط فى المنسک المتوسط ص:٧١ طبع دار الفكر بيروت، أيضا غنية الناسک، باب الإحرام ص:٧۶)_

[2] فصل وشرط التلبية أن تكون باللسان ... والتلبية مرة فرض وهو عند الشروع لا غير...إلخ (المسلک المتقسط فى المنسک المتوسط ص:٧١) أما فرائض الحج ...... فثلاث :الأول الإحرام قبل الوقوف بعرفة ......واية ثبوت هذا المعنى نية إلتزام نسک مع التلبية، أو ما يقوم مقامها كذا فى الفتح فله فرضان : النية والتلبية أو ما يقوم مقامها من الذكر (غنيةالناسک، باب فرائض الحج ص:۴۴)_

[3] ولو كان مكان التلبية تسبيح أو تحميد أو تحليل ...... وما أشبه ذٰلک ونوىٰ به الإحرام صار محرما سواء كان يحسن التلبية أو لا يحسنها بالإجماع وكذا إذا أتى بلسان اخر أجزاه سواء كان يحسن العربية أو لا يحسنها كذا فى شرح الطحاوى (فتاوى عالمگيرى، كتاب الحج، الباب الثالث فى الإحرام، ج:١ ص:٢٢٢،أيضا غنية الناسک ص:٧۶ طبع إدارة القرآن)_

حرم او د حرم نه د بهر صفونو شرعي حکم

سوال: حرم کې او د حرم نه بهر د لمانځه د صفونو باره کې څه حکم دی؟ حرم کې هم د صفونو په مینځ کې ښه فاصله وي او حرم کې د خالي ځاى باوجود بهر هم لمونځ کیږي، د حرم نه بهر درې څلورسوو ګزه بلکې زیاتې فاصلې پورې صف نه وي. په سرنګ مسفله (لاندې سورې) کې صفونه قائم کړل شي، ایا دغو صفونو کې شاملیدو سره لمونځ اداکیږي؟

جواب: حرم شریف کې که چیرته د صفونو په مینځ کې فاصله وي، نو بیا به هم لمونځ اداشي[1]، او د حرم شریف نه بهر که چیرته صفونه نژدې وي، نو لمونځ صحیح دی او که چیرته مینځ کې سرک وي یا ډیره فاصله وي، نو بیا لمونځ صحیح نه دی.[2]

کومو خلکو ته چې د حج دعاګانې یادې نه وي، هغوی څه وکړي

سوال: څوک چې د حج د ارکانو دعاګانې نه شي یادولی . د هغوی له پاره څه حکم دی؟

جواب: دعاګانې یې چې یاد نه وي، نو کومې دعاګانې چې ورته یادې وي هغه دې وایي.

ایا ښځو ته حرم شریف او مسجد نبوي ته تلل جائز دي

سوال: جوماتو ته خو د ښځو داخلیدل ممنوع دي، حالانکې ښځې په حج او عمره کې مسجد نبوي او حرم شریف ته ځي، حالانکې عامو جوماتونو ته نه ځي، د دې څه وجه ده؟

جواب: غوره داده چې حرم شریف او مسجد نبوی ته دې هم نه ځي،په کور کې دې لمونځ کوي. [3]

د حج په دوران کې د ښځې او خاوند خفګان

سوال: یو سړي حج ته د روانیدو نه مخکې خپله ښځه د هغې د مور او پلار کور ته بوتله،خو ښځه د خپلې مور او د ورونو په وینا باندې د خاوند سره بیرته خپل کورته د تللو نه انکاري

---

[1] فإن المسجد مكان واحد ولذا لم يعتبر فيه الفصل بالخلاء إلا إذا كان المسجد كبيرا جدا (ردالمحتار ج:١ص:٥٨٦)

[2] إذا كان بين الإمام وبين المقتدى طريق إن كان ضيّقا لايمر فيه العجلة لايمنع، وإن كان واسعا يمر فيه العجلة يمنع إذا لم تكن الصفوف متصلة على الطريق أما إذا اتصلت الصفوف لايمنع الإقتداء (عالمگيرى ج :١ص: ٨٧) أيضا : وعند إتصال الصفوف يصير المكان واحدا حكما فلا يمنع كمامر (رد المحتار ج : ١ص : ٥٨٦)_

[3] صلاة المرأة في بيتها خير من صلاتها في حجرتها، وصلاتها في حجرتها خير من صلاتها في دارها وصلاتها في دارها خير من صلاتها خارج (طس عن أم سلمة، كنز العمال ج : ٧ رقم : ٢٠٨٦٩) خير مساجد النساء قعر بيوتهن (ج : ٧ رقم : ٢٠٨٦٨)

شوه. د ښځې مور يې دهغې خاوند ته وويل چې تاسو سامان يوسئ، زما لور به ورونو سره ائيرپورټ ته درشي. خاوند خفه کېدو سره لاړ. ښځه دخپلو ورونو سره کراچۍ ته راغله،خو د خاوند خفګان برقراره و. سعودي عرب کې خاوند د ښځې سره ښه سلوک وکړ. رهائش، سفر کې يې هرقسمه خيال وساته، خودهغه په زړه کې د ښځې له پاره خفګان برقراره و، په دې حالت کې د ښځې حج قبليږي اوکه نه؟

جواب: د ښځې دا رويه د شريعت خلاف ده اود خاوند د خفګان له وجې هغه ګناهګاره ده، دحج فرضيت خو ادا شو. مګر د برکاتو نه دمحرومه کېدو خطره ده. [۱]

د حج دوران کې د ښځو له پاره حکمونه

سوال: زما سږ کال دحج کولواراده ده، خوزه دې خبرې باندې پريشانه يم که چيرته دحج دوران کې دښځوخاصه ناروغي (حيض) شروع شي، نوڅه کول پکاردي؟ اومسجدنبوي ﷺ کې دڅلويښتو لمونځونو حکم دی،که چيرته دغه دوران کې حيض شروع شي، نوڅه کول پکاردي؟

جواب: ستاسوپريشاني دمسئلې دنه معلوميدوله وجې ده، دحج په کارونوکې دبيت الله شريف دطواف نه پرته بل يوشی هم داسې نه شته، چې هغو کې دښځو دحيض ورځو کې بنديز وي. که چيرته دحج ياعمرې احرام تړلونه مخکې حيض شروع شي، نوښځه دې اودس ياغسل کولوسره دحج احرام وتړي[۲]، داحرام تړلونه مخکې چې کوم دوه رکعته نفل کيږي، هغه دې نه کوي. حاجي له پاره مکې مکرمې ته رسيدوسره لومړی طواف (چې طواف قدوم ورته ويل کيږي) سنت دی،که چيرته ښځه دحيض په ورځوکې وي، نوداطواف دې پرېږدي، منی ته تلونه مخکې که چيرته پاکه شوې وي، نوطواف دې وکړي،که نه، ضرورت نه شته اونه هغې باندې ددې کفاره لازم ده.[۳]

---

[۱] وأما ادابه.... يبدأ بالتوبة وإخلاص النية واستحلال من خصومه ومن كل عامله (عالمگيرى ج:۱ص:۲۱۹)

[۲] مالک عن نافع أن عبدالله بن عمركان يقول : المرأة الحائض التى تهل بالحج أوالعمرة انها تسهل بحجها أوعمرتها إذا أرادت ولكن لاتطوف بالبيت ولابين الصفاوالمروة وهى تشهد المناسک كلهامع الناس غيرانها لا تطوف بالبيت ولابين الصفا والمروة ولاتقرب المسجد حتى تطهر (مؤطاإمام مالک ص : ۳۵۲ طبع ميرمحمد كتب خانه) أيضا : وإذا حاضت عند الإحرام اغتسلت وأحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غيرانها لا تطوف بالبيت حتى تطهر. لحديث عائشة رضى الله عنها حين حاضت بسرف، ولأن الطواف فى المسجد والوقوف فى المفازة وهٰذ الإغتسال للإحرام لاللصلوٰة فيكون مفيدا(الهداية مع فتح القدير،كتاب الحج،قبيل باب الجنايات ج:۲ص:۲۲۲ تا ۲۲۴)_

[۳] (ولوتركه) أى طواف القدوم (كله فلاشيء عليه لأنه ليس بواجب إلا أنه كره ... الخ (المسلک المتقسط ص: ۲۳۶) أيضا : ويسقط طواف القدوم عمن وقف بعرفة قبل دخول...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دويم طواف په لسم تاريخ باندې چې كوم طواف كيږي. هغه ته طواف زيارت ويل كيږي، دا دحج فرض دى. كه چيرته ښځه دې دوران كې په خاصو ورځو (حيض) كې وي. نو دا طواف دې وروسته كړي، پاكيدو نه وروسته دې طواف وكړي[1]

دريم طواف د مكې مكرمې نه د رخصتېدو په وخت كې كيږي. دا واجب دى. خو كه چيرته دې دوران كې ښځه خاصو ورځو (حيض) كې وي. نو دا طواف دې پريږدي. له دې وجې دا واجب ساقطيږي[2].

پاتې منى، عرفات او مزدلفه كې چې كوم كارونه كيږي، هغو له پاره د ښځې پاكيدل ضروري نه دي[3] او كه چيرته ښځې د عمرې احرام تړلى وي، نو د پاكېدو پورې دې د عمرې طواف او سعي نه كوي او كه چيرته دې صورت كې هغې ته د عمرې د افعالو ادا كولو موقع ملاو نه شوه، چې كله منى ته د روانيدو وخت راغى، نو د عمرې احرام دې خلاص كړي او د حج احرام دې وتړي او كومه عمره يې چې ماته كړه، د هغې په ځاي دې بيا وروسته عمره ادا كړي.[4]

...بقيه د تيرمخ]..مكة ولاشيء عليه بتركه أو لايجب عليه شيء بترك السنة (شرح الوقاية ج:١ص:٢٦٧)

[1] وأما طواف الإفاضة أو الزيارة فهو ركن باتفاق الفقهاء، لايتم الحج إلا به لقوله عزوجل : وليطوفوا بالبيت العتيق قال ابن عبد البر: هومن فرائض الحج لاخلاف فى ذلك بين العلماء (الفقه الإسلامى وأدلته ج :٣ ص : ١٤٦) أيضا : ولوحاضت فى وقت تقدر على أقل من ذلك لم يلزمها شيء ..... فقولهم أى مجملا (لاشيء على الحائض وكذا النفساء لتأخيرالطواف أى طواف الزيارة كما فى الفتاوى السراجية وغيرها مقيد بما إذا حاضت فى وقت لم تقدرعلى أكثرالطواف أى قبل الحيض ..... إلخ (المسلك المتقسط فى المنسك المتوسط ص : ٢٣٥)_

[2] وأماطواف الوداع لمن أراد الخروج من مكة ...... وواجب عند باقى المذاهب (غيرالمالكية) يجبرتركه بدم لما قال ابن عباس : أمرالناس أن يكون اخرعهدهم بالبيت إلاأنه خفف عن الحائض ...... وأخرج الترمذى عن عمر: من حج البيت فليكن اخرعهده بالبيت،إلا الحيض، ورخص لهن رسول الله صلى الله عليه وسلم وليس فى سقوطه عن المعذورمايجوزسقوطه لغيره كالصلاة تسقط عن الحائض، وتجب على غيرها، بل تخصيص الحائض بإسقاطه عنها دليل على وجوبه على غيرها (الفقه الإسلامى وأدلته، الحج والعمرة ج : ٣ ص : ١٤٧) أيضا : فمن أهم شرائط الوجوب إثنان .... ٢- الطهارة من الحيض والنفاس فلا تجب على الحائض والنفساء، ولايجب عليهماالدم بتركه للحديث السابق ..... الخ (أيضا ج : ٣ص : ١٤٨)_

[3] حج المرأة الحائض : إذا حاضت المراة أونفست عند الإحرام اغتسلت للإحرام واحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غيرانها لا تطوف بالبيت حتى تطهر... الخ (الفقه الإسلامى وأدلته، الحج والعمرة ج:٣ ص: ١٦٢) أيضا : وفى المؤطا لمالك ص:٣٥٢(طبع ميرمحمد) وهى (أى المرأة الحائض تشهد المناسك كلها مع الناس غيرانها لاتطوف بالبيت)

[4] إذا حاضت المرأة عند الإحرام صنعت كما يصنع الحاج غير انها لا تطوف بالبيت ترفض العمرة وتهل بالحج (الفقه الإسلامى وأدلته، ج : ٣ ص : ١٦٣،١٦٤)_

مسجدنبوي ﷺ کې څلويښت لمونځونه کول دسړيوله پاره مستحب دي، دښځوله پاره نه. ښځوله پاره په مکه مکرمه اومدينه منوره کې لمونځونه کورکې کول غوره دي اوهغوی ته به د سړيو برابرثواب ورکول کيږي[1]

د ښځې له پاره نري ټيکري په سرکولو سره حرمين شريفين ته راتلل

سوال: زموږ ځينې خويندې په حرمين شريفين کې ليدل شوي دي چې حرم ته لمونځ له پاره داسې حال کې راځي چې نرۍ لوپټه (ټيکرۍ) په سر کولوسره بې پردې وي. دغه حال کې لمونځ اوطواف وغيره کوي،کله چې هغوی ته وويل شي چې دامنع دي، نوهغوی وايي چې دلته هيڅ هم منع نه شته. الله تعالی زړونوته ګوري، نوپوښتنه داده چې ايا هلته پرده نه شته، ايا هلته داسې لمونځ اوطواف اداکيږي،چې هلته ويښته ښکاري؟

جواب: ستاسودسوال په جواب کې ديوڅومسئلومعلومول ضروري دي:

لومړی: دښځې له پاره داسې جامې اغوستلوسره بهر وتل حرام دي، چې هغوکې يې بدن ښکاري ياپې ويښته ښکاري.[2]

دويمه: داسې نرۍ لوپټه (ټيکري)کې لمونځ نه کيږي، چې هغه کې ويښته ښکاري.[3]

دريمه: مکې اومديني ته تلوسره عامې ښځې دجمعې سره لمونځ اداکوي اومسجدنبوي ﷺ کې څلويښت لمونځونه اداکول ضروري ګڼي، دې مسئله باندې ځان پوهول پکاردي، چې حرمين شريفين کې دجمعې سره دلمونځ فضيلت يوازې دسړيوله پاره دی، ښځو له پاره هلته هم لمونځ کورکې داداکولوحکم دی اوکورکې يې لمونځ کول په جومات کې دجمعې سره لمونځ کولونه غوره دی، لږشان غوروکړئ،کله چې حضور ﷺ په خپله باندې لمونځ ورکاو، هغه وخت کې يې دافرمايل چې دښځې کورکې لمونځ کول په جومات کې دجمعې سره لمونځ کولونه غوره دي، په کوم لمونځ کې چې حضور ﷺ امام اوصحابه کرام رضي الله عنهم مقتديان وي،کله چې دهغې جمعې په ځای دښځې کورکې لمونځ کول غوره وي، نودنن جمعې دښځې له پاره څنګه غوره کېدای شي؟ مقصدداچې مکې مکرمې اومدينې منورې ته تلوسره ښځوته خپلو

---

[1] عن عبدالله بن عباس رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال:صلوٰة المرأة فى بيتها أفضل من صلاتها فى حجرتها،وصلاتها فى مخدعها أفضل من صلاتها فى بيتها(ابوداؤد،باب التشديدفى خروج النساء الى المسجدج:١ ص:٨٤)

[2] (يدنين عليهن من جلابيبهن) قال أبوبكر فى هٰذا الاية دلالة على أن المرأة الشابة مأمورة بستر وجهها عن الأجنبيين وإظهار الستر والعفاف عند الخروج (أحكام القران للجصاص ج:٣ ص : ٣٧٢)_

[3] والثوب الرقيق الذى يصف ماتحته لاتجوزالصلاة بالإجماع(عالمگيرى ج:١ص:٥٨)عن ابن عمررضى الله عنهما قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:لاتمنعوا نسائكم المساجد، وبيوتهن خيرلهن (أبوداؤد ج:١ص:٨٤)

کورونوکې لمونځ اداکول پکاردي اودکورلمونځ هغوی له پاره دحرم دلمانځه نه غوره دی،حرم شریف ته دطواف کولوله پاره ورتله راتلل پکاردي[۱]

د حج په مبارک سفرکې دښځوله پاره پرده

سوال: اکثرليدل شوي دي چې دحج په سفرکې دځلويښتو حاجيانو يو ګروپ وي، هغه کې محرم اونامحرم ټول وي، داسې مبارک سفرکې بې پردې ښځې خوپريږده پرده دارې ښځې هم دپردې کولواهتمام نه کوي، کله چې هغوی ته دپردې کولووويل شي، نو دا جواب ورکوي چې دې مبارک سفرکې دپردې کولوضرورت نه شته او مجبوري هم ده، داهم ليدل شوي دي چې حرم کې ښځې دلمونځ اوطواف له پاره نرۍ جامې اغوندي اودغه شان دحجراسودپه ښکلولوکې د برخې اخيستو کوشش کوي، پوښتنه داده، چې ايا دمجبوري په داسې حال کې دشريعت په نزدباندې پرده کولو کې څه رعايت شته؟ پکارخوداو چې داسې مبارک سفرکې د حرامونه ځان وساتل شي،چې حج قبول شي، داسې جامې اغوستلو سره طواف اولمونځ له پاره راتلل په شريعت کې څه حيثيت لري؟

جواب: داحرام په حالت کې ښځې ته حکم دی چې جامه دهغې له مخ سره ونه لګيږي،خودغه حال کې هم دخپل وس مطابق، دنامحرمونه پرده کول ضروري دي اوکله چې احرام نه وي، نودهغې مخ پټول لازم دي[۲]داخبره غلطه ده چې مکه مکرمه يادحج په سفرکې پرده ضروري نه ده، دښځې نرۍ جامې اغوستلوسره (چې هغو کې دسرويښته ښکاري) لمونځ اوطواف کولوته راتلل حرام دي اوداسې جاموکې دهغوی لمونځ نه کيږي[۳] طواف کې ښځوته پکاردي چې دسړيو رش ته ورننه نوځي اودحجراسوددښکلولوکوشش دې نه کوي[۴] که نه، ګناهګارې به وي اودنيکي برباد ګناه لازم په شان به وي، ښځوته پکاردي چې دحج دوران کې هم لمونځونه په کورکې اداکړي،کورکې لمونځ کولوسره به ورته پوره ثواب ورکول کيږي، دهغوی کورکې لمونځ کول په حرم شريف کې دلمونځ کولونه غوره دي اودطواف له پاره دې دشپې ځي، هغه

---

[۱] عن عبدالله بن عباس رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال : صلوٰة المرأة فى بيتها أفضل من صلاتها فى حجرتها، وصلاتها فى مخدعها أفضل من صلاتها فى بيتها (ابوداؤد، باب التشديد فى خروج النساء الى المسجد ج: ۱ ص : ۸۴)_

[۲] والمرأة فى جميع ذلک كالرجل غيرانها لاتكشف رأسها وتكشف وجهها ولوسدلت عليٰ وجهها شيئا وجآفته عنه جاز (عالمگيرى ج : ۱ص : ۲۳۵، كذا فى الهداية، إرشادالسارى إلى مناسک ملاعلى القارى ص : ۳۸، السنن الكبريٰ للبيهقى ج : ۵ ص : ۴۸) أيضا : قال الله تعاليٰ : " وليضربن بخمرهن عليٰ جيوبهن ولايبدين زينتهن " الاية (سورة ۲۴، النور : ۳۱)_

[۳] والثوب الرقيق الذى يصف ماتحته لاتجوزالصلاة فيه كذا فى التبيين (عالمگيرى ج : ۱ص : ۵۸)_

[۴] (ولاتستلم الحجر) الأسود (عندالمزاحمة) أى إذا كان هناک جمع من الرجال (المسلک المتقسط ص : ۷۹)_

وخت کې رش لږ شان کم وي

د حج او عمرې دوران کې حیض د دوا په ذریعه بندول

سوال: ایا شرعي طورباندې داجائزدي چې دعمرې یاحج دوران کې ښځې داسې دوایي استعمال کړي چې له امله یې حیض نه راځي اوهغوی خپله عمره یاحج صحیح طورباندې اداکړي؟

جواب: جائزدي، خوکله چې حیض دحج یاعمرې په اداکولوکې څه بندیزنه جوړوي. نوبیا دهغه دبندولواهتمام ولې وشي؟ دحیض په حال کې یوازې طواف جائزنه دی، باتې ټول کارونه جائزدي [۱]

حاجي به مکه، منی، عرفات او مزدلفه کې مقیم وي او که مسافر

سوال: حاجي به مکه کې مقیم وي اوکه مسافر، چې دهغه دپنځلسو ورځو دقیام نیت وي، خو دې قیام کې هغه دپنځوورځوله پاره منی اوعرفات ته لاړشي اوراشي، داسې صورت کې به هغه مقیم وي او که مسافر؟ او منی اومکه د یو ښار په حکم کې دي، که جداجدا ښارونه دي؟

جواب: مکه، منی، عرفات اومزدلفه جداجداځایونه دي، دې کې د پنځلسو ورځو اوسیدو نیت کولوسره سړی نه مقیم کیږي [۲] کوم کس چې (۸)ذوالحجه باندې منی ته تلونه پنځلس

---

[۱] حج المرأة الحائض : إذا حاضت المرأة أونفست عندالإحرام إغتسلت للإحرام وأحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غيرالها لاتطوف بالبيت حتى تطهر، وإذا حاضت المرأة أونفست فلا غسل عليها بعدالإحرام، وأنمايلزمها أن تشد الحفاظ الذى تضعه كل أنثى على محل الدم لمنع تسربه للخارج، ثم تفعل سائرمناسك الحج إلا الطواف بالبيت، لأن رسول الله صلى الله عليه وسلم أمرعائشة رضى الله عنها أن تصنع ما يصنع الحاج غير الطواف بالبيت (الفقه الإسلامى وأدلته ج:۳ ص:۱۶۲طبع دارالفكر، وكذا فى البحرالرائق ج:۱ ص:۱۹۶)

[۲] فالمسافريصيرمقيما بوجود الإقامة، والإقامة تثبت بأربعة أشياء، أحدها صريح نية الإقامة وهوأن ينوى الإقامة خمسة عشريوما فى مكان واحد صالح للإقامة فلابد من أربعة أشياء، نية الإقامة، ونية مدة الإقامة، واتحاد المكان، وصلاحيته للإقامة .... وأما إتحاد المكان فالشرط فيه نية مدة الإقامة فى مكان واحد ... وإذا عرف هذا فنقول : اذى المسافرالإقامة خمسة عشريوما فى موضعين فإن كان مصراواحدا أوقرية واحدة صارمقيما لأنهما متحدان حكما........ وإن كانا مصرين نحومكة ومنى أوالكوفة والحيرة، أو قريتين أوأحدهما مصر والاخر قرية لايصيرمقيما، لأنهمامكانان متباينان حقيقة ... الخ (البدائع الصنائع، كتاب الصلاة، فصل : وأما بيان ما يصيرالمسافربه مقيما ج:۱ ص : ۹۷، ۹۸) أيضا: (قوله لا بمكة ومنى) أو لو نوى الإقامة بمكة ومنى خمسة عشريوما فإنه لا يتم الصلاة لأن الإقامة لاتكون فى مكانين إذ لوجازت فى مكانين لجازت فى أماكن فيؤدى إلى أن السفرلايتحقق ... الخ (البحرالرائق، باب المسافرج : ۲ص : ۱۴۳طبع دارالمعرفة) أيضا : وذكرفى كتاب المناسك : ان الحاج إذا دخل مكة فى أيام العشرونوى الإقامة نصف شهر لايصح لأنه لابد له من الخروج إلى عرفات فلا يتحقق الشرط (البحرالرائق، باب المسافرج : ۲ص : ۱۴۳، وكذافى البدائع الصنائع،كتاب الصلاة ج : ۱ص : ۹۸، إرشاد السارى مع المناسك ص : ۱۳۲)_

ورځې مخکې مکې مکرمې ته راغلی وي، هغه مکه مکرمه کې مقیم شو، اوس هغه منی، عرفات اومزدلفه کې هم مقیم دی اوپوره لمونځ به کوي، خوکه چیرته مکې مکرمې ته راتلو کې یې پنځلس ورځې نه وي شوې چې منی ته روان شو، نوداکس به مکه کې هم مسافر وي او منی، عرفات اومزدلفه کې به هم قصرلمونځ کوي، دیارلسم تاریخ باندې منی نه بیرته راتګ سره که چیرته دهغه اراده په مکې مکرمې کې دپنځلسو ورځوقیام کولو وي، نوبیابه داسړی په مکه مکرمه کې مقیم شي، خوکه چیرته منی نه واپسي نه وروسته هم مکې کې دپنځلسو ورځو قیام کولوموقع نه وي،نودغه کس مسافردی.[1]

اتم ذوالحجه باندې منی ته څه وخت تلل پکاردي

سوال: اتم ذوالحجه باندې منی ته څه وخت کې تلل پکاردي؟ ایا دلمرختلونه مخکې منی ته تلل جائزدي؟

جواب: اتم ذوالحجه باندې هروخت منی ته تلل سنت دي،خو مستحب دادی چې دلمرختلونه وروسته لاړشي اودماسپښین لمونځ هلته اداکړي، دلمرختلونه مخکې تلل خلاف اولی دي، خو جائز دي.[2]

دلسمې اویوولسمې ذوالحجه شپه د منی نه بهرکول د سنت خلاف دي

سوال: یوکس منی کې دقرباني اواحرام خلاصولونه وروسته دلسمې او یوولسمې ذوالحجه مکمل شپه اودیوولسم ذوالحجه نیمه ورځ مکه مکرمه کې تیره کړه اوباتې نیمه ورځ منی کې اوهلته د(۱۲) ذوالحجه رمې پورې وي، دداسې کس څه حکم دی؟

---

[1] انه إذا نوى الإقامة بمكة شهرا ومن نيته أن يخرج الى عرفات ومنى قبل أن يمكث بمكة خمسة عشريوما لايصيرمقيما لأنه يكون ناويا بالإقامة مستقلة فلا تعتبرفإذا رجع من منىٰ وعرفات إلى مكة وهوعلى نيته السابقة صارمقيما لأن الباقي من الشهرأكثرمن خمسة عشروهنا كذٰلک لأن فرض المسئلة انه دخل فى أول العشرومعلوم ان الحاج يخرج فى اليوم الثامن إلى منٰى ويرجع إلى مكة فى اليوم الثانى عشرفلما دخل إلى مكة أول العشرونوى إقامة شهرثم تصح نيته أول المدة لأنه لايحصل له إقامة خمسة عشريوما إلا بعد رجوعه من منٰى فلذا أمره صاحب الإمام بالقصرأول المدة وبالإتمام بعد العودة (منحة الخالق على هامش البحرالرائق، باب المسافرج : ۲ ص : ۱۴۳ طبع دارالمعرفة، البدائع الصنائع ج : ۱ص : ۹۸طبع ايچ ايم سعيد)_

[2] ثم يروح مع الناس إلى منٰى يوم التروية بعد صلوة الفجر وطلوع الشمس كذا فى فتاوى قاضيخان، وهو الصحيح، ولوذهب قبل طلوع الشمس جاز والأول أولى كذا فى البدائع (عالمگيرى،كتاب الحج،الباب الخامس ج:۱ ص:۲۲۷) قال المرغينانى : بعد طلوع الشمس وهوالصحيح (شامى ج : ۲ص : ۱۸۷) وفى المبسوط : يستحب أن يصلى الظهريوم التروية بمنىٰ (شامى ج:۲ ص :۱۸۷، طحطاوى ج : ۱ص : ۵۰۱، بحرالرائق ج : ۲ص : ۳۳۵)

جواب: منی کې شپه کول سنت دي، له دې وجې هغه د سنت خلاف وکړل، خو د هغه په ذمه باندې دم وغیره واجب نه دی [1]

که د منی د حدودونه يې بهر قیام وکړ نو حج اداشو او که نه

سوال: جده کې د ېر خلک د ګروپ انتظام کوي، هغوی د معاوضې په بدله کې خلکوته خیمې (رهائش) خوراک او ټرانسپورټ (موټر) انتظام کوي او حج پرې اداکوي، دا خل ما دخپلې کورنۍ سره يوې داسې ادارې سره په ټاکل شويو پیسو باندې بکنګ کړی دی، منی ته رسیدو باندې راته معلومه شوه چې د هغوی خیمې د حکومت له طرف نه د منی د ښودل شوي حدودونه بهر دي، اوس که داسې وخت کې هرڅو مره بحث وشي خو پیسې نه واپس کیږي او د کوشش کولو باوجود بل ځای نه شي ملاویدای ، مونږ د حج ټول ارکان اداکړل او منی کې مو هم هلته قیام وکړ، کوم چې د منی نه لږشان بهر و، د سعودي او نور قومونو نورو ډیرو خلکو هم هلته قیام کاوو او د حکومت نور سهولیات هم هلته ورکړي وو، څنګه چې منی کې د تنه ځایونوکې و، بلکې د څه ملکونو لکه عراق وغیره د حکومت نه منظور شوي معلمانو له پاره هم هلته خیمې وې، اوس تاسو راته خپل خیال بیان کړئ چې داسې حالاتوکې د منی نه يو څو قدمه بهر قیام کولو سره زمونږ حج کې څه نقص خو پاتې نه شو؟

جواب: د منی د حدودونه بهر اوسیدو په صورت کې منی کې د شپې کولو سنت ادا نه شو ،حج اداشو [2]

پاکستاني حاجیان به په منی او عرفات کې پوره لمونځ کوي او که قصر

سوال: د پاکستانیانو له پاره د حج په دوران کې منی او د عرفات په میدان کې پوره لمونځ ادا کول پکار دي او که قصر؟

جواب: که چیرته په مکه کې د منی نه مخکې د پنځلسو ورځو قیام شوی وي، نو مقیم شو، پوره لمونځ به کوي او که چیرته په مکه کې پنځلس ورځې قیام يې نه و شوی چې منی ته روان شو، نو دی مسافر دی، منی، عرفات او مزدلفه کې به قصر لمونځ کوي او مکې مکرمې ته واپس کېدو نه وروسته که چیرته هلته د پنځلسو ورځو قیام نه وي، نو هلته به هم

---

[1] كذٰلک فى حديث جابرالطويل وابن عمرمع إتفاق الرواية أنه صلى الظهربمنٰى فالبيتوتة بهاسنة والإقامة بها مندوبة .كذا فى المحيط، ولولم يخرج من مكة إلا يوم عرفة أجزاه أيضا ولكن أساء لترک السنة (بحرالرائق ج : ٢ص : ٣٣٥) ويكره ان يبيت فى غيرمنيٰ فى أيام منٰى كذافى شرح الطحاوى (عالمگيرى ج : ١ص : ٢٢٧ و ٢٣٢، فتح القديرج :٢ص : ٣٦٨، إرشاد السارى ص : ٥١، بحرالرائق ج : ٢ص : ٢٤٨)۔

[2] أيضاً)۔

مسافر وي او که چیرته د منی د واپسي نه وروسته مکه مکرمه کې پنځلس ورځې یا د هغه نه زیات ایسارېدل وي، نو اوس به مکه کې مقیم وي.[1]

حاجي منی او عرفات کې قصر لمونځ وکړي او که پوره

سوال: سږ کال ما حج اداکړ، موږ مخکې د مدینې منورې زیارت وکړ، وروسته د حج وخت شو اوبیا موږ د مکې نه منی ته روان شو، منی کې د اوسیدو دوران کې موږ ټول لمونځونه د قصر اداکړل، ایا زموږ لمونځونه قبول شول؟

جواب: که منی ته تلونه پنځلس ورځې مخکې مکې مکرمې ته راغلي وئ، نو تاسو مکه مکرمه کې مقیم شوئ او منی، عرفات او مزدلفه کې هم مقیم یئ، تاسو باندې پوره لمونځ کول لازم و، له دې وجې ستاسو دا لمونځونه ونه شول، دا بیا وکړئ او که چیرته منی ته تلونه پنځلس ورځې مخکې نه وئ راغلي، بلکې منی ته تلونه مخکې مو مکه کې لږ وخت تیر کړی وي، نو تاسو مکه مکرمه کې هم مسافریئ او منی او عرفات کې هم مسافریئ، له دې وجې ستاسو قصر صحیح دی.[2]

په حج او عمره کې قصر لمونځ

سوال: یو مسلمان چې کله د حج او عمرې په نیت باندې د سعودي عرب سفر کوي، نو ایا د سفر دوران کې هغه ته:

(**الف**) د فرضو پوره رکعتونه به اداکوي؟

(**ب**) قصر کول به ضروري وي؟ د یاد ساتلو خبره داده چې د دې سفر مقصد یوازې حج او عمره کول دي.

(**د**) کعبة الله او مسجد نبوي ﷺ کې به هم قصر کول ضروري وي؟

جواب: کراچۍ نه مکې مکرمې پورې خو سفر دی، له دې وجې به قصر کوي، که مکه مکرمه کې د پنځلسو ورځو یا د دې نه د زیات وخت قیام کولو موقع ملاوشي، نو مقیم به وي او پوره لمونځ به کوي او که چیرته مکې مکرمې کې د پنځلسو ورځو موقع نه وه، مثلاً په څوارلسمه

---

[1]]ولایزال علیٰ حکم السفرحتی ینوی الإقامة فی بلدة أوقریة خمسة عشریوما أوأکثر، وان نوی اقل من ذٰلک قصرلابد من إعتبارمدة .... الخ (هدایة ج : ۱ص : ۱٦٦، باب صلاة المسافر)

[2]] قوله أیام العشرأی عشرذی الحجة وهوتفریع علی عدم صحة الإقامة بمکة ومنٰی وأما إذا دخلها قبل العشر بحیث یتم له خمسة عشریوما قبل الخروج وصحت نیة الإقامة ... الخ (حاشیة طحطاوی علی الدرالمختارج : ۱ ص : ۳۳۳، باب صلاة المسافر) انه إذا نوی الإقامة بمکة شهرا ومن نیته أن یخرج إلیٰ عرفات ومنٰی قبل ان یمکث بمکة خمسة عشریوما لا یصیرمقیما (منحة الخالق علی البحرالرائق ج :۲ص : ۱۴۳، أیضا بدائع ج : ۱ص : ۹۸، شامي ج : ۱ص : ۵۸۱)_

ورځ باندې به منی ته تلل وي (یا دهغه نه مخکې مدینې منورې ته تلل وي)، نومکه مکرمه کې به هم مسافروي او قصربه کوي.[1]

عرفات، منی، مکه مکرمه کې لمونځ قصرکول

سوال: ستاسوپه خدمت کې یوه مسئله لیکم، دامسئله یوازې زمانه ده، بلکې د لکونو انسانانو ده، مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ، چې دلکونومسلمانانومسئله حل شي. دهوايي جازپه ذریعه باندې تلونکوله پاره دحکومت له طرف نه دیوې میاشتې اودوه ورځو دواپسي تاریخ ملاوشوی و، تقریبا نیمو حاجیانوته له روانیدونه وروسته اطلاع ملاوشوه چې مدینې منورې ته دتلواجازه دحج نه وروسته ده، مخکې نه شئ تللی، زموږ طیاره چې په کومه ورځ باندې مکې مکرمې ته رسیدلې ده، نودهغه جاز ټولوحاجیانوته منی تلوکې یوازې لس ورځې پاتې وې اوهغو ټولو حاجیانوته (۲۲) ورځې مکې مکرمې کې اودحج په سفر کې تیرول دي اواخري لس ورځې مدینه منوره او جده کې تیرول دي، موږته دحج نه مخکې مدینې منورې ته دتلواجازه نه شته اوددې خبر راته دتلونه مخکې کراچۍ کې راکړل شوی و، اوس مسئله داده چې دحج په سفر کې کومې پنځه ورځې تیرې شوې کوم چې دمکې مکرمې نه تقریبا څلور شپږ میله فاصله باندې دی، نودحج دسفردوران کې لمونځونه د مقیم په حیثیت باندې کول پکاردي اوکه قصر؟ اومکه شریفه کې که یو لمونځ دمجبوري له وجې دجمعې نه پاتې شي، نوهغه لمونځ به پوره وي اوکه قصر؟ مدینه شریفه اوجده کې خوبه هرحال قصر کول دي، ځکه چې دلته خودپنځلسوورځونه کم قیام دی.

جواب: مقیم کېدو له پاره شرط دادی چې یوځای کې کم نه کم د پنځلسو ورځوقیام کولونیت وکړل شي اومکه مکرمه، منی او عرفات یوځای نه دي، بلکې جداجدادرې ځایونه دي، له دې وجې چې کوموخلکوته منی ته تلونه مخکې مکه شریفه کې دپنځلسوورځوقیام کولووخت ملاوشي، نوهغه به مقیم وي او منی اوعرفات کې به هم پوره لمونځ کوي، دغه شان د منی دکارونونه فارغېدونه وروسته که چیرته مکې کې پنځلس ورځې قیام کول وي، نوبیاهم مقیم دی[2]، خوکوموخلکوته چې د منی نه واپس راتلوسره هم مکه شریفه کې دپنځلسوورځوقیام کولوموقع ملاونه شي، هغه به مسافروي، تاسومسافر وئ.[3]

---

[1] ایضاً۔

[2] ایضاً۔

[3] انه إذا نوى الإقامة بمكة شهرا ومن نيته أن يخرج إلى عرفات ومنًى قبل أن يمكث بمكة خمسة عشريوما لا يصيرمقيما (حاشية منحة الخالق على البحرالرائق ج :۲ص : ۱۴۳، كتاب الحج، شامي ج : ۱ص : ۵۸۱)۔

په عرفات دد ربدو (وقوف) نیت کله کول پکار دي

سوال: دعرفې په ورځ باندې دوقوف نیت کوم وخت کې کول پکار دي؟

جواب: دوقوف عرفه وخت له زوال نه شروع کیږي[۱] دعرفې په ورځ باندې زوال نه وروسته چې هروخت دعرفات میدان ته داخل شوئ دعرفې نیت وکړئ اوکه نیت ونه کړل شي اووقوف وشي، نوفرض به اداشي.[۲]

د عرفات میدان اوقصر لمونځ

سوال: حج کې د عرفات په میدان کې چې کوم اما م مسجد نمره کې لمونځ ورکوي، نو اوریدلي مې دي چې هغه بظاهر مقیم وي ددې له وجې دهغه لمونځ قصر کولو سره کول صحیح نه دي، لهذا حاجیان دې جدا جمعه کوي اواوس دا مې هم اوریدلي دي چې سعودي حکومت دا انتظام کړی دی چې هغه پیش امام د مسافر حیثیت لري، مهرباني وکړئ! په دې سلسله کې په تفصیل سره خبره وکړئ!

جواب: د احنافوپه نزد که چیرته امام مقیم وي، نودهغه په اقتداء کې به پوره لمونځ کول وي او د سعودي حضراتو په نزد مسجد نمره کې قصرکول دحج په مناسکو کې دي، له دې وجې امام مسافروي یا مقیم، هرحال کې به قصر کوي، اوریدلي مې دي چې امام د ریاض نه راوستل کیږي، له دې وجې داحنافو هغه پسې قصر کول صحیح دي، خو ددې تحقیق نه شته او ترڅوپورې چې یقیني خبره نه وي په هغه باندې فتوا نه ورکول کیږي، له دې وجې احنافو ته پکار دي چې یاخو دې د امام په باره کې تحقیق وکړي چې هغه مسافر دی اوکه مقیم؟ یا دې خپل لمونځ جدا کوي، دمسجد نمره امام پسې دې اقتداء نه کوي.[۳]

---

[۱] ثالثا : زمان الوقوف (أى العرفة) يقف الحاج بالإتفاق من حين زوال الشمس يوم عرفة الى طلوع الفجر الثانى من يوم النحر، لأن النبى صلى الله عليه وسلم وقف بعرفة بعد الزوال وقال : خذوا عنى مناسككم ....إلخ (الفقه الإسلامى وأدلته، المطلب الرابع الوقوف بعرفة ج: ۳ ص : ۱۷۵) أيضا: ومن أدرک الوقوف بعرفة ما بين زوال الشمس من يومها الى طلوع الفجر من يوم النحر فقد ادرک الحج فأول وقت الوقوف بعد الزوال عندنا (الهدايه مع البنايه ج: ۵ ص : ۱۶۰، باب الإحرام، طبع حقانيه)_

[۲] ومن وقف بعرفات ولو مرورا أو نائما أو مغمى عليه، أو لم يعلم أنها عرفة فى هذا الوقت، أجزاه ذلک عند الحنفية عن الوقوف (الفقه الإسلامى و أدلته ج: ۳ ص: ۱۷۶طبع دارالفکر، ايضا فتح القدير، کتاب الحج ج: ۲ ص: ۱۹۲)_

[۳] وإذا دخل المسافر فى صلاة المقيم مع بقاء الوقت اتم الصلاة سواء أدرک أولها أو اخرها لأنه التزام متابعة الإمام بالإقتداء (الجوهر النيرة ص: ۸۷،کتاب الصلاة، باب صلاة المقيم)

د عرفات په میدان کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځ قصرولې کیږي

سوال: دحج په ورځ یعني نهم ذوالحجې باندې دعرفات په مقام کې مسجدنمره کې چې د ماسپښین اومازدیګرلمونځونه چې یوځای کیږي، هغه همیشه قصرولې کوي؟ اومکې معظمې نه د عرفات دمیدان فاصله درې څلورمیله ده اودقصرله پاره قیام دمقام نه (۴۸ میله یا دغه شان څه فاصله ضروري ده.

جواب: زموږپه نزدباندې عرفات کې قصریوازې دمسافرله پاره دی مقیم به پوره لمونځ کوي، دسعودی داوسیدونکو حضراتوپه نزد باندې قصردحج دارکانوله وجې دی . له دې وجې امام که مقیم هم وي، نوقصربه اداکوي [1] (په منی، عرفات او مزدلفه کې امام پسې (چې د سعودي حکومت له خوا وي) لمونځ مه کوئ، ځکه هغه ددې باوجود چې مسافرشرعي نه وي قصر کوي. لهذا جدا په خیمه کې جمعه وکړئ). (احسن الفتاوی ج۴ ص۵۷۷، حج کې بعض ضروري مسائل)

عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځ یوځای کولو شرط

سوال: د عرفات په میدان کې دماسپښین اومازدیګرلمونځونه یوځای په جمعې سره اداکیږي، خوکه چیرته یوکس امام سره جمعه کې شریک نه شي اواوس یوائې ځان ته لمونځ کوي، نوهغه ته به دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت باندې اداکول وي، یادواړه لمونځونه یوازې کولوصورت کې به هم یوځای کوي اوکه چیرته خپله خیمه کې دبل جمعې سره شریک شي، نوامام ته یوازې ماسپښین لمونځ کول پکار دي اوکه ماسپښین اومازدیګر لمونځونه په یوځای؟

جواب: عرفات کې دماسپښین اومازدیګر دلمونځونو یوځای کولوله پاره دامام اکبرسره چې مسجدنمره کې ماسپښین اومازدیګر لمونځ اداکوي، دهغه جمعې کې شرکت کول شرط دي، کوم خلک چې دمسجد نمره دواړو لمونځونو(ماسپښین اومازدیګر) یادیولمونځ په جمعه کې شریک نه وي، هغوی له پاره ماسپښین اومازدیګرپه خپل خپل وخت باندې کول لازم دي،که هغوی یې جمعې سره کوي اوکه یوازې، هغوی له پاره ماسپښین اومازدیګریوځای کول جائزنه دي.[2]

---

[1] ولا يجوز للمقيم أن يقصر الصلاة، ولا للمسافر أن يقتدى به إن قصر، وقال مالک رحمه الله تعالى : يقصر المقيم ويقتدى به المسافر فهو قصر نسک (غنية الناسک، باب مناسک عرفات ص: ۱۵۰، طبع إدارة القران)

[2] فصل في شرائط جواز الجمع : ....الثاني : الجماعة فيهما فلو صلاهما، أو إحداهما منفردا لم يجز عند أبي حنيفة والجماعة شرط لازم في حق غير الإمام،فلا تسقط بحال ....الثالث: الإمام الأعظم أو نائبه فيهما ....والحاصل أن مكان الجمع هوالمسجد وما في معناه اتفاقا ....ولو ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

ایا عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځ ځانته کونکی دواړه جدا جدا وکړي

سوال: د عرفات په میدان کې په (۹) ذی الحجه باندې د حج خطبه ویل کیږي او د ماسپښین او مازدیګر لمونځ په یو وخت ادا کیږي. موږ سره یو څوکسان وو چې دین متعلق یې واقفیت لاره، هغوی موږ ته د ماسپښین د لمونځ د ماسپښین په وخت او د مازدیګر د لمونځ د مازدیګر په وخت کې د کولو وویل. لهذا پوښتنه داده چې موږ ته دا لمونځونه د عرفات په میدان کې په یو وخت کې ادا کول پکار وو او که پخپل پخپل وخت باندې ادا کول پکار و؟ ډیره مهرباني به مو وي چې د صحیح طریقې وضاحت وکړئ.

جواب: که چیرته یوحاجي په عرفات کې د «امام الحج» سره په مسجد نمره کې لمونځ وکړي، هغه خو به د امام سره د ماسپښین او مازدیګر جمعه کوي اوکوم خلک چې پخپلو خپلو خیمو کې لمونځونه کوي، هغوی دې د ماسپښین لمونځ دماسپښین په وخت کې او د مازدیګر لمونځ دې د مازدیګر په وخت کې وکړي. [1]

له مازدیګر نه وروسته له عرفات نه وتل څنګه دي

سوال: د رش(ازدحام) له وجې له مازدیګر نه وروسته هم خلک د عرفات نه وتلو سره بهر په سرک باندې بس کې د کیناستو له پاره انتظار کوي، حالانکې وخت دماښام نه وروسته پورې دی، که چیرته د ماښام نه وروسته ووځي، نو د معلم بسونه هغه خلکو وتلو سره تللي وي چې دمخکې نه په سرکونو باندې ولاړ وي، د ماښام نه وروسته بیا په پرائیوټ (شخصي) موټرو کې تلل وي، لهذا مزدلفه کې دخپلو ملګرونه جدا کیږي، بیا دهغه ځای نه منی ته هم ځانته تګ وي.

...بقیه د تیرمخ]...فقد شرط منهما یصلی کل صلاة فی الخیمة علیٰحدة فی وقتها بجماعة أو غیرها (غنیة الناسک ص: ۱۵۱،۱۵۳، فصل فی شرائط جواز الجمع، طبع إدارة القران) أیضا : وشرط لصحة هذاالجمع الإمام الأعظم أو نائبه وإلا صلوا وحدانا......فلا تجوز العصر للمنفرد فی إحداهما فلو صلّی وحده لم یصل العصر مع الإمام وفی الشامیة : أی بل یصلیها فی وقتها ومثله ما لو صلی الظهر فقط مع الإمام لا یصلی العصر إلّا فی وقتها (ردالمحتار مع الدر المختار،مطلب فی الشروط الجمع بین الصلا تین بعرفة ج:۲ ص:۵۰۴، ۵۰۵، طبع سعید)_

[1] فإذا زالت الشمس من یوم عرفة صلّی الإمام بالناس الظهر والعصر بأذان وإقامتین ......ومن صلی فی رحله وحده صلی کل واحدة منها فی وقتها...الخ (الجوهرة النیرة ص:۱۶۰، کتاب الحج، طبع دهلي) أیضا: والحاصل أن مکان الجمع هو المسجد... ولو فقد شرط منها (أی السنة) یصلی کل صلاة فی الخیمة علیحدة فی وقتها بجماعة أو غیرها (غنیة الناسک، فصل فی شرائط جواز الجمع ص:۱۵۳، طبع إدارة القران)

جواب: د ماښام نه مخکې د عرفات پرېښودل جائز نه دي، که چیرته څوک دلمرډوبیدو نه مخکې د عرفات نه ووت او بیا بیرته رانغی، نو دم پرې لازمیږي. [۱]

عرفات کې د ماسپښین اومازدیګر او مزدلفه کې د ماښام او ماسخوتن لمونځ یوځای کول

سوال: دحج دوران کې یومقام باندې ددوولمونځونه دیوځای کولو حکم دی، بیان کړئ چې هغه دوه لمونځونه کوم کوم دي؟ اوکه چیرته څوک دغه لمونځونه (قصد سره) یوځای ونه کړي، بلکې په خپل خپل وخت باندې یې اداکړي، نو ایا دهغه کس لمونځونه به قبلیږي؟

جواب: دعرفات په میدان کې دعرفې په ورځ باندې دماسپښین او مازدیګرلمونځونه، دماسپښین په وخت کې اداکیږي، دې شرط سره چې دمسجدنمره امام سره اداکړل شي، که چیرته هغه سره ادانه کړل شي، نودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت باندې اداکول پکاردي اودهرلمونځ جمعه دې دهغه په وخت کې اداکړل شي[۲] اودعرفې په ورځ باندې دماښام نه وروسته دعرفات نه مزدلفه ته تلل وي اودماښام اوماسخوتن دواړه لمونځونه مزدلفې ته رسیدوسره اداکیږي، که چادماښام لمونځ په عرفات کې یا د مزدلفه په لارکې اداکړ، نو جائزنه دی مزدلفې ته رسیدوسره دې دویم ځل باندې دماښام لمونځ وکړي، دهغه نه وروسته دې دماسخوتن لمونځ وکړي.[۳]

سوال: ایا مزدلفه کې لمونځونه جمعې سره نه اداکیږي؟ یوازې یوازې کیږي؟

جواب: نه! بلکې جمعې سره اداکیږي.[۴]

---

[۱] قوله: فإذا غربت الشمس أفاض الإمام والناس معه......ولايدفع أحد قبل الغروب إن جاوز حد عرفة بعد الغروب فلا شيء عليه وإن جاوزها قبله فعليه دم...إلخ (الجوهرة النيرة، كتاب الحج ص:۱۶۱، طبع دهلي) فإذا وقف نهارا ودفع قبل الغروب، فإن جاوز عرفة بعد الغروب مع الإمام، أو قبله فلا شيء عليه، وإن جاوز قبل الغروب فعليه دم إماما كان أو غيره، ولو كان يخاف الزحام لنحو عجز، أو كانت امرأة تخاف الزحام، فإن لم يعد أو عاد بعد الغروب لا يسقط عنه الدم في ظاهر الرواية، وعليه الجمهور (غنية الناسک في بغية المناسک، فصل في ركن الوقوف وقدر الواجب ص:۱۶۰،۱۵۹)

[۲] فإذا زالت الشمس من يوم عرفة صلّى الإمام بالناس الظهر والعصر بأذان وإقامتين ......إلخ (الجوهرة النيرة ص:۱۶۰، كتاب الحج، طبع دهلي) أيضا: والحاصل أن مكان الجمع هو المسجد... الخ (غنية الناسک، فصل في شرائط جواز الجمع ص:۱۵۳، طبع إدارة القران)۔

[۳] إذا صلى المغرب في يوم عرفة في وقتها في الطريق أو بعرفات يجب عليه الإعادة عندهما(إرشادالسارى ص: ۱۴۴، ۱۴۵، طبع دار الفكر، وأيضا في الفتاوى الهندية ج:۱ ص:۲۳۰، الباب الخامس في كيفيةأداء الحج)

[۴] وإذا أتوا المزدلفة ... فإذا دخل وقت العشاء يؤذن المؤذن ويقيم ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

مزدلفه او عرفات کې د لمونځونه یوځای کولو او اداکولو طریقه

سوال: عرفات کې د ماسپښین او ماز دیګر لمونځونه دواړه یوځای کولو سره اداکیږي، د هغه له پاره څه شرطونه دي، ځکه چې ما یوځل د عرفې په جومات کې لمونځ وکړ، زموږ د جومات ملاصاحب وایي چې هلته هغوی پسې لمونځ کول زموږ د شرط مطابق نه دي، تاسو نه د اپوښتنه کول غواړم که چیرته یو کس د دې شرطونو خیال نه ساتلو سره لمونځ وکړي، نو د هغه له پاره څه تاوان دی او څه حکم دی؟

جواب: د مسجد نمره امام سره د ماسپښین او ماز دیګر لمونځونه یوځای کول جائز دي، خو د دې له پاره یو څو شرطونه دي، هغو کې یو دادی چې قصر یوازې مسافر امام کولی شي، که چیرته امام مقیم وي، نو هغه به پوره لمونځ اداکوي، د امواوریدلي و چې د مسجد نمره امام د مقیم کېدو باوجود قصر کوي، له دې وجې حنفي مسلک والا خلک هغوی سره نه شي جمعه کېدای، خو که چیرته دا تحقیق وشي چې امام مسافر دی، نو احنافو له پاره د امام په دې لمونځونو کې شریکیدل صحیح دي، که نه، دواړه لمونځونه په خپل خپل وخت باندې خیمو کې اداکړئ![1]

سوال: د غه شان مزدلفه کې د ماښام او ماسختن لمونځونه یوځای کیږي، د دې له پاره هم څه شرطونه دي او د دې دواړو لمونځونو یوځای کولو له پاره د کوموکوموشیانو خیال ساتل ضروري دي او ایا ښځو او سړیو ټولو له پاره ضروري دي، هیڅوک ترې مستثنی نه دي او څوک چې دا قصدا یا غلطي سره پریږدي، نو څه حکم یې دی؟

جواب: مزدلفه کې حاجیانو له پاره د ماښام او ماسختن لمونځونه یوځای کول ضروري دي، د ماښام لمونځ د ماښام په وخت کې اداکول جائز نه دي، د دې کې د سړیو او ښځو دواړو له پاره یو حکم دی.[2]

...بقیه د تیرمخ]...فیصلی الإمام بهم صلاة المغرب فی وقت صلاة العشاء ثم یصلی بهم ثم یصلی بهم صلاة العشاء بأذان وإقامة واحدة فی قول أصحابناالثلاثة كذا فی البدائع (فتاوی عالمگیری، الباب الخامس فی كیفیة أداء الحج ج : ۱ص ۲۳۰) أیضا : (فإذا دخل وقت العشاء)أی تحقق دخوله (أذن المؤذن ویقیم) ...... (فیصلی الإمام المغرب) أی صلا ته (بجماعة فی وقت العشاء) أی أولا (ثم یتبعها) أی تعقب صلاة المغرب (العشاء)بجماعة أی ثانیا جمع تأخیر (مناسک ملاعلی القاری ص : ۱۴۳طبع دارالفكر، أیضا شرح الوقایة ج : ۱ص : ۲۶۵)_

[1] والحاصل ان الإمام أن كان مقیما فلایجوزالقصر للمسافرین والمقیمین وإن كان مسافرا فلایجوز القصر للمقیمین (إرشاد الساری ص : ۱۲۹ و ۱۳۱، شامی ج : ۲ ص ۱۸۸، ۱۸۹)_

[2] فیصلی الإمام المغرب أی صلوته بجماعة فی وقت العشاء أولا..... ..ثم یتبعها العشاء بجماعة (المسلك المتقسط ص : ۱۴۳)_

سوال: مزدلفه کې دماښام اوماسختن لمونځونه یوځای کول، ایا داجمعې سره اداکول ضروري دي یایوازې هم کېدای شي؟ یادادواړه لمونځونه به دوه اذانونواواقامت سره کیږي ؟ یایواذان اواقامت سره؟ داهم ووایئ چې دماښام اوماسختن په مینځ کې به د ماښام سنت اونفل هم کیږي، که یوازې فرض لمونځ کولو سره به سمدلاسه دماخوستن لمونځ کول وي؟

جواب: دماښام اوماسختن لمونځ به جمعې سره اداکول وي،که چیرته جمعه ملاونه شي، نوځان ته لمونځ وکړئ دواړه لمونځونه به یواذان اویو اقامت سره کوئ، ددواړولمونځونومینځ کې سنت کول نه دي پکار، بلکې سنت وروسته کوئ اوکه ماښام لمونځ کولو نه وروسته سنت وکړل شي، نو دماسختن له پاره بیااقامت پکاردی.[۱]

ایا په مزدلفه کې د ماښام او ماسختن لمونځ یوځای کولو له پاره جمعه ضروري ده

سوال: مزدلفه کې چې د ماښام او ماسختن لمونځونه یوځای کیږي ایا هغه جمعې سره کول ضروري دي یا جدا جدا هم کیږي؟ ایا دا دواړه لمونځونه دوو اذانونو او دوو اقامتونو سره وکړو اوکه یو اذان اواقامت سره؟ دا هم ووایئ چې د ماښام او د ماسخوتن په مینځ کې د ماښام سنت او نوافل به کوو یا یوازې فرض لمونځ کولوسره د ماسخوتن لمونځ به کوو؟ واضحه دې وي چې زموږه تعلق د فقه حنفي سره دی.

جواب: مزدلفه کې دې دماسخوتن او ماښام دواړه لمونځونه په جمعې سره وکړل شي، که چیرته یو څو ملګري وي، نود دواړو لمونځونو دې جمعه وکړي اوکه چیرته چاته جمعه ملاو نه شي، نو خیر دې ځانته دې وکړي، دفقه حنفي مطابق دې دواړه لمونځونه یو اذان او یو اقامت سره وکړل شي، د دواړو لمونځونو په مینځ کې دې سنت ونه کړل شي، بلکې سنت دې وروسته وکړي او که چیرته د ماښام لمونځ کولوسره دهغه سنت وکړي، نو د عشاء له پاره دې دویم اقامت وکړل شي. [۲]

---

[۱] فإذا دخل وقت العشاء أذن المؤذن ويقيم فيصلى الإمام المغرب بجماعة فى وقت العشاء ثم يتبعهاالعشاء بجماعة، ولايعيد الأذان ولاالإقامة للعشاء بل يكتفى بأذان واحد وإقامة واحدة ولا يتطوع بينهما، أى بل يصلى سنة المغرب والعشاء والوتربعدهماكماصرح به مولاناعبدالرحمٰن الجامى قدس الله سبحانه وتعالىٰ سره السامى فى منسكه .... ولايشتغل بشيء اخرفإن تطوع أوتشاغل أعاد الإقامة للعشاء دون الأذان ....والجماعة سنة فى هذا الجمع وليس بشرط فلوصلاهما وحده جاز ... إلخ (لباب المناسک للسندى ص: ۱۴۳، ۱۴۴، أيضاً فتاوىٰ عالمگيرى ج: ۱ ص: ۲۳۰)_

[۲] فيصلى الإمام بالناس المغرب ثم يتبعها العشاء بذلک الأذان والإقامة ولايتطوع بينهما، فإن تطوع بينهما... إلخ (الجوهرة النيرة ص : ۱۶۲) ايضاً: فإذا دخل وقت العشاء أذن المؤذن...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

درش له وجې مزدلفه کې د لسمې ذی الحجې د سهار په وخت رسیدوسره د ماښام او ماسخوتن لمونځ قضا شو، نو څه وکړي

سوال: د رش له وجې اکثره خلک مزدلفې ته د لسمې ذی الحجې د سهار د اذان په وخت کې یا سهار لمونځ نه وروسته رسیږي، داسې صورت کې د نهمې ذی الحجې د ماښام او ماسخوتن لمونځ قضاکیږي، د ماښام او ماسخوتن لمونځ په مزدلفه کې قضا ادا کول وي.

جواب: لمونځونه دې قضا نه کړل شي، بلکې په داسې صورت کې دې په لاره کې وکړل شي.[1]

مزدلفه کې دوترو او سنتو کولوحکم

سوال: مزدلفې ته رسیدوسره دماښام اوماسخوتن لمونځ کولونه وروسته سنت او واجب کول ضروري دي اوکه نه؟

جواب: دوترلمونځ خوواجب دی اودې اداکول په هرمقیم او مسافر باندې لازم دي، پاتې شول سنت، نومؤکدسنت اداکول د مقیم له پاره ضروري دي مسافرته اختیاردی که کوي یې اوکه نه.[2]

د مزدلفې وقوف کله وي؟ او وادي محسرکې وقوف او لمونځ کول

سوال: مسئله داده چې مزدلفې ته دعرفې نه دشپې رارسیدل وي، له دې وروسته دلته وقوف کله شروع کیږي؟ چې هغه واجب دی اودکله پورې وي اودې کې(مزدلفه) دسهارلمونځ کوم وخت کې اداکړل شي، ایا لومړي وخت کې اوکه اخري وخت، داهم وواییځ که یوکس په دغه علاقه کې کومه چې مزدلفه سره نژدې ده، په کومه کې چې اصحاب فیل واقعه شوې وه لمونځ اداکړي اوبیاورته معلومه شي چې داخوهغه ځای دی له کوم ځای نه چې تیزي سره دوتلوحکم دی، نو ایا لمونځ به په دویم ځل کوي اوکه هغه به ادا شي؟

...بقیه د تیرمخ]...والوتر بعدهما کماصرح به مولاناعبدالرحمٰن الجامی قدس الله سبحانه وتعالیٰ سره السامی فی منسکه .... ولایشتغل بشيء اخر فان تطوع أوتشاغل أعاد الإقامة للعشاء دون الأذان ....والجماعة سنة فی هذا الجمع ولیس بشرط فلوصلاهما وحده جاز ... إلخ (لباب المناسک للسندی ص: ۱۴۳، ۱۴۴، أیضاً فتاویٰ عالمگیری ج: ۱ ص: ۲۳۰)_

[1] ولوخشی أن یطلع الفجرقبل أن یصل الی مزدلفة صلی المغرب لأنه إذا طلع الفجرفات وقت الجمع (الجوهرة النیرة ص: ۱۶۲، کتاب الحج)

[2] فیصلی الإمام المغرب ای صلا ته بجماعة فی وقت العشاء أولا ثم یتبعها .... العشاء بجماعة ... الخ (المسلک المتقسط ص: ۱۴۳)_

جواب: مزدلفه کې د وقوف وخت د صبح صادق نه ترلمرختلو پورې دی[1] سنت دادي چې صبح صادق شروع کېدوسره لومړي وخت کې لمونځ اداکړل شي، دلمانځه له فارغېدونه وروسته وقوف پکار دی اودلمرختلونه مخکې دعااواستغفاراوتضرع اوابتهال (عاجزي) کې مشغولیدل پکار دي[2] کله چې لمر راخیژي. نو منی طرف ته روان شئ او په وادي محسر کې وقوف جائزنه دی.[3]

د حج په دوران مزدلفه کې قیام ضروري دی

سوال: د عرفات نه منی ته راتلوسره د بسونو قافله د دواړو غرونو په مینځ کې د رش له وجې دریږي او سهار رش کمبدو له وجې روانیږي. بس مزدلفه کې نه دریږي ایا هغه صورت کې به دم ورکول وي؟

جواب: که چیرته دلمر راختلو نه مخکې تاسو مزدلفې ته ورسیدئ اوهلته مو د ماښام او ماسخوتن لمونځ اداکړ. نوستاسو په ذمه هیڅ نه شته ،که نه،تاسو باندې دم لازم دی.[4]

د مزدلفې د وقوف پرېښودل

سوال: تیر شوي کال کې دحج پرمهال زه دخپلې کورنۍ سره هلته دلارې بندیدو له وجې په وخت باندې وه شوم رسیدلی . یعنې مزدلفه کې د قیام موقع (دشپې) ملاو نه شوه، مهرباني کولوسره دا ووایئ چې: مزدلفه کې د قیام نه پرته حج وشو اوکه نه؟

۲: که چیرته نه وي شوی. نو په دې صورت کې دم واجب دی؟

۳: دم کوم ځای ورکول پکار دي؟

۴: ایا د سړیو او ښځو ټولو طرف نه به ورکول کیږي؟ اوکه یوازې دم به په سړي باندې واجب وي؟

---

[1] وأول وقته طلوع الفجرالثانی من یوم النحرواخره طلوع الشمس منه (شامی ج:۲ص:۵۱۱وقوف المزدلفة)

[2] فإذا طلع الفجرصلی الإمام بالناس الفجربغلس ثم وقف و وقف الناس معه کذا فی القدوری ...... ویحمدالله تعالیٰ ویثنی علیه ویهلل ویکبرویلبی ویصلی علی النبی صلی الله علیه وسلم ویدعوا الله بحاجته رافعا یدیه إلی السماء (فتاویٰ هندیة ج : ۱ص : ۲۳۰، الباب الخامس فی کیفیة أداء الحج، شرح وقایة ج :۱ ص : ۲۶۶، کتاب الحج)_

[3] والمزدلفة کلها موقف إلا بطن محسرکذا فی فتاوی قاضی خان، وإذا بلغ بطن محسرأسرع إن کان ماشیا وحرک دابته إن کان راکبا ....فإذا أسفرجدا دفع منها قبل طلوع الشمس والناس معه حتی یأتوا منًی کذا فی الزاد (فتاوی عالمگیری، کتاب الحج، الباب الخامس فی کیفیة أداء الحج ج : ۱ص : ۲۳۰،۲۳۱، طبع رشیدیة، وهکذا فی اللباب فی شرح الکتاب ج : ۱ص : ۱۷۲، طبع قدیمی کتب خانه)_

[4] ومن ترک الوقوف بمزدلفة فعلیه دم لأنه من الواجبات .... الخ (الجوهرة النیرة ص : ۱۷۷)

۵: ايا راروان كال دچا په معرفت دم وركول كيږي؟

جواب: كه چيرته داسې (غيراختياري) عذر له وجې د مزدلفه وقوف پاتې شي، نو دم واجب نه دى، تيرشوي كال باندې بې شميره خلكو ته دا واقعه مخې ته راغله.[1]

د يوم النحرپه كوموكارونوكې ترتيب واجب دى

سوال: دفضائل حج په (۲۱۴) او(۲۱۵) صفحه باندې دلسم تاريخ ذكر دى اوحضرت شيخ زكريا رحمه الله ليكلي دي،چې دې ورځ باندې ځلوركارونه كول دى: رمى،ذبح،ويښته خريل اوطواف زيارت كول،همدا ددې ترتيب دى، دې كې ډيرحضرات دهيريدوپه وجه باندې ترتيب كې مخكې وروسته شي،هركس راشي داعرض كوي چې ما نه ددې په ځاى باندې دا وشول.حضور صلى الله عليه وسلم به فرمايل دې كې ګناه نه شته، اوس كه چيرې دې ترتيب كې فرق راشي، نودم واجب ښودل كيږي.(معلم الحجاج صفحه ۲۵۳) كه چيرې مفرديا قارن يامتمتع درمي نه مخكې ويښته وخريل، ياقارن يامتمتع دحلالې كولونه مخكې ويښته وخريل، قارن اومتمتع درمي نه مخكې حلاله وكړه، نودم به واجب وي، ځكه چې دې كارونوكې ترتيب واجب دى، دې فرق باندې پوه نه شوم، مهرباني وكړئ ددې وضاحت وكړئ!

جواب: ديوم النحرځلوركارونه دي: رمي،ذبح،حلق اوطواف زيارت، لومړيو ذكرشويو دريو شيانو كې ترتيب واجب دى، دمخكې وروسته كولوصورت كې به دم واجب وي، خوطواف زيارت اودرې ذكرشويو كارونوكې ترتيب واجب نه بلكې مستحب دى،نو كه چيرې طواف زيارت ددې دريو شيانو نه مخكې وكړل شي، نودم نه لازميږي[2].حديث شريف كې چې ددې

---

[1] لكن لوترك بعذر كزحمة لاشيء عليه وفى رد المحتار : وكذا كل واجب إذا ترك بعذرلاشيء عليه كما فى البحر (فتاوى شامي ج : ۲ ص : ۵۱۲)

[2] قال فى معراج الدراية : إعلم ان ما يفعل فى أيام النحرأربعة أشياء : الرمى والنحروالحلق والطواف، وهذا الترتيب واجب عندأبى حنيفة ومالك واحمد لأثرابن مسعود وابن عباس رضى الله عنهما من قدم نسكا على نسك لزمه دم، وظاهره أنه إذا قدم الطواف على الحلق يلزمه دم عنده، وقد نص فى المعراج فى مسئلة حلق القارن قبل الذبح أنه إذا قدم الطواف على الحلق لا يلزمه شيء فالحاصل : أنه إن حلق قبل الرمى لزمه دم مطلقا، وإن ذبح قبل الرمى لزمه دم إن كان قارنا أومتمتعا.... الخ (البحرالرائق، باب الجنايات ج : ۳ص : ۲۶ طبع دارالمعرفة بيروت) أيضا : (قوله وقد نص فى المعراج إلخ) قد ذكر المؤلف عنه قول المتن ثم الیٰ مكة ان اول وقت صحة الطواف اذا طلع الفجر يوم النحر ولوقبل الرمى والحلق وأما الواجب فهو فعله فى يوم من الايام الثلاثة عند ابى حنيفة رحمه الله وظاهره أنه لايجب الترتيب بينه وبين الرمى والذبح والحلق وفى الدرالمختارعند عدا لواجبات، والترتيب بين الرمى والحلق والذبح يوم النحر، اما الترتيب بين الطواف وبين الرمى والحلق فسنة فلوطاف قبل الرمى والحلق لا شئ عليه ويكره لباب، الخ (منحة الخالق علیٰ هامش بحر الرائق ج :۳ ص: ۲۶، باب الجنايات، طبع دار المعرفة بيروت)_

دریو شیانو دمخکې وروسته کولوباره کې فرمایل شوي دي چې دې کې هیڅ بده خبره نه شته، احناف ددې له پاره دا تاویل وړاندې کوي چې هغه وخت کې دحج دکارونوتشریع کیدله، په دې وجه باندې خاص وخت کې خطاکیدوباندې به ګناه نه وه، خو چونکې نورو دلیلونونه دې کارونوکې ترتیب ثابت شوی دی په دې وجه باندې به دم واجب وي.[1] والله اعلم.

دم کوم ځای کې اداکړل شي؟

سوال: عرض دادی چې موږ ټولونه دحج دوران کې احرام تړلوکې غلطي شوې وه او دهغې له وجې موږباندې دم اداکول لازم شوي و،خو موږ ادانه شوکړی،له دې نه پرته مکې مکرمې اومدینې منورې ته دتلوسعادت راته په دویم ځل نه دی حاصل شوی،څه وخت وروسته موږ رخصتي باندې کراچۍ ته ځو،نو عرض دادی چې داکوم دم چې موږ به یې اداکوو، کراچۍ کې یې کولی شواوکه نه؟


جواب: دحج اوعمرې په سلسله کې چې کوم دم واجب شي،دهغه دحرم په حدودوکې حلالول ضروري دي، بل ځای کې یې حلالول صحیح نه دي[2]تاسودیوحاجي په لاس باندې دومره پیسې ولیږئ او هغه ته تاکیدوکړئ چې هلته چیلی واخلي اودحرم په حدودوکې یې حلال کړي،دهغه غوښه یوازې فقیران خوړلی شي،شتمن خلک یې نه شي خوړلی.[3]

---

[1] وله (ای لابی حنیفة رحمه الله) ان التاخیر عن المکان یوجب الدم ......والمراد بالحرج المنفی الاثم بدلیل أنه قال : لم اشعر فعذرهم لعدم العلم بالمناسک قبل ذالک (البحرالرائق، باب الجنایات ج :۳ ص :۲۶ طبع دارالمعرفة) أیضا: وأجاب أبوحنیفة عمااستدل به الشافعي وهوماروی البخاری ومسلم، واللفظ للبخاری : عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رجل للنبی صلی الله علیه وسلم : زرت قبل أن أرمی، قال : لا حرج ! قال : حلقت قبل أن أذبح، قال : لا حرج ! قال : ذبحت قبل أن أرمی : قال لاحرج قال إن المراد بالحرج المنفی هوالإثم ولایستلزم من ذٰلک نفی الفدیة ... الخ (الفقه الحنفی وأدلته، کتاب الحج، حکم التاخیروالتقدیم فی الرمی والذبح والحلق ج : ۱ص : ۴۵۶طبع دارالکلم الطیب، بیروت)_

[2] ولایجزی دم الفدیة إلافی الحرم کدم الإحصارودم المتعة والقرآن (بدائع الصنائع،کتاب الحج، واماحکم الإحصارج :۲ ص : ۱۷۹) أیضا : ویذبح بقیة الهدایا متی شاء، لأنها جنایات وکفارات فلا تتوقت بوقت، ومصرفها الفقراء، فلاياکل منها ..... وکل الذبائح تذبح فی الحرم، قال تعالیٰ فی جزاء الصید : هدیا بالغ الکعبة (سورة:۵، المائدة:۹۵) وفی دم الإحصار :حتی یبلغ الهدی محله (البقرة : ۱۹۶) (الفقه الحنفی وأدلته ج :۱ ص : ۴۵۰، الهدي) أیضا : (ویختص) أی جوازذبحه (بالمکان وهوالحرم) فلایجوز ذبحه فی غیره أصلا (المسلک المتقسط ص : ۱۷۵)_

[3] وأما بیان ما یتحلل به المحصرنوعان، نوع لایتحلل إلابالهدی ونوع یتحلل بغیرالهدی، أماالذی لایتحلل إلا بالهدی فکل من منع ممن مضی فی موجب الإحرام حقیقة ....فهذا لایتحلل إلا بالهدی وهوأن یبعث بالهدی أوبثمنه ویشتری به هدیا فیذبح عنه ومالم یذبح لایحل وهذا قول عامة العلماء .... الخ (البدائع الصنائع، کتاب الحج، وأماحکم الإحصارج : ۲ص :۱۷۷، ۱۷۸)_



[شیطان په کاڼو ویشتل]

د شیطان په کاڼو ویشتلو وجه (علت) ده؟

سوال: دحج په مبارکه موقع باندې چې شیطان په کاڼو ویشتل کیږي، آیا ددې علت هغه دهاتیانو (فیل) والا لښکردی کوم چې الله تعالی کاڼو وورولوسره ختم کړی و، یا دحضرت ابراهیم علیه السلام واقعه ده، کومې کې شیطان دابراهیم علیه السلام ددوکه کولوکوشش کړی و؟ کیدای شي چې ددې موقعې ډیرعلتونه وي، امید دی چې دعلت بیانولوسره به زموږمسئله حل کړئ!

جواب: غالباً دحضرت ابراهیم علیه السلام واقعه ددې وجه ده، خوداعلت نه دی[1] دداسې کارونوعلت نه کتل کیږي، چې کوم حکم وشي دهغه تعمیل کیږي اودحج اکثرکارونه اورکنونه دعاشقۍ دانداز دي او عقل لرونکي دهغو علتونه نه شي پیداکولی.

که څوک د جمرو ویشتلو له پاره له مزدلفې نه کاڼي راوانه خلي، نوڅه وکړي؟

سوال: که چیرته یوسړی د جمرو ویشتلو له پاره له مزدلفې نه کاڼي راوا نه خلي، نو له کوم ځای نه یې راوا خلي؟

جواب: منی کې یې دهرځای نه را اخیستی شي، خو دجمرو سره دې نه را اخلي.[2]

د شیطان په کاڼو باندې د ویشتو وخت

سوال: دشیطان په کاڼوباندې دویشتلووخت له کوم وخت نه شروع کیږي، اودکوم وخت پورې

---

[1]]وذکرفی مبسوط شیخ الإسلام انماسمیت جمرة لأن إبراهیم علیه السلام لما أمربذبح الولد جاء الشیطان یوسوسه فکان إبراهیم علیه السلام یرمی إلیه الجمارطردا له، وکان یجمربین یدیه أی یسرع فی المشی والإجمارالإسراع فی المشی (البنایة فی شرح الهدایة، باب الإحرام ج :۵ص: ۱۲۸طبع حقانیة ملتان، وکذا فی الفقه الإسلامی وأدلته ج:۳ص: ۱۹۲، المطلب الثانی، رمی الجمارفی منٰی وحکم المبیت فیها، طبع دارالفکر)

[2]]یستحب أن یأخذ حصی الجمارمن المزدلفة أومن الطریق ولایرمی بحصاة أخذهامن عندالجمرة فإن رمیٰ بها جاز وقد أساء (عالمگیری ج :۱ص:۲۳۳، الباب الخامس فی کیفیة أداء الحج) مأخذها : وتؤخذ حصی الجمارمن مزدلفة أومن الطریق من محسروغیره أومن أی مکان غیرنجس، لماروی أن النبی صلی الله علیه وسلم أمرابن عباس رضی الله عنهما أن یأخذالحصی من مزدلفة،وعلیه فعل المسلمین (الفقه الإسلامی وأدلته، کتاب الحج ج:۳ ص:۱۹۸، طبع دارالفکر)

کاني ویشتل جائزدي؟ مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: لومړی په لسم ذوالحجه باندې یوازې جمره عقبه(یعني دغټ شیطان) رمي کیږي[۱] دهغې وخت دصبح صادق نه شروع کیږي، خوله لمر ختونه مخکې رمي کول دسنت خلاف دي، ددې مسنون وخت دلمرختونه زوال پورې دی،زوال نه غروب پورې له کراهت پرته د جوازوخت دی او د لمر پریوتونه دبلې ورځ صبح صادق پورې کراهت سره جائزدی. خوکه څه عذروي نودلمرپریوتونه وروسته هم له کراهت پرته جائزدی[۲]یوولسمې اودولسمې ذوالحجه باندې درمي وخت له زوال نه وروسته شروع کیږي،دلمرپریوتوپورې له کراهت پرته اولمرپریوتونه ترصبح صادق پورې له کراهت سره جائزدی،خونن سبا که درش په وجه باندې دلمرپریوتونه مخکې رمي ونه کړل شي، نود لمر پریوتونه وروسته له کراهت پرته جائزدی[۳].

دڅیارلسم تاریخ درمي مسنون وخت خودزوال نه وروسته شروع کیږي،خودصبح صادق نه وروسته او زوال نه مخکې دې ورځ باندې رمی کول دامام ابوحنیفهرحمه الله په نزدباندې کراهت سره جائزدي.[۴]

د شپې رمي کول

سوال: دجمرو ویشتلو وخت کې ډیرزیات رش وي،اودحاجیانو دپښودلاندې کیدو ویره وي، نو آیا کمزوري سړي اوښځې دورځې په ځای دشپې څه وخت کې رمي کولی شي؟ اوهلته

[۱](الثانی عشر) انه فی الیوم الأول یرمی جمرة العقبة لاغیروفی بقیة الأیام یرمیها یبدأ بالأولی ثم بالوسطیٰ ثم بجمرة العقبة ... الخ (عالمگیری ج :۱ص : ۲۳۴الباب الخامس فی کیفیة أداء الحج) أیضا: ثالثا : وقت الرمی : رمی جمرة العقبة (أوالکبری) .... و وقته عند المالکیة والحنفیة بعد طلوع الشمس یوم العید، لقوله صلی الله علیه وسلم : لاترموا حتی تطلع الشمس ... الخ (الفقه الإسلامی وأدلته، کتاب الحج ج : ۳ص : ۱۹۴، طبع دارالفکر)_

[۲]أوقات الرمی : وله أوقات ثلاثة یوم النحر، وثلا ثة من أیام التشریق، أولها: یوم النحر، و وقت الرمی ثلا ثة انواع : مکروه ومسنون ومباح، فما بعد طلوع الفجرإلی وقت الطلوع مکروه، ومابعد طلوع الشمس إلی زوالهاوقت مسنون، ومابعد زوال الشمس إلی غروب الشمس وقت مباح، واللیل وقت مکروه،کذا فی المحیط السرخسی (عالمگیری، کتاب الحج، الباب الخامس فی کیفیة أداء الحج ج :۱ص : ۲۳۳، طبع رشیدیة کوئته)

[۳]وأماوقت الرمی فی الیوم الثانی والثالث فهومابعد الزوال إلی طلوع الشمس من الغد حتی لایجوزالرمی فیهماقبل الزوال إلا ان مابعدالزوال إلی غروب الشمس وقت مسنون ومابعدالغروب إلی طلوع الفجر وقت مکروه هٰکذا روی فی ظاهرالروایة (فتاوی عالمگیری، کتاب الحج، الباب الخامس ج :۱ص : ۲۳۳، وهٰکذا البدائع الصنائع ج :۲ ص : ۱۳۷)_

[۴] وأما وقته فی الیوم الرابع فعند أبی حنیفة من طلوع الفجرإلی غروب الشمس إلاان ماقبل الزوال وقت مکروه وما بعده مسنون کذا فی المحیط السرخسی ((عالمگیری،کتاب الحج، الباب الخامس ج:۱ص:۲۳۳ طبع رشیدیة کوئته)

عالمان وايي چې ځلیریشت ګنټې جمرې ويشتلی شئ.

جواب: طاقت لرونکو سړيو له پاره دشپې رمي کول مکروه دي،خو کمزوري سړي اوښځې که چيرې د عذر په وجه باندې دشپې رمي وکړي، نودهغوی له پاره نه يوازې جائزدي، بلکې مستحب هم دي.[1]

جمرو ويشتلو کې ترتيب بدلولو سره دم نه واجبيږي

سوال: يوصاحب سږ کال حج بيت الله اداکړ اوشيطانانوباندې دکانو ويشتلوپه سلسله کې په تاريخ يعنې لسم،يوولسم اودولسم تاريخ کې تري غلطي سره جمره عقبې نه شروع کولوسره جمره اولى باندې ختم کړل،نوددې غلطي اوهيرې سزاوجزاڅه ده؟ ددې په وجه باندې حج کې فرق راغي اوکه نه؟

جواب: چونکې جمرو کې ترتيب سنت دی واجب نه،اوسنت پريښودوباندې دم نه واجبيږي، په دې وجه باندې حج کې څه خرابي نه ده راغلې اونه دم واجب شوی دی،خو دسنت پريښودو په وجه باندې اساء ت راځي،يعنی دسنت خلاف کارمو وکړ،ذکرشوي صورت کې که چيرې دغه کس دجمره اولی درمي نه وروسته ترتيب سره جمره وسطی اوجمره عقبی رمی دوباره کړې وه، نودهغه کاربه د سنت مطابق شوی و،اواساءت به هم ختم شوی و.[2]

که يوڅا د دريو واړو ورځو دجمرو ويشتل پريښودل نو څو دمونه واجبيږي؟

سوال: که چيرته څا دلسم، يولسم، دولسم رمي ونه کړه، يعنې يو ورځ يې هم ونه کړه، ياپې د يوې ورځې ونه کړه، يا په يو ورځ کې دريو واړو کې يوه پرېښوده، نو ايا په دې ټولو صورتونوکې به يو دم وي اوکه جدا جدا دم به راځي؟

جواب: په ټولو صورتونوکې به يو دم وي، او ګناه به دجرم په اندازه وي. [3]

---

[1] والليل وقت مكروه (عالمگيرى ج : ١ص : ٢٣٣، الباب الخامس) والرجل والمرأة فى الرمى سواء إلا ان رميهافى الليل أفضل (إرشاد السارى، فصل فى أحكام الرمى وشرائطه ص : ١٦٧، أيضا الفقه الإسلامى وأدلته ج : ٣ص : ١٩٥)

[2] فلتركه الترتيب فإنه مسنون لأن النبى صلى الله عليه وسلم رتب فإذا ترک المسنون تستحب الإعادة ولايعيد الأولى لأنه إذا أعاد الوسطى والعقبة صارت هى الأولى (بدائع ج :٢-١ص:١٣٩، كتاب الحج) فحسن مراعاة للترتيب وإن رمى الأولى وحدها أجزاه عندنا، هكذا فى التاتارخانية (عالمگيرى ج:١ص:٢٣٤)

[3] ومن ترک رمى الجمارفى الأيام كلهافعليه دم ويكفيه دم واحد ...... وإن ترک رمى يوم فعليه دم (هداية ج: ١ص: ٢٥٥،كتاب الحج) أيضا : ولوترک رمى الكل وهوالجمارالثلاث...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

که چیرته د مزدلفې قیام و نه شي، او د قرباني، رمی او حلق ترتیب بدل شوی وي نو دوه دم واجبیږي

سوال: په (۹) ذی الحجه باندې د عرفات نه د معلم په بس کې د شپې لس بجې مزدلفې له پاره روانګي وشوه. په لاره کې بس خراب شو. په بل بس کې سواره شو. په هغه بس کې یوسړی د عربی ژبې نه واقف و. هغه وویل چې د ډرائیور مطالبه ده چې هره سورلی دې دوه درې ریاله راکړي. ما انکار وکړ. ډرایور بس ودرولو. ویې ویل خراب شو. په دریم بس کې ټول سواره شو. د لارې د بندیدو له وجهې نه د سحر څلور بجې شوې. هم هلته خلکو لمونځ وکړ (ماسخوتن قضاشو) کانې مو اولټول. بیا بس روان شو. اته بجې د مزدلفې په حدودو کې داخل شو. هلته وقوف ونه شو. بس روان و. یولس بجې د ورځې د یو پل لاندې بس والا ټول کوز کړه، د ډیر لټولو نه پس یوه بجه منی کې خیمې ته ورسیدو. قرباني د بینک په ذریعې سحر لس بجې وشوه (همدا وخت بینک والو راکړی و) ټوله شپه وږي تږي وو. ټول ویده شو. د ماښام او ماسخوتن نه وروسته رمي وشوه. په دویمه ورځ د سحر حلق وکړل شو، همدغه شان د مزدلفې وقوف ونه کړل شو. او د رمي. قرباني او حلق ترتیب هم ونه شو. تاسو ووائې چې د دې غلطیو ازاله څنګه وشي؟

جواب: په دې کې دوه دمه لازم شو. یوخو د وقوف مزدلفه د ترک له وجې واجب ده،[۱] او دویم د رمی او حلق نه مخکې د قرباني کولو له وجې نه.ځکه چې د قارن او متمتع له پاره د دریو افعالو (رمی، بیا قرباني، بیا حلق) په مینځ کې ترتیب واجب دی. [۲]

لسم ذی الحجه باندې د ماښام په وخت کې رمي کول

سوال: دخلکودوینا مطابق په لسم ذی الحجه باندې رمي کولوکې ډیرزیات تکلیف وي، موږ سره ښځې وې، موږ د سحرپه ځای باندې ماښام کې رمي وکړه، آیا داعمل صحیح شو؟

جواب: مغرب پورې رمي کې تاخیرکولوکې هیڅ بده خبره نه شته،[۱] خوشرط دادی چې ترڅو پورې رمي ونه کړل شي ترهغه وخته پورې دتمتع یاد قران قرباني نه شي کیدای اوترڅوپورې چې قرباني ونه کړئ، ویښته نه شئ کټ کولی، که چیرې تاسو ددې شرط خیال ساتلی وي،

...بقیه د تیرمخ]... لزمه دم عند أبي حنيفة لأن جنس الجناية واحد، حظرها إحرام واحد، فيكفيهادم واحد .... إلخ (الفقه الإسلامي وأدلته، كتاب الحج،سادسا كيفية الرمي ج : ۳ص : ۲۰۲)

[۱] ومن ترک الوقوف بمزدلفة فعليه دم لأنه من الواجبات (الجوهرة النيرة ص:۱۷۷ كتاب الحج،باب الجنايات)

[۲] فلوأن القارن حلق أولاثم ذبح فعليه دم ....لأن عليه أن يذبح ثم يحلق (الجوهرة النيرة،باب القران ص : ۱۶۸، طبع دهلي)

نو بيا صحيح ده [۲]

د چا په ذريعه باندې کاڼي ويشتل

سوال: ما د خپل خاوند سره حج وکړ، چونکه زما خاوند ډير زيات بيمار شوی و، او ما سره بل ځوک خاص خپل نه و، د دې په وجه باندې ما خپل او زما د خاوند کاڼي ونه ويشتل، موږ سره چې کوم خلک وو، هغوی سره هم کاڼو ويشتلو له پاره ځوک ښځه نه وه تللې، د هغوی له طرف نه او زما او زما د خاوند له طرف نه هغوی کاڼي ويشتل، ما يو کتاب کې لوستلي دي چې کوم کس په ولاړه باندې لمونځ کولی شي هغه دې کاڼي پخپله باندې ولي، او که چيرې داسې نه شي کولې نو ددې فديه دې ورکړي ، اوس ماته فکر شو، تاسو ماته ووايئ چې ماته څه کول پکار دي؟ موږ خپله قرباني هم د هغو خلکو په ذريعه باندې کړې وه.

جواب: ستاسو په ذمه باندې قرباني لازمه شوه، تاسو مکې ته تلونکي کس ته پيسې ورکړئ او هغه ته تاکيد وکړئ چې هغه چيلۍ ذبح کړي. [۳]

آيا د رش (ازدحام) په وخت کې د ښځو له لوري رمي بل ځوک کولای شي؟

سوال: ښځو ته پخپله باندې رمي کول پکار دي، که دور ځې رش وي، نو د شپې ويشتل

---

[۱] ومابعد زوال الشمس إلى غروب الشمس وقت مباح (عالمگيرى ج :۱ص : ۲۳۳، الباب الخامس فى كيفية أداء الحج، أيضا الفقه الإسلامى وأدلته ج : ۳ص : ۱۹۵، رمى الجمرات الثلاث ايام التشريق)۔

[۲] قال : أى القدورى رحمه الله (ثم يذبح) بعد رمى جمرة العقبة (إن أحب) أى الذبح يعنى إن شاء، وأما على المحبة بإعتبارالدم على المفرد مستحب لا واجب، والكلام فى المفرد لافى القارن والمتمتع، فإن الدم واجب عليهما(ثم يحلق أويقصر) انما يردد بين الحلق والتقصيرلأن أحدهما واجب، سواء كان مفردا أو قارنا أومتمتعا .... (لماروى أن النبى صلى الله عليه وسلم أنه قال: إن أول نسكنا فى يومنا هٰذا أن نرمى ثم نذبح ثم نحلق)....... (ولأن الحلق من أسباب التحلل، وكذا الذبح حتى يتحلل به المحصر) أى الذبح أيضا من أسباب التحلل كالحلق .... (فيقدم الرمى عليها) أى على الذبح (ثم الحلق من محظورات الإحرام) أى من ممنوعاته بلغ (فيقدم عليه الذبح) أى على الحلق فأخرلذٰلک .... الخ (البناية فى شرح الهداية ج : ۵ص : ۱۳۵، باب الإحرام) أيضا: قال فى معراج الدراية : إعلم أن مايفعل فى أيام النحرأربعة أشياء : الرمى والنحروالحلق والطواف، وهٰذا الترتيب واجب عندأبى حنيفة ومالک وأحمدلأثرابن مسعود وابن عباس من قدم نسكاعلى نسک لزمه دم .... وقد نص فى المعراج فى مسئلة حلق القارن قبل الذبح إنه إذا قدم الطواف على الحلق لايلزمه شيء .... الخ (البحرالرائق، كتاب الحج، باب الجنايات ج : ۳ص : ۲۶طبع دارالمعرفة، وهٰكذا فى منحة الخالق حاشية البحرالرائق ج :۳ص : ۲۶، كتاب الحج،باب الجنايات)۔

[۳] وأما وقته فى اليوم الرابع فعند أبى حنيفة من طلوع الفجرإلى غروب الشمس إلا ان ماقبل الزوال وقت مكروه ومابعده مسنون كذا فى المحيط السرخسى(عالمگيرى، كتاب الحج،الباب الخامس ج:۱ص:۲۳۳، طبع رشيدية كوئته)

پکار دي، او ښځې پخپله د کاڼو ویشتلو ته ځي، یا دې ته نورو سړو باندې کاڼي ویشتلی شي؟

جواب: د ښځې رمي کول پکار دي، هغه وخت کې چې ښه وي، د ښځو په ځای باندې د نورو خلکو رمي کول صحیح نه دي او که چیرې څوک داسې مریض وي چې رمي نه شي کولی، نو هغه ته ځای باندې رمي کول جائز دي[1]

د مذهبی امورو د وزارت کتابچه

سوال: گزارش دی چې ستاسو توجه یو اهمې مسئلې طرف ته اړول غواړم. هغه دا چې سرکاري د ((مذهبي امورو وزارت او اقلیتي امورو اسلام اباد)) نه یوه کتابچه د حاجیانو په یوه باندې رالیږل شوې ده چې دهغې نوم دې ((اپ حج کیسې کرین؟)) دا د ذی الحجې ۱۴۰۰ هـ اود اکتوبر (۱۹۸۰ء) گڼه ده. ددې په (۸۹)صفحه باندې د رمي په سلسله کې لیکل شوي دي چې ((رش زیات وي له دې وجه نه دې بوډۍ زنانه او کمزوري سړي هلته نه ځي. هغوی دې خپل کاڼي بل چاته ورکړي.)) او په (۹۴)صفحه باندې هم زنانه وو ته دکاڼو ویشتلو نه منع کړې ده. چنانچې سږ کال زیاتو زنانه وو په دې مسئله باندې سترگې پټولو سره عمل وکړ او په دریو ورځو کې یې یو ورځ هم کاڼي ونه ویشتل. نه دورځې تللې دي اونه د شپې. هم په دې صفحه ۸۹ باندې یې لیکلي دي چې ((زنانه که چیرته تلل غواړي. نو دما ښام دلمانځه نه وروسته دې لاړې شي)) چنانچې ما هم په دې باندې عمل وکړ او زما خوابنې هم چې ماسره وه. او ډیرو زنانه وو وویل هرکله چې د مذهبي امورو وزارت او خپل اسلامی جمهوري پاکستان لیکلي دي، نو بیا خوبه بالکل صحیح وي. دلته راتللو سره دعلماوو نه معلومه شوه چې د زنانه وو کاڼي ویشتل واجب دي. که چیرته د ورځې رش و، نو د شپې ناوخته چې کله رش ختم شوی وای تلل پکار و، او په داسې کولو سره هرې زنانه باندې یویو دم واجبیږي. چې د حرم په حدودو کې به ورکول کیږي. لهذا موږ اوس څنگه هلته د دم ورکولو بندوبست وکړو؟ اود د م نه ورکولو له وجې نه چې کومو زنانه وو ته معلومه هم نه ده اود وزارت مذهبی امور پاکستان د کتابچې مطابق عمل کولو سره مطمئنې هم دي چې زموږ حج مکمل شوی دی، هغو په زرگونو زنانه وو ته څنگه وویل شي چې دیو یو دم د حرم په حدودو کې مزید د ورکولو بندوبست وکړئ؟ او ددې گناه به په چا باندې وي؟ اود زرگونو زنانه وو د حج ناقص کولو گناه په چاباندې وي؟ چې څه حکم شرعي وي خبرمو کړئ!

(یادونه، فوټو سټیټ د کتابچې منسلک دی

---

[1] والرجل والمرأة فی الرمی سواء) إلاان رمیها فی اللیل افضل ولیه ایماء إلی انه لا تجوزالنیابة عن المرأة بغیرعذر (إرشادالساری ص ۱۶۷، فصل فی الرمی، طبع دارالفکربیروت)_

جواب: مسئله هماغه ده چې علماء کرامو وویله. پخپله رمي نه کول په بل چا باندې کول، ددې اجازه یوازې داسې کمزوري مریض له پاره ده چې پخپله هلته تللو او رمي کولو باندې قادر نه وي[1]

زنانه وو ته دا سهولت ور کړل شوی دی چې هغوی د شپې رمي کولی شي. له دې وجې نه چې کومو زنانه وو له صحیح عذر نه پرته پخپله رمي نه ده کړې. هغوی په حج کې د واجبو پرېښودونکې دي او د هغوی په ذمه باندې دم لازم دی،[2] هغوی په هرې طریقې سره چې وي. دو مره پیسې دې مکې ته ولیږي چې په هغو باندې څناور اخستلو سره د دوی د طرف نه د حرم په حدودو کې ذبح کړل شي،[3] که نه، د هغوی حج به د واجبو د پرېښودو له وجې نه همیشه له پاره ناقص وي او هغوی به ګناهګارې پاتې شي.

پاتې شوه دا چې په زرګونو زنانه وو په دې غلطې مسئلې باندې عمل کولو سره چې خپل حج خراب کړو، ددې ګناه به په چا باندې وي؟ ددې جواب دادی چې دواړه ګناهګار دي، داسې غلط کتابونه لیکونکې هم، او داسې کچې مچې کتابونو باندې عمل کونکې هم.

کوم خلک چې د حج اوږد سفر کوي او د زرګونو روپیو لګښت او د سفر تکلیفونه برداشت کوي. هغوی لږ غونډې دا تکلیف نه شي برداشت کولی چې حج ته د تللو نه مخکې د محققو او معتبرو عالمانو نه د حج مسائل زده کړي، یوازې غلطو کتابونو باندې اعتماد کولو سره خپل سفر مه ناقص کوئ!

موږه د مذهبي امورو وزارت نه او د اسلامي نظریاتي کونسل چیئرمین نه هم داغوښتنه کوو چې هغوی غلط قسمه کتابونه شائع کولو سره د زرګونو خلکو حجونه برباد نه کړي.

د جمرو ویشتل

سوال: د بل چا په ځای باندې منی کې د شیطان په کاڼو باندې د ویشتلو طریقه څنګه ده؟

جواب: د عذر په حالت کې د بل چا له طرف نه د رمي کولو طریقه فقهاوو داسې لیکلې ده چې مخکې دې د خپل لوري نه اووه کاڼي وولي او بیا دې د بل چاله طرف نه د نیابت په طور باندې اووه کاڼي وولي، یو کاڼی له خپل طرف نه او بل د بل چاله طرف نه ویشتل یې مکروه

---

[1] ومن كان مريضا لايستطيع الرمي يوضع في يده ويرمي بها أويرمي عنه غيره (البحرالرائق ج : ٢ص : ٣٧٥كتاب الحج، طبع دارالمعرفة بيروت)

[2] لوترك الجماركلها أورمي واحدة أوجمرة العقبة يوم النحرفعليه شاة (عالمگيرى ج: ١ص : ٢٤٧)

[3] ويتعين الحرم لامنى للكل .... الخ الدرالمختار وفى الشرح : قوله للكل بيان لكون الهدى مؤقتابالمكان سواء كان دم شكرأوجناية (الدرالمختارمع ردالمحتارج : ٢ص : ٦١٦، باب الهدي)

ليکلي دي.[۱]

د ناروغ يا کمزوري سړي د بل چا په ذريعه باندې رمي کول

سوال: يوکس د ناروغي ياکمزوري په حال کې حج کوي، اوس به هغه دجمرو رمي څنګه کوي؟ ايا هغه په بل کس باندې رمي کولی شي؟

جواب: کوم کس چې د ناروغي ياکمزوري له وجې په ولاړه باندې لمونځ نه شي اداکولی او جمرو پورې پياده ياسورلۍ باندې راتلو کې ورته تکليف وي، نوهغه معذوردی اوکه چيرته دهغه دراتلوله وجې دمرض زياتيدو، يادتکليف ويره نه وي، نودهغه له پاره رمي کول ضروري دي اوبل چاباندې رمي کول جائزنه دي اوکه چيرته سورلۍ يااوچتولوولاځوک نه وي اومعذوربل چاباندې رمي کولی شي، چاته چې عذر نه وي، دهغه له پاره بل چاباندې رمي کول جائزنه دي، ډيرخلک يوازې درش له وجې کاني نوروخلکوته ورکړي، دهغوی رمي نه کيږي اوپه ډيرسخت رش کې ضعيف او کمزوريوخلکوته تکليف رسيږي، اګرچې هغوی دګرځيدونه معذورنه وي، دهغوی له پاره دشپې رمي کول غوره دي.[۲]

په لسم ذي الحجه باندې که رمي د رش له وجې ونه کړل شي، نو څه وکړي؟

سوال: په لسم ذي الحجه باندې د زوال نه مخکې دجمره اولی رمي کول وي، خود زيات رش له وجې يې ونه کړي، نو څه وکړي؟

جواب: د يولسمې ذي الحجې صبح صادق پورې د رمي وخت دی، چې کله موقع پيداشي ودې کړي.[۳]

---

[۱] (ولورمی بحصاتين إحداهما عن نفسه والاخرعن غيره جاز ويكره)أی لترک السنة فإنه ينبغی أن يرمی السبعة عن نفسه أولا ثم يرميها عن غيره نيابة (إرشاد الساری ص : ١٦٦، طبع دارالفكر)۔

[۲] ثم المريض ليس على إطلاق ففی الحاوی عن المنتقی عن محمد إذا كان المريض بحيث يصلی جالسا رمی عنه، ولاشیء عليه، ولعله وجهه أنه إذا كان يصلی قائما فله القدرة علیٰ حضورالمرمی راكبا أومحمولافلا يجوز النيابة عنه .... الخ (المتقسط فی المنسک المتوسط، فصل فی أحكام الرمی وشرائطه وواجباته ص: ١٦٦) فصل فی شرائط الرمی وهی عشرة.... السادس : أن يرمی بنفسه فلا تجوزالنيابة فيه عند القدرة، وتجوزعندالعذر، فلورمی عن مريض بأمره، أومغمی عليه، ولوبغيرأمره، أوصبی، أومعتوه، أومجنون جاز، والأفضل أن توضع الحصاة فی أكفهم فيرمونها، أويرمونه بأكفهم ولورمی عنهم يجزئهم ذٰلک .... الخ (غنية الناسک فی بغية المناسک ص : ١٨٧طبع إدارة القران كراچی)۔

[۳] إبتداءه من طلوع الفجريوم النحروإنتهاؤه إذا طلع الفجرمن اليوم الثانی (البحرالرائق ج : ٢ص : ٣٧١)

لسم ذوالحجه باندې دجمرو ویشتلو له پاره کاڼي بل چاته ورکول او بیرته راتلل جائز نه دي

سوال: زمایو دوست چې دهغه تعلق انډیا (هندوستان) سره دی، سږ کال دهغه اراده دحج اوخپل وطن ته دتلو اوخپل کوروالوسره داخترکولوهم ده، دعربي کلینډر(جنتري) مطابق د عربي لسم تاریخ دزیارت (پنجشنبه) په ورځ باندې راځي او دغه شان حج دزیارت په ورځ باندې کیږي، خوشیطان په کاڼوباندې د ویشتلوله پاره درې ورځې منی کې قیام کول وي، زمادوست غواړي چې دجمعې په ورځ باندې انډیا (هندوستان) ته روان شي اوخپل کاڼي دویشتلوله پاره بل ملګري ته ورکړي، نو ایا دې صورت کې به دهغه دحج ټول فرائض اداشي؟ اوحج به یې مکمل شي اوکه نه؟

جواب: دجمرو ویشتل واجب دي اوددې پریښودوباندې دم واجبیږي[۱] ستاسودوست که دولسم تاریخ باندې زوال نه وروسته رمي کولونه وروسته که تلل غواړي، نوتللی شي[۲] خپل کاڼي بل چاته حواله کول اوپخپله باندې راتلل جائزنه دي، دهغه حج به ناقص وي اوهغه به دم ضرورکوي اوقصدسره دحج واجب پریښودوباندې به ګناهګاروي، حیرانتیاده چې یوکس دومره خرچې کولوسره راشي اوبیاحج نیمه کې پریږدي او وتښتیږي، که چیرته یوکال اخترد کور والوسره تیرنه کړي، نوڅه بدکاربه وشي؟ یادساتل پکاردي چې کوم کس په رمي کولو باندې قادروي، نودهغه له طرف نه دبل کس رمي کول کافي نه دي، بلکې دهغه په ذمه باندې پخپله رمي کول لازم دي اوکه چیرته یوکس داسې ناروغ یا معذوروي چې پخپله جمرو پورې دراتلوطاقت نه لري، نودهغه له طرف نه نیابت جائزدی،چې دهغه په حکم باندې دهغه له طرف نه بل سړی رمي وکړي.[۳]

---

[۱] ولوترک الکل وهوالجمارالثلاث فیه للزمه عنده دم فیجب فی أقلها الصدقة بخلاف الیوم الأول وهویوم النحرإذا ترک الجمرة وهوسبع حصیات انه یلزمه دم عنده ... الخ (بدائع ج : ۲،۱ ص : ۱۳۹، کتاب الحج، وشرح الوقایة ج : ۱ص: ۲۶۶، الفقه الإسلامی وأدلته ج : ۳ص : ۲۰۲)۔

[۲] وأما فی الیوم الثانی والثالث وقت الرمی مابعد الزوال ولورمی قبل الزوال لایجزیه هٰکذا ذکرفی الأصل وفی التجرید عن أبی حنیفة ولوأراد أن ینفرفی الیوم الثالث فله أن یرمی قبل الزوال (التاتارخانیة ج :۲ ص : ۴۶۱، إرشاد الساری ص : ۱۵۸) أیضا : وأماوقت الرمی فی الیوم الثانی والثالث فهوما بعد الزوال إلیٰ طلوع الشمس من الغد حتی لایجوزالرمی فیهما قبل الزوال (عالمگیری، کتاب الحج ج: ۱ص: ۲۳۳،بدائع، کتاب الحج ج: ۱ص: ۱۳۷)

[۳] الخامس : ان یرمی بنفسه فلا تجوزالنیابة عن القدرة، وتجوزعندالقدرة فلورمی عن مریض بأمره ......جاز (باب المناسک مع إرشاد الساری، فصل فی أحکام الرمی وشرائطه و واجباته ص : ۱۶۶ طبع دارالفکربیروت)۔

د ناروغې ميرمنې له لوري رمي کول

سوال: تیر کال د حج مبارک سعادت راته نصیب شو. ماسره زما میرمن هم وه. عرفات ته د تلو په وخت بس کې ځای کم و موږ په ولاړه باندې سفر وکړ. زمامیرمن د غټې والي له وجې د بلډپریشرمریضه ده. چې دهغې د سفر په دوران کې طبعیت خراب شو. ډیر په مشکله عرفات ته ورسیدو. واپسي باندې هم په بس کې ځای پیدا نه شو. په پرائیوټ (د کرایه) ګاډي کې مزدلفه ته راغلو. سهار هم منی ته پیاده راغلو. دمیرمنې طبعیت مې هماغسې خراب و په لومړۍ ورځ مې د میرمنې له طرف نه رمي وکړه. د رمي په دوران کې مې وکتل چې یوڅو ښځې چې درمي له پاره راغلي وې. په رش کې داسې ګیر شوې وې. چې دهغوی احرام ووت او رمي یې هم ونه کړه. حالاتوکتلوسره دپاتې ورځو رمي مې هم دمیرمنې له طرف نه پخپله وکړې. زموږ په کیمپ کې چې څومره ښځې وې. دهغوی له طرف نه هم دهغوی محرموخلکو کانې وویشتل. دهغوی وینا وه چې د ښځو په داسې حالاتو کې کانې ویشتل ناممکن دي. لهذا دا معذورې دي. په دې حوالي سره ستاسو نه دیوڅو پوښتنو ځوابول مطلوب دي:

١ د میرمنې له طرف نه درې ورځې چې ما رمي کړې ده. ایا ادا شوه؟

٢ په هغې باندې دم وغیره خو واجب نه شو؟

٣ د کوموښځو چې احرام په رش کې خلاص شو او رمي یې هم ونه کړه. دهغوی له پاره څه احکام دي؟

٤ د کومو ښځوله طرف نه چې دهغوی محرموخلکو دې ویلو سره رمي وکړه. چې د ښځو په دې حال کې رمي کول ناممکن دي. ایا دهغو ښځو رمي وشوه؟

جواب: د رمي وخت د لومړۍ ورځې دلمر ختو نه تر سبا صبح صادق پورې وي او په دې اوږده موده کې دشپې دولس یوه بجه بالکل رش نه وي او سړی په اسانتیا سره رمي کولی شي. [١]ددې له وجې ستاسومیرمنې چې رمي نه ده کړې. دا دهغې کمزوري ده اوستاد مسئلې نه ناواقفیت. همدغه شان کومو سړیو چې پرته له عذرنه دښځو له طرف نه رمي وکړه. دهغو ښځو رمي ونه شوه. په هغو ټولو ښځوباندې دم لازم دی. [٢]

---

[١]أماالرمی فی الیوم الأول فلأدائه وقت الجواز من الفجرإلی الفجر، و وقت مسنون من طلوع الشمس إلی الزوال و وقت مباح من الزوال إلی الغروب، و وقت مکروه قبل طلوع الشمس وبعد الغروب. وإن کان بعذرلاکراهة فیهما.... الخ (غنیة الناسک ص : ١٨١، طبع إدارة القران)

[٢]الخامس : أن یرمی بنفسه فلاتجوزالنیابة عند القدرة (إرشاد الساری ص : ١٦٦) أیضا : لوترک رمی الکل وهو الجمار الثلاث لزمه دم عند أبی حنیفة ... الخ ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

۱۲ ذي الحجې باندې د زوال نه مخکې رمي کول صحيح نه دي

سوال: ۱۲ ذي الحجې باندې ليدل شوي دي چې خلک دزوال نه مخکې رمي کولوله پاره وځي، چې وروسته به بيارش وي، له دې وجې دوخت نه مخکې رمي وکړي، پوښتنه داده چې، ايا داعمل صحيح دی اوکه صحيح نه دی. نوچاچې وکړ. هغه باندې به څه تاوان راځي؟ او دهغه حج وشو اوکه فاسدشو؟

جواب: يوازې دلسم ذي الحجې رمي دزوال نه مخکې ده[۱].د(۱۱) او(۱۲) ذي الحجې رمي دزوال نه وروسته شروع کيږي، که چيرته زوال نه مخکې وکړل شي، نو رمي ادانه شوه[۲]، دې صورت کې دم واجب شو[۳] او د ديارلسم تاريخ درمي دزوال نه مخکې کولو سره تلل جائزدي[۴]

د ښځو او کمزوريو د دولسمې او ديارلسمې شپې په مينځ کې رمي کول

سوال: د ښځو او کمزوريو خلکوله پاره خودشپې رمي کول جائزدي، خوکه چيرته دولسم ذي الحجې باندې هغوی دلمرپريوتونه وروسته دشپې رمي وکړي، نو ايا هغوی باندې به دديارلسم تاريخ رمي هم لازمه شي؟ صحيح مسئله څه ده؟

جواب: دولسم تاريخ باندې ښځې او کمزوري خلک دشپې رمي کولی شي[۵] دولسم تاريخ باندې منی نه دلمر پريوتلونه وروسته دديارلسم تاريخ سهارپورې راتلل دکراهت سره

...بقيه د تيرمخ]... (الفقه الإسلامي وأدلته ج : ۳ص : ۲۰۲ طبع دارالفكر)

[۱] اما الرمى فى اليوم الأول فلأدائه وقت الجوازمن الفجرإلى الفجر، و وقت مسنون من طلوع الشمس إلى الزوال .... الخ (غنية الناسک ص : ۱۸۱)۔

[۲] وأما وقت الجوازفى اليوم الثانى والثالث من أيام النحر، فمن الزوال إلى طلوع الفجرمن الغد، فلايجوزقبل الزوال فى ظاهرالرواية، وعليه الجمهور من أصحاب المتون والشروح والفتاوىٰ ...... وقال الشارح : والصحيح أنه لايصح فى اليومين إلا بعدالزوال مطلقا...١هــ (غنية الناسک ص: ۱۸۱، أيضا إرشاد السارى ص: ۱۵۸)۔

[۳] رمى الجمار واجب كماعرفنا، فإن تأخرعن وقته أوفات، وجب دم على النحوالمقررفقهافقال الحنفية ...... ولوترک ر مى الكل وهو الجمارالثلاث لزم دم عندأبى حنيفة لأن جنس الجنايات واحد، حظرها إحرام واحد، فيكفيها دم واحد (الفقه الإسلامى وأدلته، كتاب الحج، حكم تأخيرالرمى عن وقته ج : ۳ ص: ۲۰۲،۲۰۱)۔

[۴] وأما وقته فى اليوم الرابع فعند أبى حنيفة من طلوع الفجرإلى غروب الشمس إلا أن ماقبل الزوال وقت مكروه ومابعده مسنون (عالمگيرى ج : ۱ : ص : ۲۳۳، الباب الخامس فى كيفية أداء الحج)۔

[۵] ولولم يرم يوم النحرأى اليوم الأول أوالثانى أوالثالث رماه فى الليلة المقبلة (إرشادالسارى ص : ۱۶۱، طبع دارالفكربيروت)۔

جائزدي، له دې وجې که چیرته د دیارلسم تاریخ دصبح صادق کېدو نه مخکې منی نه لاړشي، نود دیارلسم تاریخ رمي نه واجبیږي[1] اودهغه پرېښودوسره دم نه واجبیږي اوکه چیرته ددیارلسم تاریخ سهارپه منی کې راغی، نو بیاددیارلسم تاریخ رمي هم واجب شوه،دهغې پرېښودوباندې دم واجبیږي.[2]

دیارلسم تاریخ باندې د سهار نه مخکې منی نه لاړشي، نورمي نه لازمیږي

سوال: مسئله داده چې دولسم تاریخ باندې موږ او ښځورمي وکړه اوبیادلمرپریوتونه وروسته دهغه ځای نه روان شو، پوښتنه داده چې دلمرپریوتونه وروسته دیارلسم تاریخ باندې پاتې کېدل ضروري خونه شو، ځکه چې ځینې خلکوهلته وویل چې منی نه ناوخته وتلوله وجې ددیارلسم تاریخ رمي هم واجبیږي او داهم بیان کړئ چې زموږددې عمل له وجې خوحج کې څه فساد یانقصان نه راځي اوکه چیرته راځي، نودهغه تاوان څه دی؟

جواب: ددولسم تاریخ لمرپریوتونه وروسته دمنی نه وتل مکروه دي،خو دې صورت کې ددیارلسم تاریخ رمي نه لازمیږي، په دې شرط سره چې دصبح صادق پورې د منی دحدودونه بالکل بهرشوي وي[3] اوکه چیرته منی کې ددیارلسم تاریخ سهارشو، نوبیاددیارلسم تاریخ رمي هم واجب شوه، اوس که چیرته درمي کولونه پرته منی نه لاړشي، نودم به لازم وي.[4]

❖د حج دوران کې قرباني❖

ایا حاجي باندې د اخترقرباني هم واجبه ده؟

سوال: کوم خلک چې دپاکستان (افغانستان) نه حج کولوله پاره ځي، هغوی له پاره هلته دحج دوران کې یوه قرباني واجب وي یادوه اوکه چیرته یوه قرباني یې وکړه، نواوس څه وکړي؟

جواب: کوم حاجیان چې مسافروي اوهغوی تمتع یا قِران حج کړی وي، هغوی باندې یوازې دحج قرباني واجبه ده اوکه چیرته هغوی مفردحج کړی وي، نودهغوی په ذمه باندې قرباني

---

[1] [وإن لم یقم أی لم یرد الإقامة (فی الیوم الثاني) نفرقبل غروب الشمس أی من یومه فإن لم ینفرحتی غربت الشمس یکره له أی الخروج فی تلک اللیلة عندنا إرشادالساری ص : ۱۶۳، طبع دارالفکربیروت)_

[2] [ولونفرمن اللیل قبل طلوع الفجرمن الیوم الرابع لاشیء علیه .... ولونفربعد طلوع الفجرقبل الرمی یلزمه الدم إتفاقا إرشادالساری ص : ۱۶۳، طبع دارالفکربیروت)_

[3] [أیضا تیره شوی حاشیه (وإن لم یقم أی لم یرد الإقامة...الخ)_

[4] [أیضا تیره شوی حاشیه (ولونفرمن اللیل قبل طلوع الفجرمن الیوم...الخ)_

واجب نه ده[۱] اوکوم حاجیان چې مسافرنه وي، بلکې مقیم وي، هغوی باندې د طاقت شرط سره داخترقرباني هم واجب ده.[۲]

د حج په موقعه په څومره مال قرباني کول واجب دي؟

سوال: د حج په موقع چې کومه قرباني کیږي (دعیدالاضحی) دهغې له پاره شرعي طورباندې دڅومره مال وجود ضروري دی چې په هغه باندې قرباني کول واجبیږي؟

جواب: که چیرته یې حج تمتع یا قران کړی وي، نودحج قرباني واجب ده. که چیرته قرباني نه شي کولی. نو درې ورځې روژې دې د حج په ورځو کې ونیسي. یعنې دنهمې ذي الحجې پورې او اووه روژې دې د حج فارغېدو نه وروسته ونیسي. [۳]

ایا د حج دوران کې مسافرته قرباني معاف ده؟

سوال: ایا مسافري کې قرباني معاف ده. دحج دوران کې چې کله دسفرحالت وي، هغه وخت کې هم قرباني معاف ده؟

---

[۱] فإذا فرغ من الرمي يوم النحرانصرف إلى رحله، ويشتغل بشيء اخر، فذبح إن شاء، لأنه مفرد والذبح أفضل، وإنمايجب على القارن والمتمتع وأماالأضحية فإن كان مسافرا فلا يجب عليه، وإلافكالمكى فتجب كمافى البحر (غنية الناسک، فصل فى الذبح وأحكامه ص : ۱۷۲) أيضا : (فصل فى هدى القارن والمتمتع) : (يجب) أى إجماعا على القارن والمتمتع هدى شكرا لما وفقه الله تبارک وتعالى للجمع بين النسكين فى أشهرالحج بسفر واحد .....الخ (مناسک ملاعلى القارى ص : ۱۷۴) أيضا : فإذا وصل منزله بمنى .... وإن كان قارنا أومتمتعا يجب عليه دم ذبح الهدى، وصفاته كصفات الأضحية (البحرالعميق، الباب الثانى عشرج : ۳ص ۱۷۰۰طبع مؤسسة الريان مصر)_

[۲] وأما شرائط الوجوب .... ومنها الإقامة، فلا تجب على المسافر، لأنه لا تتأدى بكل مال، وفى كل زمان ....وقال فى ''الأصل'' لاتجب الأضحية على الحاج، وأراد به المسافرفأما أهل مكة فتجب عليهم الأضحية وإن حجوا (البحرالعميق، الباب الثانى عشرفى الأعمال المشروعة يوم النحر، مطلب شرائط الوجوب ج : ۳ص : ۱۷۰۵، طبع مصر)_

[۳] ''فمن تمتع بالعمرة الى الحج فما استيسرمن الهدى، فمن لم يجد فصيام ثلاثة ايام فى الحج وسبعة اذا رجعتم '' (البقرة : ۱۹۶) أيضا : (يجب) أى إجماعا (على القارن والمتمتع هدى شكرا لما وفقه الله تبارک وتعالىٰ للجمع بين النسكين فى أشهرالحج بسفرواحد وهٰذا عندنا (مناسک ملاعلى القارى، فصل فى هدى القارن والمتمتع ص : ۱۷۴) أيضا : فصل فى بدل الهدى إذا عجزالقارن أوالمتمتع عن الهدى أى هدى القران أوالتمتع. بأن لم يكن فى ملكه فضل أى مال زائد عن كفافه ...... قدرمايشترى به الدم أى من النقود أو العروض ولاهو أى الدم أوالهدى بعينه فى ملكه، وجب الصيام عليه عشرة أيام أى كاملة بجملة فصوم ثلاثة أيام قبل الحج .... وسبعة بعده أى إذا رجع كمافى الاية ... الخ (الملک المقسط فى المنسک المتوسط ص : ۱۷۵طبع دارالفكربيروت)

جواب: دحج دوران کې عام طورباندې حاجي سفرکې وي، له دې وجې په هغه باندې دلوى اخترقرباني واجب نه ده اوکه چیرته حاجي دتمتع یاقران احرام تړلی وي، نوهغه باندې دحج قرباني واجب شوه دغې اختر نه اوکه چیرته دغې اخترقرباني هم وکړي، نوثواب به ورته ورکول کیږي.[1]

حج افراد کې قرباني نه شته ، که لومړی حج وي یا دویم او دریم

سوال: زموږ دریم حج دی، ځینې خلک وایي چې قرباني یوازې په لومړي حج کې لازم ده؟

جواب: حج افراد کې قرباني نه شته که لومړي حج وي،که دویم وي اوکه دریم اوکه تمتع یا قران وي، نوقرباني لازم ده، که لومړي وي اوکه دویم یادریم.[2]

حج کې قرباني وکړو اوکه دم شکر؟

سوال: اوسه پورې ما اوریدلي و چې قرباني یوه وي،کومه چې موږ د ډیروخت نه دلته کوو، نن زموږملاصاحب وویل چې دقرباني ورځو کې کومه قرباني کیږي هغه دحج دم دی اوحاجي له پاره قرباني کول ضروري نه دي، ځکه چې حاجي مسافروي، پوښتنه داده چې داخبره ترکومه حده پورې صحیح ده؟

جواب: دکوم کس حج چې تمتع یا قِران وي هغه باندې قرباني واجب ده اوهغه ته دم شکرویل کیږي[3]که حج یاعمره کې څه غلطي شوي وي، نودهغه له وجې ځینې حالاتوکې قرباني واجب شي، هغه ته دم ویل کیږي.[4]

د لوی داخترقرباني دوو شرطونوسره واجب ده، یوداچې انسان مقیم وي مسافرنه وي، دویم

---

[1] أیضا، تیره شوی حاشیه (فإذا فرغ من الرمی یوم النحرانصرف...الخ) او وروستی حاشیه (وأما شرائط الوجوب...الخ) اوګورئ)_

[2] أیضا، تیره شوی حاشیه (فإذا فرغ من الرمی یوم النحرانصرف...الخ) اوګورئ)_

[3] فإذا فرغ من الرمی یوم النحرانصرف إلی رحله، ویشتغل بشيء اخر، فذبح إن شاء، لأنه مفرد والذبح افضل، وإنمایجب علی القارن والمتمتع، أوما الأضحیة فإن کان مسافرا فلایجب علیه، وإلافکالمکی فتجب کمافی البحر (غنیة الناسک، فصل فی الذبح وأحکامه ص : ۱۷۲) أیضا : (فصل فی هدی القارن والمتمتع) : (یجب) أی إجماعا علی القارن والمتمتع هدی شکرا لما وفقه الله تبارک وتعالیٰ للجمع بین النسکین فی أشهرالحج بسفرواحد وهٰذا عندنا (مناسک ملاعلی القاری ص : ۱۷۴) أیضا: فإذا وصل منزله بمنٰی ...... وإن کان قارنا أومتمتعا یجب علیه ذبح الهدی، وصفاته کصفات الأضحیة (البحرالعمیق، الباب الثانی عشرج :۳ ص : ۱۷۰۰طبع مؤسسة الریان،مصر)_

[4] الدم فی جنایة الحج: هوذبح حیوان من الإبل والبقروالغنم (قواعدالفقه ص :.۲۹۴، طبع صدف پبلشرز کراچي)_

داچې دحج ضروري خرچې كولونه وروسته هغه سره دقرباني كولوګنجائش وي، كه چيرته مقيم نه وي. نو قرباني پرې واجب نه ده اوكه چيرته دحج ضروري خرچې كولونه وروسته هغه سره پيسې نه وي، نوبياهم دهغه په ذمه باندې قرباني واجب نه ده.[1]

درمي وروسته كولوله وجې به قرباني هم وروسته كوئ

سوال: درش وغيره له وجې كه چيرته ښځه رمي دشپې ناوخته وكړي، نو ايا دهغې دبرخې قرباني مخكې كېداى شي؟

جواب: دكوم كس چې دتمتع يا قران احرام وي، هغه له پاره رمي او قرباني كې ترتيب واجب دى. مخكې رمي. بياقرباني اوبيادې احرام خلاص كړي. كومې ښځې چې تمتع يا قِران كړى وي كه چيرته هغې درش له وجې رمي وروسته وكړي، نوقرباني به درمي نه دفارغيدوسره كوي، ترڅوپورې چې هغه رمي ونه كړي دهغې دبرخې قرباني نه شي كېداى اودكوم وخت پورې قرباني نه وي شوي هغه وخته پورې احرام نه شي خلاصېداى.[2]

كومې ادارې ته پيسو وركولوسره قرباني كول

سوال: دحج په موقعه باندې يوه اداره پيسو اخيستوسره رسيد وركوي او وخت وركوي چې فلانكي وخت باندې به ستاقرباني وشي، فلاني وخت باندې ويښته كټ كړه اواحرام خلاص كړه، خودتصديق كولونه پرته ويښته كټ كول اواحرام خلاصول جائزدي اوكه نه؟

جواب: كه چيرته قرباني نه مخكې ويښته كټ كړل شي، نودم لازميږي[3]،دې صورت كې دايقين نه وي چې داحرام خلاصيدو.نه مخكې قرباني وشوه، له دې وجې داصورت صحيح نه دى.

---

[1] وأماشرائط الوجوب ....ومنها الإقامة، فلاتجب على المسافر، لأنه لا تتأدى بكل مال، وفي كل زمان .... وقال في" الأصل " : لاتجب الأضحية وإن حجوا ....ومنها : الغنى لقوله صلى الله عليه وسلم : "من وجد سعه فليضحِ " شرط السعة، وهي الغنى .... الخ (البحرالعميق، الباب الثاني عشرج :٣ص : ١٧٠٦طبع مؤسسة الريان، المكتبة المكية، مصر)_

[2] قال ابن عباس : من قدم من حجه شيئا أوآخره فعليه دم وهو قول النخعي والحسن وقتادة وبه قال أبوحنيفة .... الرمي أولا، ثم الذبح، ثم الحلق، روى أنس ان رسول الله صلى الله عليه وسلم أتى منًى فأتى الجمرة فرماها، ثم أتى منزله بمنًى ونحر، ثم قال للحلاق : خذ، وأشارإلى جانبه الأيمن ثم الأيسر (الفقه الحنفى وأدلته ج : ١ص : ٤٥٦، ٤٥٧طبع دارالكلم الطيب،بيروت،أيضاالبحرالرائق،باب الجنايات ج:٣ص:٢٦، ٢٧طبع دارالمعرفة، بيروت)

[3] وأماشرائط الوجوب ومنها الإقامة، فلاتجب على المسافر، (البحرالعميق، الباب الثاني عشرج :٣ص : ١٧٠٦ طبع مؤسسة الريان، المكتبة المكية، مصر) قال في معراج الدراية : اعلم ان مايفعل في أيام النحرأربعة أشياء....الخ)_

د حج قرباني په کوم ځای کې کیږي؟

سوال: د حج قرباني د منی نه پرته مکه، مزدلفه، عرفات کې هم کیدای شي؟ او که په منی کې کول یې شرط دي؟ که چیرته یو حاجي د حج قرباني د رمي کولو نه فورا وروسته مکې ته راتلو سره وکړه، نو د هغه قرباني وشوه یا به په دویم ځل قرباني کول پرې لازم وي؟

جواب: د حج سره متعلق قرباني د حرم په حدودو کې ذبح کول شرط دي. مزدلفه د حرم په حدودو کې دننه ده، عرفات نه دی.[1]

د حاجي د قرباني له پاره بل ځای کې پیسې جمع کول

سوال: که چا قرباني له پاره مدرسه صولتیه کې پیسې جمع کړې، په خپله باندې یې قرباني ونه کړه، دا عمل صحیح دی او که نه؟

جواب: حاجي ته د مزدلفې نه منی ته راتلونه وروسته څلور کارونه کول وي:

(۱): رمي. (۲): قرباني. (۳): حلق. (۴): طواف افاضه.

لومړیو دریو کارونو کې ترتیب واجب دی، یعنې د ټولونه مخکې رمي کول، بیا قرباني (کله چې حج تمتع یا قِران وي) د هغه نه وروسته ویښته کټ کول، که چیرته دې دریو کارونو کې ترتیب قائم نه شي مثلاً د رمي نه مخکې یې قرباني وکړه، یا یې حلق وکړ، یا د قرباني نه مخکې یې حلق وکړ، نو دم واجب دی، تاسو چې پیسې په مدرسه صولتیه کې جمعه کړې، نو دا ضروري ده چې هغه قرباني ستاسو د رمي نه وروسته او حلق نه مخکې وي، که چیرته تاسو رمي نه وه کړې او هغوی ستاسو له طرف نه قرباني وکړه، نو دم لازم شو، یا هغوی قرباني نه وه کړې او تاسو حلق وکړ، نو بیا هم دم لازم شو، له دې وجې د هغوی نه تحقیق کول پکار دي چې هغو قرباني کوم وخت کې کړې وه.

دا حکم هغه صورت کې دی کله چې ستاسو حج تمتع یا قِران وي[2]، خو که چیرته تاسو

---

[1] ولایجوز ذبح الهدایا إلافی الحرم (عالمگیری ج :۱ ص : ۲۶۱، الباب السادس عشر فی الهدي)

[2] قال فی معراج الدرایة : اعلم ان مایفعل فی أیام النحر أربعة أشیاء : الرمی والنحر والحلق والطواف، وهٰذا الترتیب واجب عند أبی حنیفة ومالک وأحمد لأثر ابن مسعود وابن عباس من قدم نسکا علی نسک لزمه دم، وظاهره أنه إذا قدم الطواف علی الحلق یلزمه دم عنده، وقد نص فی المعراج فی مسئلة حلق القارن قبل الذبح أنه إذا قدم الطواف علی الحلق لایلزمه شيء فالحاصل: أنه إن قدم الرمی لزمه دم مطلقا، وإن ذبح قبل الرمی لزمه دم إن کان قارنا أومتمتعا... الخ (البحرالرائق،باب الجنایات ج :۳ ص : ۲۶ طبع دارالمعرفة، بیروت) أیضا : (قوله وقدنص فی المعراج إلخ) قد ذکر المؤلف عنه قول المتن ثم إلی مکة ان أول وقت صحة الطواف إذا طلع الفجر یوم النحر ولوقبل الرمی والحلق وأما الواجب فهو فعله فی یوم من الأیام الثلاثة عند أبی حنیفة رحمه الله، وظاهره أنه لایجب الترتیب بینه وبین الرمی والذبح والحلق، ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

مفرد حج کړی وي، نوقرباني ستاسوپه ذمه باندې واجب نه وه اوتاسودرمي نه وروسته حلق کولی شئ.[1]

د بینک (بانک) په ذریعه باندې قرباني کول

سوال: زه اوزمابښځه حج ته لاړو دحج نه مخکې دقرباني پیسې موږ هلته بینک (بانک) کې جمعه کړې، چې په هغه ورځ باندې دمذبح خانې پریشاني نه وي، خودلته راتلوسره زما ورور ماته وویل چې داصحیح نه دی، له دې وجې زه تاسونه پوښتنه کول غواړم چې، ایا داعمل صحیح دی اوکه نه اوکه نه دی، نوددې دلیل څه دی اوبیاددې عمل له وجېحج کې چې کوم نقص راغی هغه نقص څه دی او اوس دهغه تاوان څه دی، چې دهغه له وجې غلطي پوره شي؟

جواب: دکوم کس حج چې تمتع یا قِران وي دهغه په ذمه باندې قرباني واجب ده[2] اوداهم واجب دی چې مخکې قرباني وکړي اودهغه نه وروسته حلق وکړي، که چیرته قرباني نه یې مخکې حلق وکړ، نودم واجب شو، تاسوچې بینک (بانک) کې کومې پیسې جمعه کړې وي، تاسوته هیڅ معلومات نه شته چې ستاسودنوم قرباني کېدونه وروسته تاسوحلق کړی دی اوکه مخکې، له دې وجې ستاسوپه ذمه باندې داحتیاط له وجې دم لازم دی.[3]

...بقیه د تیرمخ]...وفى الدرالمختارعند عد الواجبات، والترتيب بين الرمى والحلق والذبح يوم النحر، وأماالترتيب بين الطواف وبين الرمى والحلق فسنة فلوطاف قبل الرمى والحلق لاشيء عليه ويكره لباب،٥١ (منحة الخالق عليٰ هامش البحرالرائق ج :٣ص : ٢٦، باب الجنايات، طبع دارالمعرفة، بيروت)_

[1] لاإن كان مفردا لأن أفعاله ثلاثة الرمى والحلق والطواف، وأما ذبحه فليس بواجب فلا يضره تقديمه وتأخيره .... الخ البحرالرائق ج :٣ص : ٢٦، باب الجنايات، طبع دارالمعرفة، بيروت)_

[2] فإذا فرغ من الرمى يوم النحرانصرف إلى رحله، ويشتغل بشيء اخر، فذبح إن شاء، لأنه مفرد والذبح أفضل، وإنما يجب على القارن والمتمتع، أما الأضحية فإن كان مسافرا فلايجب عليه، وإلا فكالمكى فتجب كما فى البحر (غنية الناسک، فصل فى الذبح وأحكامه ص : ١٧٢) أيضا : (فصل فى هدى القارن والمتمتع) : (يجب) أى إجماعا على القارن والمتمتع هدى شكرا لماوفقه الله تبارک تعالى للجمع بين النسكين فى أشهرالحج بسفرواحد .... الخ (مناسک ملاعلى القارى ص : ١٧٤) أيضا : فإذا وصل منزله بمنى .... وإن كان قارنا أومتمتعا يجب عليه ذبح الهدى، وصفا ته كصفات الأضحية (البحرالعميق، الباب الثانى عشرج :٣ ص :١٧٠٠طبع مؤسسة الريان،مصر)_

[3] قال فى البحروأفاد بالفاء التى للتعقيب فى قوله فيتحلل إلى أنه لايتحلل إلا بالذبح ولهذا قالوا انه يواعد من يبعثه بأن يذبحها فى يوم معين فلوظن أنه ذبح هديه ففعل مايفعله الحلال ثم ظهرأنه لم يذبح كان عليه ماعلى الذى ارتكب محظورات إحرامه لبقاء إحرامه كذا فى النهاية (بحرالرائق،ج :٣ ص ٥٤،كتاب الحج، طبع دارالمعرفة، بيروت) ويدل عليٰ أن الذبح مقدم على الحلق فى القرآن والتمتع لأنه عموم فى كل من عليه حلق وهدى فى وقت واحد فيحتج فيمن حلق قبل أن يذبح ان عليه دما لمواقعته المحظورفى تقديم الحلق على الهدى (أحكام القران للجصاص ج :١ص ٢٧٥باب وقت ذبح هدى الإحصار، طبع سهيل اكيدمى لاهور)_

سوال: دحج ذوران کې ليدل شوي دي چې اکثرحاجيان هلته بينکونوکې دقرباني له پاره پيسې جمعه کوي اوبيالسم ذوالحجې باندې درمي نه وروسته سمدستي حلق کولوسره احرام خلاص کړي، حالانکې بينک والاقرباني دترتيب اوحساب نه پرته مسلسل درې ورځې کوي، هغه کې هيڅ معلومات نه کيږي چې دچاقرباني مخکې وشوه، چې دې اعتبارسره حلال وي، پوښتنه داده چې دحاجيانو داعمل څنګه دی؟ ايا داخلک دقرباني نه پرته احرام خلاصولی شي اوکه نه اوسنت او واجب طريقه څه ده؟

جواب: دکوم کس حج چې تمتع يا قِران وي هغه باندې قرباني واجب ده اوداهم واجب دي چې هغه به قرباني له حلق نه مخکې کوي ، که چيرته حلق يې وکړ اوقرباني يې نه وه کړې، نودم لازم شو،کوم خلک چې بينک کې دقرباني له پاره پيسې ږدي دهغوی له پاره ضروره ده چې دبينک والاوو نه وخت معلوم کړي اوبيادقرباني په ورځ باندې دقرباني ځای ته خپل کس وليږي اودخپل نوم قرباني دې حلاله کړي، دهغه نه وروسته دې حلق وکړي، ترڅوپورې چې يوحاجي ته معلومه نه وي چې دهغه قرباني شوې ده اوکه نه، هغه وخته پورې حلق کول جائزنه دي که نه، نو دم به لازم وي، ياخوکومه طريقه چې ماليکلې ده دې باندې عمل کول پکاردی اويابينک کې پيسې جمعه کول نه دي پکار، بلکې له خپل طرف نه دقرباني انتظام کول پکاردي.[1]

يوه قرباني باندې دوه کسان دعوه کوي

نودلومړي اخيستونکي به شميرل کيږي

سوال: تيرکال زمايودوست هلته موجودقصاب ته قرباني له پاره پيسې ورکړې،کله چې څاروی حلال شو، نوزمادوست دهغه نه څه غوښه اخيستل غوښتل، نوهلته څه خلک راغلل او ويې ويل چې دا څاروی، خو زموږ دی اوموږقصاب ته ددې پيسې ورکړي دي، تحقيق کولوسره معلومه شوه چې قصاب له دواړوکسانونه جداجداپيسې اخيستې دي اويوڅاروی يې حلال کړ، اوس مسئله داده چې ايا زماددوست د قرباني فرض اداشوکه هغه به په دويم ځل باندې قرباني کوي؟

جواب: هغه قصاب دبل کس نه پيسې مخکې اخيستې وې، له دې وجې هغه څاروی دهغوی و، ستاسودوست ته معلومات کېدو سره دهغه نه پيسې بېرته اخيستل پکارو اوبل څاروی ورته حلالول پکارو، په هرحال دهغه په ذمه باندې قرباني پاتې ده او هغه دقرباني نه مخکې احرام خلاص کړ، له دې وجې دهغه په ذمه باندې دم هم لازم دی، اوس به دوه قرباني کوي.

[1] تيره شوې حاشيه (قال فى البحروأفاد بالفاء التى للتعقيب...الخ) اوګورئ!)_

دامسئله هغه صورت کې ده کله چې دهغه دتمتع یا قران احرام تړلی وي، که چیرته دمفردحج احرام وي، نودهغه په ذمه باندې هیڅ واجب نه دي.[1]

حاجي د کومې قرباني غوښه خوړلی شي؟

سوال: خواست دادی چې کوم خلک حج یاعمره کوي، هغوی یوه قرباني کوي چې دم ورته ویل کیږي اولسم ذوالحجې باندې چې خلک کومه عامه قرباني کوي، هغه ته سنت ابراهیمي ویل کیږي ، اوس دامعلومول غواړم چې ددم غوښه له مسکینانو پرته، د مالدارو خلکوله پاره منع ده. خومکه مکرمه کې تقریبا ټول حاجیان همدغه غوښه خوري، ماته دې کې ډیرزیات تردد (شک) دی. ددې حل به څه وي؟

جواب: دتمتع یا قِران حج کونکي دحج اوعمره اداکولوله وجې چې کومه قرباني کوي، هغې ته دم شکرویل کیږي[2] دهغې حکم هم دعامې قرباني په شان دی، له هغې پخپله قرباني کونکي، مالداراوغریب ټول غوښه خوړلی شي اوکوموکسانوباندې چې حج یاعمرې کې دجنایت (غلطي) له وجې دم واجب شي، هغه ته دم جبر ویل کیږي، هغه په غریبانانو او مسکینانو باندې صدقه کول ضروري دي، مالدارخلک اودم کونکی کس پخپله باندې دهغه غوښه نه شي خوړلی.[3]

---

[1] وأما القارن إذا جنى يجب عليه دمان لأجل الجناية إلا أنه لوحلق المفرد قبل الذبح لايلزمه دم عندأبي حنيفة لأنه لاذبح على المفرد (البناية في شرح الهداية ج :۵ص : ۱۹۴، كتاب الحج باب القرآن) أيضا: فإن حلق قبل الذبح فعليه دمان، دم للحلق قبل ودم القرآن عند أبي حنيفة كذا في التبيين (فتاوى عالمگيرى ج :۱ص: ۲۴۴)_

[2] قال في معراج الدراية : اعلم ان مايفعل في أيام النحرأربعة أشياء : الرمي والنحروالحلق والطواف، وهٰذا الترتيب واجب عند أبي حنيفة ومالك وأحمد لأثرابن مسعود وابن عباس من قدم نسكا على نسك لزمه دم، وظاهره أنه إذا قدم الطواف على الحلق يلزمه دم عنده، وقد نص في المعراج في مسئلة حلق القارن قبل الذبح أنه إذا قدم الطواف على الحلق لايلزمه شيء فالحاصل : أنه إن حلق قبل الرمي لزمه دم مطلقا، وإن ذبح قبل الرمي لزمه دم إن كان قارنا أومتمتعا .... الخ (البحرالرائق،كتاب الحج، باب الجنايات ج : ۳ص : ۲۶ طبع دارالمعرفة بيروت) أيضا : (قوله وقد نص في المعراج الخ) قد ذكرالمؤلف عنه قول المتن ثم إلى مكة ان أول وقت صحة الطواف إذا طلع الفجريوم النحرولوقبل الرمي والحلق وأما الواجب فهو فعله في يوم من الأيام الثلاثة عند أبي حنيفة رحمه الله وظاهره أنه لايجب الترتيب بينه وبين الرمي والذبح والحلق، وفي الدرالمختارعند عد الواجبات، والترتيب بين الرمي والحلق والذبح يوم النحر، وأماالترتيب بين الطواف وبين الرمي والحلق فسنة فلوطاف قبل الرمي والحلق لاشيء عليه ويكره لباب،۱هـ (منحة الخالق على هامش البحرالرائق ج :۳ص : ۲۶، كتاب الحج، باب الجنايات)

[3] (قوله ويأكل من هدى التطوع والمتعة والقرآن فقط) أى يجوزله الأكل .... والمستحب أن يفعل كما في الأضحية وهوأن يتصدق بالثلث ويطعم الأغنياء الثلث ويأكل ويدخرالثلث...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

❖ حلق ❖

[ويښته خريل]

له جمرو ويشتلو وروسته ويښته کټ کول

سوال: ځينې حاجيان د (١٠) ذوالحجې له جمرو ويشتلو وروسته له قرباني څخه مخکې ويښته کټ کړي، حالانکې له قرباني نه وروسته له احرامه فارغيږي، دې صورت کې څه جزا واجبيږي او که نه؟

جواب: که چيرته د مفرد حج احرام وي، نو قرباني د هغه په ذمه باندې واجب نه ده، له دې وجې د رمي نه وروسته ويښته کټ کولی شي[١] او که چيرته تمتع يا قران وي، نو له رمي نه وروسته لومړی قرباني کول او بيا احرام خلاصول پکار دي، که چيرته قرباني نه يې مخکې احرام خلاص کړ، نو هغه باندې دم لازم شو.[٢]

د احرام خلاصولو طريقه

سوال: د حج يا عمرې چې کله احرام تړل کيږي، څنګه چې د احرام تړلو شرائط دي، همدغه شان د احرام پرانيستلو هم شرائط دي، ويښتان کټ کول دي. نو د ويښتانو کټ کولو طريقه او اصلي مسئله واضحه کړئ!

جواب: د احرام خلاصولو له پاره حلق (د سر خريل) غوره دي او قصر جائز دی، د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د احرام خلاصولو له پاره دا شرط دی چې کم نه کم د سر ويښتان د ګوتې د بند برابر کټ کړل شي، که چيرته د سر ويښتان واړه وي او د يو بند نه کم وي، نو د بيخ نه صفا کول ضروري دي، له هغه نه پرته احرام نه خلاصيږي.[٣]

...بقيه د تيرمخ]...وأفاد بقوله فقط :: أنه لايجوز الأكل من بقية الهدايا كدماء الكفارات كلها والنذور وهدى الإحصار.... الخ (البحرالرائق، كتاب الحج، باب الهدى ج: ٣ ص: ٧٦، طبع دارالمعرفة، أيضاً فتاوى عالمگيرى، كتاب الحج، الباب السادس عشر في الهدى ج: ١ ص: ٢٦٢)

[١] فإذا فرغ من الرمي يوم النحر انصرف إلى رحله، وينتقل بشيء اخر، فذبح إن شاء، لأنه منفرد والذبح له أفضل، وانما يجب على القارن والمتمتع، وأما الأضحية فإن كان مسافرا فلا يجب عليه وإلا فكالمكي فتجب كمافي البحر (غنية الناسک ص: ١٧٢، أيضا: البناية في شرح الهداية، باب التمتع، ج ٥ ص: ١٩٥)_

[٢] تيره شوې حاشيه (قال في معراج الدراية: اعلم ان مايفعل...الخ) اوګورئ!)_

[٣] أن الحلق والتقصير واجب لكن الحلق أفضل .... من جاء ه يوم النحر ولم يكن على رأسه شعر أجرى الموسى على رأسه (بدائع ج ٢ ص: ١٤٠، كتاب الحج، فصل وأما الحلق...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

باربار عمره کونکي له پاره حلق لازم دی

سوال: دحج اوعمرې یوکتاب کې لیکل شوي دي چې که چیرته دحج یا عمرې کولونه وروسته دسرویښته د ګوتې دبندنه واړه وي، نودهغه قصرنه کیږي. حلق کول به ضرور وي اوکه چیرته ویښته دګوتې دبندنه غټ وي، نوقصرکیږي. عرض دادی چې کوم خلک طائف جده یمکې مکرمې ته نژدې اوسیږي اوالله تعالی هغوی ته توفیق ورکړی وي چې هره میاشت کې دوه درې عمرې اداکول غواړي اودهغوی ویښته واړه وي. نو ایا هغوی به همیشه حلق کوي؟ ځکه چې یوځل حلق کولوسره کم نه کم دوه میاشتوکې ویښته دومره نه غټیږي چې دهغو قصر وشي. که یوخوش قسمته په هره جمعه باندې عمره اداکوي اوحلق کول نه غواړي. نوقصرکولی شي؟

جواب: قصرهغه وخت کې کیږي چې کله دسرویښته دګوتې دبند برابروي. خوکه چیرته ویښته له دې نه واړه وي. نوحلق ضروري دی. قصرصحیح نه دی[۱].کوم خلک چې باربار دعمرې اداکولو شوق لري. هغوی له پاره لازم دي چې دهرې یوې عمرې نه وروسته حلق وکړي. قصر باندې دهغوی احرام نه خلاصیږي[۲]

حج اوعمره کې څومره ویښتان کټ کړل شي؟

سوال: حج یاعمره دمسلمان له پاره ډیرغټ فضیلت دی. ددې اداکولو له پاره الله تعالی څه رکنونه مقررکړي دي.که هغو کې یوهم پاتې شي. نودهغه حج یاعمره نه کیږي. دې دواړو فرایضو کې اخري رکن دسرویښتان کټ کول دي. چاړه یاقینچي باندې. یعنې دسر د هر ویښته څلورمه برخه کټ کول پکاردي. نن سباچې کوم خلک حج یا عمرې ته راځي. نوهغوی دسرتول ویښتان یاد ویښتانو دڅلورمې برخې کټ کولوپه ځای په قینچي باندې یودوه ځایونونه لږلږ ویښته بالکل کټ کړي. هغوی دارکن داسې اداکوي. ایا داسې ویښتانو کټ کولوسره به دویښتوکټ کولورکن اداشي؟ اود حضور ﷺ ارشاد دی چې ویښتان په چاړه

....بقیه د تېرمخ] ... أوالتقصير. أيضا فتاوى عالمگيرى ج : ١ص : ٢٣١) يكتفى فى الحلق بربع الرأس وحلق الكل أولى (هداية. كتاب الحج. باب الإحرام ج : ١ص : ٢٥٠)

[١] وأما التقصيرفالتقديرفيه بالأنملة (البدائع الصنائع ج :٢ ص : ١٤١) أيضا : وإذا جاء وقت الحلق ولم يكن على رأسه شعربأن حلق قبل ذلک سبب اخرذكرفى الأصل أنه يجرى الموسى على رأسه لأنه لوكان على رأسه شعركان المأخوذ عليه اجراء الموسى وإزالة للشعرفاعجزه عنه سقط ومالم يعجزه عنه يلزمه (فتاوى عالمگيرى.كتاب الحج. الباب الخامس فى كيفية اداء الحج ج :١ص :٢٣١)۔

[٢] فدل ان الحلق والتقصير واجب .... هذا إذا كان على راسه شعر فاما اذا لم يكن اجرى الموسيٰ على راسه (البدائع الصنائع ج: ٢ ص : ١٤٠. كتاب الحج. فصل واما الحلق او التقصير)۔

بندي خريل افضل دي. كه نه نو د ويښتانو څلورمه برخه

جواب: د احرام خلاصولو له پاره د سر ويښتان کټ کول ضروري دي او د دې درې درجې دي

لومړی حلق کول دي. يعني چرته باندې د سر ويښتان صفا کول دي. دا له ټولونه غوره دي او داسې خلکو له پاره حضور ﷺ درې ځله د رحمت دعا کړې ده[1] کوم خلک چې دليرې لمړی نه د حج ادا کولو له پاره ځي او هغه باوجود د حضور ﷺ د رحمت د دعا نه محروم پاتې کېږي. د هغوی حالت ډېر د افسوس قابل دی. د غو خلکو د خپلو ويښتانو سره د عشق له وجې خپل ځان د خير له دعا نه محروم کړ. د هغوی حالت د دې شعر په شان دی

کعبے بھی گئے پر نہ چھٹا عشق بتوں کا
اور زمزم بھی پیا پر نہ بجھی آگ جگر کی

دويمه درجه دا ده د ټول سر ويښتان د مشين يا قينچي په ذريعه باندې کټ کړل شي. د دې فضيلت د حلق (سرخريلو) برابر نه دی. خو درې ځله د حلق کونکوله پاره د عا کړ لو نه وروسته څلورم ځل باندې دعا کې دا خلک هم شامل شوي دي[2]

دريمه درجه دا ده چې کم نه کم د سر د څلورمې برخې پورې ويښتان کټ کړل شي[3] کوم کس چې د سر د څلورمې برخې ويښتان نه کټ کوي د هغوی احرام نه خلاصيږي[4] او هغه له پاره ګنډل شوي جامې اغوستل او ښځې ته ورتل حرام دي. کوم خلک چې دوه څلور ويښتان معمولي کټ کولو سره جامې واغوندي. هغوی داسې دي لکه د احرام په حالت کې چې جامې اغوندي. د هغه له وجې د هغوی په ذمه باندې د جنايت دم لازميږي.

---

[1] فالحلق اوالتقصير واجب عندنا اذا كان على راسه شعر لا يتحلل بدونه .... فدل ان الحلق او التقصير واجب لكن الحلق افضل لانه روى ان رسول الله صلى الله عليه وسلم دعا المحلقين ثلاثا و للمقصرين مرة واحدة فقال اللهم اغفر للمحلقين. فقيل له والمقصرين. فقال : اللهم اغفر للمحلقين. فقيل له : والمقصرين. فقال له : اللهم اغفر للمحلقين والمقصرين .... الخ (البدائع الصنائع ج: ۲ ص : ۱۴۰، كتاب الحج. فصل واما الحلق او التقصير)

[2] ايضاً پورته حواله او ګورئ.

[3] واما التقصير فالتقدير فيه بالأنملة لما روينا من حديث عمر رضى الله عنه لكن أصحابنا قالوا : يجب أن يزيد فى التقصير على قدر الأنملة. لأن الواجب هٰذا القدر من أطراف جميع الشعر. وأطراف جميع الشعر لا يساوى طولها عادة بل تتفاوت الخ (البدائع الصنائع ج : ۲ص : ۱۴۱. كتاب الحج. فصل وأما الحلق أوالتقصير)_

[4] ولو حلق بعض الرأس فان حلق أقل من الربع لم يجزه وإن حلق ربع الرأس أجزأه ويكره (بدائع الصنائع ج : ۲ص : ۱۴۱) لأن الحلق أوالتقصير واجب لما ذكرنا فلا يقع التحلل إلابأحدهما ولم يوجد فكان إحرامه باقيا فإذا غسل رأسه بالخطمى فقد أزال التفث فى حال قيام الإحرام فيلزمه الدم والله اعلم (بدائع الصنائع ج : ۲ص : ۱۴۰)_

سوال: موږدلته سعودي کې دنوکري (وظيفې) له وجې مقيم يو اودالله تعالى په مهرباني باندې موږته دحج اوعمرې سعادت ډېر نصيب کيږي. خودعمرې اداکولونه وروسته موږه خلک اکثر داغلطي کوو چې مقامي خلکو، مصري، يمني اوسوډاني خلکوته کتلوسره دسر ويښتان دوه څلور ځايونه معمولي کټ کولوسره احرام خلاص کړو اوځه خلک وايي چې داسې کولوسره احرام نه نه خارجيږي. ځکه چې حنفي فقه کې داسې کول جائزنه دي. بلکې کم نه کم دسرڅلورمې برخې ويښتان کټ کول پکار دي اودځينې خلکوخيال دى چې دهرويښته څلورمه برخه کټ کول ضروري دي،کوم چې ډېرګران کاردى،دعمرې په کتابونوکې هم داخبره ښکاره نه ده ليکل شوې. تاسوته خواست دى چې مهرباني وکړئ دسردويښتانو کټ کولو مسئله او اوسه پورې چې موږ څومره عمرې غلطي سره اداکړي دهغه کفاره څنګه اداکړو؟ تفصيل سره واضح طورباندې دروزنامه جنګ دجمعې په ايډيشن کې اسلامي صفحه باندې چاپ کولوسره دلکونو داسې مسلمانانو اصلاح وکړئ چې داغلطي کوي. داخبره ليدل شوې ده چې دپاکستان اوهندوستان حاجيانوکې نوي (٩٠) فيصده خلک مقامي خلکوته کتلو سره دهغوى په شان کوي.

جواب: احرام که دحج وي اوکه دعمرې، دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد باندې دسرڅلورمې برخې ويښتان کټ کول داحرام خلاصولوله پاره شرط دي،که چيرته دسرڅلورمې برخې ويښتان کټ نه کړل شول، نواحرام خلاص نه شو، دې صورت کې داحرام خلاف کارکولوسره دم واجبيږي.[1]

له سعي وروسته دويښتانو نه کټ کونکې ښځې له پاره څه حکم دى؟

سوال: د رمضان نه څه موده مخکې زه اوزما خاوند په عمره باندې تللي و، دهغه نه وروسته زما خاوند وويل چې ته لاړه شه زه به ويښتان کټ کړم بيا به درشم، ماته بالکل خيال ونه شو چې ماته هم ويښتان کټ کول دي. له هغه ځاى نه مدينې ته لاړو اويوهفته هلته و،بيرته راتلوسره مو په دويم ځل عمره ادا کړه. بيا کراچۍ ته راغلو. يو مياشت وروسته دا احساس وشو چې د عمرې يورکن خو پاتې شو. ديومولاصاحب نه مې پوښتنه وکړه. نو هغه وويل چې دم ورکول به واجب وي، په دې سلسله کې، ماتاسو ته رجوع کړې ده چې ايا چيلى ورکول به ضروري وي يا د چيلۍ پيسې، يو ضرورت مند ته ورکړل شي؟

جواب: ترڅوپورې چې ويښتان کټ نه کړل شي ترهغه پورې سړى په احرام کې وي. دهغه له پاره هغه ټول شيان ممنوع وي چې په احرام کې ممنوع دي اود ښځې خاوند په خپل مينځ کې

[1] تيره شوې حاشيه (ولوحلق بعض الرأس فإن حلق أقل من الربع...الخ) اوګورئ!۔

ملاویدل هم جائز نه دي، که چیرته هغه وخت تاسو د وظیفه د زوجیت ادا کړه یا مو نور شیان وکړل چې په احرام کې ممنوع دي، نو ستا په ذمه باندې دم لازم شو [۱]

۲ او ترڅوپورې چې یو احرام خلاص نه شي، دویم احرام تړل جائز نه دي، د مدینې نه بیرته راتګ سره چې تاسو احرام تړلی وي او که چیرته نورې عمرې مو کړې وي، نو دهغه احرام به هم تړل وي. الغرض دومره دمونه به ستاپه ذمه لازم راځي. [۲]

۳ دم چیلي ذبح کولو ته وایي او دا یوازې دحرم په حدو کې ادا کیږي.[۳] خپلو ویښتانو کټ کولو سره احرام پرانیزه اوڅومره دمونه چې ستا په ذمه باندې لازم شوي دي. هغومره پیسې دیوحاجي په لاس واستوه چې هلته هغومره چیلی ذبح کړي او د الله تعالی نه استغفار غواړه.

داحرام حالت کې دبل ویښتان کټ کول

سوال: تیرکال مادخپل دوست سره یوځای حج اداکړ. لسم ذوالحجې دقرباني نه فارغیدو سره دویښتانوکټ کولوله پاره موړنایي ډیرزیات وکوت خوراته پیدانه شو، دې باندې زما دوست پخپله باندې زماویښته کټ کړل. یادساتل پکاردي چې هغه وخت کې هغه احرام کې و. دغه دوران کې یوبل ویښتان کټ کونکی پیداشو او زمادوست هغه باندې ویښتان کټ کړل. بیا وروسته خلکوویل چې زما دوست ته زماویښتان کټ کول نه و پکار، ځکه چې هغه د احرام په حالت کې و. اوس مهرباني وکړئ اودا ووایئ چې ایا زمادوست باندې دم واجب شو؟ یا داصل مسئلې نه دناواقفیت له وجې داځه غلطي نه وه؟

جواب: داحرام خلاصولوپه نیت باندې محرم پخپله باندې هم خپل ویښتان کټ کولی شي اودبل محرم ویښتان هم کټ کولی شي، ستاسو دوست چې داحرام خلاصولوله پاره ستاسوویښتان کټ کړل، نوهغه صحیح وکړل، دهغه په ذمه باندې دم واجب نه دی.[۴]

[۱] (والحلق) أی نفسه (أوالتقصير) أی بدله مقدارالربع من الرأس عندالإحلال فإن قلت الحلق عد من الواجبات وهوشرط للخروج من الإحرام (إرشاد الساری ص : ۴۸، مطلب فی تحقيق قول الشارح الحلق عد ..... الخ)

[۲] ومن فرغ من عمرته إلا التقصيرفأحرم بأخرى فعليه دم لإحرامه قبل الوقت لأنه جمع بين إحرامی العمرة وهذا مكروه فيلزمه الدم وهودم جبروكفارة (الهداية مع الدراية ج : ۱ص : ۲۹۱،كتاب الحج، باب اضافة الإحرام)

[۳] وإن ذبح فی غيرالحرم لايجوزعن الذبح (عالمگيری ج :۱ص: ۲۴۴، كتاب الحج، الباب الثامن فی الجنايات)

[۴] وإذا حلق أی المحرم رأسه أورأس غيره أی ولوكان محرماعند جوازالتحلل ......لم يلزمه شيئ. (إرشاد الساری ص: ۱۵۴، مبحث فی تحقيق حلق الرأس لابن الهمام)

د خاوند یا پلار د خپلې ښځې یا لور ویښتان کټ کول

سوال: ایا خاوند یا پلار د خپلې ښځې یا لور ویښتان کټ کولی شي؟

جواب: د احرام خلاصولو له پاره خاوند د خپلې ښځې او پلار د خپلې لور ویښتان کټ کولی شي. ښځې د اکار پخپله باندې هم کولی شي[1]

❖ طواف زیارت او طواف وداع ❖

طواف زیارت له رمي، ذبح وغیره نه مخکې کول مکروه دي

سوال: د تمتع او قران حج کونکوله پاره رمي، قرباني او ویښتان کټ کول همدې ترتیب سره کول وي یا د دې اجازه شته چې د رمي نه وروسته د احرام په حالت کې مسجد حرام ته تلو سره طواف زیارت وکړي او بیا منی ته راتلو سره قرباني او ویښتان کټ کړي؟

جواب: کوم کس چې د تمتع یا قران حج کړی وي، هغه له پاره د ریو شیانو کې ترتیب واجب دی. مخکې دې د جمره عقبه رمي وکړي. بیا قرباني. بیا دې ویښتان کټ کړي. که چیرته د دې ترتیب خلاف یې وکړل. نو دم به لازم شي[2] خو د دې دریو شیانو او طواف زیارت په مینځ کې ترتیب واجب نه دی. بلکې سنت دی. د دې دریو شیانو نه په ترتیب باندې فارغېدو نه وروسته طواف زیارت ته تلل سنت دي. خو که چا د دې دریو شیانو نه مخکې طواف زیارت وکړ، نو د سنت خلاف کېدو له وجې مکروه دی[3]، خو هغه باندې به دم لازم نه وي.

ایا ضعیف سړی یا ښځه په (۷) یا (۸) ذوالحجې باندې طواف زیارت کولی شي؟

سوال: یو سړی یا ښځه چې هغه د بیرزیات د کمزورۍ په حال کې وي او (۱۰، ذوالحجې یا (۱۱) ذوالحجې باندې حرم شریف کې د بیرزیات رش وي. نو ایا داسې کس په (۷) یا (۸) ذوالحجې

---

[1] ایضاً پورتنی حواله)۔

[2] قال فی معراج الدرایة : اعلم ان ما یفعل فی أیام النحر أربعة أشیاء : الرمی والنحر والحلق والطواف. وهذا الترتیب واجب عند أبی حنیفة ومالک وأحمد لأثرابن مسعود وابن عباس من قدم نسکا علی نسک لزمه دم. و ظاهره أنه إذا قدم الطواف علی الحلق یلزمه دم عنده. وقد نص فی المعراج فی مسئلة حلق القارن قبل الذبح أنه إذا قدم الطواف علی الحلق لا یلزمه شيء فالحاصل أنه إن حلق قبل الرمی لزمه دم مطلقا. وإن ذبح قبل الرمی لزمه دم إن کان قارنا أومتمتعا...إلخ (البحر الرائق ج:۳ ص:۲۶. کتاب الحج. باب الجنایات. فصل ولا شيء إن نظر...إلخ)

[3] ولو طاف قبل الرمی الحلق لا شيء علیه ویکره (غنیة الناسک ص: ۲۸۰)۔

باندې طواف زيارت کولی شي او که نه؟ چې د تللو راتللو د سفرنه بچ شي او که څوک په ديارلسم يا څوارلسم تاريخ باندې طواف زيارت وکړي، نو ايا فرض به اداشي؟

جواب: د طواف زيارت وخت د ذوالحجې لسم تاريخ (يوم النحر) د صبح صادق نه شروع کيږي. د دې نه مخکې طواف زيارت جائزنه دی او د دولسم تاريخ د لمرغورخيدو نه مخکې يې اداکول واجب دي. که چيرته د دولسم تاريخ لمرپريوت او هغه طواف زيارت ونه کړي، نو د هغه په ذمه باندې دم واجب شو [1]

ايا طواف زيارت کې رمل، اضطباع وکړل شي؟

سوال: ايا طواف زيارت کې رمل، اضطباع او سعي شته؟

جواب: که مخکې سعي نه وي شوي، بلکې د طواف زيارت نه وروسته کول وي، نو دې کې به رمل وي، خو طواف زيارت عام طور باندې ساده جامو کې کيږي، له دې وجې اضطباع ضروري نه ده او که چيرته د احرام څادر نه وي کوز شوی، نو اضطباع هم وکړي.[2]

د طواف زيارت نه مخکې د ښځې او خاوند تعلق

سوال: ايا د طواف زيارت نه مخکې د ښځې او خاوند تعلق جائز دی؟

جواب: حج کې د حلق کولونه وروسته او طواف زيارت نه مخکې احرام کې منع شوي ټول کارونه جائزشي، خو د ښځې او خاوند تعلق جائزنه وي، ترڅو پورې چې طواف زيارت نه وي شوی.[3]

طواف زيارت نه مخکې جماع کونکی دې د اوښ يا غوا دم ادا کړي

سوال: زما تعلق د احنافو مسلک سره دی. تيرکال د حج دوران کې مانه يو د غلطي وشوه. هغه دا چې (۱۲) ذوالحجې باندې جمرې ويشتلونه وروسته د شپې مونږ ښځې او خاوند صحبت وکړ، کله چې د ښځې د طبيعت د خرابې له وجې مونږ طواف زيارت په ۱۳، ذوالحجې باندې

---

[1] فصل: أول وقت طواف الزيارة طلوع الفجر الثاني من يوم النحر فلا يصح قبله ......لكن يجب فعله في أيام النحر فلو آخره عنها...لزمه دم (إرشاد الساري ص:١٥٥، باب طواف الزيارة، فصل أول وقت...إلخ)

[2] فإن كان سعى بين الصفا والمروة عقيب طواف القدوم لم يرمل في هذا الطواف ولم يسع وإلا رمل وسعى كذا في الكافي (عالمگيري ج: ١ ص:٢٣٢، كتاب الحج، الباب الخامس في كيفية أداء الحج)_

[3] ثم إذا حلق أو قصر حل له كل شيء حرم عليه بالإحرام إلا النساء كذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري ج:١ ص:٢٣٢) ثم يذبح ان أحب ثم يحلق أو يقصر ... وقد حل له كل شيء إلا النساء ...إلخ (هداية ج:١ص:٢٥٠) ولو لم يطف أصلا لم تحل له النساء وإن طال ومضت سنون وهذا بإجماع كذا في غاية السروجي شرح الهداية (عالمگيري ج:١ ص:٢٣٢، كتاب الحج، الباب الخامس في كيفية أداء الحج)_

وکړ، ځنګه چې رانه غلطي وشوه موږ د حج کتاب وکوت هغه کې داسې غلطي کولوباندې دم لیکل شوی و، زه دلته نو کریم او موږ دواړو د حج په ورځو کې عمره هم نه وه کړې او موږ د حرم په حدودو کې اوسیږو، موږ چې کوم صاحب ته د حج له پاره پیسې یوه هفته وروسته ورکړې وې، هغه قرباني د محرم میاشت په لومړی هفته کې وکړه، مهرباني وکړئ ماته د احنافو مسلک په نزد باندې ووایئ چې زموږ داحج صحیح وشو،که څه کمی پکې شته؟ دد ې بیان له وجې به نورو خلکوته هم فائده ورسیږي، ځکه چې همدغه شان مسئله یوبل صاحب سره هم شوې وه، هغه دامربکې نه راغلی اوزما په خیال ددم اداکولو نه پرته ولاړ. والله اعلم!

جواب: ستاسو دواړو حج خو په هرحال وشو، خو دواړو دوه جرمونه کړي دي، یو طواف زیارت د دولسم تاریخ نه وروسته کول او دویم د طواف زیارت نه مخکې صحبت کول، لومړي جرم باندې دواړو باندې دم واجب شو، یعنی د حرم په حدودو کې د دواړو له طرف نه یوه یوه چیلۍ حلالول[1] او دویم جرم باندې په دواړو باندې غټ دم واجب شو.یعنې د دواړو له طرف نه یو یو اوښ یا یوه یوه غوا حرم کې حلالول. له دې پرته دواړو ته استغفار کول هم پکار دي.[2]

ښځو ته طواف زیارت پریښودل نه دي پکار

سوال: ځینې ښځې طواف زیارت د حیض له وجې په مقرر وخت باندې ادانه شي کړای او دهغوی فلائټ (د طیارې پرواز) هم مخکې وي، داسې ښځوته فلائټ (پرواز) پریښودل پکار دي او که طواف زیارت پریښودل پکار دي؟

جواب: طواف زیارت د حج یوغټ رکن دی. ترڅو پورې چې طواف زیارت ونه کړل شي، ښځه خاوند د یوبل له پاره حلال نه دي، بلکې د ې معامله کې احرام موجود وي. له دې وجې ښځوته طواف زیارت پریښودل بالکل نه دي پکار، بلکې فلائټ (پرواز) پریښودل پکار دي.[3]

د ښځو له پاره د حیض له وجې د طواف زیارت نه پرته راتلل

سوال: که چیرته د یوې ښځې په دولسم ذوالحجې باندې فلائټ (د طیارې پرواز) وي او هغه

---

[1] (فصل أول وقت طواف الزيارة طلوع الفجر من يوم النحر......فلو آخره عنها) أى بغير عذر (ولو إلى اخر أيام التشريق لزمه دم) (إرشاد السارى ص۵۵۱، باب طواف الزيارة، فصل أول وقت طواف الزيارة)_

[2] قال فى البحر قوله (أو جامع بعد الحلق) أى يجب شاة إن جامع بعد الحلق قبل الطواف ثم اعلم أن أصحاب المتون على ماذكره المصنف من التفصيل فيما إذا جامع بعد الوقوف فإن كان قبل الحلق فالواجب بدنة وإن كان بعد الحلق فالواجب شاة ومشى جماعة من المشايخ كصاحب المبسوط وغيره والبدائع والسبيجابى على وجوب البدنة مطلقا .... وقال فى فتح القدير انه الأوجه لأن ايجابها ليس إلا بقول ابن عباس والمروى عنه ظاهره فيما بعد الحلق (بحر الرائق ج۳ص۱۶)_

[3] تیره شو: حاشیه (ثم إذا حلق أو قصر حل له كل شئ: الخ) او (ن او ری ۱)_

دحیض په ورځوکې وي. نو ایا هغه طواف زیارت پریښودلو سره وطن ته راتلی شي اودم اداکړي یاځه داسې شی استعمال کړي چې هغه حیض بندکړي، مهرباني وکړئ تفصیل سره ددې وضاحت وکړئ. چې داسې صورت کې څه کول پکاردي؟

جواب: لوی (غټ) طواف دحج فرض دی[1] ترڅوپورې چې هغه ادانه کړل شي، ښځه خاوند دیوبل له پاره حلال نه وي او احرام نه ختمیږي،[2]که چیرته یو کس ددې طواف نه پرته راشي. نوهغه بندې لازم دي چې دبل احرام تړلونه پرته بیرته لاړشي اوطواف وکړي، ترڅوپورې یې چې ونه کړي. دښځې او خاوند دتعلق په حق کې به احرام کې وي اودهغه حج به هم نه کیږي اوددې څه بدل هم نه شته دم ورکولوسره کارنه کیږي، بلکې بیرته تلوسره طواف کول ضروري دي[3]

کومې ښځې چې دغو ورځوکې ناپاکې وي هغوی ته پکار دي چې خپل سفرپریږدي او ترڅو پورې چې پاکېدوسره طواف ونه کړي مکې مکرمې نه بیرته راتلل نه دي پکار[4]که دحیض بندولوڅه تدبیرکېدای شي. نوله مخکې نه هغه اختیارول جائزدي.

ښځه که د ناپاکي یا څه بلې وجې طواف زیارت ونه کړي، نوحج یې نه کیږي

سوال: ناپاکي (حیض) له وجې که چیرته ښځه طواف زیارت ونه کړي او دبیرته تګ سرکاري (حکومتي) حکم وشي. اوس دهغې له پاره څه حکم دی؟

جواب: طواف زیارت دحج اهم رکن دی. ترڅوپورې چې طواف ونه شي، حج نه مکمل کیږي[5]اونه ښځه خاوند دیوبل له پاره حلال دي[6]کومو ښځوته چې دحیض له وجې داتکلیف جوړشي. هغوی ته پکاردی چې دپاکیدوپورې دمکې مکرمې نه واپس نه شي او پاکیدونه وروسته طواف زیارت نه فارغېدوسره واپس شي[7]که چیرته دهغوی دواپسي تاریخ مقرروي، نوبدل دې کړي.که چیرته دطواف زیارت نه پرته واپس راغله. نودهغې حج ونه شواونه هغه

---

[1] وهٰذا الطواف أی الزیارة هوالمفروض فی الحج (إرشاد الساری ص : ١٥٥)_

[2] تیره شوي حاشیه (ثم إذا حلق أو قصر حل له کل شئ....الخ) اوګورئ!)_

[3] ولولم یطف أصلا لم تحل له النساء وإن طال ومضت سنون...الخ (عالمګیری ج:١ص:٢٣٢کتاب المناسک)

[4] وإن حاضت المرأة یوم النحرقبل أن تطوف بالبیت لیس لها أن تنفرحتی تطهروتطوف بالبیت ....الخ (التاترخانیة ج : ٢ص : ٤٧١،کتاب الحج)_

[5] وهٰذا الطواف هوالمفروض فی الحج ولایتم الحج إلابه أی لکونه رکنا بالإجماع (إرشادالساری ص : ١٥٥)

[6] ولولم یطف أصلا لم تحل له النساء وإن طال ومضت سنون...الخ (عالمګیری ج:١ص:٢٣٢کتاب المناسک)

[7] ایضاً پورتنئ دوه حاشیې.

د خپل خوندله پاره حلاله ده. ترڅو پورې چې واپس تلو سره طواف زيارت ونه کړي داحرام په حالت کې به وي کوم کس چې د طواف زيارت نه پرته واپس راغی. هغه ته پکار دي چې دبل حل ترلونه پرته مکې مکرمې ته لاړشي اوطواف زيارت وکړي. دوروسته والي له وجې به هغه باندې دم واجب وي [۱]

طواف زيارت که چيرته د دولسمې ذي الحجې نه مخکې ونه شي، نو څه وکړي؟

سوال: د دولسمې ذي الحجې دلمرډوبيدو پورې که چيرته د طواف زيارت کولو همت نه وي. نو څه وکړي؟ اوپه دولسمې ذي الحجې د رش له وجې طواف زيارت ماښامه پورې ونه رسيدو. نو څه وکړي؟

جواب: طواف زيارت د دولسمې ذي الحجې د لمرډوبيدلو نه مخکې کول واجب دي. که نه. دم لازميږي [۲]

طواف زيارت کې د تاخير دم

سوال: يوې ښځې د ناپاکه کيدو له وجې دولسم تاريخه پورې طواف زيارت ونه کړ. په دولسم تاريخ پاکه شوه. نو دولس بجې د شيطانانو ويشتلو له پاره لاړه. څه څلورو ګنټو (ساعتونو) نه وروسته فارغه شوه. نو مکې ته روانه شوه. مکې ته د ماښام په وخت کې ورسيدله. مګر ټيکسي والا دومره تاو راتاو کړه چې د شپې دولس بجې شوې. په کتاب کې ليکل شوي و چې د ماښام نه مخکې طواف زيارت کول دي. له دې وجې هغې ښځې هغه ورځ طواف ونه کړ. بلکې په دويمه ورځ يې وکړ. اوس پوښتنه داده چې ايا په هغې دم شته اوکه نه؟

جواب: له پوښتنې نه معلوميږي چې دا ښځه په دولسم تاريخ باندې د ماسپښين نه مخکې پاکه شوې وه. کوم وخت چې دا پاکه شوه که چيرته هماغه وخت د طواف له پاره تللې وای. نو په ډيرې اسانتيا سره به يې له غروب نه مخکې طواف کولی شوای. خو دا د طواف په ځای د رمي له پاره لاړه. ددې له وجې دهغې د غروب نه مخکې طواف نه کول. دهغې د ناپوهي او کوتاهي له وجې نه وشو. لهذا دهغې په ذمه باندې دم لازم دی [۳]. دحرم په حدودو کې دې

---

[۱] فصل أول وقت طواف الزيارة طلوع الفجرمن يوم النحر......فلوآخره عنها) أى بغيرعذر (ولوإلى اخرأيام التشريق لزمه دم) (ارشادالسارى ص۱۵۵. باب طواف الزيارة، فصل أول وقت طواف الزيارة)_

[۲] وأمازمان هذا الطواف .... مؤقت بأيام النحر وجوبا فى قول أبى حنيفة حتى لوأخره عنها فعليه دم عنده (بدائع ج : ۲ص : ۱۳۲. كتاب الحج، فصل : وأما زمان هذا الطواف)

[۳] ولوطاف طواف الزيارة .... الخ وإن أعاده بعد أيام النحريجب الدم...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

نو حملې ذبح کړي [١]

طواف وداع کله کول پکار دي؟

سوال: زه پرون حج کړې مې داحرام او بدلې ده چې طواف وداع نه وروسته حرم شریف ته تلل نه دي پکار. معنی که چیرته ته مقیم نه وروسته طواف وداع وکړې او د ماسخوتن نه وروسته په تکبیر د تکرمې نه ستل وي. نو د ماسخوتن د لمونځ له پاره حرم شریف ته تلل نه دي پکار. اب دغه صحیح دی او که چیرته یې وکړي. نو طواف وداع به بیا کوي؟

جواب: که چا طواف وداع وکړو او د هغه نه وروسته مکه معظمه کې پاتې شو. نو هغه مسجد حرم ته ستې شي او هغه ته طواف وداع په دویم ځل باندې کول واجب نه دي. خو غوره دا ده چې که ممکې نه ځي. نو طواف وداع دې وکړي. چې د هغه اخري ملاقات د بیت الله شریف سره وي [٢] د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت دی که چا ورځې طواف وداع وکړو او شپې له پاره مکه معظمه کې پاتې شو. نو زما په نزد باندې خوښ عمل دا دی چې هغه دې دوداع په نیت باندې بل طواف وکړي چې د هغه طواف له وتلو سره یوځای وي [٣] او دا خیال کول چې طواف وداع نه وروسته حرم شریف ته تلل نه دي پکار. بالکل غلط دي

د طواف وداع مسئله

سوال: سرکال د خانه کعبې د حادثې له وجې ډیرو حاجیانو ته دا حالت جوړ شوی و چې د دې حادثې نه مخکې ترڅو پورې چې مکه معظمه کې و نفلي طواف یې کولو. خو د رانلو په وخت کې د طواف وداع په نیت یې طواف ونه کړای شو. ما دیوجومات له خطیب نه د دې مسئلې پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل چې دوی به دم لیږي. خو معلم الحجاج کې دا مسئله داسې لیکل شوې ده چې
طواف زیارت نه وروسته که چیرته نفلي طواف یې کړی وي. نو هغه هم د طواف وداع قائم مقام دی له دې نه معلومیږي چې د دې حاجیانو طواف وداع شوی دی او هغوی ته دم لیږلو

بقیه د تیر مخ] عندأبي حنیفة بالتأخیر (عالمگیری ج: ١ص: ٢٤٥ کتاب المناسک. الباب الثامن في الجنایات)

[١] ولایجوز ذبح الهدایا إلا في الحرم (عالمگیری ج: ١ص: ٢٦١. الباب السادس عشر في الهدي)

[٢] قواعد الحنفیة بیان الوقت المستحب أوالأفضل. فلو أطال الإقامة بمکة ولم یستوطنها صح طوافه وإن أقام سنة بعد الطواف ویجوزطواف الوداع عندالحنفیة في أیام النحروبعدها ویکون أداء لا قضاء (الفقه الإسلامي وادلته ج: ٣ص: ١٤٩. شروط طواف الوداع. قدره. وکیفیته وسننه. طبع دارالفکربیروت)

[٣] والثاني أن یوقعه عند ارادة السفرحتی روی عن أبي حنیفة رحمه الله تعالی أنه لوطاف ثم أقام إلی العشاء فأحب إلي أن یطوف طوافا آخرلیکن تودیع البیت آخرعهده عن مورده. کذا في البحرالرائق (عالمگیری ج: ١ص: ٢٣٤. کتاب المناسک. الباب الخامس في کیفیة اداء الحج)

ضرورت نه شته خطيب صاحب فرمايي چې دمعلم الحجاج دامسئله غلطه ده، ددغو خلکو طواف وداع نه دی ادا شوی. له دې وجې هغوی ته دم ليږل پکار دي. داصورت ډيرو حاجيانو ته پيښ شوی دی. له دې وجې مهرباني وکړئ او ووايئ چې هغوی به دم ليږي اوکه دامسئله صحيح ده که چيرته دطواف نه وروسته يې نفلي طواف کړی وي، نوهغه هم دطواف قائم مقام کېدای شي. جواب د جنګ اخبارپه ذريعه باندې راکړئ، چې ټول حاجيان يې ولولي.

جواب: فتح القديرکې دي

والحاصل ان المستحب فيه ان يوقع عندارادة السفراماوقته على التعين فأوله بعدطواف الزيارة اذاكان على عزم السفر. (ص۸۸ج۲)

ترجمه حاصل داچې مستحب خودادی چې دسفردارادې په وخت کې طواف وداع وکړي، خوددې وخت دطواف زيارت نه وروسته شروع کيږي، کله چې دسفراراده وي (مکه مکرمه کې داوسيدو اراده نه وي) اودرمختارکې دي:

فلوطاف بعدارادة السفرونوى التطوع اجزاه عن الصدر. (ردالمختارصفحه ۵۲۳ جلد۲)

ترجمه که چيرته دسفردارادې نه وروسته دنفل په نيت باندې طواف وکړ، نودطواف وداع قائم مقام شو

ددې عبارت نه دوه خبرې معلوميږي

يوه داچې دطواف وداع وخت دطواف زيارت نه وروسته شروع کيږي په دې شرط باندې چې حاجي مکه مکرمه کې داوسيدونيت نه لري. بلکې وطن ته دتلواراده يې وي. دويمه داخبره معلومه شوه که چيرته دطواف وداع په وخت کې دنفل طواف نيت وکړل شي، بياهم طواف وداع اداشو. خو مستحب دادی چې دواپسي دارادې په وخت کې طواف وداع وکړي، له دې نه معلوميږي چې دمعلم الحجاج مسئله صحيح ده، کوم حضراتوچې دطواف زيارت نه وروسته نفلي طواف کړی وي، دهغوی طواف وداع اداشو، دهغوی په ذمه باندې دم نه شته.

طواف وداع کې به رمل، اضطباع اوسعي وي اوکه نه؟

سوال: ايا طواف وداع کې به رمل، اضطباع اوسعي وي؟

جواب: طواف وداع هغه طواف ته ويل کيږي کوم چې وطن ته واپس کېدو وخت کې بيت الله شريف نه درخصتيدوله پاره کيږي[1] دا ساده طواف وي، دې کې رمل اواضطباع نه کيږي اونه

[1] وهٰذا طواف الصدر، ويسمّى طواف الوداع وطواف اخرعهد بالبيت لأنه يودع البيت (الهداية مع البناية ج: ۵ص: ۱۵۷، كتاب الحج، باب الإحرام)_

ددې نه وروسته سعي وي[1] رمل او اضطباع داسې طواف کې سنت دي له کوم نه وروسته چې سعي وي[2]

يادونه داضطباع معنا داده چې داحرام پورتنى څادر ښي ترخ (تخرګ) نه وويستل شي او دهغه دواړه ګوټونه (کونجونه) په اوږه باندې واچول شي[3] دا اضطباع همغه وخت کې کېدای شي کله چې داحرام څادر اغوستى وي. اضطباع دطواف په دريوچکرونوکې مسنون دى. پاتې څلورو چکرونوکې همدغه شان پرينبودل پکار دى. طواف نه وروسته لمونځ له پاره دواړه اوږې پټول پکار دي. دغه شان دصفا او مروه په سعي کې هم اضطباع سنت نه ده او درمل معنا داده چې داسې طواف دکوم نه وروسته چې سعي کول وي. دهغه په لومړيو دريوچکرونو کې واړه واړه قدمونه اخيستل او دپهلوانانوپه شان اوږې خوځولو سره تيزتيزتلل وي[4]

ددولسمې ذوالحجې نه دسعې وروسته کونکي باندې خوبه دم ياکفاره نه وي؟

سوال: ما په (۱۹۸۶ء) کې له خپلې ميرنې سره حج وکړ. طواف زيارت خو مونږ د حج په ورځو کې وکړ. خوسعي مو د دولسمې ذي الحجې نه مکې ته واپس راتګ نه وروسته وکړه. پوښتنه داده چې حج مکمل شو. څه نقص خو پاتې نه شو؟ که چيرته غلطي شوې وي يعنې دم واجب شوى وي. نودهغه اوس څه صورت دى؟

جواب: د سعي مستحب وخت دادى چې د دولسمې ذي الحجې دلمر ډوبېدو نه مخکې وکړل شي. خوبيا هم که چيرته تاخير وشي. نوڅه کفاره يا دم نه لازميږي. والله اعلم! [5]

---

[1] فصل فى صفة طواف الوداع ....ثم يطوف سبعا .....بلا رمل ولا إضطباع ولاسعى بعده (إرشاد السارى ص : ۱۷۰، باب طواف الصدر، فصل فى صفة طواف الوداع)_

[2] .لان السعى لم يشرع الا مرة، والرمل ما شرع الا مرة فى طواف بعده سعى.(هداية ص۲۷۳، كتاب الحج)

[3] والإضطباع أن يجعل رداء ه تحت ابطه الأيمن ويلقيه على كتفه الأيسر (هداية،كتاب الحج ج : ۱ص : ۲۴۱طبع شركت علميه)_

[4] ويرمل فى الثلاث الأول من الأشواط، والرمل أن يهزف مشيته الكتفين كالمبارز يتبختربين الصفين وذلك مع الإضطباع (هداية ص : ۲۶۱، كتاب الحج، باب التمتع)_

[5] أما بيان حكمه إذا تأخرعن وقته الأصلى وهى أيام النحر........ ولاشيء عليه لأنه أتى بما وجب عليه ولايلزمه بالتأخيرشيء (بدائع ج :۲ص : ۱۳۵، كتاب الحج،فصل : وأما بيان حكمه)

❖ مدينې منورې ته حاضري ❖

....

د پاکې روضې زيارت او حج

سوال: که يوکس حج ته لاړشي او د روضې د زيارت کولونه پرته راشي. نو د هغه حج به مکمل شي او که نه؟ که چيرې اداکيږي. نو حديث شريف سره مخالفت راځي، نو ضروري تاکيد کيږي. زمونږ د دې مشکلاتو حل وليکئ او د شکريې موقع راکړئ؟

جواب: د حضور ﷺ د روضې مبارکې د زيارت کولونه پرته که يوکس راشي. نو د هغه حج خو اداشو. خو هغه د بې مروتۍ نه کار واخست او د روضې شريفې د زيارت نه محروم پاتې شو. داسې ويل کيږي چې د حضور ﷺ د روضې زيارت کول د حاجيانو له پاره يو مستقل مندوب عمل دی. چې هغه د حاجيانو په اعمالو کې داخل نه. خو کوم کس چې حج ته لاړشي د هغه له پاره د اسعادت حاصلول آسان وي په دې وجه باندې حديث شريف کې فرمايل شوي دي:

من حج البيت ولم يزرني فقد جفاني. (رواه ابن عدی بسند حسن. شرح مناسک ملاعلی قاری)

يعني کوم کس چې د بيت الله شريف حج وکړ او زما زيارت ته رانغی هغه د بې مروتۍ نه کار واخست.

د مسجد نبوی ﷺ د زيارت په نيت سفر او د شفاعت غوښتنه کول

سوال: ما يو کتاب کې لوستلي دي چې د مسجد نبوی ﷺ د زيارت په نيت باندې سفر نه شي کيدای. او اوريدلي مې دي چې د حضور ﷺ په روضې باندې د شفاعت غوښتنه کول منع دي. تاسو ووايئ چې دا صحيح دي او روضه مبارکه باندې دعا غوښتل څنګه دي او د دې طريقه څه ده. کوم طرف ته مخ کولو سره دعا غوښتل پکار دي؟ آيا کعبې طرف ته يا روضې مبارکې ته او مسجد نبوي ﷺ کې ډير درود لوستل غوره دي او که تلاوت کول؟

جواب: دا خو تاسو غلط اوريدلي دي يا غلط پوه شوي يئ چې د مسجد نبوي ﷺ په نيت باندې سفر نه شي کيدای. دې کې خو د چا هم اختلاف نه شته چې د جومات شريف په نيت باندې سفر کول صحيح دي[1] او ځينې خلک د دې قائل دي چې د مبارکې روضې په نيت باندې

---

[1] کما في الحديث المتفق عليه : لاتشد الرحال إلا لثلاثة مساجد : المسجد الحرام، ومسجدي هذا، والمسجد الأقصى والمعنى كما أفاده في الأحياء أنه لاتشد الرحال لمسجد من المساجد إلا لهذه الثلا ثة لما فيها من المضاعفة (ردالمحتار ج:٢ص : ٦٢٧، مطلب في تفضيل قبره المكرم صلى الله عليه وسلم، طبع سعيد كراچي)_

سفر کول جائز نه دي. خو د جمهورو اکثریتو په نزد سنت دي د روضې مبارکې د زیارت هم ضرور نیت کول پکار دي او روضې مبارکې ته حاضریدو سره د شفاعت غوښتنه هم په دې دامت نبوي د نبي کریم ﷺ د زیارت په اداب کې لیکلي دي چې د سلام نه پس کولو نه روسته د شفاعت غوښتنه وکړي. امام جزري رحمه الله په حصن حصین کې لیکلي دي. که چیرې د حضور ﷺ مبارک قبر سره دعا قبوله نه شي نو کوم ځای به قبوله شي؟[1] د صلوة، سلام، د شفاعت نه غوښتو وروسته د قبلې طرف ته مخ کولو سره د دعا غوښتل پکار دي[2]. مدینه منوره کې د روضه شریف د زیارت نوښتل پکار دي او د قرآن کریم تلاوت هم زیات کول پکار دي

مسجد نبوي ﷺ کې څلویښت لمونځونه

سوال: زه عمرې ته لاړم. عمره اداکولو نه وروسته مې مسجد نبوي ﷺ کې حاضري وکړه. او د خپل نیت مطابق مې دوا ړو ځ یونوکې د یوې یوې جمعې لمونځ اداکړ او بیرته راغلم. یعنې مدینه منوره کې مې څلویښت لمونځونه پوره نه کړل. آیا د دې څه کفاره شته؟

جواب: کفاره خو نه شته. خو مسجد نبوي ﷺ کې د څلویښتو لمونځونو یو خاص فضیلت دی چې تکبیرتحریمه فوت نه شي.[3] هغه فضیلت حاصل نه شو

سوال: ما د امام نه اوریدلي دي چې مسجد نبوي ﷺ کې څلویښت لمونځونه اداکول ضروري دي. پوښتنه دا ده چې آیا دا ضروري دي. د دې باره کې څه حدیث شریف شته. په کوم کې چې د دې فضلیت بیو دل شوی وي؟ مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ

جواب: یو حدیث شریف کې مسجد نبوي ﷺ کې د څلویښتو لمونځونو تکبیرتحریمه سره د کولو خاص فضیلت راغلی دی. د هغه د الفاظو ترجمه دا ده د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي چې کوم کس زما جومات کې څلویښت لمونځونه داسې اداکړل چې د هغه نه یو لمونځ هم په جمعه فوت نه شو. هغه له پره د دوزخ نه خلاصی لیکل شوی دی او هغه به د نفاق نه خلاص وي (مسند احمد ص ۱۵۵ جلد ۳).[4]

---

[1] (وان لم يجب الدعاء عند النبي صلى الله عليه وسلم ففي أي موضع يستجاب؟ (حصن حصين. مناجات الاجابة ص ۶۷. طبع دار الاشاعت)_

[2] (د تفصيل دپاره اوګورئ عالمګیري ج ۱ ص ۲۵۶. كتاب الحج. خاتمة في زيارة قبر النبي صلى الله عليه وسلم)

[3] (عن انس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من صلى في مسجدي اربعين صلاة لا تفوته صلوة. كتب له براءة من النار و براءة من العذاب وبراءة من النفاق (رواه احمد وغيره (مسند احمد ج ۳ ص ۱۵۵)

[4] (ایضا بورتني حاشیه)

❖ د حج متفرقې مسئلې ❖

د حقاني صاحب د حج تجاویز

سوال: په (۱۲) جون (۱۹۹۳ء) د کالم نویس جناب ارشاد احمد حقاني صاحب حالیه نګران حکومت زیرانتظام د حج بیت الله نه په واپسي باندې، د حج انتظامات، ځینې توجه طلب امور، په عنوان سره چې د خپلو خیالاتو اظهار په جنګ اخبار کراچۍ کې کړې دی، د هغه په لوستلو سره راته سخت تکلیف ملاوشو او دا قسمه د خیالاتو د اظهار نه راته محسوسه شوه چې هغوی د منی ټوله مرداري له ځان سره کراچۍ ته راوړي ده، په کوم ښار کې چې په هره لاره کې، په هره زمانه کې او خاصکر د سختې ګرمۍ په زمانه کې، کومې د ګټر اوبه چې بهیږي او حتی چې زموږ د کورپه دروازه باندې د ګاونډي (همسایه) چې کوم تورګټر (توري اوبه) بهیږي او په ټوله لاره کې خورې شوي دي د هغه طرف ته د هیچا نظر نه شته

کوم ځای کې چې مستقلا خلک اوسیږي او په ټول ښار کې د ګټر ناپاکه او بود طهارت او صفايي یو مستقل عذاب او خطره پیدا کړې ده او ددې د اصلاح له پاره د قلم په زور د حکومت د افسرانو توجو نه راړول. د مفتو د مهمان نوازي حق په دې ذهنیت سره اداکوي کوم چې د پاکستان د بدنامي وجه جوړیږي، ددې نه پرته په فقهي مسائلو د خپل قابلیت چې څنګه اظهار یې کړی دی د هغه نه ظاهریږي چې د حضرت په معلوماتو باندې د شاباشي ورکولو له پاره په ټول عالم اسلام کې څوک نه شته.

زه ستاسو په شان مکمل بزرګ او د وخت مفتي ته په دې سلسله کې رجوع کولو یوه اسلامي فریضه ګڼم او ددې له وجې نه خط لیکم چې د جناب ارشاد احمد حقاني صاحب د خیال په رڼا کې چې هغه د طواف زیات په سلسله کې تحریر کړی دی چې د هغه اسلامي او فقهي څه حیثیت دی؟ څنګه چې ارشاد احمد حقاني صاحب په خپل کالم کې لیکلي دي چې:

،، د ځینو فقهاوو په نزد ددې خبرې اجازه موجوده ده چې ،،طواف زیارت،، د عرفات د تلو نه مخکې اداکیدای شي، زما ډیرو لوستونکو له پاره به دا د حیرانتیا خبره وي، خو دا اجازه موجوده ده، مګر ددې معلومات ډیر کمو خلکو ته دی او په دې باندې عمل هم ډیر کم کیږي (ایا دا صحیح ده؟)

،، او که کمزوري او ضعیف حاجیان سرپوا و ښخوته ددې خبر ورکړل شي او هغوی ته طواف زیارت د عرفات د تلو نه مخکې د اداکولو ترغیب ورکړل شي. نو دوه ځلورلکه حاجیان خوداسې کولی شي، چې هغو سره به د عرفات نه وروسته په ورځو څه رش کمیدای شي،،

هسې زه په خپله ددې خبرې حامي او قائل یم چې د عرفات نه په واپسي باندې کیدونکي طواف زیارت په وخت کې د توسیع جائزه اخیستل پکار دي او جید علماوو ته په دې باندې

غور کول پکار دي.

دحرم شريف دغيرمعمول توسيع باوجود دشل پنځويشت لکه کسانو په دريوور ځو کې طواف زيارت مکمل کول دډيرزيات رش پيداکولو نه پرته نه شي کيداى. چې دهغه له وجې نه کمزوري او ضعيف سړي او ښځې خوپريږده چې مضبوط نه مضبوط ځوانانو حاجيانوته پوره کول څه اسان نه دي،،

،،طواف زيارت اسانول دوخت اهم ضرورت دى،،

له دې نه وروسته حقاني صاحب دمنى اوعرفات په سلسله کې دعامو حاجيانو دسهولت په حوالې سره چې کوم څه ليکلي دي دهغه سره زمونږ په شان ددين داروحاجيانو قطعي اتفاق نه شته. الله تعالى علم اوقلم مسلمانانوته له دې وجې نه دى ورکړى چې هغوى خپل ځانونه دټول مخلوق نه اوچت اوخپل محدودعقل دې دهرچانه غوره او وچت وګڼي اووددې خيالاتودې په هرموقعه باندې اظهارخيال کوي، سعودي حکومت ديخو اوبوخلتې(تيلى) په حاجيانو باندې په منى اوعرفات کې مسلسل مفت تقسيموي او روزانه هرقسمه سهولتونه ورکوي، ددې هيڅيرته ذکرنه شته.

په منى کې زماهم قيام و. خوماهغه ګندګي ونه ليدله کومه چې حقاني صاحب ته په نظر راغله اوکه دڅاقيام دبدقسمتي دډيران په خواکې وي، نوبياهم ددې اظهارپه عام انداز کې کول پکار دي داپه اخبارولاوو هم لازم دي چې هغوى داسې جذبات راوچتونکي مضمونونه په اخبارکې چاپ نه کړي،کوم چې داخبار رويه متنازعه کړي اونفرت او فساد راپيدا کړي، په هرحال په دې مسئله باندې دعالمانواوحاجيانوخپل منل شوي او واضح خيالاتو اظهارکول لازم دي.

جواب: دجناب حقاني صاحب کالم مې ستاسودخط رارسيدونه وروسته اخبار راوغوښت او اومې لوست. موصوف په خپل مضمون(١٢جون ١٩٩٣)په قسط کې څوشرعي مسائلوباندې اظهارخيال کړى دى اوپه دې کې په اجتهادکولوباندې يې زور ورکړى دى، دکوم تفصيل چې په لاندې ډول دى:

اوله مسئله

جناب حقاني صاحب ليکي چې:

،،دسعودي وزارت اطلاعات حکاموعقلمندي وکړله اومونږ يې دمزدلفې نه دشپې يوولس بجې په بسونوکې سواره کړو اونيغ يې جمرة العقبي ته بوتلو، دغه وخت کې هلته هيڅ قسمه رش نه و اومونږ ټولواووه کاڼي وويشتل.،،

دموصوف ددې تحريرنه معلوميږي چې هغه دنيمې شپې نه مخکې يوولس بجې مزدلفې ته روان شو اودنيمې شپې نه مخکې يې په جمرة العقبه کې درمي نه هم فارغ شوى و،

که زه د هغوی د مضمون عبارت باندې صحیح پوه شوی یم. نو د سعودي د حکامو عقلمندي د دوی د مناسک حج په اداکولوکې په دوی باندې دوه سنګینې (سترې) غلطي وکړلې، یوه داچې په مزدلفه کې وقوف کول د حج له واجباتونه دي او د دې فوت کېدو سره دم لازمیږي او د دې قصدا پرېښودل حرام دي

د وقوف مزدلفه وخت د حنفیه په نزد یوم النحر (ذي الحجې لسم تاریخ) د صبح صادق نه شروع کیږي[1] او د شافعیه او حنابله په نزد د نیمې شپې نه وروسته دی. خو د مالکیه وو په نزد شپې په هره برخه کې هلته ایساریدل واجب دي[2] حقاني صاحب او د هغه ملګري د شپې بوولس بجې د مزدلفې نه روان شول. له دې وجې نه د حنفیه او شافعیه او حنابله مطابق د دوی وقوف مزدلفه فوت شو. له دې وجې نه په دوی باندې دم واجب شو او ګناه پرې لازمه شوه.

دویمه غلطي داچې یوم النحرباندې د جمرة العقبه د ویشتلو وخت د شافعیه او حنابله په نزد د نیمې شپې نه وروسته شروع کیږي او د حنفیه او مالکیه په نزد د صبح صادق نه وروسته دی. اوس که حقاني صاحب د صبح صادق نه مخکې د جمرة العقبه د رمې نه فارغ شوی و، نو د حنفیه او مالکیه په نزد د واجبو د پرېښودو له وجې سره په هغه باندې دم لازم شو او که د نیمې شپې نه یې مخکې رمي کړې وه، نو د ټولو امامانو په نزد په ده باندې دم لازم شو.[3]

دویمه مسئله

حقاني صاحب سفارش کوي:

،،په دې سلسله کې کمزورې حاجیان خاصکر ښځو حوصله افزایي کول پکار دي چې هغوی خپل وکیل مقرر کړي او د جمرو ویشتلو فرض اداکړي.،،

---

[1] وإذا طلع الفجريصلى الإمام بالناس الفجربغلس ....ثم وقف و وقف معه الناس فدعا،لأن النبي عليه السلام وقف فى هذا الموضع يدعو ...... ثم هذا الوقوف واجب عندناوليس بركن حتى لوتركه بغيرعذريلزمه الدم (هداية ج :١ص : ٢٤٨، كتاب الحج، باب الإحرام)۔

[2] زمان الوقوف بالمزدلفة : للفقهاء رأيان : رأى الحنفية : أن زمان الوقوف هومابين طلوع الفجرمن يوم النحروطلوع الشمس لأن النبى صلى الله عليه وسلم فى حديث جابر وابن عمردفع قبل طلوع الشمس فمن وقف بها قبل طلوع الفجرأوبعد طلوع الشمس لايعتدبه ..... الخ ٢- ورأى الجمهور: أن زمان الوقوف هوالليل، وتفصيل ذالک ما يأتى : قال المالكية : زمان الوقوف فى أى جزء من أجزاء الليل بقدرحط الرحال .... وقال الشافعية : وقت الوقوف بالمزدلفة بعد نصف الليل فمن لم يكن فيها فى النصف الثانى أراق دما وقال الحنابلة : المبيت بالمزدلفة حتى يطلع الفجرواجب، من تركه فعليه دم (الفقه الإسلامى وأدلته ج: ٣ص : ١٨٨، ١٨٩، زمان الوقوف بالمزدلفة)۔

[3] وقت الرمى : رمى جمرة العقبة أوالكبرىٰ : يدخل وقته عندالشافعية والحنابلة من نصف ليلة النحر..... .... ووقته عند المالكية والحنفية : بعد طلوع الشمس يوم العيد (الفقه الإسلامى وأدلته ج: ٣ص : ١٩٤)۔

په دې سلسله کې داوضاحت کافي دی چې شریعت دجمرو ویشتلو وخت ډیر وسیع کړی دی مثلاً په اوله ورځ په یوم النحر یوازې جمرة العقبه ویشتل دي، خو ددې وخت پوره (څلیرویشت گنټې) پورې اوږد دی، څکه چې داوخت دیوم النحر دصبح صادق نه شروع کیږي اود یولسم تاریخ دصبح صادق پورې دی[1] اودشپې په وخت کې اوخاصکرددولسوبجونه وروسته په جمرو باندې هیڅ قسمه رش نه وي، ددې له وجې نه دکمزوري نه کمزوری سړی اوښځه هم په دغه وخت کې ښه په ارام سره رمي کولی شي اودجمرو دویشتلو له پاره څوک خپل وکیل جوړول یوازې په دې صورت کې صحیح دي چې څوک دشپې یاورځې په خپله لاړ شي اوجمرو پورې ورسیږي خودرمي طاقت نه لري[2]له دې وجې نه دحقاني صاحب داسفارش چې معذوره ښخواوسړیوته حوصله ورکول پکاردي چې پرته دشرعي عذرنه دې څوک خپل وکیل جوړ کړي. قطعاً دتوجولائق نه دی..

د حقاني صاحب په خپل اجتهاد باندې عمل

حقاني صاحب خوپه خپله معذورنه و. خوهغوی دلومړنۍ ورځې رمي دوخت نه مخکې وکړه اودپاتې ورځو درمي په باره کې هغه لیکي:

..دپاتې ورځوله پاره ماخپل ځوانان ملگري وکیلان کړل اوهمغو په ذریعه مې دخپلې برخې کاني وویشتل..

حالانکې د منی په ورځوکې دحاجیانود جمرو ویشتلو نه پرته نورهیڅ کارنه وي...

اوس دې ته دتساهل پسندي نه پرته څه ویل کېدای شي، چې پرته دڅه شرعي عذرنه موصوف درمي له پاره ځوان ملگري وکیلان مقررکړل او دهغوی په ذریعه یې رمي وکړله ظاهره ده چې شرعاً ددوی وکیل مقررول صحیح نه و اودوی دترک واجب مرتکب شول، خوعجیبه خبره داده چې دوی ته په ترک واجب باندې افسوس نه شته. بلکې دوی په سلسله کې دفقهاء امت د..اصلاح..پسې لگیدلي دي، دوی لیکلي دي چې:

فقهاءکرامو دجمرو ویشتلو اړوندځینې داسې احکام اوشرائط مقررکړي دي چې په هغوکې غالباً څه تدرې داجتهادگنجائش شته..

دامت فقهاوو چې دجمرو ویشتلو په باره کې کوم احکام اوشرائط مقررکړي هغه ټول دحضورﷺ داسوه حسنه نه مستنبط دي، دټولوفقهاوو اجماعي فیصلې شته غورځول او دنوې لارې اختیارولو نوم..اجتهاد..نه بلکې دخواهش نفس پیروي ده..

---

[1] وقال الحنفية : إن أخرالرمى إلى الليل، ورمى قبل طلوع الفجرجاز ولاشيء عليه، لأن الليل وقت الرمى فى أيام الرمى (الفقه الإسلامى وأدلته ج: ٣ص : ١٩٥، كتاب الحج، رمى الجمرات الثلاث أيام التشريق)ـ

[2] وتجوزالإنابة فى الرمى لمن عجزعن الرمى بنفسه لمرض أوحبس أوكبرسن أوحمل المرأة، فيصح للمريض بعلة لايرجى زوالهاقبل إنتهاء وقت الرمى (الفقه الإسلامى وأدلته ج: ٣ص : ١٩٣، وجوب الرمى والإنابة فيه)ـ

دریمه مسئله

دریمه مسئله په کومه کې چې موصوف داجتهادپه ضرورت باندې زور ورکړی دی، هغه دوقوف عرفات نه مخکې طواف زیارت نه فارغېدل دي، موصوف لیکي چې:

''دځینوفقهاوو په نزد ددې خبرې اجازه موجوده ده چې طواف زیارت، عرفات دتلونه مخکې اداکېدای شي، زمادډېرلوستونکو له پاره به داخبره دحیرانتیاوي، خودا اجازه موجوده ده، خو ددې علم ډېرکموخلکوته دی اوپه دې باندې عمل هم ډېرکم کیږي، که کمزوریو اوضعیفو حاجیانو اوښځوته ددې خبرورکړل شي اودوی ته دطواف زیارت، عرفات ته دتلونه مخکې داداکولوترغیب ورکړل شي، نودوه ځلورلکه حاجیان خوداسې کولی شي، چې ددې له وجې نه دعرفات نه وروسته رش کمېدای شي.

جناب حقاني صاحب چې څه تحریرکړي دي چې دځینوفقهاوو په نزددوقوف عرفات نه مخکې دطواف زیارت اجازه شته، دازماله پاره بالکل یوه نوې خبره ده، تقریبا دپنځوسو (٥٠) کلونو راهیسې دفقهي کتابونوپه کتلوکې مې ویښتان سپین شول، خو افسوس چې ماته دهیڅ یو داسې فقیه معلومات ونه شو چې دوقوف عرفات نه مخکې دطواف زیارت نه د فارغېدوفتوا ورکوي، که موصوف ددغه ځینو فقهاوونوم اوننبه وښایي، نوپه اهل علم به یې ډېر لوی احسان وي اوپه دې باندې به غوروکړل شي چې ددې، ،ځینوفقهاوو، ،دفتوا قدر وقیمت څه دی...؟

ترڅوپورې چې زمادخپلې دمطالعې تعلق دی ځلورواړه مذهبونه په دې باندې متفق دي چې دعرفات نه مخکې طواف زیارت نه شي کېدای، ځکه چې دامام ابوحنیفه[۱] او امام مالک[۲] په نزد دطواف زیارت وخت دیوم النحرصبح صادق نه شروع کیږي اودامام شافعي اوامام احمد[۳] په نزدباندې دیوم النحردنیمې شپې نه وروسته ددې وخت شروع

---

[۱] والحاصل أن وقت الطواف أوله طلوع الفجرمن يوم النحرلامن ليلة كما يقوله الشافعى لأن ذالک وقت الوقوف (فتح القديرج : ٢ ص : ١٨٠) أيضا : (أول وقت طواف الزيارة طلوع الفجرالثانى من يوم النحرفلايصح قبله) خلافا للشافعى حيث يجوزه بعد نصف الليل منه (مناسک لملاعلى القارى ص : ١٥٥، طبع دارالفكر، بيروت)_

[۲] وطواف الإفاضة بعد رمى جمرة العقبة يوم النحر...... وجمهورهم على أنه لايجزئ طواف القدوم على مكة عن طواف الإفاضة إذا نسى طواف الإفاضة لكونه قبل يوم النحر (بداية المجتهد ج:١ ص:٢٥١،القول فى الطواف ..إلخ)

[۳] (فصل) ولهذا الطواف وقتان، وقت فضيلة، ووقت اجزاء، فأما وقت الفضيلة فيوم النحر بعد الرمى والنحر والحلق .... وأما وقت الجواز فاوله من نصف الليل من ليلة النحر، وبهذا قال الشافعى وقال أبو حنيفة أوله طلوع الفجر من يوم النحر (المغنى ج:٣ ص:٤٦٥، ٤٦٦)_

کیږي، ګویا دیوم النحر دنیمې شپې نه مخکې طواف زیارت دهیچا په نزد هم جائزنه دی او په دې سلسله کې څلور وړاه مذهبونه په دې باندې متفق دي اوددې خلاف فتوا ورکول ،،اجتهاد،،نه بلکې ،،الحاد،،دی.

د حج او عمرې نه وروسته هم که له ګناهونو نه بچ کیږي، نو دهغه حج قبول شوی نه دی

سوال: زما څلور پاکستاني دوستان دي چې تبوک کې اوسیږي، حج او عمرې نه بیرته راتلوسره هغوی په وي سي آر(ویسیار) باندې بربنډ(لوڅ)فلم کتلی دی، اوس دهغوی له پاره څه حکم دی؟ اوس هغوی خفه دي،ددې کفاره څنګه اداکړي؟

جواب: داسې معلومیږي چې هغوی په صحیح طریقه باندې حج او عمره نه دي اداکړي، بس هسې تللي اوبیرته راغلي دي، دحج دقبلیدو نښه داده چې دحج نه وروسته دانسان ژوندکې دیني انقلاب راشي او دهغه مخ دنیکیوطرف ته شي،دغه کسانو ته له خپل کارنه توبه کول پکار دي،د فرائضو پابندي اوحرامونه پرهیزپکاردی،که رښتونې توبه وکړي، نوالله تعالی به دهغوی قصورمعاف کړي،[1] الله تعالې دې موږ ټول معاف کړي!

که له حج نه وروسته اعمالوکې سپکوالی راشي نوڅه وکړي؟

سوال: دحج نه وروسته په عباداتوکې سستي،یعنی ذکراواذکار،دسحر لمونځ ناوخته کول، او زړه کې وهم اووسوسې،یعنی دحج نه مخکې دینی کارونو،تبلیغ اونیک کارونوکې په دلچسپې باندې برخه اخیستل و او اوس ددې برعکس دی،تاسونه داپوښتنه ده چې حج کولوکې څه فرق خونه دی راغلی، آیا په دویم ځل به حج ته تلل ضروري وي؟

جواب: که لومړی حج صحیح شوی وي، نوپه دویم ځل باندې حج ته تلل ضروري نه دي، له حج نه وروسته اعمالوکې سستي نه، بلکې چستي پکارده.[2]

د جمعې په ورځ حج او اختر یوځای کیدل سعادت دی

سوال: زموږ اکثرتعلیم یافته اوبې تعلیمه وروڼه پوره یقین سره وایي چې دجمعې په ورځ باندې حج(حج اکبروي) اوددې ثواب داووه حجونو برابرملاویږي اوحکومتونه دجمعې په ورځ باندې حج راتلل نه غواړي،ځکه چې یوځای دوه خطبې کیدوسره حکومت باندې زوال راځي اوهمدغه عقیده اویقین هغوی داخترونوباره کې ساتي،ددې شرعي تشریح وکړئ!

---

[1] یایها الذین امنوا توبوا الی الله توبة نصوحا الایة (التحریم :۸)_

[2] فرض مرة لأن سببه البیت وهو واحد(الدر المختار ج:۲ ص:۴۵۵ طبع ایچ ایم سعید)_

جواب: دجمعې دورځې حج ته حج اکبرویل خود عواموا صطلاح ده.خو معلم الحجاج کې دطبراني روایت نقل دی چې دجمعې په ورځ حج داویاوو (٧٠) حجونوفضیلت لري.ماته ددې دسند تحقیق نه شته او داغلطه ده چې حکومتونه دجمعې په ورځې باندې حج یااخترنه غواړي.دېرخله دجمعې په ورځ باندې حج راغلی دی او هغه سعادت بې شمیره خلکوحاصل کړی دی اودجمعې دورځې اخترونه هم شوي دي.[1]

د حج اکبر فضیلت

سوال: ځنګه چې مشهوره ده چې دجمعې په ورځ باندې حج وکړل شی هغه ته حج اکبرویل کیږي. چې دهغه اجر داویاوو حجونو برابروي، آیا دا حدیث شریف دی اوداصحیح دی یا د عوامو په خوله باندې هسې مشهور شوی دی اودځینو حوالونه دامعلومیږی چې دحج اکبر اصطلاح دذکرشوي حج سره خاص نه ده، بلکې هرحج ته حج اکبرویل کیږي، دعمرې په مقابله کې یادعرفې ورځې ته حج اکبرویل کیږي،یاکومه ورځ باندې چې حاجیان قربانیی کوي هغې ورځې ته حج اکبرویل کیږي او داسې نور...

ددې ټولوخبروپه موجودګي کې ذهن کې دغه وډېرې چې دحج اکبراطلاق په څه باندې کیږي؟

جواب: دجمعې دورځې حج ته حج اکبرویل خود عواموا صطلاح ده، قرآن مجید کې دحج اکبر لفظ دعمرې په مقابله کې اداشوی دی،[2] پاتې شوه داچې دجمعې په ورځ چې کوم حج اداشي دهغه فضیلت اویا چنده دی،ددې مضمون یوحدیث شریف ځینې کتابونو دطبراني له روایت نه نقل کړی دې، ماته ددې دسند تحقیق نه شته.

د حج ثواب بل چا پسې ببښل

سوال: که چیرې یوچا حج کړی وي اوهغه دچاله پاره دنیت کولو پرته حج اداکړ اوهغه مرحوم ته یې وبابښه،نوآیا دهغه حج به اداشي؟که نه شي کیدای،نوصحیح طریقه اونیت راته وښایئ؟

جواب: که چیرې دمرحوم په ذمه باندې حج فرض و اوداکس دهغه د طرف نه حج بدل غواړي نودهغه مرحوم دطرف نه به احرام تړل لازم وي،که نه. فرض حج نه اداکیږی،اوکه چیرې دمرحوم په ذمه باندې حج فرض نه و. نودحج ثواب ببښلوسره به هغه ته دحج ثواب ملاوشي.[3]

---

[1] أفضل الأيام يوم عرفة إذا وافق يوم الجمعة وهو أفضل من سبعين حجة في غير جمعة رواه رزين بن معاوية في تجريد الصحاح لكن نقل المناوى عن بعض الحفاظ أن هذا حديث باطل لا أصل له (ردالمحتار ج:٢ ص:٦٢١، مطلب في فضل وقفة الجمعة، طبع ايچ ايم سعيد)_

[2] واذان من الله ورسوله الى الناس يوم الحج الاكبر ان الله بريء من المشركين ورسوله (التوبة:٣)_

[3] تقبل النيابة عند العجز فقط وعن نية الحج عنه لأن الحج النفل ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

آیا حجراسود له جنت نه هم تور رنګ کې راغلی و

سوال: حجراسود چې یو تور رنګی کاڼی دی، ما یو حدیث شریف لوستلي دي چې حجر اسود د خلکو د ګناهونو په وجه باندې تور شوی دی، کله چې دا د جنت نه راغی نو د دې رنګ څنګه و؟ هغه وخت کې به دې ته حجراسود نه ویل کیدل، ځکه چې د اسود معنی خو تور ده، آیا د حدیث شریف نه د دې کاڼي د صحیح رنګ معلومات کیږي؟

جواب: د کوم حدیث شریف ذکر چې تاسو کړی دی[1]، هغه په ترمذي، نسائی وغیره کې دی او امام ترمذي رحمه الله دې ته حسن صحیح ویلي دي او د دې حدیث شریف کې ذکر شوي دي چې هغه وخت کې د دې کاڼي رنګ سپین و، ښکاره خبره ده چې کله دا کاڼی نازل شو هغه وخت کې به دې ته حجراسود نه ویل کیدل.

د حرمین شریفین اماما نو پسې لمونځ نه کول ډیره غټه محرومي ده

سوال: زه د یو څو دوستانو سره مکه مکرمه کې کار کوم، اوس د یو څو ورځو له پاره پاکستان ته راغلی یم، کله چې مونږ مکه کې وو، نو زما دوستانو کې به یو هم د حرمین شریفین امام پسې لمونځ نه کولو، ما ډیر ځله هغوی ته وویل، خو هغوی به ویل چې دا خلک وهابیان دي، زه به بیا چپ شوم، خودلته راتلو نه وروسته هم د هغوی په عمل کې تبدیلي رانغله، بلکې دلته هم د امام پسې لمونځ نه کوي، له یو څو خاصو جماتونو پرته نور ټول غیرمسلم ګڼي، ظاهري طور باندې د هغوی حالت داسې دی چې پټکي تړي اوا وږدو باندې د واړو طرفو ته اوږده شمله ځوړنده وي، پوښتنه دا ده چې د داسې خلکو خبره تر کومه حده پورې صحیح ده او د هغوی پیروي او هغوی پسې لمونځ کول تر کومه حده پورې صحیح دي؟ اوس خو زمونږ د محلې د جومات امام هم نه مني، مهرباني وکړئ تفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: حرمین شریفین ته رسیدو سره د هغه ځای د جمعې سره د لمونځ نه محرومیدل ډیره د غټې محرومي خبره ده، د حرمین شریفین امامان، د امام احمد بن حنبل رحمه الله مقلدین دي، اهل سنت دي، که څه هم چې هغوی سره زمونږ په څینو مسئلو کې اختلاف دی، خو دا نه چې هغوی پسې لمونځ نه ادا کیږي

...بقیه د تیر مخ]...یقبل النیابة من غیر إشتراط عجز (ردالمحتار ج:۲ ص:۵۹۸، مطلب فی الفرق بین العبادة والقربة والطاعة، طبع ایچ ایم سعید)_

[1] انزل الحجر الأسود من الجنة وهو أشد بیاضا من اللبن فسودته خطایا بنی ادم (ترمذی. باب ما جاء فی فضل الحجر والرکن والمقام ج:۱ ص:۱۰۷ طبع مکتبه رشیدیه ساهیوال)_

حج يوازې مکه مکرمه کې وي

سوال: ما اکثر خلکو نه اوريدلي دي که چيرې پنځويشت اولياء سنده کې نو رپيدا شوي واى، نو حج به دلته و . ددې خبرې وضاحت وکړئ!

جواب: اوليء خو به په سنده کې په لکونو پيدا شوي وي، خو حج خو تو له دنيا کې يوازې يو ځاى کې کيږي ،يعنى مکه مکرمه کې،[1] دداسې فضول خبرو په وجه باندې ايمان خي

آيا دا انجيلۍ له واده نه مخکې حج کيږي؟

سوال: ديوې انجيلۍ نکاح ديو هلک سره اوشوه،خو واده شوې نه وه اونه د دواړو فريقينو دوه کلونو پورې دواده اراده شته، هلک د نوکري (وظيفې) په سلسله کې سعودي عرب کې دى. هلک غواړي چې هغه دخپل سعودي قيام دوران کې دانجيلۍ له واده کيدو نه مخکې هغې باندې

دخان سره حج وکړي، نو آيا له واده پرته انجيلۍ هلک سره حج ته ليږل جائزدي؟

جواب: حج پرې وکړئ دواړه کارونه به وشي،واده هم اوحج هم،چې نکاح وشوه نودواړه ښځه خاوند دي،که واده شوى وي اوکه نه.

دحاجى له پاره د درياب کوم کوم ځناور ښکار کول جائزدي؟

سوال: قرآن مجيد کې آيت دى چې ددرياب ځناورحلال ګرځول شوى دى،خو موږ يوازې کب(ماهي) حلال ګڼواوسمندرکې نورځناورهم پيدا کيږي.

جواب: قرآن کريم داحرام په حالت کې ددرياب دځناوروښکارحلال ګرځول شوى دى[2].پخپله يې هغه ځناورحلال نه ديګرځولي، ديوځناور دښکارحلال کيدوسره پخپله دهغه ځناورحلال کيدل نه لازميږي،

مثلاً ځنګلي ځناوروکې دزمري اوپړانګ ښکارجائزدي،خودا ځناور حلال نه دي،دغه شان ددريابي ځناورو ښکارحلال دى،خو دريابي ځناوروکې يوازې کب (ماهي) ته حلال فرمايل شوي دي (نصب الرايه ص٢٠٢ ج٤)[3] په دې وجه باندې مونږ يوازې کب (ماهى) حلال ګڼو.

---

[1] هو زيارة مكان مخصوص اى الكعبة وعرفة (تنوير الأبصار ج:٢ ص٤٥٤ طبع ايچ ايم سعيد)_

[2] احل لكم صيد البحروطعامه متاعا لكم وللسيارة وحرم عليكم صيد البرمادمتم حرما(سورة:٥، المائدة:٩٦)

[3] يحل لنا من الميتة التنان ومن الدم التان، فاما الميتة فالسمك والجراد واما الدم فالكبد والطحال (نصب الراية ج:٤ ص:٢٠٢، طبع دار الكتب العلمية، بيروت)_

د حرم په حدودو کې څاروي حلالول

سوال: څنګه چې حکم دې چې دحرم په حدودوکې يوازې دهغو حشراتو وژل روادي چې دانساني ژوند دښمنان وي، د يوساه لرونکي شي تردې چې دونې نه ښاخ (شاخ) ماتول هم منع دي، خوداچې روزانه په سوونوچرګې، او نور څاروي دحرم په حدودوکې حلاليږي، تفصيل سره وضحت وکړئ چې ددې څاريودحرم په حدودوکې حلالول جائزدي؟

جواب: دحرم په حدودوکې ښکارجائزنه دی[1]، دساتل شويو څارويو حلالول جائزدي.[2]

ماراولړم په حرم کې داحرام په حالت کې وژل

سوال: دحج په ورځوکې داحرام په حالت کې خطرناک څناورلکه مار، لړم او داسې نور... که مړه کړل شي نوجائزدي اوکه نه؟ اوکه ددې شيانو په وژلوباندې به هم دم واجبيږي؟

جواب: داسې خطرناک حشرات په حرم کې داحرام په حالت کې وژل جائزدي.[3]

د حج دوران کې تصويرويستل

سوال: يوکس حج ته ځي، دحج ارکان اداکولووخت کې هغه يو فوټو ګرافر(عکس ويستونکي) ته پيسې ورکوي اوعکسونه اخلي، مثلاً احرام تړلوسره، د قرباني وخت کې، تصويرويستل خو هسې هم ناجائزدي، خودحج دوران کې تصويرويستلوسره به دحج ثواب کې کمی راځي اوکه نه؟

جواب: دحج دوران کې دګناه کارکولوسره دحج ثواب کې به ضرور نقص راځي، ځکه چې حديث شريف کې دحج مبرورفضيلت راغلی دی، او حج مبرورهغه ته ويل کيږي، چې دګناهونونه په کې ځان وساتل شی، که دحج دوران کې ګناه وشي نوحج، حج مبرورنه پاتې کيږي[4] له دې نه پرته دتصويرويستلومقصد فخر او رياکاري ده چې خپلودوستانوته به يې

---

[1] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم...... ان هذا البلد حرمه الله ..... لا يعضد شوكه ولا ينفر صيده ولا يلتقط القطته إلا من عرفها (مشكوة ص:٢٣٨،٢٣٧،باب حرم مكة)

[2] ولا بأس للمحرم أن يذبح الشاة والبقر والعير .... لأن هذه الأشياء ليست بصيود (الهداية مع البناية ج:٥ ص:٣١٢، كتاب الحج، باب الجنايات)_

[3] عن ابن عمر رضى الله عنهما من الدواب ليس على المحرم فى قتلهن جناح العقرب والفارة والغراب والحدأة (البناية فى شرح الهداية ج:٥ ص:٢٧٨، كتاب الحج، باب الجنايات)

[4] عن أبى هريرة رضى الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من حج لله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته امه (مشكوة ص:٢٢١، كتاب المناسک) والفسوق أى الخروج عن طاعة الله (الدر المختار ج:٢ ص:٤٨٧ طبع ايچ ايم سعيد)_

ښبي او د ریاکارۍ په ذریعه باندې به خپل ثواب ضائع کوي

د ایجړا توب (مخنث) ژوند نه توبه او حرامو پیسو باندې حج کول

سوال: ما پنځم جماعت کې سبق ویلو، زه اختطاف کونکو سوداګرو وتښتولم او په ایجړاګانو یې خرڅ کړم. هغوی ماته رضاکارانه طورباندې د ګډا کولو او د ښځو جامو اغوستلو وویل، خو زما د انکار کولو په صورت کې هغوی زما په خوراک کې د بې هوشۍ دوایي واچوله او زه یې بې هوشه کړم، بیائې زما اپریشن وکړو او زه یې د سړیو د خاې حصې نه محروم کړم. دغه شان زه واپس کورته اوبل ځای کې د پناه اغستلو قابل پاتې نه شوم، ماته ګډاوغیره وښودل شوه، ما باندې یې ویښته غټ کړل، زما غوږونه ئې سوري کړل او لښتی یې راته واچولې، پوزه یې راته سوری کړه اوتتکی یې راته واچوله. ښکاره خبره ده چې ما ورته انکارنه کولو او زه شلو کلونو پورې ایجړاګانو سره وم، اوس تول مړه شوي دي او زه د ډیرې دنیا مالک یم، ما سره ښې کافي پیسې دی، زه غواړم چې زه حج ته لاړ شم، خلک وایي چې د حرامو پیسه ده او ته هم مجرم یې. تاسو مهرباني وکړئ او ماته ووایئ چې زما حج کیږي او که نه؟

جواب: تاسو د دې ټولو غیرشرعي کارونو نه توبه وکړئ کومې پیسې چې تاسو سره دی، هغو باندې حج مه کوئ، بلکې د یو غیرمسلم نه حج کولو له پاره قرض واخلئ او هغو باندې حج وکړئ. او تاسو سره چې کومې پیسې جمع دی، هغه پیسې قرض اداکولو کې ورکړئ، د بیا له پاره د ښځو طور طریقې پریږدئ او د سړیو جامې اغوندئ او خپله ډیره هم ختمه کړئ.[1]

په حرم کې د پریښودل شویو پڼو او چپلو شرعي حکم

سوال: حرم کې د چپلو او پڼو باره کې څه حکم دی چې عام طور باندې بدلې شي؟ آیا یو ځل خپلې ذاتي چپلې اغوستلو سره تلل او بدلیدو باندې هرځل نوې چپلې اغوستو سره تلل راتلل څنګه چې عام طور باندې کیږي صحیح دی؟

جواب: د کومو چپلو باره کې چې داخیال وي چې مالک به دې پسې ګرځي، نو د هغې په پښو کول صحیح نه دي او کومې چې د دې خیال سره پریښودل شوي وي چې څوک یې په پښو کړي، د هغو په پښو کول صحیح دي، هسې هم هغه ضائع کیږي.[2]

---

[1] ويجتهد في تحصيل نفقة حلال فإنه لا يقبل بالنفقة الحرام كما ورد في الحديث مع انه يسقط الفرض عنه معها (ردالمحتار ج:۲ ص:۴۵۶، مطلب فيمن حج بمال حرام، طبع ايچ ايم سعيد)۔

[2] ولو من الحرم .... فينتفع الرافع بها وفي ردالمحتار :اى إلى أن غلب على ظنه أنّ صاحبها لا يطلبها (ردالمحتار ج:۴ ص:۲۷۹، كتاب اللقطة،طبع ايچ ايم سعيد)۔

د حج په ورځو کې غیر قانوني طور باندې ګاډي په کرایه باندې چلول

سوال: د لته سعودي عرب کې د کار کونکو د يني حضراتو د حج اداکولو ډير زيات شوق وي، خو د ليدل شوي دي چې د ژوند دا آخري رکن اوژوند کې يوازې يوخل د فرض کيدو باوجود د دوکې او دروغونه کار اخستلو سره د دې مقدس فريضې اداکولو کوشش کوي، د روژې او حج په زمانه کې خلک ګاډي د دې نيت سره اخلي چې نور خلک به حج او عمرې له پاره بوځو.د غه شان به کاديو باندې لږ وخت کې ډيرې زياتې پيسې وګټي او عمره او حج به هم اداشي.

په د ساتل پکاردی چې دلته دسعودي داوسيدونکونه پرته بل چاته دګاډي چلولو اجازت نشته.او اکثر چوکونو کې که چيرې پوښتنه وشي، نو داحرام په حالت کې ورته ښکاره وويل شي چې مونږ دوستان يو.په کرايه باندې يې نه بوځواونه په کرايه باندې خو بوتلونکي او تلونکي دواړه دروغ وايي)

جواب: حج له پاره ګاډي اخيستل او هغه په کرايه باندې ګرځولو کې هيڅ بده خبره نه شته.خو چونکه دې قانوني طور باندې دامنع دي،او د دې له پاره دروغ ويل کيږي.په دې وجه باندې به حج له ګناه نه پاک نه وي.[1]

د کمپنۍ له اجازې پرته د کمپنۍ موټر وغيره د حج له پاره استعمالول

سوال: نوکران د حج او عمرې له پاره دکمپنۍ موټر چې ښار کې داستعمالولو له پاره وي هغه دحج سفر کې ځان سره خاموشي سره روان کړي،يا د کومو خلکو تعلقات چې خپلو افسرانو سره ښه وي د هغوی نه اجازې اخيستو سره د دې مقدس فرض اداکولو له پاره روان شي،د غه شان نوکران د حج او عمرې سفر باندې تلو سره دکمپني سامان، مثلاً تکيه، کمبل، د اوبو کولر، څادرونه، لوښي وغيره هم خاموشي سره يا د تعلقاتو په وجه باندې اجازې اخيستو سره يوسي، يا د ساتل پکار دي چې عام نوکران د اسې مراعات د کمپنۍ نه شي حاصلولی او کمپنۍ هغوی ته اجازه نه ورکوي.

جواب: که د کمپنۍ اجازه نه وي، نو د کمپنۍ د موټر او نور سامان استعمالول جائزنه دي، دا خيانت او غلا ده.[2]

حاجيانو ته تحفې ورکول

سوال: اکثر خلک کله چې حج يا عمرې ته ځي، نو د هغوی خپلوان هغوی ته تحفه کې متهائی،

---

[1] وبعده أی الإحرام يتقی الرفث ...... والفسوق ای الخروج عن طاعة الله (در مختار ج:۲ ص:۴۸۶)_

[2] أيضا)_

نقدي پیسې وغیره ورکوي اوکله چې دغه خلک له حج نه بیرته راشي، نودتبرک په نوم باندې یو رسم ادا کیږي چې هغوی کجورې،زمزم اودهغې سره نورشیان تقسیموي، آیا دارواج صحیح دی؟

جواب: خپلو خپلوانواودوستانوته دتحفوورکولوحکم شریعت کوي،چې ددې په وجه باندې مینه زیاتیږي[1]،خودزړه درغبت اومحبت نه پرته یوازې دنوم له پاره یادرسم اداکولوله پاره یوکارکول بده خبره ده، حاجیانوته تحفې ورکول اودهغوی نه تحفې اخیستل نن سبایوداسې رواج جوړشوی دی چې دمجبوري په وجه باندې اداکیږي،شرعی طورباندې دا د پرېښودو قابل دی.

د حج د ولیمې شرعي حیثیت

سوال: خلک د حج په ولیمې باندې ډیر زور لګوي، وایي چې که چیرته دحج ولیمه ونه کړل شي نو نقصان راځي، ستاسو نه پوښتنه ده چې دحج د ولیمې شرعي حیثیت څه دی؟ ایا دا سنت ده یا صحابه کرامو رضي الله عنهم کړې ده؟

جواب: د حج ولیمه سنت نه ده، د صحابه کرامو رضي الله عنهم له عمل نه ثابته نه ده.

د حج د ادا کولو عقیقه

سوال: زما نیا تیر کال حج کولو نه راغلې ده، هغې ته چا دا ویلي دي چې له حج نه وروسته د حج عقیقه ضروري ده، اوس نیا په دې خبره باندې اصرار کوي چې زما د حج عقیقه دې وکړل شي. ایا دا صحیح ده؟

جواب: داچا غلط ویلي دي چې د حج عقیقه کیږي، الله تعالی دې ستا د نیا حج قبول کړي، دحج عقیقه نه کیږي.

حج کولو نه وروسته ځان ته حاجی ویل او نوم سره لیکل

سوال: دحج سعادت حاصلولو نه وروسته خپل نوم سره دحاجي لفظ لګول شرعي طورباندې جائزدي؟ دقرآن اوسنت په رڼاکې وواییٔ چې زه هم خپل نوم سره حاجي ولګوم اوکه نه؟ غوره څه دي؟

جواب: خپل نوم سره دحاجي لفظ لقب لګول له ریاکارۍ نه پرته نورهیڅ نه دي، حج خودالله تعالی درضاله پاره کیږي، خلکوباندې ځان ته دحاجي ویلوله پاره نه، نورخلک که چیرې درته

---

[1] حلال من الجانبین کالإهداء للتودد وحرام منهما کالإهداء لیعینه علی الظلم(ردالمحتار ج:٥ ص:٣٦٢، مطلب فی الکلام علی الرشوة والهدیة، طبع ایچ ایم سعید)_

حاجي صاحب وايي، نوځه بده خبره نه شته، خوپخپله دخپل نوم سره دحاجي لفظ ليکل بالکل غلط دي

د حاجيانو استقبال شرعي طوربا ندې څنګه دی؟

سوال: اکثرليدل شوي دي چې دحج سعادت حاصلونکوخلکوخپلوان دائيرپورټ (هوايي ميدان) يا بندرګاه نه راوستوله پاره ډيرزيات ځي، د حاجي بهرراتلوسره هغه باندې ګلونه اچول شروع کړي اوبيا هريو کس حاجي ته غاړه ورکوي، حاجي صاحب دګلونوهاراچولوسره يو ښائسته شوي ګاډي ته دواده دهلک (زوم) په شان وخيژي، محله او کورهم دحاجي دراتلوله پاره ښائسته شوی وي، ځای په ځای باندې دحج مبارک عبارتونه کُتبې (بورډونه، لوحې) ليکل شوي وي، ځينې خلک خومختلف قسمه نعرې هم وهي. پوښتنه داده چې دهارونو، ګلونو، کتبواو نعرو شرعي څه حيثيت دی؟ الله تعالی دې معافي وکړي، آيا داسې کولوسره اخلاص باقي پاتې کيږي؟

جواب: دحاجيانواستقبال کول خوښه خبره ده، هغوی سره ملاقات او غاړه ورکول هم جائزدي اوهغوی باندې ددعاکولوهم حکم دی[1]،خو دا ګلونه، نعرې او داسې نور... له حد نه تجاوز دی،که چيرته دحاجي صاحب په زړه کې عجب پيداشو، نوحج به يې ضائع شي. له دې وجې ددې شيانو نه ځان ساتل په کاردي.[2]

❖ په لوی اخترکې دقرباني د مسئلوتفصيل ❖

(دا د حضرت مصنف مدظله يو ګټورمضمون دی له دې وجې رواړل شوی)

[د قرباني فضيلتونه]

رسول الله ﷺ له هجرت نه وروسته هرکال قرباني کړې ده، يوکال يې هم نه ده پريښې. له دې نه مواظبت ثابتيږي اوددې مطلب مسلسل کول دي، همدغه شان له دې نه وجوب هم ثابت شو[3] حضور ﷺ په قرباني نه کولوباندې وعيدفرمايلی دی، احاديثوکې ډير وعيدونه ذکر شوي دي: دحضور ﷺ ارشاد دی:څوک چې قرباني نه کوي هغه دې زموږ عيدګاه ته نه

---

[1] وقد كان من سنة الخلف أن يشيعوا الغزاة........وأن يستقبلوا الحاج إذا قدموا ويقبلوا بين أعينهم....إلخ (إتحاف بحواله عمدة الفقه ج:۴ ص:۲۰)_

[2] العجب عبارة عن تصور إستحقاق الشخص رتبة لا يكون مستحقا لها (قواعد الفقه ص:۳۷۳)_

[3] عن ابن عمر قال :أقام رسول الله صلى الله عليه وسلم بالمدينة عشر سنين يضحى رواه الترمذى (مشكوة ص:۱۲۹)_

راخي[1] دقرباني ډير زيات فضيلتونه دي، دمسند احمد په يو روايت کې دي. زيدبن ارقم رضي الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ وفرمايل قرباني ستاسو دپلار حضرت ابراهيم عليه السلام سنت دی. صحابي عرض وکړ. زموږ له پاره دې کې څه ثواب دی؟
حضور ﷺ وفرمايل ديوويښته په بدله کې يوه نيکي ده[2] دوږيو باره کې يې وفرمايل ددې ديو ويښته بدله کې هم يوه نيکي ده (مشکوة ص١٢٩)

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: قرباني نه بل زيات ښه عمل نه شته. پرته له دې نه چې دخپلوي خيال وساتل شي (طبراني)[3]

دقرباني په ورځوکې قرباني کول ډيرغټ عمل دی. حديث شريف کې دي چې دقربني په ورځوکې دقرباني نه زيات الله تعالى ته بل هيڅ شی محبوب نه دی او دقرباني په وخت کې چې دقرباني د وينې کوم څاڅکی ځمکه باندې غورځيږي. دهغه له غورځيدونه مخکې دالله تعالى په دربارکې قبوله شي (مشکوة شريف ص١٢٨)[4]

قرباني چا باندې واجب ده؟

يوڅوصورتونوکې قرباني کول واجب دي:

١: که چا دقرباني کولونذر منلی وي، هغه باندې قرباني کول واجب دي.[5]

٢: يوچا له مرګ نه مخکې دقرباني کولووصيت کړی وي اودومره مال يې پريښی وي چې دهغه دمال ددريمې برخې نه قرباني کيږي، نو دهغه له طرف نه قرباني کول واجب دي.[6]

---

[1] عن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله وعليه وسلم: من وجد سعة لأن يضحى فلم يضح فلايحضرمصلانا (الترغيب ج: ٢ص: ١٥٥، الترغيب فى صدقة الفطروبيان تاكيدها)_

[2] عن زيدبن أرقم رضى الله عنه قال: قال أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم: يارسول الله! ماهٰذه الأضاحى؟ قال: سنة أبيكم إبراهيم عليه السلام! قالوا: فمالنافيهايارسول الله؟ قال: بكل شعرة حسنة! قالوا: فالصوف يارسول الله؟ قال: بكل شعرة من الصوف حسنة (مشكوٰة، باب فى الأضحية ص: ١٢٩، الترغيب ج: ٢ص: ١٥٤)_

[3] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم فى يوم أضحى: ماعمل ابن ادم فى هٰذا اليوم أفضل من دم يهراق إلا أن يكون رحما مقطوعا توصلوه الطبرانى فى الكبير)مجمع الزوائد،باب فضل الأضحية وشهود ذبحهاج: ٤ ص: ٥طبع دارالكتب العلمية بيروت)

[4] عن عائشة رضى الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ماعمل ابن ادم من عمل يوم النحرأحب إلى الله من إهراق الدم .... وإن الدم ليقع من الله بمكان قبل أن يقع بالأرض، فطيبوا بها نفسا (رواه الترمذى وابن ماجة (مشكوٰة ص: ١٢٨، كتاب الأضحية، الفصل الثاني)_

[5] أما الذى يجب على الغنى والفقيرفالمنذوربه ....أوقال جعلت هٰذه الشاة ضحية أو أضحية وهوغنى أوفقيرلأن هٰذه قربة للّٰه تعالى عزشانه (بدائع الصنائع ج: ٥ص: ٦١، كتاب التضحية)_

[6] ولوأوصى بأن يشترى بقرة بجميع ماله ويضحى بها عنه فمات... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

۳ کوم کس باندې چې صدقه فطرواجب وي. هغه باندې دقرباني په ورځوکې قرباني کول هم واجب دي[۱] کوم کس سره چې د اوسيدوکور. دخوراک څښاک سامان. داستعمال جامې او دعام استعمال دنوروشيانونه پرته دوه پنځوس نيم تولې سپين زرو دماليت نغدې پيسې. دتجارت مال. يانورسامان وي. هغه باندې قرباني کول واجب دي[۲]

➢ مثلايوکس سره دوه کورونه دي.يوکوردهغه داوسيدودی اودويم خالي دی. نوهغه باندې قرباني واجب ده کله چې دهغه خالي کورقيمت ددوه پنځوس نيموتولو سپينو زرو دقيمت برابروي[۳]

➢ يامثلا يوکورکې هغه پخپله اوسيږي اوبل کوريې په کرايه باندې ورکړی دی. نوهغه باندې هم قرباني واجب ده.خوکه چيرته دهغه دمعاش ذريعه دکورهمدغه کرايه ده، نودابه دژوندپه ضروورياتو کې شميرل کيږي اوهغه باندې قرباني واجب نه وي[۴]

➢ يامثلا چاسره دوه موټر وي يودعام استعمال وي اودويم زياتي وي. نوهغه باندې هم قرباني واجب ده[۵]

➢ يامثلا چاسره دوه پلاټونه (ځمکه) وي. يودهغه داوسيدودکورله پاره وي او دويم زياتي وي.که چيرته دهغه ددويم پلاټ قيمت دوه پنځوس نيموتولودسپينوزرودقيمت برابروي. نوهغه باندې هم قرباني واجب ده[۶]

...بقيه د تيرمخ]... ولم تجزالورثة فالوصية جائزة بالثلث بلاخلاف ويشترى بالثلث شاة ويضحى بها عنه (عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۶) ولومات بعد مضى أيام النحرلم يسقط التصدق بقيمة الشاة حتى يلزمه الايصاء به هكذا فى الظهيرية) (عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۷، كتاب الأضحية، الباب الرابع)

[۱] (وأماشرائط الوجوب). منها اليسار وهومايتعلق به وجوب صدقة الفطردون ما يتعلق به وجوب الزكاة (عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۲، كتاب الأضحية، الباب الأول)_

[۲] واليساربأن ملک مائتى درهم أوعرضا يساويها غيرمسكنه وثياب اللبس (الدرالمختارج : ۶ ص : ۳۱۲) أومتاع يحتاجه إلي أن يذبح الأضحية ولوله عقاريستغله فقيل تلزم لوقيمته نصابا (ردالمحتارج :۶ص : ۳۱۲)_

[۳] ولوكان له دارفيها بيتان شتوى وصيفى وفرش شتوى وصيفى لم يكن بها غنيا فإن كان له فيها ثلاثة بيوت وقيمة الثالث مائتا درهم فعليه الأضحية وكذا الفرش الثالث (عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۳) ولوكان فى دار بأجرة فاشترى أرضا بنصاب وبنى فيهامنزلا يسكنه لزمت(فتاوى بزازية على هامش الهندية ج: ۶ص : ۲۸۷)

[۴] لها دار تبلغ نصابا تسكنها مع الزوج إذا قدر زوجها على الإسكان تلزمها وإلا لا (فتاويٰ بزازية عليٰ هامش الهندية ج : ۶ص : ۲۸۷، طبع رشيدية كوئته)_

[۵] فإن كان له فرسان أوحماران أحدهما يساوى مأتين فهونصاب (عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۳، كتاب الأضحية الباب الأول)_

[۶] پورتنى حواله)_

➢ د ښځې معجل مهر که چیرته دومره وي، نو هغې باندې هم قرباني واجب ده، یا یوازې د مور و پلار له طرف نه ورکړل شوي کالي (ګینه) او د استعمال نه زیاتو جامو قیمت د نصاب مالیت ته رسیږي، نو هغې باندې هم قرباني کول واجب دي.[1]

➢ یو کس نوکر دی، د هغه تنخوا د هغه او د هغه کورنۍ له پاره کافي وي، هغې کې بچت نه کیږي، هغه باندې قرباني واجب نه ده، چې هغه سره نور څه مالیت نه وي.[2]

➢ یو کس سره ځمکه ده. د هغې پیداوار باندې د هغه وخت تیریږي، هغه ځمکه به د هغه په ضروریاتو کې شمیرل کیږي.

➢ یو کس سره دیوې (قولبې) له پاره غوایي او دپیو (شیدو) له پاره له غوا مینښو نه پرته دومره څاروي نور هم وي چې د هغو قیمت نصاب ته رسیږي، نو هغه باندې قرباني کول واجب دي.[3]

۴ یو کس د نصاب مالک نه دی، هغه باندې قرباني واجب نه ده، خو هغه د شوق له پاره د قرباني څاروی واخیست، نو هغه باندې هم قرباني واجب ده.[4]

۵ مسافر باندې قرباني واجب نه ده.[5]

۶ د صحیح قول مطابق ماشوم او مجنون باندې قرباني واجب نه ده، که څه هم هغه مالدار وي.[6]

د قرباني وخت

۱ : د اختر د لسم تاریخ نه د دولسم تاریخ ترمابنام (لمر پریوتونه مخکې) پورې د قرباني وخت دی، د ې ورځو کې چې کله غواړئ قرباني کولی شئ، خو لومړۍ ورځ غوره ده، بیا یوولسم تاریخ او بیا دولسم تاریخ.[7]

---

[1] والمراة موسرة بالمعجل لو الزوج ملياً وبالمؤجل لا. (حاشية ردالمحتار ج۶ ص۳۱۲، كتاب الاضحية) وصاحب الثياب الأربعة لوساوى الرابع نصابا غنى وثلاثة فلا، لأن أحدها للبذلة والاخرللمنهة والثالث للجمع والوفد والأعياد (ردالمحتارج : ۶ص : ۳۱۲، كتاب الأضحية)_

[2] واليساربأن ملك مائتى درهم أوعرضا يساويها غيرمسكنه وثياب اللبس (الدرالمختارج : ۶ ص : ۳۱۲)_

[3] والدهقان بفرس واحد وبحمار واحد لايكون غنيا وبالزائد عليه لوبلغ نصابا غنى (فتاوى بزازية علي هامش الهندية ج : ۶ص : ۲۸۷، كتاب الأضحية)_

[4] وأما يجب على الفقيردون الغنى فالمشترى للأضحية إذا كان المشترى فقيرا..الخ (عالمگیری ج:۵ص:۲۹۱)

[5] وأما شرائط الوجوب .... ومنها الإقامة فلا تجب على المسافر (فتاوى عالمگیری ج : ۵ص : ۲۹۲)_

[6] إتفق الفقهاء على أن المطالب بالأضحية هوا لمسلم الحرالبالغ العاقل ... الخ (الفقه الإسلامي وأدلته ج : ۳ص : ۶۰۳) إن الأضحية تستحب ولاتجب عن الولد الصغير (الفقه الإسلامي وأدلته ج : ۳ ص : ۶۰۴)_

[7] وقت الأضحية ثلاثة أيام : العاشروالحادى عشر والثانى عشر، أولها أفضلها واخرها أدونها .... الخ (عالمگیری ج : ۵ص : ۲۹۵، كتاب الأضحية، الباب الثالث في وقت الأضحية)_

۲ ښارکې د اختر د لمونځ نه مخکې قرباني کول صحیح نه دي. که چا د اختر نه مخکې ځاروی حلال کړ، نو دا د غوښې ځاروی شو. قرباني نه شوه. خو کوم کلي کې چې د اختر لمونځ نه کیږي. د اختر په ورځ د صبح صادق شروع کېدو نه وروسته قرباني کول صحیح دي.[۱]

۳ که چیرته د ښار سړی پخپله ښارکې موجود وي. خو د قرباني ځاروی یې کلي ته لیږلی وي او هلته د صبح صادق نه وروسته قرباني شي، نو صحیح ده.[۲]

۴ دې درې ورځو کې د شپې په وخت کې هم قرباني کول جائز دي. خو غوره نه دي.[۳]

۵ که چیرته د غو درې ورځو کې یو مسافر خپل وطن ته را ورسید یا یې د اقامت نیت وکړ او هغه د نصاب مالک دی، نو د هغه په ذمه باندې قرباني واجب ده.[۴]

۶ د کوم کس په ذمه چې قرباني واجب ده. د هغه له پاره دې ورځو کې د قرباني ځاروی حلالول لازم دي، که چیرته هغومره پیسې صدقه یا خیرات کړي، نو قرباني یې نه ادا کیږي. دا کس به ګناهګار وي.[۵]

۷ د کوم کس په ذمه چې قرباني واجب وي او د غو درې ورځو کې چې هغه قرباني ونه کړي، نو د هغه نه وروسته قرباني کول صحیح نه دي، هغه کس ته توبه او استغفار کول پکار دي او د قرباني د ځاروي قیمت دې صدقه او خیرات کړي.[۶]

۸ یو کس د قرباني ځاروی ساتلی و، خو د څه عذر له وجې د قرباني په ورځو کې قرباني ونه کړي، نو اوس هغه باندې د هغه قیمت صدقه کول واجب دي، حلالولو سره غوښه خوړل صحیح نه دي.[۷]

---

[۱] لایجوز لأهل الأمصار الذبح ....إلا بعد صلاة العید .... وأما أهل القریٰ .... فیذبحون بعد الفجر الیوم الأول (الفقه الإسلامی وأدلته ج : ۳ص : ۶۰۶، الأضحیة، طبع دارالفکر، بیروت)_

[۲] ولو أن رجلا من أهل السواد دخل المصر لصلاة الأضحیٰ وأمر أهله أن یضحوا عنه جاز أن یذبحوا عنه بعد طلوع الفجر قال محمد رحمه الله تعالیٰ : أنظر فی هٰذا إلی موضع الذبح دون المذبوح عنه کذا فی الظهیریة (عالمگیری ج: ۵ص:۲۹۶ کتاب الأضحیة، الباب الرابع فیمایتعلق بالمکان والزمان)

[۳] ویجوز فی نهارها ولیلها .... إلا أنه یکره الذبح فی اللیل (عالمگیری، کتاب الأضحیة ج : ۵ص : ۲۹۵)

[۴] حتی لو کان مسافرا فی أول الوقت ثم أقام فی اخره تجب علیه (عالمگیری، کتاب الأضحیة ج:۵ص: ۲۹۲)

[۵] ومنها أن لایقوم غیرها مقامها فی الوقت حتی لو تصدق بعین الشاة أو قیمتها فی الوقت لایجزئه عن الأضحیة (عالمگیری، ج : ۵ص : ۲۹۳، ۲۹۴، کتاب الأضحیة)_

[۶] ایضاً پورته حواله)_

[۷] ولو لم یضح حتی مضت أیام النحر فقد فاته الذبح....تصدق بقیمة شاة (عالمگیری ج:۵ص:۲۹۶، کتاب الأضحیة، الباب الرابع) أیضا : وإن کان أوجب شاة بعینها أو إشتریٰ شاة یضحی بها فلم یفعل حتی مضت أیام النحر تصدق به حیة ولایجوز الأکل منها (عالمگیری ج :۵ص :۲۹۶، کتاب الأضحیة، الباب الرابع فیما یتعلق بالمکان والزمان)_

۹: دقرباني ځاروی په خپل لاس باندې حلالول مستحب دي، خوکوم کس ته چې حلالول نه ورځي یاله څه وجې یې حلالول نه غواړي، هغه ته پکاردي چې دذبح کونکي سره موجودوي.[۱]

۱۰: دقرباني دځاروي حلالولووخت کې په خوله باندې دنیت الفاظ ویل ضروري نه دي، بلکې زړه کې نیت کول کافي دي اوځینې دعاګانې چې احادیثوکې نقل شوي دي، که چاته یادې وي، نو دهغو لوستل مستحب دي.[۲]

دبل چاله طرف نه نیت کول

۱: قرباني کې نیابت جائزدی، یعنې دکوم کس په ذمه چې قرباني واجب وي، که چیرته دهغه په اجازه یاحکم باندې بل کس قرباني وکړي، نوجائزده، خوکه چیرته دچاله حکم نه پرته دهغه له طرف نه قرباني وشي، نوقرباني نه کیږي[۳] همدغه شان که چیرته یوکس دهغه دحکم نه پرته شریک شو، نودهیچاقرباني هم نه کیږي.[۴]

۲: دچاپه ذمه باندې داولاد له طرف نه قرباني کول ضروري نه دي، که چیرته اولاد بالغ اومالداروي، نوقرباني دې پخپله کوي.[۵]

۳: دغه شان دسړي په ذمه باندې دښځې له طرف نه قرباني کول لازم نه دي، که چیرته ښځه مالداره وي، نودهغې له پاره دجدا قرباني انتظام کول پکاردي.[۶]

۴: کوم کس ته چې الله تعالی توفیق ورکړی وي، هغه دخپلې واجب قرباني سره سره دخپلو مرحوم مور و پلاراونورو بزرګانوله طرف نه هم قرباني کولی شي، ددې ډیرزیات اجراوثواب دی.[۷]

---

[۱] فالأفضل أن يذبح بنفسه إن قدرعليه هٰذا إذا كان الرجل يحسن الذبح فأما إذا لم يحسنه فتوليته فيه غيره أولى (بدائع الصنائع ج :۵ص : ۷۹، كتاب الأضحية)_

[۲] ويكفيه أن ينوى بقلبه ولا يشترط ان يقول بلسانه (بدائع الصنائع ج :۵ص : ۷۱، كتاب التضحية، فصل شرائط الجواز)_

[۳] ولوضحى عن أولاده الكبار و زوجته لايجوز إلاباذنهم (رد المحتارج : ۶ص : ۳۱۵، كتاب الأضحية)_

[۴] فى قول أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهماالله تعالىٰ وإن فعل بغيرأمرهم أوبغيرأمربعضهم لاتجوزعنه ولاعنهم فى قولهم جميعالأن نصيب عن لم يأمر صارلحما فصارالكل لحما (عالمگیری ج:۵ص : ۳۰۲،الباب السابع فى التضحية عن الغير)

[۵] وليس على الرجل أن يضحى عن أولاده الكباروامرأته إلاباذنه (عالمگیری ج:۵ص:۲۹۳،كتاب الأضحية)

[۶] ایضاً پورتنۍ حواله_

[۷] مطلب فى إهداء ثواب الأعمال للغير(قوله بعبادة ما) أى سواء كانت صلاة أوصوماأوصدقة أوقراءة أوذكرا أو طوافا أوحجا أوعمرة أوغيرذٰلك ...... الأفضل لمن يتصدق نفلا أن ينوى لجميع المؤمنين والمؤمنات لأنها تصل إليهم ولاينقص من أجره شيء (ردالمحتارج : ۲ص : ۵۹۵، باب الحج عن الغير)_

دحضور ﷺ هم په موږ باندې ډېرزيات احسانونه اوحقوق دي. الله تعالى چې چاته وس وركړى وي، نود حضور ﷺ له طرف نه هم قرباني كول ښكاردي. خپله واجب قرباني لاژمي ده، دا پرينښودل جائزنه دي

د كومو څارويو قرباني جائزده؟

١ چيلى،بيزه، ګډ، غوا، غوايى، ميښه، سنډا، اوښ اوداوښې قرباني صحيح ده. له دې نه پرته دبل څاروي قرباني صحيح نه ده.[١]

٢ غوا، ميښه اواوښ كه چيرته اووه كسان په شريكه باندې قرباني كړي، نوبيا هم صحيح ده. خو ضروري ده چې دچابرخه داوومې برخې نه كمه نه وي.[٢]

اوداهم شرط دى چې دټولونيت دقرباني ياعقيقې وي[٣] يوازې دغوښې خوړلوله پاره يې برخه نه وي اخيستې، كه چيرته ديوكس نيت صحيح نه وي، نودهيچا هم قرباني نه كيږي.[۴]

٣: چادقرباني له پاره غوا واخيستله اوداخيستو وخت كې يې دانيت و چې نورخلك به هم دې كې شريكوم اوبيايې هغې كې دنورو خلكو برخه وكړه، نودا سې كول صحيح دي.[۵]

خوكه چيرته دغوا اخيستووخت كې يې دنورو خلكو د شريكولونيت نه و، بلكې دټوې غوا يې له خپل طرف نه دقربانولونيت و. خواوس نورخلك هم شريكول غواړي، نوداكتل ښكار دي چې ايا دهغه كس په ذمه باندې قرباني واجب ده اوكه نه. كه چيرته واجب وي، نو نورخلك شريكولى شي، خوداسې كول غوره نه دي اوكه چيرته دهغه په ذمه قرباني واجب نه وي، نوبل څوک نه شي شريكولى.[٦]

---

[١] أما جنسه فهوأن يكون من الأجناس الثلاثة الغنم أو الإبل أوالبقرويدخل فى كل جنس نوعه الذكروالأنثى منه.......والمعزنوعان من الغنم والجاموس نوع من البقر (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۷، الباب الخامس)

[٢] والبقر والبعيريجزى عن سبعة إذا كانوا يريدون به وجه الله تعالىٰ والتقديربالسبع يمنع الزيادة ولايمنع النقصان (عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۴، كتاب الأضحية، الباب الثامن فيمايتعلق بالشركة فى الضحايا)_

[٣] ولو أرادوا القربة الأضحية أوغيرها من القرب أجزأهم .... وكذالک إن أراد بعضهم العقيقة عن ولد ولد له ... الخ (عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۴، كتاب الأضحية، الباب الثامن فيمايتعلق بالشركة فى الضحايا)_

[۴] لايشارک المضحى فيمايحتمل الشركة من لايريدالقربة رأسا فإن شارک لم يجزعن الأضحية (عالمگيرى ج ۵ص :۳۰۴، كتاب الأضحية،الباب الثامن فيمايتعلق بالشركة فى الضحايا)_

[۵] ولواشترى بقرة يريد أن يضحى بها ثم أشرک فيهاستة يكره ....إلا أن يريد حين اشتراها أن يشركهم فيها فلا يكره (فتاوى عالمگيرى ج:۵ص:۳۰۴كتاب الأضحية،الباب الثامن فيمايتعلق بالشركة فى الضحايا)_

[٦] وإن فعل ذالک قبل أن يشتريها كان أحسن وهٰذا إذا كان موسرا وإن كان معسرا فقد أوجب بالشراء فلايجوز أن يشرک فيها وكذالک لوأشرک فيهاستة بعد ما أوجبها لنفسه لم يسعه ..... الخ (عالمگيرى ج ۵ص :۳۰۴)_

۴ که چیرته دقرباني ځاروی ورک شي اوبل واخیستل شي. بیااتفاقي طوربانديې هغه لومړی هم پیدا شي. نوکه چیرته دهغه کس په ذمه باندې قرباني واجب وي. نویوازې دیوځاروي قرباني دهغه په ذمه ده اوکه چیرته واجب نه وي، نوبیاددواړو ځارویوقرباني لازم شوه.[1]

۵ چیلی که چیرته دیوکال نه دکم عمروي که څه هم یوه ورځ کم وي. نودهغه قرباني کول صحیح نه دي. که دپوره کال وي. نوبیاصحیح ده اوغوا میښه که پوره دووکلونووي. نو قرباني به صحیح وي. له دې نه دکم عمرباندې صحیح نه ده. اوښ چې پوره دپنځوکلونووي. نو قرباني به صحیح وي.[2]

۶ ګډ وغیره که چیرته دشپږو میاشتو نه غټ وي اودومره غټ وي چې که چیرته دکال عمر ګډانو کې پریښودل شي اوهغه کې څه فرق نه ښکاري، نودهغه قرباني کول هم صحیح دي اوکه څه فرق پکې ښکاري، نوقرباني یې صحیح نه ده.[3]

۷ کوم ځاروی چې کوڼ یاړوندوي اودهغه دسترګې ددریمې برخې نظرختم شوی وي. یا یو غوږ یا د غوږ دریمه برخه پرې شوي وي، نودهغه قرباني کول هم صحیح نه دي.[4]

۸ کوم ځاروی چې دومره ګوډ وي چې یوازې دریو پښوباندې ګرځي، څلورمه پښه یې ځمکې ته نه رسیږي یارسیږي. خودې سره تللی نه شي، نو دهغه قرباني کول هم صحیح نه دي اوکه چیرته د ګرځیدو وخت کې له څلورمې پښې کار اخلي خوګوډګوډ ګرځي، نودهغه قرباني صحیح ده.[5]

۹ که چیرته ځاروی دومره کمزوری وي چې دهغه دهډوکو ګوده (مغز) ښکاري، نودهغه قرباني هم صحیح نه ده. که چیرته دومره کمزوری نه وي، نودهغه قرباني صحیح ده[6] ځاروی

---

[1] ضلت أوسرقت فاشترى أخرىٰ ثم وجدها فالأفضل ذبحهما وإن ذبح الأولى جاز........ قال بعضهم إن وجبت عن يسارفكذا الجواب وإن عن اعسارذبحهما... الخ (الدرالمختارج : ٢ص : ٣٢٣، كتاب الأضحية)_

[2] وجاز الثنى من الكل والجذع من الضأن .... والثنى من الضأن والمعز ابن سنة ومن البقرابن سنتين ومن الإبل ابن خمس سنين ... الخ (البحرج : ٨ ص : ٢٠١، ٢٠٢، كتاب الأضحية، طبع دارالمعرفة، بيروت)_

[3] ويجوزالجذع من الضأن أضحية .... هٰذا إذا كان الجذع عظيما بحيث لوخلط بالثنيات يشتبه على الناظرين .... الخ (البحرالرائق ج : ٨ ص : ٢٠٢، كتاب الأضحية،طبع دارالمعرفة، بيروت)_

[4] لابالعمياء والعوراء والعجفاء .... ومقطوع أكثرالأذن أوالذنب أوالعين الخ (وفى الشامية) روى محمد عنه فى الأصل والجامع الصغيرأن المانع ذهاب أكثرمن الثلث وعنه أنه الثلث ....الخ (الفتاوى الشامية ج : ٦ص : ٣٢٣)

[5] العرجاء التى تمشى بثلاثة قوائم وتجافى الرابع عن الأرض لا تجوز الأضحية بها وإن كانت تضع الرابع على الأرض وتستعين به إلا انها تتمايل مع ذالك وتضعه وضعا خفيفا يجوز .... الخ (البحرالرائق ج : ٨ ص : ٢٠١، كتاب الأضحية)_

[6] لابالعمياء والعوراء والعجفاء والمهزولة التى لامخ فى عظامها ... الخ (درمختارج : ٦ص: ٣٢٣)_

چې څومره غټ او تیار وي، هغومره قرباني ښه ده [١]

١٠ دکوم څاروي چې غاښونه بالکل نه وي یا ډیرغاښونه یې غورځیدلي وي. دهغه هم قرباني صحیح نه ده [٢]

١١ دکوم څاروي چې پیدایشي طورباندې غوږونه نه وي. دهغه قرباني صحیح نه ده، که چیرته غوږونه یې وي او واړه وي، دهغه قرباني صحیح ده [٣]

١٢ دکوم څاروی چې پیدایشي طورباندې ښکرونه نه وي دهغه قرباني صحیح ده اوکه چیرته ښکرونه یې وي. خومات شوي وي، که چیرته یوازې دپورته نه ترې څرمن لرې شوي وي اودننه ګودا ،مینځ، یې باقي وي، نوقرباني یې صحیح ده اوکه چیرته د بیخ نه وتلي وي، نودهغه قرباني صحیح نه ده [۴]

١٣ دخصي څاروي قرباني جائز، بلکې غوره دي [۵]

١۴ په کوم څاروي چې خارښ وي، خودخارښ اثریوازې دڅرمنې پورې وي، نودهغه قرباني کول صحیح دي اوکه چیرته دخارښ اثریې غوښې ته رسیدلی وي اوڅاروی دهغه له وجې کمزوری شوی وي، نودهغه قرباني صحیح نه ده [٦]

١۵ که چیرته څاروي اخیستلونه وروسته هغه کې څه عیب پیداشو، چې له وجې یې دهغه قرباني صحیح نه وي، نوکه چیرته دغه سړی دنصاب مالک وي اوهغه باندې قرباني واجب وي، نودهغه په ځای باندې دې روغ څاروی واخلي اوقرباني دې کړي اوکه چیرته دهغه په ذمه باندې قرباني واجب نه وي، نوهغه دې په همدغه څاروي قرباني وکړي [٧]

---

[١] فالمستحب أن یکون أسمنهاوأحسنها وأعظمها لأنها مطیة الاخرة فقال علیه الصلاة والسلام : عظموا ضحایاکم فإنهاعلی الصراط مطایاکم ومهما کانت المطیة أعظم وأسمن کانت علی الجوازعلی الصراط أقدر (بدائع الصنائع ج:۵ص:٨٠، کتاب التضحیة، فصل : وأمابیان مایستحب قبل التضحیة، طبع سعیدکراچي)

[٢] ولابالهتماء التی لاأسنان لها ویکفی بقاء الأکثر... الخ (درمختارج : ٦ص : ٣٢۴، کتاب الأضحیة، أیضا:البحرالرائق ج:٨ص : ٢٠١کتاب الأضحیة، طبع دارالمعرفة، بیروت

[٣] والسکاء التی لاأذن لها خلقة فلو لها أذن صغیرة خلقة أجزأت د مختار ج ٦ص ٣٢٢، کتاب الأضحیة)

[۴] ویضحی بالجماء هی التی لاقرن لها وکذا الغطاء التی ذهب [illegible] بکسرأوغیره فإن بلغ الکسرإلی المخ لم یجز .... الخ (فتاوی شامی ج :٦ص : ٣٢٣، کتاب الأضحیة، طبع ایچ ایم سعید)_

[۵] والخصی أفضل من الفحل لأنه أطیب لحمة (عالمگیری ج:۵ص:٢٩٩، کتاب الأضحیة، الباب الخامس)_

[٦] ویضحی .....والجرباء السمینة فلومهزولة لم یجز إلخ (وفی الشامیة) قال فی الخانیة وتجوزبالثولاء والجرباء السمینتین فلومهزولتین لاتنقی لایجوزإذا ذهب مخ عظمها...الخ (فتاوی شامی ج:٦ص:٣٢٣کتاب الأضحیة)

[٧] ولواشتراها سلیمة ثم تعیبت بعیب مانع فعلیه اقامة غیرها إن کان غنیا وإن کان فقیرا أجزأه ذالک (حاشیة ردالمحتارج :٦ص : ٣٢۵، کتاب الأضحیة)_

۱۲ : ځاروی مخکې رک روغ و، خوکله یې چې دقرباني له پاره څملولو هغه وخت کې هغه کې څه عیب پیدا شو، نو هیڅ خبره نه ده. دهغه قرباني صحیح ده.[۱]

دقرباني غوښه

۱ : دقرباني غوښه که چیرته دډیروکسانو شریکه وي، نو هغه توکل (اټکل) باندې تقسیمول جائزنه دي، بلکې احتیاط سره تول کولونه وروسته برابره برخه کول صحیح دي اوکه دڅاپه برخه کې سر او پښې ولیږل شي، نو دهغه دوزن نه کمی کول جائزدي.[۲]

۲ : دقرباني غوښه پخپله خوري، خپلوخپلوانواودوستانوکې یې تقسیموئ، غریبانو او مسکینانو ته یې ورکوئ اوغوره داده چې درې برخې یې کړئ، یوه دځان له پاره، یوه دخپلو خپلوانو ته دتحفې په طور ورکړئ اویوه برخه غریبانوباندې تقسیم کړئ، غرض داچې کم نه کم دریمه برخه خیرات کړئ، خوکه چیرته چادریمې برخه نه کمه غوښه خیرات کړه اوباقي یې ټوله وخوړله یایې خپلوانوته ورکړه، نوبیاهم گناه نه شته.[۳]

۳ : دقرباني څرمن دخپل استعمال له پاره ساتلی شي،چاته یې دهدیې په طورباندې هم ورکولی شي،خوکه چیرې چا څرڅه کړه نودهغې پیسې پخپله نه شي استعمالولی اونه یې چاغنيي ته ورکول جائز دي، بلکې یوغریب باندې صدقه کول یې واجب دي.[۴]

۴ : دقرباني څرمن دجومات په مرمت(ترمیم) یابل نیک کارکې لګول جائزنه دي،بلکې یوغریب دهغې مالک جوړول ضروري دي.[۵]

۵ . دقرباني څرمن یادهغې پیسې داسې ادارې ته ورکول صحیح نه دي دکومې باره کې چې دا ویره وي چې هغه به مستحق خلکوته ورنه کړي، لکه جماعتي پروګرامونومثلاً دکتابونو او رسالو چاپ کولو، دهسپتالونو جوړولو، دکارکونکو تنخوا وغیره باندې به یې خرچ کړي، ځکه چې ددې پیسو څوک غریب مالک جوړول ضروری دي، داسې ادارې ته یې ورکول صحیح دي چې په رښتیا یې په مستحقو خلکوکې تقسیم کړي.[۶]

---

[۱] ولایضرتعیبهامن اضطرابها عند الذبح (حاشیة رد المحتارج : ۶ص : ۳۲۳، کتاب الأضحیة)_

[۲] یقسم اللحم وزنا لاجزافا إلا إذا ضم معه من الأکارع أوالجلد (حاشیةرد المحتارج :۶ص : ۳۱۷، ۳۱۸)

[۳] والأفضل أن یتصدق بالثلث ویتخذ الثلث ضیافة لأقربائه وأصدقائه ویدخرالثلث ویستحب ان یأکل منها ولوحبس الکل لنفسه جاز (حاشیة رد المحتارج :۶ص : ۳۲۸، کتاب الأضحیة)_

[۴] ویتصدق بجلدها أویعمل منه غربال وجراب أویبذله بما ینتفع به باقیا .... الخ فإن بیع اللحم أوالجلد به أی بمستهلک أوبدراهم تصدق بثمنه (حاشیة رد المحتارج :۶ص : ۳۲۸، کتاب الأضحیة، طبع ایچ ایم سعید)_

[۵] أیضا)_

[۶] ولایجوزأن یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطروالسقایات وإصلاح...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

۶ دقرباني له څاروی نه پې (شيدې) اخيستل او استعمالول، يا دهغه نه وړی، کټ کول صحيح نه دی، که چيرې دچا ضرورت وي، نوهغومره پيسې صدقه کول پکار دي [۱]

۷ دقرباني دڅاروی کپړه (ځل) اورسی هم صدقه کول پکار دي [۲]

۸ دقرباني دڅاروي څرمن يا غوښه قصاب ته په اجرت کې ورکول جائزنه دي [۳]

۹ دغه شان امام يا مؤذن ته يې هم داجرت په طور باندې ورکول صحيح نه دي. [۴]

د يوڅو غلطيو اصلاح

۱ ځينې خلک دا غلطي کوی چې دطاقت نه لرلو باوجود دشرم په وجه باندې قرباني کوی.چې خلک به دا وايي چې دوی قرباني ونه کړه، يوازې خلکوته دښودنې له پاره قرباني صحيح نه ده چې دهغې په وجه باندې واجب حقوق ختم شي [۵]

۲ ډيرخلک يوازې دغوښې خوړلوله پاره دقرباني نيت وکړي.که چيرې دعبادت نيت نه وي نوهغوی ته به ثواب نه ملاويږي اوکه چيرې دغه شان خلکونوروخلکوسره برخه نيولي وي، نو ديوکس هم قرباني ونه شوه. [۶]

۳ ځينې خلک دا ګڼي چې کورکې يوه قرباني کافي ده، په دې وجه باندې خلک داسې کوي چې يوکال دخپل طرف نه قرباني وکړي اوبل کال دښځې له طرف نه،يوکال دزوی له طرف نه اوبل کال دلورله طرف نه،يوکال دمرحوم پلارله طرف نه،اوبل کال دمرحومې مور له طرف نه،يادساتل پکاردي چې کورکې په څومره کسانوباندې قرباني واجب وي په هغوی ټولو

...بقيه د تيرمخ]... الطرقات وكرى الأنهار والحج والجهاد وكل مالاتمليك فيه (عالمگيرى ج :۱ص : ۱۸۸، كتاب الزكوٰة، الباب السابع فى المصارف)_

[۱] وكره جز صوفها قبل الذبح لينتفع به فإن جزه تصدق به .... ويكره الإنتفاع بلبنها قبله كما فى الصوف (الدرالمختار مع الرد المحتار ج : ۶ص : ۳۲۹، كتاب الأضحية)

[۲] قوله ويتصدق بجلدها وكذا بجلالها وقلائدها فإنه يستحب إذا أوجب بقرة أن يجللها ويقلدها وإذا ذبحها تصدق بذالك كمافى التاترخانية (رد المحتار ج :۶ص : ۳۲۸،كتاب الأضحية)_

[۳] ولايعطى أجرة الجزار منها (حاشية ردالمحتار ج :۶ص :۳۲۸، كتاب الأضحية)_

[۴] ولايجوزأن يبنى بالزكوٰة المسجد وكذا القناطروالسقايات وإصلاح الطرقات وكرى الأنهاروالحج والجهاد وكل مالاتمليك فيه (عالمگيرى ج :۱ص : ۱۸۸، كتاب الزكوٰة، الباب السابع فى المصارف) ايضاً ولايعطى أجرة الجزار منها (حاشية ردالمحتار ج :۶ص :۳۲۸، كتاب الأضحية)_

[۵] قيد ...... باليسارلأنها لاتجب إلاعلى القادر وهو الغنى دون الفقيرومقداره مقدارماتجب فيه صدقة الفطر (البحرالرائق ج :۸ ص : ۱۹۷، كتاب الأضحية)_

[۶] وشرعا ذبح حيوان مخصوص بنية القربة فى وقت مخصوص (وفى الشامية) قال فى البدائع فلا تجزى التضحية بدونها لأن الذبح قد يكون للحم وقد يكون للقربة والفعل لايقع قربة بدون النية وللقربة جهات من المتعة والقرآن والإحصاروغيره فلا تتعين الأضحية إلابنيتها (فتاوى شامي ج :۶ص : ۳۱۲، كتاب الأضحية)_

قرباني کول واجب دي. مثلاً ښځه او خاوند که چیرې دواړه د نصاب مالکان وي، نو د دواړو له طرف نه دوه قرباني لازمې دي. دغه شان که چیرې پلار او زوی دواړه شتمن وي، که څه هم دواړه یو ځای اوسیږي، خو د هر یو له طرف نه جدا جدا قرباني کول لازم دي.[1]

ځینې خلک داګڼي چې قرباني ټول عمر کې یو ځل کافي ده. دا خیال بالکل غلط دی. بلکې څنګه چې زکات هر کال واجبیږي. دغه شان مالدار کس باندې قرباني هم هر کال واجبیږي، ځینې خلک په غوا یا میښه کې قرباني ونیسي او دا نه ګوري چې کومو خلکو سره برخه اخیستې ده، هغوی څنګه خلک دي. دا ډیره غټه غلطي ده، که چیرې او وه برخه لرونکو کې یو کس هم بې دینه وي. یا هغه د قرباني نیت نه وي کړی. بلکې یوازې د غوښې خوړلو نیت یې کړی وي. نو د ټولو قرباني برباد شوه. په دې وجه باندې د برخې نیولو وخت کې د شریکانو انتخاب کولو کې احتیاط کول پکار دي.[2]

قرباني کول د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضور ﷺ سنت دي

سوال: د قرباني باره کې موتقریرونو کې له عالمانو اوریدلي دي چې دا سنت ابراهیمي دي. یو ملاصاحب په تقریر کې وفرمایل چې دا د نبي کریم ﷺ سنت دي. په دې وجه باندې د خپل وس مطابق په دې سنت باندې عمل کول پکار دي، د غوښې خوړلو اراده نه ده پکار. یو سړي پورته شو او عرض یې وکړ چې جناب دا د ابرهیم علیه السلام سنت دي. زمونږ د نبي ﷺ سنت نه دي، ملاصاحب وفرمایل چې حقیقت کې د حضرت ابراهیم علیه السلام سنت دي، خو مونږ ته د حضور ﷺ سنت ګڼلو سره عمل کول پکار دي، سړي ورته وویل چې ته مسئله غلطه بیانوې. نیمه ګنټه (ساعت) د بحث کولو با وجود هغه سړی قائل نه شو. مهرباني وکړئ دې مسئلې باندې لږ رڼا واچوئ او مونږ له تیارو نه وباسئ!

جواب: فضول بحث و. قرباني د حضرت ابراهیم علیه السلام سنت ده، او زمونږ نبي کریم ﷺ په دې باندې عمل کړی دی، او حکم یې کړی دی. نو د حضور ﷺ سنت هم شو. دواړو کې څه تعارض یا تضاد نه شته.[3]

د قرباني شرعي حیثیت

سوال: د قرباني شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: یو اهم عبادت او د اسلام په شعائرو کې ده. د جاهلیت په زمانه کې به هم دا عبادت ګڼل

---

[1] تجب علی حر مسلم مقیم موسر عن نفسه .... الخ (البحر الرائق ج :۸ ص : ۱۹۷، کتاب الأضحیة)۔

[2] لا یشارک المضحی فیما یحتمل الشرکة من لا یرید القربة رأسا فإن شارک لم یجز عن الأضحیة ... الخ (عالمگیری ج : ۵ ص : ۳۰۴، الباب الثامن فیما یتعلق بالشرکة)۔

[3] لقوله علیه السلام : ضحوا فإنها سنة أبیکم إبراهیم (فتح القدیر ج : ۸ ص : ۶۹، کتاب الأضحیة)۔

کيږي.خودبتانو په نوم باندې به قرباني کيدې.دغه شان نن هم په نورومذهبونوکې قرباني دمذهبي رسم په طور باندې اداکيږي.مشرکين ياعيسايان دبتانو په نومونوباندې يادمسيح په نوم باندې قرباني کوي سورت کوثرکې الله تعالى خپل رسول ﷺ ته حکم کړی دی چې ځنګه لمونځ دالله تعالى نه پرته بل چاته نه شي کيدای.قرباني هم يوازې دهغه په نوم کول پکار دي [1] يوبل ايت کې هم دامفهوم بل عنوان سره بيان فرمايل شوی دی بې شکه زما لمونځ او زما قرباني.او زما ژوند اوزما مرګ دالله تعالى له پاره دی. چې دټولوجهانونو پالونکی دی [2] رسول الله ﷺ دهجرت نه وروسته لس کاله مدينه طيبه کې تير کړل. هرکال يې قرباني کړې ده [3] (ترمذی) نه دې نه معلوميږي چې قرباني يوازې مکه معظمه کې دحج په موقع باندې واجب نه ده. بلکې هرکس باندې هرښارکې واجب ده.دې شرط سره چې شريعت دقرباني د وجب کيدو نه پاره کوم شرطونه اوپابندي ښودلي دي هغه په هغه کې موجودې وي.نبي کريم ﷺ به مسلمانانو ته ددې تاکيد کاو. په دې وجه باندې دجمهورعالمانو په نزد قرباني واجب ده (شامی) [4]

قربانی واجب ده، سنت نه ده

سوال: زموږه يو خپلوان چې کافي دحيثيت خاوند دی، هغه وايي چې قربانی فرض نه ده، بلکې سنت ده. ايا دا صحيح ده؟

جواب: قرباني دنصاب خاوند باندې واجب ده، ستاسو دخپلوان ورته سنت ويل ناپوهي باندې بنا دي، ددې هيڅ حيثيت نه شته. [5]

ايا قرباني يوازې حاجی باندې ده؟

سوال: د قرباني متعلق يو مضمون په (١٠\٥\١٩٩٥ع) باندې ((جنګ)) کې چاپ شوی

---

[1] ''فصل لربک وانحر '' (الکوثر:٢)_

[2] '' قل إن صلا تی ونسکی ومحیای ومماتی للّٰہ رب العٰلمین '' (سورة:٦، الأنعام : ١٦٢)_

[3] عن ابن عمررضی الله عنهما قال : أقام رسول الله صلى الله عليه وسلم بالمدينة عشرسنين يضحى (ترمذی، ج :١ص: ١٨٢، أبواب الأضاحي)_

[4] ونحن نقول بأنها غيرفرض وإنما هی واجبة (فتح القديرج : ٨ص : ٧٠) والواجب ماثبت بدليل فيه شبهة كصدقة الفطروالأضحية. وحكمه اللزوم عملا كالفرض لاعلما على اليقين للشبهة حتى لايكفرجاحده ويفسق تاركه بلا تأويل كما هو مبسوط فى كتب الأصول (رد المحتارج :٦ص : ٣١٣) والوجوب هوقول أبي حنيفة ومحمد وزفروالحسن وإحدى الروايتين عن أبي يوسف (رد المحتارج : ٦ص : ٣١٣، كتاب الأضحية)

[5] روى عن النبى صلى الله عليه وسلم ضحوا فإنها سنة أبيكم إبراهيم، أمرعليه الصلاة والسلام بالتضحية والأمرالمطلق عن القرينة يقتضى الوجوب فى حق العمل (بدائع ج : ٥ص : ٦٢كتاب التضحية)

دی. چې په هغه کې لیکوال د قرآني ایتونو او حدیثو په رڼا کې دا خبره ثابته کړې ده چې قرباني هر شتمن مسلمان باندې واجب نه ده، پرته له هغو مسلمانانو نه چې د حج فریضه ادا کوي او دهغه څناور د قرباني په ځای مقرر ده چې «بیت عتیق» دی، له دې نه پرته یوه قرباني هم جائز نه ده. له دې نه پرته د څناورو په باره کې یې هم لیکلي دي چې د دې د پاره هم څه خاصیت نه شته، بلکې هغه څناور هم تاسو قرباني کولی شئ چې د هغو نه تاسو د حج په دوران کې د سورلۍ یاد بار کار اخستی وي، خو وي به حلال څناور. پاتې مضمون تاسو پخپله ویلی شئ، دهغه مضمون نه دا هم ښکاره خبره ده چې دحضرت اسماعیل علیه السلام په ځای ګډ وغیره نه و راغلی. دا ټولې غلطې خبرې دي. د خط د طوالت له وجې ما زیات څه ونه لیکل تاسو نه پوښتنه داده چې رښتیاهم پورتنی مضمون صحیح دی؟ موږ ټول خلک خا مخا په لکونو څناور هرکال ضائع کوو او ګناه ګټو او پیسې ضائع کوو،؟ او که چیرته مضمون غلط دی. نو مهرباني کولوسره ددې خط جواب داسې مدلل راکړئ چې دهغه مضمون ویلو نه وروسته چې دخلکو په ذهنونوکې سوالونه راپورته شوي دي دهغو ټولو تدارک وشي.

جواب: کومې خبرې چې تاسو نقل کړې دي، هغه د مضمون نګار خپلې ذاتي دي، شاید هغه دا ښودل غواړي چې هغه قرآن کریم باندې دحضور صلی الله علیه وسلم نه او صحابه کرامو رضی الله عنهم نه زیات پوهیږي، (نعوذبالله)..... ځکه چې:

۱: حضور صلی الله علیه وسلم په مدینه کې هرکال قرباني کوله. [۱]

۲: فرمایل به یې چې د قرباني په ورځو کې د ټولو نه زیات محبوب عمل د الله تعالی په نزد قرباني کول دي. [۲]

۳: حضرت علي رضی الله عنه به هرکال د دوو چیلو قرباني کوله، او فرمایل به یې چې حضور صلی الله علیه وسلم ماته ددې وصیت کړی و، لهذا زه یوه قرباني د حضور صلی الله علیه وسلم له طرف نه کوم. [۳]

۴: صحابه وو پوښتنه وکړه چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! دا قرباني څه شی دی؟ ویې فرمایل: دا ستاسو د نیکه حضرت ابراهیم علیه السلام جاري کړې طریقه ده! عرض وکړل شو چې: موږ ته به په

---

[۱] عن ابن عمررضی الله عنهما قال: اقام رسول الله صلی الله علیه وسلم بالمدینة عشرسنین یضحی (مشکوٰة، باب فی الأضحیة ص: ۱۲۹، الفصل الثالث)

[۲] وعن عائشة...ماعمل ابن ادم من عمل یوم النحراحب الی الله من اهراق الدم(مشکوٰة ص:۱۲۸باب فی الأضحیة)

[۳] عن حنش قال:رایت علیا یضحی بکبشین فقلت له: ما هذا؟ فقال: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم أوصانی ان اضحی عنه فأنا اضحی عنه رواه ابوداؤد وروی الترمذی نحوه(مشکوٰة ص: ۱۲۸، باب فی الأضحیة، الفصل الثاني)

قرباني کولو سره څه ملاويږي؟ ويې فرمايل د هر ويښته په بدله کې نيکي. [١]
دا ټول احاديث په مشکوة شريف ص (١٢٧، ١٢٨، ١٢٩) کې مذکور دي.
د حضور ﷺ د بابرکت زمانې نه واخله تر ننه پورې د مشرق اومغرب مسلمانان ننه پورې قربانيانې کولوسره راروان دي، مضمون نګار چې دکومو ايتونو حواله ورکړې ده، دهغو تعلق د قرباني سره نه دی. بلکې د ((هدي)) څناورو سره دی، مضمون نګار د اضحيه او هدي فرق باندې نه دی پوه شوی

دليکوال دا دعوه چې دحضرت اسماعيل عليه السلام په ځای ګډ نه و راغلی، دا هم صريحاً غلطه ده، د سورت صافات (١٠٧)ايت کې د الله تعالی ارشاد دی: ((اومونږ دهغه په فديې کې ورکړ يا لويه ذبيحه)) [٢] د حضرت علي رضي الله عنه، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما، حضرت حسن بصري رحمه الله اود نورو اکابرو نه منقول دي چې دهغه لويې ذبيحې نه مراد هغه ګډ دی چې دحضرت اسماعيل عليه السلام په بدله کې نازل کړل شو. [٣]خو مضمون نګار ددې ايت ترجمه کوي: ((او مونږ هغه (حضرت اسماعيل عليه السلام) ديوې عظيمې ذبيحې له پاره بچ کړ.

د مضمون نګار دا ترجمه دمذکوره ايتونو د تفسير هم خلاف ده، د اردو، فارسي او ټولو ترجمو خلاف ده او پخپله د عربی ژبې هم خلاف ده، ځکه چې اول خو د (عظيمې ذبيحې له پاره بچ کړ) د ايت د يو لفظ ترجمه هم نه ده، يوازې د فاضل مضمون نګار اختراع ده، له دې نه پرته ددې ترجمې مفهوم دا راوځي چې هغې موقع باندې چې الله تعالی د حضرت اسماعيل عليه السلام بچ کړ، هغه ديو عظيمې ذبيحې له پاره و، سوال دادی چې هغه عظيمه ذبيحه څه وه چې دهغې د پاره يې حضرت اسماعيل عليه السلام بچ کړ...؟

اوذبيحه په عربي ژبه کې هغه ځناور ته ويل کيږي چې ذبح کړل شي،ليکوال دې غور وکړي چې دهغه د ترجمې نه د ايت مفهوم څه جوړيږي؟ يعنې حضرت اسماعيل عليه السلام ديو لوی ذبح کېدونکي ځناور له پاره بچ کړل شو.

---

[١] وعن زيدبن ارقم رضی الله عنه قال : قال أصحاب رسول الله صلی الله عليه وسلم : ماهٰذه الأضاحی؟ قال : سنة أبيکم إبراهيم عليه السلام! قالوا:فمالنا فيهايارسول الله؟ قال بکل شعرة حسنة ...الخ (مشکوٰة، أضحية ص : ١٢٩)

[٢] " وفديناه بذبح عظيم " (الصافات : ١٠٧)

[٣] وقوله تعالیٰ : وفديناه بذبح عظيم، قال سفيان الثوری عن جابرالجعفی عن أبی الطفيل عن علی رضی الله عنه وفديناه بذبح عظيم، قال : بکبش أبيض أعين أقرن قد ربط بسمرة قال ابوالطفيل : وجدوه مربوطا بسمرة فی ثبير، وقال الثوری أيضاعن عبدالله بن عثمان بن خثيم عن سعيدبن جبيرعن ابن عباس قال : کبش قد رعی فی الجنة أربعين خريفا .... وعن الحسن البصری أنه قال : کان إسم کبش إبراهيم جرير (تفسيرابن کثيرج : ٥ص : ٣٥٤)

الغرض : مضمون نګار د قرآن کريم د ايت مفهوم دخپل غرض مطابق جوړولو له پاره چې کومه ترجمه کړې ده. دا دقرآن کريم مطلب وروانول دي، چې هغه ته ((تحريف)) ويل کيږي د ايت ساده مطلب چې هغه ټولو مفسرينو اختيارکړی دی دادی چې موږ ديوې لويې ذبيحه په بدله کې حضرت اسماعيل بچ کړ.

زه به فاضل مضمون نګار ته د خير مشوره ورکړم چې هغه دې ددې خپل تحرير نه توبه وکړي. ځکه چې حديث شريف کې فرمايل شوي دي چې: چا پخپلې رايې سره قرآن کريم کې څه خبره وکړه. هغه دې خپل ځای په دوزخ کې جوړ کړي. (مشکوة ص: ٣٥) [١]

❖ قرباني چا باندې واجب ده؟ ❖

دسپينوزرو د نصاب په اندازه دمال مالک باندې قرباني واجب ده

سوال: قرباني چاباندې واجبيږي؟ بيان يې کړئ!

جواب: قرباني په هرهغه عقل لرونکي، بالغ اومقيم مسلمان باندې واجبيږي، چې دهغه په ملکيت کې دوه پنځوس نيمې تولې سپين زر يادهغو دقيمت مطابق مال دخپل حاجت نه زياتي موجود وي، دا مال که دسپينوزرو يادسروزرو دکاليو (ګينې) په شکل کې وي اوکه دتجارت دمال يا د ضرورت نه زياتي دکورسامان، يااوسيدودکورنه پرته دکور يا پلاټ وغيره په شکل کې وي.[٢]

دقرباني په معامله کې مال باندې دکال تيريدوشرط هم نه شته،[٣] دماشوم اومجنون ملکيت کې که څيرې دومره مال وي، نوپه هغه يادهغه په ولي باندې قرباني واجب نه ده،[۴] دغه شان کوم سړی چې دشرعي قانون مطابق مسافروي، هغه باندې هم قرباني واجب نه ده[۵]، کوم

---

[١] عن ابن عباس رضي الله عنهماقال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من قال في القران برأيه فليتبوأ مقعده من النار (مشكوٰة، كتاب العلم، ص : ٣٥)

[٢] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار الخ وفي الشامية : قوله واليساربأن ملك مأتي درهم أوعرضا يساويها غيرمسكنه وثياب اللبس أومتاع يحتاجه .... الخ (فتاوى شامي ج : ۶ص : ٣١٢، كتاب الأضحية)_

[٣] وأما وقت الوجوب فأيام النحر، فلا تجب قبل دخول الوقت .... وأيام النحرثلاثة : يوم الأضحي وهواليوم العاشرمن ذى الحجة والحادى عشروالثانى عشر، وذالك بعد طلوع الفجرمن اليوم الأول إلى غروب الشمس من الثاني عشر (بدائع الصنائع ج : ۵ص : ۶۵، كتاب التضحية، فصل وأما وقت الوجوب)_

[۴] ومن المتأخرين من قال لاخلاف بينهم في الأضحية انها لاتجب في مالهما (أى الصبي والمجنون) .. الخ (بدائع الصنائع ج : ۵ص : ۶۴، كتاب التضحية، فصل وأما شرائط الوجوب)_

[۵] وشرائطها ...... الإقامة الخ (قوله الإقامة) فالمسافرلا تجب عليه ... الخ (فتاوى شامي ج : ۶ص : ٣١٢)

کس باندې چې قرباني لازم نه وه او هغه د قرباني په نیت باندې څاروی واخیست. نو هغه باندې قرباني واجب شوه [١]

قرباني د نصاب مالک باندې هرکال واجب وي

سوال: قرباني چې تولو نه مخکې خان باندې واجب ده اوبیاپه نوروخلکو. آیا یوځل د کولوسره به واجب پوره شي. یاهرکال قرباني کول واجب دي؟

جواب: قرباني د نصاب مالک باندې د زکات په شان هرکال واجب وي. د قرباني د واجبیدو له پاره نصاب باندې کال تیریدل هم ضروري نه دي. [٢]

د قرباني د وجوب نصاب

سوال: د قرباني له پاره کم از کم څومره نصاب ضروري دی. د سرو زرو په شکل کې؟ بله دا چې دا د سروزرو نصاب به د استعمال د سرو زرو نه پرته وي یا د هغو یوځای کولوسره؟

جواب: سره زر. سپین زر او نور د کورسامان که د استعمالیدو والا وي اوکه نه وي. د هغو تولو مالیت چې د دوه پنځوس نیموتولو مالیت ته ورسیږي. نو هغه باندې قرباني واجب ده [٣]

ایا بې وسه باندې د تیرو شویو کلونو قرباني واجب ده؟

سوال: که چیرته یوسړي دوس نه لرلو په وجه شل کاله قرباني نه وي کړي. خو اوس بې (پلاټ خرڅولوسره) وس پیدا شوی وي. نوایا په هغه به د تیرشویو کلونو قرباني د چیلو په صورت کې واجبه وي . یا د پیسو اندازې لګولوسره په یو نیک کار کې روپۍ هم لګولی شي؟

جواب: د تیرو شویو کلونو قرباني کله یې چې وس نه و.... واجب نه وه. چې له کوم وخت څخه یې وس پیدا شو. نو هغه وخت نه قرباني واجب ده [٤]

---

[١] د صفحه : ١٦٥ حواله نمبر٢ اوګوري وأماالذى يجب على الفقيردون الغنى فالمشترى للأضحية إذا كان المشترى فقيرا بأن اشترى فقيرشاة ينوى أن يضحى بها (عالمگیری ج : ٥ص : ٢٩١. کتاب الأضحية. الباب الأول فى تفسيرها)_

[٢] وسببهاالوقت وهوأيام النحراخ (وفى الشامية) وقد تكرروجوب الأضحية بتكررالوقت (فتاوى شامى ج : ٦ص : ٣١٢. کتاب الأضحية) و فى الفقه الاسلامى وأدلته (ج : ٣ص : ٥٩٥. الأضحية. طبع دارالفكر) فقال أبوحنيفة وأصحابه : انها واجبة مرة فى كل عام على المقيمين من اهل الأمصار)_

[٣] وشرائطها الاسلام والإقامة واليسارالذى يتعلق به وجوب صدقة الفطراخ بأن ملك مائتى درهم أوعرضا يساويها غيرسكنة وثياب اللبس (حاشية ردالمحتارج :٦ص : ٣١٢، کتاب الأضحية)

[٤] وشرائطها الاسلام والإقامة واليساراخ بأن ملك مائتى درهم أوعرضا...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د قرباني واجب کیدو یوڅو اهم صورتونه

سوال: ماسره هیڅ قسمه جمع شوي پیسې نه شته، که چیرې د قرباني په دغو دریو ورځو کې ماسره چیرته نه ماته دوه زره شپږسوه پنځویشت روپۍ راشي، نو آیا ماباندې به قرباني کول واجب وي؟(نن سباددوه پنځوس نیم توله سپین زرو قیمت دوه زره شپږ سوه اوپنځویشت روپۍ جوړیږي)

جواب: بالکل! دې صورت کې قرباني واجب شوه[۱] دې مسئلې باندې پوهیدوله پاره په دې پوهېدل ضروري دي، چې زکات اوقرباني کې څه فرق دی؟ یادساتل پکاردي چې زکات هم دنصاب مالک باندې واجب وي،او قرباني هم،خودواړوکې په دوه وجوهاتوباندې فرق دی.

یو داچې دزکات دواجب کیدوله پاره شرط دادی چې نصاب باندې کال تیرشوی وي، ترڅو پورې چې کال نه وي تیرشوی،زکات نه واجبیږي،[۲]خود قرباني دواجب کیدو له پاره دکال تیریدوشرط نه شته،بلکې که چیرې یوکس دقرباني په ورځ باندې دنصاب مالک شي،نوهغه باندې قرباني واجب شوه.[۳] هرکله چې زکات له کال تېرېدو نه وروسته واجبیږي.

دویم فرق دادی چې دزکات واجبیدوله پاره داهم شرط دی چې نصاب نامي(زیاتیدونکی وي) دشریعت په اصطلاح کې سرو زرو،سپین زرو،نغدو پیسو،دتجارت مال اوڅریدونکو څارویو ته نامي مال ویل کیږي[۴] که چاسره دې شیانو کې یو شی دنصاب دقیمت برابر وي، اوهغه باندې کال هم تیرشي، نوهغه باندې به زکات واجب وي،خوقرباني له پاره دمال نامی کیدل هم شرط نه دي. دمثال په طور دخپلې څمکې غله دخپل ضرورت نه زیاته ده اود اضافي غلې قیمت دوه زره شپږسوه پنځویشت روپۍ دی،چونکې داغله مال نامی نه ده په دې وجه باندې په دې زکات واجب نه دی، که څه هم پول کال پرته وي.خودې باندې قرباني واجب ده.[۵]

...بقیه د تیرمخ]... یساویها غیرسکنة وثیاب اللبس (حاشیة ردالمحتار ج:۶ص : ۳۱۲، کتاب الأضحیة)

[۱](قوله والیسار.......) بأن ملک مائتی درهم أوعرضا یساویها غیرسکنة وثیاب اللبس أومتاع یحتاجه إلی أن یذبح الأضحیة ولوله عقاریستغله فقیل تلزم لوقیمته نصابا (ردالمحتار ج:۶ص : ۳۱۲، کتاب الأضحیة)_

[۲]وسببه أی سبب آفتراضها ملک نصاب حولی .... الخ (درمختار ج: ۲ص : ۲۵۹، کتاب الزکاة)_

[۳]وأما شرائط الوجوب منها الیساروهومایتعلق به وجوب صدقة الفطردون مایتعلق به وجوب الزکوٰة ...... ولا یشترط أن یکون غنیا فی جمیع الوقت حتی لاکان فقیرا فی أول الوقت ثم أیسرفی اخره تجب علیه (فتاوی عالمگیری ج : ۵ص: ۲۹۲، کتاب الأضحیة، الباب الأول)_

[۴]وسببه ملک نصاب حولی ....نام ولوتقدیرا (تنویرالأبصارج : ۲ص : ۲۵۹تا ۲۶۳، کتاب الزکاة)_

[۵] پورتنی حاشیه (وأما شرائط الوجوب منها الیسار...الخ) اوګورئ!_

سوال: زما دوه لونړه سره دپنځلس. شپاړس کلو نو راهیسې د دوو تولو سرو زرو ګینه موجوده ده. هغوی ددې مالکانې دي. اوهغوی زمونږ په کفالت کې اوسیږي. مونږ سره دومره پیسې نشته چې مونږ دهغوی له طرف نه قرباني وکړو. آیا دوی باندې قرباني واجب ده؟ که چیرې فرض ده. نوهغوی به قرباني څنګه کوي؟ چې هغوی سره نغدې پیسې نه شته؟ یادساتل پکاردي چې ددوه تولې سرو زرو قیمت تقریبا اووه زره روپۍ جوړیږي.

جواب: که چیرې هغوی سره لږ شان پیسې او داسې نور... شیان وي، نوهغوی د نصاب خاوندانې دي اوهغوی باندې زکات اوقرباني دواړه واجب دي اوکه چیرې روپۍ ورسره نه وي، نودنصاب مالکانې نه دي او هغوی باندې زکات اوقرباني واجب نه ده.[١]

سوال: زمونږدواده یوځلویښت کاله شوي دي،خوزمابنځې یوازې دوه ځله قرباني کړې ده، ځکه چې ماسره دهغې دطرف نه دقربانۍ کولو پیسې نه شته، خوهغې سره دې دوران کې تقریباً درې څلورتولې کالي (ګینه) موجوده ده، آیا زمابنځه باندې دې ټول تیرشوي وخت کې قرباني فرض وه، ځکه چې ددوه پنځوس نیم تولې سپین زروقیمت د درې څلورتولې سروزرود ګینې نه کم دی، فرض کړئ که چیرې دیوکم څلویښتوکالوراهیسې قرباني دهغې په ذمه باندې لازم وي؟ که چیرې داسې وي، نودهغې کفاره به څنګه وي؟ یادساتل پکاردی چې مونږهمیشه دې خیال کې وچې چاسره کم ازکم اووه نیمې تولې ګینه وي.

یادونه: یادساتل پکاردي چې لږه زمانه مخکې به دسپینو زرو روپۍ وه چې دهغې وزن به پوره یوه توله و، چاسره به چې دوه پنځوس روپۍ اویو اتانیز و، هغه به په درې څلورروپۍ باندې به یوچیلۍ واخست اوقرباني به یې کړ. نن سبادګراني په وجه باندې دامسئلې دعواموله پاره ګرانې شوې دي.

جواب: دلته هم پورته بیان کړل شوې مسئله ده. که چیرې ستاسو میرمن سره له ګینې پرته څه پیسې دملکیت په طورباندې موجودې وي، نو قرباني اوزکات دواړه واجب و[٢]، دچا په ذمه چې قرباني واجب وي او و یې نه کړي، دهغې پیسې دې صدقه کړي.[٣]

سوال: زمایوه واده شوې لورده، هغې سره دپنځلسوکالودعمرنه درې تولې ګینه ده اودواده

[١] نصاب الذهب عشرون مثقالا إلخ (قوله عشرون مثقالا)فمادون ذالک لازکوٰة فيه(فتاوى شامى ج:٢ص:٢٩٥)

[٢] تيره شوى حاشيه (وسببه أى سبب آفتراضها ملک نصاب حولى .... الخ) او وروسته حاشيه (نصاب الذهب عشرون مثقالا...إلخ) اوګورئ)ـ

[٣] ولولم يضح حتى مضت أيام النحرفقد فاته الذبح .... تصدق بقيمة شاة (عالمگیری ج : ٥ص : ٢٩٦، كتاب الأضحية، الباب الرابع فيما يتعلق بالمكان والزمان)ـ

نه وروسته نور هم زيات شو. د هغې له طرف نه ما کله هم قرباني نه ده کړې، نه هغې پخپله او نه د هغې خاوند. آيا زما د غه لور باندې د پنځلسو کالو د عمر نه قرباني کول فرض دي. او هغه به د ټولو کالو قرباني کوي

جواب: پورته بيان شوې مسئله دلته هم ده.[١]

سوال: څه خلک داسې دي چې هغوی سره نه دوه زره شپږسوه او پنځويشت روپۍ شته او نه ورسره سپين زر يا سره زر شته. خو د هغوی سره ټيليويژن (تلويزون) شته. چې د هغه قيمت تقريباً لس زره روپۍ جوړيږي. داسې خلکو باندې قرباني فرض ده او که نه؟

جواب: ټي وي (تلويزون) په ضرورياتو کې داخل نه دی. بلکې يو لغوه (بې فايدې) شی دی، چا سره چې ټي وي (تلويزون) وی. هغه باندې صدقه فطر او قرباني واجب ده. او هغه له پاره زکات اخيستل جائز نه دي.[٢]

سوال: ما باندې ډېر وخت قرض و. په دې وجه باندې ما ډېره کمه قرباني کړې ده او زما خرڅې داسې دي چې زه هغو کې لږ اخوا ديخوا وکړم نو زه قرباني کولې شم. قرض په خپل ځای باندې دی. هغه لږ لږ اداکوم. نو آيا داسې حالت کې زما قرباني کول صحيح دي؟

جواب: دې حالاتو کې خوښکاره خبره ده چې تاسو باندې قرباني واجب نه ده. پاتې شوه دا خبره چې قرباني کول صحيح دي او که نه؟ د دې جواب دادی که چيرې ستاسو حالات داسې وي چې تاسو هغه قرضه سهولت سره اداکولی شئ. نو قرض اخيستو سره قرباني کول بهتر دي. که نه، نه دي کول پکار.[٣]

سوال: اوريدلي مودي چې نابالغ ماشومانو باندې قرباني فرض نه ده. زما يو نابالغ لمسی ما سره اوسيږي. آيا زه د هغه له طرف نه قرباني کولی شم؟ قرباني به صحيح وي؟

جواب: که چيرې ستاسو په ذمه باندې قرباني واجب وي. نو مخکې يې د خپل طرف نه وکړئ، له هغه وروسته که چيرې ګنجائش وي، نو د نابالغه لمسي له طرف نه يې هم کولی شئ، خود نابالغ ماشوم په ځای باندې د خپلو وفات شويو بزرګانو له طرف نه کول به ښه وي.[٤]

---

[١] أيضا)_

[٢] وسببه أى سبب افتراضها ملك نصاب حولى تام فارغ عن دين له مطالب من جهة العباد وعن حاجته الأصلية ... الخ (تنويرالأبصار ج: ٢ص: ٢٦٢، كتاب الزكاة)_

[٣] (وأما) التطوع فاضحية المسافروالفقيرالذى لم يوجدمنه النذربالتضحية ولا الشراء للأضحية لإنعدام سبب الوجوب وشرطه (بدائع الصنائع ج: ٥ص: ٦٣، كتاب التضحية، طبع ايچ ايم سعيدكراچي)_

[٤] ولوضحٰى ببدنة عن نفسه وعرسه وأولاده .... إن كان أولاده صغارا جازعنه وعنهم جميعا ... الخ (فتاوى عالمگيرى ج :٥ص: ٣٠٢، كتاب الأضحية، الباب السابع فى التضحية عن الغير)_

سوال: زمایو واده لرونکې زوی په عربو کې اوسیږي، هغه نه موږته دقرباني له پاره لیکلي دي اونه یې پیسې رالیږلي دي.خو موږ مور پلار دهغه په مینه کې یوچیلی دهغه له طرف نه قرباني کړ.داقرباني صحیح شوه؟

جواب: نفلي قرباني وشوه.خوواجب قرباني دهغه په ذمه باندې موجود ده.[۱]

سوال: یادچیلي په ځای ب دهغه زوی په بې خبري کې دهغه له طرف نه مو په غواکې برخه واخسته، آیا دهغه له طرف نه داسې برخه اخیستل صحیح دي؟ که چیرې غلطه ده نو په غوا کې دپاتې شریکانو قرباني صحیح شوه اوکه غلطه؟

جواب: چونکه نفلي قرباني به وي،په دې وجه باندې غواکې برخه اخیستل صحیح دي.[۲]

که ښځه د نصاب مالکه وي نو هغې باندې قرباني واجب ده

سوال: آیا ښځې ته خپله قرباني پخپله کول پکار دي یا یې خاوند وکړي؟ اکثرخاوندان حضرات ډیرسخت وي په خپلوښځوباندې ظلم کوي اوهغوی ته خرچې نه ورکوي،داسې صورت کې شرعي مسئله بیان کړئ!

جواب: ښځه که چیرې پخپله باندې دنصاب مالکه وي، نوهغې باندې قرباني واجب ده[۳].که نه. دسړي په ذمه باندې دښځې دطرف نه قرباني ضروري نه ده،که ګنجائش وي، ودې کړي.

دکه خاوند سره یولک روپۍ وي او ښځې سره لس تولې سره زر نو په دواړو باندې قرباني واجب ده

سوال: ښځه خاوند د خپلو بچیو سره په یو کورکې اوسیږي، سړي سره تقریبا یو لک روپۍ دي اودهغه ښځې سره لس تولې سره زر. پوښتنه داده چې قرباني به په ښځه خاوند باندې جدا جدا واجب وي یا د دواړو له.پاره یو واجب ده؟ واضحه دې وي چې ګټه یوازې سړی کوي او ښځه دکور کار کوي.

جواب: کوم حالات چې تاسو لیکلي دي، دهغو مطابق ښځې خاوند دواړو باندې جدا جدا قرباني واجب ده. والله اعلم[۴]

---

[۱] أيضا)_

[۲] أيضا)_

[۳] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار الذى يتعلق به وجوب صدقة الفطركمامرلا الذكورة فتجب على الأنثى (الدرالمختارمع رد المحتارج : ۶ص : ۳۱۲، كتاب الأضحية)_

[۴] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار الخ بأن ملك مأتى درهم أوعرضا يساويها(حاشية ردالمحتارج:۶ص: ۳۱۲)

په ښځه خاوند کې په چا باندې قرباني واجب ده؟

سوال: که چیرته ښځه شتمنه وي .خو دومره وس یې نه وي چې جدا قرباني وکړای شي، نو ایا په دې صورت کې هغه دخپل خاوند سره د یو چیلي قرباني کولی شي؟

جواب: که چیرته ښځه خاوند دواړه دنصاب خاوندان وي، نو په دواړو باندې جدا جدا قرباني واجب ده [1]

روزګارلرونکي د نصاب خاوند هلکا وا نجیلی باندې قرباني واجب ده که د هغوی واده شوی وي اوکه نه؟

سوال: والدصاحب موږ په ښه عهده باندې نوکردی .دلوموړي ښځې نه یې ماشاء الله پنځه وروڼه خویندې دي. هغې کې درې جینکۍ هم دي او دواړه ځوانان وروڼه اویوه خورنوکران دي، دمیرې مور دوه وړې لوڼه دي .هغوی هم دې کورکې جداجداکمروکې اوسیږي. والدصاحب ددوه چیلوقرباني وکړه اودواړوزامنواویوې لورپه غواکې برخه واخیسته،دهغوی درېواړو ودونه نه دي شوی. دواړه ځوانان وروڼه ګټه کوي اوپلارصاحب هم ګټه کوي، پوښتنه داده چې ددې هرڅه کیدوباوجودناواده شوې انجیلۍ قرباني جائزده؟ پلار .زامنو اولور ټولوپنځه قربانۍ وکړې. آیا یوکورکې پنځه قربانۍ کول جائزدي؟

جواب: که چیرې پلار .زامن اولوڼه ټول نوکران وي، نودهریوپه ذمه باندې جداجداقرباني کول واجب دي .په دې وجه باندې که چیرې کورکې پنځه قربانۍ وشی نوصحیح دي. ځکه چې په هرعقل لرونکي بالغ سړي اوښځې باندې دنصاب دمالک کیدوپه صورت کې قرباني واجب ده .که هغه واده شوی وي اوکه نه.[2]

د شریک خاندان په صورت کې د بالغ اولاد له طرف نه قرباني کول

سوال: موږپنځه وروڼه یو .ټولو ودونه کړي دي اودمورپلارسره یوځای اوسیږو. ټول وروڼه چې څومره ګټه کوو،پلارصاحب ته یې ورکړو یوازې د جیب خرچې ځان سره ساتو،نودې صورت کې به موږ ټولو باندې قرباني واجب وي اوکه نه؟ اوسه پورې مورپلارموخپله قرباني کوی اوموږ یې نه کوو، خودې ځل موږپه حیرانتیاکې یوځکه چې دپلار صاحب سره موتقریباً دیرش زره روپۍ دي. مهرباني وکړئ دشریعت مطابق زموږله پاره څه حکم دی،دپلارصاحب قرباني اداکول کافي دي اوکه موږټول به قرباني کوو؟

---

[1] هم دغه پورته حواله_

[2] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار الخ بأن ملک مائتي درهم لوعرضا يساويها(حاشية ردالمحتار: ج:٦ص:٣١٢)

جواب: ستاسو پلار صاحب ته پکار دي چې ستاسو پنځو واړو ورونو له طرف نه هم قرباني وکړي بلکې د پنځو زامنو ښځو سره که چیرې ګینه او نغدې پیسې د نصاب د مقدار برابر وي، نو د هغوی له پاره قرباني کول هم پکار دي، په هر حال کور کې چې څومره کسان د نصاب مالکان وي. هغوی باندې به قرباني واجب وي. او که چیرې د کټې کولو باوجود د نصاب مالک نه وي. نو هغه باندې به قرباني واجب نه وي [۱]

آیا قرض داري باندې قرباني واجب ده؟

سوال: آیا قرض داري باندې قرباني واجب ده؟ او قرض داری کس خان ته د شریعت پابند هم وایي. او د قرض پیسې د قرباني د څاروی د قیمت نه هم کمې وي؟

جواب: که چیرې د قرض اداکولو نه وروسته هغه سره د دوه پنځوس نیم توله سپینو زرو د قیمت نه زیاتې پیسې د خپل ضرورت نه زیاتې موجودې وي. نو قرباني واجب ده. که نه. نه [۲]

د قرباني په بدله کې صدقه او خیرات کول

سوال: که چیرې د طاقت باوجود قرباني ونه کړل شي، نو د هغې کفاره به څه وي؟

جواب: که د قرباني ورځې تیرې شوې، د بې خبري یا غفلت یا د څه عذر په وجه باندې قرباني ونه شوه. نو د قرباني قیمت په فقیرانو او مسکینانو باندې صدقه کول واجب دي. [۳] خود قرباني په دریو ورځو کې د څاروي قیمت صدقه کولو سره به واجب نه اداکیږي. بلکې همیشه به ګناهګار وي. ځکه چې قرباني یو مستقل عبادت دی. لکې څنګه چې لمونځ کولو سره روژه نیول او روژه نیولو سره لمونځ کول نه اداکیږي، زکات اداکولو سره حج نه اداکیږي. د غه شان د صدقې او خیرات په وجه باندې قرباني نه اداکیږي. د رسول الله ﷺ ارشادات او عمل او بیا د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع په دې باندې ګواهي ورکوي. [۴]

د نصاب مالک باندې د تیر کال قرباني واجب ده

سوال: آیا د نصاب مالکې ښځې باندې د تیرو شویو کلونو قرباني کول ضروري دي، او

---

[۱] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار الذى يتعلق به وجوب صدقة الفطر كمامرلا الذكورة فتجب على الأنثى (الدرالمختارمع رد المحتارج : ۶ص : ۳۱۲، كتاب الأضحية طبع سعيد كراچي)_

[۲] ايضاً پورتنئ حواله)_

[۳] وإن كان لم يوجب على نفسه ولا اشترى وهوموسرحتى مضت أيام النحرتصدق بقيمة شاة تجوزفى الأضحية ... الخ (بدائع الصنائع ج : ۵ص : ۶۸، كتاب التضحية،فصل : وأماكيفية الوجوب)_

[۴] ومنها أن لايقوم غيرهامقامها......... والأصل أن الوجوب إذا تعلق بفعل معين أنه لا يقوم غيره مقامه كما فى الصلاة والصوم وغيرهما...الخ (بدائع الصنائع ج:۵ص:۶۶، كتاب التضحية،فصل : وأماكيفية الوجوب)

نوموړې هغو کلونو کې دنصاب مالکه وه، که چیرې ضروري وي، نوکه چیرې د یو چیلي قیمت اوسطاً پنځه سوه روپۍ حساب کړل شي نودهرکال همدومره پیسې چاغریب، مدرسې او یا جمات ته ورکړي؟ دغې اخترقرباني واجب ده اوکه سنت؟

جواب: دهغې په ذمه باندې قرباني واجب ده اوقرباني کول ضروري دي، دهغې پیسې ورکول جائزنه دي، خوکه چیرې قرباني يې نه وي کړي، نودڅومره کلونو نه چې قرباني واجب وه او کړې يې نه وه، نودهغه کالونوحساب کولو(دیوې برخې چې څومره قیمت جوړیږي) هغه پیسې دې اداکړي، او دغه پیسې کوم فقیرته صدقه کول واجب دي.[1]

د نابالغ ماشوم قرباني دهغه دمال نه جائزنه ده

سوال: زیدوفات شو، دهغه درې بچې دي: عمر، بکر، فاطمه اودرې واړه بالغ نه دي، اوهغوی باندې خرچه کونکی دهغوی تره شعیب دی، اوس دهغوی وارث خوهم هغه دی، اوس شعیب ته شریعت اجازت ورکوی چې دهغوی دمال نه زکات یاقرباني وغیره وکړي؟

جواب: دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې دنابالغ ماشوم په مال باندې نه زکات فرض دی[2] اونه قرباني واجب ده، په دې وجه باندې ولي ته دهغوی دمال نه قرباني کولو یادزکات ورکولواجازت نه شته،[3] خودهغوی دمال نه دې دهغوی له طرف نه صدقه فطراداکوي اودهغوی په نوروضرورتونوباندې دې هم خرچ کوي.[4]

د کورمشرچې دچا له طرف نه قرباني کوي ثواب به هم هغه ته ورکول کیږي

سوال: دکور مشر قرباني کوي، آیا کوم خلک چې دهغه کفالت کې اوسیږي، هغوی ته به هم څه ثواب ملاویږي؟ یوکال دکورمشرپه خپل نوم باندې قرباني وکړه، نوبل کال دخپل زوی، لور

---

[1] وإن لم يوجب ولم يشتر وهوموسر وقد مضت أيامها تصدق بقيمة شاة تجزى للأضحية (حاشية ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٢١، كتاب الأضحية)_

[2] وليس على الصبي والمجنون زكاة خلافا للشافعي ....ولنا انها عبادة فلا تتأدى إلا بالإختيار تحقيقا لمعنى الإبتلاء ولا إختيار لهما لعدم العقل (هداية ج: ١ ص: ١٨٦ كتاب الزكاة)_

[3] ومن المتاخرين من قال لا خلاف بينهم فى الأضحية انها لا تجب فى مالهما ... إلا ان صدقة الفطر خصت عن النصوص فبقيت الأضحية على عمومها ولأن سبب الوجوب هناك رأس يمونه ويلى عليه وقد وجد فى الولد الصغير...الخ (بدائع الصنائع ج: ٥ ص: ٦٤،٦٥، كتاب التضحية، وأما شرائط الوجوب)_

[4] تجب على كل حر مسلم ولو صغيرا مجنونا وفى الشرح: قوله: ولو صغيرا مجنونا......وهذا لو كان لهما مال قال فى البدائع: وأما العقل والبلوغ فليسا من شرائط الوجوب فى قول أبي حنيفة وأبي يوسف، حتى تجب على الصبي والمجنون إذا كان لهما مال ويخرجها الولى من مالهما (الدر المختارمع الرد المحتار ج: ٢ ص: ٢٥٨، ٢٦٠)

يا ښځې په نوم باندې قرباني وکړي، نوثواب به ورته ملاويږي؟ اوصحيح ده كه غلط؟

جواب: دكورمشركه چيرې قرباني كوي نودقرباني ثواب به يوازې هغه ته وركول كيږي، نورو خلكوته نه، كه څه هم هغوى يې په كفالت كې اوسيږي

دكورمشركه چيرې دخپل طرف نه قرباني كولوپه ځاى باندې كوروالوكې دچاطرف نه قرباني كوي نودچاله طرف نه چې قرباني كوي، دهغه له طرف نه به قرباني صحيح وي، اوثواب به يې هم هغه ته ملاويږي دچادطرف نه چې قرباني كيږي، هغه باندې كه قرباني واجب وي اوكه نه.

خود كوردمشرپه سلسله كې دوه صورتونه دي، لومړى صورت دادى كه چيرې مشرباندې هم قرباني واجب ده، نو اوس مشرله پاره ضروري دي چې هغه له خپل طرف نه مستقل قرباني وكړي اودنه كولوپه صورت كې به ګناهګاروي، دبل چاله طرف نه قرباني كولوسره به دهغه دذمې نه قرباني نه ختميږي.[١]

دويم صورت دادى چې مشرباندې شرعي طورباندې قرباني واجب نه ده ، خوهغه دبل چاله طرف نه قرباني كوي، نودې صورت كې يې چې دچاله طرف نه قرباني كړې وي، دهغه له طرف نه به صحيح وي، اودكورپه مشرباندې چونكې قرباني واجب نه وه، په دې وجه باندې هغه ته دمستقې قرباني كولوضرورت نه شته.[٢] والله أعلم بالصواب.

كونډه ښځه قرباني دخپل ځان له طرف نه وكړي اوكه دخاوند له طرف نه؟

سوال: هغه ښځه چې دهغې خاوند مړ شوى وي، هغه د خاوند د جايداد وارثه وي، هغه په غټ اختركې قرباني پخپل نوم باندې وكړي اوكه د خاوند په نوم باندې؟

جواب: كه چيرته هغه د نصاب په اندازه د ماليت مالكه وي، نودهغې په ذمه قرباني واجب ده، دخپل طرف نه خو دې ضرور وكړي. بيا ګنجائش وي، نودخاوند له طرف نه دې هم وكړي. [٣]

---

[١] ومنها أنه تجزى فيها النيابة فيجوز للإنسان أن يضحى بنفسه وبغيره وبإذنه لأنهاقربة تتعلق بالمال فتجزى فيها النيابة كأداء الزكوة وصدقة الفطر (بدائع الصنائع ج:٥ ص:٦٧، كتاب التضحية، فصل: وأما كيفية الوجوب)_

[٢] قال الحنفية والحنابلة: تذبح الأضحيةعن ميت ويفعل بها لكن حى من التصدق والأكل (الفقه الإسلامى ج:٣ ص:٦٣٥)

[٣]ومن شرائطها.......اليسار الذى يتعلق به وجوب صدقة الفطر إلخ بأن ملك مائتى درهم أو عرض يساويها (حاشية رد المحتار ج:٦ ص:٣١٢، كتاب الأضحية، طبع سعيد)

یادونه د خاوند د وفات نه پس دهغه د جایداد په شرعي وارثانوباندې تقسیمول ضروري دي. یوازې د ښځې په ټول جایداد باندې قابض کیدل جائز نه دي. همدغه شان د بل چا په قبضه کې د مرحوم جایداد وي. نو هغه باندې فرض دي چې دمرحوم شرعيېوارثانو پورې دهغوی برخې ورسوي. که نه. قیامت کې به نیول کیږي.

آیا د مرحوم د قربانۍ له پاره خپله قربانۍ ضروري ده؟

سوال: ماوریدلي دي که چیرې دخپل مرحوم خپلوان (عزیز) له طرف نه قرباني کیږي، نومخکې دخپل نوم قرباني پکارده، آیاداسې کیدای شي چې یوکال خوپه خپل نوم باندې قربني وکړه. بل کال دهغه خپلوان(عزیز) له طرفه قرباني کولی شم یاچې کله دخپل مرحوم خپلوان (عزیز) له طرف نه قرباني کول غواړم نوماته به دخپل طرف نه هم قرباني کول وي؟ که چیرې دومره ګنجائش نه وي نوبیا؟

جواب: که چیرې ستاسوپه ذمه باندې قرباني واجب وي، نودخپل طرف نه اداکول ضروري دي[۱] بیاکه چیرې ګنجائش وي، نودمرحوم (عزیز) له طرف نه یې هم وکړئ. که چیرې ستاسوپه ذمه باندې قرباني واجب نه وي، نو دمرحوم دطرف نه کولی شئ،که دخپل طرف نه کوئ اوکه نه.[۲]

که د نصاب خاوند دمرحوم پلار له طرف نه قرباني وکړي اوخپله یې ونه کړي، نودهغه په ذمه باقي ده

سوال: زه دنصاب خاوندیم.سږکال د غټ اختر دقرباني په موقع باندې مادځان په ځای دخپل پلار په نوم باندې قرباني کړې ده. چې دهغه د وفات ډیره زمانه تیره شوې ده.ځینې خلک وایي چې ما غلطي کړې ده.پخپل نوم باندې قرباني کول ضروري و. زما رهنمایي وکړئ چې د مرحوم پلار قرباني وشوه اوکه نه؟ او زما د نوم قرباني پاتې شوه؟ زما نیت د قرباني و له دې وجې ما وکړه.

جواب: دنصاب خاوند ته له خپل ځان نه قرباني کول پکار دي.د پلار مرحوم د طرف نه خو قرباني وشوه. مګر ستا په ذمه باندې پاتې شوه. اوس هغومره پیسې صدقه کړه.[۳]

---

[۱] ومن شرائطها.......الیسار الذی یتعلق به وجوب صدقة الفطر إلخ بان ملک مائتی درهم او عرض یساویها (حاشیة رد المحتار ج:۶ ص:۳۱۲، کتاب الأضحیة، طبع سعید)_

[۲] أیضا حواله بالا)_

[۳] فتجب التضحیة علی حر مسلم مقیم موسر عن نفسه ... ولو ترک التضحیة ومضت أیامها تصدق بها (حاشیة رد المحتار ج:۶ ص:۳۱۵، ۳۲۰، کتاب الأضحیة، طبع ایچ ایم سعید کراچي)

د وفات شوي مور و پلار او حضور ﷺ له طرف نه قرباني کول

سوال: کوم شتمن باندې چې قرباني فرض ده. هغه د خپل طرف نه قرباني کولو سره د وفات شویو مور و پلار، نبی کریم ﷺ ام المؤمنین. د خپل نیکه، اونیا له طرف نه هم قرباني وکړي نوجائز دي؟ او آیا هغوی ته به ثواب رسیږي؟

جواب: که ګنجائش وي، نو د خپل وفات شویو بزرګانو او د حضور ﷺ له طرف نه قرباني کول ضرور پکار ده، ډیر مبارک عمل دی، دې ټولو ته به ثواب ملاویږي. ان شاء الله.[1]

د ګراني له وجې قرباني نه کونکی څه وکړي؟

سوال: سږکال څناور (څاروي) ډیر ګران وو. چې له وجې یې ډیرو خلکو قرباني ونه کړه. ستاسو نه پوښتنه داده چې هغه پیسې چې خلکو د قرباني له پاره خاص کړې وې. د هغو مصرف به څه وي؟ ایا هغوی هغه صدقه کړي یا یې دراروان کال د قرباني له پاره کیږدي؟

جواب: په چا چې قرباني واجب وي او هغه قرباني ونه کړای شي. یا هغه قصدا نه وي کړي. نود واجبو د پریښودو له وجې به ګناهګار وي. الله تعالی نه دې معافي وغواړي او د قرباني د پیسو صدقه کول دهغه په ذمه باندې واجب دي. راروان کال دهغې په بدله کې قربانی کولو سره واجب نه ادا کیږي. [2]

که چیرې بچت کولو سره د قرباني څاروی اخستی شئ نو قرباني ضرور وکړئ !

سوال: زمونږ پلار صاحب نوکردی او تنخواه ورته ملاویږي، خو هغه میاشت په میاشت ختمه شي، خو تنخواه دومره ده که چیرې ګذاره کولو سره خرچ کړل شي، نو د قرباني څاروې اخیستل کیدای شي، اودا هم ووایئ چې زمونږ پلار صاحب باندې مو قرباني واجب ده او که نه؟

جواب: دې صورت کې قرباني واجب نه ده، او که چیرې کورکې دومره نغدې پیسې موجودې وي، چې دهغه د نصاب اندازې ته رسیږي، یا د بچت کولو سره دومره پیسې جمع شي چې هغه

---

[1] قال في البدائع: لأن الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدليل أنه يجوز أن يتصدق عنه ويحج عنه وقد صح ان رسول الله صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين أحدهما عن نفسه والاخر عن من لم يذبح من امته، وإن كان منهم من قد مات قبل أن يذبح (فتاوى شامي ج:٦ ص:٣٢٦، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد كراچي)

[2] فإن كان قد أوجب التضحية على نفسه بشاة بعينها فلم يضحها حتى مضت أيام النحر فيتصدق بعينها سواء كان موسرا أو معسرا (عالمگيرى ج:٥ ص:٢٩٤، كتاب الأضحية، الباب الأول في تفسيرها)

دنصاب مقدار ته ورسيږي، نوقرباني واجب ده. اوکه چيرې ګذاره کولوسره پيسې بچت کيداى شي نوقرباني کول غوره دي، واجب نه.[1]

د وفات شوي سړي له طرف نه قرباني کول

سوال: يوسړې وفات شي،دوفات کيدونه وروسته دهغه وارثان دهغه له پاره قرباني کول غواړي، دقربانۍ کولوڅه طريقه ده؟ دغوښې دتقيسمولواودقرباني څه حد دى؟

جواب: دوفات شويو حضراتوله طرف نه چې څومره قرباني کول غواړئ هغومره کولى شئ[2]،دغوښې دتقسيمولوڅه جداطريقه نه ده،يوازې دوفات شوي سړي له طرف نه دقرباني نيت کول کافي دي.[3]

دخپلې قرباني په ځاى دخپل پلارله طرف نه قرباني کول

سوال: سوال داد ى چې زيد يو کال خپل نوم باندې قربانى کوي، اوبل کال د پلار په نوم باندې. او بيا بل کال د مور په نوم باندې، بيا د پيرمرشد په نوم باندې، ايا دا طريقه صحيح ده؟ اوکه زيد ته يوازې پخپل نوم باندې قرباني کول پکار دي. هرکله چې نوړى دنصاب خاوند هم دى؟

جواب: زيد دنصاب خاوند دى، نو خپله قرباني په ده باندې په هرحال واجب وي،[4] دده نه پرته د بزرګانو له طرف نه نفلي قرباني کولى شي.[5]

د وفات شوي مورو پلارله طرف نه قرباني کول

سوال: آيا قرباني دوفات شويو مور و پلارله طرفه کيداى شي،کله چې خپله ذاتي قرباني نه شي کولى؟

---

[1] والموسر فى ظاهر الرواية من له مائتا درهم أو عشرون دينارا أو شيء يبلغ ذاک سوى مسكنه ومتاع مسكنه ومركوبه وخادمه فى حاجته التى لايستغنى عنها (عالمگيرى ج:٥ ص:٢٩٢،كتاب الأضحية،الباب الأول فى تفسيرها)

[2] قال فى البدائع: لأن الموت لا يمنع التقرب عن الميت بدليل أنه يجوز أن يتصدق عنه ويحج عنه وقد صح أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين أحدهما عن نفسه والاخر عن من لم يذبح من امته، وإن كان منهم من قد مات قبل أن يذبح (فتاوى شامى ج:٦ ص:٣٢٦، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد كراچى)

[3] من ضحى عن الميت يصنع كما يصنع فى أضحية نفسه من التصدق والأكل والأجر للميت ...الخ (فتاوى شامى ج:٦ ص:٣٢٦، كتاب الأضحية)_

[4] ومن شرائطها الإسلام والإقامة واليسار إلخ بأن ملک مالك درهم أو عرضا يساويها (حاشية رد المحتار ج:٦ ص:٣١٢، كتاب الأضحية، طبع سعيد كراچى)

[5] وإن كان أحد الشركاء ممن يضحى عن ميت جاز (بدائع ج:٥ ص:٧٢، كتاب التضحية)

جواب: په کوم کس باندې چې قرباني واجب وي،هغه باندې دخپل ځان له پاره قرباني کول لازم دي[۱]،اوکه چيرې ګنجائش وي، نودوفات شوي مور و پلارله طرف نه جداقرباني دې وکړي،اوکه چيرې پخپله باندې دنصاب مالک نه وي اوهغه باندې قرباني واجب نه وي نوهغه ته اختياردی که دخپل طرف نه يې کوي اوکه دوفات شوي مور و پلارله طرف نه،که چيرې مورپلار دواړه شتمن وی نودواړوپه ذمه باندې جداجدا قرباني کول واجب دي،دغه شان که چيرې پلارهم شتمن اودهغه زامن هم نوکران اوشتمن وي نودهريوپه ذمه باندې جداجدا قرباني کول واجب دي[۲]، ډير کورونو کې دارواج دی چې دقرباني په موقع باندې کورکې دډيروخلکودنصاب مالک کيدوباوجوديوه قرباني وکړي،کله دخاوندپه نيت باندې،کله دښځې دطرف نه اوکله د وفات شويو حضراتوله طرف نه،دادستورغلط دی،بلکې څومره کسان چې دنصاب مالکان وي هغوی ټولوباندې قرباني واجب ده.

د زکات نه اداکونکي قرباني کول

سوال: که چيرې يوکس زکات نه اداکوي،خوقرباني کوي نودهغه قرباني قبليږي اوکه نه؟

جواب: که چيرې خلوص سره قرباني کوي، نودقرباني ثواب ورکول کيږي اودزکات نه ورکولوګناه به دهغه په ذمه وي،اوکه چيرې يوازې د غوښې خوړلويادخلکودخبرونه دځان بچ کولوله پاره قرباني کوي نو ښکاره خبره ده چې ثواب به هم نه ملاويږي،بلکې دمخلوق يا ځان ښودنې له پاره دعمل کولوپه وجه باندې به ورته نورهم عذاب ملاويږي.[۳]

چا باندې چې قرباني واجب نه وي اوهغه قرباني وکړي نوهغه ته به هم ثواب ورکول کيږي

سوال: زموږ کورنۍ کې پنځه کسان دي،لږشان آمدن دی،دمشر ورور موخپل وړوکی شان کاروبار دی،زما زرروپۍ تنخوا ده،هغې کې راته اته سوه ملاويږي(۱۹۷۴ع) کې حالات خرابيدو په وجه باندې دمشرقي پاکستان نه راغلي يو،دکرايې په يو وړوکي شان کورکې

---

[۱] وروی عنه علیه الصلاة والسلام أنه قال: من لم یضح فلا یقربن مصلانا، وهذا خرج مخرج الوعید علی ترک الأضحیة ولا وعید إلا بترک الواجب، وقال علیه الصلاة والسلام: من ذبح قبل الصلاة فلیعد أضحیته......... وکل ذالک دلیل الوجوب ولأن اراقه الدم قربة والوجوب هو القربة فی القربات (بدائع الصنائع ج:۵ ص:۶۲، کتاب التضحیة)_

[۲] وشرائطها الإسلام والإقامة والیسار الذی یتعلق به وجوب صدقة الفطر (رد المحتار ج۶ ص:۳۱۲)_

[۳] هی ذبح حیوان مخصوص بنیة القربة ....قال فی البدائع: فلا تجزی التضحیة بدونها لأن الذبح قد یکون للحم...إلخ (الفتاوی الشامیة ج۶ ص:۳۱۲، کتاب الأضحیة، طبع ایج ایم سعید)_

وسيرو، بوازې دضرورت سامان موجود دی.څه چې کټو هغه خرچ کیږي.بچت کول مشکل دي او سره اوسپين زر هم راسره نشته نه. آيا زماددې حالاتومطابق په ما باندې قرباني فرض ده.او آیا دغه شان لس روپی روزانه جمع کولوسره هغو باندې څاروی اخيستل اوقرباني کول جوړدي؟ قرباني په کومو حالاتو کې جائزده؟

جواب: قرباني دهغه کس په ذمه باندې واجب ده.چاسره چې دخپل ضروري استعمال دسامان و ضروري خرچونه پرته دنصاب د مقدار مطابق پيسې موجودې وي.يعنې دوه پنځوس نيمو تولو دسپينو زروقيمت. تاسوچې کوم حالات ليکلي دي،دهغو مطابق تاسوباندې قرباني واجب نه ده[1]. خوکه چيرې تاسوڅه پيسې جمع کړئ اوقرباني وکړئ نوډيره ښه خبره ده، راقم الحروف ته دپيسو جمع کولوضرورت خوکله هم نه دی راغلی.خودې خيال سره مې چيرې هم قرباني نه ده پريښې چې کله موږخپلوخرچوکې کمې نه کوو .نوالله تعالى ديوعبادت په سلسله کې دغريبي بانه ولې وکړو. غرض داچې تاسوقرباني وکړئ تاسوته به پوره ثواب ملاويږي

دقرباني په ځای باندې پيسې خيرات کول

سوال: که چيرې يوکس دقرباني کولواراده لري،اوهغه دقرباني په پيسوباندې دقرباني کولوپه ځای ديومستحق کس خدمت وکړي،چې هغه ته په رښتيا باندې دپيسوضرورت وي، نو آيا هغه ته به دقرباني ثواب ملاؤشي،اوکه دقرباني ثواب په قرباني باندې ملاويدای شي؟ياد سائل پکاردي چې قرباني کونکی کس دهغه سړي هسې خدمت نه کوي.

جواب: دکوم کس په ذمه چې قرباني واجب وي،دهغه په ذمه باندې قرباني کول ضروري دي، غريبانوته پيسې ورکولوسره دقرباني ثواب نه ملاويږي،بلکې داکس به ګناهګار وي[2] او دچاپه ذمه چې قرباني واجب نه وي هغه ته اختيار دی،که قرباني کوي اوکه غريبانوته پيسې ورکوي.خو دويم صورت کې به هغه ته دقرباني ثواب نه ملاويږي،دصدقې ثواب به ورته ملاويږي.

---

[1] فلابد من اعتبار الغنى وهو أن يكون ملكه مائتا درهم أو عشرون دينارا أو شيء تبلغ قيمته ذاك سوى سكنه وما يتأثث به وكسوته وخادمه وفرسه وسلاحه ومالايستغنى عنه (بدائع الصنائع ج : ٥ص :٦٤، كتاب التضحية)_

[2] هي ذبح حيوان مخصوص بنية القربة ....قال في البدائع: فلا تجزى الاضحية بدونها لأن الذبح قد يكون للحم...إلخ (الفتاوى الشامية ج٦ ص:٣١٢، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد)_

آیا د قربانۍ غوښه د خرابولو په ځای هغومره پیسې صدقه کړی؟

سوال: اکثرلیدل شوي دي چې دغټ اخترپه موقع باندې مسلمانان ځاروي حلالوي اودغه شان اکثر ډیره غوښه دخرابیدوپه وجه باندې وغورځول شي، که چیرې یوانسان وغواړي چې دقربانۍ څومره پیسې جوړیږي هغه یوکس ته دامداد په طورباندې ورکولی شي، اسلام ددې باره کې څه وايي؟

جواب: قربانۍ په شتمنو باندې واجب ده دقرباني په ځای باندې هغومره پیسې صدقه کولو سره واجب نه اداکیږي، بلکې قرباني کول ضروري دي[1]، دغوښې دضائع کولوضرورت نه شته. دالله تعالې بې شمیره مخلوق دی، که پخپله یې نه شئ خوړی، نوروخلکوته یې ورکړئ؟

د قربانۍ ځاروی که خرڅ کړل شي، نو پیسو باندې څه وکړل شي؟

سوال: که یوسړي دقرباني له پاره ځاروی واخیست اوهغه یې دقرباني نه مخکې په څه وجه باندې خرڅ کړ، اوس هغه دغه پیسې بل ځای کې خرچ کولی شي؟

جواب: هغه پیسې دې صدقه کړي اواستغفاردې کوي اوکه چیرې هغه باندې قرباني واجب وه، نوبل ځاروی دې واخلي اوهغه دې قرباني کړي.[2]

داووه کاله مسلسل قربانۍ واجب کیدوخبره غلطه ده

سوال: دقرباني دمسئلوباره کې راته تفصیل بیان کړئ،چې انسان باندې څومره قرباني واجب دي،ځکه چې مااوریدلي دي، بلکې داعمل مې لیدلی دی چې کله یوانسان قرباني کوي، نوبیاهغه باندې مسلسل داووه کلونو له پاره قرباني واجب شي اوهغه داووه قربانیوکولو نه وروسته بري شي،دا خبره تر کومه حده پورې صحیح ده؟

جواب: کوم کس چې دنصاب مالک وي هغه باندې قرباني واجب ده او کوم چې دنصاب مالک نه وی هغه باندې واجب نه ده[3]،اووه کلونو پورې دقرباني واجب کیدوخبره بالکل غلطه ده، که چیرې سږ کال دنصاب مالک وي اوبل کال دنصاب مالک نه وي، نوقرباني به هم

---

[1] أيضا (قوله أى إراقة الدم) قال فى الجوهرة : والدليل على أنها الإراقة لوتصدق بين الحيوان لم يجزوالتصدق بلحمهابعدالذبح مستحب (ردالمحتار ج:۶ ص : ۳۱۳،كتاب الأضحية)_

[2] قال فى العناية : وهى واجبة بالقدرة الممكنة، بدليل أن الموسرإذا اشترى شاة الأضحية فى أول يوم النحرولم يضح حتى مضت أيام النحرثم آفتقركان عليه أن يتصدق بعينها ولاتسقط عنه الأضحية (ردالمحتارج:۶ص : ۳۱۴)

[3] قوله واليساربأن ملك مائتى درهم أوعرضا يساويها غيرمسكنه وثياب اللبس أومتاع يحتاجه .... الخ (شامى ج :۶ص : ۳۱۲، كتاب الأضحية)_

واجب نه وي [1]

د غټ اختر په ورځو کې د ښاروىو د بيو لوړېدو په وجه قرباني څنګه وکړو؟

سوال: دعوه کيږي چې اسلام د هريوې مسئلې حل راباسي، او اسلام کې د هريوې مسئلې حل موجود دی، جناب عالي ديوڅو ورځو خبره ده غټ اختر راروان دی، او دې موقع باندې د قرباني کولو ترغيب ورکول کيږي، او دې کار له پاره هريوه طريقه (تمام ذرائع ابلاغ) خپلولی شي، او بيا خلک قرباني هم کوي، خپله، د خپل مورپلار په نوم، د رسول الله ﷺ په نوم باندې او د خپل پيرپه نوم باندې او داسې نور.....

روژه کې مې ديو خپلوان (عزيز) د ماشوم عقيقه وه، هغوی سره د چيلو اخيستو له پاره لاړم. نو يويو چيلې راته په دولس سوه روپۍ ملاؤ شو، بيا تيره هفته کې چيلی تقريباً په پنځلس سوه او شپاړس سوه روپۍ باندې اخيستل شوي دي، د چيلو د ګراني وجه د غټ اختر راتلل دي، د خرڅونکو د قول مطابق غټ اختر راروان دی، نرخ زيات شو.

ويل کيږي چې د موقعې نه فائده اخيستل، قيمت زياتول او دې خيال سره مال جمع کول چې سبا به يې قيمت زيات شي، دا هرڅه اسلام کې جائز نه دي، او داسې سوداګرانو باندې د الله تعالی لعنت دی، او بيا داچې د ظالم سره جنګ وکړئ، تردې پورې چې هغه د ظلم نه لاس ونيسي او داسې نور.....

اوس سوال دادی چې د ظلم نه څنګه بچ شو؟ څوک د چاخلاف جنګ وکړي او ولې؟ آيا موږ د ښاريو قرباني ونه کړو او که ويې نه کړو نو بيا څه وکړو؟ زما ذاتي طور باندې دا خيال دی چې ټول عالمان په يوځای باندې اعلان وکړي چې چونکې غټ اختر کې سوداګران قيمت زياتوي، په دې وجه باندې دې سږکال د ښاريو قرباني نه وي، بلکې د بل څه دې وي، که چيرې داسې وشو، نوکه نن نه وي، نو سبا به ضرور قيمت کم شي، که نه، موږ او تاسو ټول د فرضيت په نوم باندې ظالم نور هم طاقتور کوو، دا مسئله د درمياني طبقې د لکونو خلکو ده.

مولاناصاحب د دې مکمل جواب د اخبار په ذريعه باندې راکړئ ځکه که چيرې فرضيت د کراهت سره اداشي، نو بيا خبره جوړيږي، نه بلکې خرابيږي.

جواب: قرباني مالداره خلکو باندې واجب ده [2]، او د شرعي واجبو شيانو ختمولو، يا وروسته کولو اختيار يوازې الله تعالی سره دی، عالمانو ته دا اختيار نه دی حاصل، تاسو چې عالمانو

---

[1] أيضا : وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار.... الخ (شامي ج : ٦ص : ٣١٢، كتاب الأضحية) دغه شان هم دغه پورته حواله هم اوګورئ!)۔

[2] وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار.... الخ (شامي ج : ٦ص : ٣١٢، كتاب الأضحية)۔

باندې کوم اعلان کول غواړئ دا دین کې د ترمیم او تحریف مشوره ده،دین کې ترمیم او تحریف عظیمه ګناه ده،او د دې مشورې ورکول هم دغه شان غټه ګناه ده.[1]

ترکومه حده پورې چې د قیمتونو مناسب سات لو سوال دی،د دې له پاره نور تدابیر هم اختیاریدای شي،او ضرور کول پکار دي،او کومو خلکو سره چې د ګران څاروي اخیستو ګنجائش نه وي، هغوی باندې قرباني واجب نه ده،هغوی دې نه کوي.خو د دې علاج دا نه دی چې سږکال دې د قرباني د منسوخ کولو اعلان وکړل شي.

❖ د قرباني ورځې ❖

قرباني څو ورځې کیدای شي؟

سوال: د قرباني باره کې ځینې حضرات وايي چې قرباني اووه ورځو پورې جائز ده،حالانکې موږ یوازې درې ورځې قرباني کوو. وضاحت وکړئ چې درې ورځې یې کولی شو او که اووه ورځې یې هم کولی شو؟

جواب: د جمهور علماء کرامو په نزد باندې قرباني درې ورځې ده،د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې په څلورمه ورځ هم جائز ده، احنافو ته درې ورځو پورې کول پکار دي.[2]

قرباني په لسم، یوولسم او دولسم ذی الحجه باندې کول پکار دي

سوال: قرباني په کومه ورځ کول پکار دي؟

جواب: د قرباني عبادت یوازې درې ورځو پورې خاص دی،په نورو ورځو کې د قرباني عبادت نه شته،د قرباني ورځې د ذی الحجه لسم،یوولسم،او دولسم تاریخونه دي، دې کې چې کله غواړئ قرباني کولی شئ،خو په لومړۍ ورځ باندې کول یې غوره دي.[3]

---

[1] قال تعالىٰ ''وقد كان فريق منهم يسمعون كلام الله ثم يحرفونه من بعد ما عقلوه وهم يعلمون'' (البقرة: ٧٥)

[2] وأيام النحر ثلا ثة : يوم الأضحى وهو اليوم العاشر من ذى الحجة، والحادى عشر والثانى عشر وذالك بعد طلوع الفجر من اليوم الأول .....وقال الشافعى رحمه الله تعالىٰ : أيام النحر أربعة أيام : العاشر من ذى الحجة والحادى عشر والثانى عشر والثالث عشر، والصحيح قولنا .... الخ (البدائع الصنائع، كتاب التضحية، فصل وأما وقت الوجوب ج : ٥ص : ٦٥) أيضا : وهى ثلاثة أيام أفضلها أولها ...... واخره قبيل غروب يوم الثالث وجوزه الشافعى فى الرابع (الدرالمختار ج : ٦ص : ٣١٦، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد، وأيضا فى البحر ج :٨ ص : ١٧٦، كتاب الأضحية)_

[3] و وقتها ثلاثة أيام أولها أفضلها لأنها تفوت بفوات أيامها (البحر الرائق ج : ٨ص : ١٧٦) أيضا : وأيام النحر ثلاثة، يوم الأضحى وهو اليوم العاشر من ذى الحجة، والحادى عشر والثانى عشر، وذالك بعد طلوع الفجر من اليوم الأول إلى غروب الشمس من الثانى عشر... الخ (البدائع الصنائع،كتاب التضحية،فصل وأما وقت الوجوب ج : ٥ص : ٦٥، طبع سعيد)_

ښارکې د اختر د لمونځ نه مخکې قرباني کول صحيح نه دي

سوال: زيد ښارکې د اختر له لمنځه نه مخکې سحر وختي قرباني وکړه دا قرباني اوشوه او که نه؟

جواب: دا قرباني ونه شوه، که چيرې هغه باندې قرباني واجب وه نو د قرباني په ورځوکې دويمه قرباني کول هغه باندې واجب دي [۱]

د قرباني کولو صحيح وخت

سوال: مهرباني وکړئ د قربانئ صحيح وخت. د لمونځ نه مخکې دې او که وروسته. دې باندې رڼا واچوئ؛

جواب: په کوم کلي يا ښارکې چې د جمعې او اختر لمونځ جائزدی، هلته د اختر د لمونځ نه مخکې قرباني جائزنه ده. که چيرې چا د اختر له لمانځه نه مخکې قرباني وکړه نو هغه باندې په دويم ځل قرباني کول لازم دي، خو وړوکې کلي کې چې هلته د جمعې او اختر لمونځ نه کيږي، دغه خلک په لسم تاريخ د صبح صادق نه وروسته قرباني کولی شي [۲]. دغه شان د څه عذر په وجه باندې د اختر لمونځ که په لومړۍ ورځ باندې ونه شي، نو د اختر د لمونځ وخت تيريدو نه وروسته قرباني صحيح ده. (درمختار) [۳] قرباني د شپې هم جائزده، خو غوره نه ده. (شامی) [۴]

....

---

[۱] وأما الذى يرجع إلى وقت التضحية فهو انها لاتجوزقبل دخول الوقت .... فلايجوزلأحد أن يضحى قبل طلوع الفجرالثانى من اليوم الأول من أيام النحرويجوزبعد طلوعه سواء كان من أهل المصرأو من أهل القرىٰ غيرأن للجوازفى حق أهل المصرشرطا زائدا وهوأن يكون بعدصلاة العيد لايجوزتقديمهاعليه عندنا (البدائع الصنائع، كتاب التضحية، فصل واماشرائط جوازإقامة الواجب ج :۵ص : ۷۳، طبع ايج ايم سعيد. أيضا: من ذبح قبل صلاة الإمام فليعدذبيحته (البحرالرائق،كتاب الأضحية ج :۸ص : ۱۷۵، طبع دارالمعرفة بيروت)_

[۲] لايجوزلأهل الأمصارالمطالبين بصلاة العيدالذبح فى اليوم الأول إلابعدأداء صلاة العيد.......وأما أهل القرى الذين ليس عليهم صلاة، فيذبحون بعد فجراليوم الأول (الفقه الإسلامى وأدلته ج : ۳ص :۶۰۶) من ذبح قبل صلاة الإمام فليعد ذبيحته (البحرالرائق، كتاب التضحية ج: ۸ص :۱۷۵، أيضا ورد المحتار، كتاب الأضحية ج : ۶ص : ۳۱۸)

[۳] وأول وقتها بعد الصلاة إن ذبح فى مصر......... وبعد مضى وقتها لولم يصلوالعذر، درمختار، وفى الشامية (قوله لعذر) .... فإن اشتغل الإمام فلم يصل أوترك عمدا حتى زالت فقد حل الذبح بغيرصلاة فى الأيام كلها (ردالمحتارمع الدرالمختارج : ۶ص : ۳۱۸. كتاب الأضحية)_

[۴] وكره تنزيها الذبح ليلا لإحتمال الغلط (قوله تنزيها) ..... قلت الظاهران هٰذه الكراهة التنزيهية ومرجعها إلى خلاف الأولى، إذ احتمال الغلط لا يصلح دليلا على كراهة التحريم (ردالمحتارمع الدرالمختار،كتاب الأضحية ج : ۶ص :۳۲۰، كتاب الأضحية)_

❖ د کومو څارویو قرباني جائز یا ناجائزده ❖

د کومو څارویو قرباني جائزده؟

سوال: چیلی، چیلی، ګډ، ګډه په کومو کومو څارویو قرباني کیدای شي؟

جواب: ګډ، چیلی، ګډه، هم دیوکس له طرف نه قربانیدای شي، غوا، غوایی، میښه اوا وښ د اووه کسانو له پاره کافي دی[۱] له دې شرط سره چې د ټولو نیت دثواب وي. دیوکس نیت هم چې یوازې د غوښې خوړلو نه وي. چیلی اوچیلی دیوکال کېدل ضروري دي، ګډ اوګډه که دومره څرب،چاغ،وي چې دکال ښکاري، نوپه هغه هم جائزده. غوا، غوایی اومیښه ددوه کلونواوا وښ دپنځو کلنوضروري دی، له دې عمرونونه کم څارویو باندې قرباني نه کیږي[۲] که چیرته دڅاروي خرڅونکی دڅاروي عمر پوره وښي اوظاهري حالاتو باندې دهغه بیان کې دروغ نه ښکاري، نوهغه باندې اعتمادکول جائزدي، دکوم څاروي چې پیدایشي طورباندې ښکرونه نه وي یاپه مینځ کې مات شوي وي، دهغه قرباني صحیح ده اوکه چیرته ښکرونه یې د بیخ نه وتلي وي او اثر یې په دماغو باندې لازم وي، نودهغه قرباني صحیح نه ده (شامی)[۳]

---

[۱] وأماقدره : فلا تجوزالشاة والمعز إلاعن واحد وإن كانت عظيمة ....ولايجوزبعير واحد ولابقرة واحدة عن اكثرمن سبعة ويجوزذالک عن سبعة وأقل من ذالک وهوقول عامة العلماء (فتاوی عالمگیری، کتاب الأضحية، الباب الخامس ج : ۵ص: ۲۹۷، طبع رشيدية كوئته) أيضا : يجب أن يعلم أن الشاة لاتجزي إلا عن واحد وإن كانت عظيمة، والبقروالبعيريجزی عن سبعة إذا كانوا يريدون به وجه الله تعالىٰ، والتقديربالسبع يمنع الزيادة ولايمنع النقصان (فتاوی عالمگیری، الباب الثامن ج :۵ص : ۳۰۴) والجذور والبقرعن سبعة، ولونویٰ أحدهم اللحم بطل الكل .... الخ (خلاصة الفتاویٰ،کتاب الأضحية ج : ۴ص : ۳۱۵طبع رشيديه)_

[۲] أسنان الأضاحی : الأضاحی اثنان : الجذع من الضأن إذا كان ضخما عظيما وهوالذی أتی الستة أشهر والثنی من المعزوالإبل والبقرفالثنی من الإبل الذی طعن فی الثالثة ومن المعزالذی طعن فی السنة الثانية ومن البقر الذی طعن فی الثانية والبختی من الإبل بمنزلة العراب (خزانة الفقه ص : ۲۶۵طبع المكتبة الغفورية) وأيضا : (وأماسنه) فلا يجوزشيء مما ذكرنا من الإبل والبقروالغنم عن الأضحية إلا الثنی من كل جنس وإلا الجذع من الضأن خاصة إذا كان عظيما، وأما معانی هٰذه الأسماء فقدذكرالقدوری أن الفقهاء قالوا : الجذع من الغنم ابن ستة أشهروالثنی ابن سنة، والجذع من البقرابن سنة والثنی منه ابن سنتين، والجذع من الإبل ابن أربع سنين والثنی ابن خمسة، وتقديرهٰذه الأسنان بماقلنا يمنع النقصان ولايمنع الزيادة حتّٰى لوضحی بأقل من ذالک شيئا لايجوز ولوضحی بأكثرمن ذالک شيئا يجوز ويكون أفضل (فتاوی عالمگيری، کتاب الأضحية، الباب الخامس فی بيان محل إقامة الواجب ج :۵ص : ۲۹۷، طبع رشيدية كوئته)_

[۳] ويضحی بالجماء هی اللتی لاقرن لها خلقة، وكذا العظماء التی ذهب بعض قرنها بالكسرأوغيره فإن بلغ الكسرإلی المخ لم يجز وفی البدائع : إن بلغ الكسرإلی المشاش لايجزي (فتاوی شامی، کتاب الأضحية ج :۶ص :۳۲۳، طبع ايچ ايم سعيدكراچی، أيضا : فتاوی عالمگيری، کتاب الأضحية الباب الخامس ج :۵ص : ۲۹۷، طبع رشيدية كوئته)_

دخصي (بدهيا) چيلي قرباني جائز ،بلکې غوره ده (شامی)[1] دړانده ،کانه او ګوډ خاروي قرباني صحيح نه ده، همدغه شان دداسې مريض اوکمزوری خاروي چې دقرباني ځاي پورې په خپلوپښونه شي تلای دهغه قرباني کول هم جائزنه دي، دکوم خاروي چې ددريمې برخې پورې يادې نه زيانه لکی کټ (پرې) شوې وي، نودهغه قرباني جائزنه ده.(شامی)[2] دکوم خاروي چې بالکل غاښونه نه وي يا اکثرغاښونه يې نه وي دهغه قرباني هم جائزنه ده.(شامی درمختار)[3] دغه شان دکوم خاروي چې پيدايشی طور باندې بالکل غوږونه نه وي، دهغه قرباني هم صحيح نه ده[4] که چيرته خاروی صحيح اخيستل شوی وي اوبياهغه کې دقرباني مانع يعنې عيب پيداشو، نوکه چيرته اخيستونکی غني (دنصاب مالک) نه وي، نو هغه له پاره په همدغه عيب نرونکي خاروي قرباني جائزده اوکه چيرته دغه کس غني اودنصاب مالک وي، نوهغه باندې لازم دي چې دهغه خاروي په بدله کې بل خاروی قرباني کړي.(درمختاروغيره)[5]

دقرباني چيلی د يوکال ضروري دی دوه غاښونه يې نښه ده

سوال: دچيلی دوه غاښونه ضروري دي اوکه صحت مندچيلی ددوو غاښونونه پرته هم ذبح کېدای شي، ياداحکم يوازې دګډله پاره دی؟

جواب: چيلی پوره ديوکال ضروري دی، که يوه ورځ هم کم وي، نوقرباني به نه کيږي، دوه غاښونه ددې نښه ده، ګډ او ګډه که چيرته عمرکې دکال نه کم وي، خودومره تيار(چاغ) وي چې دکال ښکاري، نو دهغې قرباني جائزده.[6]

---

[1] ويضحى بالجماء والخصى والثولاء (درمختار،كتاب الأضحية ج : ٦ص : ٣٢٣) والخصى أفضل من الفحل لأنه أطيب لحما (فتاوى عالمگيرى، كتاب الأضحية، الباب الخامس ج :٥ص :٢٩٩، أيضا فتاوى بزازية على هامش الهندية، كتاب الأضحية ج : ٦ص : ٢٨٩، طبع رشيدية كوئته)_

[2] لابالعمياء والعوراء والعجفاء المهزولة التى لامخ فى عظامها، والعرجاء التى لا تمشى إلى المنسك أى المذبح، والمريضة البين مرضها، ومقطوع أكثرالأذن أوالذنب أوالعين أىْ التى ذهب أكثرنورها ...الخ (درمختارمع ردالمحتار.كتاب الأضحية ج: ٦ص:٣٢٣.طبع سعيدكراچى، وأيضا فتاوىٰ هندية،كتاب الأضحية ج:٥ص:٢٩٧)

[3] (ولابالهماء) التى لا أسنان لها ويكفى بقاء الأكثر (درمختار، كتاب الأضحية ج : ٦ص : ٣٢٤، طبع ايچ ايم سعيد. أيضا فتاوى هندية، كتاب الأضحية، الباب الخامس ج : ٥ص : ٢٩٨، طبع رشيدية كوئته)_

[4] ولابالهماء ....(والسكاء) التى لاأذن لهاخلقة فلولها أذن صغيرة خلقة أجزأت زيلعى (درمختارعلى هامش الطحطاوى، كتاب الأضحية ج :٤ ص :١٦٥، طبع رشيدية كوئته)_

[5] ولواشتراها سليمة ثم تعيب بعيب مانع كما مرفعليه إقامة غيرها مقامهاإن كان غنياوإن كان فقيرا أجزأه ذالك (الدرالمختارعلى هامش الطحطاوى، كتاب الأضحية ج : ٤ص : ١٦٥طبع رشيدية كوئته)_

[6] وصح الجذع ذوستة أشهرمن الضأن إن كان بحيث لوخلط بالثنايالايمكن التميزبعد، وصح الثنى فصاعدا من الثلا ثة والثنى هو....... وحول من الشاة والمعز، قوله : ذوستة أشهر...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د قرباني د څاروي د عمر حساب به څنګه کيږي؟

سوال: فقه حنفي کې د چيلي او ګډ د قرباني له پاره ديوکال عمر شرط دی. زه دا پوښتنه کوم چې دا به کوم وخته پوري شميرل کيږي؟ ايا دا عمر به د نهمې ذي الحجې مانبامه پورې شميرل کيږي؟ يا د لسمې ذي الحجې د لمر ډوبيدو نه مخکې پورې؟ يا د څناور د قرباني کولو پورې؟ مثلاً د يو چيلي پيدايښ د تيرشوي ذي الحجې لسم تاريخه پورې دی. ايا هغه د ذي الحجې لسم تاريخ باندې وروسته د ماسپښين نه قرباني کړل شي؟

جواب: کوم څاروی چې په تيرشوي کال پيدا شو. که چيرته هغه د قرباني په ورځ پيدا شوی و. نو د هغه د پيدايښ نه يو کال وروسته دهغه قرباني صحيح ده. مثلاً په تيرشوي کال په لسمه ذي الحجې باندې دماسپښين په وخت چې کوم چيلی پيدا شو. دماسپښين نه وروسته دهغه قرباني صحيح ده.[۱]

ايا د پيدايشي عيب لرونکي څاروي قرباني جائزده؟

سوال: ځينې څاروي خرځونکي دې ويلو سره څاروي خرڅوي چې ددې ديښې وغيره چې کوم عيب دی. دادډې پيدايشي، يعنې قدرتي دی اوعيب لرونکي څاروي په قرباني اوعقيقه کې منع کيږي.

جواب: عيب که پيدايشي وي اوداسې عيب وي کوم چې دقرباني نه منع کونکی وي، دهغه څاروي قرباني اوعقيقه صحيح نه ده.[۲]

د بلاربې (حامله) څاروي قرباني

سوال: که چيرته غوا قرباني شوه اوهغه غوا بلاربه وه، خوبلاربه نه ښکاريده، يعنې داسې نه معلوميده چې دابلاربه ده اوکه نه؟ خوکه چيرته قرباني شوه، نودهغې خيټې نه بچې راووت، ايا قرباني وشوه اوکه بيابه يې کول واجب وي؟

...بقيه د تيرمخ]...وذکرا لزعفرانى انه ابن سبعة أشهر زيلعى وهٰذا مذهب الفقهاء أما عند أهل اللغة الجذع من الضأن ماتمت له سنة نهاية ... (قوله والثنى هو ابن خمس الخ تقديرهٰذه الأسنان بماذكريمنع النقصان ولايمنع الزيادة حتى لوضحى بسن أقل من ذالک لايجوز (حاشية الطحطاوى على الدرج : ۴ص : ۱۶۴) وتقديرهٰذه الأسنان بماقلنايمنع النقصان ولايمنع الزيادة حتى لوضحى بأقل من ذالک شيئا لايجوز، ولوضحى بأکثرمن ذالک شيئا يجوزويکون أفضل (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۷، کتاب الأضحية، طبع رشيدية کوئته)ـ

[۱]وصح الثنى هوابن خمس من الإبل وحولين من البقروالجاموس وحول من الشاة (حاشية ردالمحتارج:۶ص :۳۲۲)

[۲] وأما صفتهافهوأن يکون سليما من العيوب الفاحشة (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۲۹۷) وفى الشامية : ولاتجوزمقطوعة إحدى الأذنين بکمالها والتى لها أذن واحدخلقة (ج : ۹ص :۵۳۷طبع رشيدية)ـ

جواب: د بلاربې غوا وغيره قرباني جائزده، په دويم خل د قرباني کولو ضرورت نه شته، بچی که چيرته ژوندی راوځي، نو هغه هم ذبح کول پکار دي او که مړ راوځي، نو د هغه خوړل صحيح نه دي، هغه غورځول پکار دي، په هرحال د بلارب څاروي قرباني کې کراهت نه شته.[1]

که چيرته د قرباني د څاروي ښکرمات شي؟

سوال: يوکس د قرباني له پاره چيلی واخيسته، هغې کې داعيب دی چې د هغې ښی ښکرنيم مات دی، آيا د هغې قرباني صحيح ده؟

جواب: ښکرکه چيرته د بيخ نه ووځي، نو قرباني صحيح نه ده[2] او که چيرته پورتنی خول ترې لرې شي يامات شي خو د دننه ګودا صحيح وي، نو قرباني صحيح ده.[3]

څاروی خصي کول

سوال: د قرباني له پاره چې کوم چيلی ساتل کيږي هغه يوازې په دې نيت سره چې دده پالنه ښه وشي او غوښه يې هم زياته شي خصي کيږي او خصوصا خرڅونکي يې زيات ترخصي کوي ددې له پاره چې قيمت يې لوړ شي، چې يې کله خصي کوي، نو چيلی زياتې چيغې وهي، نو ايا دا په څناور باندې ظلم دی او که نه؟

جواب: د څاروي خصي کول جائز دي،[4] او د هغه قرباني کول هم جائز دي،[5] ترکومه حده پورې چې ممکنه وي کوشش دې وکړل شي چې څناور ته تکليف کم ورسيږي.

ايا خصي څاروی عيب داروي؟

سوال: پيش امام صاحب وايي چې څاروی خصي کول ګناه ده، دا په نسل وژنه کې شامل دي دا څاروی د خپل ژوندپه مقصد کې بې کاره کړل شي، دا يوقسمه عيب شو، انسان يوازې د خپلې مزې له پاره د غوښې ښه کولوله پاره دا طريقه اختيارکړې ده، آيا دا صحيح ده؟

---

[1] ولدت الأضحية ولدا قبل الذبح يذبح الولد معها ... الخ (درمختار ج: ٦ص: ٣٢٢، كتاب الأضحية)_

[2] وإن بلغ الكسرالمشاش لايجزيه، والمشاش رؤس العظام مثل الركبتين والمرفقتين كذا فى البدائع (فتاوى عالمگيرى، كتاب الأضحية، الباب الخامس ج: ٥ص: ٢٩٧) أيضا: فإن بلغ الكسرالمشاش لاتجزيه، والمشاش رؤس العظام مثل الركبتين والمرفقين (بدائع الصنائع، كتاب التضحية، ج: ٥ص: ٧٦)_

[3] ويضحى بالجماء هي التى لاقرن لهاخلقة، وكذا العظماء التى ذهب بعض قرنهابالكسرأوغيره، فإن بلغ الكسرإلى المخ لم يجز (ردالمحتار، كتاب الأضحية ج: ٦ص: ٣٢٣)_

[4] وجازخصاء البهائم (الدرالمختارج: ٦ص: ٣٨٨، كتاب الحظروالإباحة، فصل فى البيع)

[5] ويضحى بالجماء والخصى .... إلخ (الدرالمختارج: ٦ ص: ٣٢٣، كتاب الأضحية)

جواب: ستاسو د امام صاحب خبره غلطه ده، د خصي ځاروي قرباني حضور ﷺ کړې ده، د دې نه د ځاروي د خصي کولو او د هغه د قرباني کولو د دواړو جواز معلومیږي.[1]

د خصي چیلي قرباني کول جائز دي

سوال: د اویل کیږي چې د قرباني ځاروی بې عیبه پکار دی، خودلته عام رواج دادی چې د خصي چیلي قرباني کیږي، آیا د چیلي خصي کیدل عیب نه دی؟

جواب: د چیلي خصي کیدل عیب نه دی، هم دغه وجه ده چې د داسې چیلي قیمت د نورو چیلو په مقابله کې ډیروي، له دې وجې د خصي چیلي قرباني له څه شک پرته جائز ده.[2]

د خصي ځاروي د قرباني علمي بحث

سوال: څه فرمایي مفتیان عظام دې مسئله کې چې لاندیني عبارت کې د حدیث شریف دلیل سره ځاروي خصي کول سختې سره منع ګڼلي دي او تاسو د شامي په حواله باندې د قرباني له پاره خصي ځاروی نه یوازې جائز، بلکې غوره ګڼئ.

ځاروي خصي کول منع دي

عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ نهی عن صبر ذی الروح وعن اخصاء البهائم نهیا شدیداً.

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې رسول الله ﷺ دیو ساه لرونکي شي تړلو سره د غشو نښه جوړولو نه منع فرمایلې ده او حضور ﷺ د ځارویو د خصي کولو نه سختې سره منع فرمایلې ده.

داحدیث شریف بزار روایت کړی دی او د دې ټول روایت کونکي د صحیح مسلم یا صحیح بخاري روایت کونکي دي. (مجمع الزوائد جز۵ صفحه ۲۶۵، د دې حدیث سند دی. نیل الاوطار جز۸ صفحه ۷۳)

مهرباني وکړئ د پورتنۍ شوي صورت حال وضاحت د صحیح سند کولو سره ثواب حاصل کړئ.

---

[1] بالجماء والخصی وعن أبي حنيفة هوأولىٰ، لأن لحمه أطيب وقد صح أنه عليه الصلوٰة والسلام ضحى بكبشين أملحين موجوء ين (بحرج : ۸ ص : ۲۰۰، كتاب الأضحية، طبع درالمعرفة، بيروت)۔

[2] ويصح بالجماء والخصی والتولاء ... الخ (قوله والخصي) عن الإمام أنه أولىٰ لأن لحمه أطيب وقد صح أنه عليه الصلاة والسلام ضحى بكبشين أملحين موجوء ين .... والموجوء المخصی (حاشية الطحطاوی علی الدرالمختار، كتاب الأضحية ج : ۴ص : ۱۶۴ طبع رشيدية)۔

جواب: په ډیرو احادیثو کې راغلي دي چې حضور ﷺ د خصي ګډانو قرباني کړې ده، ددې احادیثو حواله داده.[1]

١ حدیث جابر رضي الله عنه (ابوداؤد، صفحه ٣٠ جلد ٢، مجمع الزوائد صفحه ٢٢، جلد ۴)
٢ حدیث عائشه رضي الله عنها (ابن ماجه صفحه ٢٢٥)
٣ حدیث ابي هریره رضي الله عنه (ابن ماجه)
۴ حدیث ابي رافع رضي الله عنه (مسنداحمد صفحه ٨ جلد ٦ مجمع الزوائد صفحه ١٢ جلد ۴)
۵ حدیث ابي الدرداء رضي الله عنه (مسنداحمد صفحه ١٩٦ جلد ٦)

ددې احادیثو له وجې ټول امامان دې باندې متفق دي چې د خصي څاروي قرباني صحیح ده، حافظ موفق الدین ابن قدامه المقدسي الحنبلي رحمه الله (متوفي ٦٣٠هـ) په المغني کې لیکلي دي: **ویجزی الخصي لان النبی ﷺ ضح بکبشن موجوئین..... ولان الخصاء ذهاب عضو غیر مستطاب یطیب اللحم بذهابه ویکثرویسمن قال الشعبی مازادفی لحمه وشحمه اکثر مما ذهب منه وبهذاقال الحسن وعطاء والشعبی والنخعی ومالک والشافعی وابوثورواصحاب الرای ولانعلم فیه مخالفاً.** (المغنی مع الشرح الکبیر صفحه ١٠٢ جلد ١١)

ترجمه: د خصي څاروي قرباني جائزده، ځکه چې نبي کریم ﷺ د خصي ګډانو قرباني کړې ده او د څاروي خصي کېدو سره ناخوښه اندام ختم سي دهغه له وجې غوښه خوندوره شي او څاروی غټ او صحت مندشي، امام شعبي رحمه الله فرمايي د خصي څاروي چې کوم اندام ختم شي، دهغه له وجې دهغه په غوښه او وازده کې زیاتوالی راشي، امام حسن بصري رضي الله عنه عطاء رحمه الله، شعبي رحمه الله، مالک رحمه الله، شافعي رحمه الله، ابوثور رحمه الله او اصحاب الرایه هم ددې قائل دي او ددې مسئلې باره کې مونږ ته دمخالف معلومات نه شته، چې د حضور ﷺ نه د خصي څاروي قرباني ثابت ده او ددین ټول امامان دې باندې متفق دي، دهیچا اختلاف نه شته، نو معلومه شوه چې د حلال څاروي خصي کول هم جائزدي، سوال کې چې د کوم څارویو باره کې حدیث

---

[1] د جابررضی الله عنه د حدیث الفاظ دا دی: عن جابربن عبد الله رضی الله عنهما قال: ذبح النبی صلی الله علیه وسلم یوم الذبح کبشین أقرنین أملحین موجوء ین فلما وجهما قال: إني وجهت وجهی للذی فطر السماوات والأرض علیٰ ملة إبراهیم حنیفا وما أنا من المشرکین، إن صلا تی ونسکی ومحیای ومماتی لله رب العالمین لاشریک له وبذالک أمرت وأنا أول المسلمین، اللهم منک ولک عن محمد وأمته، بسم الله والله أکبر، ثم ذبح (ابوداؤد، باب مایستحب من الضحایا ج: ٢ص: ٣٠طبع ایچ ایم سعید وکذا فی مجمع الزوائد، باب أضحیة رسول الله صلی الله علیه وسلم ج: ۴ص: ١١، طبع دارالکتب العلمیة، بیروت، وکذا فی ابن ماجة عن أبي هریرة وعن عائشة ص: ٢٢٥طبع میرمحمد کتب خانه، وکذا فی مسندأحمد عن أبی رافع ج: ٨ص: ٦طبع بیروت)_

ذکر شوي دي هغه به هغه څاروي وي د کومو غوښه چې نه خوړل کېږي او کوم چې نه قرباني کېږي د هغو به خصي کولو کې څه فائده نه شته

د قرباني د څاروي بچي کېدو باندې څه وکړو؟

سوال: د قرباني د څاروي د قرباني کولو په وخت که د هغه له خېټې نه ژوندی بچی پیدا شي، نو هغه باندې څه پکار دي؟

جواب: د قرباني د څاروي حلالولو نه مخکې د بچي پیدا شو نه د حلالولو وخت کې ژوندی بچی راووت، نو د هغه حلالول هم پکار دي [۱]

د قرباني څاروی که ورک شي، نو څه کول پکار دي؟

سوال: یو کس د قرباني له پاره چیلی واخیست. خو هغه ورک شو. د اختر په څلورمه ورځ باندې هغه پیدا شو. اوس په هغه څه وکړي؟

جواب: کوم کس باندې چې قرباني واجب وه که چیرته هغه د قرباني څاروی واخیست او بیا هغه ورک شو. یا پټ یا مړ شو. نو واجب دي چې د هغه په ځای باندې بل څاروی قرباني کړي. که چیرته د قرباني کولو نه وروسته څاروی پیدا شي، نو غوره داده چې هغه هم قرباني کړي. خو د هغه قرباني هغه باندې واجب نه ده. که چیرته دغه سړی غریب وي او هغه باندې د مخکې نه قرباني واجب نه وه. نفلي طور باندې هغه د قرباني له پاره څاروی واخیست او هغه مړ یا ورک شو. نو د هغه په ذمه باندې دویمه قرباني کول واجب نه دي او که چیرته ورک شوی څاروی د قرباني په ورځو کې پیدا شي، نو د هغه قرباني کول واجب دي او که چیرته د قرباني د ورځو نه وروسته پیدا شي، نو د هغه غوښه یا قیمت صدقه کول واجب دي (بدائع صفحه ۶۶ جلد ۵) [۲]

---

[۱] وإن ولدت الأضحية ولدا ذبح ولدها مع الأم، وإن باعه تصدق بثمنه لأن الأم تعينت للأضحية، فيتبعها الولد (الفقه الإسلامي وأدلته، كتاب الأضحية، المبحث الخامس ج :٣ ص : ٦٢٥ طبع دار الفكر) أيضا : ولدت الأضحية ولدا قبل الذبح يذبح الولد معها ..... الخ (درمختار ج : ٦ ص : ٣٢٢، كتاب الأضحية)_

[۲] ولو شترى الموسر شاة للأضحية فضلت فاشترى أخرى ليضحي بها ثم وجد الأولى في الوقت فالأفضل أن يضحي بهما فإن ضحى بالأولى أجزأه ولا تلزم التضحية بالأخرى ولا شيء عليه غيرذالک (بدائع الصنائع، كتاب التضحية ج ٥ ص ٦٦، فصل وأما كيفية الوجوب)_

❖ د قرباني شريکان ❖

پوره غوا دوه شريکان هم قرباني کولی شي

سوال: غوا دوه شريکان هم قرباني کولی شي، که پوره اووه شريکان ضروري دي؟

جواب: دوه درې شريکان يې قرباني کولی شي، خوهغوی کې د هريو برخه دبل نه کمه نه ده پکار، يعنې پوره برخې پکار دي، مثلاً ديو درې اوبل څلور ياديو يوه اودبل شپږ.[1]

په شريکه د اخيستل شوې چيلي قرباني کول

سوال: فرض کړئ که څيرته شپږ، اته کسانو په شريکه باندې چيلي واخيست، هغه کې ټول برابرشريک دي. ايام النحر کې ټولو اتفاق سره دغه چيلي دحضور ﷺ له طرف نه قربان کړې، نو ايا داقرباني صحيح ده او که نه؟

جواب: دا صحيح نه ده. که څيرته يو سړی پوره برخه دنبي کريم ﷺ له طرف نه قرباني کړي، نو صحيح ده. ځکه چې دانفلي قرباني حضور ﷺ ته دثواب بښلو له پاره ده. اصل قرباني خود قرباني کونکي له طرف نه ده او ښکاره خبره ده چې د قرباني يوه برخه ديو سړي له طرف نه کېدای شي اوذکرشوي صورت کې يوه برخه د ډېرو کسانو له طرف نه ده.[2]

څاروي حلالېدو نه وروسته د قرباني برخې بدلول جائز نه دي

سوال: تيراخترکې يو څو کسانو په شريکه باندې برخې اخيستو سره دغوا قرباني کول غوښتل. دغه شان برخې اخيستو سره غوا حلاله شوه، دغوا حلالېدو نه وروسته هغو

---

[1] ولايجوزبعيرواحد ولابقرة واحدة عن أكثرمن سبعة، ويجوزذالک عن سبعة أو أقل من ذالک، وهٰذا قول عامة العلماء ...... ولاشک فى جوازبدنة أوبقرة عن أقل من سبعة بأن اشترک إثنان أوثلا ثة أوأربعة أوخمسة أوستة فى بدنة أوبقرة لأنه لماجازالسبع فالزيادة أولى وسواء اتفقت الأنصباء فى القدرأو اختلفت بأن يكون لأحدهم النصف وللاخرالثلث ولاخرالسدس بعد ان لاينقص عن السبع (البدائع الصنائع، كتاب التضحية، فصل وأما محل إقامة الواجب ج :٥ ص : ٧٠، ٧١، طبع ايچ ايم سعيد، أيضا فتاوى عالمگيرى ج : ٥ص : ٣٠٤، كتاب الأضحية، الباب الثامن)_

[2] يجب أن يعلم أن الشاة لا تجزئ إلاعن واحد وإن كانت عظيمة والبقروالبعيريجزئ عن سبعة إذا كانوا يريدون به وجه الله تعالىٰ ... الخ (فتاوى عالمگيرى ج : ٥ص : ٣٠٤) وأما قدره فلا يجوزالشاة والمعزإلاعن واحد وإن كانت عظيمة سمينة تساوى شاتين مما يجوز أن يضحى بهما .... وانه عليه السلام إنما فعل ذالک لأجل الثواب وهو انه جعل ثواب تضحيته بشاة واحدة لأمته لا للأجزاء وسقط التعبد عنهم (البدائع الصنائع ج : ٥ص : ٧٠)_

کسانو کې یو کس (چې دهغه په غواکې یوځوبرخې وې) نوروخلکو (کوموچې مخکې برخه نه وه اخیستې) نه وویل چې زه برخه اخیستل نه غوارم. زماپه ځای باندې تاسوبرخه واخلئ. ایا ذکرشوی کس. کله یې چې دقرباني نیت کړی وي اوټولوپه شریکه باندې غواحلاله کړې وي. بیا وروسته خپله برخه بدلولی شي؟ اودوروسته برخه اخیستونکوقرباني کیدای شي او زمونږ دکلي امام صاحب وایي چې داسې قرباني نه کیږي.

جواب: دځاروي حلالیدونه وروسته برخه نه شي بدلیدای، قرباني صحیح شوه دچاچې یوځوبرخې وي دهغه له طرف نه هغومره برخې قرباني وشوه.[1]

یوه غواکې چې دځوژوندیواومړیوبرخه وي، نود قربانی طریقه څه ده؟

سوال: که چیرته یوې غواکې څلور ژوندي اودریو مړیو له طرف نه قرباني وي، نو ایا داجائزدي؟ اوڅه یې طریقه ده؟

جواب: کولی یې شئ اوهماغه طریقه ده کومه چې داوو کسانو د شریکېدوده.[2]

❖ دقرباني له پاره دعا ❖

د ځاروي حلالووخت کې دعا

بسم الله الله اکبر ﴿إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾﴾[3]

ترجمه: مامتوجه کړخپل مخ دهغه طرف ته چاچې اسمانونه اوځمکې یې پیداکړي دي او زه څوک شریک کونکی نه یم. بې شکه زمالمونځ، زما قرباني اوزمامرګ اوژوند دالله تعالی له پاره دی، چې هغه دټول جهان پالونکی دی.

---

[1] وجه الإستحسان أها تعينت للذبح لتعينها للأضحية حتى وجب عليه أن يضحى ها بعينهل فى أيام النحرويكره أن يبدل ها غيرها (البحرالرائق ج :٨ ص : ٢٠٤، قبيل كتاب الكراهية، طبع دارالفكر)_

[2] يجب أن يعلم ان الشاة لاتجزى إلاعن واحد .... والبقر والبعير يجزئ عن سبعة إذا كانوا يريدون به وجه الله تعالىٰ (فتاوى عالمگيرى ج: ٥ص:٣٠٤،كتاب الأضحية، الباب الثامن،كذا فى البدائع ج:٥ص:٧٠)

[3] مشكوٰة، باب فى الإضحية، الفصل الثانى ص :١٢٨)_

د څاروي د حلالولو وروسته دعا

اللهم تقبله منى كما تقبلت من حبيبك محمد وخليلك ابراهيم عليهما السلام.[1]

ترجمه اې الله دا قرباني زما له طرف نه قبوله كړه. څنګه چې تا قبوله كړې د خپل حبيب حضرت محمد ﷺ او خپل خليل حضرت ابراهيم عليه السلام څخه

د قرباني نه وروسته د دعا ثبوت

سوال: د جمعې ورځې په اشاعت اقرا صفحه باندې تاسو د قرباني كولو د وخت او د قرباني كولو نه وروسته دعا ليكلې وه. خو تا سو دې باره كې هيڅ حواله نه ده وركړې. آيا دا د كوم حديث نه اخيستل شوې ده؟ دا اعتراض ما ته هغه وخت وشو كله چې زموږ د محلې دهلي مسجد المعروف غټې جومات دهلي كالوني كراچۍ خطيب په ډك جومات كې دا خبره وكړه چې ما دا دعا اوسه پورې په يو حديث كې هم نه ده لوستلې او د دې تصديق هغه ديو مولانا صاحب نه وكړ. كوم چې هغه وخت هلته موجود و او همدغه جومات كې امامت هم كوي او درس قرآن او حديث هم وركوي دغه خطيب صاحب هره جمعه باندې ستاسو اقرا صفحه لولي. د دې اندازه ما د دې خبرې نه لګولې ده چې هغه عام طور باندې ستاسو د صفحې حواله وركوي. چې نن جنګ اخبار كې راغلې دې هغوى دې مسئلې باندې تنقيد كولو وخت كې وويل كه چيرته د حديث نه دا مسئله ثابته شي، نوزه به رجوع وكړم. له دې وجې تاسو چې د قرباني نه وروسته چې كومه دعا ليكلې ده. هغه د كوم حديث نه اخيستل شوې ده؟ او د دې اتباع چا چا كړې ده؟

جواب: مشكوة شريف كې باب فى الاضحيه كې د صحيح مسلم په روايت كې د حضرت عائشې رضي الله عنها حديث ذكر دى چې حضور ﷺ د ښكرور د تور رنګ يو ګډ حلال كړ او بيا يې دا دعا وكړه بسم الله اللهم تقبل من محمد وال محمد ومن امة محمد.(صفحه ۱۲۷)[2]

---

[1] مشكوٰة ص : ۱۲۷، طبع قديمى كتب خانه)۔

[2] د مسلم روايت دا دى : عن عروة بن الزبير عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم امر بكبش اقرن يطأ فى سواد، ويبرك فى سواد وينظر فى سواد فاتى به ليضحى به قال لعائشة .... واخذ الكبش فاضجعه ثم ذبحه ثم قال : بسم الله اللهم تقبل من محمد وال محمد ومن امة محمد ثم ضحى به (مسلم، كتاب الأضاحى ج :۲ص : ۱۵۷، طبع قديمى كتب خانه) واما قوله فى الحديث الاخر يطأ فى سواد وينظر فى سواد ويبرك فى سواد فمعناه ان قوائمه وبطنه وماحول عينيه اسود والله اعلم (شرح نووى على مسلم ج :۲ص : ۱۵۷)۔

اوهم دې کتاب کې د احمد، ابوداؤد، ابن ماجه، ترمذي اودارمي په روايت باندې دحضرت جابر رضي الله عنه حديث نقل شوی دی چې حضور ﷺ قرباني کولو وخت کې دا دوه ايتونه ولوستل

﴿ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفًا ۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ او ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ۝ ﴾

اوبيايې دا دعا ولوسته **اللهم منک ولک عن محمد وامته.**

اوبيا يې بسم الله الله اكبر ويلو سره حلاله وكړه[1] اومجمع الزوائد (۲۱\٤) کې ددې مضمون نورهم ډير احاديث ذكر شوي دي، له دې نه پرته، **ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم**، ايت نه هم داخبره واضح كيږي چې دقبليدو دعا كول پخپله هم پكار ده.

د قرباني په ثواب کې نورمسلمانان هم شريکول

سوال: جنګ اخبار کې ،،دقرباني نه وروسته ددعا ثبوت،، عنوان لاندې په جواب کې تاسو د مشكوة شريف دباب فى الاضحية کې د مسلم شريف په روايت باندې دحضرت عائشې رضي الله عنها حديث ذكر كړى دى چې حضور ﷺ يو توررنګى اوښكرور ګډ ذبح كړ اوبيايې دا دعا وكړه

بسم الله اللهم تقبل من محمد وال محمد ومن امة محمد (صفحه ۱۲۷)

له دې حديث نه دا سوال پيداكيږي چې ايا دګډ، چيلى وغيره په شان څاروي قرباني ديو كس نه زيات خلک كولى شي؟ ځكه چې نبي كريم ﷺ په خپله دعا کې دخپل طرف نه، دخپلې كورنۍ له طرف نه اودټول امت له طرف نه دقرباني قبليدل غوښتي دي، ايا هم دې سنت باندې عمل كولو سره مسلمان په خپله قرباني کې دنبي كريم ﷺ نوم مبارک شاملولی شي؟ او حضور ﷺ په خپله قرباني کې دځان سره امت شامل كړى دى.

---

[1] عن جابربن عبد الله رضى الله عنهما قال : ذبح النبى صلى الله عليه وسلم يوم الذبح كبشين اقرنين أملحين موجوء ين فلما وجهها قال : إنى وجهت وجهى للذى فطرالسماوات والأرض علىٰ ملة إبراهيم حنيفا وما أنا من المشركين، إن صلا تى ونسكى ومحياى ومماتى لله رب العالمين لاشريک له وبذالک امرت وأنا أول المسلمين، اللهم منک ولک عن محمد وأمته، بسم الله والله اكبر ثم ذبح رواه احمد وأبوداؤد وابن ماجة والدارمى، وفى رواية لأحمد وأبى داؤد والترمذى : ذبح بيده وقال : بسم الله والله اكبر، اللهم هٰذا عنى وعمن لم يضح من أمتى (مشكوٰة المصابيح، باب فى الأضحية، الفصل الثانى ص : ۱۲۸، طبع قديمى)۔

جواب: د يو چيلى يا ګډ قرباني يوازې د يو کس له طرف نه کېداى شي[1] حضور ﷺ چې کوم ګډ ذبح کړى و. د هغه په ثواب کې يې ټول امت شريک کړى و. د يو ګډ قرباني د خپل طرف نه کولو سره د هغه ثواب د ډيرو خلکو ته بښنل کېداى شي.[2]

❖ د ذبحې کولو او غوښې باره کې مسئلې ❖

د بسم الله نه پرته د ذبحه شوي ځاروي شرعي حکم

سوال: ښارکې چې د مذبح خانې نه کوم ځاروي حلالېدو سره راځي هغو کې ډيرکم ځاروي شرعي طورباندې ذبحه کيږي.که نه. اکثر ځاروي له کلمې او تکبير ويلو پرته څملوي اوچاړه پرې راکش کړي . دا زما دستر ګوليدلى حال دى اودې باره کې تقريبا قصاب هم معذوردى. ځکه چې هغه کې اکثردلمونځ روژې نه ناواقف اود شرعي حکمونونه غافل دى او د شرعي ذبحه کولو پابندي هم نه برداشت کوي

جواب: که چيرته مسلمان نه ذبحه کولو وخت کې بسم الله لوستل هير شي، نوحلاله صحيح ده اوکه څوک قصد سره بسم الله نه لولي. نود هغه ذبيحه حلاله نه ده اوکوم کس ته چې معلومه وي چې دا حلاله حلال نه ده. د هغه له پاره خوراک اوڅښاک يې هم حلال نه دي، په هرحال په متعلقه اداري فرض دي چې هغه شرعي طورباندې حلاله وکړي او د هغه نګراني هم وکړي چې په شرعي طريقه باندې حلال شول اوکه نه...؟[3]

---

[1] فلا تجوز الشاة والمعزإلاعن واحد (فتاوى عالمگيرى ج :۵ص :۲۹۷،كتاب الأضحية، طبع رشيدية كوئته) وأيضا : وأما قدره فلا يجوزالشاة والمعزإلا عن واحد وإن كانت عظيمة سمينة تساوى شاتين مما يجوز أن يضحى بهما (بدائع الصنائع. كتاب التضحية، فصل وأما محل إقامة الواجب ج : ۵ص : ۷۰، طبع ايچ ايم سعيد)_

[2] وأما قدره فلا يجوزالشاة والمعزإلا عن واحد وإن كانت عظيمة سمينة، تساوى شاتين ممايجوز أن يضحى بهما لأن القياس فى الإبل والبقرآن لايجوز فيهما الإشتراک لأن القربة فى هٰذا الباب إراقة الدم وانها لاتحمل التجزأة لأنها ذبح واحد وإنما عرفنا جوازذالک بالخبرفبقى الأمرفى الغنم عليٰ أصل القياس، فإن قيل : أليس انه روى أن رسول الله صلى الله عليه وسلم ضحى بكبشين أملحين أحدهما عن نفسه والاخرعمن لايذبح من أمته فكيف ضحى بشاة واحدة عنٰ أمته عليه السلام؟ (فالجواب) أنه عليه الصلاة والسلام انمافعل ذالک لأجل الثواب وهوأنه جعل ثواب تضحيته بشاة واحدة لأمته لا للأجزاء وسقوط التعبد عنهم (البدائع الصنائع، كتاب التضحية فصل وأما محل إقامة الواجب ج: ۵ص : ۷۰)_

[3] ولنا ماروى عن راشد بن سعد عن النبى عليه الصلاة والسلام أنه قال : ذبيحة المسلم حلال سمي أولم يسم مالم يتعمد (بدائع الصنائع، كتاب الصيد والذبائح ج : ۵ص : ۴۷، فصل وأما بيان شرط حل الأكل...الخ)

مسلمان قصاب به د حلالي کولو وخت کې بسم الله لولي اوکه نه ، دا شک غلط دی

سوال: دا ليدل شوي دي چې قصاب د جمعې لمونځ هم نه اداکوي او غوښه کې مصروف په نظر راځي. قرآن پاک کې دي کوم شي (ځاروي) باندې چې د الله تعالی نوم وانخيستل شي او حلال کړل شي. هغه حرام دی، موږ ته شک دی، چې دا خبره کېدای شي چې د ځاروي حلالو وخت کې تکبيرپړې نه لوستل کيږي. قصاب سره خبره کولو سره هم ويريږو، ځکه چې قصاب ډېر بداخلاقه وي اود غوښې نه پرهيزځنګه کېدای شي؟ دا خوډېرګران کاردی اوموږته دا معلومه هم نه ده چې ايا قصاب مسلمان دی اوکه غيرمسلمان؟ اوکه چېرته موږخپلوان (عزيز) يا ګاونډي (همسايه) کره غوښه خورو. نوموږته معلومات وي اوکه نه دخپلوان (عزيز) نه پوښتنه کول دجنګ ذريعه جوړيدای شي، اول به هغوی ته پخپله هم معلومه نه وي. دا سې صورت کې څه کول پکاردي؟

جواب: حلاله کونکی عام طورباندې مسلمان وي اودهغه باره کې داګمان کول پکاردي چې هغه به دذبحه کولووخت کې تکبير لولي.کومه ويره چې تاسوليکله ده. داعتبارقابل نه ده اوکه چيرته يقيني طور باندې د يو قصاب قصد سره بسم الله نه لوستل معلوم شي، نوبيادهغه دحلالې خوړل نه دي پکار.[1]

په قصاب باندې د قرباني ځاروی ذبحه کول

سوال: زيات خلک د قرباني ځاروي په قصاب باندې ذبحه کوي، هغوی ته په مشکله نه پوره تکبير ورځي اونه دهغوی جامې پاکې صفا وي، هغوی به د قرباني دعاء په مشکله يو ځناور باندې وايي، په دې صورت کې قرباني ادا کيږي اوکه نه؟

جواب: که ذبحه کونکی مسلمان وي او قصدا تکبير نه پريږدي، نو ذبيحه حلاله ده او قرباني هم صحيح ده. [2]

---

[1] وحل ذبيحة مسلم وكتابي لقوله تعالىٰ ....لامجوسي و وثني ومرتد ومحرم وتارك التسمية عمدا يعنى لا يحل ذبيحة هٰؤلاء .... وأما تارك التسمية عمدا فلقوله تعالىٰ : ولاتأكلوا مما لم يذكراسم الله عليه، ولقوله صلى الله عليه وسلم : إذا ارسلت كلبك المعلم وذكرت اسم الله فكل، الحديث .... قيدنا بقولنا'' عمدا'' لأنه لوترك التسمية ناسيايحل أكلها ... الخ (البحرالرائق،كتاب الذبائح ج : ۸ص : ۱۹۱طبع دارالمعرفة بيروت) وأيضا : وفى شرح المجلة : اليقين لايزول بالشك لأن ماثبت بيقين لايزول إلا باليقين (شرح المجلة ص : ۲۰المادة : ۴، طبع مكتبة حبيبيه كوئته)_

[2] عن راشد بن سعد رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم أنه...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د قربانۍ اداب

سوال: د قربانۍ کولو څه اداب دي؟

جواب: د قربانۍ ځاروی یو څو ورځې مخکې نه ساتل افضل دي[۱] د قربانۍ د ځاروي نه پې، شیدې، اخیستل یا یې وینځتان کټ کول جائز نه دي. که چا داسې وکړل، نو پېې یا وینځتات یا د هغو قیمت صدقه کول واجب دي (بدائع)[۲] قربانۍ نه مخکې چاړه ښه تیره کول پکار دي او یو ځاروی د بل ځاروي مخکې مه ذبحه کوئ[۳] او ذبحه کولو نه وروسته د څرمنې ویستو او د غوښې ټکړې کولو کې تندي (بیړه) مه کوئ. ترڅو پورې چې ځاروی یخ شوی نه وي (بدائع)[۴]

د قربانۍ مسنونه طریقه

سوال: د قربانۍ صحیح طریقه څه ده؟

جواب: خپله قربانۍ په خپل لاس باندې ذبح کول غوره دي که پخپله د ذبح کولو طریقه نه ورځي، نو په بل چا باندې یې هم حلالولی شي. خود حلالې وخت کې په خپله باندې

...بقیه د تیرمخ]... قال : ذبیح المسلم حلال سمی أولم یسم مالم یتعمد وهذا نص فی الباب (البدائع، کتاب الذبائح والصیود ج : ۵ص : ۴۷ طبع ایچ ایم سعید)

[۱] فیستحب أن یربط الأضحیة قبل أیام النحر بأیام لمافیها من الإستعداد...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

...بقیه د تیرمخ]... للقربة وإظهارا لرغبة فیها فیکون فیه أجر وثواب (البدائع الصنائع، کتاب التضحیة، فصل وأما بیان مایستحب قبل التضحیة ج :۵ص : ۷۸)_

[۲] ولواشتری شاة للأضحیة فیکره أن یحلبها أویجزصوفها فینتفع به لأنه عینهاللقربة فلا تحل له الإنتفاع بجزء من أجزائها قبل إقامة القربة فیها ..... ولأن الحلب والجز یوجب نقصانا فیها وهوممنوع عن إدخال النقص فی الأضحیة ...... فإن حلب تصدق باللبن لأنه جزء من شاة متعینة للقربة ماأقیمت فیها القربة فکان الواجب هوالتصدق به ......و کذالک الجواب فی الصوف والشعروالوبر .... الخ (البدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع، فصل وأما بیان مایستحب ومایکره ج : ۵ص : ۷۸)_

[۳] عن شداد بن اوس قال : سمعتهامن رسول الله صلی الله علیه وسلم : ان الله کتب الإحسان علیٰ کل شیء، فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة، وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح، ولیحد أحدکم شفرته ولیرح ذبیحته وفی الحاشیة : قوله ولیحد حدکم اه ....ویستحب أن لایحد السکین بحضرة الذبیحة وأن لایذبح واحد بحضرة أخری ولایجرها إلی مذبحها (سنن أبی داؤد ج : ۲ص : ۳۳باب فی الرفق بالذبیحة)_

[۴] وأماالذی یرجع إلی آلة التضحیة ..... وهو أن تکون آلة الذبح حادة من الحدید ....فالمستحب أن یتربص بعد الذبح من جمیع أعضاء ه وتزول الحیاة عن جسده ویکره أن ینخع ویسلخ قبل أن یبرد ... الخ (بدائع الصنائع، کتاب التضحیة، فصل وأما بیان مایستحب قبل التضحیة ......ومایکره ج : ۵ص : ۸۰)_

حاضریدل افضل دي[۱] دقرباني نیت یوازې په زړه کې کول کافي دي. په خولې باندې دویلو ضرورت نه شته او دذبحه کولو په وخت کې بسم الله الله اکبر ویل ضروري دي.[۲]

د قرباني څاروی څنګه څملول پکاردي؟

سوال: دقرباني څاروی حلالووخت کې څنګه څملول پکاردي؟ دڅاروي سر دقطب طرف ته وي اومری بې دکعبې طرف ته یادڅاروی دکعبې طرف ته وي اومری بې دقطب طرف ته. یعنې دذبحه کیدونکي مخ کوم طرف ته وي؟

جواب: دڅاروي مخ دقبلې طرف ته مستحب دی اوکومه طریقه باندې چې ذبحه کولوکې اسانې وي. هیڅ خبره نه شته.[۳]

د څاروي ذبحه کولو په وخت ((الله اکبر)) ویل

سوال: د څاروي ذبحه کولو په وخت تکبیر څنګه وویل شي؟ ایا دا تکبیر صحیح دی: ((بسم الله الله اکبر، الله اکبر)) یایوازې ((بسم الله)) وویل شي؟ هرکرت وویل شي یا هر کرت (الله اکبر) سره (بسم الله) وویل شي؟ ایا د څاروي مخ قبلې طرف ته کول ضروري دي؟

جواب: یوازې یو کرت دې ((بسم الله الله اکبر)) وویل شي، که چیرته یوازې بې ((بسم الله)) شریف وویله. نوبیا هم ذبیحه حلاله ده.خو ((بسم الله الله اکبر)) ویل مستحب دي.[۴] د څاروي مخ قبلې طرف ته کول سنتِ مؤکده دي او بلاعذر ددې پرېښودل مکروه دي.[۵]

کس (چپ) لاس باندې څاروی حلالول د سنت خلاف دي

سوال: ایا کس (چپ) لاس باندې څاروی حلالول جائزدي؟

---

[۱] فالأفضل أن يذبح بنفسه إن قدرعليه .... هٰذا إن كان الرجل يحسن الذبح ويقدرعليه، فأما إذا لم يحسن فتوليته غيره فيه أولى ..... ويستحب أن يحضر (بدائع، كتاب التضحية ج :۵ ص :۷۹)_

[۲] ويكفيه أن ينوى بقلبه ولايشترط أن يقول بلسانه مانوى بقلبه كما فى الصلاة لأن النية عمل القلب والذكر باللسان دليل عليها ... الخ (بدائع الصنائع، كتاب الأضحية، فصل وأما شرائط إقامة الواجب ج : ۵ص : ۷۱)

[۳] ومنها أن يكون الذابح مستقبل القبلة والذبيحة موجهة إلى القبلة (بدائع ج : ۵ص : ۶۰)_

[۴] قال البقالى : المستحب أن يقول بسم الله، الله أكبريعنى بدون الواو ... الخ (فتاوى عالمگيرى، كتاب الذبائح ج : ۵ص : ۲۸۸، الباب الأول)

[۵] وإذا ذبحها بغيرتوجه القبلة حلت ولكن يكره (فتاوى عالمگيرى،كتاب الذبائح ج :۵ص : ۲۸۸)

جواب: جائز دي. خود سنت خلاف دي او که چیرته څه عذر وي. نو بیا به د سنت خلاف هم نه وي [١]

ایا چاړه کې دسته (لاستی) او چاړه کې درې سوري ضروري دي؟

سوال: ځینې خلک وایي چې د ذبحې په وخت کې داضروري ده چې چاړې سره دلرګي لاستی وي. یعنې دسته باید دلرګي وي. یوازې د اوسپنې چړې سره ذبح کول حرام دي. او چړې کې درې سوري هم لازمي دي.

جواب: په چاړه کې د لرګي لاستی او چاړه کې درې سوري څه شرط نه دي. ذبیحه ددې دواړو شرطونو نه پرته هم حلاله ده.

بې لاستي چاړه باندې حلالول

سوال: ایا بې لاستي چاړه باندې حلالول جائزدي؟

جواب: دیوازې اوسپنې یادهرقسمه دهات نه جوړې شوې چاړې باندې حلاله کول جائزدي اودا خیال بالکل غلط دی که چیرته چاړه کې لرګی نه وي، نوحلاله مرداره ده.[٢]

د ماښام نه وروسته څاروی ذبح کول

سوال: د ماښام نه وروسته د څاروي ذبحه کولو له پاره څه احکام دي؟

جواب: که چیرته صحیح ذبحه کېدای شي. یعنې رڼا وي چې د څاروي رګونه په نظر راځي، نو د شپې ذبحه صحیح ده. [٣]

د ښځې حلاله کول حلال دي

سوال: زموږکورکې زموږ مور، نیااودکورنورې ښځې په خپله باندې چرګې وغیره حلالوي. ما کالج کې خپلوملګروته وویل. نو یوڅو وویل چې دښځې دلاس حلاله مکروه

---

[١] الضرورات تبيح المحظورات، أى ان الأشياء الممنوعة تعامل كالأشياء المباحة وقت الضرورة .... الخ (شرح المجلة ج :١ص : ٢٩المادة : ٢١ طبع مكتبه حبيبيه كوئته)_

[٢] ومنها أنه يستحب فى الذبح حالة الإختيارأن يكون ذالک بالة حادة من الحديدكالسكين والسيف ونحوذالک ... الخ (بدائع، كتاب الذبائح والصيود ج : ٥ص : ٦٠، طبع ايچ ايم سعيد)_

[٣] ان المستحب أن يكون الذبح بالنهارويكره بالليل والأصل فيه ماروى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه نهي عن الأضحية ليلا عن الحصاد وهوكراهة تـنـزيه ومعنى الكراهة يحتمل أن يكون لوجوه أحدها ان الليل وقت أمن وسكون وراحة فإيصال الألم فى وقت الراحة يكون أشد، والثانى انه لا يأمن من أن يخطيء فيقطع يده ولهذا كره الحصاد بالليل، والثالث ان العروق المشروطة فى الذبح لا تتبين فى الليل فربما لا يستوفى قطعها (بدائع الصنائع ج : ٥ص : ٦٠)

وي. ځيني وايي چې حرام وي. مهرباني وکړئ او ووايئ چې دخوراک دنيت له پاره دځاروي او مرغو حلالول جائزدي او که نه ناجائز؟

جواب: جائزدي. ستاسو ملګرو مسئله غلطه بيان کړې ده.[1]

د مشين په ذريعه باندې ذبحه شوې غوښه صحيح نه ده

سوال: ايا د مشين په ذريعه باندې ذبحه شوې غوښه حلال ده؟

جواب: مشيني حلالې ته علماوو صحيح نه دي ويلي. له دې وجې دې نه ځان ساتل پکاردي.[2]

سرباندې زخمي کولوسره مشين باندې چرګه حلالول صحيح نه دي

سوال: نن سبا ملک کې په مشين باندې چرګان ذبحه کيږي او بيا د بيوکې پيک (بند) کړل شي اومختلفو علاقوته ليږل کيږي. نوعرض دادی چې زما په خيال باندې دذبحه کولو دا طريقه غيراسلامي ده. ځکه چې اول هغوی په سرباندې زخمي کولوسره بې هوشه کړل شي اوبيا يې ذبحه کړي. ايا داطريقه صحيح ده اوداغوښه حلاله ده که حرام؟ ځکه چې مادلندن نه چاپ شوي يوکتاب کې ددې باره کې لوستلي و. مخکې لندن کې هم داطريقه وه. خودمسلمانانو او يهوديانو په وينا باندې داطريقه ختمه شوه اواوس چرګې ژوندئ حلالوي.

جواب: دذبحه کولوداطريقه غلطه ده[3]. که چيرته په سرباندې زخمي کولو سره دچرګې په حلالولوکې څه راحت وي اوداطريقه دالله تعالى په نزدباندې خوښه وای. نوحضورﷺ به پخپله باندې ددې تعليم فرمايلی و. کوموخلکوچې داطريقه ايجادکړې ده. هغوی ځان د حضورﷺ نه زيات ذهين اوعقل مند ثابتوي. که پاکستان يابل مسلمان ملک کې داطريقه وي. نوسمدستي يې بندول پکاردي.

---

[1] وحل ذبيحة مسلم وكتابي وصبي وإمرأة (البحرالرائق، كتاب الذبائح ج :٨ص :١٦٨) أيضا : فتحل ذبيحتها(أى الكتابي والذمى والحربي) ولوالذابح مجنونا أو امرأة أوصبيا يعقل التسمية والذبح ويقدر (درمختار، كتاب الذبائح ج : ۶ص: ۲۹۷) عن ابن كعب بن مالك عن أبيه أن إمرأة ذبحت شاة بحجر. فسئل النبى صلى الله عليه وسلم عن ذالك فأمربأكلها (صحيح البخارى، كتاب الذبائح، باب ذبيحة الأمة والمرأة ج :۲ص : ۸۲۷)_

[2] د تفصيل دپاره اوګورئ : فتاوى بينات، كتاب الذبائح والأضحية ج : ۴ص : ۲۹۱تا ۵۴۵ طبع مكتبه بينات، فتاوى محمودية، باب الذبائح ج : ۱۷ص : ۲۳۲)_

[3] قال الله تعالىٰ : " حرمت عليكم الميتة والدم...... والمنخنقة والموقوذة والمتردية " ... الاية (المائدة : ۳)

د قادیانیانو ذبیحه او نورشیان خوړل

سوال: قادیاني خلک قرباني کوي، نو دهغوی د قرباني غوښه دیو مسلمان کور ته راشي، نو اخیستو سره یې وغورځوي یا یې واپس کړي؟ دیو مسلمان ګاونډي قادیاني دی، دهغه د کور نه کله کله د څوراک شیان راځي، نو دهغه شیانو سره څه وکړو؟ واپس یې کړو یا اخیستو سره یې وغورځو؟

جواب: قادیانیانو سره هیڅ تعلق پکار نه دی او د شیانو لین دین هم یو قسم تعلق دی،[۱] د قادیاني ذبیحه مرداره ده. دهغې خوړل حلال نه دي، ددې له وجې چې دی مرتد اوزندیق دی.[۲]

د غیرمسلم ملک نه راغوښتل شوې غوښه حلاله نه ده

سوال: دلته دغوښې یادچرګودغوښې پیکونه پیداکیږي. کوم چې دیورپ (اروپایي) یا نورو ملکونوکوم چې عام طور(مسلمان ملک نه وي) معلومه نه ده چې هغوی به حلاله څنګه کړې وي، ذبحه کولوباندې به تکبیر ویلی وي اوکه نه، ایا داسې غوښه موږمسلمانان استعمالولی شو اوکه نه؟

جواب: دکومې غوښې باره کې اطمینان نه وي چې دابه حلاله طریقه باندې ذبحه شوې وي، نو دهغې نه پرهیزکول پکاردي، دیورپ اوغیراسلامي ملکونونه راغوښتل شوې غوښه حلاله نه ده.[۳]

که چیرته د مسلمانانو د عقیدې مطابق غوښه تیاره نه شي، نو خوړل یې جائز نه دي

سوال: جازونوکې دغوا اوچیلي غوښه دغیرمسلموپه لاسونوباندې کټ کیږي، ایا دهغې خوړل جائزدي؟ دمسلمان نه دپرته دبل چا دلاس حلاله جائزده؟ ددې شرطونه څه دي؟

جواب: دمسلمان یاصحیح او واقعي اهل کتاب دلاس ذبحه شوې غوښه خوړل جائزدي، په دې شرط باندې چې هغه صحیح طریقې سره بسم الله لوستلوسره ذبحه کړې وي، دنورو غیر

---

[۱] "یٰایها الذین امنوا لاتتخذوا عدوی وعدوکم اولیاء" ..... الایة (الممتحنة : ۱)

[۲] فلا توکل ذبیحة أهل الشرک والمجوسی والوثنی وذبیحة المرتد (بدائع الصنائع ج : ۵ص : ۴۵، فصل وأما بیان شرط حل الاکل فی الحیوان، طبع سعید)

[۳] ومن شرائط الزکاة أن یکون الذابح مسلما أوکتابیا فلا تؤکل ذبیحة أهل الشرک والمجوسی والوثنی وذبیحة المرتد (البدائع الصنائع،کتاب الذبائح ج : ۵ص : ۴۵) أیضا : وفی البحرمن اشتری لحما، فعلم أنه مجوسی وأرادالرد، فقال : ذبحه مسلم یکره أکله (ردالمحتار، کتاب الحظروالإباحة ج : ۶ص : ۳۴۴).

مسلمو د لاس کټ شوې غوښه حلاله نه ده[1] د غیرمسلم کمپنیو په جازونو (طیارو) کې که چیرته غوښه د مسلمانانو د عقیدې مطابق نه ورکول کیږي. نو د هغې خوراک جائزنه دی.[2]

سعودي عرب کې د خرڅیدونکې غوښې استعمال

سوال: سعودي عرب کې چې کومه غوښه خرڅیږي. خاص طور باندې د حج په ورځو کې. هغه څو قسمونه وي

۱ د بهرملکونونه چې کومه غوښه راځي هغو باندې خودیوټیپ ریکارډرپه ذریعه باندې بسم الله لوستلو سره ذبحه کیږي.

۲ چاړه باندې بسم الله لیکل شوې وي او ذبحه کوي.

۳ د هغه ځای اهل کتاب یې ذبحه کوي. اګرچې د اهل کتاب ذبحه کول جائزدي، خو د نن سبا مسلمانان یوازې د نوم مسلمانان دي. الاماشاء الله. نو اهل کتاب به په لومړۍ درجه کې یوازې د نوم اهل کتاب وي. اوس به سلو کې یو کس هم په مشکله باندې پیدا کیږي چې هغه به صحیح اهل کتاب وي. په هرحال دا صحیح خبره ده چې دغه خلک (اهل کتاب) په خپل دین باندې نه دي. نو ایا دې حالت کې د هغوی ذبحه شوی څاروی او د هغو ښځو سره نکاح د مسلمان له پاره جائزدي؟ دا خو د بهرنه د راتلونکې غوښې تفصیل دی.

د سعودي عرب په ملک کې یعنې مکه مکرمه او مدینه منوره کې یوه چرګه ذبحه کولو سره دیخولونه پرته په ګرمو اوبو یا مشین کې واچول شي چې د هغه نه بڼکې وغیره ووځي. څرمن ترې نه هغه خلک نه باسي. دویم صورت کې منی کې مذبح خانې لیدل شوي دي چې د څارویو حلالو سره چې یخ نه وي.اکثرخویې رګونه هم صحیح نه وي کټ شوي او دویم څاروي حلالو سره هغې باندې وغورځول شي. آیا د داسې ذبحه کولو اجازه زموږ شریعت ورکوي او که نه؟ تفصیل سره جواب راکړئ، دا هم بیان کړئ چې ایا بیان شوی ټول صورت حال په عربو کې جائزدی؟

جواب: که چیرته د غوښې باره کې پوره اطمینان نه وي چې ایا دا په شرعي طریقه باندې ذبحه شوې. نو د احتیاط له پاره د هغې خوړل صحیح نه دي.[3]

---

[1] [وأما شرائط ركن الذكاة فأنواع .... ومنها أن يكون مسلما أوكتابيا فلا تؤكل ذبيح أهل الشرک والمجوسي والوثنى .... وتؤكل ذبيحة أهل الكتاب لقوله تعالىٰ : وطعام الذين أوتوا الكتٰب حل لكم " والمراد منه ذبائحهم ...... ومنها التسمية حالة الذكرعندنا .....ولنا قوله عزوجل : "ولا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه وإنه لفسق " ...الخ (البدائع الصنائع،كتاب الذبائح والصيودج: ۵ص :۴۵، ۴۶، طبع سعيد)

[2] [اوګورئ: فتاوى بينات ج: ۴ص :۲۹۱ تا ۵۴۵)_

[3] [أن يجد شاة مذبوحة فى بلد فيهامسلمون ومجوس، فلا تحل حتى يعلم...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

سوال: دا به څنګه معلومیږي چې دې هوټل کې غیرشرعي غوښه خرڅیږي، نن سعودی عرب کې زما ځلو ښت ورځې وشوې. زما یقین دی چې لس کم سل فیصده هوټلونوکې هم دغه غوښه خرڅیږي. څکه چې دخلکو دریاتوالي له وجې دوی له پاره مشکل دي چې چیلی وغیره حلاله کړي له دې وجې دغه خلک د بهر غوښه استعمالوي، ځینې خلک خوحقیقت بیان کړي. پوښتنه دا کول غواړم چې ایا ددې ټول صورت حال باوجود دمسلمان ګواهي به معتبرموي او که نه. کله چې حقیقت دتجربې په ذریعه باندې معلوم شوی وي.

جواب: که یودین دارمسلمان ووایي چې داغوښه حلاله ده. نودهغه ګواهي به معتبره وي[۱]

ایا مسلمان په غیرمسلم ملک کې حرامه غوښه استعمالولی شي؟

سوال: زه امریکه کې تعلیم حاصلوم. دلته ډیرو ملکونو طالبان دي، کله چې هغوی دکوشش کولو باوجود حلاله غوښه پیدا نه شي، نود ستور نه داسې غوښه واخلي، کومه چې اسلامي طریقه باندې نه وي ذبحه شوي، نوو وایئ چې مونږ څه وکړو؟

جواب: پوښتنل شوې مسئله کې دټولونه مخکې یوڅو اصولو باندې ځان پوه کړئ. دهغه نه وروسته به ان شاء الله په پورته ذکرشوې مسئلې باندې پوهیدو کې څه تکلیف نه وي:

۱: حلال خوړل ضروري دي اوفرض دي، حلال پریښودل او حرام اختیارول، د شرعي ضرورت نه پرته ناجائزاو حرام دي.[۲]

۲: ترڅوپورې چې حلال شی پیدا کیږي د حرام شی استعمال ناجائزدی.

۳: غوښه خوندوره او خوښه غذا ده. که چیرته حلاله پیدا شي، نو بهترده. خو که حلاله پیدا نه شي، نو د حرام استعمال صحیح نه دی.

۴: دچا دخوښې له وجې د حرام شي استعمال حلال کیدای نه شي.[۳]

...بقیه د تیرمخ]... أنها مذكاة مسلم، لأنها أصلها حرام، وشككنا في الذكاة المبيحة، فلوكان الغالب فيها المسلمون جاز الأكل عملا بالغالب المفيد للطهورية (شرح الحموى على الأشباه والنظائر، القاعدة الثالثة : اليقين لايزول بالشك ج :۱ص: ۱۸۳ طبع إدارة القران والعلوم الإسلامية)

[۱] إن خبرالواحد يوجب العمل (البحرالرائق، باب شروط الصلاة ج :۱ص : ۳۰۵) أيضا : ثم اعلم أن الشك على الثلاثة أضرب ......فالأول : مثل أن يجد شاة مذبوحة في بلد...... فلوكان الغالب فيهاالمسلمون جازالأكل عملا بالغالب المفيدة للطهورية (شرح الحموى على الأشباه، القاعدة الثالثة ج : ۱ص : ۱۸۳ طبع إدارة القران)۔

[۲] "يايهاالذين أمنوا كلوا من طيبٰت ما رزقنكم " الاية "انماحرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزيروماأهل به لغيرالله " (البقرة : ۱۷۳)۔

[۳] عن سلمان ....قال عليه السلام : الحلال ماأحل الله في كتابه والحرام...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

۵ دحرامو شیانو استعمال هغه وخت کې جائزدی کله چې حلال نه پیداکیږي، دځان بچ کولو له پاره چې حلال شی موجودنه وي. دې ته شرعي اضطرار ویل کیږي.[۱]

۶ دشرعي اضطرار په موقع باندې یوازې دځان بچ کولودحدپورې د حرام شي استعمال صحیح دی. دمزې اخیستویامړه خیټه باندې خوړل صحیح نه دي.[۲]

۷ غیرمسلموکې یهوداونصارا کوم چې خپل خپل کتاب مني اود الله تعالی په نوم باندې ځروي ذبحه کوي دهغوی ذبحه شوې دمسلمانانوله پاره حلال اوجائزده.خو مجوس اودهریه اوکوم یهود اونصارا چې خپل خپل کتابونه نه مني اودالله تعالی په نوم باندې ذبحه نه کوي. دهغوی ذبحه شوې دمسلمانانوله پاره جائزنه ده[۳]یوازې دخوښې له وجې حرامه غوښه خوړل نه حلالیږي.

دحرامې غوښې په ځای باندې تاسوکب (ماهي)،هګۍ، پې (شیدې). ماسته او داسې نور... ډیر استعمالولی شئ. کله چې درته حلاله غوښه پیداشي. نوهغه ډیرمقدارکې ځان سره ذخیره کړئ. یا یوڅومسلمان په یوځای باندې دښارپه مذبح خانوکې چرګې وغیره ذبح کړئ.

هوټلونوکې د چرګانوغوښې

سوال: دعمرې یاحج له پاره سعودي عرب ته تګ وي. نودقیام په دوران کې غوښه او خاصکر د چرګانوغوښه استعمالیږي؟ هلته کوم چرګان چې راځي. نوهغه دنورو ملکونونه راځي. عام خلک خو ددې خیال نه ساتي اوهغوی یې استعمالوي. هرکله چې دین دارطبقه اوخاصکرتبلیغي حضرات خوبالکل ددې غوښې نه ځانونه ساتي، په هوټلونوکې په ترکاري او روسټ کې هم چرګان استعمالیږي چې دبهرنه راوړل شوي وي، ځکه چې ارزانې هم وي اوپه ظاهره ښه هم. اوس سوال دادی چې موږ دغه روسټ چرګان یاچرګانوواله ترکاري استعمال کړو اوکه نه؟ سعودي حکومت دا وایي چې چرګان راغوښتل کیږي هغوی وایي

...بقیه د تیرمخ]... ماحرم الله فی کتابه، وماسکت عنه فهو عفوعنه (مشکوٰة، کتاب الأطعمه، ص: ۳۶۷)_

[۱] " فمن اضطرغیرباغ ولاعاد فلا اثم علیه" (البقرة : ۱۷۳) الضرورات تبیح المحظورات، ومن ثم جاز أکل المیتة عند المخمصة وإساغة اللقمة بالخمر.......ما أبیح للضرورة یتقدربقدرها ...... ومن فروعه المضطرلایأکل من المیتة إلاقدر سد الرمق (الأشباه والنظائر، القاعدة الخامسة ج :۱ص :۱۱۸، ۱۱۹، طبع إدارة القران)_

[۲] " فمن اضطرفی مخمصة غیرمتجانف لإثم فإن الله غفور رحیم " (المائدة : ۳)_

[۳] منها(أی ومن شرائط الذکاة) أن یکون مسلما أوکتابیا فلا تؤکل ذبیحة مجوسی وأهل الشرک والوثنی وذبیحة المرتد .... وتؤکل ذبیحة أهل الکتاب لقوله تعالیٰ : " وطعام الذین أوتوا الکتاب حل لکم " والمراد منه ذبائحهم (بدائع الصنائع،کتاب الذبائح والصیود ج : ۵ص : ۴۵ طبع ایچ ایم سعید)_

چې ذبیحه حلال ده. دویم طرف ته دین دار طبقه او خاصکر تبلیغي حضرات په دې باندې هیڅ قسمه اعتبار نه کوي، ستاسو نه په دې باره کې دا معلومول وي چې ستاسو څه فتوا ده؟

جواب: د بهر ملکونو نه چې کوم چرګان راځي اول خو د هغوی په باره کې دا هم معلوم نه دي چې هغه به په صحیح طریقې سره ذبحه شوې هم وي او که نه؟ د دې نه پرته د چرګانو حلالولو والا اصول دا دي چې ځنګه چرګ ذبحه کړي، نو هغه په تودو اوبو کې غوپه کړي، چې د هغه نه وزرې وغیره په اسانۍ سره ووځي او تمام ګند د هغې د ننه موجود وي چې هغې سره هغه چرګ ناپاک شي او د دې خوراک حلال نه دی[1] ترڅو پورې چې ماته معلومه ده په سعودي عرب کې او خاصکر د حج په موقعه باندې په هوټلونو کې چې کوم چرګان روسټ کیږي هغه هم دا قسمه ناپاکه چرګان وي. نو ځکه د دې خوړل حلال نه دي

د اسټریلیا نه د راوړل شویو ګډانو غوښه استعمالول

سوال: د یو اخباري اطلاع مطابق پاکستان ته د دیرشتو زرو ګډانو یو سمندري بیړۍ رالیږلو سره د پاکستان مسلمانانو باندې ذبحه کولو سره وخوړل شوه. دا ګډان د اسټریلیا نه رالیږل شوي وو. چې د هغو دویمه بیړۍ عنقریب کراچۍ ته رارسیدونکې ده. د هغې په خریداري باندې ۱ء۵ ملین ډالر خرچه راغله. دا هغه ګډان دي چې د استعمال قابل نه دي پاتې شوي. له دې وجې د طبي ماهرانو مطابق د داسې ګډانو غوښه د صحت له پاره نقصاني وي. دا ګډان د اتلسو میاشتو نه دوو کلنو پورې دي او د اسټریلیا د وړیو دکاروبار لاندې استعمال شوي دي. په اسټریلیا کې د قانون مطابق تاکلي وخت نه وروسته داسې ګډان هلا کیږي. د نقصان نه د بچ کېدو له پاره په مشورې سره د دواړو لوړیو تاجرانو دیادو ځارویو اسلامي ملکونو ته د راوار بدولو بندوبست وکړ. دا ناقابل استعمال ګډان پاکستان ته یوازې د مالي فائدې له پاره راولیږل شو، واضحه دې وي چې د پاګلو غواګانو (برطانیه) د غوښې په شان د دې ناروغو ګډانو غوښه خوړلو سره هم انسان ذهني مرضونو او پاګل توب کې مبتلا کیږي. د رالیږل شویو ګډانو کار یوازې د مسلمانانو د غفلت. د یهود او نصاراوو په ذریعې سره وشو. د دې ټول تمهید د توجه وړ امر دا دی چې یاد درآمده شده ګډان د سور pig-swine خنزیر د تخم نه حامله Cross Breeding کیږي، دې له پاره چې د ځوربوالي د مخصوص جنین په یوځای والي سره زیات نه زیات ځرب نسل حاصل کړل شي، یاده دې وي چې اهل مغرب د سور په تخم کرلو سره غوا، چیلۍ او اوښې ل هم د (ټیسټ

---

[1] [ولو القيت دجاجة حالة الغليان في الماء قبل أن يشق بطنها لتنتف أو كرش قبل الغسل لايطهر أبدا....... وهو معلل بتشربها النجاسة المتخللة في اللحم بواسطة الغليان (فتح القدير ج :۱ ص:۱۴۶، باب الأنجاس، طبع دار صادر بيروت)

ټیوب)) د پروسیس په ذریعي لیبارټري کې د جدید سائنسي طریقې لاندې دبلاربولو عمل قرار موندلو باندي د ښه نسل یاد څناور حاصلوي. په همدې ضمن کې جواب راکړئ چې رالیږل شوي ګډان او نور متذکره څناورو مسلمان خوړلی شي؟ ایا دا مسلمانانو ته د حرام خوړلو باعث نه دی؟ او ایا د پاګل ګډانو خوراک جائز دی؟ واضحه دې وي پاګله غوا یا پاګل ګډ سائنسي اصلاح ده. ظاهرا دا څناور صحت مند په نظر راځي

جواب: دلته دوه مسئلې دي. یوداچې که چیرته حلال څناور ناروغ وي او دهغه غوښه د صحت له پاره ضرري وي. نودهغه غوښه خوړل اګرچې حلاله ده مګرطبي نقطه نظرسره ممنوع ده.[۱] دویمه مسئله داده چې کوم څناور د حلال او حرام څناورو د یوځای والي نه پیدا شو. هغه دخپل مور تابع دی، که چیرته دهغه مور حلاله ده. نودی هم حلال دی او که چیرته مور حرامه ده. نو دی هم حرام دی[۲]، خوبیا هم د داسې څناورو خوړل د کراهت نه خالي نه دي. په دې سره معلومه شوه چې ددغه مشکوک ګډانو رالیږل ممنوع دي. حکومت باندې فرض دي چې د هغو په رالیږلو باندې پابندی ولګوي.

د اسټریلیا نه د رالیږل شوې غوښې استعمال

سوال: ستاسو توجه د((جنګ)) اخبار (۱۴ جولائی ۱۹۹۵ء)تاریخ ، صفحه: ۱۰ کالم: ۱، باندې شائع شوي خبر ((د اسټریلیا نه رالیږل شوې غوښه د یوټیلیټي سټور په ذریعې به ویشل کیږي.)) په عنوان سره را اړوم. د اسټریلیا نه رالیږل شوې غوښې ته د کولډ اسټوریج (یخو فریجونو) سهولت نه کېدو له وجه نه عامو خلکو ته رسیدو کې تکلیف سره مخ دي.. په دې سلسله کې د اسټریلیا ټریډ کمشنر دصورت حال وضاحت کولوسره وویل چې مستقبل کې چې کله اکثرو قصابانو سره د ریفریجریشن سهولت پیدا شي. نو بیا به دا غوښه عوامو ته هم په اسانتیا سره ملاویږي. هغوی وویل چې د اسټریلیا نه حاصلیدونکې دا غوښه به په موزون قیمت باندې ملاویږي. د اسلام اباد په عوامي مرکز کې به د اسټریلین غوښې سهولت پیدا شي او زرترزره به په ملک کې قائم یوټیلیټي سټورونو کې هم دا غوښه ملاویږي.

د پورتني خبر په حوالې سره پوښتنه داده چې ایا مسلمان دخپل خوراک څښاک د شیانو د معیار تعین د غیرمسلم په حواله کولی شي؟ غیرمسلم قادیاني بالخصوص. نور غیرمسلم قومونه هم هرکله چې مسلمان ذهني طور باندې خپل طرف ته اماده کولو باندې ناکامه شي. نو هغوی ته پخپلو لاسونو سره ذبحه شوې غوښه خوړل شروع کړي او په دې طریقه د مسلمان

[۱]الضرورة یدفع بقدرالإمكان (شرح المجلة المادة : ۳۱ص : ۳۲، طبع حبیبیه کوئته)
[۲]التابع تابع .....التابع لایفرد بالحکم (شرح المجلة المادة :۴۷/۴۸ص : ۳۹، طبع حبیبیه کوئته)

زړه رو رو تورکیدل شروع شي او د هغه زړه او دماغ. د حرامو او حلالو تمیز هیر کړي او بیا کفر طرف ته مایل شي.

جواب: خط خو مې ستا شائع کړ او په هغې باندې ستا بلیغه تبصره هم، زمونږ دلته مذهبي تنظیمونو او سیاسي جماعتونو ته. د حکومت د دې اقدام په خلاف پوره احتجاج کول پکار دي چې حکومت د غیرمسلم ملکونو بیکاره شوې مرداره غوښه مسلمانانو باندې د خوړلو نه منع شي او زه مسلمانانو ته هم درخواست کوم چې د دې باسي غوښې د استعمال نه ډډه وکړي او د هغې مکمل بائیکاټ وکړي.

بحري جاز کې د عیسایي د لاس د ذبح شوي څناور غوښه خوړل

سوال: مسئله داده چې زما ماما په بهرملک کې یو بحري جاز کې ملازم دی، چې اکثر یورپي ملکونو کې سفر کوي، الحمدلله دلونځ او روژې پابند دی او د سفر په دوران کې هم پابندي کوي. لهذا مسئله داده چې اکثروختونو کې د یورپي ممالکو سفر کوي او کله دوه میاشتې او کله یوه نیمه میاشت سفر کوي. سفر زیات تر جنوبي امریکا، روس، استریلیا. جاپان کې وي. ماما مې وایي چې د سفر په دوران کې چې مونږ ته کوم خوراک ملاویږي، هغه اکثرغوښه وي، چې څوک پخوي هغه اشپز عیساي دی او څاروي هم هغه خلک ذبحه کوي. لهذا مونږه یې هم خورو. مونږ هغوی ته وایو چې مونږ دا خوراک نه کوو، نو هغوی وایي مه خورئ. مونږ هغوی ته وایو چې سبزیانې پخوئ. هغوی دا دلیل ورکوي چې سفر زیاته موده وي. لهذا سبزیانې خرابیږي. حالانکې غوښه په فریج کې محفوظ کیدلی شي. لهذا مونږ دې خوراک خوړلو باندې مجبوره یو. حالانکې د هغې متبادله بله لاره هم نه شته. ځینې پاکستاني دوستان وایي چې نوکري پریږدئ، نوکري پریښودلو سره زه څه وکړم؟ حالانکې زمونږ په ملک کې نوکري په اسانتیا سره نه ملاویږي. او که چیرته د یو ښه نوکري له پاره درخواست ورکړي، نوپرته د رشوت نه نوکري نه ملاویږي، لهذا تاسو زما مجبوري پیش نظر ساتلو سره د قران او سنتو په رڼا کې ما په جواب سره مطمئن کړئ!

جواب: که چیرته عیسایي ((بسم الله الله اکبر)) ویلو سره څاروی ذبحه کړي، نو د هغه څاروي خوزل حلال دي.[1]

---

[1] ومنها أن يكون مسلما أو كتابيا... ثم انما تؤكل ذبيحة الكتابي إذا لم يشهد ذبحه ولم يسمع منه شيء أو شهد وسمع منه تسمية الله تعالىٰ وحده (فتاوى عالمگيرى ج: ۵ص: ۲۸۵، كتاب الذبائح، طبع رشيدية كوئته)

د بازاري غوښې د کباب استعمالول

سوال: بازار کې سيخ کې چې کوم کباب خرڅيږي، نو دا خلک هغه غوښه نه وينځي او قيمه نرۍ کولو له وجې نه وينځل هم مشکل وي. يعني کباب سره زموږه خېټو کې وينه هم ځي.

جواب: دا هم حلال دي [۱]

❖ د قرباني غوښه ❖

د قرباني د غوښې تقسيم

سوال: دقرباني دغوښې تقسيم څنګه پکاردی؟

جواب: کومې غوښې کې چې ډيرشريکان وي. نوغوښه وزن سره تقسيمول پکاردي[۲] اندازه باندې يې مه تقسيموئ، غوره داده چې دقرباني غوښه درې برخې کولوسره يوه برخه خپل کور والا له پاره، يوه برخه دخپلوانو (عزيزانو) او دوستانوله پاره، اويوه بذخه په غريبانو او مسکينانو کې تقسيم کړئ، اودکوم کس کوروالاچې زيات وي، هغوی ټوله غوښه هم ځان ته ساتلی شي[۳]. دقرباني غوښه خرڅول حرام دي[۴]، ذبح کونکي ته اجرت کې غوښه ياڅرمن ورکول جائزنه دي. اجرت ورته جدا ورکول پکاردي.[۵]

---

[۱]" قل لا اجد فى ما اوحى الى محرما على طاعم يطعمه الا ان يكون ميتة اودما مسفوحا" الاية (الانعام: ۱۴۵)

[۲]ويقسم اللحم بالوزن لأنه موزون وإذا قسموا جزافا لايجوز (البحرالرائق ج : ۸ ص : ۱۹۸، كتاب الأضحية، طبع دارالمعرفة، فتاوى شامى ج : ۶ص : ۳۱۷، كتاب الأضحية،طبع سعيد)_

[۳]ويستحب أن يأكل من أضحيته ويطعم منها غيره، والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لأقاربه، و أصدقائه ويدخرالثلث، ويطعم الغنى والفقيرجميعا كذا فى البدائع ...... ولوحبس الكل لنفسه جاز، وله أن يدخرالكل لنفسه فوق ثلا ثة أيام، إلا أن إطعامها والتصدق بها أفضل، إلا أن يكون الرجل ذاعيال غيرموسع الحال فإن الأفضل له حينئذ ان يدعه لعياله ويوسع عليهم به كذا فى البدايع (الفتاوى العالمگيريه، كتاب الأضحية ج : ۵ص : ۳۰۰ طبع رشيدية كوئته، وأيضا الشامية ج : ۶ص :۳۲۷، كتاب الأضحية، والبحر ج : ۸ص : ۲۰۳، طبع دارالمعرفة)

[۴]ولايحل بيع شحمها وأطرافها و رأسها وصوفها و وبرها وشعرها ولبنها ...الخ (عالمگيرية ج :۵ص ۳۰۱طبع بلوچستان بک دپو) وقوله عليه السلام : من باع أضحية فلاأضحية له، يفيدكراهة البيع (البحرالرائق،كتاب الأضحية ج :۸ ص : ۳۲۷)_

[۵] ولايعطى أجرة الجزارمنها شيئا والنهى عنه نهى عن البيع لأنه فى معنى البيع ....الخ (البحرالرائق،ج :۸ ص : ۲۰۳كتاب الأضحية، طبع دارالمعرفة، الفتاوى الشامية ج : ۶ص : ۳۲۸، كتاب الأضحية)_

د قرباني د چيلي ورنونه کورکې پريښودل

سوال: دقرباني له پاره حکم دادی چې څاروی صحت منداونښائسته وي، اوذبح کولونه پس هغه درې برابرو برخو باندې تقسيم کړل شي .خو اوس خلک دقرباني دچيلي نه پتونونه (ورون) وغيره مکمل کور کې پريږدي اوبيايې هوټلونووغيره کې وريت کولونه پس کورته يوسي،يلکې داهم ليدل شوي دي چې - چيلی دواړه پتونونه دملاسره کور کښې کيښودل کيږي. دې مسئلې باندې دحديث اوشريعت په نزدباندې رڼا واچوئ.چې قرباني کونکوته صحيح معلومات ورکړئ؟

جواب: غوره داده چې دقرباني غوښې درې برخې کړل شي: يوه دغريبانو له پاره، يود خپلوانو (عزيزانو) او دوستانوله پاره.اويوه دکورله پاره، خو که چيرې ټوله تقسيم کړل شي ياکورکې پريښودل شي. نوڅه خبره نه ده[1].دې شرط سره چې قرباني صحيح نيت سره وي.يوازې دغوښې خوړلو ياخلکوکې دښه ښکاريدلوله پاره ئې قرباني نه وي کړې[2]

د قرباني غوښه په واده کې خلکوباندې خوړل

سوال: زموږ محله کې يوسړي دغواقرباني په دريمه ورځ وکړه،او په څلورمه ورځ باندې يې دخپلې لورواده وکړ،اودقرباني دنيمې نه زياته غوښه يې دواده په دعوت کې خلکوباندې وخوړله. آيا دهغوی قرباني وشوه؟

جواب: که چيرې قرباني يې صحيح نيت سره کړې وي، نوان شاء الله ضروربه قبوله شوې وي اود قرباني غوښه دکورپه ضرورت کې استعمالول جائزدي،که څه هم غوره داده چې دريمه برخه صدقه کړل شي.دريمه برخه دوستانواوخپلوانو (عزيزانو) تهٔ ورکړل شي اودريمه برخه پخپله باندې وخوړل شي[3]

---

[1] الأفضل أن يتصدق بالثلث. ويدخرالثلث ضيافة للأقارب، والثلث لنفسه، فإن لم يتصدق منها شيء جاز (الجوهرة النيرة ج : ٢ص :٢٨٥، كتاب الأضحية) أيضا: والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لأقاربه. وأصدقائه ويدخرالثلث........ولوتصدق بالكل جاز، ولوحبس الكل لنفسه جاز ... الخ (فتاوى عالمگيرى، كتاب الأضحية، الباب الخامس ج : ٥ص :٣٠٠، طبع رشيدية كوئته)_

[2] وفي الدرالمختار: وإن كان شريك الستة نصرانيا أومريد اللحم لم يجزعن واحد (الدرالمختارعلى ردالمحتار ج :٦ص :٣٢٦، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد)_

[3] ايضاً پورتنئ حواله (الأفضل أن يتصدق بالثلث، ويدخرالثلث...الخ) اوګورئ!

ايا د ټولې غوښې پخپله خوړو نکې قرباني کيږي

سوال: غټ اختر کې زمونږ کورکې قرباني کيږي نوزما ورور غوښه درې برخې کړې، يوه کورکې کيږدي. دوه محلې او خپلوانو (عزيزانو) کې تقسيم کړې، او زمونږ محله کې ډيرخلک ټوله غوښه په کورکې وخوري، محلې او خپلوانو (عزيزانو) کې لږه شان غوښه تقسيموي، او ځو ورځې يې خوري، ضرور ووايئ چې د داسې خلکو قرباني کيږي؟

جواب: ستاسو ورور چې څنګه کوي هغه بهتر ده. خو که چيرې ټوله غوښه کورکې وخوړل شوه. نو بيا هم صحيح ده[1] دې شرط سره چې نيت د قرباني وي، يوازې د غوښې خوړلو نيت نه وي[2]

د قرباني غوښه ذخيره کول جائزدي

سوال: د شرعي حکم مطابق د قرباني غوښه په غريبانو مسکينانو. خپلوانو (عزيزانو) او ګاونډيانو (همسايه ګانو) او کوم خلک چې مستحق دي هغوی کې دې تقسيم کړل شي. خو عام طورباندې ليدل شوي دي چې اکثرو کورونوکې د قرباني د غوښې څه برخه خو تقسيم کړل شي او ډيره غوښه په فريجونو (يخچال) وغيره کې وساتل شي، او د خپل استعمال سره سره نيازاونذرکې هم استعماليږي او د غه غوښه د بل غټ اخترپورې استعماليږي. او زيات وخت په فريج کې د اينبودو په وجه باندې ذايقې او شکل او صورت کې هم فرق راځي او هغې ته کتلو او خوړلو سره کراهت پيداکيږي. پس دې باره کې شرعي طورباندې ووايئ چې د يو غټ اخترغوښه د بل غټ اختر (يوکال پورې) ذخيره کيدای شي؟

جواب: غوره خو داده چې د قرباني غوښې درې برخې کړل شی، يوه برخه د کورنۍ له پاره، يوه د خپلوانو (عزيزانو) او دوستانو له پاره. او يوه د فقيرانو او مسکينانو له پاره. خو که چيرې يوکس ټوله غوښه کورکې کيږدي يا ذخيره کړي، نو دا هم جائزدي او کله چې د غوښې اينبودل جائزدي. نو د هغې د جائزمقصد له پاره استعمالول هم جائزدي.[3]

---

[1] أيضا)_

[2] وفى الدرالمختار: وإن كان شريك الستة نصرانيا أومريد اللحم لم يجزعن واحد (الدرالمختارعلى ردالمحتارج :٦ص :٣٢٦، كتاب الأضحية، طبع ايچ ايم سعيد)_

[3] الأفضل أن يتصدق بالثلث، ويدخرالثلث ضيافة للأقارب، والثلث لنفسه، فإن لم يتصدق منها شيء جاز (الجوهرة النيرة ج : ٢ص :٢٨٥، كتاب الأضحية) أيضا: والأفضل أن يتصدق بالثلث ويتخذ الثلث ضيافة لأقاربه، وأصدقائه ويدخرالثلث.......ولوتصدق بالكل جاز، ولوحبس الكل لنفسه جاز ... الخ (فتاوى عالمگيرى، كتاب الأضحية، الباب الخامس ج : ٥ص :٣٠٠، طبع رشيدية كوئته)_

د قربانۍ غوښه غیرمسلم ته ورکول

سوال: آیا د قربانۍ غوښه غیرمسلم ته ورکول کیدای شي؟

جواب: ورکول کیدای شي[1] خو په دې شرط چې د نذر د قربانۍ نه وي.[2]

د نذر د قربانۍ غوښه یوازې غریبان خلک خوړلی شي

سوال: زما موربې بې زما د نوکرۍ (وظیفې) په سلسله کې نذر منلې و. که چیرې زما زوی ته په فلانې ځای کې وظیفه پیداشوه نوزه به د الله تعالی په نوم باندې قرباني کوم. د الله تعالی په مدد باندې ماته وظیفه پیداشوه. خو ډیروخت تیرشو اوسه پورې نذر پوره نه شو. دې کې سستی اوناوخته والی ضرور وشو. خو زموږ په نیت کې څه فرق نه دی راغلی. یوازې دا مطلب مودی چې د دې طریقه به څنګه وی کومه چې صحیح او د اسلام مطابق وي، دې کې اختلاف دی چې د کوم څاروي قرباني وکړل شي د هغه غوښه د خپلوانو (عزیزانو) او د کورخلکو له پاره جائزده یا ټوله به غریبانو او مسکینانو یا مدرسې وغیره ته ورکول واجب وي؟

جواب: ستاسو د مور په ذمه باندې د قربانۍ په ورځو کې قرباني کول واجب دي. او د هغې غوښې په غریبانو باندې تقسیمول لازم دي، د نذر شی غني او شتمن کس نه شي خوړلی، څنګه چې زکات او صدقه فطر د مالدار وله پاره حلاله نه ده.[3]

......

[1] ويهب منها ماشاء للغني والفقير والمسلم والذمي (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۰، كتاب الأضحية)۔

[2] فاما الصدقة الواجبة منها كالأضحية المنذورة مثلا فلايجزئ دفعها إلى كافر... الخ (إعلاء السنن ج : ۱۷ص : ۲۸۸، طبع إدارة القرآن كراچي)۔

[3] إن وجبت بالنذر فليس لصاحبها أن يأكل منها شيئا ولاأن يطعم غيره من الأغنياء سواء كان الناذر غنيا أوفقير، ليس للمتصدق أن يأكل صدقته ولا أن يطعم الأغنياء (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۰، كتاب الأضحية) أيضا : وأما في الأضحية المنذورة سواء كانت من الغني أوالفقير فليس لصاحبها أن يأكل ولا أن يؤكل الغني هكذا في النهاية (فتاوى عالمگيرى ج : ۵ص : ۳۰۰، كتاب الأضحية، طبع رشيدية كوئته)۔

❖ د قرباني د څرمنو استعمال ❖

د قرباني څرمنې اسلامي مدرسوته ورکول

سوال: زموږ د ښار خطيب صاحب د جمعې په خطبه کې دې مسئلې باندې رڼا واچوله چې د زکات مال او د قرباني څرمنې د مدرسو په تعمير او د استاذانو تنخواګانو کې استعمالول جائزنه دي. له دې نه مخکې د خلکو دا دستور و چې زکات يا د قرباني څرمن وغيره به يې خاص طور باندې د دين د خدمت په وجه باندې ديني مدرسوته ورکولې. سږ کال د قربانۍ په موقع باندې چې د مولانا صاحب تقرير واوريده، نو هغوی د مدرسو په ځای باندې عامو مسکينانو باندې هغه پيسې تقسيم کړې. چې په وجه يې ظاهري طور باندې مدرسوته نقصان وشو او د عوامو په زړه کې هم دا شک پيدا شوی دی چې ګناه ده نو موږ يې ولې وکړو، په دې وجه باندې ستاسو په خدمت کې خواست دی چې د دې مسئلې وضاحت وکړئ، چې شکونه ختم شي

جواب: خطيب صاحب چې کومه مسئله بيان کړې ده. هغه داسې صحيح ده چې د قرباني څرمنې د مدرسو په تعمير او استاذانو په تنخوا کې استعمالول جائزنه دي[1]. خو ديني مدرسوته چې کومې څرمنې ورکول کيږي هغه د مدرسو په تعمير او استاذانو په تنخواه کې نه استعماليږي. بلکې د دين علم حاصل کونکي غريب طالب علمانو باندې استعماليږي، مدرسوته د قرباني څرمنې ورکول بالکل جائزدي. بلکې او سني زمانه کې مدرسوته د قرباني څرمنې ورکول زيات غوره دي. ځکه چې د دې کې د غريبانو طالبانو مدد هم کيږي. او د دين د علم خدمت هم

څرمن څه ډول ادارې ته ورکول کيدای شي؟

سوال: د څرمنو د استعمالولو تر ټولو غوره ځای هغه اداره ده کومه چې د دين خدمت کوي. مثلاً نن سبا ديني مدرسې وغيره. خو پوښتنه داده چې نن سبا هر قوم والا د انسانيت

[1] (ويتصدق بجلدها أو يعمل منه .... لا بمستهلك كخل ولحم ونحوه كدراهم فإن بيع اللحم أو الجلد به أى بمستهلك أو بدراهم تصدق بثمنه ... الخ (درمختارمع ردالمحتار ج :۶ص :۳۲۸، كتاب الأضحية) ولايصرف إلى بناء نحو مسجد(وفى الشامية) قوله نحو مسجد : كبناء القناطروالسقايات وإصلاح الطرقات وكرى الأنهاروالحج والجهاد وكل ما لاتمليك فيه (رد المحتارمع الدرالمختار ج : ۲ص:۳۴۴،كتاب الزكاة) (ويتصدق بجلدهاأويعمل منه نحوغربال أوجراب) لأنه جزء منها وكان له التصدق والإنتفاع به (بحرالرائق ج :۸ ص : ۱۷۸، كتاب الأضحية)_

دخدمت په جذبه باندې څرمنې جمع کوي.نو آیا هرسړی خپل قوم والو ته ورکولی شی.اودغه شانَ تورخلکوته کوم چې دانسانیت دخدمت دعوې کوي اوحقیقت کې یوهم خپله دعوی کې رښتونی نه دی.بلکې هریودخپل نفس دتقاضې پوره کولوله پاره پیسې خرچ کوي.تاسو ووایئ چې څه وکړو؟ داهم ووليئ چې دڅرمن ورکولووخت کې څه نیت کول پکاردي؟ اوددې دورکولوله پاره څه شرطونه دي اوصحیح استعمال یې وښیئ!

جواب: دقرباني څرمن که خرڅه کړل شي. نودهغې پیسې صدقه کول واجب دي. دقرباني څرمن داسې اداري یاجماعت ته ورکول پکاردي.چې دهغې باره کې یقین وي چې هغوی به یې صحیح ځای کې خرچ کړي[۱]

د قرباني څرمن دقصاب له لوري ځان سره ایښودل

سوال: د غټ اختر په قرباني باندې دلته قرباني والا ذبح کولوسره څرمنه سپينولو سره غوښه ورکوي. حالانکې څرمنه هم هغوی سره پاتې شي اودا معلومه هم نه ده چې څرمنه باندې هغوی څه کوي. داسې کولو کې د قرباني والا قرباني صحیح شوه اوکه نه؟

جواب: هغوی ته دې دذبحې کولو اجرت ورکړل شي، څرمنه دې د ذبحې په مزدوري کې نه ورکول کیږي [۲]

د قرباني څرمن د غوښې په شان هرچاته ورکولی شو

سوال: دقرباني غوښه هرچاته ورکول کیږي، خودڅرمنې له پاره قیدولې دی؟ هغه هم دغوښې په شان ورکول کیږي اوکه نه؟ دې له پاره دمستحق کس پابندي له څه وجې ده؟

جواب: دقرباني څرمن چې ترڅوپورې خرڅه شوي نه وي دهغې حکم دغوښې دی اوهغه هم هرچاته ورکول جائزدي[۳] دخرڅولونه وروسته ددې صدقه کول واجب دي هغه یوازې غریب ته ورکولی شئ.[۴]

[۱] فإن باع الجلد أواللحم بالفلوس.....تصدق بثمنه (الجوهرة النيرة ج:۲ ص:۲۸۶،كتاب الأضحية، البحر الرائق ج:۸ ص:۲۰۳، كتاب الأضحية، طبع دارالمعرفة، شامي ج:۶ ص : ۳۲۸، كتاب الأضحية، طبع سعيد)

[۲] ولايعطى أجرة الجزارمنها لأنه كبيع (حاشية ردالمحتارج : ۶ص : ۳۲۸، كتاب الأضحية)

[۳] تیره شوی حاشیه (ويتصدق بجلدها أو يعمل منه .....الخ) اوګوری!۔

[۴] ایضاً پورتنی حاشیه (فإن باع الجلد أواللحم بالفلوس .....الخ) اوګوری!۔

د جومات امام ته د قرباني څرمن ورکول څنګه دي؟

سوال: دقرباني څرمن (پوستکی) دجومات امام ته ورکول جائزدي اوکه نه؟ مهرباني وکړئ دامسئله لږه تفصيل سره بيان کړئ!

جواب: که چيرته دجومات دامام تنخوا ياوظيفه جدامقرره وي اودامام مقررکولووخت کې هغه ته ښکاره طورباندې يااشارتا داخبره نه وي شوي چې دامام په حيثيت باندې به مونږ تاته دقرباني څرمنې درکوو اوامام هم مقتديانوباندې څرمنې خپل حق نه ګڼي. نودې صورت کې که چيرته مقتدي په رښتياباندې دغوښې دهديې په طورباندې څرمن هم هديه کړي. نوجائزدي[۱]. خوکه چيرته دواړوطرفونه نيت داوي چې دامامت له وجې ورکول کيږي. نوښکاره تاويل له وجې يوازې په نوم باندې هديه کول جائزنه دي[۲] دجومات امام که چيرته غريب وي اودهغه دتنخوا اواجرت د نيت نه پرته يوازې غريب ياعالم اوحافظ ګڼلوسره هغه ته څرمن ورکړل شي، نوزماپه خيال باندې دانه يوازې جائزدي، بلکې بهتردي. داسې عالمان او حافظان که چيرته محتاج وي. نودهغوی امدادکول اولی دي.

شتمن امام ته د قرباني څرمن اوصدقه فطر ورکول

سوال: يوامام صاحب چې هغه مالدار وي اوتنخوا دارهم وي اوبيا د وړوکي اخترفطرانه (سرسايه) اودغټ اختر دڅرمنوپيسې پخپله باندې غواړي او دا وايي چې ددې خبرې زه ذمه داريم چې ماباندې ددې شيانو پيسې لګيږي. تاسوداسلام دشرعي حيثيت مطابق ددې مسئلې تفصيلي جواب راکړئ او دا هم بيان کړئ چې دې امام پسې لمونځ کيږي اوکه نه.که چيرته کيږي. نوڅنګه اوکه نه کيږي. نو څنګه؟ وضاحت سره جواب راکړئ!

جواب: امام ته داجرت په طورباندې صدقه فطراودقرباني څرمن ورکول جائزنه دي[۳] اوکه چيرته هغه غريب اوداولادارکيدو له وجې د زکات مستحق وي، نود خپلې غريبې له وجې هغه دنوروخلکونه زيات مستحق دی. پاتې شوه داخبره چې دزکات مستحق دی اوکه نه؟

---

[۱] ويتصدق بجلدها أو يعمل منه .... لايستهلك كخل ولحم ونحوه كدراهم فإن بيع اللحم أوالجلد به أی يستهلك أوبدراهم تصدق بثمنه (شامي ج :۶ص :۳۲۸، كتاب الأضحية طبع سعيد)_

[۲] عن علي أن النبي صلى الله عليه وسلم أمره أن يقوم على بدنه وأن يقسم بدنه كلها لحومها وجلودها وجلالها ولا يعطي في جزارتها شيئا(بخاری ج:۱ص:۲۳۲) ويشترط ان الصرف تمليكا لا إباحة كمامر (درمختارج :۲ص : ۳۴۴)

[۳] ايضاً دغه پورته حواله)_

دې باره کې که چیرته په هغه خبرې باندې اعتمادنه وي. نو خپله خوښه کول پکاردي (۲) که چیرته هغه امام نیک اودین دار وي. نو هغه پسې لمونځ کول صحیح دي.

د قربانۍ څرمن (پوستکی) یا صدقه فطر که غریب سړی واخلي او پخپله خوښه باندې یې جومات یامدرسې ته ورکړي، نو جائزدي

سوال: یوغریب سړي ته دقرباني څرمن اوصدقه فطر ورکړل شوه، اوس که چیرته هغه سړی غواړي چې څرمن اوصدقه فطر جومات یامدرسې ته ورکړي. نودابه جائزوي اوکه نه؟ ایا جومات اومدرسه کې هغه په تعمیرباندې خرچ کېدای شي؟

جواب: دقرباني دڅرمنواوصدقه فطردپیسوڅوک غریب اومسکین مالک جوړول ضروري دي، له دې وجې جومات یامدرسې باندې دغه پیسې نه شي استعمالیدای[1].که چیرته یوغریب یامسکین کس ددغو شیانومالک جوړکړل شي اوهغه پخپله رضااورغبت باندې جومات یا مدرسې ته ورکول غواړي، نودهغو پیسوصورت بدل شو اوهغه دقرباني دڅرمنویادصدقه فطر پیسې پاتې نه شوې. له دې وجې اوس هغه دجومات یامدرسې په تعمیرکې یاد نورو چندوپه شان استعمالیدای شي[2].

د فلاحي (خیریه) کارونو له پاره د قربانۍ څرمنې جمع کول

سوال: که چیرته یوه ډله دفلاحي (خیریه) کارونوپه نوم باندې دقرباني څرمنې او چنده اخلي، نوهغوی ته دقرباني څرمنې اوچنده ورکول پکار دي اوکه نه؟

جواب: دقرباني څرمنې خرڅولونه وروسته دهغو دپیسوحکم دزکات دپیسو په شان دی، دهغه تملیک ضروري دی اودتملیک نه پرته فلاحي کارونو کې ددې خرچ کول صحیح نه دي[3]، دقرباني څرمنې داسې ادارو ته ورکول پکاردي چې دشرعي اصولومطابق هغه په صحیح ځایونوکې استعمال کړي.

---

[1] ولایصرف إلى بناء نحومسجد وفي الشامیة (قوله نحومسجد) کبناء القناطروالسقایات وإصلاح الطرقات وکری الأنهاروالحج والجهاد وکل ما لاتملیک فیه (شامي ج : ۲ص:۳۴۴،کتاب الزکاة)_

[2] قلنا ان الحیلة أن یتصدق على الفقیرثم یامره بفعل هذه الأشیاء (درمختارج :۲ص : ۳۴۵)_

[3] ولایصرف إلى بناء نحومسجد وفي الشامیة (قوله نحومسجد) کبناء القناطروالسقایات وإصلاح الطرقات وکری الأنهاروالحج والجهاد وکل ما لاتملیک فیه (شامي ج : ۲ص:۳۴۴،کتاب الزکاة)_

د قربانۍ د څرمنو په پیسو باندې جومات جوړول صحیح نه دي

سوال: د صدقه فطر او قرباني د څرمنو پیسې په جومات یا مدرسې جوړولو باندې خرچ کیدای شي او که نه؟

جواب: زکات، صدقه فطر او د قرباني د څرمنو د پیسو څوک فقیر مالک جوړول ضروري دي، جومات یا مدرسې جوړلو کې خرچ کول یې صحیح نه دي. [1]

د کتابونو په چاپ کولو باندې د قربانۍ د څرمنې پیسې لګول

سوال: موږ یو څو ملګرو په یو ځای باندې یوه اداره د دعوت و اصلاح په نوم باندې قائم کړې ده، د دې د قیام مقصد د عالمانو کتابونه په عام اندازکې عوامو ته رسوول دي، او د بدعاتو او او سنیو رسمونو د ختمولو له پاره د حضرت تهانوي رحمه الله او مختلفو عالمانو کتابونه چاپ کول دي. او سه پورې په چاپ کولو باندې راتلونکې خرچه ټوله د دارې په کارکنانو باندې ده، یو څو میاشتې مخکې ځینې ملګرو دا مشوره راکړه چې ولې موږ د قرباني د څرمنو نه حاصل شوې پیسې د دارې په فنډ کې جمع نه کړو. د لته دا خبره هم د ذکر کولو قابل ده چې د دارې مقصد یوازې د کتابونو چاپ کول نه دي، بلکې د خپلو ملګرو د تعلیم او تربیت له پاره رسالې اخیستل، لائبریري (کتابخانې) جوړول، او نورو دیني تنظیمونو سره مدد کول هم دي، نو آیا مونږ د خپلوانو (عزیزانو) نه حاصل شوې د قرباني د څرمنو پیسې د دې کارونو کې لګولی شو؟

جواب: د قرباني د څرمنو نه حاصلې شوې پیسې د زکات په شان حکم لري، مستحقینو ته د دې تملیک ضروری دی. که هغه د نغدو پیسو په شکل کې وي او که د کتابونو وغیره په شکل کې وي. په هر حال دا سې کارونو کې لګول جائز نه دي، په کوم کې چې د تملیک صورت نه وي. [2]

---

[1] ایضاً... ویتصدق بجلدها أو یعمل منه .... لابمستهلک کخل ولحم ولحوه کدراهم فإن بیع اللحم أوالجلد به أی بمستهلک أوبدراهم تصدق بثمنه ... الخ (درمختارمع ردالمختار ج :۶ص :۳۲۸، کتاب الأضحیة) ولایصرف إلی بناء نحومسجد(وفی الشامیة) قوله نحومسجد : کبناء القناطروالسقایات وإصلاح الطرقات وکری الأنهاروالحج والجهاد وکل ما لاتملیک فیه (رد المحتارمع الدرالمختار ج : ۲ص:۳۴۴،کتاب الزکاة) (ویتصدق بجلدهاأویعمل منه نحوغربال أوجراب) لأنه جزء منها وکان له التصدق والإنتفاع به (بحرالرائق ج :۸ ص : ۱۷۸، کتاب الأضحیة)_

[2] ایضاً_

جومات سره متصل دوکانونو کې د قربانۍ د څرمنو پیسې استعمالول

سوال: د جومات د کمیټۍ صدر د خلکو نه د قرباني څرمنې واخیستلې. او هغه څرمنې یې خرڅې کړې. د کمیټۍ د صدر د وینا مطابق هغه پیسې د جومات د دوکانونو په جوړولو کې استعمال شوې. آیا دا پیسې کومې چې د قربانۍ د څرمنو نه حاصلې شوې وې، د جومات په دوکانونو کې استعمالیدای شي او که نه؟

جواب: پوښتل شوي صورت کې د قرباني د څرمنو پیسې د جومات په دوکانونو باندې استعمالول جائز نه دي. ځکه چې د قرباني د څرمنې پیسې یوازې هغو ځایونو کې استعمالیدای شي. په کومو کې چې د زکات پیسې خرچ کیدای شي. او د زکات د استعمال ځایونه د سورت توبه په آیت کې بیان شوي دي[1]. د جومات دوکانونه خو لرې خبره ده. د جومات په جوړولو کې هم د زکات او د قرباني څرمنې نه شي استعمالیدای. په دې وجه باندې چې دا واجب صدقات دي. او واجب صدقاتو کې تملیک ضروري دی. او پوښتل شوي صورت کې تملیک نه شته.[2]

مولانا اشرف علي تهانوی رحمه الله په خپله فتاوا کې لیکلي دي:

فقهاوو تصریح کړې ده، چې ترڅو پورې څرمن خرڅه شوې نه وي هر کس ته دهغې ورکول او په خپله باندې هم دهغې نه فائده اخیستل جائز دي، (خو قصاب وغیره ته یا بل چا ته داجرت په طور باندې ورکول جائز نه دي) او کله چې خرڅه کړل شي نو دهغې دقیمت صدقه کول واجب دي او دصدقې په اصل حقیقت کې تملیک ماخوذ دی او چونکې دا واجب صدقه ده. په دې وجه باندې دزکات په شان یې استعمالول دي. (امدادالفتاوی جلددوم ص ۵۳۶)

کوم حضراتو چې د ذکرشوي جومات د کمیټۍ صدر ته د جومات یا دوکانونو جوړولو له پاره د قرباني څرمنې ورکړې دي او صدر د هغې خرڅولو سره پیسې حاصلې کړې، دهغوی له پاره ضروري دی چې هغوی د هغې څرمنو د پیسو مطابق پیسې صدقه کړي، یا د جومات د کمیټۍ صدر د څرمنې ورکونکو په اجازه باندې مستحقو خلکو ته پیسې ورکړي.[3]

---

[1] ''انما الصدقٰت للفقراء والمسٰكين والعٰملين عليها والمؤلفة قلوبهم وفى الرقاب والغٰرمين وفى سبيل الله وابن السبيل. فريضة من الله، والله عليم حكيم '' (التوبة : ۶۰)_

[2] تیره شوی حاشیه (ويتصدق بجلدها أو يعمل منه ....الخ) او ګوری!) و ایضاً... ولايصرف إلى بناء نحومسجد وفى الشامية (قوله نحومسجد) كبناء القناطروالسقايات وإصلاح الطرقات وكرى الأنهاروالحج والجهاد وكل ما لاتمليك فيه (شامي ج : ۲ ص:۳۴۴، كتاب الزكاة)_

[3] فإن بيع اللحم والجلد به أى بمستهلك أوبدراهم تصدق بثمنه ..الخ (درالمختار، كتاب الأضحية ج:۵ ص:۲۸۷)

زده کونکي ته د دنیاوي اعلی تعلیم حاصلولو له پاره د قرباني د څرمنو ډیرې پیسې ورکول

سوال: یو طالب علم چې هغه په انجنیرۍ کې دبي اے ډګري حاصله کړې ده. هغه په همدې شعبه کې د اعلی تعلیم حاصلولو له پاره د کنیډا (شمالي امریکا) په یونیورستي کې داخله اخیستل غواړي. د هغې له پاره هغه د یونیورستي نه منظوري حاصله کړې ده. او د داخلې ټول ضروري کاغذونه تیار شوي دي، خو هغه ته مشکل دادی چې هغه سره ذاتي طور باندې د دې څه انتظام نه شته. د هغه کوشش دادی چې هغه د خپلو پیژندګلو خلکو نه پنځه اویازره روپۍ راجمع کړي. نو باقي نیمې پنځه اویازره روپۍ به جمیعت هغه ته د قرباني د څرمنو د فنډ نه ورکړي. چې هغه د اعلی تعلیم حاصلولو له پاره بهر ملک ته لاړ شي. او د غه اعلی تعلیم د ملک او قوم د خدمت ذریعه جوړه کړي. پوښتنه داده چې آیا د یو کس مدد د قرباني د څرمنو نه حاصل شویو پیسو باندې کیدای شي او که نه؟ او درخواست ورکونکی ځان د دې مستحق ښیي.

جواب: ماته دا بالکل ناجائزښکاري. د نورو عالمانو نه هم پوښتنه وکړئ. که چیرې هغه صاحب ته د غه پیسې ورکول وي. نو د دې دا تدبیر کیدای شي چې هغه ته هغومره پیسې د قرض په طور باندې ورکړل شي. او کله چې هغه خرچ شي، نو د هغه پیسو نه د هغه قرض ادا کړئ.

❖ د غیر مسلم د ذبیحې حکم ❖

د مسلمان او اهل کتاب ذبیحه جائز ده،

د مرتد، دهري او د جهټکي ذبیحه جائز نه ده

سوال: خواست دادی چې زما مشره خور په امریکه کې اوسیږي، د هغې مسئله داده چې هلته کومه غوښه ملاویږي هغه د جهټکي[1] وي. په دې وجه باندې هغه خوړل جائز دي او که نه؟ اوسه پورې خو هغوی د غه غوښه نه ده خوړلې. ځکه چې هغه ګڼي چې دا په ناجائز طریقه باندې حلالیږي. خو هلته موجود نور پاکستاني د غه غوښه استعمالوي، او هغې ته وایي چې کراچۍ کې څوک په هر ځاروي باندې الله اکبر وایي؟ هلته هم ځاروي همداسې حلالیږي، تاسو ته خواست دی چې د دې مسئلې باره کې لږ وضاحت وکړئ چې هغه ورته د دې جواب ورکړل شي. آیا هغه غوښه جائز ده او که نه؟ ځکه چې غوښه که هم داسې حالت کې ونه خوړل

[1] د جهټکي غوښه د هغه وايي چې د ځاروي غاړه په توره باندې یو وار ووهل شي او کټ شي او دا د مسلمانانو په نزد حرامه ده. (فیروز اللغات ص۵۱۸)

شي. نو په څه نه څه شي کې هغه په څه طریقه باندې شامل (ګډه) شوې وي، مهرباني وکړئ جواب راکړئ!

جواب: کوم حلال څاروی چې یومسلمان یاکتابي بسم الله ویلوسره ذبح کړی وي دهغه خوراک حلال دی اود مرتد. دهري ذبیحه حلاله نه ده[1] دغه شان د جهټکې غوښه هم حلاله نه ده[2] زمونږ دمعلوماتو مطابق په کراچۍ کې دجهټکې غوښه نه وي.

یادونه د ذبح کولو په وخت بسم الله ویل ضروري دي که یومسلمان قصداً بسم الله ونه ویله، نو ذبیحه به حلاله نه وي.خو که ذبحه کونکی مسلمان وي اوکه په هیره یې بسم الله ونه ویله. نوذبیحه جائزده.[3]

د کومواهل کتابو ذبیحه جائزده؟

سوال: مونږ دوه دوستان په امریکه کې اوسیږو. زمونږدلته د اوسیدو تقریباً شل کاله شوي دي مسئله داده چې زما د دوست وینا ده چې اهل کتاب که هرڅنګه وي، دهغه ذبحه کړل شوی څاروی جائزدی اوهغه د قرآن دآیت نه دلیل پیش کوي اوزما وینا داده چې دهر اهل کتاب ذبحه کړل شوی څاروی جائزنه دی، بلکې هرهغه اهل کتاب چې هغه په خپل تیرشوي شریعت باندې له اعتقاد سره عمل کوي او دهغه دذبحې طریقه هم هغه وي کومه چې دهغوی په کتاب کې ده. ځکه چې دهغوی اود مسلمانانو طریقه یوه ده، یعنی بسم الله ویلو سره څاروې ذبحه کول.که ددې خلاف وي، نوحرامه ده، پوښتنه داده چې آیا په مونږ دواړوکې کوم یوپه صحیح عمل باندې دی؟ اوکه دواړه په غلط عمل باندې یونوصحیح مسئله څه ده؟ مهرباني وکړئ دا دقرآن اوحدیث په رڼا کې تفصیل سره ولیکئ اوکه دې سره د ذبحه کونکي له پاره څه شرائط وی چې دهغې په وجه ذبیحه حلالیږي هغه هم واضح ولیکئ!

---

[1] وحل ذبيحة مسلم وكتابي لقوله تعالىٰ : وطعام الذين أوتوا الكتٰب حل لكم والمراد به ذبائحهم... لا مجوسي ووثني ومرتد ومحرم وتارک التسمية عمدا يعنى لايحل ذبيحة هٰؤلاء...الخ (البحرالرائق ج:٨ ص: ١٩١)

[2] تفصيل دپاره اوګورئ : فتاوی بينات، جلد چهارم ص : ٥٤٥ تا ٥٩١)_

[3] ومنها (اى من شرائط الذكاة) التسمية حالة الذكر عندنا ....و لنا قوله تعالىٰ : و لا تأكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه و انه لفسق ..... و لنا ما روى عن راشد بن سعد عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال : ذبيحة المسلم حلال سمى او لم يسم ما لم يتعمد، و هذا نص فى الباب (بدائع، كتاب الذبائح ج: ٥ ص: ٤٦) ايضا وحل لو ناسيا يعنى حل المذكىٰ لو ترک التسمية ناسيا (البحر الرائق ج :٨ ص :١٩٢، كتاب الذ بائح، طبع دار المعرفة بيروت)_

جواب: په دې بحث کې ستاخبره صحيح ده داهل کتاب ذبيحه حلاله ده خو په دې کې دځينو خبرو لحاظ ساتل ضروري دي

لومړی چې ذبحه کونکی يقين سره صحيح اهل کتاب وي. ډيرخلک داسې دي چې هغوی نه قومي حيثيت سره يهودي يا عيسايي ويل کيږي. خوعقيده کې دهري وي اوهغوی دهيڅ دين او مذهب قائل نه وي.داسې خلک شرعا اهل کتاب نه دي اودهغوی ذبيحه هم حلاله نه ده[1]

دويم ځينې خلکوته مخکې مسلمان ويل کېدل ، بيا يهودي يا عيسايي جوړشول.داخلک هم اهل کتاب نه دي. بلکې شرعًا مرتد دي اود مرتد ذبيحه مرداره ده.[2]

دريم داهم ضروري ده چې ذبحه کونکی دالله تعالی نوم اخيستلوسره يعنی بسم الله ويلو سره ذبحه کړې وي. له دې نه پرته هم حلاله نه ده. دغه شان دکتابی هم.[3]

څلورم ذبحه کونکي خپل لاس سره ذبح کړې وي.[4] نن سبا مغربي ملکونوکې مشين سره ښاروي کټ کيږي او ورسره د "بسم الله الله اکبر". ټيپ لګول کيږي،ګويا د"بسم الله.، ويلو کار دسړي په ځای ټيپ اداکوي اود ذبحې کار دسړي په ځای مشين کوی.داسې ښاروې حلال نه دي، بلکې د مردار په حکم کې دي.[5]

---

[1] وطعام الذ ين أوتوا الكتٰب حل لكم وطعامكم حل هم، قال الزهرى : لابأس بذبيحة نصارى العرب وإن سمعته سمى لغيرالله فلا تأكل، وإن لم تسمعه فقد أحله الله وعلى كفرهم ..... وقال ابن عباس : طعامهم ذبائحم أيضا وشرط ان لايذكرفيه غيرالله تعالىٰ حتى لوذكرالكتابي المسيح أوعزيرا لايحل (صحيح البخارى، باب ذبائح أهل الكتاب ج : ٢ص : ٨٢٨، البحرالرائق، كتاب الذبائح ج : ٨ص : ١٦٨، أيضامعارف القران ج : ٣ص :٤٨ سورة المائدة)_

[2] لامجوسى ولاوثنى ومرتد ....ولافرق فى المرتد بين أن يرتد إلى دين اليهودية أو النصرانية أوغيرذالك .... الخ (البحرالرائق ج :٨ ص : ١٩١،كتاب الذبائح، طبع دارالمعرفة، بيروت)_

[3] وشرط كون الذابح مسلما........ أوكتابيا ذميا أوحربيا إلا إذا سمع منه عندالذبح ذكرالمسيح (ردالمحتار، كتاب الذبائح ج: ٦ص: ٢٩٧) أيضا : وتشترط التسمية من الذابح حال الذبح أوالرمى لصيد أوالإرسال ... الخ قوله حال الذبح قال فى الهداية : ثم التسمية فى ذكاة الإختيارتشترط عندالذبح وهى على المذبوح (ردالمحتار على الدرالمختار، كتاب الذبائح ج : ٦ص : ٣٠٢طبع سعيد) وأماشرائط الركن، فمنها : أن تكون التسمية من الذابح (بدائع الصنائع، كتاب الذبائح، فصل فى شرط حل الأهل ج : ٥ص : ٤٥)_

[4] لأن التسمية فى الذكاة الإختيارية مشروعة على الذبح لاعلى الة والذبيحة لم تتغير (البحر الرائق ج:٨ص:١٩١)

[5] ايضاً پورتنۍ حواله (وشرط كون الذابح مسلما...الخ) اوګورئ!_

د یهودي د ذبیحې جائز کیدو شرطونه

سوال: که په اسلامي طریقه باندې ذبحه شوې غوښه نه پیدا کیږي. نو د یهودیانو ذبحه شوې غوښه خوړل جائز دي او که نه؟

جواب: یهودی که په موسی علیه السلام باندې ایمان لري او خپل کتاب مني، نو هغه اهل کتاب دی دهغهٔ ذبیحه جائزده[1] په دې شرط چې دالله په نوم سره یې ذبحه کړي.[2]

د یهودي ذبیحه استعمال کړو که د عیسایي؟

سوال: بهرملک کې دمسلمانانوله پاره دا ډیره غټه مسئله ده. اکثرچې کومه حلاله وي هغه یاخو دیهودیانو وي یادعیسایانو، داهل کتاب کیدوپه وجه باندې عام طورباندې دیهودیانوحلاله صحیح ګڼل کیږي. اودعیسایانوباره کې عام خیال وي چې هغوی دخپل کتاب مطابق ذبح نه کوي. ددې په وجه باندې دمسلمانانوپه ذهنونو کې ډیره پریشاني وي. مهرباني وکړئ دقرآن اوسنت په رڼاکې ددې مسئلې حل بیان کړئ!

جواب: داهل کتاب حلاله صحیح ده، که چیرې اطمینان وي چې یهودیان په صحیح طریقه باندې ذبح کوی اودعیسایانو طریقه صحیح نه ده. نو د یهودیانو حلالې ته ترجیح ورکول پکاردي. دنصرانیانو له حلالې نه ځان ساتل پکاردي.[3]

د روافضو د حلالې څه حکم دی

سوال: ۱ شیعه مسلمان دی او که کافر؟

۲ د شیعه د جنازې لمونځ کونکي او مونځ ورکونکي باره کې عالمان څه فرمایي؟

۳ آیا د شیعه د کورپخ شوي شیان خوړل جائزدي؟

۴ آیا د شیعه حلاله جائزده؟

---

[1] وإنما أحلت ذبائح اليهود والنصارى من أجل انهم امنوا بالتوراة والإنجيل (الفقه الإسلامي وأدلته ج:۳ ص:۶۵۰)

[2] ويشترط ان لايذكرفيه غيرالله تعالى حتى لوذكرالكتابي المسيح أوعزيرا لايحل (البحرالرائق ج: ۸ص: ۱۶۸) أيضا: وطعام الذين أوتوا الكتب حل لكم وطعامكم حل لهم، قال الزهرى: لابأس بذبيحة نصارى العرب وإن سمعته سمى لغيرالله فلا تأكل، وإن لم تسمعه فقد أحل الله وعلم كفرهم .... وقال ابن عباس رضى الله عنهما: طعامهم ذبائحهم (صحيح البخارى، باب ذبائح أهل الكتاب ج: ۲ص: ۸۲۸ طبع قديمي)۔

[3] ايضاً پورتنۍ دواړه حوالې اوګورئ.

جواب: اثناعشریه شیعه قرآن کې دتحریف قائل دي[1] ددرې څلورو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه پرته پاتې ټول صحابه کرام رضي الله عنهم کافراو مرتد ګڼي[2] اوحضرت علي رضي الله عنه اودهغه یوولس بزرګان معصوم او مفترض الطاعة[3] اوانبیاءوو علیهم السلام نه افضل ګڼي[4] اوداټولې عقیدې دهغوی دمذهب په معتبرو او مستندکتابونو کې موجودې دي او ښکاره خبره ده چې کوم خلک داسې عقیدې لري. هغوی مسلمانان کیدای نه شي[5] اونه دهغوی ذبیحه حلاله ده[6]. اونه دهغوی جنازه جائزده[7]، اونه هغوی دمسلمانانو په هدیره کې ښخول جائزدي[8]

اوکه چیرې یوکس دا وایي چې زه دهغوی دعقیدوقائل نه یم، نودهغه مذهب نه د برات اظهارکول لازم دي.دکومو چې داعقیدې دي.اودهغه خلکوتکفیرضروري دي چې

---

[1] ان القران قد طرح منه ای کثیرة (مقدمة البرهان ص : ۳۷)۔

[2] عن أبی جعفر رضی الله عنه قال : کان الناس أهل ردة بعد النبی صلی الله إلا ثلاثة ... الخ (روضه کاف ج : ۸ ص :۲۴۵)۔

[3] إعلم ان الإمامیة إتفقوا علیٰ عصمة الأئمة علیهم السلام من الذنوب صغیرها وکبیرها (بحارالأنوار ج: ۲۵ ص : ۲۰۹، طبع ایران)۔

[4] اکثر علماء شیعی را اعتقاد انست که حضرت امیر علیه السلام وسائرائمه افضل اند از پیغمبران سوای پیغمبر اخر زمان .....الخ (حق الیقین ص: ۷۰)۔

[5] ویجب إکفار الروافض فی قولهم : یرجع الاموات الی الدنیا .... وبقولهم: إن جبریل غلط فی الوحی الی محمد صلی الله علیه وسلم دون علی رضی الله عنه، وهٰؤلآء القوم خارجون عن الاسلام، واحکامهم أحکام المرتدین (الفتاوی التاتار خانیة. کتاب احکام المرتدین، فیمن یجب إکفاره من اهل البدع ج: ۵ ص: ۵۳۸، طبع إدارة القران کراچی) الرافضی إذا کان یسب الشیخین و یلعنهما ... والعیاذ بالله ... فهو کافر ..... ولو قذف عائشة رضی الله عنها بالزنا، کفرالله .... من انکر امامة ابی بکر الصدیق رضی الله عنه، فهو کافر .... ویجب إکفار الروافض فی قولهم برجعة الاموات الی الدنیا و بتناسخ الارواح، وبانتقال الارواح الاله الی الائمة. وبقولهم فی خروج امام باطن. وبتعطیلهم الامر والنهی الی ان یخرج الامام الباطن، وبقولهم : ان جبریل علیه السلام غلط فی الوحی الی محمد صلی الله علیه وسلم دون علی ابن ابی طالب رضی الله عنه وهولاء القوم خارجون عن ملة الاسلام واحکامهم احکام المرتدین کذا فی الظهیریة (الفتاوی العالمگیریة، کتاب السیر، الباب التاسع فی احکام المرتدین مطب موجبات الکفرأنواع منها مایتعلق بالإیمان والإسلام ج :۲ ص : ۲۱۴ طبع رشیدیة)۔

[6] لاتؤکل ذبیحة الروافض والقدریة کمالاتؤکل ذبیحة المرتد (الصارم المسلول ص : ۵۷۵)۔

[7] قال محمد بن یوسف الفریابی وسئل عمن شتم أبابکرقال : کافر، قیل : أیصلی علیه؟ قال : لا (أیضا)۔

[8] وإذا مات أوقتل علی ردته لم یدفن فی مقابرالمسلمین ولاأهل ملة وإنما یلقی فی حفرة کالکلب (الأشباه والنظائرج : ۱ص : ۲۹۱، کتاب السیر، باب الردة، طبع إدارة القران)۔

داسې عقيدې لري. ترڅو پورې چې هغه داسې نه کوي، هغه به هم د هغې عقيدو قائل ګڼل کيږي او د هغه انکار به تقيه[1] باندې محمول کړل شي

❖ د قرباني متفرقې مسئلې ❖

څاروی قرض اخيستو سره قرباني کول

سوال: څنګه چې د دنيا کاروبار کې مو ډيو بل نه قرض اخلو، او بيا وروسته قرض ادا کړو، آيا د غه شان قرض باندې د قرباني څاروی اخيستل جائز دي؟

جواب: جائز دي

سودي قرض سره قرباني کول

سوال: زما د ښځې وروردی، چې د کور واحد کفيل هم دی، هغه په سود باندې قرضه اخيستو سره کور او دکان جوړوي، زه هر کال د هغه سره (په غټ اخترکې) قرباني کې برخه اخلم. ايا په دې حالت کې زما د ښځې دورور قرباني جائز ده، هرکله چې هغه په سود باندې قرضه اخستې ده؟ د هغه يو اسنوکر کلب هم دی چې د روزګار همدا ذريعه ده، او د هغې ګټه زما د ښځې د ورور په وينا زياته نه کيږي، په ډيره مشکله سره ګزاره کوي، ايا د ښځې په ورور باندې قرباني واجب ده؟ سود باندې قرضې والا واقعه يوازې ماته معلومه ده، ځکه چې هغه ماته پخپله ويلي و، همدغه شان نورشريکان چې په قرباني کې برخه اخلي، چې هغوی ته زما د ښځې د ورور په سود باندې قرضې والا خبره معلومه نه ده، ايا د هغو حضراتو قرباني به جائز وی؟ زما د اوښی وينا ده چې زه به قرباني ضرور کوم، الله تعالی قبلوي او که نه. کم ازکم زما د وړوکو ورونو شوق خو به پوره شي، ځکه چې څنګه د کور خرچې چليږي هماغه شان به قرباني هم کوم، ايا د هغه قرباني يا د نورو شريکانو قرباني به صحيح شي؟ که چيرته نه نو د هغې عذاب به د چا په سروي؟ ايا دا دنيا ته ښودنه به نه وي؟ ستاسو نه ګزارش دی چې د دې جواب د قرآن او سنتو په رڼا کې زرترزره راکړئ دې له پاره چې زما اوښی د دې حرکت نه منع شي.

---

[1] شيعه ګان وائي چه په مونږ کښې څوك تقيه نه کوی هغه مسلمان نه دې. تقيه دې ته وائي چه خپل عقائد او کړه وړه له سنيانو نه پټ ساتي

جواب: قرباني په هغه سړي باندې واجب ده چې د نصاب مالک وي.[۱] له دې وجې ستاسو د اوښې په ذمه باندې قرباني لازم ده، قرباني د رضاء الهی په نیت سره کیږي، یوازې د وړوکو شوق پوره کولو په نیت باندې نه کیږي، څوک چې په قرباني سره د عبادت نیت نه لري. دهغه سره دې د قرباني برخه نه نیول کیږي .که نه شریکانو کې به دچا قرباني هم صحیح نه وي.[۲] سودي قرضه اخیستل حرام دي. داسې سړي توبه ویستل پکار دي. که چیرته هغه دهغې نه توبه ونه باسي. نو نوروته دهغه سره په قرباني کې برخه نیول نه دي پکار

قسطونو (کشتونو) باندې د قرباني چیلي

سوال: دیوځوورځونه په ټي وي(تلویزون) اواخبارونوکې دقرباني دچیلو او غواګانود بک کولو (داخیستو له پاره د پیسو جمع کولو) اشتهار راځي.پوښتنه داده چې آیا قسطونو باندې چیلي یاغوا اخیستوسره قرباني کول جائزدي اوکه ناجائز؟ مهرباني وکړئ دې مسئلې باندې رڼاواچوئ چې زمامسئله حل شي اونوروخلکوته هم شرعي حل معلوم شي.

جواب: دکوم څاروي چې تاسومالک یئ دهغې قرباني جائزده،که هغه تاسوپه نغدواخستی وي.اوکه په قرض وي اوکه په قسطونوباندې، خوداخبره یادساتل پکاردی چې یوازې څاروي بک کولو (داخیستو لپاره پیسو جمع کولو) سره تاسو دهغه مالک نه جوړیږئ.اونه بک کولوسره بیع کیږي. بلکې کومه ورځ باندې چې تاسوته ستاسودجمع کړې شوې پیسوپه بدله کې څاروی درکړل شي،هغه وخت تاسودهغه مالک شوئ.

د غریب د قرباني څاروی یوناځاپه بیمارشي نوڅه وکړي؟

سوال: زیددقرباني له پاره څاروی اخستی و،هغه دغټ اخترنه یوه ورځ مخکې دمرګ حالت ته ورسید. بیایې هغه ذبح کړ اوتقسیم یې کړ، آیا دهغه قرباني وشوه اوکه نه؟ اوزیدبالکل غریب نوکرپیشه سړی دی،هغه ددریوځلورمیاشتونه تنخوا کې پیسې جمع کولوسره دا څاروی اخیستی و.اوس ددې څاروي هلاک کیدونه وروسته هغه سره دبل څاروي اخیستو وس نه شته.اوس هغه څه وکړي؟

---

[۱] فتجب التضحية على حرمسلم مقيم موسر (الدرالمختارج : ۶ص : ۳۱۵، ۳۱۶،كتاب الأضحية)

[۲]أن لايشارك المضحى فيما يحتمل الشركة من لايريد القربة رأسا فإن شارك لم يجزعن الأضحية (بدائع ج ۵ص : ۷۱، كتاب التضحية،فصل وأماشرائط جوازإقامة الواجب)

جواب: اوس دهغه په ذمه باندې دقرباني بل څاروی اخیستل لازم نه دي، خوقرباني يې ونه شوه، او کیدای شي الله تعالی ورته دقرباني دنیت په وجه باندې ثواب ورکړي.[1]

دقرباني څاروی که چیرې داخیستو نه وروسته مړشي، نوڅه کول پکاردي؟

سوال: یوکس دنصاب مالک نه دی، هغه دغټ اخترله پاره دقرباني په نیت باندې چیلی واخیست، خودقرباني نه مخکې څاروی مړیا ورک شو، داسې صورت کې هغه کس باندې بل چیلی اخیستل او قرباني کول واجب دي اوکه نه اوکه چیرې هغه دنصاب مالک دی اوچیلې مړیاورک شي نو آیا هغه ته بل چیلی اخیستل اوقرباني کول پکاردي اوکه نه؟

جواب: که چیرې هغه باندې قرباني واجب نه ده. نودهغه په ذمه باندې بل چیلی اخیستل ضروري نه دي[2]، اوکه چیرې دنصاب مالک وي، نوبل څاروی اخیستل لازم دي.[3]

دکوم کس عقیقه چې نه وي شوې هغه قرباني کولی شي

سوال: زمونږمحله کې یومولانااوسیږي،هغه وایي چې هغه کس قرباني کولی شي،چې دهغه د کور دهر ماشوم اوغټ عقیقه شوې وي، خوزمونږکورکې دیوکس هم عقیقه نه ده شوې،ځکه چې زمونږمور وایي چې هغه به زمونږ دټولو عقیقه زمونږدواده په ورځ کوي.

جواب: دمولاناصاحب دامسئله صحیح نه ده،که عقیقه شوې وي اوکه نه،قرباني کیږي، او مسنونه عقیقه په اوومه ورځ وي،دواده په ورځ دعقیقې هیڅ شرعي حیثیت نه شته.[4]

---

[1] الفقيرإذا اشترى شاة للأضحية فسرقت فاشترى مكانها ثم وجد الأولى فعليه أن يضحى بهما ولوضلت فليس عليه أن يشترى أخرى مكانها وإن كان غنيا فعليه أن يشترى أخرى مكانها وفى الواقعات له مائتادرهم فاشترى بعشرين درهماأضحية يوم الثلاث وهلكت يوم الأربعاء وجاء يوم الخميس الأضحى ليس عليه أن يضحى لفقره يوم الأضحى (بحرالرائق ج :٨ص : ١٧٥) وأيضا : إذا انتقص نصابه يوم الأضحى سقط عنه الزكاة (البحرالرائق ج :٨ص : ١٧٥) ولواشتراها سليمة ثم تعيبت بعيب مانع فعليه إقامة غيرها مقامها إن كان غنيا، وإن كان فقيرا أجزأه ذالک (قوله إن كان فقيرا أجزأه) لأنها انما تعينت بالشراء فى حقه .... الخ (ردالمحتارعلى الدرالمختارج :٦ص :٣٢٥)۔

[2] اشترى شاة ليضحى بها فمات فى ايام الاضحية قبل ان يضحى فله ان يبيعها ومن كان غائباً عن ماله فى ايام الاضحية فهو فقير (بحر الرائق ج: ٨ ص: ١٩٩، كتاب الاضحية، طبع دارالمعرفة، بيروت)۔

[3] تیره شوی حاشیه (الفقيرإذا اشترى شاة للأضحية فسرقت فاشترى...الخ) اوګورئ۔

[4] يستحب لمن ولد له ولد ان يسميه يوم اسبوعه، ويحلق راسه ....ثم يعق عند الحلق عقيقة اباحة (ردالمحتار ج: ٦ ص: ٣٣٦، قبيل كتاب الحظر والاباحة)۔

بې خبري کې د ګډ په ځای د ګډې قرباني

سوال: مونږتیراختربانديې قرباني کړې وه.دازمونږ لومړۍ قرباني وه په دې وجه باندې مونږ دوکه شو.اوډګډ په ځای باندې مونږ ګډه راوستله.وروسته راته معلومه شوه چې داګډه نه دی ګډه ده.اوس تاسو ووایئ چې زمونږدا لومړۍ قرباني دالله تعالی په دربارکې قبوله شوه اوکه نه؟

جواب: که چیرې دهغې عمریوکال و .نوقرباني وشوه.ځکه چې د ګډ او ګډې دواړو قرباني جائزده [۱]

د حلالې وینې اوحلال مردارتشریح

سوال: دیوحدیث په نزدباندې دوه قسمه مردار حلال اودوه قسمه وینه حلاله ده.مهرباني وکړئ هغه دوه قسمه مردارخاروي اودوه قسمه وینې کومې دي،اوهغه حدیث هم ولیکئ.د الف مطابق دوه قسمه مردار(۱) کب (ماهي) (۲) مولخ،دوه قسمه وینه(۱) دقاتل وینه(۲) د مرتد وینه حلاله ده. آیا داخبره صحیح ده؟

جواب: الف. چې څنګه ویل شوي دي چې دمردارخاروي نه مراد(۱) ملخ (۲)کب (ماهي) دې، نوداخبره دهغه صحیح ده.خودمردارنه مرادحرام نه دی، بلکې ددې نه مراد دادی چې ملخ او کب (ماهي) که چیرې ژوندی ونیول شي نودادواړه دذبح کولونه بغیرهم حلال دي.ځکه که چیرې دنیولونه مخکې مړه شول نوددې خوراک جائزنه دی،بلکهې حرام دی او حدیث کې چې دوینې کوم ذکردی دهغې نه مراد(۱) ځیګر (۲) توریخې دی[۲]. زیدچې دوینې باره کې څه ویلي دي چې دواړو وینونه مراددقاتل اومرتد وینه ده،نوداغلط دي، ځکه چې ذکرشوي حدیث کې دواړه وینې تصریحاً ذکرشوي دي اودمرتداو قاتل ذکربل حدیث کې دی.دادواړه

---

[۱] وجاز الثنى من الكل والجذع من الضان .... والثنى من الضان والمعز ابن سنة والبقر ابن سنين (البحر الرائق ج: ۸ ص:۲۰۱) أيضا : الأضاحى اثنان : الجذع من الضأن إذا كان ضخما عظيما هوالذى أتى الستة أشهروالثنى من المعز... الخ (خزانة الفقه، كتاب الأضاحى، أسنان الأضاحى ص : ۲۶۵طبع مكتبه غفورية)

[۲] عن ابن عمررضى الله عنهماقال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : أحلت لنا ميتتان ودمان، الميتتان : الحوت والجراد، والدمان : الكبد والطحال (مشكوٰة ص :۳۶۱) أيضا: وفى الأصل : السمك الذى مات فى الماء بغيرافة وهوالطافى لايؤكل. ويؤكل إن مات بافة وهى ان ينحسرعنه الماء أوطفى عليٰ وجه الأرض ...... أو ربطه أحدفى الماء .... فمات يؤكل (خلاصة الفتاويٰ،كتاب الصيد ج : ۴ص : ۳۰۳طبع رشيدية)۔

مباح الدم ګرځول شوي دي. يعنی دقاتل د مقتول په بدله کې اومرتدددين بدلولوپه وجه باندې قتل کول پکار دي[۱]. دې نه دامرادنه دي چې ددې دواړو وينه حلاله ده.

د ذبح شوي څاروي د وينې د دارو شرعي حکم

سوال: دغوا اوچيلي وينه پاکه وي اوکه ناپاکه؟ زه غوښې اخيستوته ځم نودقصاب په دوکان کې دوينې وړې وړې دارې (څاڅکي) راباندې پريوځي،نوداجامې پاکې دي اوکه ناپاکې؟

جواب: په غوښه باندې چې کومه وينه لګيدلې وي، هغه پاکه ده په هغې باندې جامې نه نه پاکه کيږي. اوذبح کولووخت کې چې کومه دڅاروي درګونونه وځي هغه ناپاکه ده.[۲]

د قرباني په وينه کې پښې لندول

سوال: زموږ يوخپلوان (عزيز) چې کله قرباني کوي يادصدقې چيلی ذبح کوي،نودڅاروراښکلونه وروسته چې کله وينه راوتل شروع شي،هغې باندې پښې لندوي،دادهغه څه عقيده ده،داجائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: دغه وينه نجسه وي،اوګندګۍ باندې بدن لندول ددين اومذهب په نزدباندې عبادت نه شي کيدای،په دې وجه باندې داعقيده ګناه ده،اوداکارجائزنه دی.[۳]

د قرباني په وينه باندې ګنده شويوجاموکې لمونځ جائز نه دی

سوال: دقرباني دڅاروي وينه که چيرې جاموباندې ولګيږي، نولمونځ ورسره کيږي اوکه نه؟

جواب: دقرباني دڅاروي بهيدونکې وينه هماغه شان ناپاکه ده، څنګه چې دبل څاروي وي، که چيرې دوينې معمولي دارې (څاڅکي) وی چې هغه مجموعی طورباندې دانګريزي روپۍ نه کمې وي. نولمونځ به وشي، که نه. نه کيږي.[۴]

---

[۱] عن أبي أمامة ....لايحل دم امرئ مسلم إلا بإحدى ثلاث .....أوكفربعد إسلام أوقتل نفس بغيرحق فقتل به (مشكوٰة ص : ۳۰۱، كتاب القصاص، الفصل الثاني)ـ

[۲] مالزق من الدم السائل باللحم فهونجس، ومابقي في اللحم والعروق من الدم الغيرالسائل فليس بنجس، والأصل ان النجس من الدم ماكان مسفوحا (حلبى كبير، كتاب الطهارة ص : ۱۹۵طبع سهيل اكيدمي)ـ

[۳] ايضاًـ

[۴] قدرالدرهم ومادونه من النجس المغلظ كالدم والبول......جازت الصلاة معه وإن زاد لم تجز... الخ (الهداية مع فتح القديرج : ۱ص : ۱۴۰، باب الأنجاس وتطهيرها، طبع دارصادربيروت)ـ

دمرۍ نه پرته چې کومه وينه غوښې پورې لګيدلې وي. هغه ناپاکه نه وي [1]

د قربانۍ د څاروی د وازدې نه صابون جوړول جائزدي

سوال: دقرباني دچیلی دوازدې نه که څوک کورکې صابون جوړکړي نو آیا داجائزدی؟ که چیرې ګناه ده نودديې کفاره څه ده او که معلومه نه وي نوداګناه ده؟

جواب: دقرباني دڅاروي دوازدې نه صابون جوړول جائزدي. هيڅ ګناه نه شته [2]

❖ عقیقه ❖

دعقیقې اهمیت

سوال: اسلام کې دعقیقې څه اهمیت دی؟ اوکه چیرې یوکس دعقیقې کولونه پرته مړشي، نودهغه باره کې څه حکم دی؟

جواب: عقیقه سنت ده، که چیرې وس وي نوضرورکول پکاردي، اوکه ویې نه کړئ نوګناه نه شته.یوازې دعقیقې دثواب نه محرومي ده. [3]

دعقیقې عمل واجب دی که سنت؟

سوال: دماشوم پیداکیدونه وروسته چې کومه عقیقه کیږی اوچیلی صدقه کیږی داعمل سنت دی اوکه واجب؟

جواب: عقیقه سنت ده[4]،خوددې وخت معلوم دی،اوومه ورځ،یاڅوارلسمه ورځ یایویشتمه ورځ،له دې نه وروسته ددې حیثیت نفل شي. [5]

---

[1] ایضاً پورتنۍ حواله۔

[2] ويتصدق بجلدها لأنه جزء منها أويعمل منه الة تستعمل فى البيت كالنطع والجراب والغربال ونحوها....... واللحم بمنزلة الجلدفى الصحيح (هداية، كتاب الأضحية ج :۴ص : ۴۴۸، طبع شركت علمية ملتان)۔

[3] يستحب لمن ولد له ولدا أن يسميه يوم اسبوعه، ويحلق رأسه ويتصدق عند الأئمة الثلاثة .....ثم يعق عندالحلق عقيقة إباحة على مافى الجامع المحبوبى، أوتطوعا .... وسنها الشافعى وأحمد سنة مؤكدة ... الخ (ردالمحتار، كتاب الأضحية ج : ۶ص :۳۳۶، قبيل كتاب الحظروالإباحة)۔

[4] قال محمد العقيقة سنة، فمن شاء فعل ومن شاء لم يفعل (عالمگیری ج :۵ص : ۳۶۴)۔

[5] عن بريدة أن النبى صلى الله عليه وسلم قال : العقيقة تذبح لسبع أو أربع عشرة، أوإحدى وعشرين رواه الطبرانى فى الصغيروالأوسط (مجمع الزوائد ج :۴ص : ۶۵طبع دارالكتب العلمية)۔

د بالغې انجیلې یا هلک عقیقه او ویښته کټ کول ضروري نه دي

سوال: عقیقه د کوم عمرپورې کیدای شي.بالغ سړی او ښځه خپله عقیقه پخپله باندې کولی شي یا یوازې مور وپلار یې کولی شي؟ دغه جینکو یا بالغو ښځو په عقیقه کې ویښته پریکول پکاردي او که نه؟ که وي نو د کوم حد پورې ویښته کټ کول پکاردي او کومه طریقه باندې؟

جواب: عقیقه سنت ده، ددې په وجه باندې د ماشوم نه تکلیفونه لرې شي. سنت داده چې په اوومه ورځ باندې د ماشوم د سرویښته کټ کړل شي،او دهغې دوزن مطابق سپین زر صدقه کړل شي.او د هلک له پاره دوه چیلي او د جینۍ له پاره یو چیلی صدقه کړل شي او هم هغه ورځ باندې د ماشوم نوم هم کیښودل شي.که چیرې گنجائش وي او په اوومه ورځ باندې عقیقه ونه کړل شي، نو وروسته دې وکړي، خو د اوومې ورځ نه وروسته دفقهاوو د قول مطابق یې هغه حیثیت پاتې نه شي. دغټ عمر د هلکانو او جینکو د عقیقې کولو ضرورت نه شته او نه د عقیقې له پاره دهغوی د ویښتو کټ کول پکاردي.[1]

د عقیقې د څاروي قیمت صدقه کولو سره د عقیقې سنت نه اداکیږي

سوال: آیا د ماشومې د عقیقې له پاره د اخستل شوي چیلي پیسې که یو محتاج او غریب خپلوان (عزیز) ته ورکړل شي، نو د عقیقې سنت به اداشي؟

جواب: دې سره سنت نه اداکیږي.خو د صدقې کولو او د صله رحمۍ ثواب به ورته ملاؤشي.[2]

د ماشومانو عقیقه مور د خپلې تنخوا نه کولی شي

سوال: مور او پلار دواړه گټه کوي.د پلار په تنخواه باندې د کور ضرورتونه پوره کیږي.او د مور ټوله تنخوا بچت وي.او هغه ټوله جمع کیږي،نو آیا مور د خپلې تنخوا نه د خپلو بچیو عقیقه کولی شي؟ په نورو الفاظو کې آیا د بچیو عقیقه د مور په گټه باندې کیدای

---

[1] عن یوسف بن ماهل انهم دخلوا علیٰ حفصة بنت عبدالرحمٰن فسألوها عن العقیقة فأخبرتهم أن عائشة أخبرتها أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أمرهم عن الغلام شاتان مکافئتان وعن الجاریة شاة (سنن ترمذی، أبواب الأضاحی، باب ماجاء فی العقیقة ج :١ص : ١٨٣) أیضا : وعن سمرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : الغلام مرتهن بعقیقته تذبح عنه یوم السابع ویحلق راسه ویسمی وفی روایة أم کرز انها سألت النبی صلی الله علیه وسلم عن العقیقة فقال : عن الغلام شاتان وعن الجاریة شاة واحدة .... والإختیارأن تؤخرعن البلوغ فإن آخرت عن البلوغ سقطت عمن یرید أن یعق عنه (فتح الباری ج : ٩ص :٥٩٣ تا ٥٩٥)_

[2] لوتصدق بعین الشاة أوقیمتها لایجزیه لأن الوجوب تعلق بالإراقة .... الخ (بدائع ج : ٥ص : ٦٦)_

شي. او پلار يې ژوندې دی او ګټه کوي او دکورخرچې کوي. اميدلرم چې د دواړو سوالونو جوابونه به دقرآن او سنت په رڼاکې راکولو سره د شکريه اداکولوموقع راکوئ!

جواب: دبچيو دعقيقې اونورې خرچې دپلارپه ذمه دي. که چيرې موريې اداکړي. نو دا دهغې خوشحالي ده اوشرعي طورباندې به عقيقه هم صحيح شي [1]

د خپلې عقيقې نه مخکې د ماشومې عقيقه کول

سوال: زماخپله عقيقه نه ده شوې نو آيا ماته دخپلې عقيقې کولونه وروسته دماشومې عقيقه کول پکاردي؟

جواب: تاسو دخپلې لورعقيقه کولی شئ[2] که چيرې ستاسوعقيقه نه ده شوې. نو څه بده خبره نه ده [3]

قرض اخيستوسره عقيقه او قرباني کول

سوال: زما مالی طاقت دومره نه دی چې زه خپله تنخوا کې دخپلو بچيوعقيقه اوقرباني وکړم. او دواړه فرض دي. آيا زه بينک نه قرضه اخيستوسره دادواړه قرضونه اداکولی شم؟ داقرض به زمادتنخوا نه کټ کيږي. ترڅوپورې چې قرضه ختمه شوې نه وي.

جواب: په طاقت لرونکي باندې قرباني واجب ده[4]. اوعقيقه سنت ده. چاسره چې ګنجائش نه وي هغه باندې نه قرباني واجب ده اونه عقيقه[5] تاسوکه سودي قرضه اخيستوسره قرباني ياعقيقه وکړئ نوتاسوبه سخت ګناهګاريئ![6]

---

[1] نفقة أولادالصغارعلى الأب لايشاركه فيها أحد، كذا فى الجوهرة (فتاوى عالمگيرى ج : ١ص: ٥٦٠) وتسن للأب من ماله العقيقة عن المولود، ولاتجب، لأن النبى صلى الله عليه وسلم فى حديث ابن عباس عق عن الحسن والحسين عليهماالسلام كبشا كبشا. وقال : مع الغلام عقيقة فاهريقوا عنه دما وأميطوا عنه الأذىٰ .... إلخ (الفقه الإسلامى وأدلته، العقيقة وأحكام المولود ج : ٣ص :٦٣٧)_

[2] قال محمد العقيقة سنة، فمن شاء فعل ومن شاء لم يفعل (عالمگيرى ج :٥ص : ٣٦٤ طبع رشيديه)_

[3] فإن آخرت عن البلوغ سقطت عمن كان يريدأن يعق عنه لكن إن أراد أن يعق عن نفسه فعل ونقل فى البويطى أنه لايعق عن كبير....الخ (فتح البارى ج :٩ ص : ٥٩٥، طبع نشرالكتب الإسلامية)_

[4] إتفق الفقهاء على أن المطالب بالأضحية وهوالمسلم الحرالبالغ العاقل المقيم المستطيع (الفقه الإسلامى وأدلته، الباب الثامن، الأضحية والعقيقة ج : ٣ص : ٦٠٣) أيضا : وشرائطها الإسلام والإقامة واليسار (الدرالمختارج :٦ص : ٣١٢، كتاب الأضحيه)_

[5] وتسن للأب من ماله العقيقة عن المولود ولاتجب (الفقه الإسلامى وأدلته، ج: ٣ص : ٦٣٧طبع دارالفكر)

[6] عن جابرقال : لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم اكل الرباوموكله وكاتبه وشاهديه، وقال هم سواء رواه مسلم (مشكوٰة ص : ٢٤٤، باب الربا، الفصل الأول)_

عقيقه د شتمن په ذمه ده او که د غريب په ذمه هم

سوال: عقيقه سنت ده او که فرض.او په غريب باندې ده که مالدارو باندې ده،او که چيرې غريب باندې ضروري وي او غريب طاقت نه لري نو د غريب له پاره څه حکم دى؟

جواب: عقيقه سنت ده،که چيرې همت وي نو اودې کړي.که نه ، گناه نه شته.[1]

د غريب سړي بچي که چيرې د عقيقې نه پرته مړه شول نو څه وکړي؟

سوال: که چيرې د غريب سړي بچى د دوه يا څلورکلونو عمر کې مړه شي،نو د هغوى عقيقه هم ضروري وي؟

جواب: نه![2]

لس کيلو قيمه راغوښتلو سره د عقيقې دعوت کول

سوال: آيا لس کيلو قيمه راغوښتلو سره خپلوان (عزيز) دعقيقې دعوت يا صدقې له پاره(ځکه چې داوومې ورځ نه وروسته ده) نيت وکړل شي نو داسې به عقيقه وشي او که نه؟

جواب: نه![3]

د خپلوانو(عزيزانو) خبر اخيستو باندې خرچې ته عقيقه باندې ترجيح ورکول

سوال: زما اته بچي دي، هغې کې ددريو عقيقه مې کړې ده، دپاتې پنځو بچيو(درې هلکانو.اودوه جينکو) دمالي مجبورو په وجه باندې عقيقه مې نه ده کړې، اراده مې وه چې دچانه څه پيسې قرض اخيستو سره دهغوى عقيقه وکړم، هم دې فکرکې وم چې زما يونژدې خپلوان (عزيز) دتپ دق بيمارۍ کې مبتلاشو،اوهغه دمخکې نه غريب ووخودبيمارۍ په وجه باندې يې آمدن بالکل بندشو،اوس دهغه درې بچي اويوه ښځه دهغه دبيمارۍ خرچې برداشت کوي. ددې صورت حال په وجه باندې ددې خبروضاحت غواړم.(١) دعقيقې شرعي

---

[1] ايضاً پورتنئ حوالې۔

[2] ايضاً۔

[3] عن سلمان ابن عامرالضبى قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : مع الغلام عقيقة فاهريقوا عنه دما وأميطوا عنه الأذى رواه البخارى وعن الحسن عن سمرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الغلام مرتهن بعقيقته تذبح عنه يوم السابع ويسمى ويحلق رأسه رواه احمد والترمذى وأبوداؤد والنسائى (مشكوٰة ص : ٣٦٢، باب العقيقة)۔

حیثیت څه دی؟ (۲) که عقیقې باندې خرچ کېده نو کې پیسې په خپلوان (عزیزانو) باندې خرچ کړای شي او که نه؟ دې دواړو ذمه دارو کې ترجیح کوم یو ته ورکول پکار دي. د خپلوان عزیزانو خبر ... او هغه باندې خرچې کول یا د عقیقه اداکول؟ داخو ماته معلومه ده چې د غریبو حالاته کول لازم دی او د هغې پیسې حاته ورکول نه دی پکار. آیا د عقیقې هم داحکم دی؟ (۳) آیا دا به ډېر لازم دي چې په هره ناخه طریقه باندې د پنځه ماشومانو عقیقې کولو نه د رځ سم؟

جواب: (۱) عقیقه شرعي طورباندې مستحب ده. ضروري یا واجب نه ده [۱]

(۲) په دې وجه باندې عقیقه کې خرچ کېدونکې پیسې محتاج رشته دارته ورکړئ خکه په دې حالت کې د هغه مدد کول ضروري دي. هغه ته ترجیح ورکول پکار دي

(۳) عقیقه کول واجب یالازم نه دي. او د طاقت لرلو سره عقیقه کول مستحب دي. د ثواب کار دی. نه کول یې ګناه نه ده [۲]

په کوموڅارویو باندې عقیقه جائزده؟

سوال: کوموڅارویو کې چې اووه برخې قربانئ کیږي. هغه کې اووه عقیقه هم کیدای شي؟ یې د هلک په عقیقه کې غواکیدای شي او په کوموڅارویو باندې عقیقه کیدای شي. آیا مینبه هم دې کې شامل ده؟

جواب: په کوموڅارویو باندې چې قرباني کیدای شي. هغو باندې عقیقه کول هم جائزدي[۳] مینبه هم هغو څارویوکې شامله ده. دغه شان چې کوموڅارویو کې چې اووه برخې قرباني کیدای شي هغو کې اووه برخې د عقیقې هم کیدای شي[۴]

---

[۱] يستحب لمن ولد له ولد ان يسميه يوم اسبوعه، ويحلق راسه ....ثم يعق عند الحلق عقيقة اباحة (ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۳۶) أيضا: العقيقة عن الغلام وعن الجارية، وهو ذبح شاة فى سابع الولادة. وضيافة الناس وحلق شعره مباح، لا سنة ولا واجبة، كذا فى الوجيز للكردي، وذكر محمد رحمة الله تعالى فى العقيقة: من شاء فعل ومن شاء لم يفعل. هذا يشير إلى الإباحة فيمنع كونها سنة...إلخ (الفتاوى الهندية. كتاب الكراهية. الباب الثانى ج:۵ ص:۳۶۲)۔

[۲] قال محمد العقيقة سنة. فمن شاء فعل ومن شاء لم يفعل (عالمگيرى ج :۵ص : ۳۶۴ طبع رشيديه)۔

[۳] احسنها وسنها وصفتها (أى وهى فى الجنس والسن والسلامة من العيوب) مثل الأضحية من الأنعام من الإبل والبقرة والغنم (الفقه الإسلامى وأدلته، الأضحية والعقيقة ج:۳ ص:۶۳۷، طبع دارالفكر، بيروت)۔

[۴] ولو ذبح بدنة أو بقرة عن سبعة أولاد، أو إشترك فيها جماعة جاز سواء أرادوا كلهم العقيقة أو أراد بعضهم العقيقة، وبعضهم اللحم لمالى الأضحية (إعلاء السنن. كتاب الذبائح ج:۱۷ص:۱۱۹طبع إدارة القران)

او دیو هلک په عقیقه کې پوره غوا هم حلالیدای شي[۱]

د هلک په عقیقه کې د دوه چیلو په ځای یو چیلی حلالول

سوال: یو کس که چیرې د هلک له پاره د دوه چیلو وس نه لري.نو آیا هغه د هلک په عقیقه کې یو چیلی حلالولی شي؟

جواب: د هلک په عقیقه کې دوه چیلي حلالول یا دوه برخې نیول مستحب دي[۲] خو که چیرې د دوو طاقت نه لري نو یو هم کافي دی[۳]

د هلک او انجیلی عقیقه کې څومره چیلي ورکول دي؟

سوال: د هلک او انجیلی د عقیقې له پاره څومره چیلي (ګډ وزه) پکار دي؟

جواب: هلک له پاره دوه.او انجیلی له پاره یو[۴]

د تحفې په څاروي باندې عقیقه جائز ده

سوال: آیا تحفه کې ملاؤشوی چیلی په عقیقه کې استعمالول جائز دي؟

جواب: تحفه کې ملا و شوی چیلی عقیقه کې جائز دی.

د قربانۍ په څاروي کې د عقیقې برخه نیول

سوال: آیا د قربانۍ په اختر کې د ماشومانو عقیقه هم کیدای شي او که نه؟ مثلاً: یوې غوا اخستو سره یوه برخه قرباني او پاتې شپږ برخې د څلور بچیو (دوه هلکانو او دوه جینکو) عقیقه کیدای شي؟

جواب: د قرباني په څاروي کې د عقیقې برخې نیول کیدای شي.[۵]

---

[۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من ولد له غلام فليعق عنه من الإبل أوالبقرأوالغنم دليل على جوازالعقيقة ببقرة كاملة، أوبدنة كذالک (فتح البارى، كتاب العقيقة، باب إماطة الأذى عن الصبى فى العقيقة ج :٩ص : ٥٩٣، وكذا فى إعلاء السنن، كتاب الذبائح ج :١٧ص : ١١٧، طبع إدارة القران كراچي)۔

[۲] وفى رواية أم كرزسألت النبى صلى الله عليه وسلم عن العقيقة فقال:عن الغلام شاتان (فتح البارى ج:٩ص:٥٩٢)

[۳] وعن على ابن ابى طالب ررضى الله عنه قال : عق رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الحسن بشاة (مشكوٰة ص : ٣٦٢)۔

[۴] وفى رواية أم كرزسألت النبى صلى الله عليه وسلم عن العقيقة فقال : عن الغلام شاتان، وعن الجارية شاة واحدة (فتح البارى ج : ٩ص : ٥٩٢، طبع دار نشرالكتب الإسلامية لاهور)۔

[۵] ....وكذالک إن أراد بعضهم العقيقة عن ولد ولد له من قبل (بدائع الصنائع ج : ٥ص : ٧٢، طبع سعيد)

د عقیقې باره کې د څلورو اماما نو مسلک

سوال: دعقیقې په سلسله کې ستاسو دجواب داجمله په کومو خارویو کې چې دقربانۍ اووه برخې کیدای شي هغو کې دعقیقې اووه برخې هم کیدای شي اختلافي مسئله بیانوي دې سلسله کې خواست دی چې ددې تائیدکې دقرآن کریم اواحادیث نبوی ﷺ په رڼاکې شرعي دلیلونه پیش کړئ دځینې عالمانو په نزدباندې داووه ماشومانو په عقیقه کې یوه غوا یا مینبه ذبح کول صحیح نه دي دلته یوڅو اخستل شوې خبرې پیش کوم.

دغوا اومیښې قرباني صحیح نه ده ترڅوچې هغه د دوه کالونه شي. اودریم کال کې داخل شوي نه وي. دغه شان اوښ حلالول هم جائزنه دي تردې پورې چې هغه دپنځوکالوشوی نه وي اوشپږم کال کې داخل شوی نه وي، عقیقه کې شریکوالی صحیح نه دی، څنګه چې اوښ کې اووه خلک کوي. ځکه که چیرې دې کې شریکوالی صحیح وي نومولود باندې ..اراقة الدم.. مقصدنه حاصلیږي اوداحلاله دمولوددطرف نه فدیه وي. داصحیح دی چې دچیلي یا ګډپه بدله کې اوښ یاغوا حلاله کړل شي. په دې شرط باندې چې داحلاله دیوماشوم له پاره دیوخاروي وي. امام ابن قیم رحمه الله دانس بن مالک رضی الله عنه نه نقل کړي دي چې هغوی دخپل بچي حلاله عقیقه، په یوخاروي باندې کړې وه اود ابی بکرة رضی الله عنه نه روایت دی چې هغوی دخپل بچي عبدالرحمن په عقیقه کې یوخاروی حلال کړی واودبصرې اوسیدونکوته یې دعوت یې کړی و اوجعفربن محمد دخپل پلارنه روایت کړی دی چې فاطمه رضی الله عنها دحسن اوحسین رضی الله عنهما له پاره یویوګډذبح کړی و. دامام مالک رحمه الله قول دی چې عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما دخپلو دواړوهلکانو اوجینکو له پاره عقیقه وکړه. دهربچي له پاره یویو چیلی. امام ابوداؤد رحمه الله په خپل سنن کې دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ دحسن اوحسین رضی الله عنهما عقیقه په یویوګډباندې کړې وه. امام احمد رحمه الله اوامام ترمذي رحمه الله دام کرزکعبیه نه روایت کړی دی چې هغوی دحضور ﷺ نه دعقیقې باره کې پوښتنه وکړه. حضور ﷺ وفرمایل هلک باندې دوه چیلي اوانجیلۍ له پاره یوچیلی. ابن ابی شیبه رحمه الله دحضرت عائشه رضی الله عنها حدیث روایت کړی دی چې موږته حضور ﷺ حکم وکړ چې مونږهلکانوباندې دوه چیلوسره عقیقه و کړواوانجیلۍ باندې یوچیلي سره. ددې ټولواحادیثوپه رڼاکې جمهورعالمان سلف اوخلف عمل اوفتوا همداده چې دګډیاچیلي نه پرته بل خاروي باندې عقیقه کول دسنت نه ثابت اوصحیح نه دي خوکومو وروستنیو عالمانو چې اوښ یاغواباندې دعقیقې کولواجازه ورکړې ده. دهغوی دلیل دابن منذر رضی الله عنه هغه روایت دې کوم کې چې درسول الله ﷺ نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي، هرماشوم باندې عقیقه ده. هغه باندې وینه وبهیوئ **(مع الغلام عقیقة فاهریقوا عنه دماً)** چونکې دې حدیث کې حضور ﷺ لفظ ``دم،، نه بلکې ``دما،، فرمایلي دي ددې حدیث نه داسې ښکاري چې

ماشوم باندې د ګډ، چیلي. اوښ اوغوا ذبح کولو اجازه اورخصت شته. خوافضل دادی چې درسول الله ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم په اتباع کې یوازې ګډیاچیلي سره عقیقه وکړل شي. والله اعلم بالصواب

داتېول تفصیل کتاب **تحفة المودود فی احکام المولود** لابن القیم الجوزیه اور **تربیة الاولاد فی الاسلام الجزالاول**. مصنفه الاستاذالشیخ عبدالله ناصح علوان طبع ۱۹۸۱ء ص ۹۸ مطبع دارالسلام

للطباعة والنشروالتوزیع. حلب وبیروت وغیره کې کتل کیدای شي.

جواب: ستاسو داوږد خط باره کې یو څو خواستونه دي

لومړی تاسو لیکلي دي چې دعقیقې په سلسله کې داجمله... اختلافی مسئله کې بحث کوئ

نوښکاره خبره ده چې فروعي مسئلوکې داماماڼو اوفقهاوو اختلآفات دي. اوچیرته په مشکله باندې به فروعي مسئله داسې وی چې دهغې په تفصیلاتو کې څه اختلاف نه وي. کومه مسئله چې هم ولیکل شي دهغې باره کې به دااشکال وي، چې داخو اختلافی مسئله ده. تاسوته به معلومه وي چې زه دحنفی فقې مطابق مسئلې لیکم اوکه چیرې دسوال کونکي له طرف نه دااشاره وي چې هغه بل مسلک سره تعلق ساتي، نودهغه دفقهي مذهب مطابق جواب ورکوم.

دویم تاسو ویلي دي چې زه راتلونکي شمارې کې ددې په تائیدکې دقرآن اوحدیث په رڼا کې دلیلونه پیش کړم. زه دسوالونوپه جوابونو کې ددلیلونوبحث قصداً نه کوم. ځکه چې دعوامو ضرورت دادې چې هغوی ته منقح (صفا) مسئله وښودل شي. دد لیلونوبحث دعالمانو کاردی.

دریم تاسوچې دحافظ ابن قیم رحمه الله دکتاب نه کوم اقتباسات نقل کړي دي هغه کې دوه مسئلو باندې بحث شوی دی. یوه داچې آیا ډګډیا چیلی نه پرته بل څاروي باندې عقیقه کول صحیح دي اوکه نه؟ تاسولیکلي دي چې:

ددې تولواحادیثوپه رڼاکې دجمهورعالمانوسلف اوخلف همداعمل اوفتوا ده چې ډګډ او چیلي نه پرته بل څاروي باندې دعقیقې سنت ثابت اوصحیح نه دي.

ترڅو پورې چې زما دمعلوماتو تعلق دی، نو څلور واړه مذهبونه دې باندې متفق دي چې اوښ او غوا باندې عقیقه صحیح ده. د احنافو فتوا خوما مخکې لیکلې ده. دنورو مذهبونو تصریحات دادي:

فقه شافعي

امام نووي رحمه الله شرح مهذب کې ليکي

المجزئ في العقيقة هو المجزئ في الاضحية. فلا تجزئ دون الجذعة من الضان. او الثنية من المعز والابل والبقر. هذا هو الصحيح المشهور. وبه قطع الجمهور. وفيه وجه حكاه الماوردي وغيره انه يجزئ دون جذعة الضان، وثنية المعز، والمذهب الاول. (شرح مهذب ص ۴۲۹ ج۸)

ترجمه: عقيقه کې هماغه څاروي کفايت کوی کوم چې قرباني کې کفايت کوي. په دې وجه باندې د جذعه نه کم عمرګډه، اوثني (دوه غاښونو)نه دکم عمرچيلي. اوښ اوغوا جائزنه دي. هم داصحيح اومشهور روايت دی. اوجمهورو دا قطعي اخيستی دی.

دې کې يوبل روايت دی. کوم چې ماوردي وغيره نقل کړې دې. چې هغې کې دجذعه نه کم عمر والا ګډه او ګډه اود دوؤغاښونونه دکم عمرچيلي هم جائزدي. خومذهب په لومړي روايت باندې دی

فقه مالکي

شرح مختصر الجليل کې دی ابن رشد. **ظاهر سماع اشهب ان البقر تجزئ ايضاً في ذلک وهو اظهر قياساً على الضحايا.** (مواهب الجليل ص ۲۶۶ ج ۳)

ابن رشد وايي چې داشهب ښکاره سماع داده چې عقيقه کې غواهم کفايت کوي. او همدا ښکاره ده. قربانيو باندې قياس کولو سره.

فقه حنبلي

الروض المربع کې دی:

وحکمها فيما يجزی ويستحب ويکره کالاضحية الا انه لايجزئ فيها شرک في دم، فلا تجزئ بدنة ولا بقرة الا کاملة. (بحواله اوجزالمسالک ص۲۱۸، ج۹ شائع کرده مکتبه امداديه مکه مکرمه)

عقيقه کې کوم کوم څاروی جائزدی؟ اوکوم کوم کارونه مستحب دي؟ اوکوم کوم مکروه دي؟ دې ټولوکارونوکې دعقيقې حکم دقرباني په شان دی، يوازې داچې دې کې څاروي کې شرکت جائز نه دې. که چيرې عقيقه کې غټ څاروی ذبح کړل شي، نو پوره يوڅاروی هم ديوله طرف نه ذبح کول دي.

ددې فقهي حوالونه معلومه شوه چې څلورواړه مذهبه دې باندې متفق دي چې دګډاوچيلي په شان غواباندې هم عقيقه جائزده. اوداهم معلومه شوه چې اکثرحکمونوکې

هم د دې د قرباني کولو حکم دی. او د جمهور عالمانو هم دا قول دی. ابن رشد رحمه الله په بداية المجتهد کې ليکي

جمهور العلماء على انه لا يجوز فى العقيقة الا ما يجوز فى الضحايا من الازواج الثمانية. (بداية المجتهد ص ۳۳۹ مکتبه علميه لاهور)

ترجمه جمهور عالمان دې باندې متفق دي چې عقيقه کې يوازې هغه اته جوړې جائزدي کوم چې قرباني کې جائزوي.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي **والجمهور على اجزاء الابل والبقر ايضاً. وفيه حديث عند الطبراني وابي الشيخ عن انس رفعه. يعق عنه من الابل والبقر والغنم. ونص احمد على اشتراط كاملة. وذكر الرافعي بحثاً انها تتادى بالسبع كما فى الاضحية والله اعلم.** (فتح البارى ص ۵۹۳ ج ۹. دارنشر الكتب الاسلاميه لاهور)

ترجمه جمهور ددې قائل دي چې عقيقه کې اوښ او غواهم جائزدي، او دې کې طبراني او ابوالشيخ د حضرت انس رضي الله عنه نه مرفوع روايت نقل کړی دی چې د ماشوم له طرف نه داوښ. غوا او چيلي عقيقه کيدای شي او امام احمد رحمه الله تصريح کړې ده چې پوره څاروی شرط دی او رافع د بحث په طور باندې ذکر کړي دي چې عقيقه به د غټ څاروي په اوومه برخه هم وشي. څنګه چې قرباني وي والله اعلم

دويمه مسئله داده چې غټ څاروي کې دعقيقې اووه برخې کيدائی شي. دې کې د امام احمد رحمه الله اختلاف دی. څنګه چې پورته دحوالونه معلومه شوه. هغه فرمايي که چيرې داوښ يا غوا عقيقه کول وي، نو پوره څاروی پکاردی. هغه کې شريکوالی صحيح نه دی، د امام شافعی رحمه الله په نزد باندې شراکت صحيح دی.

په شرح مهذب کې دي **ولو ذبح بقرة او بدنة عن سبعة اولاد او اشترك فيها جماعة جائز.** (ص ۴۲۹ ج ۸)

ترجمه اوذبح يې کړ اوښ يا غوا داووه بچيوله طرف نه. يا هغې کې يوه ډله شريکه شوه نوجائزدی د احنافو په نزد باندې هم شراکت جائزدی. مفتی کفايت الله صاحب رحمه الله ليکي

يوه غوا کې دعقيقې اووه برخې کيدای شي څنګه چې دقربانئ اووه برخې کيدای شي (کفاية المفتى ص ۲۶۳ ج ۸)

تاسو چې په سوال کې ليکلي چې او دا جمله: "عقيقه کې اشتراک صحيح نه دی. څنګه چې اووه کسان په اوښ کې شرکت کوي. ځکه که چيرې دې کې اشتراک صحيح وي. نو مولود باندې داراقة الدم مقصد نه حاصليږي،،

دا استدال قابل توجه دی.ځکه چې قرباني کې هم اراقة الدم مقصدوي. څنګه چې دنبي کريم ﷺ حديث کې ددې تصريح ده

عن عائشه رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ ماعمل ابن آدم من عمل يوم النحراحب الى الله من اهراق الدم. الحديث. (رواه الترمذی وابن ماجه.مشکوة ص۱۲۸)

ترجمه: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې دقرباني په ورځ باندې دابن آدم يو عمل هم الله تعالى ته دوينې بهولونه زيات محبوب نه دی.

وعن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ فی يوم الضحی.ماعمل آدمی فی هذاليوم افضل من دم يهراق الاان يكون رحماتوصل. (رواه الطبرانی فی الكبير.وفيه يحيى بن الحسن الخشنی وهوضعيف، وقد وثقه جماعة.مجمع الزوائدص۱۸ج ٤)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ دقربانۍ دورځې باره کې وفرمايل چې: دې ورځ باندې دانسان يو عمل هم وينې بهولو (يعنی قرباني کولو) نه غوره نه دې.خو يوازې دا که څوک صله رحمي وکړي.

چونکې دقربانۍ نه اصل مقصد ''اراقة الدم'' دی په دې وجه باندې دقرباني دغوښې صدقه کولو دچاپه نزدباندې هم ضروری نه دې.که په خپله خوري اوکه دوستانو او خپلوانو (عزيزانو) باندې خوري.بياهم قرباني صحيح ده.

نوکله چې دقرباني نه مقصدصرف اراقة الدّم دی.اوهغې کې شرکت جائزدی. نوعقيقه کې شرکت کولوسره هم داراقة الدم مضمون نه فوت کيږي.اوکله چې قرباني کې شرکت جائزدې نوعقيقه کې هم اولى درجه سره جائزدی. ځکه چې دعقيقې حيثيت دقرباني نه کم دی.اعلى شي کې خوشريعت شرکت جائزکړی دی. نودهغې نه کمزوري کې به اولى درجې سره شرکت جائزوي. همدغه وجه ده چې دفقهې ټول امامان عقيقه کې هم دقرباني حکمونه جاری کوي.

شيخ الموفق بن قدامه حنبلي رحمه الله المغنی کې ليکلي دي:

والاشبه قياسهاعلى الاضحية لانهانسيكة مشروعة غيرواجبة فاشبهت الاضحية،ولانهااشبهت فى صفاتها وسنهاوقدرهاوشروطهافاشبهتهافى مصرفها. (المغنى مع الشرح الكبيرص ١٢٤ ج ١١)

ترجمه: او ډير مشابه دادی چې داقرباني باندې قياس کړل شي. ځکه چې دا يوه قربانی ده.کومه چې مشروع ده خوواجب نه ده.نو دقرباني په شان شوه. اوداپه دې وجه باندې هم دقربانۍ په شان ده.ددې په صفاتو کې. د دې په عمر کې. د دې په مقدار کې.د دې په شرطونو کې يوشان شوه.ددې په استعمال کې هم.

ډیر عمرکې خپله عقیقه په خپله باندې کیږي که عقیقې کولو نه پرته هم قربانې جائزده؟

سوال: آیا څوک غټ عمرکې خپله عقیقه پخپله باندې کولی شي؟ که چیرې ښځه خپله عقیقه وکړي نوځومره ویښته کټ کړي؟ څه خلک وایي چې دچاعقیقه نه وي شوي. دهغه قرباني جائزنه وي. مخکې خپله عقیقه وکړئ.له هغه نه وروسته قربانۍ کوئ آیا دشریعت په نزدباندې داصحیح دی؟

جواب: عقیقه په اوومه ورځ باندې سنت ده.که وروسته کیږي نو داوومې ورځې رعایت مناسب دي[1].یعنی دپیدائش دورځی نه دې مخکې وکړل شي.مثلاً دپیدائش ورځ جمعه وه نوعقیقه به د زیارت (پنج شنبه) په ورځ وي.که په غټ عمرکې عقیقه وشي. نود ویښتو کټ کولو ضرورت نه شته[2].دچاچې عقیقه نه وي شوي، هغه قرباني کولی شي اوکه چیرې دهغه په ذمه باندې قرباني واجب ده نوقرباني کول ضروری دي،که عقیقه شوې وي اوکه نه.

دخاوند دخپلې ښځې له طرف نه عقیقه کول

سوال: دا ووایئ چې خاونددخپلې ښځې دطرف نه عقیقه کولی شي. اوکه داهم دواده نه وروسته په مورپلارباندې فرض دی چې دلورعقیقه پخپله باندې وکړي.اوهغه دلس بچیومورده.

جواب: عقیقه فرض نه. بلکې دماشوم دپیدائش په اوومه ورځ باندې عقیقه کول سنت دي[3].په دې شرط باندې چې مورپلارسره وس وي.که چیرې مورپلاریې عقیقه ونه کړه نودکولوضرورت نه شته. اود خاونددخپلې ښځې عقیقه کول کله چې هغه دلس بچیومورده. نودافضول حرکت دی.

اوومه ورځ باندې عقیقه بل ځای کول هم جائزدي

سوال: عقیقه کول آیا په اوؤه ورځوکې کول ضروري دي؟ اوچونکې دلته قطرکې خپلوان

---

[1] اوقتها: تذبح يوم سابع ولادته ويحسب يوم الولادة من السبعة فإن ولدت ليلاً حسب اليوم الذى يليه .. الخ (الفقه الإسلامي وأدلته.ج:٣ ص:٦٣٨) وعن الحسن عن سمرة بن جندب قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : الغلام مرتهن بعقيقته يذبح عنه يوم السابع ويسمى ويحلق)۔

[2] عن الحسن البصرى. إذا لم يعق عنك. فعق عن نفسك وإن كنت رجلا (إعلاء السنن، كتاب الذبائح ج :١٧ص : ١٢١ ،الفقه الإسلامي وأدلته،ج:٣ ص:٦٣٨)۔

[3] پورتنۍ حاشیه (وقتها: تذبح يوم سابع ولادته...الخ) اوګورئ)۔

(عزیزان) وغیره نه شته نو آیا مونږ دلته او سیدو سره خپل مور پلار ته لیکلی شوچې هغوی هلته پاکستان کې عقیقه وکړي

جواب: عقیقه په اوومه ورځ باندې سنت ده. اوکه چیرې اوومه ورځ باندې ونه کړل شي نو دیوقول مطابق وروسته بیا د سنت درجه نه لري اوکه چیرې وروسته کیږي نو داوومې ورځې رعایت ساتل پکاردي یعنی دماشوم دپیدائش نه یوه ورځ مخکې عقیقه کول پکاردي. مثلاً دماشوم پیدائش دجمعې په ورځ باندې شوی وي. نود راتلونکی زیارت (پنشنبې) په ورځ به عقیقه وي. پاکستان کې عقیقه کولی شئ. [1]

د ډیرو ماشومانو په یوځای باندې عقیقه کول

سوال: اکثرخلک دډیروماشومانوپه یوځای باندې عقیقه کوي. اود ماشومانودپیدائش ورځې مختلفې وي. دقرآن او سنت په رڼاکې ووایئ چې عقیقه څه شی دی؟

جواب: عقیقه دماشوم دپیدائش په اوومه ورځ باندې کول سنت دي[2]. که چیرې وس نه وي. نونه دي کول پکار. څه ګناه نه شته. دورځې درعایت ساتلو پرته هدډیروماشومانوپه یوځای باندې عقیقه کول جائزدي. خو دسنت خلاف دي. [3]

مختلفو ورځوباندې د پیداشویو ماشومانو په یوځای باندې عقیقه کول جائزدي

سوال: که چیرې په غوا عقیقه وکړل شي. نوهغې کې اووه برخې پکاردي؟ اوکه چیرې د ماشومانو دپیدائش ورځې جدا جدا وي. نویوه ورځ باندې غوا حلالول پکاردي اوکه نه؟

جواب: که په یوه ورځ باندې دټولوماشومانوعقیقه کول غواړئ نومختلف تاریخونوکې دپیداشویو ماشومانو عقیقه په یوه ورځ باندې کیدای شي. اوټول څاروي یاغوا یوځای ذبح کولی شئ یعنی جائزدي. خو مسنون عقیقه په اوومه ورځ باندې ده. [4]

---

[1] پورتنۍ حاشیه (وقتها: تذبح یوم سابع ولادته...الخ) او وروستی حاشیه (عن الحسن البصری...الخ) اوګورئ.

[2] یستحب لمن ولد له ولد ان یسمیه یوم اسبوعه. ویحلق راسه .....الخ (ردالمحتار ج: ۶ ص: ۳۳۶) أیضا: العقیقة عن الغلام وعن الجاریة...إلخ (الفتاوی الهندیة. کتاب الکراهیة. الباب الثانی ج:۵ ص:۳۶۲) وقتها: تذبح یوم سابع ولادته ویحسب یوم الولادة من السبعة...الخ (الفقه الإسلامی وأدلته.ج:۳ ص:۶۳۸) وعن الحسن عن سمرة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الغلام مرتهن بعقیقته تذبح عنه یوم السابع ویسمی ویحلق)۔

[3] ایضاً پورتنۍ حاشیه.

[4] ایضاً پورتنۍ حاشیه.

که چیرې چاته د پیدائش ورځ معلومه نه وي نو هغه عقیقه څنګه وکړي؟

سوال: ویل کیږي چې عقیقه په اوومه ورځ باندې کول پکاردي. که چیرې څوک خپله عقیقه کول غواړي او هغه نه د خپل پیدائش ورځ معلومه نه وي نو هغه څه وکړي؟

جواب: اوومه ورځ باندې عقیقه کول اتفاق سره مستحب دي. دغه شان دازقطني کې دیروایت مطابق په څوارلسمه ورځ باندې هم مستحب ده. اودامام ترمذی رحمه الله نقل کړی یوروایت مطابق که چا دې دوه ورځوکې عقیقه اونه کړه نویوویشتمه ورځ باندې هم مستحب ده. په هرحال که چیرې یوکس په اوومې ورځ. څوارلسمې ورځ اویویشتمې ورځ نه پرته عقیقه کول غواړي. نوعقیقه خو به وشي. خودهغې ثواب اواستحباب چې اوومه ورځ. څوارلسمه ورځ یایویشتمه ورځ باندې دکولو دې هغه به حاصل نه شي. که چیرې وروسته کیږي نو داوومې ورځ رعایت ساتل بهتردي. که یادنه وي نو هیڅ خبره نه ده.[1]

د عقیقې په وخت کې د ماشوم د سر ویښته کټ کول

سوال: آیا دعقیقې په وخت کې دماشوم دسرویښته کټ کول ضروري دي. کله چې څلورمیاشتې وروسته عقیقه کیږي؟

جواب: اوومه ورځ باندې ویښته کټ کول اوعقیقه کول سنت دي. که چیرې عقیقه ونه کړه نو ویښتهٔ یې کټ کړئ اوبیاوروسته دخاروي ذبح کولووخت کې دویښتوکټ کولوضرورت نه شته.[2]

د عقیقې غوښه د مورپلار د پاره استعمالول جائزدي

سوال: دخپل اولاددعقیقې غوښه مورپلارته خوړل جائزدي اوکه نه. اوکه هغې غوښه کې څه ګډولو سره وخوړل شي یاکه چیرې بالکل ونه خوړل شي. نودمورپلارله پاره ولې منع ده

---

[1] عن سمرة بن جندب رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الغلام مرتهن بعقيقته يذبح عنه يوم السابع ويسمى ويحلق قال الإمام الترمذي: والعمل على هذا عند أهل العلم، يستحبون ان يذبح عن الغلام العقيقة يوم السابع، فإن لم يتهيأ يوم السابع فيوم الرابع عشر، فإن لم يتهيأ عق عنه إحدى وعشرين (جامع الترمذي، ابواب الاضاحي، باب ما جاء في العقيقة ج:١ص: ٢٧٨، أيضا: فتح الباري ج:٩ص: ٥٩٤)

[2] ويستحب حلق رأس المولود في اليوم السابع من ولادته وأن يسمى بعدذبح للعقيقة (الفقه الإسلامي وأدلته ج:٣ ص: ٦٤١، المبحث الثاني، أحكام المولود).

ب مور پلار د خپل اولاد په عقیقه کې د ذبح سوي څاروي غوښه نه شي خوړی؟ که چیرې داسې دی نو ولې؟

جواب: د عقیقې غوښه چې څنګه د نورو له پاره جائزه د غه شان بغیر د څه فرق نه د مور پلار له پاره هم جائزه ده[1]

د عقیقې په غوښه کې د مورپلار، او نیا نیکه برخه

سوال: د عقیقې په غوښه کې د مور پلار او نیا نیکه برخه شته؟

جواب: د عقیقې د غوښې نه دریمه برخه مسکینانو باندې تقسیمول افضل دي[2] او باقي دوه حصو کې مورپلار. نیانیکه. رور. خور او ټول خپلوان (عزیزان) خوړلی شي او که چیرې یو کس ټوله غوښه په خپلوانو (عزیزانو) کې تقسیم کړي یا هغه پخولو سره هغه خلکو باندې وخوري. نو دا هم جائز ده. په هرحال د عقیقې غوښه ټول خپلوان خوړلی شي.[3]

د اوومې ورځې نه دوروسته شوې عقیقې د غوښې حکم

سوال: مخکې ورځو کې تاسو د عقیقې باره کې لیکلي که چیرې په اووه ورځو کې عقیقه وکړل شي نو عقیقه به وي. که نه. صدقه به ګڼل کیږي (او د عقیقې مقصد به حاصل شي) دې باره کې لږشان وضاحت غواړم او هغه دا چې که چیرې اووه ورځې وروسته د عقیقې په طور باندې چیلې حلال کړل شي او دا صدقه ده نو د دې کې یوازې دغریبانو حق دی. آیا ټوله غوښه به د غریبانو له پاره وي. یا څه حصه پخپله باندې استعمالولې شی؟ څنګه چې عقیقه کې وي

جواب: اوومې ورځې نه پس چې کومه عقیقه وشي د هغې د غوښې حیثیت به هُم د عقیقې د غوښې په شان وي. زما د ذکر شوې مسئلې نه مقصد دا و چې د اوومې ورځې نه پس چې کومه عقیقه وکړل شي. د ځینې فقهاوو د قول مطابق د هغې فضیلت د عقیقې پاتې نه شي. بلکې د عامې صدقې او خیرات شي. دا مطلب نه چې د هغې ټوله غوښه صدقه کول ضروري دي.

---

[1] وهي كالضحايا يؤكل من لحمها ويتصدق منها ولا يباع شيء منها ويسن طبخها ويأكل منها أهل البيت وغيرهم في بيوتهم .... الخ (الفقه الإسلامي وأدلته، ج:۳ ص:۶۳۹، المبحث الأول، العقيقة)۔

[2] أيضا پورتنی حواله۔

[3] ايضاً پورتني حواله

د عقیقې په سلسله کې د هندوانو ځینې رسمونه کفر او شرک ته رسیږي

سوال: زموږ علاقه کې ښځې وایي که چیرې د هغوی هلک وشو. نو د هغه ویښته به خاص ځای کې کټ کوؤ او د چیلې قرباني به هلته کوو او د ماشوم د پیدا کیدونه وروسته د څو میاشتو له پاره د هغه ویښته کټ کولونه وروسته غوښه خوړل د ځان له پاره حرام ګڼي او بیا څه ورځ باندې ښځې او سړي د ډهول سره هغه ځای ته لاړشي او د سر ویښته یې کټ کړي او چیلي حلالولونه وروسته همهلته د هغه غوښه پخښه کړي او وخوري. د قرآن او حدیث په رڼا کې د دې وضاحت وکړئ!

جواب: دا د هندوانو رسم دی چې مسلمانانو کې داخل شوی دی. او چونکه دې کې د عقیدې د خرابیدو ویره ده. په دې وجه باندې دا اعتقادي بدعت دی. چې ځینې صورتونو کې کفر او شرک ته رسیږي.

د ځینې خلکو دا عقیده وي چې دا بچی فلانکي بزرګ راکړی دی، په دې وجه باندې هغوی د هغه بزرګ مزار باندې د صدقې کولو نذر ومني او د نذر پوره کولو له پاره هغه مزار ته تلو سره د ماشوم ویښته کټ کړي. هلته قرباني وکړي او نور هم ډیر بدکارونه کوي. مسلمانانو ته د داسې کارونو نه ځان ساتل پکار دي.

د حلال او حرام ځناورو مسئلې

[ښکار]

د حلال او حرام ځناورو ښکار کول

سوال: اسلام کې د ښکار اجازه شته. یعنې ځناوري هلاک کول که هغه حلال وي او که حرام، که چیرې د حلال ځناورو ښکار وکړل شي. نو هغه خوړل جائز دي او که ناجائز؟

جواب: د ښکار کولو اجازه دې شرط سره شته چې د نورو فرائضونه غافلول نه کوي[1] حرام ځناوري که چیرې نقصان ورکونکي وي، نو د هغه وژل جائز دي[2].

---

[1] حکم الصید : الإصطیاد مباح لقاصده إجماعا ... الخ (الفقه الإسلامی وادلته، ج:۳ ص:۶۹۱)۔

[2] خمس فواسق یقتلن فی الحل والحرم : الغراب، والحداة، والعقرب، والفارة، والکلب العقور (نیل الأوطار ج۵ ص : ۲۶ بحواله الفقه الإسلامی وأدلته، ج:۳ ص:۷۱۴، المبحث الثالث، مایباح اصطیاده من الحیوان)۔

که چیرې حلال ځاروی په ټوپک باندې ښکار کړل شو او مړشو.نوحلال نه دی[1].خوکه چیرې زخمي حالت کې ذبح کړل شو. نو حلال دی[2]

د نښې لګولو له پاره د ځناورو ښکار کول

سوال: کوم خلک چې دځپل شوق اونښې لګولو له پاره دمعصومو ځناورو ښکار کوی. دهغوی باره کې زمونږمذهب څه وایي؟

جواب: دحلال ځارویو ښکارجائزدی کله چې مقصدغوښه خوړل وي. خوکه یوازې لوبې یاځناوروته تکلیف رسوول مقصدوي. نوبیاجائزنه دی.[3]

د سپي د ښکارڅه حکم دی؟

سوال: زه دجمعې په ورځ باندې ستاسوکالم (مضمون) ,,ستاسومسائل اودهغې حل.. ډیرپه شوق سره لولم. او ددې لوستلوسره زمامعلوماتوکې اضافه کیږي.اودغه شان راته یوه مسئله پیښه شوې ده ددې حل راته وښایئ.زمایودوست دی هغه دښکارډیرزیات شوقي دي اوهغه ښکار د ښکاري سپي په ذریعه کوي اوزه هغه دداسې کولونه منع کوم چې داحرام دي. هغه ځنګل کې خرګوش (سوی) پسې ښکاري سپی روان کړیي. اوسپی هغه په خوله کې ونیسي او بیا پرې هغه تکبیر لوستلو سره هغه حلال کړي اوپوخ یې کړي. حالانکې داسلام په نزد باندې سپی یونجس ځناوردی. پس ددې څه فائده ورکونکې حل راته بیان کړئ اواخبارکې چاپ کړئ.کیداې شي داسې کولوسره ډیر خلک دسپی ښکارپریږدي.

جواب: ښکاري سپې ته که چیرې ښودل شوي وي اوهغه ښکارخوري نه. بلکې نیولوسره یې مالک ته راوړي اوهغه بسم الله لوستلوسره پریښودل شوی وي. نودهغه ښکارحلال دی.دکوم حد پورې چې د هغه دخولې وړلوخبره ده نوهغه وینځلوسره صفاکیدای شي. اوکه چیرې ژوندې یې راوړي. نو تکبیرلوستلوسره ذبح کول پکاردي.[4]

---

[1] لایحل صید البندقیة والعصا ..... الخ (ردالمحتار ج : ٦ص : ٤٧١، کتاب الصید)۔

[2] لوانتزع الذنب رأس الشاة وبقیت حیة تحل بالذبح بین اللبة واللحیین (الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج : ٦ص : ٣٠٨. قبیل کتاب السیر)۔

[3] وأجمع العلماء علیٰ إباحة الإصطیاد والأکل من الصید، ویکره الصید لهوا لأنه عبث .... الخ (الفقه الإسلامی وأدلته.ج:٣ ص:٦٩٢، الصید، المبحث الأول، تعریف الصید.... الخ)۔

[4] لقوله تعالی: وما علمتم من الجوارح مکلبین تعلموهن مما علمکم الله فکلوا مما امسکن علیکم.واذکروا اسم الله علیه،. الایة (سورة ٥. المائدة: ٤) وأیضا لحدیث عدی ابن حاتم: إذا أرسلت کلبک المعلم وذکرت اسم الله علیه فکل ماأمسک علیک الحدیث(الفقه الإسلامی وأدلته ج:٣ ص:٦٩٥، الصید،المبحث الأول،المطلب الأول. شروط)

ټوپک سره شوی ښکار

سوال: زموږه په علاقه کې خلک د ښکار ډیر زیات شوقیان دي. ښکاریانو د مقامي علماوو نه پوښتنه کړې ده چې که چیرته څوک ښکاري کارتوس باندي «بسم الله. الله اکبر» ویلوسره ټوپک سره په ښکارباندې ډز وکړي. او بیا هم هغه وخت ښکار طرف ته په منډې سره لاړ شي او ذبح یې کړي نو که چیرته ښکار کې هغه وخت ساه هم نه وي، نو هغه حلال دی. په دې باره کې د شریعتِ اسلامي په رڼا کې وفرمایئ چې ټوپک سره شوی ښکار په کومو حالاتو کې حلال دی؟

جواب: ټوپک وغیره سره چې کوم څناور مړشي هغه حرام دی. که چیرته یو څناور باندې یې ډز وکړ او ښکاري هغه ژوندې وموندلو نو هغه ذبح کولی شي. که نه. ټوپک باندې تکبیر ویلوسره څناور نه حلالیږي، داسې څناور حرام دی.[1]

ټوپک باندې ښکارکول

سوال: که چیرې ښکاري د ښکارکولوله پاره لاړشي او هغه سره چاړه یا چاقو نه وي او هغه تکبر لوستلوسره ډز وکړي اومرغی مړه شي نودابه حلاله وي اوکه حرامه؟

جواب: د ټوپک د ډزپه ذریعه باندې چې کوم ښاروی مړشی هغه حلال نه دی. که تکبیر لوستلوسره ډزولې نه وي شوی[2] که چیرې ژوندی ملاوشي اوهغه شرعي طورباندې ذبح کړل شي، نوبیا حلال دی.[3]

د ټوپک، لیندې، اود ښکاري سپي د ښکارشرعي حکم

سوال: حضرت مولاناشبیراحمدعثماني رحمه الله د خپل تفسیرپه سورة البقره کې د پنځمې رکوع د آیت انماحرم علیکم المیتة..... په تفسیرکې لیکي. مردارهغه دی کوم چې پخپله باندې مړشي اود ذبح کولو موقع ملاونه شي. یادشرعي طریقې خلاف ذبح کړل شي مثلاً په مرۍ ورته زوروکړل شي یاژوندی ښاروی په کاني، لینده یاټوپک باندې مړکړل شي یاځه اندام ترې کټ کړل شي داټول مردار او حرام دي. ددې په مقابله کې ځینې مفسرین داتشریح هم

---

[1] قال قاضیخان: لا یحل صید البندقة والحجر والعصا وما اشبه ذلک... الخ (رد المحتار، کتاب الصید ج:۶ ص:۴۷۱، طبع سعید کراچي)

[2] قال ابن عابدین رحمه الله: قال قاضیخان: لا یحل صید البندقة والحجر والعصا والمعراض وما اشبه ذلک (رد المحتار ج:۶ ص:۴۷۱، کتاب الصید)۔

[3] وإن أدرکه حیا ذکاه (البحر الرائق ج:۸ ص:۲۵۸، کتاب الصید)۔

کړي چې ذکوه حیوان به ذبح کولو باندې قدرت لري مثلاً وحشي ځنګلي ځناور یا مرغۍ وغیره نو دغه ذکر شوي [illegible] ښکار [illegible] بسم [illegible] ښکار کولو وخت کې که حیوان [illegible] حلال دی او دا سوال دا دی چې [illegible] ښکار [illegible] شي او شرعي طریقه باندې ذبح کړي نو په محکمه [illegible] مردار او حرام دی؟

جواب: [illegible] حیوان به ذبح کولو باندې قدرت لري نو هغه شرعي طریقه باندې ذبح کول ضروري [illegible] که حیوان د ذبح کولو نه مخکې مړ شو نو مردار دی[1] ښکار [illegible] نو [illegible] که حیوان سپی د ښودل شي دې شرط سره چې هغه سپي د طریقې ښودل شوي [illegible] سپی هغه ښکار زخمي کړي او هغه د زخم په وجه باندې مړ شي. نو هغه به د ذبح کولو نه مقام [illegible] د ښکار خوړل به حلال وي. خو که چیرې ښکاري سپي د هغه په مرۍ باندې [illegible] زخمي یې نه کړي. نو دا حلال نه دي

دغه [illegible] که چیرې د تیرې څوکې والاځه شي د ښکار طرف ته بسم الله لوستلو سره وغورځول شي د ښکار د هغه زخم په وجه باندې مړشي نو دا هم د ذبح کولو قائم مقام دی. خو که چیرې هم بسم الله لوستلو د ښکار طرف ته وغورځول شي او ښکار د هغې د زخم په وجه باندې مړ شو. نو هغه حلال نه دی[2].دغه شان لینده یا ټوپک باندې چې کوم ښکار مړ شي هغه هم حلال نه دی. خلاصه دا چې د لیندې او ټوپک حکم د همسا په شان دی.د تیرې څوکې لرونکي شي په شان نه دی.د ې باندې ښکار کړل شوی ځاروی که مړشي نو حلال نه دی

د حکومت له طرف نه پابندی لګول شویو ځناورو ښکار

سوال: د ځنګلي ځناورو په ښکار باندې حکومت پابندي لګولې ده. که چیرته څوک ښکار کړي نو هغه د حکومت د طرف نه مشکلاتو سره مخ کیږي . حدیث شریف کې خو د حلال ځناورو ښکار باندې پابندی نه شته . هم دغه شان د ځنګلاتو د طرف نه پابندي د حدیث شریف په نظر کې د هغې څه حکم دي؟ جواب را کړئ!

---

[1] ذبح شاة مريضة فتحرك أو خرج الدم حلت وإلا لا:إن لم تدر حياته عند الذبح وإن علم حياته حلت مطلقاً إن لم تتحرك ولم يخرج الدم (الدرالمختار ج : ٦ص :٣٠٨)۔

[2] قال ابن نجيم رحمه الله : (وإن أدركه حياذكاه) لقوله عليه السلام لعدي بن حاتم رضي الله عنه . إذا أرسلت كلبك فاذكر اسم الله تعالىٰ عليه فإن أمسك عليك وأدركته حيافاذبحه رواه البخاري وفي اخره عن أبي حنيفة وأبي يوسف اذا لم يقدرعلى التمكن كماذكرنا يحل وهواختياربعض المشائخ لأنه إذالم يتمكن لم يقدرعلى الأصل وإن لم يدركه حتى مات اوخنقه الكلب ولم يجرحه حرم (بحرالرائق ج .٨ ص . ٢٥٨، كتاب الصيد)۔

جواب: کوم شی چې شرعاً حلال دی، هغه خو هماغسې حلال دی. که چیرته څوک داسې ښکار کوي چې د حکومت د قانون په نظر سره ممنوع دی، نو دا ښکار به شرعا حلال وي. خو د حکومت ممانعت که چیرته د مفاد عامه له پاره وي، نود قانون پابندي ضروري ده. او که چیرته دا پابندي صرف دعامو خلکو له پاره وي. مالدارو او وزیرانو له پاره نه وي، نو دا قانون غلط او ظالمانه دی.[1]

د شپې د مارغانو ښکار کول

سوال: د شپې هر ذی روح شی ارام کوي. ځینې خلک د شپې د مارغانو ښکار کوي. ځکه چې د شپې نیول اسان وي. لهذا پوښتنه داده چې د شپې هرکله چې مارغان په ونو کې خوب کوي. دهغوی نیول یا ویشتل جائز دي او که نه؟

جواب: د شپې د مارغانو ښکار کول، هغوی ته له کومې وجې تنګول دي. له دې وجې مکروه دی. والله اعلم!

❖ د وچې د ځناورو باره کې شرعي حکمونه ❖

داس، قچر او کوترې شرعي حکم

سوال: ددې ځاروؤغوښه حلاله ده او که حرام؟ دشریعت مطابق پوره وضاحت اوفرمایئ: خر، قچر او کوتره، چې کورونو کې ساتل کیږي. دځینې بزرګانو خیال دی چې ځنګلي کوترې حلالې دي او کورنۍ کوترې سیدې دي. ددې څه حقیقت دی؟ ځینې وایي چې داس غوښه حلاله ده.

جواب: خراوقچرحرام دي[2]. کوتره حلاله ده که هغه ځنګلۍ وي او که کورنۍ[3]. اوداس باره کې دامت د فقهاوو اختلاف دی. د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې حلال نه دی. د جمهور امامانو په نزدباندې حلال دی.[4]

---

[1]]حکم الصيد : الأصطياد مباح لقاصده إجماعا ..... الخ (الفقه الإسلامي وأدلته ج : ۳ص: ۶۹۱)

[2]]وأماالسنة فما روى عن خالدبن وليد رضي الله عنه انه قال : نهي رسول الله صلى الله عليه وسلم عن أكل لحوم الخيل والبغال والحمير قال أبويوسف ومحمد رحمهماالله : لايكره لحم الخيل وبه أخذالشافعي رحمه الله (بدائع ج : ۵ص : ۳۸)۔

[3]]فالمستأنس منه كالدجاج والبط والمتوحش كالحمام والفاختة والعصافير والقبج والكركي والغراب الذى يأكل الحب والزرع والعقعق ونحوها حلال بالإجماع (بدائع الصنائع ج : ۵ص : ۳۹ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[4]] وأمالحم الخيل فقد قال أبوحنيفة رضي الله عنه : يكره وقال أبويوسف ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

داس غوښه

سوال: صحيح بخاري شريف جلدنمبر ٣ صفحه نمبر ٢٥٥ نه ٢٥٢، پورې مختلفو احاديثو كې داخبره ليكل شوې ده چې حضور ﷺ داس غوښه خوړل جائزګڼلي دي. موږ ته وواييئ چې ددې احاديثو څه مطلب دی اوكه چيرې جائزدی. نو اوس په پورې عالمانودې باره كې څه ولې نه دی ويلي؟

جواب: سنن ابی داؤد ص ١٧٥. ج٢ مطبوعه كراچی كې حديث دې چې حضور ﷺ داس د غوښې نه منع كړې وه. چونكې ديوحديث نه جوازمعلوميږي اودنورونه منع معلوميږي. په دې وجه باندې دامام ابوحنيفه رحمه الله اوامام مالک رحمه الله په نزدباندې داس غوښه خوړل مكروه دي[١]. تاسوبه ددې مسئلې مخكې چيرته دعالم نه پوښتنه نه وي كړي.كه نه. درته ويلي به يې وه

آيا د ځارويود خولې زګ ناپاک دی؟

سوال: دځارويو د خولې نه چې كوم زګ راوځي دغه زګ كه د انسان په جامو يا بدن پورې ولګيږي. نو آيايوازې جامې وغيره وچيدو سره يايوازې ځنډ وهلو سره پاكيږي؟ يا دهغې وينځل ضروري دي؟

جواب: د حلالو ځارويو د خولې زګ پاك دی. اود حرامو ځارويو د خولې زګ چې ناپاك دی هغه به له اوچيدو نه وروسته پاك نه وي.[٢]

...بقيه د تيرمخ]...ومحمد: لا يكره، وبه اخذ الشافعي رحمه الله ....الخ (البدائع الصنائع ج : ٥ص : ٣٨)۔

[١] عن خالدبن وليد ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن اكل لحوم الخيل والبغال والحمير زاد حيوة وكل ذی ناب من السباع وعن جابر بن عبدالله قال : نهانا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوم خيبرعن لحوم الحمروأذن لنا فی لحوم الخيل وفی الحاشية : قوله وأذن لنافی لحوم الخيل .... إلخ قال النووی : إختلف العلماء فی إباحة لحوم الخيل فمذهب الشافعي والجمهورمن السلف والخلف انه مباح لاكراهة فيه وبه قال أحمد وإسحاق وأبويوسف ومحمد وداؤد وجماهيرالمحدثين. وكرهها طائفة منهم ابن عباس والحكم ومالک وأبوحنيفة وقال يأثم بأكله ولايسمٰی حراما، قال شيخ الإسلام العينی : احتج بهذا الحديث عطاء وابن سيرين والحسن والأسد بن يزيد وسعيد بن جبير والليث وابن المبارک والشافعي وأبو يوسف ومحمد وأحمد وأبو ثور علی جواز أكل لحم الخيل وقال أبو حنيفة ومالک والأوزاعی وأبو عبيدة يكره (سنن أبی داؤد ج:٢ ص:١٧٥، باب فی أكل لحوم الخيل)۔

[٢] إن كان سؤره طاهر فالماء طاهر وإن كان نجسا فنجس (عالمگيری ج:١ص:١٩ كتاب الطهارة، اباب الثالث)

خرګوش (سوی) حلال دی

سوال: خرګوش حرام دې اوکه حلال؟ ځینې خلک وایي چې دخرګوش شکل بالکل دمږې پشان دې. اوددې عادتونه دمږوپه شان دي یعنی په لاسونوباندې ځیزنیولوسره خوري د پښو شکل يې هم دحرامو ځارویوپه شان دی اوسوړوکې اوسیږي. په دې وجه باندې حرام دی. دې باره کې وضاحت وکړئ

جواب: خرګوش حلال دی. دحرام ځناوروسره ددې یوشان والی نه شته. دې مسئلې کې دڅلورو امامانو اختلاف نه شته.[1]

دخرې شیدې حرامې دي

سوال: نن سباچې زموږعلاقه کې دچا توخی او زکام وي،نوهغه ته دخرې دپیو (شیدو) دڅښلو مشوره ورکول کیږي اوډیرخلک داسې کوي هم.پوښتنه داده چې زموږپه مذهب کې دخرې شیدې څښل خوحرام دي. آیا ددوایي په طورباندې حلال دي؟

جواب: دخرې شیدې حرامې دي اوددوایي په طورباندې ددې استعمال صحیح نه دی.کله چې دحلالې دوایي په ذریعه باندې علاج کیدای شي.[2]

کم عمر ځاروې ذبح کول جائزدی

سوال: که کورکې چیلې اوچیلۍ ساتلې شوې وی.چې دهغوی عمرونه څلورمیاشتې اوشپږ میاشتې وی.یعنی هغه دومره غټ نه وی.چې هغه ذبح کولوسره دهغې غوښه خوړلې شی.که چیرې بیمارشی یاغلطۍ سره څه داسې ځیزاوخوری چې بیاژوندی نه شی پاتې کیدې نو آیا داسې صورت کې هغوی ذبح کول به جائزوی اوکه نه؟ضروراولیکئ.

جواب: هغوی شرعی طریقه باندې ذبح کول بغیردڅه شک نه جائزدی.[3]

---

[1] ولا بأس بأكل الأرنب لما روى عن ابن عباس رضى الله عنهما أنه قال: كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فاهدى له أعرابي أرنبه مشوية فقال لأصحابه كلوا... إلخ (بدائع الصنائع ج:٥ ص:٣٩، كتاب الذبائح والصيد، طبع ايچ ايم سعيد)

[2] وأما الحمار الأهلي فلحمه حرام وكذا لبنه وشحمه (فتاوى عالمگيري، كتاب الذبائح، الباب الثانى ج:٥ ص:٢٩٠ طبع بلوچستان بک ډپو)۔

[3] يأيها الذين امنوا أوفوا بالعقود أحلت لكم بهيمة الأنعام الا ما يتلى عليكم غير محلى الصيد وأنتم حرم، إن الله يحكم ما يريد،، (المائدة:١)، ولقوله تعالى: الله الذى جعل لكم الأنعام لتركبوا منها ومنها تأكلون،، وإسم الأنعام يقع على هذه الحيوانات بلا خلاف بين أهل اللغة (بدائع ج:٥ ص:٣٧، كتاب الذبائح والصيود)۔

د میښې وړوکې بچې ذبح کولو سره خوړل

سوال: نن سبا میښه چې بچي راوړي. په هغې کې د ماده بچې ساتنه کولې کیږي. او د نر بچې لره هم هغه وخت ذبح کولې کیږي. ځکه چې ماده بچې مخکې تللو سره فانده ورکوي. او د نربچې غوښه د ښار په هوټلونو کې پخولې کیږي. چې هغې لره مسلمانان او غیرمسلمانان خوري. وضاحت وکړئ چې دهغه غوښه خوړل جائز دی یا نه؟

جواب: دهغه د غوښې د ناجائز کیدلو هیڅ وجه نشته دې. [۱]

د دوه درې میاشتو د چیلۍ یا ګډې بچې حلالول

سوال: دحلال ځاروي مثلاً ګډ. یا ګډې بچې چې تقریباً ددوه درې میاشتو وي. دالله تعالی په نوم باندې ذبح کول جائزدي او که نه؟

جواب: که غوښه یې دخوړلو قابل وي، نوذبح کولو کې هیڅ ممانعت نه شته.

د ذبح شوي ځاروي له خیټې نه که چیرې بچې راووځي نو څه کول پکاردي؟

سوال: دغټ اختر په موقع باندې که چیرې دغوا یا چیلۍ دخیټې نه ژوندې یامړبچې راووځي نوهغه باندې څه کول پکاردي؟ ځکه چې ځینې خلک وایي که چیرې ژوندې راووځي نوذبح کولوسره استعمال کیدای شي اومړشوی وي هسې هم حلال دی.ځکه چې کوم حلال ځاروی ذبح کړل شوی وي.دهغه دخیټې نه دنجاست نه پرته چې څه راووځي هغه به حلال وي.دالله تعالی حکمونومطابق ددې مسئلې حل وفرمایئ.

جواب: بچې که چیرې ژوندې راووځي نودهغه ذبح کول صحیح دي.اوکه چیرې مړراووځي نودې کې اختلاف دی.دحضرت امام ابوحنیفهؒ په نزدباندې حلال نه دی.او دامام ابویوسفؒ او امام محمدؒ په نزدباندې حلال دی. احتیاط نه خوړلو کې دی.[۲]

---

[۱] ان تم خلق الجنين أكل وإلا فلا لقوله عليه السلام: ذكاة الجنين ذكاة امه (الفقه الحنفى وأدلته ج:٣ ص:٢٠٧)

[۲] الجنين إذا خرج حيا ولم يكن من الوقت مقدار ما يقدر على ذبحه فمات يؤكل وهذا التفريع على قول أبي يوسف ومحمد رحمهما الله لا على قول أبي حنيفة، كذا فى النهاية (عالمگيرى ج:٥ ص:٢٨٧، كتاب الذبائح. الباب الثاني)

د حشراتو خوړل

سوال: هغه چينجي وغيره چې دهغې وژل دثواب کاردی اودهغو دوژلوحکم وي. مثلاً: لړم. وينا. سپږه. جولا. چرمښکی او داسې نور...ددې نن سباسائنس دا شيان له غذائيت نه ډک ګڼي.ددې مغربي سائنس دانانومطابق دمستقبل هغه ورځ لرې نه ده چې شيدو پلورونکي په ځای به د مچانو والا ريړی اوسائيکل باندې مچان وغيره خرڅوي.اود چرګانو په ځای باندې تالونوکې چينجي خرڅيدل شروع شي. هوټل کې به هم سره شوي چينجي ياد چينجومصالحه.دجولاسوپ ملاويدل شروع شي. آيا زموږنبی سيدالمرسلين خاتم النبيين ﷺ ددې ذکرشوی شيانود خوراک اجازه ورکړې ده؟ مهرباني اوکړئ دې اهمې مسئلې باندې رڼاواچوئ؛ الله تعالى دې تاسوته دخير بدله درکړي.امين.

جواب: حشرات وغيره خوړل کله هم جائزنه دي.[۱]

خارپشت نومی ځناورخوړل جائزنه دي

سوال: صوبه سرحد کې يوځناورسريد(خارپشت. کوګ) موندل کيږي. مقامي خلک ددې ښکار کوي او ذبح کولوسره ددې غوښه خوري. ځيني خلک داحرام ګڼي اوځيني حلال تاسوته خواست دی چې شرعي طورباندې داخاروی حلال دی اوکه حرام؟

جواب: داپه حشراتو کې داخل دی اوددې خوړل حلال نه دي.[۲]

حشرات الارض وژل

سوال: جناب ؛ کله چې حشراتوباندې نظرواچول شي. نوزړه مې غواړي چې دامره کړم. بيايې دې سوچ سره چې داهم ساه لرونکي دي پريږدم. تاسو داسلام په رڼا کې ووايئ چې مونږحشرات(چې هغو کې ماراولړم هم شامل دي) دادانسان دښمنان ګڼلوسره ووژنو.يا ځناورګڼلوسره يې پريږدو؟

جواب: دخطرناکو شيانو وژل ضروري دي. مثلاً: مار.لړم.ډمبره (کته. زنبور) مچې وغيره.اودې نه پرته نورحشرات له ضرورت پرته وژل جائزنه دي.[۳]

---

[۱] وجميع الحشرات، وهوام الأرض من الفار والقنافذ واليربوع والزنبور والذباب والعنكبوت والعقرب ونحوها لا خلاف في حرمة هذه الأشياء (فتاوى عالمگيري، كتاب الذبائح، الباب الثاني في بيان ما يؤكل من الحيوان وما لا يؤكل ج:٥ ص:٢٨٩ طبع رشيديه)۔

[۲] ايضاً پورته حواله۔

[۳] والحشرات هل يباح في الشرع ابتداء من غير ايذاء وهل يثاب على قتلهم؟..[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

خطرناک ځناورا وحشرات وژل

سوال: کورونوکې چې کوم ځناورلکه جولا (جولاګك)، لال بیګ (خوبي)، کتمل، میاشې، چرمنبکی اووینا وغیره وژل کیږي؟ ځکه چې دا کورونه خرابوي؟

جواب: خطرناک ځناور اوحشرات وژل جائزدي [۱]

میاشې او مچان بجلی با ندې وژل

سوال: دمیاشو او مچانو د وژلوله پاره دلته دبجلی یوه اله استعمالیږي. هغې کې یوټیوب لائټ (ګروپ) بل وي اودهغه دپاسه یوې جالی کې بجلی وي. کله چې میاشې یامچ دهغې رڼاطرف ته دتلوکوشش کوي. نو هغوی د بجلی هغې جالی ته ورشي او دهغې بجلی په وجه باندې وسوزي اومړه شي. ددې استعمال شرعي طورباندې جائزدی؟

جواب: جائزدی. [۲]

د ځناورو د څرمنې ټوپی (خولی) استعمالول

سوال: دحرامو ځناورو دڅرمنې ټوپی. دزمري. پړانګ. میلو (شفال). ګیدړ وغیره د څرمنې نن سبا په بازارونوکې خرڅیږي. دهغې په سرول یاهغې سره لمونځ کول صحیح دي اوکه نه؟

جواب: حدیث شریف کې دي چې دهرڅاروي څرمن رنګ کولوپه وجه باندې صفا کیږي [۳] په دې وجه باندې درنګ کولو نه وروسته ددې څارویو دڅرمنو ټوپی په سرول. هغې کې لمونځ کول اودهغې اخیستل خرڅول جائز دي. خو خنزیرچونکې نجس العین دی. په دې وجه باندې دهغې څرمن رنګ کولو باندې هم نه پاکیږي. [۴]

...بقیه د تیرمخ]... قال: لا يثاب على ذلک وإن لم يوجد منه الإيذاء فأولى أن لا يتعرض بقتل شيء منه، كذا في جواهر الفتاوى (عالمگیری ج:۵ ص:۳۶۱، کتاب الذبائح، طبع بلوچستان بک دپو، مسجد رود، کوئته)

[۱] ايضاً پورتنۍ حواله.

[۲] حرقهم .... لكن جواز التحريق والتغريق مقيد، كما في شرح السير بما إذا لم يتمكنوا من الظفر بهم بدون ذلک بلا مشقة عظيمة، فإن تمكنوا بدونها فلا يجوز (رد المحتار، كتاب الجهاد ج:۴ ص:۱۲۹، طبع سعيد أيضا إمداد الفتاوي، كتاب الحظر ج:۴ ص:۲۶۳ طبع مكتبه دار العلوم كراچي)۔

[۳] عن عبد الله بن عباس رضى الله عنهما قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إذا دبغ الإهاب فقد طهر (الصحيح لمسلم ج:۱ ص:۱۵۹، باب طهارة جلود الميتة بالدباغ)۔

[۴] وكل إهاب دبغ وبشمس وهو يحتملها أي الدباغة طهر فيصلي به إلى قوله (خلا جلد الخنزير) فلا يطهر لأنه نجس العين بمعنى أن ذاته بجميع أجزائه نجسة حيا وميتا ...إلخ (رد المحتار على الدر المختار ج:۱ ص:۲۰۳، ۲۰۴)

د سپي د غابښونو هار اچول

سوال: مسئله داده چې د حنفي فقې مطابق د سپيو د غابښونو هار (اميل) جوړولو سره اچول او هار (اميل) کې لمونځ کول څنګه دي؟

جواب: د خنزير د غابښونو نه پرته د هر ځناور غابښونه پاک دي او د هغو استعمال جائز دی.[1]

د خنزير هډوکي استعمالول

سوال: آيا مونږ د خنزير هډوکي استعمالولی شو؟

جواب: د خنزير هډوکي استعمالول جائز نه دي.[2]

څاروی سخت ناروغ شي يا حادثې سره مرګ ته نژدې شي نو هغه ذبح کولو سره خوړل

سوال: که چيرته څاروی ناروغ شي او دا يقين وي چې بچ کيږي نه. يا ناڅاپه حادثه راشي. څاروی مړ شي. نو د هغه ذبح کولو سره خوړل څنګه دي؟

جواب: ذبح کول جائز دي. ځکه چې که چيرته غوښه د خوړلو قابله نه وي. نو څرمن خو به پاکه شي.[3]

که چيلۍ وغيره مړه شي، نو د هغې څرمنه ويستل څنګه دي؟

سوال: که چيرته څاروي ساتل شوي وي. لکه ميښه. غوا. ګډه. چيلۍ او داسې نور... که چيرته يو څاروی مړ شي. نو د هغه څرمنه ويستلو سره خرڅول. پيسې پخپله استعمال جائز دی او که ناجائز؟

جواب: د مردارې څرمنه هم مرداره ده. له دې وجې د هغې خرڅول جائز نه دي. څرمنه ويستلو سره که وچه کړل شي. يا رنګ کړل شي. نو پاکيږي.[4] هغه وخت يې خرڅول جائز

---

[1] وفي العيون لا بأس ببيع عظام الفيل وغيره من الميتات إلا عظم الادمي والخزير (الفتاوى الهندية ج:٣ ص:١١٥. كتاب البيوع. الباب التاسع،الفصل الخامس، طبع مكتبه رشيديه)۔

[2] ايضاً پورتنی حواله،

[3] وكل جلد يطهر بالدباغ فانه يطهر بالذكاة وما لا فلا (الجوهرة النيرة ص:١٥، كتاب الطهارة، طبع مجتبائي ديوبند)

[4] قوله كل إهاب دبغ فقد طهر ....وكل جلد يطهر بالدباغ فانه يطهر بالذكاة وما لا فلا...الخ (الجوهرة النيرة، كتاب الطهارة ص:١٥ طبع مجتبائي ديوبند)

دي.[1] اجرت ورکول سره او باسل جائز دي مګر ترڅوپورې چې رنګ نه کړل شي. ترهغې پورې يې خرڅول جائز نه دي

له خنزير پرته د نورو حرامو ځناورو رنګ شويو څرمنو نه جوړشوي شيان پاک دي

سوال: د حرامو ځناورو دڅرمنونه جوړشوي شيان مثلاً پنې (پيزار)، بيګونه ناجامې او د سې نور استعمالول جائزدي؟ اوکه جائز دي نو ولې؟

جواب: دځناوروڅرمن درنګ کولو په وجه صفاکيږي.په دې وجه باندې دڅرمنې دشيانو استعمال جائزدی.خود خنزيرڅرمن پاکه نه ده.[2]

❖ د دريابي ځناورو شرعي حکم ❖

د دريابي ځناوروحکم

سوال: زماخه دوستان په سعودي عرب کې اوسيږي، يوه ورځ په خبروکې هغوی وويل چې هغوی د سمندرنه ښکار شوي ټول ځناورحلال ګڼي اوله کراهت پرته يې خوري، موږ پاکستاني خلک کب (ماهی) او،جهينګا (يوقسم وړوکی کب) عام طورسره حلال ګڼو،او کيکړا (سرطان) واوداسې نور... ځينې خلک مکروه ګڼلو سره خوري،مهرباني وکړئ تاسوصحيح صورتحال واضح کړئ! او آيا دکبانو (ماهيانو) داسې قسمونه شته چې دهغو خوړل جائزنه دي؟

جواب: دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد دريابي ځناوروکې يوازې کب (ماهی) حلال دی، د نورو امامانوپه نزد نورځناورهم حلال دي،هغو کې ډيرزيات تفصيل دی، په دې وجه باندې به ستاسوعرب دوستان دخپل مسلک مطابق عمل کوي،دکبانو(ماهيانو) ټول قسمونه حلال دي.خوځينې شيان کبان (ماهيان) ګڼل کيږي،خو هغه په حقيقت کې کبان نه وي مثلاً جهينګې[3]

---

[1] أن كل ما فيه منفعة تحل شرعا،فإن بيعه يجوز..الخ (الفقه الإسلامی وأدلته، بيع النجس والمتنجس ج:۴ص:۴۴۶)

[2] ايضاً پورتنې حواله۔

[3] وأماالذی يعيش فی البحرفجميع مافی البحر من الحيوان محرم الأكل إلا السمک خاصة فإنه يحل أكله إلاماطفا منه وهذا قول أصحابنا رضی الله تعالیٰ عنهم وقال بعض الفقهاء وابن ابی ليلی رحمهم الله : أنه يحل أكل ماسوی السمک من الضفدع والسرطان وحية الماء وكلبه وخنزيره...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

آیا ټول دریابي ځناور حلال دي؟

سوال: څنګه چې دقرآن کریم آیت دی چې ددریابونوځناورحلال ګرځول شوي دي. خومونږ یوازې کب (ماهی) حلال ګڼو. اوسمندرکې نورهم ساه لرونکي شیان وي.

جواب: دقرآن کریم دکوم آیت چې تاسوحواله ورکړې ده، ددې مطلب دادی چې داحرام په حالت کې ددریابي ځناورونښکارحلال شوی دی. پخپله هغه ځناورحلال نه دي ګرځول شوي او ښکار دحرام ځناورو هم کیدای شي. لکه دزمرې، پړانګ او داسې نورو... ښکارکیږي. حدیث شریف کې یوازې کب (ماهی) حلال شوی دی، په دې وجه باندې مونږ یوازې کب (ماهی) حلال ګڼو (نصب الرایه ج۲ ص ۲۰۲)[۱]

دوچې اواوبو کوم ځناور حلال دي؟

سوال: داترکومه حدپورې صحیح ده چې داوبوټول ځناورحلال دي که چیرې نه دي. نوبیاکوم حلال اوکوم حرام دي؟ دغه شان دوچې کوم ځناوراومرغان حلال اوحرام دي؟ ددې څه خاص اصول شته؟

جواب: داوبوپه ځناوروکې دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدباندې یوازې کب (ماهی) حلال دی. دې نه پرته یودریابي ځناورهم حلال نه دی.[۲]

ځنګلي ځناوروکې په غابنونوباندې شلونکي ځناوراو مرغانو کې پنجوسره ښکارکونکي مرغان حرام دي او پاتې ټول حلال دي.[۳]

...بقیه د تیرمخ]...ولجوذالک لکن بالذکاة وهوقول اللیث بن سعد رحمه الله إلافی إنسان الماء وخنزیره انه لایحل. وقال الشافعی رحمه الله یحل جمیع ذالک من غیرذکاة وأخذه ذکاته ویحل أکل السمک الطافی ...الخ (بدائع،کتاب الذبائح والصیود ج : ۵ص:۳۵ طبع ایچ ایم سعید)_

[۱] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: أحلت لنا میتتان ودمان، المیتتان، الحوت والجراد.والدمان:الکبد و الطحال رواه أحمد وابن ماجة والدارقطنی (مشکوٰة ص:۳۶۱،باب مایحل أکله ومایحرم)

[۲] تیره شوې حواله (وأماالذی یعیش فی البحرفجمیع مافی البحر من الحیوان محرم الأکل إلا السمک خاصة...الخ) اوګورئ:

[۳] وأما المستأنس من السباع ...... فلا یحل وکذالک المتوحش منها المسمی بسباع الوحش والطیروهوکل ذی ناب من السباع وکل ذی مخلب من الطیر...الخ (بدائع الصنائع ج:۵ص: ۳۹، کتاب الذبائح والصیود)

جهينګا خوړل او ددې کاروبار کول

سوال: جهينګا خوړل او ددې کاروبارکول جائزدی اوکه نه؟ ځکه چې ډيرخلک ددې په خوړلو او کاروبارکولو کې مبتلا دي.

جواب: جهينګا کب (ماهی) دی او که نه؟ دا يوه اختلافي مسئله ده. کومو حضراتو چې د کب (ماهی) يوقسم ګڼلی دی هغوی يې دخوراک اجازه ورکړې ده. او احتياط دې کې دی چې ونه خوړل شي. اوس دجديد تحقيق نه دامعلومه شوه چې جهينګا کب (ماهی) نه دی. دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزدباندې دريابي ځناوروکې يوازې کب (ماهی) دخپلو ټولو قسمونوسره حلال دی. اوچونکې جهينګا کب (ماهی) نه دی په دې وجه باندې دامام اعظم رحمه الله په نزدباندې يې خوړل جائزنه دي او د دوايي په طورباندې دخوراک اوتجارت ګنجائش يې کيدای شي. ځکه چې دا اجتهادي مسئله ده. دامام شافعي رحمه الله په نزدباندې خوړل يې حلال دي. اوس مسئله داسې شوه چې جهينګا خوړل خونه دي پکار. او ددې دتجارت ګنجائش شته.[1]

جهينګا د احنافو په نزد باندې مکروه دی

سوال: جنګ کې ستاسو دمسئلو په عنوان باندې ديوې مسئلې پوښتنه شوې وه اودهغې جواب هم جنګ کې چاپ شوی و، هغه مسئله دلته ليکل کيږي. سوال اوجواب دواړه ستاسو په خدمت کې حاضردي. تاسو دمسئلې صحيح حالت باره کې ماخبرکړئ. چې تشويش مې ختم شي. اودلته چې کوم خلک په پريشاني کې مبتلا دي دهغوی پريشانی هم ختمه شي.

سوال: ۱: آيا جهينګا جائزدی؟

جواب: ۱: د کب (ماهي) نه پرته دبل دريابي ياسمندري ځناورخوړل جائزنه دي، دځينې خلکو خيال دی چې جهينګا د کب (ماهی) قسم نه دی. که دا صحيح وي نو ددې خوړل جائزنه دي. عوام په اګر. مګرباندې نه پوهيږي. آيا اوسه پورې عالمانوته ددې تحقيق نه دی شوی چې جهينګا څه شی دی ياخوصفاويل پکاردي چې داد کب (ماهی) قسم نه دی په دې وجه باندې خوړل يې جائزنه دي. اويادې خلاف. عوام دعالمانودداسې قسمه بيان په وجه باندې داسلام اومسئلونه نفرت کول شروع کړي اودعالمانودمسئلوباره کې ګول مول (اخوا ديخوا) جواب ورکول صحيح نه دي. مالغت کې وکتل نود جهينګې تعريف ديو کب (ماهی) قسم

[1] ولايحل حيوان مائی إلاالسمک غيرالطافی (الدرالمختار ج: ۶ص: ۳۰۶، طبع ايچ ايم سعيد)۔

لیکل شوی و. آیا عالمانونن پورې دا فیصله نه ده کړې چې دا د کب (ماهی) یو قسم دی او که نه. د مفتي محمد شفیع ؒ. مولانا یوسف بنوری ؒ. مولانا شبیر احمد او نورو عالمانو دې باره کې رویه څنګه وه آیا هغوی جهینګا خوړلی دی او که نه؟ او ددې باره کې یې څه فرمایلي دي؟ امید لرم چې تاسو به لږ تفصیل نه کار اخیستو سره دې مسئلې باندې رڼا واچوئ!

جواب: پوښتل شوي صورت کې د کب (ماهي) نه پرته یو دریابي ځناور هم د احنافو په نزد باندې حلال نه دی[1] د جهینګا حلت او حرمت په دې موقوف دی چې دا د کب (ماهي) یو قسم دی او که نه. د ځناورو ماهرینو د کب (ماهي) تعریف باره کې څلور شیان ذکر کړي دي (۱) د ملا هډوکی (۲) د ساه اخستلو ګلپهړې (۳) د لامبلو وزرې (۴) یخه وینه. څلورمه نښه د عام خلکو د پوهې نه ده. خو دلومړي درې نښې په جهینګا کې نه موندل هر کس مني، په دې وجه باندې د ځناورو ټول ماهران دې خبرې باندې متفق دي چې د جهینګا تعلق د کب (ماهی) سره نه دی. بلکې دا کب (ماهی) نه بالکل جدا جنس دی. او جواهر اخلاطی کې تصریح ده چې داسې واړه کبان (ماهیان) ټول مکروه تحریمی دي. هم دا صحیح ده.

حیث قال السمک الصغار کلها مکروهة التحریم هو الاصح الخ. (جواهر اخلاطی)

په دې وجه باندې د احنافو په نزد باندې جهینګا مکروه دی.

د اوبو سرته د راپورته شویو مړو کبانو (ماهیانو) حکم

سوال: آیا هغه کبان (ماهیان) حلال دي چې مړه کیدو سره د اوبو سرته راشي، یا د سیند په غاړه باندې مړه وموندل شي. اوغټ کبان (ماهیان) چې مړه کیدو سره د سیند غاړې ته راشي. نو خلک د هغې غوښه. تیل او هډوکي استعمالوي. آیا دا جائز دی؟

جواب: کوم کب (ماهی) چې د مرګ نه وروسته د اوبو د پاسه چپه واوړي هغه حلال نه دی[2] او کوم چې په غاړه باندې پراته وي که چیرې هغو بوی نه وي کړی، نو حلال دي.[3]

---

[1] ولایحل اکل ما فی الماء إلا السمک ....الخ (خلاصة الفتاوی، کتاب الصیدج : ۴ص: ۳۰۳ طبع رشیدیة) ایضا: ولایحل حیوان مائی إلا السمک (درمختارج :۶ص :۳۰۶، کتاب الذبائح، طبع سعید کراچی)۔

[2] ولایحل أکل ما فی الماء إلا السمک (غیر الطافی) علیٰ وجه الماء الذی مات حتف انفه وهوما بطنه من فوق (الدر المختار، کتاب الذبائح ج : ۶ص : ۳۰۶ طبع ایچ ایم سعید)۔

[3] ولو متولدا فی ماء نجس .....بان تحمل السمکة علی مااذا لم تنتن (ایضا)۔

کیکړا (سرطان) حلال نه دی

سوال: کیکړا (سرطان) خوړل حرام دي که حلال؟

جواب: کیکړا حلال نه ده [1]

د شمشتی هګۍ حرامې دي

سوال: اوریدلي مو دي چې په کراچۍ کې دشمشتی هګۍ هم دچرګانو هګیو کې ملاوولو سره خرخیږي. دا وفرمایئ چې دشمشتی هګۍ حلالې دي او که مکروه اوکه حرامې؟

جواب: دا اصول یادساتل پکاردي چې دیوشي دهګۍ هماغه حکم وي کوم چې دهغه شي وي. شمشتی چونکې حرامه ده. په دې وجه باندې یې هګۍ هم حرامې دي اودهغو خرخول هم حرام دي. دحکومت فرض دي چې داسې خلکوخلاف دسزاحکم وکړي چې دچیلي په ځای باندې دسپي غوښه اودچرګودهګیوپه ځای دشمشتیوهګۍ په خلکوباندې خوري.[2]

❖ د مرغانو اود هغوی د هګیوشرعي حکم ❖

ډینګ اوغیرښکاري مرغان هم حلال دي

سوال: آیا ډینګ حلال دی؟ مهرباني وکړئ دهغو حرامومرغانو نښه وښیئ کوم چې زموږ په علاقوکې وي. مالیدلي دي چې اکثرخلک دمختلف قسمه وړو وړو مرغانو ښکارکوي اوهغه خوري. آیا دا جائزدی؟

جواب: ډینګ حلال دی.دغه شان ټول غیرښکاري مرغۍ هم حلالې دي. وړوکي مرغان هم حلال دي.[3]

---

[1] وقوله تعالیٰ : ويحرم عليهم الخبائث ....والضفدع والسرطان والحية من الخبائث (بدائع الصنائع ج :۵ص :۱۳۵، أيضا : خلاصة الفتاوى، كتاب الصيد، الفصل الخامس فيمايؤكل ومالايؤكل ج : ۴ص :۳۰۴)

[2] القاعدة الرابعة التابع تابع تدخل فيهاقواعد الأولى انه لايفرد بالحكم ومن فروعها الحمل يدخل فى بيع الدم تبعا ولا يفرد بالبيع والهبة كالبيع وقال الحموى التابع تابع أى غيرمنفک عن متبوعه (شرح الحموى على الأشباه والنظائر، القاعدة الرابعة ج :۱ص : ۳۲۲، طبع إدارة القران كراچي)۔

[3] او ما لا مخلب له من الطير و المستأنس منه كالدجاج والبط و المتوحش كالحمام و الفاختة و العصافير والقبج والكركى والغراب الذى يأكل الحب والزرع ونحوها حلال بالإجماع، كذا فى البدائع (عالمگیری ج:۵ص:۲۸۹)

کوتره خوړل حلال دي

سوال: زموږ د علاقې ځينې خلک کوتره بالکل نه خوري. هغوی وايي چې ددې په حلالولو او خوړلو کې ګناه ده. حالانکې کوتره حلاله ده.

جواب: د حلالو ځناورو په ذبح کولو کې ګناه په څه وجه باندې شوه.[1]

هيلۍ (مرغاوۍ) حلاله ده

سوال: مولانا صاحب مسئله داده چې زما يو پخوانی او خوږ دوست وايي چې د بطخې (مرغوی) يا راج هنس چې هغې ته غټه بطخ (مرغاوی) ياقاز (تيتکی) هم ويل کيږي غوښه حلاله نه ده. بلکې مکروه ده. دا خبره صحيح او که غلطه؟ د شريعت په رڼا کې جواب راکړئ!

جواب: هيلۍ (مرغاوۍ) پخپله باندې حلاله ده[2] خو د نجاست خوړلو په وجه باندې مکروه کيدای شي. نو داسې چرګه يا بطخه چې د هغې زيات تر خوراک نجاست وي هغې ته درې ورځې تړلو سره پاک خوراک ورکول پکار دي نو کراهت به يې ختم شي.[3]

د طاوس غوښه حلاله ده

سوال: يو دوست مو بهر چيرته د طاوس غوښه خوړلې ده. هغه وايي چې د طاوس غوښه حلاله وي. خو زموږ يو دوستان وايي چې د طاوس غوښه حرامه وي.

جواب: طاوس حلال مرغه دی. ددې غوښه حلاله ده.[4]

آيا هګۍ حرامه ده؟

سوال: څه وخت مخکې ماهنامه زيب النساء کې حکيم ظفر عسکري د يوې ښځې د يو سوال په جواب کې ليکلي وچې د هګۍ د خوراک ذکر د حضور ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم په خوراک

---

[1] ايضاً پورتنی حواله۔

[2] وما لامخلب له من الطير المستأنس منه كالدجاج والبط والمتوحش كالحمام والفاختة والعصافير والقبج والكركي والغراب الذى يأكل الحب والزرع ونحوها حلال بالإجماع، كذا في البدائع (عالمگيرى ج:٥ص:٢٨٩)

[3] ولايكره أكل الدجاج المخلى وإن كان يتناول النجاسة لأنه لايغلب عليه أكل النجاسة بل يخلطها بغيرها وهو الحب والأفضل أن يحبس الدجاج حتى يذهب ما في بطنها من النجاسة كذا في البدائع (عالمگيرى ج : ٥ص: ٢٩٠، كتاب الذبائح، الباب الثانى، البدائع الصنائع ج : ٥ص: ٤٠، كتاب الذبائح والصيود)۔

[4] لاباس بأكل الطاؤس وعن الشعبي يكره اشد كراهة وبالأول يفتى كذا في الفتاوى الحمادية (عالمگيرى ج ٥ص : ٢٩٠، كتاب الذبائح، الباب الثانى)۔

کې چیرته هم نه شته .بلکې دانګریزانو مشهوره کړې ده.په دې وجه باندې دهګۍ خوراک حرام دی مهرباني اوکړئ ددې مسئلې تفصیلي حل په اسلامی صفحه کې چاپ کړئ!

جواب: یقین نه راځي چې حکیم صاحب به داسې لیکلي وي که چیرې هغوی په رښتیاباندې داسې لیکلي وي. نودهغوی دافتوا بالکل غیرحکیمي ده.هغوی دحضور ﷺ مشهورحدیث به لوستلی یا اوریدلي وي چې داحادیثوپه ټولوکتابونوکې موجوددی چې حضور ﷺ فرمایلي دي چې کوم کس دجمعې لمونځ له پاره له ټولونه مخکې راشي هغه ته به داوښ دقرباني ثواب ملاویږي. دویم نمبر باندې راتلونکي ته به دغوادقرباني.اوبیادچیلي دقرباني.اوبیا دچرګې دصدقه کولواوټولونه آخرکې دهګۍ دصدقه کولو اوکله چې امام خطبه شروع کړي نوثواب لیکونکي فرښتې صحیفې ټولې (بند) کړي اوخطبه اوریدل شروع کړي (مشکوة شریف)[1]

سوچ کول پکاردي که چیرې زموږشریعت کې هګۍ خوړل حرام وي، نو آیا زموږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ به (نعوذبالله) دیو حرام څیزدصدقه کولوفضیلت بیان کړی و؟ نن پورې یوفقیه یا محدث هګۍ حرا م نه ده ښودلې. په دې وجه باندې دحکیم صاحب دافتوا بالکل فضول ده

هګۍ حلاله ده

سوال: دچرګې هګۍ خوړل حلال دي اوکه مکروه؟ خلک وایي چې د چرګې اونوروحلال ځناوروهګۍ خوړل نه دي پکار.ځکه چې یوشرعي کتاب کې هم دهګۍ خوړل نه دي لیکل شوي.

جواب: دیوځناوردهګۍ هماغه حکم دی کوم چې دهغه ځناوروي، دحلال ځناورهګۍ حلال اودحرام هګۍ حرامه ده [2]

[1] وعن أبي هريرة رضى الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال : من اغتسل يوم الجمعة غسل ثم راح فكأنما قرب بدنة، ومن فى الساعة الثانية فكأنما قرب بقرة، ومن راح فى الساعة الثالثة فكأنما قرب كبشا أقرن، ومن راح فى الساعة الرابعة فكأنما قرب دجاجة، ومن راح فى الساعة الخامسة فكأنما قرب بيضة، فإذا خرج الإمام حضرت الملائكة يستمعون الذكر قال أبوعيسٰى : حديث أبي هريرة حديث حسن صحيح (ترمذى ج :١ص : ٦٦، أيضا مشكوٰة ص : ١٢٢)_

[2] القاعدة الرابعة التابع تابع تدخل فيهاقواعد الأولى انه لايفرد بالحكم ومن فروعها الحمل يدخل فى بيع الدم تبعا ولا يفرد بالبيع والهبة كالبيع وقال الحموى التابع تابع أى غيرمنفك عن متبوعه (شرح الحموى على الأشباه والنظائر، القاعدة الرابعة ج :١ص : ٣٢٢، طبع إدارة القران كراچي)_

د پولټري فارم چرګې او هګۍ حلالې دي؟

سوال: د پولټري فارم هګۍ او چرګې حلالې دي یا دهغو خوراک ممنوع، مکروه دی؟

جواب: چرګه او د چرګې هګۍ حلاله ده، خو د کومې چرګې چې غالب خوراک ناپاک او نجس شی وي، دهغې خوړل مکروه دي. [۱] او کوم حکم چې د چرګې دی هغه دهګۍ هم دی. [۲]

د فارمي چرګانو خوړلو حکم

سوال: تاسو ته به معلومه وي چې نن سبا تقریباً په هرملک کې دمشینې سپینو چرګانو کاروبار عام دی او د چرګانو دغټولو له پاره داسې خوراک ورکول کیږي، چې هغه کې وینه ګډه شوي وي، دهغه له وجې چرګه زرغټه شي او دخوراک په وجه باندې چرګه کې دهګیو اچولو صلاحیت پیداشي اوس سوال دادی چې دقرآن اوحدیث په رڼاکې دداسې چرګې اودهغې دهګۍ خوړل جائزدي؟

جواب: دچرګې دغذازیاته برخه که چیرې حرام وي، نودهغې خوړل مکروه دي. هغه درې ورځې بنده ساتل پکاردي اوهغې ته حلال خوراک ورکول پکاردي .بیایې خوړل روا دي، او که چیرې دهغې په خوراک کې زیاته برخه دحلالو وي نوجائزده. [۳]

مرغان ساتل اودهغو جنس بدلول

سوال: زموږه یو ملګری چې ښائسته مرغان ساتي، موږه هغه منع کړو چې داسې ته مرغان په پنجرو کې قید ساتي. اودهغوی هغه آزادي چې قدرت هغوی ته ورکړې ده، ختموې، دا مرغانو باندې ظلم دی. زموږه محترم دوست وویل چې: موږه د مرغانو خیال ساتو، هغوی ته په وخت باندې دانه ورکوو. کوم مرغان چې آزاد الوځي راالوځي دهغوی نه ښه خوراک دې ته ورکوو. او داسې د نورو خطرناکو ځناورو او مرغانو نه د دوی حفاظت هم کیږي، محترم مفتي صاحب ! ایا زموږ د دوست جواب داسلامی تعلیماتو په رڼا کې صحیح دی؟ بله داچې په مارغانو کې نوی والی او ښائستوالې پیدا کولو له پاره شوقین خلک دهغوی جوړې دجنس نه بدل سره لګوي، ایا دا کار شرعی اعتبارسره جائز دی؟

---

[۱] ولایکره اکل الدجاج المخلی وإن کان یتناول النجاسة لانه لایغلب علیه اکل النجاسة بل یخلطها ...... والافضل ان یحبس الدجاج حتی یذهب ما فی بطنها من النجاسة (عالمګیری ج: ص: ۲۹۰ کتاب الذبائح، الباب الثانی)

[۲] التابع تابع ....التابع لایفرد بالحکم (شرح المجلة المادة: ۴۷/۴۸ ص: ۳۹)

[۳] وتحبس الجلالة حتی یذهب نتن لحمها وقدر بثلاثة ایام لدجاجة...الخ (الدرالمختارمع الرد ج: ۶ص: ۳۴۰)

جواب: مرغان ساتل جائز دي.[۱] او يو جنس سره بل جنس بدلول هم صحيح دي

مرغۍ ساتل جائز دي

سوال: نن سبا د استریلیا طوطیان په پنجروکې ساتل یوه عامه خبره ده.د..ستاسو مسائل او دهغې حل.. روزنامه جنګ داقرأ اسلامی صفحې په ذریعه باندې ددې مسئلې شرعی حیثیت واضح کړئ یاد ساتل پکاردي چې دامرغۍ یوازې د بنائست له پاره ساتل کیږي، دغه شان چړیاګهر(ژوبڼ) کې ځناورپه پنجروکې یوازې دانسان دخوشحالولو له پاره ساتل کیږي. دې باندې رڼاواچوئ.دامام بخاري رحمه الله په کتاب ادب المفردکې یوروایت دی چې صحابه وو رضي الله عنهم به مرغۍ ساتلې. اوددې کتاب څه مقام دی اوددې روایت څه اعتباردی؟

جواب: داروایت خومانه دې لیدلی.دمرغانو ساتل جائزدي.خوهغوی جنګول جائزنه دي [۲]

حلالې مرغۍ د شوق له پاره ساتل

سوال: یو حلال مرغه دشوق له پاره پنجره کې بند ساتل جائزدي اوکه نه؟

جواب: جائزدي.خودې شرط سره چې دبند ساتلونه پرته هغه ته بل څه تکلیف ونه رسیږي، اودهغه دخوراک خیال وساتل شي [۳]

❖ د تریخي، لرې او هګیو(خوټو) شرعي حکم ❖

د حلال ځناور اووه شیان مکروه دي

سوال: خواست دی چې خوټې(هګۍ) حرامې دي.ددې څه وجه ده؟

جواب: دحلال ځناوراووه شیان مکروه تحریمي دي: (۱) بهیدونکې وینه (۲) غدود (۳) مثانه (۴) تریخی (۵) دنرځناور دمتیازو ځای (۶) دښځې ځناور د متیازو ځای (۷) خوټې (هګۍ) [۴]

---

[۱] عن أنس رضی الله عنه قال : كان رسول الله صلی الله عليه وسلم يخالطنا ....يا أباعمير ما فعل النغير.. الخ وفی الحديث إباحة لعب الصبی بالطيور إذا لم يعذبه (مشكوٰة مع حاشية ج :۲ص :۴۱۶)

[۲] عن أنس رضی الله عنه قال :كان رسول الله صلی الله عليه وسلم ليخالطنا حتی يقول لأخ لی صغيرا يا أباعمير ما فعل النغير؟ كان له نغير يلعب به، فمات متفق عليه قال المحشی فی الحديث إباحة لعب الصبی بالطيور إذا لم يعذبه (مشكوٰة ج :۲ص :۴۱۶) وفی المرقاة : وفی شرح السنة : فيه فوائد منها : أن صيد المدينة مباح .... وإنه لابأس أن يعطی الصبی الطير ليلعب به من غير أن يعذبه .... الخ (مرقاة المصابيح، باب المزاح ج : ۴ص : ۶۴۹. طبع أصح المطابع بمبئ)۔

[۳] ايضاً پورتنۍ حواله.

[۴] فالذی يحرم أكله منه سبعة : الدم المسفوح، والذكر، والأنثيان، والقبل،...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دلومړي ذکرشوي حرام کيدل خودقرآن کريم نه ثابت دي[۱]،پاتې شيان دشکل وصورت په وجه باندې خبيث دي په دې وجه باندې "ويحرم عليهم الخبائث". په حکم کې داخل دي اويو حديث شريف کې دي چې حضور ﷺ دا اووه شيان ناخوښ فرمايلي دي.[۲]

(مصنف عبدالرزاق ٤!٥٣٥ مراسيل ابی داؤدص١٩ سنن کبری بيهقی ١٠!٧)

ينه (کليجي) حلاله ده

سوال: زه دبی اے لومړي کال طالبه يم اوزمونږيوپروفيسرمونږته اسلامک ايډيالوجي ښيي. داسلامی آيډيالوجي پروفيسر وايي چې قرآن شريف کې کليجي (ځيګر) خوړل حرام ښودل شوي دي. کليجي (ځيګر) چونکې وينه ده په دې وجه باندې حرامه ده.اوحديث کې کليجي حلال ښودل شوې ده،نو آيا کليجي واقعي حرام ده؟

جواب: قرآن کريم کې بهيدونکې وينې ته حرام ويل شوي دي.کومه چې دخاروي دذبح کولووخت کې بهيږي.ينه (کليجي) حلاله ده قرآن کريم کې دې ته حرام نه دي ويل شوي. ستاسو پروفيسر صاحب په غلط فهمي کې دی.[۳]

توری خوړل جائزدي

سوال: اکثرچې ودونوکې ښکه خاروې حلال کړل شي. نودهغه توری.ينه(کليجي) وغيره پخه وي اوخوري يايوازې تورې په اورباندې وريت کړي دې باره کې دشريعت څه حکم کوي؟

...بقيه د تيرمخ]... والغدة، والمثانة، والمرارة لقوله عزشأنه : ويحل لهم الطيبٰت ويحرم عليهم الخبٰئث ...إلخ (البدائع الصنائع، ما يستحب فى الذكاة ج:٥ ص:٦١١)۔

[۱] قل لا أجد فی ما اوحی الی محرما علی طاعم يطعمه الا أن يكون ميتة أو دما مسفوحا أو لحم خنزير فإنه رجس أو فسقا اهل لغير الله به.. الاية (الأنعام:١٤٥)۔

[۲] عن مجاهد رضی الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكره من الشاة سبعا: الدم والمرار والذكر والأنثيين والحيا والغدة والمثانة قال وكان اعجب إليه صلى الله عليه وسلم مقدمها (السنن الكبريٰ للبيهقی ج:١٠ ص:٧، مصنف عبد الرزاق ج:٤ ص:٥٣٥) أيضا: روى عن مجاهد رضى الله عنه أنه قال: كره رسول الله صلى الله عليه وسلم من الشاة: الذكر والأنثيين والقبل والغدة والمرار والمثانة والدم، فالمراد منه كراهة التحريم بدليل أنه جمع بين الأشياء الستة وبين الدم فی الكراهة، والدم المسفوح محرم، والمروى عن أبی حنيفة رحمه الله أنه قال: الدم حرام وأكره الستة، اطلق إسم الحرام على الدم المسفوح وسمى ما سواه مكروها (البدائع الصنائع، ما يستحب فی الذكاة ج:٥ ص:٦١١، طبع سعيد)۔

[۳] عن ابن عمرقال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : أحلت لنا ميتتان ودمان، الميتتان، الحوت والجراد، والدمان : الكبد والطحال كذالک رواه عبدالرحمن (السنن الكبرى للبيهقی ج : ١٠ص :٧)۔

جواب: جائزدی [۱]

د حلال ځناور لرى حلال دى

سوال: دغوا ياچيلى لرى خوړل جائزدي؟ اوكه چيرې خوراک يې جائز دى. نوخلک وايي چې د دې خوړلوسره ځلوينښت ورځوپورې دعاګانې نه قبليږي. آيا داصحيح دى؟

جواب: دحلال ځناورو لرى حلال دى[۲].دځلوينښت ورځوپورې ددعاګانو نه قبليدوخبره غلطه ده

ګردې، خوټې(هګۍ) اوملخ حلال دى كه حرام؟

سوال: زموږمعاشره كې خلک دچيلي غوښه عام طورباندې خوري. اوخلک دچيلي ګردې هم خوري. تاسو ووايئ چې ګردې دانسان له پاره حرام دي اوكه حلال؟ زمادوست وايي چې چيلى حلال دى خوټې(هګۍ) نه. او دا هم ووايئ چې جولا هم حلال دى؟ ستاسوبه ډيره مهرباني وي

جواب: ګردې حلالې دي. دځاروي خوټې(هګۍ) حلالې نه دي[۳].هغه ملخ چې فصلونه تباه كوي هغه حلال دى.جولاحلال نه دى.[۴]

د چيلي خوټې(هګۍ) خوړل اواخيستل خرڅول

سوال: آيا دځاروي خوټې(هګۍ) خوړل جائزدي؟ نن سبابازارونو او هوټلونو كې يې خلک خوري اوددې دخرڅونكوعمل څنګه دى؟

جواب: دچيلي خوټې(هګۍ) خوړل مكروه تحريمي دي اومكروه تحريمي حرام ته نژدې وي او كوم حكم چې دخوراک دى هغه حكم نوروباندې د خوړلوهم دى.په دې وجه باندې بازارونو اوهوټلونوكې ددې خرڅول افسوسناكه غلطي ده.[۵]

---

[۱] ايضاً تيره شوې حاشيه،

[۲] وتحبس الجلالة حتى يذهب نتن لحمها وقدر بثلاثة أيام لدجاجة..الخ (الدرالمختارمع الرد ج : ۶ص : ۳۴۰)

[۳] تيره شوې حاشيه (فالذى يحرم أكله منه سبعة : الدم المسفوح. والذكر....الخ) او وريسى حاشيه (عن مجاهد رضى الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكره من الشاة سبعا...الخ) اوګورئ۔

[۴] ومثل الجراد والزنبور والذباب والعنكبوت ....ونحوها لايحل أكله إلا الجراد خاصة لأنها من الخبائث لإستبعاد الطباع السليمة إياها (بدائع الصنائع ج :۵ص : ۳۶، كتاب الذبائح والصيود)۔

[۵] وروى عن مجاهد رضى الله عنه أنه قال : كره رسول الله صلى الله عليه وسلم من الشاة : الذكر، والأنثيين، والقبل، والغدة، والمرارة، والمثانة، والدم، فالمراد منه كراهة التحريم ..... الخ (بدائع الصنائع ج :۵ص : ۶۱، كتاب الذبائح والصيود)۔

د څارویو خوټې (هګۍ) د دوا په طور باندې خوړل

سوال: ایا د چیلې خوټې (هګۍ) د دوا په طور باندې خوړل کېدای شي؟

جواب: نه!

د څارویو د هګیو په تبۍ باندې، ینه او ماغزه چې تپ شوي وي خوړل

سوال: بازار کې چې په کومه تبۍ باندې خوټې (هګۍ) تپ کیږي (پخیږي) همغې تبۍ باندې ماغزه. کلیجي او ګردې وغیره هم پخیږي. ایا هغه خوړل روا دي؟

جواب: خوړلی یې شئ! [1]

❖ سپی ساتل ❖

سپی ساتل شرعي طور باندې څنګه دي؟

سوال: سپی ساتل شرعي طور باندې څنګه دي؟

جواب: جاهلیت کې به د سپي نه نفرت نه کیده. ځکې چې د عربو خلکو د خپل خاص تهذیب په وجه باندې سپي سره ډیره زیاته مینه وه. حضور ﷺ د مسلمانانو په زړونو کې د دې نه نفرت پیدا کولو له پاره حکم وکړ چې کوم ځای کې سپې وویني هلاک یې کړئ. خو دا حکم د څه وخت له پاره و. حضور ﷺ د ضرورت له وجې یوازې د دې مقصدونو له پاره سپی ساتلو اجازه ورکړې ده. یاد ښکار له پاره. یا د غلا اوپتې د حفاظت له پاره یا د رمې د حفاظت له پاره (که چیرې محفوظه نه وي نو د هغې د حفاظت له پاره ساتل هم د دې حکم کې داخل دي) د دې درې مقصدونو نه پرته سپی ساتل صحیح نه دي. د انګریزي معاشرت په وجه باندې ډیرو خلکو اوس د سپي نه نفرت نه شته. حالانکې د حضور ﷺ او د الله تعالی د فرښتو د ناخوښي نه پرته هم د شوق له پاره سپی ساتل څه ښه خبره نه ده. الله دې نه کړي که څوک وخوري یا لیوني شي او انسان ته معلومه نه وي. نو د هلاکت ویره ده. بیا د دې لاړو کې یو خاص قسمه زهروي، په دې وجه باندې د سپي جوټه (پس خورده) شوی لوښی اووه ځله وینځل او یو ځل په خاوره باندې د وینځلو حکم دی[2]. حالانکې نجس لوښی درې ځله وینځلو سره شرعي طور باندې

---

[1] لا عبرة للتوهم (شرح المجلة السادة : ٧٤ ص : ٥٠، طبع حبيبه كوئته)

[2] عن أبي هريرة رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من اتخذ كلبا إلا كلب ماشية أو صيد أو زرع انتقص من اجره كل يوم قيراط متفق عليه عن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم أمر بقتل الكلاب إلا كلب صيد او كلب غنم او ماشية متفق عليه ... [بقيه حاشيه په راروانه صفحه]

پاکیږي[1]. سپی نجس العین نه دی، که چیرې دده بدن وچ وي او جامو سره ولګیږي، نو جامې به ناپاکې نه وي

سپی ساتل او کورته د فرښتو نه راتلل

سوال: زه تاسو نه د سپی ساتلو باره کې څه معلومول غواړم ځکه چې اکثرو یل کیږي چې سپی ساتل جائز نه دي. ددې په وجه باندې فرښتې کورته نه راځي. زه د خلکو ددې خبرې نه مطمئن نه یم. تاسو ما ته صحیح جواب را کړئ!

جواب: سپې ساتل د شوق شی نه دی خو د ضرورت شی کیدای شي. د شوق له پاره د سپي ساتلو نه منع شوې ده او که یو سړې د کور د حفاظت له پاره یا د غلو یا د ځاروېؤ د حفاظت له پاره یا د ښکار له پاره سپی وساتي نو اجازه شته[2]. او دا صحیح دی چې کوم کورکې سپی یا تصویر وي. هلته د رحمت فرښتې نه راځي. حدیث شریف کې یوه واقعه راځي چې یو ځل حضرت جبرائیل علیه السلام حضور صلی الله علیه وسلم سره په یو خاص وخت باندې د راتلو وعده وکړه خو هغه مقرر شوي وخت باندې رانغي. حضور صلی الله علیه وسلم پریشانه شو چې جبرائیل امین خو د وعدې خلاف نه شي کولی. د هغه د نه راتلو څه وجه کیدای شي؟ حضور صلی الله علیه وسلم ولیدل چې د حضور صلی الله علیه وسلم د کټ لاندې سپي ناست دی هغه یې وشړلو. هغه ځای یې صفا کړ او اوبه یې پرې وشیندلې، له دې وروسته حضرت جبرائیل علیه السلام تشریف راوړ، نو حضور صلی الله علیه وسلم ورته په مقرر شوي وخت باندې د نه راتلو شکایت وکړ. حضرت جبرائیل علیه السلام عرض وکړ. یارسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسو د کټ لاندې سپي ناست و او مونږ هغه کورته نه داخلیږو. کوم کې چې سپی یا تصویر وي. (مشکوة باب التصاویر ص ٣٨٥)[3]

...بقیه د تیرمخ]... (مشکوٰة المصابیح، باب ذکرالکلب ص :٣٥٩) عن عبدالله بن المغفل رضی الله عنه أن النبی صلی الله علیه وسلم أمربقتل الکلاب ثم قال : مالی وللکلاب ! ثم قال : إذا ولغ الکلب فی إناء أحدکم فلیغسله سبع مرات وعفروه الثامنة بالتراب (شرح معانی الاثار، باب سؤرالکلب ج:١ص: ٢١، طبع حقانیة)

[1] (وسؤرالکلب نجس) ویغسل الإناء من ولوغه ثلاثا لقوله علیه السلام : یغسل الإناء من ولوغ الکلب ثلاثا وقال (وعرق کل شيء معتبربسؤره) لأنهما یتولدان من لحمه فأخذ أحدهما حکم صاحبه (فتح القدیر ج : ١ص : ١١٢)۔

[2] تیره شوې حاشیه (عن أبی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من اتخذ کلبا...الخ) اوګورئ!۔

[3] وعن ابن عباس رضی الله عنهما عن میمونة رضی الله عنها أن رسول الله صلی الله علیه وسلم أصبح یوما واجما وقال: إن جبریل کان وعدنی أن یلقانی اللیلة فلم یلقانی، أما والله ما أخلفنی ثم وقع فی نفسه جرو کلب تحت فسطاط لنا فأمر به فأخرج ثم أخذبیده ماء فنضح مکانه، فلما أمسی لقیه جبریل، فقال: لقد کنت وعدتنی أن تلقانی البارحة! قال: أجل، ولکنا لا ندخل بیتا فیه کلب ولاصورة، ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

آيا سپی د انساني خاورې نه جوړشوی دی او ددې ساتل ولې منع دي؟

سوال: ماستاسو په صفحه کې لوستلي و چې څومره اهم معامله ولې نه وي که کورکې سپې وي نو کورته به درحمت فرښتې نه راځي. خودا وواېئ چې آيا دسپي په موجودګي کې کورکې لمونځ کېږي او دقرآن کريم تلاوت به جائزوي. زموږکورکې تقريباً ټول خلک لمونځ کوي. اوسحرکې دقرآن کريم تلاوت هم کوي. يووړوکې شان سپی چې هغه ډيرزيات ښائسته دی اونجاست نه خوري موږ د مجبورۍ نه راوستی دی.

مهرباني وکړئ دا وواېئ چې زموږدين کې دسپي په شان وفادارځناور دکورنه ولې بهر شوی دی؟ مااوريدلي دي چې سپی دانساني خاورې نه جوړ شوی دی. اوحضرت ادم عليه السلام په دهغې (نامه) باندې شيطان لاړې توکلې وې. نو دهغه ځای نه ټوله خاوره وويستل شوه اوبيا دهغې نه وروسته سپې جوړل شو. کيدای شي هم په دغه وجه باندې سپی انسان پسې منډې وهي. او پښوکې يې پريوځي اوانسان هم ورسره دمينې کولونه پرته نه شي پاتې کيدای.

جواب: کوم ځای چې سپی وي. هلته لمونځ اوتلاوت جائزدی. داغلط دي چې سپې دانسان دخاورې نه جوړ شوی دی. سپې وفادارخو دی. خو ده کې بعضې شيان داسې موندل کيږي چې هغه دده په وفاداري باندې اوبه واړوي. خوداچې سپی دنوروخووفادار دی. خو دخپل قوم نه. دويم دده دخولې لاړې ناپاکې اوګنده دي اوکه چيرې هغه دانسان بدن ياجاموسره ولګيږي نولمونځ خراب شي[1] اودسپی عادت دی چې هغه انسان ته خوله ضرور وړي، چاچې سپی ساتلی وي دهغه د جامو اوبدن پاک پاتې کيدل ډيرمشکل دي. دريم داچې دسپي په لاړوکې يوخاص قسمه زهر دي. دهغو نه ځان ساتل ډيرضروري دي. همدغه وجه ده چې حضور ﷺ دهغه لوښي په کوم کې چې سپي خوله وهلې وي داووه ځله وينځلوحکم کړی دی. اويو ځل يې ورته دخاورې شوره ورکولوحکم کړی دی[2]. اوهمدا هغه زهردي کوم چې دسپي دخوړلو نه پس دانسان بدن ته داخل شي. څلورم دسپي مزاج کې ګندګي ده. ننبه يې مردارخوراک کول دي دا د يو مسلمان دشان مطابق نه دي چې هغه دضرورت نه پرته سپی وساتي اوکه چيرې ضرورت او مجبوري وي نوبيا اجازه شته.

...بقيه د تيرمخ]...فأصبح رسول الله صلى الله عليه وسلم يومئذ فأمر بقتل الكلاب حتى إنه يأمر بقتل كلب الحائط الصغير ويترك كلب الحائط الكبير رواه مسلم (مشكوة، باب التصاوير ص:٣٨٥، طبع قديمي)۔

[1] إذا شرب الكلب .... الحق النبي صلى الله عليه وسلم سؤر الكلب بالنجاسات وجعله من أشدها...إلخ (حجة الله البالغة ج:١ ص:١٨٥، طبع منيرية مصر)۔

[2] عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إذا شرب الكلب في إناء أحدكم فليغسله سبع مرات. متفق عليه (مشكوة ص:٥٢، باب تطهير النجاسات، طبع قديمي كتب خانه)۔

سپی نجس ولې دی؟ او دی وفادار هم دی

سوال: سپی نجس ولې ګرځول شوی دی؟ حالانکې سپې یو فرمانبردار خناور دی. د خنزیر د نجاست باره کې خومې اخبارجهان کې پوره تفصیل لوستی دی. خو د سپي باره کې راته علم نه شته. د الله تعالی حکم منل لازم دي خو بیا هم ذهن ته ځینې سوالونه راځي. چې د هغو د جواب له پاره د عالم ضرورت وي

جواب: د یو مسلمان په حیثیت باندې زمونږ له پاره هم دا جواب کافي دی چې الله تعالی سپی نجس پیدا کړی دی له دې نه پس دا سوال کول چې سپې نجس ولې دی. بالکل داسې سوال دی چې وویل شي چې سړې. سړې ولې او ښځه. ښځه ولې ده؟ انسان. انسان ولې دې؟ او سپی. سپی ولې دی؟ څنګه چې د انسان. انسان کیدل او د سپې. سپی کیدل د څه دلیل محتاج نه دي. او نه دې کې د ولې ګنجائش شته. د غه شان د فطرت پیداکونکي له دې بیان نه وروسته چې سپی نجس دی. د دې نجس کیدل هم د څه دلیل او وضاحت محتاج نه دې. د دنیا کوم عقل لرونکی به داسې وي چې هغه ته به د متیازو نجاست د دلیل په ذریعه باندې د ښودلو ضرورت وي. خو داوسنی دور ځینې غه دانشور (پوهان) چې هغوی نن دې باندې پوهول مشکل دي چې انسان. انسان دې د بیز (شادو) اولادنه دی. ښځه. ښځه ده سړی نه ده. هغوی که چیرې متیازو ته هم آب حیات او د شفا ذریعه ووایي او ګندګي کې هم وټامن بی اوسی پیدا کړي. نو د هغوی پوهول په رښتیا هم ډیر ګران کار دی. پاتې شوه دا خبره چې سپې وفادار خناور دی. دی ولې نجس ګرځول شوی دی؟ دې سوال کولو نه مخکې دې خبرې باندې غور کول پکار دي چې آیا د یو شي پاکیدل او ناپاک کیدل. په فرمانبرداري او بې وفایي باندې انحصار کوي؟ یعنی دا اصول د کومې فلسفې په نزد باندې صحیح دي چې کوم شی وفادار وي هغه به پاک هم وي او کوم چې بې وفاوي هغه به ناپاک وي؟

له دې نه پرته دې خبرې باندې هم غور کول ضروري دي چې د دنیا هغه کوم یو شی دی. چې هغه کې الله تعالی څه ناڅه خوبي او فائده نه وي ایښې؟ دیوشي یوازې یوې یا دوو فایدو ته کتلو سره د هغه باره کې آخري فیصله نه کیږي. بې شکه وفاداري یوه خوبي ده، کومه چې سپي کې موجوده وي (او له دې تر ټولو مخکې انسان ته پخپله باندې عبرت حاصلول پکار و) خو د دې دیوې خوبي په مقابله کې دې کې څومره صفتونه داسې دي چې د ده فطري نجاست ښکاره کوي، د ده انسان خوړل. د خپل قوم سره جنګونه کول او د مردار خوراک کولو طرف ته رغبت کول. ګندګي شوق سره خوړل وغیره. دا ټول صفتونه یو طرف ته ایښودو سره د دې وفادارای سره یې وزن کړئ. تاسو ته به معلومه شي چې د کوم طرف تله (ترازو) وزني دی؟ او دا چې آیا په رښتیا باندې د ده په فطرت کې نجاست شته او که نه؟

دلته داخبره واضح کول ضروري دي چې کوم شيان انسان دخپل خوراک په طورباندې استعمالوي دهغو اثردهغه بدن ته داخل شي.په دې وجه باندې الله تعالى پاک شيان دانسان له پاره حلال کړي دي.اوناپاک شيان يې دهغه له پاره حرام کړي دي،چې دهغو نجس اثردهغه ذات او شخصيت ته داخل نه شي اودهغه اخلاق او کردار متاثرنه کړي، دخنزيردبې حيايي اودسپي دنجاست خوري يو مثال دی کوم قوم چې دا ګنده شيان دخوراک په طور باندې استعمالوي.هغوی کې به دنجاست اوبې حيايي اثرات پيدا کيږي.اوددې مشاهده نن دمغرب په معاشره کې په رڼو سترګو کيدای شي.

اسلام دضرورت نه پرته دسپيوساتلومنع کړې ده. ځکه چې صحبت اودوستي هم د اخلاقو دمنتقل کيدويوه اثرکونکې ذريعه ده.په همدې وجه ويل کيږي چې دنيک صحبت او دوستي نيک جوړوي اوبدصحبت اودوستی بدي راولي،دااصول يوازې د انسانانو صحبت اودوستي پورې محدودنه دي. بلکې کوموځناورو سره چې انسان اوسيږي دهغوی اخلاق هم په هغوی کې منتقل شي. انسان نه غواړي چې دسپي صفتونه اواخلاق انسان ته منتقل شي.په دې وجه باندې الله تعالى دسپي ساتلونه منع کړې ده.ځکه چې دسپي د صحبت اودوستي په وجه باندې انسان کې په ښکاره طور باندې دښودنې وفاداري اوباطني طور باندې دنجاست اوګندګي صفت پيداشي.

اوددې يوه وجه داده چې کله سپي سره بې تکلفي زياتيږي. نو اکثرداسې وي چې په بې خبري کې هغه دانسان جامو اولوښوکې خوله ووهي.اوباطني نجاست سره سره ظاهري نجاست هم استعمال کړي.

يوه بله وجه يې داده چې دسائنس دتحقيق مطابق دسپي جراثيم ډيرزيات خطرناک دي اود سپي زهرکه چيرې دانسان بدن ته داخل شي. نوددې نه بچ کيدل ډيرزيات ګران وي. اسلام نه يوازې سپی حرام کړی دی چې ددې جراثيم بدن ته داخل نه شي، بلکې دسپي صحبت اودوستي باندې يې هم پابندي لګولې ده.څنګه چې ډاکټر دجذامي اوطاعوني مريض سره له دوستی نه منع کوي، نو دااسلام په انسانيت باندې ډيرغټ احسان دی چې دسپ په ساتلوباندې يې پابندي لګولوسره انسانيت دده له خطرناکو اثراتونه محفوظ کړی دی.

مسلمانوملکونوکې دسپي نمائش

سوال: تيرووړځوکې په جنګ اونوائے وقت اخبارکې داخبرچاپ شوی و،چې پاکستان کې دسپيونمائش وشواوديروخلکوپکې برخه واخيسته اويوسپي خپلې مالکې سره داسې حرکت وکړ چې په وجه يې ټول خلک وشرميدل. آيا سپی ساتل اودهغوی دحسن مقابله کول جائزدي؟ تفصيل سره جواب راکړئ!

جواب: استفتاء کې چې د اخبارونو په حواله باندې کومه واقعه ذکر شوې ده، هغه په رښتیا باندې د غیرت مندو مسلمانانو له پاره د برداشت کولو قابل نه ده. د جاهلیت په زمانه کې به هم خلکو سپیو سره ډیره مینه کوله همدغه وجه ده چې ابتداکې حضورﷺ د سپیو د قتل کولو حکم کړی و[1] او فرمایلي یې و چې کوم لوښي کې سپی خوله ووهي هغه اووه ځله ووینځئ[2]. سپی په ذلیل او حرص کونکو ځناورو کې دی، او د خپلو بدصفتونو په وجه باندې د دې قابل نه دی چې د ه سره مینه وساتل شي. یا دده پالنه وکړل شي او دده نمائش له پاره محفلونه قائم کړل شی. اسلام د ضرورت نه پرته د سپي ساتلو نه منع کړې ده او کوم کورکې سپی وي د هغه له پاره سخت وعیدراغلي دي، نو د حضورﷺ ارشاد مبارک دی چې د هغه مفهوم دادی. کوم کورکې چې سپی او د ساه لرونکو تصویران وي، هغه کورته د رحمت فرښتې نه داخلیږي[3]

په هرحال سپی ډیر ذلیل او حریص وي. کله چې د سپی دا سې صفتونه وي. نو کوم کس چې دی ساتي او سپي سره مینه محبت ساتي هغه کې هم دا صفتونه پیدا شي. څنګه چې عام طور باندې لیدل شوي دي. د سپی له ټولونه غټ صفت دادی چې هغه خپل قوم یعنې سپیونه نفرت کوي. همدغه وجه ده چې کله یو سپی د بل مخې ته تیریږي، هغوی یو بل پسې غاپي، همدغه حال د هغه کس هم وي کوم چې سپی ساتي یعنی د هغه د خپلو وروڼو او نورو بندګانو او انسانانو نه نفرت شي که اوسني دورکې وکتل شي. نو د دنیا په قومونو کې سپیو سره د ټولو نه زیاته مینه یهودیان او عیسایان کوي، په هرحال دیورپ د خلکو د سپیو سره د مینې کولو اندازه له دې خبرې نه کیدای شي چې کله د انګلستان مشهوره ښځه "مسزایم سي وهیل، ناروغه شوه نو هغې وصیت وکړچې د هغې ټول مال او جائیداد دې سپیو ته ورکړل شي، د هغې د مرګ نه وروسته د هغې د وصیت مطابق د هغې د میراث ټول وارثان سپي وو. د هغه جایداد نه د سپیو پرورش او افزائش نسل (نسل پیدا کولو له پاره) یو ټرسټ (مؤسسه) کارکوي.

مسلمانانو ته پکاردي که د الله تعالی او د هغه د رسولﷺ حکمونه شاته کولو سره د نورو خلکو تقلید نه کوي. بلکې د نبی کریمﷺ ښودل شوې طریقې خپلې کړي کومې چې د فطرت مطابق دي.

---

[1] عن جابر رضی الله عنه قال: أمرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم بقتل الکلاب ...إلخ (مشکوة ص:۳۵۹)۔

[2] عن أبي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: إذا شرب (وفي روایة إذا ولغ) الکلب في إناء أحدکم فلیغسله سبع مرات أولهن بالتراب (مشکوة ص:۳۵۲، باب تطهیر النجاسات)۔

[3] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا تدخل الملائکة بیتا فیه کلب ولاتصاویر (مشکوة ص:۳۸۵)۔

واده کله فرض دی، کله واجب او کله حرام دی؟

سوال: په مسلمان سړي او ښځې باندې په څومره عمر کې واده کول واجب دي؟ ما اوریدلي دي چې د نجلۍ عمر شپاړس کاله وي او د هلک عمر پنځه ویشت کاله؛ نو په دغه وخت کې د دوی واده کول پکار دي.

جواب: شرعًا د واده کولو څه ټاکلی عمر نشته، مور - پلار د خپل بچي نکاح په نابالغئ کې هم کولای شي[۱] او که د بالغېدو نه وروسته د واده کولو پرته په ګناه کې د اخته کېدو وېره وي: نو واده کول واجب دي. کنه نو په یو وخت کې یې هم کول واجب نه دي؛ خو د ځان له ګناه ساتنې په خاطر واده کول غوره دي.[۲]

په درمختار وغیره کې یې لیکلي دي که د نکاح نه بغیر په ګناه کې د اخته کېدلو یقین وي: نو نکاح فرض ده. که غالب ګمان یې وي؛ نو نکاح واجب ده. (په شرط ددې چې په مهر او نفقې باندې قدرت ولري) او که یقین یې وي که نکاح وکړم؛ نو ظلم او بې انصافي به رانه کیږي؛ نو نکاح کول ورته حرام دي او که چېرته د ظلم او د بې انصافئ غالب ګمان وي: نو نکاح کول ورته مکروه تحریمي دي او درمیانه حالت کې بیا سنت مؤکده ده.[۳]

کونده ښځه او کونډ سړئ تر کوم وخته پورې واده کولای شي؟

سوال: کونده ښځه او کونډ سړئ ترکوم وخته پورې دویمه یا درېیمه نکاح کولای شي؟

---

[۱] وللولی......انکاح الصغیر والصغیرة جبرًا ولو ثیبًا.......ولزم النکاح..... الخ. (الدر المختار مع الرد المحتار ج:۳ ص:۶۶ طبع ایچ ایم سعید کراچی). أیضًا: قال ابو جعفر: ولسائر الأولیاء تزویج الصغار ویتوارثان بذالک. قال احمد: اما الأب والجد فلا خلاف بین فقهاء الأمصار فی أن لهما أن یزوجا الصغار، الّاشيء یحکی عن عثمان البتی.......ودلیل الکتاب یقضي ببطلانه وهو قوله تعالی: واللّٰئی یئسن من المحیض من نسائکم ان ارتبتم فعدتهنّ ثلٰثة أشهر واللّٰئی لم یحضن(سورة طلاق) فقضٰی بصحة طلاق الصغیرة، وأوجب العدة علیها اذا کانت مدخولاً بها، والطلاق لا یقع الّا فی عقدصحیح، ومن جهة السنة أن النبی صلی الله علیه وسلم تزوّج عائشة رضی الله عنها وهی صغیرة، زوجها أباه أبوبکررضی الله عنه. (شرح مختصر الطحاوی ج: ٤ ص:۲۹۲، ۲۹۳، کتاب النکاح، طبع دار السراج)

[۲] اما صفته فهو أنه فی حالة الاعتدال سُنّة مؤکّدة. وحالة التوقان واجب، وحالة خوف الجور مکروه. (عالمگیری ج:۱ص:۲۶۷ طبع رشیدیه کوئته).أیضًا: بدائع الصنائع ج:۲ ص:۲۲۸، کتاب النکاح، طبع ایچ ایم سعید کراچی)

[۳] (ویکون واجبًا عندالتوقان) فان تیقن الزنا الّا به فُرض نهایة و هٰذا ان ملک المهر والنفقة، والّا فلا اثم بترکه. بدائع (و) یکون (سنة) مؤکّدة فی الأصح (الٰی قوله) حال الاعتدال (ومکروها لخوف الجور) قال الشامی ای تحریمًا، فان تیقنه حرم ذٰلک.(درمختار مع ردالمحتار، کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۷). أیضًا: بدائع الصنائع ج: ۲ ص: ۲۲۸، کتاب النکاح)

جواب: تر څو پورې چې دده اړتيا وي او تر څو چې د ښځې او خاوند د حقوقو ادا کولو صلاحيت وي. بهر حال په شريعت کې د دويمې او د دريمې نکاح حکم هغه دی چې د لومړنۍ نکاح کوم حکم دی.[1]

د واده لپاره د مور پلار خوښي

سوال: مور او پلار زما واده په داسې ځای کې کول غواړي چې ماته ناخوښ دی. په حقيقت کې زه د خپل تره د لور سره واده کول غواړم. اوس ستاسو نه هيله لرم چې ماته د کتاب او د سنتو په رڼا کې مشوره راکړئ آيا زه د مور او پلار خبره ومنم او که هغوی خپلې خوښې ته اړ کړم؟

جواب: مور او پلار ته حکم دی چې هغوی د واده کولو پرمهال د اولاد خوښې ته ترجيح ورکړي[2]. اولاد ته هم پکار دي چې تر مور او پلار خپل خواهش ورسوي: خو په خپل خواهش باندې د مور پلار خوښې ته ترجيح ورکول غوره دي ځکه چې د هغوی تجربه زياته وي او شفقت يې هم کامل وي. هغوی چې څوک انتخابوي پوره سوچ پرې کوي.

زما مشوره دا ده چې تاسو خپل خواهش تر مور او پلار پورې ورسوئ ! که هغوی په خوشحالئ راضي شي: نو ډېره ښه ده، کنه خپل خيال د زړه نه وباسئ، د مور پلار خوښئ ته ترجيح ورکړئ او ددې لپاره استخاره هم وکړئ،

په واده کې د مور پلار حکم منل

سوال: په ځينو کورونو کې چې اولاد بالغ، پوهه او ليکونکي شي او مور پلار يې د خپل خانداني سيستم پوره کولو په خاطر يا د دنيا په خاطر اولاد اور ته وغورځوي، د هغوی د پوښتلو نه پرته د هغوی د ژوند فيصلې کوي. بې شکه په اولاد فرض دي چې د خپل مور پلار تابعداري وکړي ليکن آيا الله اولاد داسې بې وسه ګرځولی دی چې هغوی د مور پلار غير اسلامي فيصلې چې د هغوی د ژوند سره کار لري په هغې باندې هم ځان خاموشه کړي او هغوی ته خپل ځان حواله کړي. آيا اولاد دا حق نه لري چې هغوی د خپل ژوند دا اړينه پرېکړه پخپله وکړي؟

---

[1] أيضاً.

[2] قال الملّا علي القاري في شرحه: والتحصين المطلوب بالنكاح لا يحصل الّا بالرغبة في المنكوحة. (مرقاة شرح مشكوٰة ج: ٣ ص: ٤١١ طبع بمبئ)۔

جواب: شريعت چې څنګه د اولاد په اوږه د مور پلار حقوق بار کړي دي[1]، هم دغه راز د مور پلار په ذمه هم د اولاد ځينې حقوق شته او څوک چې دا حقوق تر پښو لاندې کوي؛ نو ددې وبال به هم دى پرداشتوي[2]. د بېلګې په ډول د واده په معامله کې د اولاد رضا لازمه ده[3]. که مور پلار کوم غير مناسب ځاى کې رشته خوښه کړي؛ نو اولاد ته د انکار کولو پوره حق شريعت ورکړى دى، [4] او که چېرته دى د خپلې ناخوښۍ سره- سره د مور پلار د

---

[1] قال تعالي: " و قضٰى ربك ألاّ تعبدوا الاّ اياه و بالوالدين احسانًا، امّا يبلغنّ عندك الكبر أحدهما أو كلاهما فلا تقل لهما أفٍّ ولا تنهر هما وقل لهما قولاً كريمًا. واخفض لهما جناح الذل من الرحمة وقل ربّ ارحمهما كما ربياني صغيرًا" (سورة١٧ بنى اسرائيل: ٢٣، ٢٤). وقال تعالي:" ووصينا الانسان بوالديه احسانًا" الآية (العنكبوت: ٨). وفي الحديث: عن أبي أمامة رضى الله عنه أن رجلاً قال: يارسول الله! ما حق الوالدين على ولدهما؟ قال: هما جنتك أو نارك. (ابن ماجة ص: ٢٦٠).وعن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أصبح مطيعًا لله في والدين أصبح له بابان مفتوحان من الجنّة، وا ن كان واحدًا فواحدًا، ومن أصبح عاصيا لله في والدين، أصبح له بابان، مفتوحان من النار، ان كان واحدًا فواحدًا. قال: رجل: وان ظلماه؟ قال: وان ظلماه! وان ظلماه! وان ظلماه! (مشكٰوة ص: ٤٢١). قال رسول الله صلى الله وسلم: ألاَ أحدثكم بأكبر الكبائر؟ قال بلى يارسول الله! قال: الاشراك بالله و عقوق الوالدين..الخ(جامع ترمذى ج:٢ ص:٢،طبع دهلى).

[2] عن عبدالله بن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله علية وسلم: ألاَ كلّكم راعٍ وكلّكم مسؤل عن رعيته. متفق عليه.(مشكٰوة ج: ٢ ص: ٣٢٠، ٣٢١، كتاب الامارة).٩٠١٤ (س..... عائشة رضى الله عنهما) أن فتاة دخلتْ عليها فقالت: ان أبي زوّجنى من ابن أخيه، ليرفع بي خسيسته، وأنا كارهة، قالت: اجلسى حتّٰى يأتي رسول الله صلى الله عليه وسلم، فجاء رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخبرته، فأرسل الٰى أبيها فدعاه. فعجل الأمر اليها، فقالت: يارسول الله! قد أجزتُ ما صنع أبي، ولكن أردتُ أن أعْلِمَ الناس أن ليس للأبآء من الأمر شيئ، وفي نسخة السماع أردتُ أن أعلَمَ اللنساء من الأمر شيئٌ؟ اخرجه النسائي. (جامع الأصول في أحاديث الرسول لابن أثير الجزرى ج: ١١ ص: ٤٦٤. طبع بيروت).

[3] والسُّنّة أن يستأمر البكر وليها قبل النكاح........وان زوجها بغير استئمار فقد أخطأ السُّنّة، و توقف على رضاها، وهو محمل النهى في حديث مسلم: لا تنكح الأيم حتّٰى تستامر و.لا تنكح البكر حتّٰى تستأذن.....الخ. (البحر الرئق ج: ٣ ص: ١٢١. كتاب النكاح، باب الأولياء والأكفاء). و لا تجبر البالغة البكر على النكاح ...الخ. وفي الشامية: ولا الحر البالغ....الخ. (الدر المختار مع الردالمحتار ج: ٣ ص: ٥٨ طبع سعيد كراچى).

[4] أن جارية بكرًا أتتْ رسول الله صلى الله عليه وسلم، فذكرت أن أباها زوجها وهي كارهة فخيرها رسول الله صلى الله عليه وسلم، أخرجه أبو داؤد. (جامع الأصول ج: ١١ ص: ٤٦٣، طبع بيروت) لا يجوز نكاح أحد على بالغة صحيحة العقل من اب أو سلطان بغير اذنها بكرًا كانت أوثيبًا فان فعل ذٰلك فالنكاح موقوف على اجازتها فان أجازته جاز. وان ردّته بطل. كذا في السراج الوهاج. (عالمگيرى، كتاب النكاح ج: ١ ص:٢٨٧. طبع بلوچستان)

خوشحاله ساتلو لپاره او د هغوی د احترام په خاطر یې قبوله کړي او بیا دغه وعده پوره کړي: نو الله تعالی به ورته ډېر اجر ورکړي: [1] خو که دی یې نه قبلوي مور پلار یې دا حق نه لري چې په اولاد باندې زور راوړي،

که مور پلار واده ته په زده کړه باندې ترجیح ورکوي؛ نو اولاد باید څه وکړي؟

سوال: زما مور پلار اګر که په مونږ ټولو باندې په ډېر محنت زده کړه کړې ده. لیکن د هغوی دا فکر دی چې ټول هر څه یوازې په زده کړه کې دي، زه اګر که وړوکی یم: خو زما مشرانې خویندې دي چې هغوی ته اعلی تعلیم ورکول کیږي او زما د مور پلار سره د هغوی د واده کولو هیڅ فکر نشته، حال دا چې هغوی خپله د بوډاتوب په طرف روان دي، تاسو ته خو معلومه ده چې نن سبا زمانه څومره خرابه ده او زه هم ډېر وړوکی یم او کله چې زه غټ شم نو تر هغه وخته پورې به زما خویندې زړې وي بیا خو به رشته ملاوېدل هم مشکل وي او اوس خلک د دوستی کولو لپاره کور ته ځي راځي؛ خو پلار مې ټولو ته ځواب ورکوي، حال دا چې زه په دې پوهېږم چې زما خویندې په دغه رشتو باندې خوشحاله دي، که مور پلار ته د خپلو ذمه واریانو احساس نه وي؛ نو آیا اولاد ته دا حق حاصل دی چې هغوی په خپله خوښه واده وکړي؟ په داسې حال کې چې دواړه مسلمانان وي او په اسلام کې دا خبره جائز هم ده.

جواب: نن سبا د اعلی تعلیم شوق مور پلار د خپلې فریضې نه غافل کړي دي، د هلکانو او جینکو عمرونه دکالجونو او یونیورستیانو په چکر کې تیرېږي، کله چې وخت تېر شي؛ نو د مور پلار سترګې وغړیږي. ماته دغه راز خطونه په سلګونو راغلي دي چې د نجلۍ عمر دېرش پنځه دېرش کاله شي بیا یوه رشته هم نه راځي او کومه چې راشي؛ نو هغه هم کتلو سره سمدستي چوپه خوله لاړه شي. څه تعویذ. وظیفه یا عمل راته وښایه چې د بچیانو واده وشي نجلۍ تعلیم یافته ده. مګر رشته ورته نه ملاوېږي. وغیره،،، الله خبر دی چې څومره خاندانونه په دې سېلاب کې غرق شوي دي او څومره هلکان او جینکۍ په غلطه لاره باندې روان دي، ددې وجې نه تا چې څه لیکلي دي دا یو زړه سوځونکی حقیقت دی حدیث کې دي چې:

---

[1] عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قال رسول الله صلّى الله عليه وسلم: من أصبح مطيعًا لله في والديه أصبح له بابان مفتوحان من الجنّة وإن كان واحدًا فواحدًا (مشكوة ص: ٤٢١، باب البر والصلة، الفصل الثالث)

عن ابي سعيد وابن عباس رضي الله عنهما قالا: قال رسول الله ﷺ: ((من ولد له ولد فليحسن اسمه وادبه، فاذا بلغ فليزوجه، فان بلغ ولم يزوجه فاصاب اثما فانما اثمه على ابيه)) (مشكوة ۲۷۱)

حضرت ابوسعيد او ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: كله چې اولاد بالغ شي او مور پلار د دوی د نكاح نه ستر ګې بندي وساتي؛ نو په دې صورت کې که د اولاد نه ګناه وشي: نو مور پلار ورسره په دې ګناه کې پوره برخه لري،

پاتې شو دا سوال که مور پلار غفلت کوي نو آيا هلک نجلۍ په خپله نکاح د عدالت په ذريعه کولای شي؟ نو ددې ځواب دا دی که دواړه په هر حيثيت سره برابر وي؛ نو دا نکاح به صحيح وي کنه نو نه[1]. البته که هلک په کوم ځای کې خپله واده کوي دا خو څه مسئله نه ده ليکن د نجلۍ لپاره مشکل دی بهر حال که نجلۍ خپله واده کول غواړي؛ نو هغې ته ددې خبرې لحاظ ضرور پکار دی چې د کوم هلک سره عقد کول غواړي هغه به په هر حيثيت د هلک برابر وي. دې ته د فقهې په اصطلاح کې (کفو) وايي.[2]

واده کې د مورپلار د خلاف شرع خواهشاتو لحاظ نه دی پکار

سوال: زما د وړوکي ورور واده راروان دی، هغه وايي چې بس د اول نه دې نکاح وشي ليکن مور دا ضد کوي چې اول به کوزده کيږي او بيا به نکاح سره د رواجونه سره وي، د کور د آبادۍ رنګ او اشارې هم راوړل غواړي، ځکه چې ددې بل بچی نشته، نو تاسو ووايئ چې د مور د دغسې خواهشاتو احترام کول پکار دي او که د سنت محمدي پيروي پکار ده؟

جواب: د سنت پيروي لازمه ده او د مور خلاف شريعت خواهشات پوره کول ناجائز دي[3]، مګر د مور بې ادبي ته ده پکار هغه په ښه طريقه په مسئله باندې پوهول پکار دي.[4]

---

[1] النفذ نكاح حرة مكلفة بلا رضا ولي، والأصل ان كل من تصرف في ماله تصرف في نفسه وما لا فلا. (الدر المختار مع الرد المحتار ج: ۳ ص: ۵۶، طبع ايچ ايم سعيد كراچي).

[2] ان المرأة اذا زوجت نفسها من كفو لزم على الأولياء، وان زوجت من غير كفو لا يلزم او لا يصح بخلاف جانب الرجل فانه اذا تزوج بنفسه مكافئة له أو لا فانه صحيح لازم. (ردالمحتار ج: ۳ ص:۸۵).

[3] عن أنس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يؤمن أحدكم حتى يكون هواه تبعا لما جئت به. (مشكوة ص: ۳۰ باب الاعتصام بالكتاب والسنة). ايضا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق" (مشكوة ص: ۳۲۱، كتاب الامارة، الفصل الثاني).

[4] كما قال تعالى: " فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما وقل لهما قولا كريما" (الاسراء: ۲۳).

د نجلۍ او هلک کومو صفاتو ته کتل پکار دي؟

سوال: کوم وخت چې د دوستۍ کړۍ پیل کیږي؛ نو خلک جینکو ته په داسې طریقه ګوري لکه څنګه چې ګډو چیلو ته د اختر په ورځو کې کتل کیږي آیا دا طریقه سمه ده؟ دویمه خبره دا چې که نجلۍ وي او که هلک په دې ډول دوستي یو تجارتي ډول خپلوي. د بېلګې په ډول هلک څومره شتمن دی (اګر که په حرامه یې پیدا کړي وي) نجلۍ به څومره د کور توکي راوړي. (اګر که د حرامې ګټې وي) په دې اړه اسلامي حکم څه دی؟

جواب: اسلامي حکم دا دی چې د رشتې کولو پرمهال د هلک او نجلۍ دواړو دینداري، شرافت او امانت ته ترجیح ورکول شي[۱]. کوم هلک چې حرام ګټې ددېنه هغه هلک غوره دی چې حلال رزق ګټي اګر که له اقتصاده کمزوری وي[۲] او کومه نجلۍ چې دینداره وي، پاک لمنه وي. دخاوند تابعداره وي غوره ده اګرکه د کورتوکي بېخي رانه وړي یاکم راوړي.

د جینکو له وجې د هلکا نو واده ځنډول

سوال: اکثر لیدل شوي چې چېرته جینکۍ وي، د هغوی د واده په تړاو د هغوی ورونه یو اوږد انتظار تېروي چې د هغې په وجه د هغوی عمرونه ختم شي یا پوره وخت تېر شوی وي، آیا د اسلامي حکم په رڼا کې به دا طریقه جائز وي او دا چې په دې دوران کې که چېرته خدای مکړه څوک ګناه وکړي؛ نو ددې وبال به په چا باندې وي؟

جواب: شرعي حکم دا دی چې مناسب رشتې پیدا کېدو سره سمدستي عقد وکړل شي، ددې لپاره چې د ځوانانو جذبې بې ځایه ونه کارول شي، کنه نو مور پلار به یې هم په ګناه کې برابر شریک وي[۳]

---

[۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا خطب اليكم من ترضون دينه و خلقه فزوجوه،ان لَا تفعلوا تكن فتنة فى الأرض و فساد عريض. (مشكوٰة ص: ۲٦٧، كتاب النكاح، الفصل الثاني، وجامع الأصول ج: ۱۱ ص: ٤٦٥، طبع بيروت). أيضًا: عن أبي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تنكح المرأة لأربع: لما لها ولحسبها ولجمالها و لدينها،فاظفر بذات الدين تربت يداك(مشكوٰة ص: ۲٦٧، كتاب النكاح، الفصل الأوّل)

[۲] او فى شرح السنة روى ان رجلاً جاء الى الحسن وقال: ان لى بنتًا و قد خطبها غير واحد، فمن تشير على ان أزوجها؟ قال: زوجها رجلاً يتقى الله، فانه ان احبها أكرمها، وان أبغضها، لم يظلمها. (مرقاة شرح مشكوٰة ج: ۳ ص: ٤۰۳ طبع بمبئى)

[۳] كما فى حديث أبي سعيد وابن عباس رضى الله عنهما: فاذا بلغ فليزوجه، فان بلغ ولم يزوجه فأصاب اثمًا فانما اثمه على أبيه. (مشكوة ص: ۲۷۱، باب الولى فى النكاح واستيذان المرأة، الفصل الثالث)۔

هو دا خبره ده که رشته نه پیدا کیږي بیا یې مور پلار ګناه ګار نه دی.[۱]

که مور او پلار د پنځه ویشت کالو نه زیات عمر والا اولاد ته واده نه کوي

سوال: که مور او پلار اولاد ته واده نه کوي او دهغوی عمرونه د پنځه ویشت کالونه هم زیات شوي وي: نو آیا هغوی په خپلې مرضۍ کوم ځای واده کولای شي؟ ایا دا عمل خو به د مور او پلار نافرماني نه وي؟

جواب: په دې صورت کې اولاد ته پکار دي چې په څه ذریعه مور او پلار خبر کړي او هغوی د اولاد په واده کولو باندې راضي کړي. که مور اوپلار ددې پروا نه کوي: نو اولاد خپله په خپل واده کولو باندې حق لري[۲]. هلک چې په کوم ځای کې ځانته په خپله خوښه واده کول غواړي دا خو څه مسئله نه ده: خو د نجلۍ لپاره مشکله ده، په هر حال که چېرته نجلۍ په خپله واده کول غواړي: نو دېته ددې خبرې لحاظ کول ضروري دی چې د کوم هلک سره عقد کول غواړي هغه په هرحیثیت ددې سره برابر وي، دېته د فقهې په اصطلاح کې (کفو) وايي.[۳]

[الحمد لله پنځم جلد ختم شو]

---

[۱] کما قال تعالي: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلاَّ وُسْعَهَا" (البقرة : ۲۸۶)۔

[۲] فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ: ۳). أيضًا: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا خطب اليكم من ترضون دينه وخلقه فزوّجوه،ان لّاتفعلوه تكن فتنة فى الأرض وفسادعريض. رواه الترمذى. (مشكوٰة ص: ۲۶۷، طبع قديمى)

[۳] ان المرأة اذا زوجت نفسها من كفؤ لزم على الأولياء وان زوجت من غير كفؤ لّا يلزم أو لّا يصح بخلاف جانب الرجل فانه اذا تزوّج بنفسه مكافئة له أو لّا فانه صحيح لزم. (ردالمحتار ج: ۳ ص: ۸۵ طبع ايم ايچ سعيد كراچى)۔

د اول جلد اجمالي فهرست

ایمانیات او عقائد، د تقدیر مسائل، محاسن اسلام، نبي کریم ﷺ نور دي که بشر، عقیده حیات النبي، انبیاء کرام سره ملاقات، د معراج مسائل، په خوب کې نبي کریم لیدل، صحابه او صحابیات، حضرت حسین او یزید، د اجماع او تقلید مسائل، د سنت او بدعت تعریف، مروجه میلاد، اصلاح مفاهیم، د ډارون نظریه اعتقاد او اسلام

د دویم جلد اجمالي فهرست

د کفر، شرک او د ارتداد تعریف او احکام، قادیاني فتنه، کافرانو سره تعلقات، د ختم نبوت عقیده او د عیسی علیه السلام نزول، د قیامت نښې، د ګناهونو نه توبه، د برزخ حالات، د جنت بحث، تعویذ کوډې او جادو، پیریان، رسومات او رواجونه، په اسلام کې د فال مسائل، متفرق مسائل، د اودس مسائل د غسل مسائل، د اوبو احکام، د تیمم مسائل، د موزو مسائل، د حیض او نفاس مسائل، د نوکانو د رنګ کولو مسائل، بغیر د اودسه نه دعا او اذکار کول، د نجاست مسائل، د مانځه مسائل، د جماعت مسائل.

د دریم جلد اجمالي فهرست

د جماعت متعلق باقي مسائل، د آذان او اقامت مسائل، د مانځه شرطونه، د مونځ ادا کولو طریقه، د لاؤډ سپیکر مسائل، د صف جوړولو مسائل، د امام مسائل، د مقتدي مسائل، په کورکې مونځ کول، د مانځه نه پس دعا او اذکار، د مسبوق او لاحق مسائل، د ښځو د مانځه مسائل، د معذور احکام، د وترو مونځ، د سنت مونځ ادا کول، د مسافر مونځ، د جمعې مونځ

د څلورم جلد اجمالي فهرست

د خطبو متعلق باقي مسئلې، د اخترونو د مونځ مسائل، د تراویحو مسائل، نفلي مونځونه د سجده تلاوت مسائل، د مانځه متفرق مسائل، اوراد او وظائف، د مړي حکمونه، د اندامونو پیوند کاري، د جنازې مونځ، د قبرونو زیارت، ایصال ثواب کول، د قرآن کریم فضائل او مسائل، د روژې فضائل او مسائل، د رویت هلال مسائل، د اعتکاف مسائل، د تکبیرات تشریق مسائل

د پنځم جلد اجمالي فهرست

د زکاة مسائل، د عشر مسائل، د صدقه فطر مسائل، د نظر مسائل، نفلي صدقه، د فقیرانو متعلق مسئلې، د حج او عمرې فضیلت او فرضیت، په حرامو پیسو حج کول، د عمرې مسائل، د حج بدل مسائل، د محرم نه پرته حج کول، د قربانۍ مسائل، د حاجي د قرباني مسائل، مدینې منوره ته حاضري، د عقیقې مسائل، د ښکار مسائل، د ترخي، لړي او د هګو حکم، د سپي ساتلو مسائل

د شپږم جلد اجمالي فهرست

د کوژدن مسائل، د نکاح طریقه، شرعي مهر، د طلاق مسائل، د واده نه مخکې طلاق، د طلاق اقسام، خلعه کول، د حاملې طلاق، د ظهار مسائل، د نکاح د تنسیخ مسائل، طلاق نه انکار کول، د عدت مسائل، د اولاد تربیتي حق، غیر مسلمو سره کاروبار کول، معاملاتو کښې دهوکه کول، ذخیره کول، بیانه ورکول، د حصو کاروبار کول، د مضاربت مسائل، کور، زمکه او دکان په کرایه ورکول

د اووم جلد اجمالي فهرست

د کور او ځمکې په کرایه ورکولو باقي مسئلې، د قسطونو کاروبار، د قرض مسئلې، امانت، رشوت، د اخستلو او خرڅولو متفرق مسئلې، معاملات، د سود حکم، د بینک نه سود اخستل، د سود دې پیسو مصرف، د بینک نوکري، د بیمه کمپنۍ مسئلې، جواري (قمار) کول، د بانډ حکم، کمیشن، د میراث مسائل، لونه له میراث محرومول، د وصیت مسائل، د جهاد او شهید حکمونه، د سیاست مسائل

د اتم جلد اجمالي فهرست

د پردې مسائل، اخلاقیات، سلام او مصافحه، د تعلیم مسائل، د دین تبلیغ مسئلې، د تصوف مسائل، د خوب حقیقت او تعبیر، د نومونو سره متعلق مسائل، د ږیرې مسائل، جسماني وضع قطع، د جامو متعلق مسائل، د خوراک او څکاک شرعي احکام، لوبې کول، موسیقي او ګډا، فلم کتل، د تصویر حکم، خانداني منصوبه بندي، د نعتونو متعلق مسائل، د مور پلار او خپلوانو سره تعلقات

جدید مکتبه رشیدیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074